

# نیمه پیړۍ یون

## لومړی ټوک

(پنځونې او ژباړې)

**محمد اسمعیل یون**

۱۳۹۶ل



نیمه پیړۍ یون

لومړی ټوک (پنځونې او ژباړې)

(څوارلس ټوکه)

۱


www.melitahrik.com

د تحریک د خپرونو لړ: (۱۳۸)


## یون څوک دی او څه یې کړي؟

پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زمانې یو زړور ملي، ټولنیز، سیاسي او فرهنګي شخصیت دی، د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه یې د ژوند نیمه پیړۍ پوره کړه او دېرش کاله یې پخه لیکوالي وکړه.

د خپلو نورو همفکره ملګرو په مرسته یې په ټولنیز ډګر کې تر (۱۰۰۰) زیات بېلابېل ګټور کارونه ترسره کړل، په سیاسي برخه کې یې د ملي تحریک بنسټ کېښود، تر (۸۰۰) بېلابېلې غونډې او تر (۵۰) زیاتې سوله ییزې مظاهرې یې وکړې. په فرهنګي ډګر کې یې تر (۵۰) عنوانو زیات آثار ټولنې ته وړاندې کړل، تر (۱۲۰۰) عنوانو زیاتې لیکنې، مرکې او ویناوې یې وکړې، د درېو مجلو مدیریت یې وکړ، د نورو لیکوالو تر (۲۰۰) عنوانو زیات اثار یې ایډېټ کړل، تر (۴۰۰) عنوانو زیاتو ته یې د چاپ زمینه برابره کړه او تر (۱۱۰۰) زیاتې فرهنګي غونډې، سیمینارونه او ورکشاپونه یې جوړ کړل. د (ژوندون) په نامه یې یو رسنیز مرکز پرانیست او د (کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسیس کې یې اساسي نقش ولوباوه، د (افغانیت او اسلامیت) د ملاتړ لپاره یې زړوره مبارزه وکړه او د هېواد د کورنیو او بهرنیو دښمنانو په مقابل کې لکه سپر ودرېد.

اوس چې تاسې دا (۱۴) ټوکه او نړدې (۱۴) زره مخه کلیات ګورئ، دا د یوه ډېر ستړي خو هدفمن ژوند ثمره ده. دې ته کولای شو د نړۍ په کچه ځکه یو ریکارډ ووایو چې زموږ په څېر په بل هېڅ بې ثباته هېواد کې داسې یوه بېلګه نه شته.

زه له څلور دېرشو کلونو څخه یون له نږدې پېژنم، زما هېڅکله یاد ته نه راځي چې هغه دې کومه ژمنه او خبره وکړي او بیا دې عملي نه کړي. په تېرو دېرشو کلونو کې د هغه فکری او عملي مبارزه زموږ د دې خبرې ښه ثبوت دی. زه نه غواړم د یون پر شخصیت زیاتې خبرې وکړم، دا اثار په خپله د یون د پېژندنې تر ټولو ښه وسیله ده.

یون یو څو اړخیز شخصیت دی، ډېر دردېدلی، کړېدلی، سوځېدلی، خو یو هوډمن، مصمم او هدفمن شخصیت، د فکر او نظر، د خبری او عمل سړی دی، زه خو یې چې ګورم، نو د وزیر محمد ګل خان مومند او ستر خوشال مینه مې پرې ماتېږي. نیمه پیړۍ یون خو یې ډېر ویاړمن و، خدای دې وکړي چې دا بریمن ژوند یې پوره سلیزې ته ورسېږي.

درناوی

ډاکټر شېر ولي شېر

جرمني- کولن

# Half Century Journey

**By: Prof. Mohammad Ismael Yoon**


www.melitahrik.com

د تحریک د خپرونو لړ: (۱۳۸)


## په دې څوارلس ټوکیزو کلیاتو کې

**لومړی ټوک (پنځونې او ژباړې):** متکور، په اورونو کې سندرې، د ټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې د واک جوړښتونه، په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه، د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه، فلسفه او فلسفي بهیر (۱- ۹٦۹) مخونه.

**دویم ټوک (راټولونې):** هیلې، نیمګړې ارمانونه، د لوونو فصل، سیندونه هم مړي او د پښتو ادب لرغونې دوره (۹۷۰- ۲۱۱۳) مخونه.

**درېیم ټوک (راټولونې):** د نازو انا یاد، د استاد الفت نثري کلیات (۲۱۱۴- ۳۲۱۰) مخونه.

**څلورم ټوک (یونلیکنې):** د اماراتو سفر، که یون دی یون دی، د پنټاګون تر څنډو، د کرملین په زړه کې (۳۲۱۱- ۴۲۷۴) مخونه.

**پنځم ټوک (یونلیکونه):** د ډیلي تخت هېرومه، دري ورځې د افسانو په وطن کې، د خدای(ج) تر کوره (۴۲۷۵- ۵۳۱۹) مخونه.

**شپږم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** استاد زیار د پښتني فرهنګ یو ځلاند ستوری، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود، ساینسي پرمختیاوې، هیله د خپلو سریزو په لمن کې، د کتابونو په وږمو کې (۵۳۲۰- ٦۱۳۳)مخونه.

**اووم ټوک (کلتوري او څېړنیز اثار):** فرهنګي فقر، له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل، د افغانستان فرهنګ ته اووښتي زیانونه، مرکه او مرکې، کلتوري یون، جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (٦۱۳۴- ۷۱۱۹) مخونه.

**اتم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** بېرنۍ لویه جرګه: ولسواکي او زورواکي، افغانستان په سیاسي کړلېچ کې، د سمون په لټه (۷۱۲۰- ۸۱۴۷) مخونه.

**نهم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** که نړیوال ماته وخوري؟، نجات څلی، د زماني په کړلېچ کې، ملي هویت او ملي عزت (۸۱۴۸- ۹۳۰٦) مخونه.

**لسم ټوک (سیاسي او ټولنیز اثار):** ملي درسونه، د ارګ نا ویلې خبرې (۹۳۰۷- ۱۰۳۴۹) مخونه.

(پاتې د پښتۍ ۳ مخ)

**یوولسم ټوک (تحصیلي اثار؛ لسانس- ماسټرې):** د محمد ګل خان مومند اند و ژوند ته یوه کتنه، خوشال په خپل ایډیال، افغاني اوسنۍ رسنۍ (۱۰۳۵۰- ۱۰۸۲۲)مخونه.

**دولسم ټوک (تحصیلي اثار؛ دوکتورا):** کتاب الشعر، د خادم نړۍ لید (۱۰۸۲۳- ۱۲۰۵٦) مخونه.

**دیارلسم ټوک (علمي اثار؛ پوهنیار- پوهندوی):** د پښتو شعر هندسي جوړښت، اندیال خوشال، پښتو لیکنۍ سمون (۱۲۰۵۷- ۱۲۵۷۱)مخونه.

**څوارلسم ټوک (علمي اثار؛ پوهنوال- پوهاند):** کره کتنه، ادب تاریخ (۱۲۵۷۲- ۱۳۵۹۸)مخونه.



## مننه او کورودانی

د افغانستان ملي تحریک له قدرمن ورور او فرهنګپال شخصیت

**ښاغلي الحاج ډاکتر شعور نیازي**

څخه د زړه له کومي مننه کوي چې ددې اثر د لومړي ټوک د چاپ لګښت یې پر غاړه واخیست. یو ځل بیا ورڅخه مننه کوو او کور ودانی ورته وایو

درنښت یې په برخه شه


**د پښتۍ ډیزاین:** سپین سهار

**چاپځی:** اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸

# نیمه پېړۍ یون

## لومړی ټوک

## (پنځونې او ژباړې)

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۶ لمریز کال

بسم الله الرحمن الرحيم

# نیمه پېړۍ یون

## لومړی ټوک

## (پنځونې او ژباړې)


لیکوال: **محمد اسمعیل یون**

خپرندوی: **د افغانستان ملي تحریک**

ډیزاین: **فیاض حمید**

چاپکال: **۱۳۹٦ لمریز**

چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

**د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۳۸)**

وېبپاڼه: **www.melitahrik.com**



**د دې کتاب د چاپي او انلاین خپرولو ټول حقوق له خپرندوی سره خوندي دي**

# ډالۍ:

# د افغانیت، اسلامیت او انسانیت

# رښتینو لارویانو ته!

# نیولیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| • | د استاد یون پنځوس کلن یون | ۲۲ |
| • | زما د نیمې پېړۍ یون | ۳۸ |
| | **متکور** | |
| ۱ | د ((متکور)) د دویم چاپ سریزه | ۴۹ |
| ۲ | سریزه | ۵۳ |
| ۳ | تقریض | ۵۹ |
| ۴ | د متکور په باب څو خبرې | ۶۳ |
| ۵ | لېوني | ۷۳ |
| ۶ | کلیزه | ۷۴ |
| ۷ | زمانه | ۷۵ |
| ۸ | اوښکه او خندا | ۷۶ |
| ۹ | د عقل احساس | ۷۷ |
| ۱۰ | نازک خیال ته! | ۷۸ |
| ۱۱ | د حیا په لاس | ۸۰ |
| ۱۲ | ډالۍ | ۸۲ |
| ۱۳ | ژوندی حسن | ۸۴ |
| ۱۴ | غره اور اخیستی... | ۸۶ |
| ۱۵ | زولانه غمونه | ۸۸ |
| ۱۶ | د ښکلو باران | ۸۹ |
| ۱۷ | ازمون | ۹۰ |
| ۱۸ | پرهري امید | ۹۲ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۹ | متهکور | ۹۴ |
| ۲۰ | د ماضي عشق | ۹۵ |
| ۲۱ | پټې خبرې | ۹۶ |
| ۲۲ | د اور تاو | ۹۷ |
| ۲۳ | د حسن لومه | ۹۸ |
| ۲۴ | پخه سکروټه | ۱۰۰ |
| ۲۵ | سوی اسوېلی | ۱۰۱ |
| ۲۶ | افسوس چې قبر دې معلوم وای! | ۱۰۳ |
| ۲۷ | د ماضي خندا | ۱۰۴ |
| ۲۸ | خوږلنې سترګې | ۱۰۵ |
| ۲۹ | ژړغونی آه | ۱۰۷ |
| ۳۰ | تر کاڼو لاندې | ۱۰۹ |
| ۳۱ | درې میاشتې مخکې | ۱۱۰ |
| ۳۲ | هغه چاته چې سترګې یې.... | ۱۱۱ |
| ۳۳ | د وینو رود نیل | ۱۱۳ |
| ۳۴ | د ویر سکروټې | ۱۱۴ |
| ۳۵ | د اوښکو جنازې | ۱۱۷ |
| ۳۶ | له جېل نه... ګیله | ۱۱۹ |
| ۳۷ | د لمبو څاڅکي | ۱۲۲ |
| ۳۸ | د خندا قتل | ۱۲۳ |
| ۳۹ | د آه سکروټې | ۱۲۵ |
| ۴۰ | غیرتي لېمه | ۱۲۶ |
| ۴۱ | د میو اباسین | ۱۲۸ |
| ۴۲ | د اوښکو سمندر | ۱۲۹ |

| | | |
|---|---|---|
| ۴۳ | د خوږو مکر | ۱۳۱ |
| ۴۴ | ارام سمندر ته! | ۱۳۳ |
| ۴۵ | د تېزابو باران | ۱۳۶ |
| ۴۶ | سندرغاړي | ۱۳۷ |
| ۴۷ | د طاعون په لوپټه کې | ۱۴۰ |
| ۴۸ | د احساس لوخړه | ۱۴۲ |
| ۴۹ | یادګارونه یادګارونه | ۱۴۳ |
| ۵۰ | کاڼو ونه ژړلې | ۱۴۴ |
| ۵۱ | مېړتونخور | ۱۴۵ |
| ۵۲ | د امید خانګه | ۱۴۷ |
| ۵۳ | د اسرافیل شپېلۍ | ۱۴۸ |
| ۵۴ | د جنګ باج | ۱۵۰ |
| ۵۵ | د سیند په منځ کې | ۱۵۱ |
| ۵۶ | سوی ګودر | ۱۵۲ |
| ۵۷ | مړاوي اننګي | ۱۵۴ |

## په اورونو کې سندرې

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د دې ټولګې پر دویم چاپ څو خبرې | ۱۵۹ |
| ۲ | سریزه | ۱۶۲ |
| ۳ | تاب | ۱۶۹ |
| ۴ | د ارواګانو سلګۍ | ۱۷۱ |
| ۵ | ساده قتل | ۱۷۳ |
| ۶ | د ژوند رنګ | ۱۷۴ |

| | | |
|---|---|---|
| ۷ | سهوه | ۱۷۶ |
| ۸ | نامعلوم قبرونه | ۱۷۸ |
| ۹ | اسمان او ځمکه پوه دي | ۱۸۰ |
| ۱۰ | نیمه لاره | ۱۸۲ |
| ۱۱ | ستوري ستوري اوښکې | ۱۸۴ |
| ۱۲ | ماتې هیلې | ۱۸۶ |
| ۱۳ | دځلورو کلو شپې مې | ۱۸۸ |
| ۱۴ | د کفر رحم | ۱۸۹ |
| ۱۵ | کیسې | ۱۹۱ |
| ۱۶ | له ځانه سره جنګ | ۱۹۳ |
| ۱۷ | لکه وختونه چې وختونوکې مري | ۱۹۵ |
| ۱۸ | وینې تخیل | ۱۹۶ |
| ۱۹ | د شعر په پاڼو | ۱۹۸ |
| ۲۰ | زهر | ۲۰۰ |
| ۲۱ | دا په کومو سترګو ګورې! | ۲۰۲ |
| ۲۲ | بری که نابری | ۲۰۴ |
| ۲۳ | سپېځلی غرور | ۲۰۶ |
| ۲۴ | دسپینو خولو پرخې | ۲۰۸ |
| ۲۵ | د اوښکو سباوون | ۲۱۰ |
| ۲۶ | زهرجنه خندا | ۲۱۲ |
| ۲۷ | دخندا وزرونه | ۲۱۴ |
| ۲۸ | امام شکرونه باسي | ۲۱۶ |
| ۲۹ | د اور په جبل کې | ۲۱۸ |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۰ | پوړنی | ۲۲۰ |
| ۳۱ | درڼا حورو! | ۲۲۳ |
| ۳۲ | د زهرو فصل | ۲۲۵ |
| ۳۳ | چاویل چې د ګلونو ښار به وران شي؟ | ۲۲۷ |
| ۳۴ | ولولیز پسرلی | ۲۲۹ |
| ۳۵ | د اوښکو احرام | ۲۳۱ |
| ۳۶ | او د ګلو د سندرو اتڼ بیا له سره وران شو | ۲۳۴ |
| ۳۷ | یوجانان او یو جام | ۲۳۶ |
| ۳۸ | خواږه خواږه زخمونه | ۲۳۷ |
| ۳۹ | دستورو قافله | ۲۳۹ |
| ۴۰ | مړاوی جانان | ۲۴۱ |
| ۴۱ | دسمال | ۲۴۳ |
| ۴۲ | د مینې پیغمبر | ۲۴۵ |
| ۴۳ | دسرو ټپونو کان | ۲۴۷ |
| ۴۴ | دپاڼو مومن | ۲۴۹ |
| ۴۵ | دصراط پُل | ۲۵۱ |
| ۴۶ | دجام جنازه | ۲۵۳ |
| ۴۷ | دسندرو په وزرونو | ۲۵۵ |
| ۴۸ | شهید غرونه | ۲۵۷ |
| ۴۹ | خلور شپې | ۲۵۹ |
| ۵۰ | ستوري لمرونه | ۲۶۱ |
| ۵۱ | دروح سپېڅلی زور | ۲۶۳ |
| ۵۲ | دشعر پري | ۲۶۵ |

| | | |
|---|---|---|
| ۵۳ | سندریزه وړمه | ۲۶۷ |
| ۵۴ | دشعر حجاب | ۲۶۹ |

## متفرقه شعرونه

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | خطا | ۲۷۲ |
| ۲ | مخالف | ۲۷۴ |
| ۳ | ببړنی خبر | ۲۷۶ |
| ۴ | غلي خلک | ۲۸۳ |
| ۵ | مور ته مې | ۲۸۵ |
| ۶ | مور مې لاړه مور مې لاړه | ۲۸۷ |

د ټولنپوهنې له نظره؛

## په افغانستان کې د واک جوړښتونه

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | ددې اثر دویم چاپ | ۳۰۹ |
| ۲ | د خپرندوی یادښت | ۳۱۱ |
| ۳ | د لیکوال پېژندګلوي | ۳۱۴ |
| ۴ | سریزه | ۳۱۷ |

## لومړۍ برخه

### د ټولنیز او سیاسي ژوند ارزښتونه

## لومړی څپرکی

### د دولت د جوړښت بنسټونه

| | | |
|---|---|---|
| ۵ | الف- د اسلام دین | ۳۲۲ |
| ۶ | ب- جهاد او غزا | ۳۲۳ |
| ۷ | ج- قومي او قبیله یي اړیکي | ۳۲۵ |

| | | |
|---|---|---|
| ۷ | د- لویه جرګه | ۳۲۶ |
| ۸ | یو- د قبیله یي ولسواکۍ د ستنو په ټینګښت... | ۳۲۶ |
| ۹ | دوه- د دولت د حقوقي ستنو په تثبیت... | ۳۳۵ |
| ۱۰ | ه- سیمه پالنه او ملتپالنه | ۳۴۷ |
| ۱۱ | و- د سلطنت موسسه | ۳۵۴ |
| ۱۲ | یو- مذهب او دین | ۳۵۴ |
| ۱۳ | دوه- واکمن قوم او د هغه پر جوړښت باندې... | ۳۵۵ |
| ۱۴ | ۱- جرګه | ۳۵۶ |
| ۱۵ | ۲- مرکه | ۳۵۷ |
| ۱۶ | ۳- ننواتې | ۳۵۷ |
| ۱۷ | ۴- تیربه اینښودل | ۳۵۸ |
| ۱۸ | درې- ځمکوالي | ۳۵۸ |


## دویم څپرکی

## سیاسي واک


| | | |
|---|---|---|
| ۱۹ | الف- مذهب او دین | ۳۶۰ |
| ۲۰ | ب- قبیله او کورنۍ | ۳۶۳ |
| ۲۱ | ج- شتمني | ۳۶۴ |
| ۲۲ | د- عمر او د ژوند تجربه | ۳۶۴ |
| ۲۳ | ه - بورو کراسي | ۳۶۵ |
| ۲۴ | و- د جهاد قومانده | ۳۶۵ |
| ۲۵ | ز- ټکنوکراسي او پوهه | ۳۶۵ |
| ۲۶ | ح- اردو | ۳۶۶ |
| ۲۷ | ط- ایډیالوژي | ۳۶۶ |
| ۲۸ | یو- ویښ زلمیان | ۳۶۷ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۹ | دوه- خلق او پرچم | ۳۶۸ |
| ۳۰ | درې- د ملي ستم ډله | ۳۶۹ |
| ۳۱ | څلور- د شعله جاوید ډله | ۳۷۰ |
| ۳۲ | پینځه- د افغان ملت ګوند | ۳۷۱ |
| ۳۳ | شپږ- اسلامي ډلې، د سیاسي ژوند ځانګړنې او... | ۳۷۳ |
| ۳۴ | لومړی- جهادي تنظیمونه | ۳۷۳ |
| ۳۵ | ۱- عمومیات | ۳۷۶ |
| ۳۶ | ۲- د جلب او جذب سیمې او ډلبندۍ | ۳۷۶ |
| ۳۷ | الف- اخواني بنسټپال | ۳۷۶ |
| ۳۸ | ب- د تصوف خاوندان | ۳۷۸ |
| ۳۹ | ج- د مدرسې اهل | ۳۷۹ |
| ۴۰ | د اسلامي انقلاب حرکت | ۳۸۰ |
| ۴۱ | اسلامي وحدت ګوند | ۳۸۲ |
| ۴۲ | دویم- طالبان | ۳۸۶ |
| ۴۳ | ۱- د طالبانو رامنځته کېدل | ۳۸۶ |
| ۴۴ | ۲- جمعیت العلمای اسلام او مدرسې | ۳۸۸ |
| ۴۵ | ۳- د طالبانو غورځنګ انقلابي خصلت لري | ۳۹۳ |
| ۴۶ | ۴- د طالبانو د منځته کېدو منطق | ۳۹۸ |
| ۴۷ | دریم- د سیاسي ژوند ځانګړنې | ۴۰۰ |
| ۴۸ | څلورم- د جهادي مشرانو له خوا د جګړه ییزې... | ۴۰۱ |


## دریم څپرکی

## قهر او روغه


| | | |
|---|---|---|
| ۴۹ | الف- د قهر او زور کارول | ۴۰۹ |
| ۵۰ | یو- جغرافیایي لامل | ۴۰۹ |

| | | |
|---|---|---|
| ۵۱ | ۱- جیوپولیتیک لامل | ۴۰۹ |
| ۵۲ | ۲- فزیکي لامل | ۴۱۰ |
| ۵۳ | دوه- ټولنیز لامل | ۴۱۰ |
| ۵۴ | درېیم- سیاسي لامل | ۴۱۰ |
| ۵۵ | ب- د ولسواکۍ د اصولو رعایت | ۴۲۰ |


## دویمه برخه

### پر ټولنیز او سیاسي ژوند د ۱۹۷۸م کال د کمونیستي کودتا اغېز

### لومړی څپرکی

#### د دولتي جوړښت د بنسټونو ړنګونه


| | | |
|---|---|---|
| ۵۶ | الف- سلطنت او پارلمان | ۴۲۶ |
| ۵۷ | ب- له مذهب څخه سیاسي ګټه اخیستل | ۴۳۰ |
| ۵۸ | ج- قومي او قبیله یي اړیکي | ۴۳۱ |
| ۵۹ | یو- په سیاسي برخه کې بې اتفاقي | ۴۳۲ |
| ۶۰ | دوه- په کلتوري برخه کې بې اتفاقي | ۴۳۳ |
| ۶۱ | درېیم- په پوځي برخه کې بې اتفاقي | ۴۳۴ |
| ۶۲ | د- ملتپالنه، پان اسلامیزم او د جهاد نړیوال کېدل | ۴۳۴ |
| ۶۳ | ه- په هجرت کې د ملتپالو روښاندو د... | ۴۴۴ |
| ۶۴ | جغرافیایي لامل | ۴۴۶ |
| ۶۵ | پولي او مالي لامل | ۴۴۷ |
| ۶۶ | رواني او کلتوري لامل | ۴۴۷ |


### دویم څپرکی

#### د ناپېیلي حکومت غوښتنه او د ملي اردو د بیا جوړونې پر بنسټ د دولت د فزیکي لوړتیا بیا راژوندي کول

| | | |
|---|---|---|
| ۶۷ | الف- د ملي اردو بیا جوړونه | ۴۵۰ |
| ۶۸ | ب- وسلوالي ډلې او د بېوسلې کولو ربړه | ۴۵۲ |
| ۶۹ | ج- د درنو وسلو راټولول | ۴۵۵ |
| ۷۰ | د- د درنو وسلو د راټولولو لپاره ... | ۴۵۷ |
| ۷۱ | ه- لنډ مهالی حکومت او د مشروعیت ستونزه | ۴۵۸ |


## درېیم څپرکی

## د واک د کلاسیکو بنسټونو ویجاړېدل او د هغه د نویو ملاتړو راڅرګندېدل


| | | |
|---|---|---|
| ۷۲ | الف- د واک د کلاسیکو بنسټونو ویجاړېدل | ۴۶۱ |
| ۷۲ | یو- قبیله او کورنۍ | ۴۶۱ |
| ۷۳ | دوه- شتمني | ۴۶۴ |
| ۷۴ | درې- عمر او د ژوند تجربه | ۴۶۴ |
| ۷۵ | څلور- ټکنوکراسي او پوهه | ۴۶۶ |
| ۷۶ | ۱- د پوهنتون د بنسټیزو ارزښتونو ویجاړول | ۴۶۶ |
| ۷۷ | د پوهنتون په تشکیلاتي برخه او درسي نصاب ... | ۴۶۸ |
| ۷۸ | د علمي پرسونل په برخه کې بدلون | ۴۷۲ |
| ۷۹ | ۲- د پېژندنې کړکېچ او له هغه څخه ... | ۴۸۰ |
| ۸۰ | لومړی- په افغانستان او ګاونډیو هېوادو کې... | ۴۸۱ |
| ۸۱ | دویم- په لویدیزو هېوادو کې افغاني ځوانان | ۴۸۵ |
| ۸۲ | ب- د واک د نویو ملاتړو راڅرګندېدل | ۴۸۸ |
| ۸۳ | یو- جهادي تنظیمونه | ۴۸۸ |
| ۸۴ | دوه- جهادي قوماندانان | ۴۹۰ |

## خلورم څپرکی

### د جهاد په بهیر کې قهر او روغه


۸۵ الف- قهر ۴۹۲

۸۶ یو- د کلاشینکوف او ستنګر نسل ۴۹۲

۸۷ دوه- تروریزم په سیاست کې د جنایت... ۴۹۳

۸۸ ب- روغه ۵۰۲

۸۹ پایله ۵۰۸


## په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه


ددې اثر پر دویم چاپ څو یادونې ۵۱۵

جنایتکاران باید محاکمه شي ۵۱۷

د جګړې جنایتکارانو محاکمه یوه ملي اړتیا ده ۵۲۱

سریزه ۵۲۸


## لومړۍ برخه


عمومي څرګندونې ۵۳۲


## لومړی څپرکی


د جنګي جنایتونو په باب د نړیوالو حقوقو ټولنیز اصول ۵۳۳

لومړی- دنړیوالو کانوانسیونونو تاریخي شالید ۵۳۳

دویم- د یالتا کنفرانس ۵۳۵

دریېم- پر کورنیو شخړو د نړیوالو قوانینو تطبیق ۵۳۷

څلورم- د ملکي وګړو، ټپیانو او اسیرانو ملاتړ ۵۳۸

پنځم- د جګړې قوانینودتطبیق څارنه او سرغړونې ۵۴۱

شپږم- د جګړې مجرمینو او جنایتکارانو سپارنه ۵۴۳

| | |
|---|---|
| اووم- د جګړې جنایتکارانو محاکمه. | ۵۴۴ |
| ۱- د څېړنې پړاو | ۵۴۷ |
| ۲- د محاکمې پړاو | ۵۴۸ |
| ۳- د محکمې حکم دپلي کېدو پړاو | ۵۴۹ |


## دویم څپرکی


| | |
|---|---|
| د جزا نړیوال دېوان جوړېدل | ۵۵۰ |
| د روم تړون غټې ټکي | ۵۵۳ |
| الف- هغه جنایتونه چې څېړنه یې ددېوان واک ګنل کېږي | ۵۵۳ |
| ۱- ډله ییزه وژنه | ۵۵۳ |
| ۲- بشرضد جنایت | ۵۵۳ |
| ۳- جګړه ییز جنایت | ۵۵۳ |
| ۴- د تېري جنایت | ۵۵۳ |
| ب- د دېوان غونډې راغوښتونکې سرچینه | ۵۵۴ |
| ج- دتړون نیمګړتیاوې | ۵۵۵ |
| د- د دېوان عمومي واکونه | ۵۵۶ |


## دویمه برخه


| | |
|---|---|
| په افغانستان کې د بشر او جګړې حقوقو څخه سرغړونه | ۵۵۸ |


## لومړی څپرکی


| | |
|---|---|
| کمونیست حکومت (دشوروي تېري پړاو) | ۵۶۲ |
| لومړی- دنړیوالو سیاسي، مدني حقوقو او شکنجې ضد... | ۵۶۴ |
| دویم- د نورنبرګ محکمې له مخې، د جګړې له حقوقو... | ۵۷۰ |
| ۱- جنګي جنایت | ۵۷۰ |

الف– د ملکي وګړو جبري لېږدونه ۵۷۱
ب– د ځاني او عامه شتمنیو لوټ او تالان ۵۷۱
ج– د اسیرانو شکنجه او وژنه ۵۷۳
۲– سوله ضد جنایت ۵۷۶
۳– بشرضدجنایت ۵۸۳
الف– عامه وژنه ۵۸۴
ب– دملکي سیمو ویجاړونه او بمبارونه ۵۸۶
ج– د سیاسي، توکمیزو او مذهبي انګېرنو له مخې..... ۵۸۸

## دویم څپرکی

د مقاومت غورځنګ ( دشوروي تېري پړاو): ۵۹۲
۱– مشروع دفاع ۵۹۲
۲– د اشرارو اومقاومت غورځنګ حقوقي دریځ ۵۹۴
۳– سرغړونې ۵۹۹
یو– یو جنګي جنایت ۵۹۹
الف– د عامه شتمنیو ویجاړونه او لوټونه ۵۹۹
ب– د زندانیانو شکنجه او اعدامونه ۶۰۱
دوه- بشرضدجنایت: ۶۰۳
الف– عامه وژنه ۶۰۳
ب– د سیاسي او ... انګېرنو له مخې د خلکو خارنه او... ۶۰۳

## درېیم څپرکی

د مجاهدینو حکومت اودطالبانو حکومت
(تر شوروي تېري وروسته پړاو)
لومړی– دمجاهدینو له سرغړونو څخه د کمونیستانو... ۶۰۵

دويم- سرغړونې، ۱- جګړه ييز جنايتونه: ۶۰۹
الف- د ملکي وګړو جبري لېږدونه ۶۰۹
ب- د ځاني او عامه شتمنيو لوټونه ۶۱۱
ج- له اسيرانو سره ناوړه انساني چلند... ۶۱۴
۲- بشرضد جنايت: ۶۲۲
الف- عامه وژنه ۶۲۲
ب- دملکي سيمو ويجاړونه او بمبارونه ۶۲۳
ج- د سياسي او... له کبله د خلکو ځارنه او... ۶۲۵

## درېيمه برخه

د افغاني جنګي جنايتکارنو محاکمه ۶۲۹

## لومړی څپرکی

جنايتکارانو ته د سزا ورکولو اړتيا ۶۳۱
په يوه خپلمنځي افغاني غونډه کې دموضوع طرح کول ۶۳۱
لومړی- جنايتکارانو ته د سزا ورکولو اړتيا ۶۳۱
دويم- ديو خپلمنځي افغاني سيمينار جوړول ۶۳۴
الف- تبليغ څانګه ۶۳۵
ب- د اسنادو راټولولو څانګه ۶۳۵
ج- راجستر څانګه ۶۳۸

## دويم څپرکی

دمحکمې جوړونه او دجنايتکارانو سپارنه: ۶۴۰
لومړی- دمحکمې جوړولو څرنګوالی ۶۴۰
دويم- د جنايتکارانو سپارنه ۶۴۵

| | | |
|---|---|---|
| | پایله | ۶۵۰ |
| | اخځونه | ۶۵۴ |

## د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | ددې اثر پر اوسني چاپ څو خبرې | ۶۵۸ |
| ۲ | د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه | ۶۶۳ |
| ۳ | د لیکنې لنډیز | ۶۶۳ |
| ۴ | سریزه | ۶۶۳ |
| ۵ | څه باید وکړو؟ | ۶۶۹ |
| ۶ | حساسه اداره | ۶۶۹ |
| ۷ | لاربښوده اداره | ۶۷۰ |
| ۸ | روزل شوې بشري سرچینې | ۶۷۴ |
| ۹ | د ټولنې دمسولیت احساس | ۶۷۵ |
| ۱۰ | دقانون خپرول او تطبیق | ۶۸۳ |
| ۱۱ | لومړیتوبونه | ۶۹۰ |
| ۱۲ | په هېواد کې افغاني ټولنې باید وهڅول شي | ۶۹۱ |
| ۱۳ | د متخصصینو تبادله | ۶۹۳ |
| ۱۴ | دلرغونو سیمو او تاریخي ابداتو... | ۶۹۴ |
| ۱۵ | موزیمونه | ۶۹۴ |
| ۱۶ | د افغانستان مرکزي سیمه | ۶۹۵ |
| ۱۷ | د افغانستان لویدیځ | ۷۰۱ |
| ۱۸ | د افغانستان شمال | ۷۰۴ |
| ۱۹ | د افغانستان ختیځ | ۷۰۷ |
| ۲۰ | د افغانستان جنوب | ۷۰۸ |

## فلسفه او فلسفي بهیر

| | | |
|---|---|---|
| • | د ملي تحریک یادښت | ۷۱۴ |
| ۱ | دا ژباړه او څو خبرې | ۷۱۵ |
| ۲ | سریزه | ۷۱۹ |
| ۳ | د فلسفې مفهوم او تعریف | ۷۲۳ |
| ۴ | د فلسفې د مطالعې ګټې | ۷۲۶ |
| ۵ | د فلسفې اصلي وېش | ۷۳۶ |
| ۶ | د فلسفي مسایلو بحثونه | ۷۳۸ |
| ۷ | فلسفه او ځانګړي علوم | ۷۴۰ |
| ۸ | فلسفه او علمي میتودونه | ۷۴۲ |
| ۹ | فلسفه او ارواپوهنه | ۷۴۴ |
| ۱۰ | شکاکیت | ۷۴۶ |
| ۱۱ | فلسفه او عملي حکمت | ۷۴۹ |
| ۱۲ | د لرغوني او معاصرې اروپا فلسفې | ۷۵۲ |
| ۱۳ | یوناني فلسفې | ۷۵۸ |
| ۱۴ | طبیعتپال فلسفیان | ۷۵۹ |
| ۱۵ | د ملطیه نقش | ۷۶۲ |
| ۱۶ | تالس | ۷۶۳ |
| ۱۷ | اناکسیماندروس | ۷۶۷ |
| ۱۸ | اناکسیمنس | ۷۷۳ |
| ۱۹ | په یوناني افکارو کې بدلون | ۷۷۷ |
| ۲۰ | پارمنیدس | ۷۷۸ |
| ۲۱ | هراکلیت | ۷۸۱ |
| ۲۲ | امپدکلس | ۷۸۷ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۳ | اناکساګوراس | ۷۹۰ |
| ۲۴ | دموکرتیوس | ۷۹۲ |
| ۲۵ | په یوناني افکارو کې تاریخ او د تاریخ فلسفه | ۷۹۸ |
| ۲۶ | طب | ۸۰۲ |
| ۲۷ | سوفیستایان | ۸۰۶ |
| ۲۸ | پروتاګوراس | ۸۰۸ |
| ۲۹ | سقراط | ۸۱۴ |
| ۳۰ | د سقراط محاکمه | ۸۲۳ |
| ۳۱ | افلاتون | ۸۲۴ |
| ۳۲ | ارسطو | ۸۳۲ |
| ۳۳ | مابعي یوناني افکار | ۸۴۵ |
| ۳۴ | کلبیان | ۸۴۹ |
| ۳۵ | رواقیون | ۸۵۱ |
| ۳۶ | اپیکوریان | ۸۵۴ |
| ۳۷ | نوي افلاتونیان | ۸۵۹ |
| ۳۸ | افکار او عرفان | ۸۶۲ |
| ۳۹ | منځنی پېړۍ او فلسفه | ۸۶۷ |
| ۴۰ | د روم امبراتوري | ۸۷۱ |
| ۴۱ | د کلیسا د اربابانو حکومت | ۸۷۳ |
| ۴۲ | د منځنیو پېړیو فلسفیان سنت اګوستین | ۸۷۶ |
| ۴۳ | توماس اکویناس | ۸۸۰ |
| ۴۴ | د کوپرنیک فکري انقلاب | ۸۹۹ |
| ۴۵ | د ګالیله فکري انقلاب | ۹۰۲ |
| ۴۶ | د دکارت فکري انقلاب | ۹۰۷ |

| | | |
|---|---|---|
| ۴۷ | رنسانس او لومړنی ښاري دولت | ۹۱۷ |
| ۴۸ | باروک دوره او فلسفه | ۹۲۳ |
| ۴۹ | باروک، هنر او ادبیات | ۹۲۶ |
| ۵۰ | دکارت | ۹۲۹ |
| ۵۱ | تجربه پالي | ۹۳۸ |
| ۵۲ | جورج بارکلی | ۹۴۴ |
| ۵۳ | ډیوېډ هیوم | ۹۴۷ |
| ۵۴ | د روښانتیا عصر | ۹۵۲ |

# د استاد یون پنځوس کلن یون

ښاغلي پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زمانې په تېره بیا د سختو حالاتو یو مخکښ فکري مبارز دی. ده د افغانستان د کورنیو او بهرنیو مخالفینو، جنگسالارانو او فسادگرو پر وړاندې د مبارزې یوه ځانگړې لاره، چې د قلم، ژبې او جرئت لاره وه، غوره کړه. دا یې د خپل ولس او خلکو د اوږدو مبارزو تر ټولو غوره، بریالۍ او ژغورندویه لاره او مبارزه وبلله. دی که په کابل کې و او یا هم په نورو ولایتونو کې، خپلو ملي او فرهنگي هلو ځلو ته یې دوام ورکړی، همدا علت و چې افغانانو دده د مبارزې پر حقانیت، رښتینولۍ او زړورتیا باور پیدا کړ، ډېری افغانان په ځانگړې توگه ځوانان یې تر څنگ ودرېدل او دې مبارزې ته یې لا نور ځواک وروباښه. یون ددې ځوانانو په راټولېدو سره پرځان لا باوري شو او خپلې دې مبارزې ته یې په سیستماتیک ډول دوام ورکړ.

که وویل شي چې یون د افغاني ټولنې، ملي تفکر او د مظلوم اکثریت د غږ پورته کولو یو بریالی ویاند دی، نو مبالغه به مې نه وي کړې. ددې لپاره چې ښاغلی یون په بشپړه توگه وپېژنو، نو غواړم دلته یې د ژوند، اثارو او افکارو پر بېلابېلو برخو لنډه رڼا واچوم:

**۱- زوکړه:** محمد اسمعیل یون د حاجي محمد خان زوی او د هدایت خان لمسی دی، پر (۱۳۴٦ل) کال د کب پر (۱۸) مه نېټه د لغمان ولایت د الینگار ولسوالۍ د (الوخېلو) په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی. یون لا د شېږم ټولگي زده‌کوونکی و چې پلار یې وفات شو،

د کور سرپرستي او د ژوند نورې چارې خپله ده ته ورپرغاړه شوې. خو په دې سختو شرایطو کې یې هم خپل هوډ قوي وساته، هم یې د کورنۍ سرپرستي کوله او هم یې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ.

**۲- زده کړې:** محمد اسمعیل یون پر (۱۳۵۳ل)کال د الینگار ولسوالۍ د (سلینگار) په لومړني ښوونځي کې، چې د یون له کوره په پلي مزله یې نږدې یو نیم ساعت واټن درلود، په لومړي ټولگي کې شامل شو، یون یو کال د سویې ازموینه ورکړه او یو ټولگی یې ارتقا وکړه، پر (۱۳۵۷ل)کال دې ښوونځي ته نوې ودانۍ جوړه شوه او د یون کور ته نږدې ساحه کې اباد شو. پر (۱۳۵۸ل) کال دا ښوونځی د حکومت د مخالفینو له خوا وسوځول شو، یون د نورو زده کوونکو په شان له ښوونځي څخه بې برخې شو، یون له درس سره د خپلې مینې او د کورنۍ د موافقې پر اساس کابل ته راغی او دلته پر (۱۳٦۱ل) کال یې د کابل په (ده خدایداد) او بیا په (ده یحیی) لېسو کې خپلې زده کړې پسې تعقیب کړې. پر (۱۳٦۲ل) کال د کابل په خوشال خان لېسه کې شامل او پر (۱۳٦٦ل) کال ترې په دویمه نومره فارغ شو، (۱۳٦۷ل)کال د کابل پوهنتون په ژبو او ادبیاتو پوهنځي کې شامل او پر (۱۳۷۰ل) کال ترې اول نومره فارغ شو، پر (۱۳۷۰ل)کال یې د یاد پوهنځي پښتو څانگې کې د کدر ازموینه ورکړه، په یاده ازموینه کې بریالی او پر همدې کال د (نامزد پوهیالي) په رتبه د پښتو څانگې د کدر غړی شو. یون پر (۱۳۸۵ل)کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په ماسترۍ پروگرام کې شامل او پر (۱۳۸۷ل)کال کې ترې فارغ شو.

یون د (کابل پوهنتون) علمي مجلې موسس هم دی او درې کاله یې ددې مجلې مدیریت هم ورپرغاړه و.

محمد اسمعیل یون پر (۱۳۹۲ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې د دوکتورا (PhD) پروګرام کې شامل شو او د تحصیل دا پړاو یې هم پر (۱۳۹٦ل) کال په بریالیتوب سره بشپړ کړ.

یون پر پورتنیو زده کړو سربېره د لنډ مهاله کورسونو، ورکشاپونو او سیمینارونو لپاره په کور دننه او بهر په ځینو برخو کې زده کړې کړې دي او لنډ مهاله کورسونه یې هم تعقیب کړي دي.

یون له (۱۳۷۰ل) کال څخه چې د کابل پوهنتون په کدر کې شامل شوی، بیا تر (۱۳۹٦ل)کال پورې په منظم ډول تدریس کړی او په دې یاده موده کې یې له (نامزد پوهیالي) څخه نیولې بیا تر (پوهاندۍ) وروستۍ لوړې پوهنتوني رتبې پورې ټولې رتبې په ترتیب سره بشپړې کړي او د هرې رتبې لپاره یې له پوهنتوني مقرراتو سره سم ځانګړی اثر لیکلی دی.

**۳- دندې:** یون چې کله په ښوونځي کې د ځلورم، پنځم او شپږم ټولګي زده کوونکی و، نو د ښوونځي د ترانې د ټیم غړی و، سپورت سره یې هم مینه درلوده، په ښوونځي کې د خپل عمر په هلکانو کې د والیبال ټیم غړی و، یون چې کله له لغمان څخه کابل ته راغی، نو دلته په (خوشال خان) لیسه کې د ادبي انجمن مشر شو. یون د ثانوي زده کړو پر

مهال (۹-۱۲) ټولګي پورې موده کې لـه یـو شـمېر اخبـارونو او مجلـو سره قلمي همکاري درلودله او د ځینو چاپي خپرونو له خوا ورته حـق الزحمـه هم ورکول کېدله. یون په کابل پوهنتون کـې د تحصـیل پـر مهـال هـم د لیکوالو د ټولنې غړی، د ځوانو لیکوالو د ټولنې د مشرتابه غړی، د خوشـال فرهنګي ټولنې د ځوانانو د برخې مسول او یو شـمېر نـورو فرهنګـي ټولنـو غړی پاتې شوی دی.

یون لا په (۱۲) ټولګي کې و چې د (هیلې) په نامه یـې د لـرو او بـرو افغانانو د ځوانو شاعرانو یوه شعري ټولګه راټوله او پـر (۱۳٦٦ل) کـال یـې چاپ کړه.

د پـوهنځي پـر وروسـتي کـال یـې دوه اثـار: د خپلـو شـعرونو ټولګـه (مټکور) او د ولسي شاعر (محمد عالم حیران) د شـعرونو ټولګـه (نیمګـړي ارمانونه) چاپ کړل.

یون د تنظیمي جګړو پر مهال کله په کابل او ځینې وختونه پـه پېښـور کې اوسېده، هلته پـه پېښـور کـې یـې (هیلـه) مجلـه چاپوله، د (معـارف) مجلې همکار و، په جرمنې کې د دوو افغاني کلتـوري ټولنـو؛ (د افغانسـتان کلتـوري ودې ټولنـه) او (د پښـتني فرهنـګ د ودې او پراختیـا ټـولنې) استازی هم و.

محمـد اسـمعیل یــون د طالبـانو د نظـام تـر ړنګېـدو وروسـته پـر (۱۳۸۱ل)کال لومړی په ختیزو ولایتونو کـې د ملګـرو ملتونـو د مرسـتو د ځانګړي دفتر یوناما (UNAMA) مشاور او ډېر ژر په یـادو ولایتونـو کـې د

ببړنۍ لويې جرګې لپاره د انتخاباتو د دفتر مشر شو. يون دا دنـده هـم پـه ښه ډول ترسره کړه.

يون پر (۱۳۸۲ل)کال د ببړنۍ لويې جرګه چې نږدې (۱٦۰۰) تنـو پـه کې له ټول افغانستان څخه ګډون درلود، غړی و، د جرګې د مشرتابه لپـاره ټاکنې وشـوې او يـون د رايـو پـه اکثريـت سره د ببړنـۍ لـويې جرګـې د لومړي منشي په توګه انتخاب شو، د منشيتوب دنـده يـې هـم پـه ښـه ډول ترسره کړه او بيا يې د يادې جرګې په باب (ببړنۍ لويه جرګـه- ولسـواکي او زورواکي) تر نامه لاندې يو ځانګړی اثر هم وليکه.

يون پر (۱۳۸۵ل)کال د افغانستان او پاکستان تـر مـنځ د (امـن ګـډې جرګې) لپاره د افغانستان له لوري د منشي په توګه غوره شو او دا دنده يـې هم په ښه ډول ترسره کړه.

يون پر (۱۳۸۵ل)کال د جمهور رييس حامـد کـرزي د يـوه ځـانګړي فرمان له لارې د امنيت شورا دفتر د فرهنګي چارو د رييس په توګـه غـوره شو، اوه کاله يې دا دنده پر مخ يوړه او جمهور رييس حامـدکرزي تـه يـې په ډېرو ملي او فرهنګي مسايلو کې خپلې مشورې ورکړې.

يون پر (۱۳۹۲ل)کال په حکومت کې د ولسمشر له خوا جنګسالارانو او فسادګرو ته د زياتو امتيازاتو له ورکـړې سره د مخالفـت لـه املـه لـه خپلـې دندې استعفی ورکړه او پر همدې کال يې (د افغانستان ملي تحريـک) پـه

نامه د یـو ازاد، فرهنگـي، مـدني، ټـولنیز، مـلي او سـیاسي حرکـت بنسـټ کېښود.

## ۴- کورنی ژوند:

استاد یون پر (۱۳۷۴ل) کـال لـه (اریـن مومنـد) سره واده وکـړ، اوس څلور اولادونه لري (هیله، سمسور، سـوله او ودان). (هیلـه) او (سمسـور) دا مهال (۱۳۹٦ل کال) پـر لـوړو زده کـړو بوخـت دي، (سـوله) او (ودان) د ښوونځي زده کوونکي دي او مېرمن یې (ارین یون) په ولسي جرگه کـې د ننگرهار د خلکو منتخبه استازې ده.

## ۵- فعالیتونه:

**الف- ټولنیزه برخه کې:** یون لـه (۱۳٦٦ل)کـال څخـه بیـا تـر (۱۳۹٦ل)کال پورې په ټولنیزو چارو کې زیات کارونه ترسره کړي دي، پـه یاده موده کې یې په سلگونو زرو هېوادوالو سره لیـدنې کتنـې کـړي دي، په سلگونو ټولنیزې غونډې یې جوړې کړي، د خلکو مشکلاتو ته یـې حـل رسولی، د نورو ملگرو او ملي تحریک د ملگرو په مرسته یې مصیبت ځپلـو خلکو ته مرستې وررسولي. په کابل، کندوز، بغلان، بدخشان، فاریاب، بلخ، هلمند، ننگرهار، پکتیا، خوست، لغمان، کونړ او د هېواد په نورو سیمو کـې یې زلزله ځپلو، سېلاب ځپلو، جنگ ځپلو او نورو مصیبت ځپلو هېوادوالـو ته د ملي پانگوالو مرستې رسولې دي، د دولت او خیریه ټولنو پام یې هغو ته وراړولی او لـه دې لارې یـې خلکـو تـه پـه مسـتقیم او نامسـتقیم ډول د

میلیونونو ډالرو مرستو د ور رسولو زمینه برابره کـړې ده. د مصـیبت ځپلـو خلکو لپاره یې لوی رسنیز کمپاینونه هم ترسره کړي او دا کـار ددې سـبب شوی چې هم دولت او هم خیریه ټولنې غمځپلو سیمو ته ځـان ورسـوي. د جگړې ټپیانو ته د وینې د ورکړې لپاره یې ځو پروگرامونه جوړ کـړي او همدارنگه یې د خلکو مدني او اعتراضیه غونډو ته لاره هواره کـړې ده. د مسجدونو او کلینیکونو په جوړونه کې یـې ونـډه اخیسـتې، د صـحي اوبـو لپاره یې د ژورو څاگانو په کیندنه او د چاپېریال د پـاک سـاتلو لپـاره یـې هم د هېوادوالو مرستې اړمنو هېوادوالو ته رسولې دي. په مجمـوعي ډول د ټولو هغو خیریه او ټولنیزو کارونو شمېر چـې یـون پـه تېـرو (۳۰) کلونـو کې ترسره کړي تر (۱۰۰۰) گټورو او مرستندویه کارونو زیاتېږي.

**ب- سیاسي برخه کې:** محمد اسمعیل یون سره له دې چې لـه کوم سیاسي گوند سره تړاو نه لري او نه یې غړیتوب لري، خو په خپله یـې له نورو روښنفکرو افغانانو سره په گډه (د افغانستان ملي تحریک) په نامـه د یو ملي، مدني، خدماتي، ټولنیز، ملي او سیاسي حرکت بنسـټ ایښـی دی. ددې تحریک له لارې یې په هېواد کې یو شمېر سـیاسي فعالیتونـه تـرسره کړي دي.

یون له یو شمېر نورو افغانانو سره په گډه په هېـواد کـې د ولسـواکۍ د ټینگښـت، د جنگسـالارانو او فسـادگرو د زور کمـونې، لـه منځـه وړنـې او همدارنگه د عادلانه سیاسي نظام د ټینگښت لپاره گڼ شمېر لاریونونه ترسره کـړي او پـه ځینـو نـورو دا ډول مظـاهرو کـې یـې گـډون کـړی دی. دا

مظاهرې ټولې سولییزې او هدفمنې وې. د ټولـو هغـو غونـډو، لاريونونـو، جرگو، مرکو، سياسي سيمينارونو او ورکشاپونو شمېر چې یون په مستقيم او نامستقيم ډول او د نورو هېوادوالو په مرسته جوړ کړي په تېرو (۳۰) کلونـو کې تر (۸۰۰) بېلابېلو غونډو اوړي.

د ملي او اسلامي هويت د خونديتابه لپاره يې ټينگه او متواتره مبـارزه د ملي او سياسي مبارزو يوه بېلگه ده.

**ج- فرهنگي برخه کې:** یون د يو خپلواک ليکوال په توگه په تېرو دېرشو کلونو کې گڼ شمېرفرهنگي، علمي او اکاډميک خدمتونه ترسره کړي،په گڼو چاپي، راديويي او ټلويزيوني مرکو کې يې د و اقعيتونو او حقايقو د ځرگند بيان له امله د خلکو په زړونوکې ځای نيولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون ليکنې، مرکې او نظريات خوښوي، خو يو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفين دي؛ د هغه ملي او گټورو نظرياتو ته هم غلط رنگ او تعبير ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره يې زورواکي او د سياسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د یون نظريات خپلو شخصي او تنظيمي گټو ته خطر بولي، نو ځکه يې په ټينگه مخالفت کوي. هر کله چې یون کومه ليکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې يې مثبت او منفي غبرگونونه دواړه راپارولي دي، منفي غبرگونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سياسي بهير کې يې ډېرې نامشروع گټې ترلاسه کړي او ځانونه يې مطرح کړي دي.

مثبت غبرگونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو یون په دغسې سختو اغزنو او تنگو شرایطو کې بیا هم خپلو فرهنگي، سیاسي او ټولنیز کارونو ته دوام ورکړی دی.

د ټولو هغو لیکنو، مرکو او ویناوو شمېر چې استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې د هېواد په داخل او بهر کې له چاپي، غږیزو، لیدنیو او برېښنایي رسنیو سره کړي تر (۱۲۰۰) عنوانو لیکنو، مرکو او ویناوو اوړي.

د استاد یون اوسنی فرهنگي کارونه، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول گورئ، د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې ترسره شوي دي. استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې تر (۵۰) عنوانو زیات اثار لیکلي چې نږدې ټول یې چاپ شوي، دا اثار یې هم په برېښنایي ډول، هم په کتابي ډول او هم په (CD) کې لوستونکو ته وړاندې کړي دي. استاد یون پر خپلو فرهنگي کارونو سربېره د گڼو فرهنگي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توگه هم خپل فرهنگي رول ادا کړی دی، په پېښور کې یې د دوو المان مېشتو فرهنگي ټولنو (دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې) او(د پښتني فرهنگ د ودې پراختیا ټولنې) د همکار په توگه د بېلابېلو لیکوالو په لسگونو اثار، ایډیټ او چاپ کړي دي. دغه راز یې د سلگونو کورنیو مشاعرو، ادبي غونډو او سیمینارونو په جوړونه کې ونډه اخیستې ده، خپله یې هم په سلگونو مشاعرې،سیمینارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

په رسنیزه برخه کې یې د (ژوندون) په نامه یو رسنیز مرکز جوړ کړی چې ژوندون راډیو ټلوېزیون په کې فعالیت لري، دا راډیو ټلوېزیون د ټول هېواد په کچه نشرات لري او د سټلایټ او وېبسایټ له لارې یې هم ټولې نړۍ ته نشرات رسېږي.

په اکاډمیکه برخه کې یون د ( کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسیس کې اساسي نقش لوبولی دی او اوس دا دواړه پوهنتونونه په زرګونو محصلین لري، دغه راز د یو شمېر خصوصي ښوونځیو او پوهنتونونو په جوړونه کې یې هم مرسته کړې ده. یون د (هیلې، شمشاد او کابل پوهنتون) په نامه د درېو مجلو د مسول مدیر په توګه هم خپله دنده اجرا کړې ده. پر خپلو کتابونو سربېره یې د بېلابېلو لیکوالو نږدې (۴۰۰) عنوانو بېلابېلو اثارو ته د چاپ زمینه برابره او د یو شمېر نورو د سمون چارې یې هم پر مخ وړي دي.

په سیمه ییزه او ملي کچه یې د (۳۰) کلونو په بهیر کې تر (۱۱۰۰) زیاتې ادبي، علمي او فرهنګي غونډې، سیمینارونه او ورکشاپونه جوړ کړي دي.

## چاپ شوي اثار یې په دې ډول دي:

## الف- پنځونې:

| کتاب نوم | څرنګوالی | چاپکال |
|---|---|---|
| • مټکور | (لومړۍ شعري ټولګه) | دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |
| • په اورونو کې سندرې | (دویمه شعري ټولګه) | دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |

## ب- راټولونې:

- هیلې (ګډه شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- نیمګړي ارمانونه (د حیران شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د لوونو فصل (ګډه شعري ټولګه)دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د نازو انا یاد (د سیمینار د لیکنو ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د الفت نثري کلیات (د استاد الفت نثرونه) درېیم چاپ ۱۳۸۷ل کال.

- سیندونه هم مري (د اسحق ننګیال شعري منتخبات) دويم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو ادب لرغوني دوره (لومړی ټولګی) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

## ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه، د (پوهنوال روستار تره کي) اثر دويم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- .د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه (د نینسي دوپرې اثر) دويم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه(د پوهنوال روستار تره کي) اثر دويم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- فلسفه او فلسفي بهیر (د استاد افغانیار اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## د- یونلیکنې:

- د اماراتو سفر (د اماراتو یونلیک) دويم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که یون دی یون دی (د اروپا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دېنټاګون ترخنډو (د امریکا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د کرملین په زړه کې (د روسیې یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.
- د ډيلي تخت هېرومه (د هند یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.
- درې ورځې د افسانو په وطن کې (د هلمند یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د خدای تر کوره (د حج یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## هـ- خپرنې او شننې:

- د محمدگل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- استاد زیار د پښتني فرهنگ یو ځلاند ستوری (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- دکابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د افغانستان فرهنگ ته اوښتي ژبانونه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو شعر هندسي جوړښت (علمي اثر) شپږم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- ساینسي پرمختیاوې (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- بېړنۍ لویه جرگه ولسواکي او زورواکي (سیاسي څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- اندیال خوشال (د څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- هیله د خپلو سریزو په لمن کې (د تحلیلي لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- کلتوري یون(د ادبي څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- فرهنگي فقر (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- مرکه او مرکې (له بېلابېلو لیکوالو سره د مرکو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- خوشال په خپل ایډیال (د څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

- دکتابونو په ورمو کې (پر بېلابېلو اثارو د لیکل شویو سریزو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- افغانستان په سیاسي کړلېچ کې (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- پښتو لیکنی سمون (ژبنی څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- اوسنۍ رسنۍ(څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که نړیوال ماته وخوري؟ (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- جنگ او فرهنگ په افغانستان کې (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د سمون په لټه (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کتاب الشعر (د علمي څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کره کتنه (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ادب تاریخ (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ملي درسونه (د سیاسي لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ل کال.
- د نجات څلی (څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ ل کال
- د ارگ نا ویلي خبرې (سیاسي څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- د زمانې په کړلېچ کې (څېړنیز او تحلیلي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- ملي هویت او ملي عزت (څېړنیز او تحلیلي اثر) ۱۳۹٦ل کال.
- د خادم نړۍ لید (څېړنیز اثر) ناچاپ ۱۳۹٦ل کال.

استاد یون د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه په تذکره کې د لیکل شوي عمر له مخې پوره پنځوس کلن شو، ژوند یې د نیمې پېړۍ

وروستي حد ته ورساوه. خو دا نیمه پېړۍ له منډو، تړرو، ستونزو، کړاوونو، جنجالونو او همدارنگه له بریاوو سره مله وه. له لومړي ټولگي څخه مخکې دوران خو ښځي د ماشومتوب دوران وي، په هغه کې انسان له زیاترو مسوولیتونو څخه بې غمه وي. له لومړي ټولگي څخه بیا تر دولسم ټولگي پورې د زده کړې زمانه وي، یون سره له دې چې په دې دوران کې د پلرنۍ مینې له نعمته محروم شو، د کور د سرپرستۍ درونډ مسوولیت ورپه غاړه شو، خو دې سره سره یې خپلو زده کړو ته یې دوام ورکړ، په همدې بهیر کې یې ادبي پنځونې وکړې او د (۱۲) ټولگي په بهیر کې یې د خپلو ادبي هڅو یا راټولونو لومړی ثمر (هیلې) گډه شعري ټولگه چاپ کړه. د ژوند درېیم پړاو یې د تحصیل دوره ده چې د څلورو کلونو په ترڅ کې یې په ښه ډول ترسره کړه. په دې بهیر کې یې (مټکور)، (د لوونو فصل)، (نیمگړي ارمانونه) او (د نازو انا یاد) اثار ټولنې ته وړاندې کړل. د ژوند بله مرحله یې د گټو خدمتونو مرحله ده چې له (۱۳۷۱ل) کال څخه پیل بیا تر دې دمه (۱۳۹۶ل) کال پورې رارسېږي.

دا نو د گټو خدمتونو مرحله ده چې پوره شپږ ویشت کاله وخت یې ونیو او ده هم په کې ښې ډېرې هلې ځلې وکړې چې موږ یې دمخه یادونه وکړه.

که یوازې په فرهنگي برخه کې د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې موږ د استاد یون له خوا ټول لیکل شوي، ژباړل شوي او راټول شوي اثار محاسبه کړو، نو تر (۱۵۰۰۰) کتابي مخونو یې شمېر اوړي او دا بیا که دده د لیکوالۍ پر (۳۰) کلن عمر وویشو نو د ورځې لږ تر لږه یو نیم مخ کار

کېږي. یانې استاد په (۳۰) کلونو کې یوه ورځ هم بې لـه لیکـوالۍ نـه ده تېره کړې. دا په داسې حال کې ده چې پـه سـلګونو بېلابېـل لیکـل شـوي پیغامونه، ویناوې، مرکې، مباحثې، منـاظرې او لکچرونـه لا پـه دې کمیـت کې شامل نه دي. ددې ترڅنګ هغه په سلګونو غونډې، مظـاهرې، ټـولنیز او سیاسي خدمتونه ترسره کړي، چې موږ یې دمخه یادونه وکړه، هغه لا لـه دې فرهنګي کار څخه جلا دي، که دا ټـول کارونـه سره محاسـبه کـړو، نـو رښتیا هم سړی فکر کوي چې دا دومره کارونه د هـر چـا پـه وس پـوره نـه دي. هغه چا چې استاد یـون سره لـه نـږدې کارونـه کـړي وي، هغـو تـه د استاد د کار اوسپله، زغم، هوډ او اراده معلومېږي. هر سړی ورسره کار هـم نه شي کولای، یو ستړی، ستومانه او سرګردانه خو ګټور او مثمر ژوند لـري، زه ورسره له (۱۳۸۳ل) کال راهیسې کار کوم، د کار او فشار کچه یـې ماتـه تر هر چا زیاته معلومه ده. د همدغو کارونو برکت و چـې افغانسـتان کـې د ملتپالنې یوه نوې جذبه، روحیه او ولوله راپیدا شوه. داسې یو وخـت هـم دلته تېر شو چې د واکمنو جنګسالارانو پـر وړانـدې چـا سـونې هـم نـه شـو کولای، خو استاد یې په مقابل کې ودرېد، ځوانانو یې ملاتړ وکړ او بیا یـې ولس هم ملاتړ ته راودانګل. د هېواد ملي او اعتقادي هویت په خطـر کـې و، د ملي هویت تذکرو کې د (دین) او (ملت) د سـترو ارزښـتونو د لیکلـو مخنیوی کېده، خو اسـتاد یـون او ملګـرو یـې د اسـلامیت او افغانیـت غـږ اوچت کړ او ان د کرزي او غني حکومتونو هـم د دې رسـا غـږ او داعیـې مخه ونه شوه نیولی. په داسې حال کې چـې افغانسـتان پردیـو ایـډیالوژیو سخت زیانمن کړی و، د یوه ملي فکر رغول او ځلول اسانه کار نه و، خو د

استاد یون او دده په شان د ځینو نورو شخصیتونو برکت و چې د ملي هویت، ملي فکر او ملي ویاړونو ولولې تر هرې بلې ایډیالوژۍ زیاتې ځلېږي. زه نه غواړم دا لیکنه تر دې زیاته اوږده کړم، ځکه د استاد مبارزه دده په فعالیتونو او همدارنګه د استاد په ټولو اثارو کې انځورېږي. خو ددې څو ټکو یادونه مې ځکه وکړه چې زموږ راتلونکی نسل د استاد د ملي او فرهنګي مبارزو او د هغه د زمانې له چاپېریال څخه خبر شي.

استاد یون ته د اوږد عمر او لا زیاتو بریاوو په هیله

ضیاء الرحمن ضیاء

کابل- ژوندون راډیو ټلوېزیون

(۱۳۹٦ل) کال د کب، (۲۷)مه نېټه

# زما د نیمې پېړۍ یون

ژوند یو سفر دی، پیل، منځ او پای لري. د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه زه د تذکرې د رسمي سن له مخې پوره پنځوس کلن شوم. په دې مانا چې په دې نړۍ کې مې پوره پنځوس کاله مزل وکړ. دا مزل به ګوډ و مات و، له ستونزو او کړاوونو به ډک و، هدفمن او بې هدفه به هم و، خو هر څه چې و، ژوند و نو. له کومې ورځې چې مې ښي او کيڼ لاس پېژندلی، کوښښ مې کړی چې هدفمن ژوند ترسره کړم، خو ټول کارونه د انسان په وس پوره نه دي، چاپېریال کله پر سړي داسې کانې وکا چې د ژوند بهیر او د فکر مسیر یې وربدل کا. له کومې ورځې چې مې قلم ګوتو کې نیولی، نو بیا پر ځان پوه شوی یم چې نه هر څه چې وي، هر څومره ستونزې چې وي، وي دې، ملت ته باید یو څه وکړم. د شعر په لیکلو مې شعور نور هم وده وکړه، خوشال بابا وایي چې شعر مشتق دی له شعوره، نو کېدی شي شعور مې وده کړې وي او احساس مې څورېدلی وي چې د ژوند دې بلې نړۍ ته یې هم متمایل کړم. د ښوونځي په لسم

ټولګي کې وم چې د وخت په اخبارونو کې مې شعرونه چاپ شول، دا زما د زیاتې هڅونې سبب شول. پر همدې مهال په خوشال خان لېسه کې د ادبي انجمن مسول وم. دې سره مې د خپل وخت له ځینو اخبارونو سره قلمي همکاري پیل شوه او په دې ډول مې په رسمي ډول ادبي سفر هم پیل شو. خو له شعر او شاعرۍ سره مې مینه ان له هغه وخته وه چې په ښوونځي کې شامل شوم.

په دولسم ټولګي کې وم چې د (هیلې) په نامه مې د لرو او برو پښتنو افغانانو د ځوانو لیکوالو یوه تذکره یا غورچاڼ برابر کړ او پر (۱۳٦٦ل) کال چاپ شو، د پوهنځي پر وروستي کال مې د (نیمګړي ارمانونه) ، (د لوونو فصل) په نامه دوه راټولونې او هم مې د خپل شعرونو ټولګه (مټکور) چاپ کړې. په دې ډول نو له (۱۳٦٦ل) کال څخه بیا تر (۱۳۹٦ل) کال پورې چې پوره دېرش کاله کېږي، ما له فرهنګي دایرې بهر ژوند نه دی کړی او که د چا خبره ووایم چې یوه ورځ هم له فرهنګي کار او روزګاره بهر نه یم پاتې شوی، مبالغه به مې نه وي کړې. البته په دې تېر دېرش کلن بهیر کې ځینې سیاسي کارونه له ناچارۍ څخه راباندې تحمیل شوي او ځینې ټولنیز کارونه مې په خپله خوښه ترسره کړي، خو دا کارونه مې هم د خپل ولس د سوکالۍ، د ملي واکمنۍ د ټینګښت او د فرهنګي کارونو د ملاتړ لپاره ترسره کړي دي. په (۱۳۸۵ل) کال زه د جمهوري ریاست د ملي امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو رییس وم. دا مهال زما له منظم فرهنګي کار څخه څه باندې دوه لسیزې عمر تېر شوی و، په څنګ کې د نورو هغو ملي، سیاسي او ټولنیزو کارونو پر وړاندې چې ما یې د سرته رسولو هیله

لرله، سخت خنډونه موجود وو، له خپلو ملگرو؛ ضیاءالرحمن ضیاء او وفاالرحمن وفا سره مې مشوره وکړه چې راځئ فرهنگي کار ته اړم شو، دا کارونه جانبي عوارض نه لري او که لري يې هم کم دي، تنگنظره سیاسي اشخاص ورسره ژر حساسیت نه ښیي او که دوی حساسیت ښکاره هم کړي، نو موږ به خپل کار ترسره کړی وي. ددې فرهنگي کار لپاره مو یو پلان جوړ کړ، په څه باندې دوو کلونو کې مو د نږدې دوویشتو کلونو په ترڅ کې شوي فرهنگي کارونه راټول او منظم کړل. زما له خوا ټول پخواني لیکل شوي کتابونه او راټولونې مې له سره منظم او تر سمون وروسته مو چاپ ته تیار کړل، دا کار که څه هم ډېر ستونزمن و، خو پخې ارادې موږ خپل هدف ته ورسولو. ټول (۳۳) عنوانه بېلابېل اثار مو پر یوه وخت چاپ کړل. (۱۳۸۷ل) کال زما لپاره د فرهنگي کارونو یو غوره کال و. د خوږې خاطرې په توگه مې په ذهن کې دی. هغه وخت مې هم په یادښتونو کې لیکلي او ملگرو ته مې هم ویلي وو چې هېواد کې حالات ترینگلي دي، پر ژوند یوه شېبه هم باور نه شته، نو هر چا چې هر څومره فرهنگي کارونه کړي یانې اثار يې لیکلي دي، باید په خپله يې راټول او چاپ کړي.

زما کار یوه نوې تجربه وه، ځینو نورو لیکوالو هم هڅه وکړه دا تجربه تکرار کړي، خو په لاره کې ټکني شول، خپل کارونه يې بشپړ نه کړای شول. زما د خپلې تجربې له مخې ترڅو چې کار ته کار ونه وایې او خپله يې ترسره نه کړې، کارونه په خپل سر نه خلاصېږي. کله چې مې د عمر نیمه پېړی مزل وواهه، نو یو ځل بیا مې زړه کې راتېره شوه چې د

خوشال بابا په وینا چې د عمر اساس پر باد ایښی دی، نو بیا خو پرې اعتماد هم په کار نه دی، راځه دا ځل د خپل ټول فرهنګي ژوندانه کړي کارونه چې دا وخت پوره دېرشو کلونو ته رسېږي، بیا له سره منظم او کلیاتو په بڼه چاپ کړه. له دې کار څخه مې هدف دا و چې په ژوند کې مې نه دي غوښتي څوک راڅخه ازار شي او یا د چا د اوږو پېټی شم، هسې نه چې تر مرګ وروسته زما لیکنو او اثارو پسې، ښه دي، که خراب، کمزوري دي که قوي، هنري دي که ناهنري، څوک سرګردانه شي او پر راټولونې یې ځان ستړی کړي. له خدایه شکر کاږم چې ژوند یې راته د نیمې پېړۍ وروستي حد پورې راورسوه، دا د هغه لوی ذات پېرزوینه ده، که نور یې راته وغځوي، نو هم لویه مهرباني به یې وي او که نه برخلیک یې راته وخته لیکلي وي، نو ژوند خو د هغه لوی ذات ډالۍ ده، هر وخت یې اخیستلای شي. په دې خاطر مې یو ځل بیا پر ټولو پخوانیو چاپ او وروسته پر ځینو ناچاپو اثارو ګوتې ووهلې او د محتوایي وېش له مخې مې سره منظم کړل، ټول پنځوس عنوانه شول چې راټولونې، پنځونې، ژباړنې او څېړنې ټولې په کې شاملې دي. دا ټول پنځوس عنوانه بیا د شکل او محتوایي وېش له مخې په (۱۴) بېلابېلو ټوکونو کې تنظیم شول او (نیمه پېړۍ یون) نوم ورته ورکړل شو.

دا پنځوس بېلابېل اثار چې ښه مې پورته ورته یاده کړه زما د نیمې پېړۍ په تېره بیا (۳۰) کلونو فرهنګي سفر پایله او ثمره ده چې خپلو قدرمنو هېوادوالو ته یې وړاندې کړم. که چېرې په هېواد کې جګړه او ناورین نه وای، نو کېدی شول تر دې زیات کار ترسره شوی وای، خو موږ

بدمرغه نسل وو چې له ډېر تنکي زلمیتوبه مو جګړه پیل شوې او دادی تر نږدې سپینږیرتوبه لا دوام لري. زه د ښوونځي په شپږم ټولګي کې وم چې جګړې د پلار له خواږه نعمته محروم کړم. له هغې ورځې بیا تر دې لیکنې پورې (۳۸) کاله تېرېږي، خو د پلار مرګ مې د پرونۍ ورځې د ترخې خاطرې په شان په ذهن کې انځور دی. ما غوندې په ملیونونو افغانانو د جګړې ټپونه او دردونه لیدلي دي.

نږدې دوه نسلونه په جګړه کې راګیر شول او لوی شول. د جنګ نسل د فرهنګ نسل نه دی. جګړه ډېره بدمرغه پدیده ده، د فرهنګ او تمدن د عمرونو مېوه او ثمره په یوه ساعت کې پوپناه کړي، نو په داسې یوه جګړه ییز چاپېریال کې چې هر څوک د ټوپک تر واکمنۍ لاندې د قلم د حاکمیت لپاره کار کوي، له اور سره د لوبو په مانا دي. له دې معترضه جملې څخه مې هدف دادی چې زموږ راتلونکی نسل باید پر دې پوه شي چې که ما او زما د عمر ټول پښت راتلونکي نسل ته څه ډېر بډایه فرهنګي سوغات نه دی ډالۍ کړی، نو په دې کې زیات قصور د زمانې دی. خدای(ج) دې وکړي چې زموږ راتلونکی پښت زموږ په شان د ډول ډول انقلابونو د ژرندو تر پلونو لاندې ګیر نه شي، چې د غنم د دانې په شان یې ژوند محوه شي او یا یې هم اغزن چاپېریال د ژوند مېوه پخېدو ته پرې نه ږدي. الله تعالی دې وکړي زموږ راتلونکی پښت زموږ د زمانې له تاوجن چاپېریال څخه ښه پند او عبرت اخیستی وي او د یوه سوکاله ژوند او پرمختللي افغانستان لپاره ورته مناسب فرصتونه برابر شي.

ددې لیکنې په دې برخه کې غواړم د خپل ژوند په پنځوس کلن بهیر او په تېره بیا په (۳۰) کلن فرهنګي ژوند کې له ټولو هغو دوستانو څخه مننه وکړم چې په یو نه یو ډول یې زما د فرهنګي مبارزې لاسنیوی کړی دی. خپل مرحوم پلار ته د دعا لاسونه پورته کوم چې زما مزل یې تر شپږم ټولګي پورې راورساوه او بیا یې د خپل ابدي سفر لمنه ونیوه، خو ما یې د جنازې بازو ته اوږه ور نه کړای شوه او نه مې د مرګ پر مهال د هغه مبارکه څېره ولیده، د پلار قبر مې معلوم نه دی. د ژوند یو ارمان مې دا و چې کاشکې یې قبر معلوم وای چې لکه د مرغۍ د بچي په شان مې پرې وزرې غوړولای وای، څو شېبې ورسره ارام غځېدلای وای، د هغه د هغو مهربانیو قدر مې کړی وای چې زه یې پر اوږو ګرځولای وم. بازار ته یې بیولی وم، مېلې ته یې بیولی وم، ډاکتر ته یې بیولی وم، پټې به یې جیب کې راته پیسې ایښودلې، له نورو پټې. اوس مې نو له خدایه لویه هیله همدا ده چې تر مرګ وروسته مې لومړی ملاقات له خپل پلار سره وشي، په پښو کې ورته ورغړم راورغړم او خپله مینه پرې ماته کړم.

مور مې راسره ډېره په تکلیف شوې، د ژوند ټول ارمان یې خپل زوی ته و، زه یې د یوازیني زوی په توګه ډېر نازولی یم، ځان یې په تکلیف کړی، خو زه یې سختتو ته یې نه یم پرې ایښی، ماته یې د تعلیم زمینه برابره کړې، د ټیکري په پیڅکې پورې تړلې پیسې یې راته رالېږلې، خو زه یې بې خرڅه کړی نه یم، بختور وم چې د مور جنازې ته مې په خپله اوږه ورکړه، د وفات پر وخت مې د هغې جنازې ته ځان ورساوه، لکه د مرغۍ بچي چې د خپلې مور پښو ته رغړي، داسې ترې تاو راتاو شوم،

سترګې مې ورته ښکل کړې، سترګې یې رنې وې، لکه چې د خپل یوازیني زوی لیدو ته په طمع وې، مور مې ډېر وخت غېږ کې ونیوله، داسې چې زه به یې کلک غېږ کې نیولی وم، ایا څوک به وي چې د داسې یوې صحنې پوره انځور وکاږي.

له جلال اباده تر لغمانه مې د مور د تابوت سر ته ناست وم، ډېر مې ورته وکتل، په لیدو یې نه مړېدم، له حج څخه مې ورته کفن راوړی و، د خدای په کور مې موښلی او د زمزم په اوبو مې مینځلی و.

له خپلو خوږو خویندو مې هم ډېره مننه کوم چې زما په روزنه او پالنه کې یې ډېر زیات زیار ګاللی، له مشرانو او کشرانو خویندو ټولو څخه ډېره مننه، خو ما یې لا د خدمت حق نه دی اداکړی، له خپلو ټولو استادانو څخه چې له لومړي ټولګي څخه بیا د دوکتورا او پوهاندۍ تر کچې یې ګام پر ګام زما معنوي ملاتړ کړی، له خپلو ټولو هغو دوستانو، ملګرو، لیکوالو، د مال او عزت له خاوندانو څخه هم ډېره مننه چې په دې نیمه پېړۍ کې یې له ماسره مادي مرسته او لاسنیوی کړی دی.

له خپلې مېرمنې او اولادونو څخه ډېره مننه کوم چې په تېرو (۲۲) کلونو کې یې راسره د ژوند ډېرې سړې او تودې وګاللې او زما فرهنګي چارو کې یې له ما سره تر وروستي بریده مرستې وکړې.

له قلموالو، لیکوالو او نورو هغو دوستانو چې زما د اثارو په کمپوز، سمون او چاپ کې یې په یو نه یو ډول مرسته کړې له ټولو منندوی یم، خدای(ج) دې ټولو ته اجرونه او ثوابونه ورکړي، که ددغو ټولو دوستانو


**مالي او معنوي ملاتړ نه وای، نو خدای خبر چې زه د دغومره کارونو د سرته رسونې جوګه شوی وای او یا دغه اثار تر تاسو دررسېدلي وای او هم نور فرهنګي، ټولنیز او ملي کارونه ترسره شوي وای.**

**له ټولو یوه نړۍ مننه**

**ستاسو د ټولو یون**

**(۱۳۹٦ل) کال د کب (۱۹)مه**

**کابل- افغانستان**


Yoon Cultural Foundation
مټکور
(شعري ټولګه)
محمداسمعیل یون
۱۳۸۷ل

# متکور

( د شعرونو لومړۍ ټولګه)

محمد اسمعیل یون

# بسم الله الرحمن الرحیم


## کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | متېکور |
| شاعر: | محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۶۹ل کال |
| دویم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| دشاعر پرله پسې نومره: | (۴) |
| د خپرندوی پرله پسې نومره: | (۴) |
| کمپوزر: | ضیاالرحمن ضیا |

# د ((متېکور)) د دویم چاپ سریزه

متېکور زما د شعرونو لومړۍ ټولګه ده، چې اساساً پر (۱۳۶۹ل) کال چاپ شوې ده. ((اساساً پر ۱۳۶۹ل کال)) ورته ځکه وایم، چې د همدې کال په بهیر کې د افغانستان د لیکوالو ټولنې له خوا د چاپ پلان کې وه او د همدې کال د وروستیو درېو میاشتو په بهیر کې د همدې ټولنې له خوا چاپ ته لاړه. ترننه نږدې شل کاله دمخه، چاپ دومره پرمختللی نه و، هغه وخت د چاپ توري اکثره له سرپو نه جوړېدل یا اوسپنیز وو، یو یو توری به په ځانګړي صندوق کې پروت و، کله چې (الف) نه تر (یا) پورې هر توری په کارېده، نو بیا به حروفچین، همغه صندوق ته، ته او اړتیا وړ توری به یې را اخیسته، دا توري به یې پر یوه ډېر اوږده مېز، چې لس پنځه متره واټن به یې درلود، په همغو جوړو شویو صندوقونو یا کورونو کې ایښي وو. د یوې کلمې لپاره که د یو توري ټولوونکي تګ اوراتګ محاسبه کړو، کېدی شي سل متره پلی واټن یې هم وهلای وي، دا نو بیا د یوه کتاب په لسګونو زرو او یا هم لکونو کلمو ته محاسبه کړه. دا توري بیا یو تربله څنګ په څنګ اېښودل کېدل او پر یوه تار تړل کېدل، په دې ډول ترې یوه کلمه، بیا کلمې، بیا جمله او جملې او بیا هم متن جوړېدل، کله چې به دې په کې سمون راوسته، هغه کلمه به

بېرته خلاصېدله، خو لنډه دا چې خورا زړه چاودون و. دا کتاب ما په همغه شکل چاپ کړی دی. زه دا مهال د کابل پوهنتون د درېیم ټولګي محصل وم، د درسونو ترڅنګ مې نور فرهنګي مصروفیت هم درلود او چاپخونې ته به هم هره ورځ روان وم، کله چې د کتاب




د چاپ او سمون لومړني کارونه خلاص شول او ماته یې وروستي توري راکړل، نو دا مهال ۱۳۶۹ل کال خدای پاماني وکړه، ما کتاب قدرمن استاد کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي او ګران ورور محمد ابراهیم شینواري ته د سریزو لپاره وسپاره، زما بل ملګري ممتاز ارمان لا وار دمخه پرې سریزه کښلې وه، څه موده نور هم د سریزو په خاطر وځنډېده، نو څکه خو د استاد روهي او ښاغلي ابراهیم شینواري تر سریزو لاندې (۲/۱/۱۳۷۰) او (۱۳/۱/۱۳۷۰)

نېټې لیکل شوي، ما د لومړي چاپ او دویم چاپ پر مهال دا نېټې ځکه بدلې نه کړې، چې زموږ ګران لوستونکي د هغه وخت له چاپي بهیر سره لا ښه اشنا شي، چې د یو عادي کتاب چاپ هم هغه وخت څو میاشتني واټن ته اړتیا لرله. د زمانې څرخ تاوېږي، چاته صبر نه کوي، اوس چې له هغې زمانې نږدې شل کاله تېرېږي، استاد روهي زموږ په منځ کې نه شته او د هغه په حق کې له دعا پرته نور هېڅ زموږ له لاسه نه کېږي، ګران ابراهیم شینواری او زه (یون) ژوندي او پر خپل وطن یو، ممتاز ارمان هم رانه مهاجر شوی دی. خدای(ج) خبر چې ددې شعري جونګ تر درېیم چاپ پورې به موږ ته څه پېښېږي. په همدې خاطر مې د خپل تېر شلکلن فرهنګي کار پر بیا سمون، اوډون او بیا چاپ لاس پورې کړ، پر ژوند ډېر بې باوره یم او ژوند پر ما ډېر ناباوره دی، نه غواړم زما پر کړي کار سبا ته نور څوک په تکلیف شي، څه چې مې کړي، ښه دي که نا ښه، پوره دي که نیمګړي، کره دي که ناکره؟ ښه ده چې خپله یې راټول کړم چې د ټولو پازوالي زما پر خپله غاړه شي.

راټلونکی نسل به ددې وخت ونه لري، چې زموږ په ماتو ګـوډو لیکنو پسې وګرځي، د هغوی لیکنې او پنځونې باید تر موږ اوچتې وي او که اوچتې نه وي دا نو ددې مانا ورکوي،چې ژوند او فکر ولاړ دی او پرمختګ نه کوي، خو دا زموږ د اوسني نسل وظیفه ده چې

خپل کارونه په خپله خلاص کړي او په هغه تسلسل کې خلل رانه ولي چې تېرو تر موږه رارسولی او زموږ دنده ده، چې تر بل پښت يې ورسوو، د بشري ژوند ارتقا د همدغه تسلسل ترکیب دی.

له ټولو قدرمنو لیکوالو دا هیله لرم، له یوه نسل څخه بــل تــه کلتوري خلا پرې نږدي او تر خپله وسه پورې د وخت له تخنیکي امکاناتو ګټه پورته کړي او خپله ځاني او ملي، ټوله کلتوري شتمني خوندي کړي.

د همدې هیلې د بري په ارمان

پوهندوی محمد اسمعیل یون

کابل- افغانستان

۱۳۸۷ل کال، د سلواغې ۷مه.

# سریزه

په وروستیو څلورو کلونو کې، چې کېدی شي د فرهنګي ازادۍ پیلامه یې وبولو، زموږ د هنري فرهنګ په تېره د شعر په ګلبڼ کې رنګارنګ ګلان وغوړېدل او د ادب او هنر د مینوالو زړونه یې بــاغ باغ کړل. رښتیا خبره داده، کله چې د هنر د ازادۍ وږمه په غرو، رغو، کلو او باڼدو وچلېږي د شعر بلبل یې د هر کلي لپاره ګلورینې ترانې وایي. د تعجب خبره نه ده حتی هغه شاعران چــې د کــوم طلسم تر اغېزې لاندې له ځانه پردي شوي وو، له مســخ شــوي حالت نه بېرته راوګرځېدل داسې ښکارېده چې هغوی خپله حافظه ترلاسه کړه، خپل کلی مالت او دوستان او دښمنان یې وپېژندل. زه په دې خبره بحث نه کوم چې د شعر ګلبوټي په هوســا او بســیا خاوره کې ښه وده کوي او که بحراني حالــت د شــاعر احســاس راوېښوي او طغیان ته یې لمسوي، خو ددې خبرې یادونه ضروري ګڼم چې شعر او د تخلیق ازادي د مجنون او لیلا په شان یو له بله جدایي نه شي زغملای، چېرې چې د تخلیق ازادي نه وه خــدای خبر چې څومره خبرې به د شاعرانو په مغزو کې په ابدي خــوب

ویدې شوې وي، ځومره د شعر چینې به وچې شوې وي، ځــومره استعدادونه به متېکور پاتې شوي وي او ځومره خبرې به په نه زړه ویل شوې وي، حتی هغه کسان چې له شاعر نه له پلان سره سم شعرونه غواړي د تخلیق له ازادۍ سره مخالفت نه کوي، خو هغوی د تخلیق ازادي داسې تعبیروي: مونږ شاعر ته ازادي ورکــوو چـــې زمونږ دښمنانو ته کنځلې وکړي. دا دی د تخلیق د ازادۍ اصلي او ژور مفهوم.

زه پوهېږم چې ځینې کسان به ددغو یادونو په لوستلو سره بې حوصلې شوې وي او وبه وایي چې دا خو زړې بابولالې دي، د هغو تکرارول څه ګټه لري؟ ښه، دا نصیحت به ومنو خو دا هم باید ووایو چې په تاریخ کې سپین فصل نه شته. زما ښه په یاد دي چې د داود په جمهوریت کې د تاریخ په درسي مفرداتو کې د ظاهرشاه دوره حذف شوې وه او له موجودیت نه یې انکار شوی و، خو مــا ورتــه وویل چې په تاریخ کې سپین فصل یوازې په اســطوره یــي دوره پورې اړه لري او بیا هغه خالیګاه ډکه شوه.

مونږ غواړو پر دغه ټکــي زور واچــوو چـــې فرهنــګ یــوازې د دموکراسۍ په فضا کې وده ورکولای شي، که ځوک غواړي چې په دې خاوره کې فرهنګ وغوړېږي نو باید د نوښت ازادۍ ته درناوی

وکړي، په تېرو څلورو کلونو کې سره له دې چې جګړې زموږ خاوره دخپلو بچیانو په وینو ولمبوله، ودانۍ یې په کنډوالو بدلې کړې، د کونډو، بورو او یتیمانو اسوېلو یې د فلک مانۍ توره کړه، باغونـه، ځنګلونه یې پو پناه کړل او مادي هستي یې تالا کړه، خو لـه دې ټولو سره سره د فرهنګ په برخه کې د یوې نسبي ازادۍ له برکته یو څه تنوع او ښکلا لیدله کېږي.

د دولس کلنې جګړې په وړاندې د شاعرانو انتطباعات او تاثرات یو شانته نه دي: څوک د اتلانو حماسې انځوروي، څوک د شهیدانو پر مقبرو اوښکې تویوي، څوک د سولې ارمانونه بیـانوي، څـوک وران کلی او زړې خاطرې راپه یادوي، څوک د نهیلـۍ او بېوسـۍ نغمې غږوي، څوک سباوون ته په تمه ناست دي او ځینې په تورتم کې د امید مشالونه ګوري.

د (متکور) په نامه د شعرونو دغـه مجموعـه چـې د ځـوان او حساس شاعر، اسمعیل یون د اندېښنو امېل دی، د پښتني غاړې لپاره په ډېر ظرافت جوړ شوی دی، دا مجموعه د پښتو په فرهنګي ګالرۍ کې یوه ښکلې تابلو ده، چې له خپل ولس سـره د اورنـۍ مینې په زمینه کې انځور شوې ده، دا مجموعه د صداقت او وجدان

غږ دی چې د یوه فرهنګیالي ځوان د احساساتو ترجماني کوي او څه چې وايي شاعرانه مګر رښتیا دي.

که څوک ددې مجموعې په لفظي اړخونو څېړنې کوي نو ښايي چې په لوی لاس به خپل ځان له هغه هنري اتذاذ څخه

بې برخې کړي چې د شعر په کلیت، انسجام، تصویر او رسالت کې پروت دی. د ځوان شاعر اسمعیل یون د شعر هره ټوټه یوه هنري تابلو ده چې په هغه کې ښکلا، تناسب او د خیال ظرافت ځان ښکاره کوي. اسمعیل یون د خپل وخت تصویر ایستلی دی او په دغه تصویر کې یې خپل موقعیت هم ښودلی دی.

هو، هغه متېکور شوی پاتې دی او ولې به متېکور نه پاتې کېږي. هغه شاعر دی، زموږ د وخت شاعر چې نه یې ((لېوني)) خوښېږي او نه له ((هوښیارانو)) سره په یوه لاره تللای شي. دده برخلیک دادی چې متېکور پاتې شي او زموږ اکثر شاعران همداسې دي. زموږ د وخت شاعر له معنوي ویاړ نه پرته بل هېڅ نه لري او نه یې لرلی شي: ((دواړه نه کېږي رحمانه یا به دین کړې یا دنیا.)) خو څوک چې معنوي ویاړ لري هغه په واقعیت کې هر څه لري:

**خرقه پوشو په خرقه کې دی موندلی**

**هغه حظ چې په دنیا کې دنیا دار کا**

د اسمعیل یون شعرونه تر زیاتې اندازې له خپل کلتــور ســره تړلي دي او له خاصو حالاتو نه یې رنګ اخیستی دی. دا تصادفي خبره نه ده چې د شاعر په تصویرونو کې د اور لمبې، د وینو څپې، د اوښکو سیند، قطار قطار جنازې، اغزنه خوني لار، دتېزابــو باران، اورنی اسمان او بالاخره سوی اسمعیل تر سترګو کېږي. شاعر هغه څه ته اریان پاتې دي چې نور خلک هم ورته اریــان دي: د وینــو سوداګري د معنویت سقوط، د عقیدې او اعتماد بحران، د شخصي ګټې په مقابل کې له ټولو اخلاقي نورمونو نه تېرېدل او داسې نور.

زه نه غواړم چې ددغې مجموعې په باره کې د خپل برداشــت ټول اړخونه بیان کړم او یا دده د اشعارو مضــمون تفســیر کــړم. پرېږدئ چې لوستونکي دده شعر ته له خپلو عینکو څخه وګوري، په دې مجموعه کې رمزي شعرونه هم شته، خو څوک چې له موږ سره اوسېږي هغوی په اسانۍ سره په دغو رمزونو پوهېدی شــي. اسمعیل ځوان دی او ځوانان خپل احساسات نېغ په نېغه بیانوي زه

**فکر کوم چې زمان به دغه د استعداد خاوند شاعر تــه لا زیــاتې هنري هستونې ورپه برخه کړي.**

**په درناوي**

**کاندید اکاډمیسین**

**محمد صدیق روهي**

**د خوشال د فرهنګي ټولنې رییس**

**۲/۱/۱۳۷۰**

# تقریض

هسې خو په ټولیزه توګه ژوند د خوږو ترخو، لـوړو ژورو، بریـو ناکامیو، امیدونو او نهیلیو نوم دی. خو د ژوند د ژورو تل ته رسېدل او د تیاره ګوټونو کشف د هر چا کار نه دی. د ژوند د رښتینې مانا پیدا کولو او پېژندلو لپاره بینا سترګو، حساس ذهن، له ولولو ډک زړه او بلیغې ژبې ته اړه وي او د همدغه ځیزونو څښتن ته شـاعر وایي.

هغوی چې د شعر او شاعر ارزښت او استادۍ ته نه دي ملتفت کله له شعر نه علم غواړي او کله فلسفه او سیاست. په داسې حال کې چې علم او سیاست د یو شمېر ټاکلو پرنسیپونو او فورمولونو دننه د نړۍ فورمولیکه شرحه ده او شعر د الهام پایله. خو له نېکه مرغه زموږ زلمی ویناوال اسمعیل یون د شعر ضرورت او رسالت په رښتینې مانا درک کړی او ان له تنکي زلمیتوب یې په پوره ځـان خبرۍ د شعریت په لار یون کړی دی، ښه ټینګ او پاخه ګامونه یې ایښي او امید دی چې د پښتو شعر د لا لوړو پوړیو په لور نور هـم ګړندي، ارزښتمن او اغېزمن ګامونه پورته کړي.

ځکه یون یو داسې شاعر دی چې د شعر پــه ټولــو بــاریکیو او نزاکتونو پوهېږي او زیار یې ایستلی دی، شعر ولیکي کلــه یــې د خپل مظلوم او محکوم ولس په مظلومیت او محکومیــت غــم او خواشیني څرگنده کړې ده، کله یې د خپل غیرتي او ننگیالي ولس په برياوو وياړلي دي، کله یې د ټولنیزو بدبختیو په وړاندې احتجاج او گوتڅنډنه کړې ده او کله یې له خپلې مجبورۍ او بېوسۍ ســر ټکولی، نو د کنایو، استعارو، تشبهاتو او الفاظو په شاعرانه کارونې سره یې شاعرانه وياړلي، گواښلي او ژړلي دي:

څومره مو مینه د احساس رگو کې ننوته
لکه منصور د دار ختلو سره مینه کوو

یا:

دود شـــو تکـــل د اســـوېلیو پـــه اور
ورتـــه پرهـــر زړه ارمـــاني وخنـــدل
نور د ســـبا د حســـن شـــونډې موښـــي
په توند(شمال) باندې ماضــي وخنــدل

یا دا چې:

چا د اور په سترګو کې لیدلې د اوبو مینه
عقل بې احساس دی په لمن کې د پردو رغړي

او د ډېرې خوښۍ ځای دی چې زموږ شاعر د منځپانګیز نوښت ترڅنګ جولیز نوښت ته هم متوجه دی د غزلو ترڅنګ یــې ازاد شعرونه هم لیکلي، ښایسته او خواږه وییونه یــې کــارولي، نــوي سمبولونه او ترکیبونه یې زېږولي، د مضمون رنګیني او تنوع ته یې تر خپل وسه پام ساتلی او ژبه یې کره او معیاري ده او د شعرونو دا جونګ یې د ډېرې ســتاینې او بیابیــا لوســتلو وړ دی. خــو پــه خواشینۍ زموږ ښه او قدرمن شاعر د خپلو ډېرو بریاوو او ښېګڼو ترڅنګه ځینې ښویېدنې هم لري، کله کله یې د ځینو ناپېژنــدلو سمبولونو په کارونې سره د شعر ځینې بیتونه ګــونګېږي او روڼ مفهوم نه شي ښندلی لکه:

څومره د مکر تخیل ته کښته شوی نرم؟
په نوم د میو راته مخکې ږدي پیالې د اوښکو

یا دا چې کله کله یې ډېر خاص او یوازې په همده پورې مربوط مسایل نظم کړي دي، چې نه یوازې عام نه دي، بلکې پــه خاصــو مواردو کې هم کوم شعري ارزښت نه شي درلودای او زه افسوس

کوم چې دربغه هغه يې په يو داسې خوندور جونګ کــې نــه وای راوړي لکه ((درې مياشتې مخکې)) او ((يادګارونه يادګارونه)). په هره توګه زه دغه جونګ يو ارزښتمن او ګټور اثر او د پښتو شعر په ځولۍ کې يې يوه رنګينه او په زړه پورې زياتونه ګڼم او يقين لــرم چې درانه لوستونکي به ددې شعرونو له لوستلو پوره خوند واخلي او خپله شعري تنده به پرې ماته کړي.

اوس همدومره

د ملګرتيا په خلوص او مينه

ممتاز ارمان

۱۰/۱/۱۳۶۹

# د متېکور په باب څو خبرې

اوس زموږ مخې ته یو داسې کتاب پروت دی چې په هغه کې د انساني احساس او تخیل یو عاطفي تړون پروت دی او هغه د ګران اسمعیل یون شعرونه دي.

شعر په خپل څو اړخیزتوب د یوې جالبې پدیدې شکل نیــولی دی او دا ځکه چې د انسان جوړښت، هیلې او احساســات چــې څومره بېلابېل دي، نو هماغومره یې د دغو احساساتو او هیلــو د بیان ډول بېل دی او ځکه موږ باید هر شعر یوه نوې زېږېدنه وبولو.

شعر د انسان د نه بیانېدونکو ژورو حسي-عاطفي حــالتونو د بیان سمبول دی. هغه څه چې په زړه کې ګرځي او ده تــه د یــوه موجود حقیقت په شان ښکاري، دی یې د شعر په وربښمین پوښ کې نغاړي او موږ ته یو ښکلی لذت بښونکی پیغام کېږي. شعر ځکه په خلکو ښه لګي چې شعر د احساساتو او مینې او معنوي غوښتنو د بڼ په ګلانو کې د ســحرنۍ پرخــې څــاڅکي دي، چــې ښــکلا

خوښوونکی ذوق ارضا کوي او د ماتو زړونو، ژوبلــو احساســاتو او لطیفو هیلو نه اورېدونکی اوغلی اواز دی چې یــوازې دحســاس انسان د زړه او مغزو په برجونو کې د مینې زلزله راولي.

هر شعر د شاعر د ځانګړي فکري حالت محصول دی. چې شاعر بیا طبعاً د ټولنې، چاپېریال او پېښو نه اغېزمن شوی دی او کــه د خپل رسالت سرته رسول غواړي، نو خپل احساس په رښتیني ډول وړاندې کوي.

د اسمعیل یون شعرونه ددې وروستیو کلونو شعرونه دي او حتماً په کې د همدې کلونو د پېښو او ټولنې انځور وینو هغه کلونه چې زموږ باتور ملت د اور او وینو په سمندر کې ولامبل، د ازمونونو په ازمون کې لا ژوندی دی او د خپل حیثیت او غــرور او ســتروالي ثبوت لپاره یې ویاړنې هستې کړي.

که په شعر یا لیکنه کې لیکوال په صداقت سره یو څه نــه وي ویلي، نو هېڅکله به همېشني نه شي او ځکه زما په نظر هغه څه چې د اسمعیل یون د شعر تر ټولو لوی بریالیتوب دی، هغه دده په بیان کې صداقت دی، هغه د پغمان د جنتي چینو په غاړه د افریقا

د سارا له ګرمۍ نه فریادونه نه کوي، خو د کب په شان چې د سرو تېلو په منځ کې وي ثنا هم نه وايي.

هغه، هغه څه وايي چې محسوسوي يـې، وينـي يـې او پـرې پوهېږي، هغه د اوسني بهير رښتينی حالت بيانوي او خپل عاطفي احساس ورسره په صادقانه ډول يوځای کوي، د بېلګې لپـاره (د خندا قتل) او ځينې نور شعرونه کتلای شئ.

بله مسئله چې د اسمعيل په شعرونو کې په څرګند ډول ليدل کېږي، هغه يو سپېڅلی بغاوت او خپلواکه سرغړونه ده، د اســتاد الفت د وينا له مخې شاعران په هګيو کې د مرغانو الوتنې او د لمر سپېدو په څېرې ګرېوان کې د لمر پلوشې ليدی شي او : ((شاعران له قيد و شرطه بې پروا وي)) نو ځکه مورږ د يون په شعر کې هــم دغه شان شعرونه لولو:

د عشق نظر نــه شــول لمبــه لېــوني
تورو تيــارو کــې شــول ډيــوه لېــوني
ميکدې خود د زهــد اور کــې نــاځي
پــه کــې دېــره نــه دي هغــه لېــوني

**د عشق په تور يې په دار مــه ځــړوئ**

**کلــه کــوي چاتــه ســجده لېــوني**

**زمــوږ پــه کــور بــه لمبـــې وي لا**

**ترڅـــو چـــې پــاتې وي دا دوه لېــوني.**

**(د جنگ باج) او ځینې نور شعرونه هم په دې باب د ځانګړي پام وړ دي.**

**اسمعیل یون په خپل شعر کې ډېر ژور حالتونه انځوروي او دا د پښتو د ولسي شعر هغه غوره عنعنه ده، چې نن ســبا د نړیــوال معاصر شعر یوه مهمه ځانګړنه هم ده او اوس په پښتو معاصر شعر کې هم پیل شوې ده. د ((درې میاشتې مخکې)) شعر د یوه عشقي حالت ډېر دقیق بیــان دی، همــدا راز د ((غــره اور اخیســتی)) ((مېړتونخور)) او ځینې نور شعرونه. د کاناډایي شعر پېژنــدونکي ایزابل مور په عقیده، تېرېدونکو او ځانګړو شکلاوو ته تم کېدل، د حالت انځورول او د نامحسوسو غوښتنو بیان د اوسني شعر یــوه خاصه عنعنه ده، د لاندې بیت په لومړۍ برخه کې یــو ځــانګړی حالت په ډېر ساده ډول بیان شوی دی:**

زما زړګی درزا کړي او دتا شونډې رپېږي
دي څومره خوندورې زما وستا پټې خبرې

مینه او الفت لکه څنګه چې د انسانیت د خلاصــون لاره ده، د شعر د ملکې د ظهورولو عامل هم دی شاعر او مین زیاتره وختونه په یوه مانا کارول کېږي. انساني مینه ((د انساني توکم بقا او دوام)) دی او د انساني مینې په خم کې رنګ شوي شعرونه همېشني او تلپاتې شعرونه دي. د اسمعیل یون په شعر کې د انساني مینې او عاطفې نوښــتیز بیانونــه د ((یادګارونــه یادګارونــه))، ((ســوي اسوېلي))، ((کلیزه))، ((دعقل احساس))، ((د حســن لومــه)) او ((پخه سکروټه)) تر سرلیکونو لاندې لولو. له ((سوي اســوېلي)) څخه دا څو بیتونه:

د سترګو په خوږو کــې ډوبېــدم نــه پوهېــدم
د مینې پــه لمبــو کــې تاوېــدم نــه پوهېــدم
احساس مې عقل پرېښوده پــه لاره د جنــون
منصور ومه په دار کــې ځړېــدم نــه پوهېــدم
موسکی شه لا هم نوره زما ســوو اســوېلو تــه
ساده وم چــې پــه تــا مینېــدم نــه پوهېــدم.

د اسمعیل شعر که د مینې اوښکلا پالنې هــر څــومره ښــکلي بیانونه دي خو ورسره د هېواد او ملت له ژورې مانا نه هم ډک دي، زیاتره غزلونو کې د ښکلا او مینې تر رنګینو پوښونو لاندې د هېواد پالنې، انسان دوستۍ، سپېڅلي بغاوت، حق خوښوونې او خپلواکۍ ترانې پرتې دي. دا د پښتو د اوسني غزل یو مثبت بری دی چې د ښکلا او مینې تر پوښ لاندې د ژوند د ارزښتمنو مسایلو خواتــه عامه ذهنیت اړوي په لاندې بېلګه کې په ډېر خوندور ډول همدغه شان بیان شته:

چـــامو دمینـــــې د جانـــــان زلفـــــو تــــه اور ونیـــــوه
چې شنه دودونــه یــې زمــوږه پــه شــعرو کــې ځلــي
زما د عشق ستونی دې لوند نه کړ پرې یــو ځلــې هــم
څـــه کـــه د میـــو اباســـین دې اننګـــو کـــې ځلـــي

اسمعیل یون یو مسول شاعر دی او تل په خپل شعر کې د هېواد د تاریخي جریانونو په پام کې نیولو سره د خلکو، ټولنې او هېواد پر وړاندې خپل مسئولیت نه هېروي. هغه له خپلې مینې نه غواړي چې ((نور یې د سترګو په جادو کې بند نه کړي او پرې یې ږدي چې د منصوري وطن د غم او اور د توپانو سترې کاروان او د وطن د بچو

د ویرونو فریاد او د ځوانانو او زلمو قطار،قطار جنازې ووینــــي)) او همدغه حالاتو هغه مجبور کړی چې له خپل شعر نه د همدردۍ یوه ډالۍ جوړه کړي او ((په داسې حال کې چې نور د باران نه لاندې د میو په سیند کې له جانان سره غوټې وهي او خاندي او د ګلونو په بستر کې یې په نرمو شونډو، شونډې ایښې وي، خو دی (یون) د دردمن او د احساس په اور کې د کړېدلي انسان په توګه خپله ډالۍ داسې وړاندې کوي:

د شعر د بزم د مسرو ګلونه
د خپلو اوښکو په تار پېیم ترې امېل جوړوم
ډالۍ کوم یې ورته
یوه د درد او د شعرونو ډالۍ
د زړه د سوز او پرهرونو ډالۍ))
او د شاعر ډالۍ باید همدغسې وي.

د اسمعیل یون شعر د شکل له مخې ډېر ښکلی او په زړه پورې دی. غزل یې د یوې ځانګړې ښکلا خوښوونې او لوړ ذوق، اوچتې قریحې، استعداد او مینې ځرګندوی دی او له ښــکلو ترکیبونــو، انځورونو، تشبیهاتو، استعارو نه ډک دی.

ازاد شعر يې هم خوندور او زړه راښکوونکی دی او له انســاني عاطفې او غني انځورونو نه ډک دی.

یوه بله خبره هم د یادولو وړ ده، هغه دا چې کله موږ یو شعر لولو نو په دې هم باید پوه شو چې ایا شاعر خپل دننني احساس بیان کړی دی او که هسې د ورځې د مود مسایلو ته اړم شــوی دی؟ د اسمعیل یون د شعر په څو کوچنیو بېلګو کې موږ ولیدل چــې د هغه بیان مسولانه، زړور او صریح دی او هېڅ ډول تکلف او تصنع په کې نه شته، نو باید وپوهېږو چې ایا هغه په خپله هم دغه شان دی او که نه؟ زه چې د دوه کلونو راپه دېخوا له هغه ســره ډېــرې نږدې اړیکي لرم، نو هغه مې په عملي ژوند کې هم یو صادق او زړور انسان موندلی دی، هغه چې هر څه وایي دده له ژورې مینې او ډېر پاک احساس نه راټوکېدلي وي. هغه له شعر سره مینه لري، هوس يې نه کوي ځکه ده ته شعر په خپله یو هدف دی، داسې هــدف چې هغه پرې د خپل زړه پرهرونه ټکوروي او د غمونو پېټی پــرې سپکوي او نورو دردمندانو ته يې هم وړاندې کوي. روانو بدمرغــه پېښو هغه ته درانه عاطفي زیانونه رسولي دي، چې ددغو زیانونو اغېزې دده شعر ته یو ځانګړی سوز او ساز ورکړی دی او علت يې کولی شو د ((افسوس چې قبر دې معلوم وای...)) په شان شعرونو

کې ومومو. خو له دې سره سره د هغه بل هدف د هېواد د لوړتیا په لار کې خدمت کول دي، ددې لوړ هدف لپاره کلــه د شــعر نــه د وسیلې په توګه هم کار اخلي او په دې خاطر خو په مجموعي ډول د هغه شعر مقاوم او ثابت شعر دی چې د سوو فریادونو په لوګیــو کې يې هم د خندا ګلونه ټوکېږي او د موسکا غوټۍ خولې سپړي. هغه که د ژوند د ازمون د اور په سره بټۍ کې د جوارو د دانې پــه شان په اور اوښتی را اوښتی او متکور پاتی شوی دی، نو د احساس او عاطفې په بڼ کې د مینې د نسیم وږمو د یوه ښکلي ګل په شان غوړولی دی، چې د شعرونو نغمې يې زموږ د زړونو تارونه خوځوي او ځانګړی خوځند عاشقانه حالت رابښي.

زه دده د شعر په باب نور څه نه وایم، ځکه د یوه هنــري اثــر د ډېرې ښې پېژندنې لپاره په خپله د هماغه اثر لوستل تر ټولو اسانه لاره ده، خو خپلې خبرې په دې ډول رالنډوم: سره لــه دې چــې اسمعیل به لا تراوسه د ځانګړي سبک خاوند نه وي او کېدی شي په ځینو مواردو کې د سایل او سلیم تر اغېزې لاندې راغلی وي، خو په شعر کې يې نوښتګر خوځون، د ســپېڅلي احســاس زړور بیان، د ځانګړي ښکلاییز ذوق شته والی ، مسولیت ته ځیرتیا او له شعر سره د زړه له کومي مینه او اړیکي او تړون موږ ته دا هیله پیدا

کوي، چې ډېر ژر به د هغه شعر نور هم پرمخ لاړ شي او د ځانگړي سبک خاوند به شي. په دې هيله چې دده شاعرانه احساس تر پايه دې ته ځير وي چې وايي:

**گوره احساسه هغه کور کلی يوازې نه کړې!**
**چې گرېوانو کې يې ټول عمر گرځېدلې اوښکې**

ده ته د شعر په لار کې له مينې ډک، بريالی او پرمخ تلونکی يون غواړو.

**په مينه او درناوي**

**ابراهيم شينواری**

**۱۲/۱/۱۳۷۰**

# لېوني

د عشـــق نظــر نــه شــول لمبــه لېــوني
تــورو تيــارو كــې شــول ډېــوه لېــوني

ميكــدې خــود د زهــد اور كــې نــاڅي
پــه كــې دېــره نــه دي هغــه لېــوني

دا چې بــې درېغــه پــرې قــدم ږدي اشــنا!
كلــي كــې نــه شــته دي ســوچه لېــوني

د عشق پــه تــور يــې پــه دار مــه ځــړوئ
كلـــه كـــوي چاتـــه ســـجده لېـــوني

زمــوږ پــه كــور بــه لمبــې بلــې وي لا
تــر څــو چــې پــاتې وي دا (دوه) لېــوني.

۲۶/۵/۱۳۶۷

# کلیزه

شعره! ګلونه شه غوټۍ شه پاڼې پاڼې شه
د میو پاڼې
لاړ شه! زما د یار په نرمو او خوږو زلفو کې
وځلېږه
وخنده
او زما د زړګي
د خوږې مینې د اسرو او امیدو له تله
ورته په مینه مینه
مبارکي ووایه
نن یې کلیزه ده
د ژوند کلیزه
یوه د حسن او ښکلا کلیزه
د اسمعیل د محبوبا کلیزه.
مرکزي لیلیه

# زمانه

چــــا زمانــــه څــــوک زمــــانې وخــــوړل
چــــا میخانــــه څــــوک میخــــانې وخــــوړل

زمــــا د عشــــق تنکــــي تنکــــي ګلونــــه
د تــــا د ســــترګو پیمــــانې وخــــوړل

د اســــمعیل ســــپېره مېــــره ملګــــري
مــــنم چــــې خپلــــې یــــارانې وخــــوړل.

۱۳۶۷ال کال

# اوښکه او خندا

ز‌ه اوښکه اوښکه شم پر مخ راشمه

ته ټول هوس شې او بیا وموسېږې

زه اسوېلی شمه د سوو هیلو

ته په نځا شې او کړس کړس وخاندې

نو زما و ستا یارانه نه شي سره

ځکه چې اوښکې خندا نه جوړېږي.

۱۹/۱۱/۱۳۶۵

# د عقل احساس

ستا د غمبورو د ښکلا سُرخي چــې ځـل ووهــي
زما زړگــی ورتــه لــه تنــدې ځنــې جـل ووهــي

د شونډو جام نه دې خوارې پــه نــورو مــه دوړوه
د مینې تاو مې درنه خدای مه کړه اجـل ووهــي

د زړه پر تل مې پرهرونه سره او شنه غوندې شي
کله چې ټال دې ســره گلونــه پــه وربـل ووهــي

زما د عقــل احســاس دود شــولو د مکــر پــه اور
څنگه بــه حســنه امیدونــه ســتا منــزل ووهــي

لږ دې گوړین نظر پــه ســترگو کــې تســل نځــوه
چې مې زړگی د مینې سختې پــه تکـل ووهــي.

۱۱/۲/۱۳۶۶

# نازک خیال ته!

ته لا تراوسه پورې

د عشق په اور کې

د سکروټو په سر

تناکې شوی نه یې

ته لا تراوسه پورې

د اسوېلیو او آهونو په اور

لکه نینه داسې اوښتی نه یې

ته لا تراوسه پورې

د غم تنور کې

اور لړونې غوندې

لوغړن شوی نه یې

نو نازک خیاله!

د خوښیو خیاله!

د هوسونو خوشالیو خیاله!

لاړ شه د عشق د اور په ګرمو لمبو

**خپله سینه وموښه**

**او د احساس په سیند کې ولمبېږه**

**بیا نو راځه!**

**موږه د اور بځرو**

**تر کاڼو کلکو سره**

**د عشق او پاکې مینې**

**په نوم سنگر ونیسه**

**او د اسمان کاڼو ته سر ونیسه!**

١٤/٨/١٣٦٦

# د حیا په لاس

عشـــقه لېـــونی شـــومه دتـــا پـــه لاس
زړه دې زمـــا ورکـــړ د بـــل چـــا پـــه لاس

هجـــــر د زړګـــــي تـــــل راتـــــه وســـــېزه
خـــدای خـــو دې نـــور واخلـــي د بـلا پـــه لاس

رســـــي د امیـــــد کـــــار و ان منـــــزل پـــــورې
تـــم کـــه چېـــرې نـــه شـــي د جفـــا پـــه لاس

خلکـــو یارانـــه کـــې رنګینـــۍ وکـــړې
زه هســـې ګیـــر شـــوی د حیـــا پـــه لاس

ځنګــه بــه تنــدی پــه ځمکــه نــه وهــم
ویـــنم جـــام د میـــو د مـــلا پـــه لاس

بختـــه! ګـــدایي بانـــدې دې مـــه ژاړه
ډېـــرې ښـــکلې لـــوېږي د ګـــدا پـــه لاس.

۱۵/۵/۱۳۶۵

# ډالۍ

نن د دیدن په ورځې

د اور او وینو تر شېبو نه وروسته

څوک د عطرونو تر باران نه لاندې

د میو سیند کې له جانان سره غوټې وهي او خاندي خاندي

څوک د هوس په میو

د مرغلرو د خوندو له پاسه

رغړي را رغړي مینه مینه وايي

چا د ګلونو په بستر کې

شونډې ایښې دي په نرمو شونډو

او د عشقونو د خوندو جامونه

بې دریغه دریغه په سرو اړوي

خو زه له درد نه رغېدلی انسان

د اور په څنو زنګېدلی انسان

د احساس اور کې کړېدلی انسان

نن د سرو اوښکو او د وینو د موسم له بنه

خپلې خوږې مینې ته

شاعرانه او ښکلو سترګو ته یې

پستو پستو خماري زلفو ته یې

د شعر د بزم د مسرو ګلونه

د خپلو اوښکو په تار پېیم

ترې امېل جوړوم

ډالۍ کوم یې ورته

یوه د درد او د شعرونو ډالۍ

د زړه د سوز او پرهرونو ډالۍ.

۱۳۶۷ل کال ۵مه میاشت

د لوی اختر دویمه ورځ

# ژوندی حسن

موږ ملامت یو چې له ښکلو سـره مینــه کــوو
د زړه پــه وینــه نــازولو ســره مینــه کــوو

چا ده لیدلې د اورونــو ســمندر کــې غــوټې؟
موږ لېوني یو چې لــه ګلــو ســره مینــه کــوو

نــور یــې نظــر د اننګــو پــه میــو ولمبــوي
موږ یې د تشې خولې خندلو سره مینــه کــوو

**خلک لمبه شي د ژوندي حسن له مينې څخه**
**مورِ ساده زړي خو له تللــو ســره مينــه کــوو**

**څومره مو مينه د احســاس رګــو کــې ننوتــه**
**لکــه منصــور د دار ختلــو ســره مينــه کــوو**

**اړوه جام دې د خوږو سترګو په سترګو کې مو**
**موږه اورونه لــه اورځښــلو ســره مينــه کــوو.**

**۵/۷/۱۳۶۷**

**مرکزي ليليه**

# غره اور اخیستی...

نن د ښکلا د غرو د ښکلو شنو ناوونو په تل

هلته چې سپینې غیرتي اوبه به تل بهېدې

د عشق د زانو د بچیو وینې دارې وهي

رود سوربخن غوندې دی

او شاوخوا تیرې یې هم په وینو ولمبېدې

اور ورته ناڅي له خندا نه شین دی

ان هلته لرې یې په تالو او ډاګونو کې هم

له ډېره تاوه د سیسیو بچي وسوزول

ځکه چې لرې لږ څه وړاندې هلته

پر هغې تورې غټې تیرې باندې

یو ښکاري (باز) ناست دی

پنجې یې سرې دي د سیسیو د زړګو په وینو

او خپل وزرونه په غرور ټپوي

(شاهین) هم پاس د اسمانو له څوکو

د ښکار نظر تړلی

څو چې د زرکو سینې وڅیري په خپلو پنجو

خو لاندې ګوري چې غره اور اخیستی

له ګڼ ځنګله څخه لوخړې خېږي

او د مرغانو بچي سېزي په کې

څوک یې لمبې نه ویني

څوک یې اواز ناوري.

۱۳۶۶ل کال د سلواغې میاشت

# زولانه غمونه

غمونـــه مـــې تړلـــو پـــه غمـــو کـــې زولانـــه
لمبـــې مـــې بلـــولې د خـــرد پـــه ګرېوانـــه

غیرت به مې اغیارو تـــه ښـــودلی د پښـــتو وای
په مخ کې که مې خنډ نه وای (بې ننګه) پښتانه.

۲۶/۵/۱۳۶۶

خوشال خان لېسه

# د ښکلو باران

دلته د ښکلو باران

په لپو لپو ډکو ډکو کاسو

د خماري ورېځو له شونډو څخه

اوري را اوري نازولو باندې

خو پر دې وریت اسمعیل

په دې ستي او کړېدلي باندې

د غم په څنو زنګېدلي باندې

یو څاڅکی هم نه اوري

یو څاڅکی هم...

د ۱۳۶۷ل کال د غويي میاشت

# ازمون

عقل مې د عشق په تکل اور کــې پــه لمبــو رغــړي
مینه مې خوړلن کې پــه انګــار او پــه ایــرو رغــړي

(نن) راته په ســترګو کــې لمبــه د قهــر تــاوه کــړه
هیله مې له دې هــم د ســکروټو پــه ســرو رغــړي

څومره د امید په مینــه نــازي مــې ګوګــل کــې زړه
عشق باندې په مالګو کې پــه خپلــو پرهــرو رغــړي

**چـا د اور پــه ســترګو کــې لیــدلې د اوبــو مینــه؟**
**عقل بې احساس دی په لمــن کــې د پــردو رغــړي**

**بیــا نــازکو نرمــو لــه ازمــون نــه پښــې وکښــلې**
**مــوږه متکــورو ســره چېرتــه پــه اغــزو رغــړي**

**ښکل به مې امید کړي د سره حسن اننګي په عشق**
**ځکه چې نن وخت ورته په پښو کې په توبو رغــړي.**

**۱۵/۱۲/۱۳۶۵**

# پرهري امید

د دوزخي شونډو له خوند نه چې خــواږه وروې
پــه پرهرونــو مــې دمــالګو کــاڼي تــه وروې

څنګه به عقل د جنون په اور کــې ونــه رغــړي
داسې خوندونه د وختونــو خــو پــرې نــه وروې

دود شو زړګی مې ستا د حسن د ښکلا په نظــر
د مکــر دام دې لــه خــوږو ځنــې ترخــه وروې

ستا د شاعر د قلم تــاو بــه عقــل لولپــه کــړي
د سترګو اور چې ورتــه تــل پــه ګرېوانــه وروې

خود به لمبه شي ستا نظــر نــه متکــوره نینــې
د اورنیو شونډو تاو نــه چــې پــرې ســره وروې

۱۳۶۷ل کال، چنګاښ

# متکور

زه د ارمان لپاره

لکه د جوارو دانه

د اور بټۍ کې

د ازمون په ګوتو

په مینه مینه

په اور واوښتم راواوښتلم

خود لمبو له تاوه

سپینه پولۍ نه شولم

او د خوږې مینې

د عشق له زوره

د اور لمبو کې

متکور پاتې شوم.

۳/۱۱/۱۳۶۵

# د ماضي عشق

اشنا دا ستا د ماضــي عشــق لــه زوره
زه لــــه خونــــدو د ننــــي ووتــــم

عشــقه دا ســتا د رنګينــو جهــان تــه
خــــالي راغلــــی وم خــــالي ووتــــم.

۲۱/۴/۱۳۶۷

# پټې خبرې

تر څو به مو په منځ کې وي اشـــنا پټـــې خبـــرې
د مینـــــې د رازونـــــو او حیـــا پټـــــې خبــــرې

زمـــا زړګــــی درزا کـــړي او دتـــا شـــونډې رپېـــږي
دي څومره خونـــدورې زمـــا و ســـتا پټـــې خبـــرې

سوزېږو بـــه پـــرې زه او تـــه اشـــنا او زمـــوږ مینـــه
زما او ستا په باب کړي نـــور همـــدا پټـــې خبـــرې

دنیا رقیب رقیب شوه او وختونه غمـــازان شـــول
مجبوره یـــو چـــې وکـــړو یـــاره بیـــا پټـــې خبـــرې

چا ویل درته چې وایه اســـمعیل تـــه پـــټ رازونـــه
اخر یې درتـــه تـــولې کـــړې رســـوا پټـــې خبـــرې.

۴/۱۰/۱۳۶۷

# د اور تاو

د زړه تــوتې مـــې پـــه انګـــار ونیســـئ
ژوند ته مې غم عشـق تــه مــې دار ونیسـئ

اخلــم لـــذت د خـــوږې مینـــې ترېنـــه
مـــا د غـــم زور تـــه پـــه وار وار ونیســـئ

پـــام چـــې رقیبـــو لـــه څـــه ونـــه وایـــئ
زمـــا پـــه قتـــل بانـــدې یـــار ونیســـئ

خلکـــو راځـــئ د خـــوږې مینـــې پـــه نـــوم!
د اور پـــه تـــاو مـــا ګناهکـــار ونیســـئ

د اســـمعیل خـــړو ســـپېرو ملګـــرو
ســـورکۍ ډېـــوه مـــې پـــه مـــزار ونیســـئ.

۱۹/۷/۱۳۶۷

مرکزي لیله

# د حسن لومه

عقــــل کـــې ســــتا شــــیرین نظــــر ونښــــېد
ځکــه جنــون شــو ســر پــه ســر ونښــېد

د حســــن لومــــه دې پــــه نــــاز غــــوړوه
چــې پــه ســینه کــې مــې ځیګــر ونښــېد

وینــــې د مینــــې د ازمــــون وختونــــه؟
ســر مــې د مــرګ پــه تــود ډګــر ونښــېد

ســـــتا د خـــــوارېه نظـــــر پـــــه تونـــــد کتلـــــو
د زړه پـــــه تـــــل کـــــې مـــــې پرهـــــر ونخښـــــد

لمبـــــه د ګرمـــــو شـــــونډو مـــــه بلـــــوه
تنهـــــاکې زړه مـــــې پـــــه نشـــــتر ونخښـــــد

ځـــــومره دې حســـــن کـــــې غـــــرور تـــــاو شـــــوی
شـــــوخو کتلـــــو تـــــه دې لمـــــر ونخښـــــد.

۶/۱۱/۱۳۶۵

رحمان بابا لیسه

# پخه سکروټه

عشــقه جنــون ومــه څــه نــور خــو نــه وم
یــو اســوېلی ومــه څــه اور خــو نــه وم

ســتا نــاکردې دې څــه ویلــی نــه شــم
د ټنګــه ســرو د پېغــور خــو نــه وم

چــا درتــه ویــل چــې پــل پــر زړه ږده زمــا
پخــه ســکروټه وم لا ســکور خــو نــه وم

څنګــه دې وریــت کــړم اننګیــو کــې ژر
لکه اوربــل پــرې بانــدې خــور خــو نــه وم

دا خــو د تــا د حســن اور ســوی یــم
کــه نــه لــه ســره دومــره تــور خــو نــه وم.

۱۵/۵/۱۳۶۶

خوشال خان لېسه

# سوی اسوېلی

د سترګو په خــوړو کــې ډوبېــدم نــه پوهېــدم
د مینــې پــه لمبــو کــې تاوېــدم نــه پوهېــدم

احساس مې عقل پرېښــوده پــه لاره د جنــون
منصور ومــه پــه دار کــه ځړېــدم نــه پوهېــدم

دا ستا د مینې زور و که د عشق د خــوړو تــاو؟
په نره چــې پــه اور کــې نڅېــدم نــه پوهېــدم

**حیرت کې شو غیرت زمـا د مینــې پـه ازمــون**

**سورګل غوندې بې وختـــه رژېــدم نــه پوهېــدم**

**موسکۍ شه لا هم نوره زما ســویو اســوېلو تــه**

**ســاده وم چــې پــه تــا مینېــدم نــه پوهېــدم.**

**۳۱/۳/۱۳۶۶**

**لغمان**

د خپل پلار د شهادت د تلین په درنښت.

## افسوس چې قبر دې معلوم وای!

ما به د ګرم احساس وینو باندې
د عشق د پانړو د خندا په څپو
ستا د تناک امید پولۍ لیکلې
او د تیزابو د اورونو په سیند
به لمبېدلم ستا د عشق د تکلونو په زور
هر مازیګر به مې دپېغلو د وربل ګلونه
د خپلو سپینو توپانې اوښکو له سپینو امېلونو سره
د اور په رنګ باندې لیکلو سرو شعرونو سره
تا پر مزار شیندلو پانړې پانړې
افسوس چې قبر دی معلوم وای
افسوس چې قبر... .

۱۳۶۶ل کال

# د ماضي خندا

د آه پــه تــاو عشــق لېــوني وخنــدل
شونډو د ګل کــې چــې اغــزي وخنــدل

عقــل بــه ونــاځي احســاس تــه خجــل
حسن د غــم کــې کــه زړګــي وخنــدل

دود شــــو تکـــل د اســــوېليو پـــه اور
ورتـــه پرهـــر زړه ارمـــاني وخنـــدل

د ګـــل خنـــدا يـــې پـــه لمبـــو ونيـــوه
ســـيلۍ پـــه مينـــه د ســـپرلي وخنـــدل

نـــور د ســـبا د حســـن شـــونډې موښـــي
پر توند(شمال) باندې ماضـــي وخنـــدل.

۲۰/۶/۱۳۶۶

خوشال لېسه

# خوږلنې سترګې

مینـــه کـــې د وخـــت د انګـــار ســـره موښـــم
اور مـــــې د ګوګـــــل پـــــه درانـــــه موښـــــم

پرېـــــږده چـــــې څپـــــه د ازمـــــون واړوم
ســـوزندو ســـکروټو کـــې مـــې زړه موښـــم

بلـــــه دې لمبـــــه کـــــړه د مغـــــرور نظـــــر
چا ویل چې زړګی مـې پـه کـې نـه موښـم

تــه ولــې د عشــق لــه زوره ځنــګ کــوې؟
اور کـــې خـــو د مينـــې ځيګـــر زه موښـــم

ستا خوږلنو ســترګو کــې اشــنا پــه عشــق
زړه مـــې لکـــه وږه پـــه تنـــاره موښـــم

نــور دې بــه خــوږو کــې احســاس ولــړي
زه خــو مــې شــعرونو کــې ترخــه موښــم

بــوی بــه کړمــه يــاره ســتا د حســن ګــل
نــن چــې يــې اغــزي پــه ګريوانــه موښــم.

۱۸/۱۱/۱۳۶۵

# ژړغونی آه

د ژړغـــوني آه پــر شـــوندو تلوســـې وځلـــي
د عشق په عقل کې چې مینــې تــه اســرې وځلــي

واوري تکـــل د اور تـــر پولـــو پـــه تنـــاکو پښـــو
د مســـــتقبل پـــر اننګـــو چـــې ارادې وځلـــي

شعره! د اوښکو حسن ښکل کړه په چاودلو شـونډو
چې د وير بحر کې دې عشــق څپــې څپــې وځلــي

**لامبي څپه چې ستا د خوند زما د اوښکو په ســیند**
**د پرهــري امیــد پــه ســترګو مــې ګیلــې وځلــي**

**داسې مې ښکاري د سورکي زړګي پــولۍ لــه لــرې**
**لکــه د یــار پــه اننګــو کــې چــې خــولې وځلــي**

**واړوه عشــقه! د تنکــي ارمــان غــوټۍ مــې پــه اور**
**اخر به ستا د هوس سیند کــې هــم لمبــې وځلــي.**

**۱۲/۱۰/۱۳۶۶**

# تر کانو لاندې

زړه نــــه لمبـــې چـــې د خنـــدا وتلــــي
ورتـــه لـــه خـــولې نـــه مـــې د تـــا وتلــــي

دا چې هغوی پـه زغـرده خانـدي پـر مـورې
څـــه شــــی دې زړه نـــه ورتـــه بیـــا وتلــــي

تـــول قوتونـــــه د پردیـــــو دلتـــــــه
ښـــکاره راغلـــي دي پـــه غـــلا وتلــــي

دا اســـمعیل تــر کـــانو لانـــدې کـــړئ ښـــه
بیـــا یـــې لـــه خـــولې څنـــې رښـــتیا وتلــــي.

۱۳۶۷ل کال

# درې میاشتې مخکې

درې میاشتې مخکې
زه او یار مې سره
سترګې پر سترګو شولو
ما د هغې سترګو کې
هغې زما سترګو کې
د یوه ژوند د امیدونو کیسه وکرله
سره موسکي شولو او ومو خندل
بیا د هغې سترګو کې
زما د هیلو امیدونو انځور وګرځېده
او بیا زما سترګو کې
ددې د سترګو تصویر پاتې شو
تراوسه پورې.

# هغه چاته چې سترګې يې زما

# سترګو ته خواږه راکوي

نور دې د سترګو په خوږو کې سترګې نه موښمه

نور دې د ګرمو اننګو په ګرمو ميو نظر نه ډوبوم

نور دې د نرمو ښکلو شونډو د خوندونو سيند کې نه لامبمه

رانه هېرېږې

رانه هېرېږي د ستي هيلو ساړه اسوېلي

د غيرتي اوښکو مست رود، د وينو مستې څپې

د منصوري وطن د وينو ليکې

**د غم او اور د توپانونو ستړی شوی کاروان**

**نو راته مه ګوره خوږې خوږې په ښکلو سترګو**

**او پر احساس مې د سرو شونډو د خوندونو خواږه مه اوروه**

**چې رانه هېر نه شي**

**ددې وطن د هر بچوني د ویرونو فریاد**

**د وینو رود د اوښکو سیند**

**او د ځوانانو او زلمو کتار کتار جنازې**

**کتار کتار...**

**۱/۴/۱۳۶۷**

# د وینو رود نیل

احساس پر عقل بلـې کـړې لمبــې پــه لپــو لپــو
جنونــه پــه ســر واړوه نشــې پــه لپــو لپــو

د شونډو تبســم دې رانــه ګــرد د غــم ونــه لیــد
د زړه وینې که غــړپ کــړې زمــانې پــه لپــو لپــو

موسکۍ شه د سورکې پرهر د وینــو رود نیــل تــه
حســینې ډکــوه ترینــه پیــالې پــه لپــو لپــو

**لذت کې د خندا دې چې لاهو شي خونـد د نـورو**
**په سترګو کې مې تاوې شـي ګيلـې پـه لپـو لپـو**

**اغـــزو د ګـــل د پـــاڼو تبســـم دی پـــه اور ســـوی**
**پـــه زلفـــو چـــې دې تـــومبم ترانـــې پـــه لپـــو لپـــو**

**هوس دې د ښایست بیا د جنون په سیند کې لاهبي**
**د عشق په زړه مې موښي چې ایرې پـه لپـو لپـو.**

**۲۱/۶/۱۳۶۶**

# د وير سکروټې

عشـــقه زورور يـــې خـــو تـــوبې مـــه مـــاتوه
شـــونډو د اشـــنا تـــه اوســـېلې مـــه مـــاتوه

پـــروت پـــه کـــې لـــذت دی د زمـــان د لېونـــو
پـام کـــوه ســـاقي ډکـــې پيـــالې مـــه مـــاتوه

ځو اشنا پـه عشـق کـې پـر اغزنـه خـوني لار
غـبـــرګې د وصـــال تـــه ارادې مـــه مـــاتوه

وکـــړه پـــه مغـــرور نظـــر خـــواږه کاتـــه
تاتـــه مـــې اســـرې دي دا اســـرې مـــه مـــاتوه

موښـم نن پـه شـونډو سـتا سـره ښـکلي اننګـــي
کــړې دې وعــدې وې اوس وعــدې مــه مــاتوه

خير که زه دې وريت کړم په سکروټو کې د ويـــر
ځانګـــه د اميـــد مـــې زمـــانې مـــه مـــاتوه

راز د محبـــت پـــه کـــې نغښـــتی دی د يـــار
ســـويه اســـمعيله زولنـــې مـــه مـــاتوه.

۱۳/۱۱/۱۳۶۵

# د اوښکو جنازې

پر سـوي مـخ مـې دي روانــې سلســلې د اوښــکو
راتــه خنــدېږه او کــوه مــې تماشــې د اوښــکو

چا مې پر شـونډو د خنـدا د څپـې ځـل ونـه ليـد
عشـقه! ګـرم نـه يمـه راغلـي مرحلـې د اوښـکو

د کوم احساس له خولې نه وځـي د زګېرويـو کتـار
چې د شعر سترګو نه مې خوشې دي ويالې د اوښکو

دا بـه تصـوير د چـا د ويـر وي انځـور کـړی قلـم
ځکـه يـې نـوکې نـه تـوييږي ترانــې د اوښــکو

څـــومره د مکـــر تخيـــل تـــه کښـــته شـــوي نـــرم!
په نوم د ميو راتــه مــخ کــې ږدي پيــالې د اوښـــکو

څنګه بــه ګــاتي متېکــور نــه شــي د ســترګو زمــا
چې شپه او ورځ ترېنه تاوېږي سرې لمبې د اوښـــکو

شي به کړې د يار مغرورې ســترګې عقلــه کــه نــه؟
چې ورته يوسم ستړې شــوې انديښــنې د اوښـــکو

ستا د لذت نــاظر دې ســبزي د عشــق هيلــه زمــا
اخر بــه وړم د خنــدا کــټ کــې جنــازې د اوښـــکو.

۲/۲/۱۳۶۶

# له جېل نه... ګیله

(( ته په وړوکي جېل کې

مورې دلته لوی زندان کې))

د یوې مینې د ارمان په هیله وسوزېدو

ته خو لا ښه وې

د خورې مینې د پانو شنه دودونه دې ونه لیدلو

مورې ورته ښه کتلې

**چې مو د مینې سره ګلونه د یارانو د لمبو**

**د سمندر څپو کې وسوزېدل**

**ژبه مو ګونګه وه تړلې وه د اور د دار په**

**مستو لیکو**

**چغې مو نه شوې وهی**

**ښه مو لیدله خپله مینه د انګار د سمندر ګوتو کې**

**پاڼې یې ورژېدې**

**خندا یې وچه شوله**

**او لیلایي حسن یې مړاوی شو د درد په چړو**

**خو مینه مړه نه ده لا**

**پام چې نهیلی نه شې**

**اوس نو زموږه مینه**

**زما او تا غوندې یو څو لېوني**

په مینه مست ځیرې ګرېوان

او سرببري غواړي

چې ورته وناڅي لمبه شي

او د خپلو زړګو د وینو مستې فوارې

ورته امېل امېل کړي

بیا به زموږه مینه

له خندا شنه شي

او ګلونه به یې بیا زلفو کې وټوکېږي

او بیا به موږ لېوني

هم ورته هلته له خندا نه شنه شو.

۱۲/۲/۱۳۶۸

# د لمبو څاڅکي

د نن په ائینه کې چې موسکی راته پرون دی
اشنا دادې ادا ده که جادو او که جنون دی؟

د کوم یو ګل پر شونډو د خندا سندره شنه کړم
پر پېغلو پسرلیو مې راغلی چې کونتون دی

په ګرمو شونډو خاندو، خو یو بل ښکلوی نه شو
زما و ددې ترمنځ څه د ډیورنډ کرښې تړون دی

منمه د ((شمال)) د لمبو څاڅکي دلته نه شته
ددې ګلبڼ پر پاڼو یې پرې ایښی خو طاعون دی

کوم چا که د رښتینو لېونو پوښتنه وکړه!
په دغه وران مالت کې خو یې یو استازی یون دی.

۲۳/۸/۱۳۶۹

# د خندا قتل

موږه د خدای په کتابو

او د نبي په احادیثو کې

دا لوستي وو چې:

قتل د روح لویه ګناه ده په ژوندون کې د چا

او ملایکې د خدای ذات دي

چې له ټولو ګناهو نه پاکې

خو اوس کلونه کېږي

چې تر مودو نه مخکې

زموږ د سوي زړه د مینې کور نه

د بېګناوو ماشومانو او ځوانانو

د ژوندون جنازې

**د فرښتو په بېګناوو ګوتو**

**ځي د اسمان غبږي ته**

**نو اوس د میني تخیل کې د وجدان**

**او عاطفې د سمندر پر څپو ناستو**

**د احساس بڅرو**

**ووایئ چې:**

**دا بېګناهه او معصومې فرښتې به زیاتي**

**د نازولو ماشومانو د تنکۍ خندا په قتل**

**ګنهکارې نه شي!؟**

**۲/۴/۱۳۶۹**

# د آه سکروټې

د درد په ژرنده دل نه شوې زما د عشـــق نینـــې
د نرمو شونډو ځل نه شوې زما د عشـــق نینـــې

د سوز په اور چې اوړي نـــن د مکـــر پـــه خـــوړو
د چا د زلفو ول نه شـــوې زمـــا د عشـــق نینـــې

تنهـــاک امیـــد مـــې واړوه تـــر پولـــو د ازمـــون
لمبو ته بې تکل نه شـــوې زمـــا د عشـــق نینـــې

د چا د مینې سیند کې مې احساس غوټې وهلې
چې بندې په اجل نه شوې زمـــا د عشـــق نینـــې

د آه ســـــکروټو دود کړلـــــې بټیـــــو کـــــې د اور
پولیو سره مل نـــه شـــوې زمـــا د عشـــق نینـــې.

۲۶/۹/۱۳۶۶

# غیرتي لېمه

زما د مینې ښکلا

لکه بېباکه مانو

د قهرجنو لمبو

د سیند په مستو څپو

تاوه راتاوه شوه

او ډوبه شوله

او د امید هیله مې

د اور په غېږه کې په نرمو پښو

په اسوېلو اسوېلو

ونځېده

خو زه هغسې چې پخوا ومه څه

هسې به یم هسې به اوسمه لا

نه به د چا خندا ته وخاندمه

نه به قبلې ته د ښکلا او حسن

د خپل غیرت لېمه کاږه ونیسم.

۴/۱۰/۱۳۶۶

# د میو اباسین

د مینې څرېکه مې د وریت زړګي پردو کــې ځلــي
عشقه ګنــاه دې زمــا ســویو اســوېلو کــې ځلــي

چــا مــو دمینـــې د جانــان زلفــو تــه اور ونیــوه
چې شنه دودونه یې زموږه پــه شــعرو کــې ځلــي

دا خـــو زمـــا د اســـوېلو د تـــپ تاونـــه وینـــي
ځکه خواږه یې د سرو شونډو په ســرو کــې ځلــي

زما د عشق ستونی دې لوند نه کړ پرې یوځلې هم
څــه کــه د میــو اباســین دې اننګــو کــې ځلــي

پام چې په تریو نظر یې حسن تــه نظــر ونــه کــړې
د خوشال توره مې تراوســه لا پښــتو کــې ځلــي.

۲۱/۴/۱۳۶۶

خوشال لېسه

# د اوښکو سمندر

وخت چې له غوسې نه سور تکل ته شونډې وسپړي
ژوند په اوښکو لوند شي او اجل ته شونډې وســـپړي

مینې سمندر د سپینو اوښـــکو پـــه څیـــر ونـــه لیـــد
اوس به نو زړګی د چا تسل تـــه شـــونډې وســـپړي

تاوه شي ترخو کې د احســـاس د فریـــاد چغـــه پـــرې
دا د غم قلم مې چـــې غـــزل تـــه شـــونډې وســـپړي

ډوب چې وي زړګی د اورني غم په سیندونو کې
چېرې به حسینې ستا وربل ته شونډې وسپړي

ورغړي تنهاک هوس ماحول د اغزیو کې
عقل او امید چې مستقبل ته شونډې وسپړي

تاوه کړه لمبه د ګرمو شونډو په سینه کې مې
وریت ویده زخمونه به یې ځل ته شونډې وسپړي.

۱۳۶۶ل کال،تله

# د خوږو مکر

تناک ځيګر مې حسن په سپرغيو سولوي
د آه اوښکه مې عشق په مايوسيو سولوي

د عقل د احساس سترګو ونه ليده پرهر
د وخت د اور په زور يې په اغزيو سولوي

خندا يې سمندر شي زما درد ته په هوس
د مينې د بڼ ګل مې په سيليو سولوي

د عشق د خورږ مکر ته نظر کړئ اوښــکو نــن!
پـــه شـــونډو بانـــدې آه د لېونيـــو ســـولوي

د درد په کړايي کې په زړګي شي خــود لــوګی
خوربې زلفــې چــې يــار پــه اننګيــو ســولوي

د سور مستقبل ټال کې به عشق وزانګي اخــر
خنــدا کــه نــن اميــد پــه اســوېليو ســولوي.

۲۹/۷/۱۳۶۶

# ارام سمندر ته!

ولې غلی او ارام یې

ته خبر یې چې څه وشول او څه کېږي

د نړۍ په وچو غرونو، سپېرو دښتو، ځنګلو کې؟

ته خبر یې چې څه اوري

د اسمان له ګرېوانه نه

د بېوسه روح پر مینو؟

ته خبر یې چې ټول ژوي

یو د بل د ژوند په بیه د ژوندون شېبې رانیسي؟

ته خبر يې د وحشت د پاچايانو

واكمني دقاف له غرونو ان زموږ تر كوره رسي؟

ته خبر يې چې زموږ د كلي خوا كې

هره  ورځې د كارغانو ډلې ډلې

د وګړو پر سينو باندې ټونګې كړي؟

كه نور هم غواړې همداسې:

چې ماران او خمڅرې دې

د سيسيو بچې وخوري

او پر سمه لويه لار دې

د لېوانو كاروانونه

د شپنو په رمو ګډ شي

كه نور هم غواړې همداسې

چې بيا هم روحي وګړي

د چا مینې ته اور ورکړي

د چار روح کړي تیږو لاندې؟

نو که داسې نه وي خو څه

تر پېړیو زغم نه وروسته

په څلور کونجه دنیا کې

د توپان نغمه خوره کړه

چې نړۍ له بوی شي پاکه

او شي ړنګه پاچاهي د ځناورو، ګنهکارو هوسونو

او څو تنه بېګناه به

شي سپاره د نوح بېړۍ کې.

۲۲/۴/۱۳۶۹

# د تېزابو باران

زما د عشق د تنکو هیلو سترګې
لا د هوس د خوږلنیو په بڼ
د ګل پر پاڼو غوړېدلې نه وې
چې تا د قهر د تېزابو باران
د اورني اسمان له شونډو څخه
په زغرده زغرده پرې راوه وروه
او دتنکۍ مینې په سترګو کې دې
د ویر لمبه په خندا تاوه کړه راتاوه کړله.

۲۶/۶/۱۳۶۶

# سندرغاړي

د ختیځ- لوېدیځ وګړو!

د مرګي له وېرې مړاو مړاو هیلو!

د ژوندون په جېل کې بندو د نړۍ د هوسونو پاچایانو!

او د عشق د رنګینیو د سیندو  مستو څپو کې

ستړو ستړو ماڼو ګانو!

د ژوندون هره شېبه مو

**د نڅا و خنداګانو په ټالونو کې کړه تېره**

**په هر رګ کې د وجود مو**

**د عطرو وينه جاري کړئ**

**او هوس هوس زړګو ته**

**د خوښيو لمبې غړپ کړئ!**

**چې کلونه مودې وشوې**

**د مرګونو سندرغاړي**

**زموږ کور کې مېلمانه دي**

**هغه لويه هوجره ګورئ!**

**چې شاوخوا يې د زمزم ويالو نيولې**

**او په مخ کې يې د توتو انګور تاکو ونو شين**

**سيوری جوړ کړی**

**په همدغه ځای کې ناست دي**

یو سپین ږیری په کې نه شته

ټول ځوانان ترېنه راتاو دي

په هر وار چې ترنګ او ترونګ شي

له څو تنو روح جلا شي

بس کلونه مودې وشوې

چې زموږ د کور هوجره کې

سندرغاړي مېلمانه دي.

۲۲/۴/۱۳۶۹

# د طاعون په لوپټه کې

د طاعون په لوپټه کې

د سرزورو احساساتو

شینکی فصل ټوکېدلی

د یاغي مینې په تور یې

لاس و پښې دي پرې تړلې

د اجل ورېمه پرې اوري

رژوي یې خنداګانې

خو د روح قاتلان (دواړه)

ورته ګوتې پر غاښ ناست دي

وايي څه متکور عشق دی

وايي څه لمبه جذبه ده

د اورونو ټال کې زانګي

د ژوندون سندرې وايي!؟

۵/۶/۱۳۶۹

# د احساس لوخړه

ما د لمبو د ترحم په سینه کې ولمبوئ

او د حسین قهر په سترګو کې مې

د توندې مینې د احساس لوخړه

د اور په غېږه کې د ویر په تنور

د اور لړوني غوندې تاوه کړئ

د مینې په لاس

څو چې د عشق له کاڼو سترګو څخه

د سوزېدلي احساس کړیکه باندې

د عاطفې اوښکې راوڅڅېږي

او د جنون پر دود وهلې دښته

تنکي تنکي ګلان راوټوکېږي.

۲۵/۶/۱۳۶۶

خوشال خان لېسه

# یادګارونه یادګارونه

مـــا درتـــه لیکلــــي وای شــــعرونه او شـــعرونه
تـــا زلفـــو کـــې ایښــــي وای ګلونـــه او ګلونـــه
ما پـــه وچـــو شـــونډو درنـــه کـــړي وای ســـوالونه
تـــا پـــه زړه را ایښــــي وای زخمونـــه او زخمونـــه
مـــا ژونـــد تـــه نیـــولي وای دارونـــه او دارونـــه
ستا شونډو خندا کړای غورځنګونه غورځنګونـــه
زړه کې زما بـــل وای ســـره اورونـــه ســـره اورونـــه
ســـتا ژونـــدون ډیـــوې وای څراغونـــه څراغونـــه
دغســـــې وای هیلــــې او همداســـــې ارمانونـــــه
مـــا ورتـــه ژړلـــی تـــا خنـــدلی ولونـــه ولونـــه
حســــــن بـــــه د تـــــا و داســـــتانونه داســـــتانونه
ژونـــد بـــه تـــول زمـــا و یادګارونـــه یادګارونـــه.

۲۱/۷/۱۳۶۸

# کاڼو ونه ژړلې

عشق د هوس په لمبو
د مستو کاڼو د خندا په ځپو
د تېزابونو د اورونو ژرنده
تاوه راتاوه کړه د درد په وینو
او د امید د ګلو موسک نظر یې
د غم پر لیکه په اور واړاوه راواړاوه د حسن په زور
خو کاڼو ونه ژړل
لاهسې خاندي له خندا نه شنه دي
د عشق لمبو کې امیدونه کري
زړو د اغزیو کې ګلونه کري
د خوږې مینې د ښکلا په امید
د سرو سکروټو سره تخمونه کري.

۱/۱/۱۳۶۷

# مېږتونخور

ځنګ ته ناست ومه د ونې

د ټپي پرېشانۍ خیال مې سترګې ورو ورو خوبولې

پام مې شو د ونې ډډ ته

یو سورکي مېږتونخور پرې خپل وزرونه رپولو

اوږده ژبه يې له خولې نه بهر کړې په هنر وه

چې مېږیان به پرې راټول شول

لکه غړپ د مستو میو به يې تېر کړلو له ستوني

د خوندو د عشق لمبو و مخ په پورته روان کړی

ورو نرږدې شو د غومبسو د ژوندون د ځالې ځنگ ته

چې ټول عمر وې له تندې جل وهلې

له غوسې نه تکې سرې په اور کې تاوې

کړه يې ژبه ورته مخکې په هنر په مکر وړاندې

يو ناڅاپه سرو غومبسو يې پر ژبه پر مښوکه

او پر سترگو

زهرجن نيشونه ښخ کړل

((لس يوولس شېبې)) وروسته مې کتل چې:

درد کې تاو مېږتونخور

د ونې دډ نه راگوزار شو.

۱۴/۶/۱۳۶۹

# د امید څانګه

د زړه کور کې مـــې د شـــعر غـــوټۍ غـــوړېږي
د خـــــزان ســـــړه ســـــیلۍ ده رژوي یـــــې

د امید څانګـــه چـــې لـــر شـــانته اوږده شـــي
د ظالم په لاس کـــې لـــور دی پرېکـــوي یـــې.

۱۳۶۵ل کال

خوشال لېسه

# د اسرافیل شپېلۍ

د اورنیــو اغــزو زړه کــې ښــکلا چېرتــه لګــي
د سوو شونډو په لمبو کــې خنــدا چېرتــه لګــي

زمــا د زړه د پرهرونــو ســره او شــنه ګلونــه
ستا د خمارو زلفــو ول کــې اشــنا چېرتــه لګــي

منم احساس مې د اورونو زړو کــې ګــل ټوکــوي
خو ســتا د بــزم رنګینیــو کــې دا چېرتــه لګــي

خانده په کړس مې د تناکو شونډو لیکــو بانــدې
د خوړلنیو پــه محفــل کــې ګــدا چېرتــه لګــي

د اســـرافیل د شـــپېلۍ غـــږ ورتـــه راورســـېده
د پښتنو ســـپېره وطـــن کـــې رڼـا چېرتــه لګــي

خود ستا دمینې د رنګینې کوڅې ګوټ ته نه ځم
د میو ډنډ کې د سرو اوښکو ځــلا چېرتــه لګــي.

۱۱/۷/۱۳۶۷

# د جنګ باج

ارمـــان د اوښـــکو نـــازولو وخــــوړ
لکه موسکی شـبنم چـې ګلـو وخـوړ

ددې ګلاب ګـلاب وطـن حسـن مـې
څه هم پردیـو څـه هـم خپلـو وخـوړ

چاتــه لمبــه لمبــه احســاس وښــیم
وطـــن زمـــوره نـــابللو وخـــوړ

څه بې پښتو شـول پښـتانه د وختـو
بـاج د جنګونـو تـرې مغولـو وخـوړ

یو اسمعیل پـه دغـه لـوی کلـي کـې
نـیم نـازولو او نـیم ښـکلو وخـوړ.

۱۳۶۷ل کال

# د سیند په منځ کې

چــې د نــن پــر زلفــو وټــومبم ګــلان کتــار کتــار
لکه شنه چې پسرلي کــړم پــر بیابــان کتــار کتــار

دا خوږې خوږې خبرې دا خوږې وعدې مې خیال کې
ټوکــوي د جنـــت حـــورې او غلمـــان کتـــار کتـــار

پس له مرګه به زمــوږه یــوه ورځ همداســې راشــي
دریــدلې بـــه وي دار تـــه رهبـــران کتـــار کتـــار

څه اولې مینې وسو څــه خــوږې یــارانې دود کــړو
اوس ولاړ د سیند په منځ کې پښــېمان کتــار کتــار

بــس همــدا د ســاده ګــانو د ســندرو غــزل وایــه
چې ترې وځي هره ورځــې هوښــیاران کتــار کتــار.

۱۳۶۹ل کال د وري میاشت

# سوی ګودر

ســـــترګو اوتـــــرو ورتـــــه هـــــېڅ ونـــــه وې
د زړه ســـــندرو ورتـــــه هـــــېڅ ونـــــه وې

لويـــــه خپـــــه د اوبـــــو راغللــــــه پـــــرې
د اور بڅـــــرو ورتـــــه هـــــېڅ ونـــــه وې

هغـــــوی زمـــــوږه وينـــــې تـــــويې کړلــــــې
زمـــــوږ ملګـــــرو ورتـــــه هـــــېڅ ونـــــه وې

تېـــره لمبـــه شـــوه د پردیـــو دلتـــه
زمـــوږ لښـــکرو ورتـــه هـــېڅ ونـــه وې

نظـــر مـــې ښـــکل کـــړې خـــوږې شـــونډې د یـــار
لمبـــو شـــکرو ورتـــه هـــېڅ ونـــه وې

د لـــــیلا ګـــــانو ګـــــودر وســـــوځېده
خـــو ســـربېرو ورتـــه هـــېڅ ونـــه وې

اخـــر یـــې ښـــکل کـــړ اســـمعیل پـــه شـــونډو
د چـــا خبـــرو ورتـــه هـــېڅ ونـــه وې.

۱۳۶۷ل کال د سلواغې میاشت

# مړاوي اننګي

ژوند ســوزېدلو نهيلــۍ نــه توېــدلې اوښــکې
د چــا د مينــو جنــازو کــې څڅېــدلې اوښــکې

شــهيد و تاســو نــه کــه هلتــه چــا پوښــتنه وکــړه!
ورتــه بــه وايــئ چــې وطــن کــې بهېــدلې اوښــکې

خدايــه د ســتا لــه تــرحم او لــه پېــرزو مننــه
نــورې دې واخلــه دا ډالــۍ دا رالېږلــې اوښــکې

ځومره ښه ښــکاري هلتــه ســتا د موســکو شــونډو خنــدا
دلتـــــه پـــــه مـــړاوو اننګـــو کـــې څلېـــدلې اوښـــــکې

خـــــود بـــــه د رب لـــــه عواطفـــــو نـــــه ګیلـــــه کومـــــه
هلتـــــه خنـــــداوې دلتـــــه ولـــــې رســـــېدلې اوښـــــکې

ګـــوره احساســـه هغـــه کـــور کلـــی یـــوازې نـــه کـــړې
چـــې ګرېوانـــو کـــې یـــې تـــول عمـــر ګرځـــېدلې اوښـــکې.

۲۴/۱/۱۳۶۷


په اورونو کې
سندرې
(شعري ټولګه)
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ل

# په اورونو کې سندرې

## شاعر

## محمد اسمعیل یون

# بسم الله الرحمن الرحیم


## کتاب پېژندنه:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | په اورونو کې سندرې |
| شاعر: | محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۷۶ل کال |
| دویم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د شا عر پرله پسې نومره: | (۱۰) |
| د خپرندوی پرله پسې نومره: | (۱۰) |
| کمپوزر: | ضیاالرحمن ضیا |

# ددې ټولګې پر دویم چاپ څو خبرې

(( په اورونو کې سندرې)) زما د شعرونو دویمه ټولګه ده چې پر (۱۳۷۶ل) کال په پېښور کې چاپ شوې ده. په دې ټولګه کې اکثره هغه شعرونه راغلي، چې ما د خپل تحصیل او تر هغه وروستــه د تنظیمواکۍ پر مهال لیکلي او یو څو داسې شعرونه په کې هم شته چې د طالبانو د واکمنۍ د لومړیو کلونو په بهیر کې لیکل شوي دي. دا ټولګه هغه وخت د هېواد د تکــړه شــاعر ښــاغلي عبدالمالک بېکسـیار پــه زیات ټینګار او مالي لګښت خپره شوه، که د هغه ټینګار نه وای، نو دا ټولګه ما هغه مهال نــه



خپروله. له هغه وخته بیا تر دې دمه زه پر یو لړ کلتوري، سیاسي او ټولنیزو چارو دومره مصروف شوم، چې زما شاعرۍ ته یې ډېر زیان ورساوه. شعر یو تقدس دی، زیات ذهد، تقوا و خلوت ته ضــرورت لري، له سیاسي او ټولنیزو کارونو او په دې لاره کې له پرتو دېوانو او لېوانو سره، د شعر ملکه، الهه او پرښته یو ځای مزل نه کوي او نه د شعر ښکلا د سیاست له بدرنگیو سره غاړه غړۍ حرکت کوي، نو ځکه که څوک غواړي یوازې شاعر پاتې شي، بایده دي، چې خپل ذهن او قلم پر نورو ګنو کارونو مصروف نه کړي. د شعر ښــاپېرۍ یوازې ذهد، ښکلا او تخیل مني؛ له نورو ګنو چارو سره یې کار نه شته. په همدې خاطر څومره چې زما نور کارونه ډېرېدل، د شــعر ښاپېرۍ راڅخه مرورېدله او لرې کېدله، خو بیا به هم کله په خوب او کله په ویښه راتله او زما د ذهني روزګار د ارامتیا سبب به کېدله او روحي ستړیا به یې رانه وړله. تر دې ټولګې وروسته مې کله کله شعرونه لیکلي دي، خو دومره لا نه دي، چې د یوې بلې ځانګړې شعري ټولګې بڼه خپله کړي.

زه هم په شعر پسې منډې نه وهم، کله چې دا ښاپېرۍ خپلــه راشي، نو بیا ورسره د زړه خواله کوم. هر کله چې زما شعرونه د بلې ټولګې تر کچې ورسېدل، بیا به یې د یوې ځانګړې ټولګې په توګه

چاپ کړم. تر دې ټولګې وروسته لیکل شوي شعرونه مې ځکه په دې ټولګه کې رانه وړل، چې دا ټولګه د خپــل زمــان او مکــان د حالاتو انځورنه کوي او نور وروستي شعرونه د خپلې زمانې رنــګ لري، نو ځکه مې دا ټولګه د خپل هغه وخت د ارزښت او اهمیت له مخې په خپله بڼه پرېښوده. په شعرونو کې مې هم ورته هېڅ ګوتې نه دي وهلي، یوازې هغه چاپي او املایي تېروتنې چې په تېر چاپ کې وې، هغه مې تر ډېره حده سمې کړې. ګرامري سمون خو هسې هم پر شعر یا نظم د پوره تطبیق وړ نه دی، نو هغه مې لــه خپــل معمول حالت سره سم پرېښود. نورې خپلې خبرې نــه اوږدوم او تاسې قدرمن، ددې ټولګې لوستو ته رابولم.

په درناوي

پوهندوی محمداسمعیل یون

کابل – افغانستان

ارګ؛ د جمهوري ریاست ودانۍ

۱۳۷۸ل کال د سلواغې ۲۱مه

# سریزه

د یو مات ژوندون کیســـه ده، ژړغــونې شـــانته ژاړي

نیمـــه مـــړه نیمـــه ویـــده ده، ژړغــونې شـــانته ژاړي

او دا کیسه د یو یون کیسه ده، د یو ژوند کیسه ده او زموږ د زمانې د یو ژوندي تاریخ کیسه.

دا کیسه د هغو غمجنو شپېو کیسه ده، چې د ښار واټونه بیا له سره او په نوي ریتم جوړېږي...

...

کوڅه کې شور شو او هاها شوه کوڅه ړنګه شوله

د ښار واټونو کې د بنګو او د چرسو واټ شو جوړ

په یوه نوي ریتم

او بیـــا بنگیـــانو دوړې پورتـــه کـــړې لـــه خپلـــو ولـــو پېغلـــه یـــې ګـــډه کـــړه بربنـــډه لکـــه ســـپینه او معصـــومه سپوږمۍ...

دا کیسه د هغو شپو او ورځو کیسه ده، چې د تقلبي قدرت پـر ګدۍ ناست امام د وطن د مرګ تسبې تېروي او شکرونه باسي:

...

او د عطـــار لـــه هتـــۍ نـــه راځـــي د عطـــرو او لونګـــو د وږمو رنګین رنګین تخیل

اوس هر ماښام له شپږ پوړیزو خونو

پېغلې د خپلې حیا روح سپاري

د خدای(ج) د پرښتو ګوتو ته

او د سپېڅلې ځمکې غېږې ته پناه وروړي

خو امام ناست د هوس په مرمرینه خونه

**په خپلو ګوتو د وطن د مرګ تسبې تېروي**

**او د قدرت د جنون**

**د خوږو میو په ډنډونو کې بربنډ لامبي**

**او د ژړا پر ځای شکرونه باسي.**

**د دغو ټولو کیسو، شېبو او ورځو شپو تـر شــا یــو حســاس او نوښتګر قلم چلوونکی ولاړ دی، چې په سرو اورونو کې یې هــم د قلم نېغ سر چا ته ښکته نه شو او د مرګ او ژوند په اورنیو شېبو کې یې هم د وطن سندره وویله او ښه په خوند یې وویله.**

**هغه لا تش اسمعیل و او یون یې لا نه وو پیل کړی، چې د کابل په سپېرو کوڅو کې زما ورسره اشنایي شوه، زه چې هــر ځلــي د اسمعیل نوم د ده په غیاب کې یاد کړم، نو بیا مې یو په تنه خوار، وچ کلک او ځیرک زلمی، د ښوونځي درې څلور کتابه په یوه اخبار کې راغبرګ په تخرګ کې نیولي نېغ سترګو ته ودرېږي.**

**اسمعیل ټیک هماغه شان چې اسمعیل(ع) له خپلو پښو څخه د زمزمو د اوبو چیني راوخوټولې، له خپلو خلاقو ګوتو څخه د نوښت**

ویالې راخړوبوي. دی ددې په څنګ کې چې زموږ د وطن د څلور کلنې ملي غمیزې انځورونه کاږي، خو شعر ته د تعهد او نوښــت مساله یې هم له یاده نه ده ایستلې:

د زړونو زورو مو دلبرانو لوټ که

لکه وطن چې رهبرانو لوټ که

د تا د شونډو قهر زما زړه وېروی نه شي

دا روس کله کوی شي له افغانه سره جنګ؟

د یون په دغه ارزښتناک زیار کې یوه بله د یادولو وړ خبره د ټپې او ازاد شعر د انډول ده، سره له دې چې دغه کار د یون په ابتکار کې نه شي راتلای او تر ده دمخه زموږ نورو لیکوالو هم دغه کــار کړی دی، خو په کوم انداز کې چې یون ټپه او ازاد شعر سره غاړه غړۍ کړي، زما په خیال زموږ په معاصر ادب کې به یې بېلګې کمې وي، د بېلګو له راوړلو څخه یې په دې نیت تېرېږم، چې نه غــواړم

ټول کتاب یو ځل په سریزه کې په لوستونکو ولولم. د یون په شعر کې له زیاتوښکلاوو څخه یوه دا هم ده، چې هغه هره خبره لکــه هماغه شان چې د وخت او حالاتو ضرورت دی، نېغ په نېغه او رسا کوي، ګیلې او مانې یې رسا د نښې منځ ولي او د پښتني تــولنې نیمګړتیاوې د یوه حساس نقاد په شان راوباسي او د خلکو مخې ته یې ږدي:

چاوې یو قام زرو ته وکړه سجده

ما ته خو لر او بر پښتون ښکاري

...

دهېڅ مغول لښکر مې د زړه ښار کې پلی نه دی

شمشاد په وینو سور یمه خیبر وژلی یم

د زړه رڼا مې سره په وینو شوله

د هغې دغې عقیدې په نامه

له مرحوم استاد روهي سره مې د ځاني خبرو په ترڅ کــې لــه خدای ښښلي څخه دا خبره زده کړې وه، چې ویل یې: د هېڅ یوه شاعر ټول شعرونه اوله درجه نه وي.

د همدې خبرې په استناد باید وویل شي، چې د یون په دغــه جونګ کې د ګوتو په شمېر دویمه درجه شعرونه هم راغلي، وګورئ د صراط پل، دسمال، زهر.

خو دا خبره په دې مانا نه ده، چې ګوندې د یون شعري یون پر همدې ځای ولاړ دی، یون ځــوان شــاعر دی او لا خــو د خپلــې شاعرۍ د لومړیو واټنونو لاروی دی، هغه به لا نور واټنونه وهي او یون به کوي او د پښتو پر لمن به د ډېرو داسې ګلو کر کوي، چې په ورېم او رنګ یې د خړ څادري پښتون د ژوند پر شاړه کرونده د هیلو غوټۍ راسپړي.

که د پښتو ادب ټیکه داران مې په کفر محکوم نه کا او دا اجازت راکاندي چې د خپل ادب ( پښتو ادب) پر لمن مې یوه پیش ګویي وکړم، نو باید ووایم چې زه له ګران یــون څخــه دومــره هیلــې، غوښتنې او د خلاقو کارونو انتظارونه لرم لکه څومره چې خــدای ښښلي علامه عبدالحی حبیبي صاحب کړي دي. زما دغه خبره به

هېڅکله هم په دې مانا نه وي، چې ګوندې ما به د علامه صــاحب شان ته خدای(ج) مه کړه په کمو سترګو کتلي وي.

يون زموږ د زمانې د تاريخ يوه پاڼه ده، که څوک يې مني او که نه؟ زه ورته برياليتوب، په خرواروڼو تخليقي کار او ښېرازه ژونــد غواړم.

عبدالمالک بېکسيار

کوپنهاګن– ډنمارک

۱۹۹۷، د جون ۱۸مه

# تاب

زمـــا پـــه اســـوېلو ســـتا پـــه نـــازونو تیـــږه کېـــدو
په یـــو، وایـــه اشـــنا کـــه پـــه دوه ګونـــو تیـــږه کېـــدو

زمـــا ســـاده ملګـــرو، ای پـــه یـــو نظـــر مینـــو!
لږ تینګ شئ چې د ښکلو پـــه مکرونـــو تیـــږه کېـــدو

منـــو د معشـــوقو د اداګـــانو تـــاب مـــو نـــه شـــته
څـــه لویـــه قربـــاني ده چـــې پـــه زړونـــو تیـــږه کېـــدو

زما او ستا د سترګو جنـګ پخـوا څنـې عـادت دی
نو څه که اوس په دروغـو پـه جنګونـو تیـره کېـدو

بس یو ځل مې د شوندو په خوږو کـې روح اوبـه کـه
مـنم پـس لـه هغـه بـه د لوزونـو تیـره کېـدو

یو چا پـه ګونګوسـیو ورتـه غـوږ کـې داسـې ووې:
راځـه د یـون د هیلـو پـه قبرونـو تیـره کېـدو.

۵/۴/۱۳۷۰

کابل

# د ارواګانو سلګۍ

خلک خو وايي چې اولاد

د مور او پلار د زړه د مينې د باغ

تنکي ګلونه دي چې مړاوي شي او ورژېږي

نو زړونه هم مړاوي شي ورژېږي.

**خو ما نه هېڅ هم ونه پوښتلې،**

**چې ستا د ګرانې نازنینې مور د هیلو،**

**امیدونو ارواګانو چې سلګۍ وهلې،**

**او ستا د پلار د جنازې د وینو رنګ کټ چې،**

**د کلي منځ کې،**

**له تا نه پټ تېرېدو،**

**نو تا د لوی دېوال تر شا،**

**څومره په زوره زوره وژړلې!؟**

**۲۸/۱/۱۳۷۰**

**د کوچني اختر دویمه، کابل**

# ساده قتل

د ســـپینو اوښـــکو نـــور وای ورېـــدلی ورېـــدلی
د چـــا پـــه ســـوو زړونـــو توېـــدلی توېـــدلی

افسوس د نرمې غبرګې په خوږو کې دې تاو نه کړم
اسمان خو به څه نـه وغورځېـدلی غورځېـدلی

دا څومره ساده قتل و چې بې اوره دې مـړ کـړم
تـــر شـــونډو دې وم کلـــه رســـېدلی رســـېدلی

څه ګرمه پاچـاهي بـه وه د جوجـو او مـاجوجو
که مخکې یې قاف نـه وای ودرېـدلی ودرېـدلی

دتا د خوږې مینې ټول خـواږه پـر مـا حـرام دي
پـر زړه بانـــدې کـــه نـــه وم لګېـــدلی لګېـــدلی.

۱۳۷۰ل کال

# د ژوند رنګ

لکه د شپې په زړه کې

چې د سهر د وړمو پانې

شونډې وسپړي موسکۍ شي

او رڼا د خپلو سرو مرغزلینو وړانګو

د شال وربېښمین پلو پر ځمکه خور کړي

نو ورځ زرغونه شي ترې

او بیا د ورځې د ښکلا د پرېشانۍ له سجدې

د شپې روح وټوکېږي.

داسې مې ژوند کې د غمونو د جام

له پیمانې څخه خوښي جوړېږي

او د خوښیو د خندا د غرو له څوکو نه مې

غم څاڅي

او د ژوند پاڼو ته مې رنګ ورکوي.

۲۸/۱/۱۳۷۰

د کوچني اختر دویمه- کابل

# سهوه

ډېره ښه شوه چې په خلکـو کـې رسـوا شـوم
نـه د ځـان شـوم نـه د زړه او نـه د تـا شـوم

سـتا د شـونډو دسـپرلي د بـوډۍ تـال تـه
پـه ژړا کـې ګلـې څنګـه پـه خنـدا شـوم؟

ددې سـترګو پـه خـوږو کـې دې څـه روح و؟
چې یـوه شـېبه کـې څـو ځلـې پخـلا شـوم

تـــر دې زیـــات د نهیلیـــو مـــاتم څـــه دی؟
د هغـــې ډولـــۍ چـــې تلـــه نـــو پـــه ژړا شـــوم

د غمونـــــو او دردونـــــو دې دنیـــــا تـــــه
لویـــه ســـهوه زمـــا دا وه چـــې پیـــدا شـــوم.

۲۱/۸/۱۳۷۰

کابل پوهنتون

# نامعلوم قبرونه

**که یوه ښه ګېډۍ د ګلو کړمه جوړه د زړه باغ کې**

**د احساس له پاڼو**

**او د ورېښمین حسن ځلا ته یې د زړه د عاطفې د اوښکو ستوري،**

**لکه سپین څاڅکي د سهار د پرخې ونځوم**

**لاړ شم د کلي هدیرې ته!**

**نو به د چا پر قبر کېږدمه د ګلو ګېډۍ؟**

**د چا د قبر توغ به وموښم په خپلو سترګو؟**

**د چا له شناختې نه به تاوه کړم د زړه د ارمانونو لمبه؟**

د چا د قبر د سپېرو خاورو سپېره ګردونه

به د ماتم ماتم ژوندون پر تندي باد کړمه

په لپو لپو؟

قبرونه ډېر دي

هدیره ډکه ده

خو زه د خپلې نازولې مور او پلار قبرونه

نه پېژنم.

۲۹/۱/۱۳۷۰

د کوچني اختر دویمه- کابل

# اسمان او ځمکه پوه دي

عقل رنځور و؟

د سورکۍ ښکلا د شونډو په خوږو یې

د زړګي د ارادې مزي ترلي وو تول.

احساس یتیم و

زنګولې یې د خپلو بڼو ټال کې

ځلېدونکې اوښکې

غیرت په وینو رنګ و

د کلي رنګه بړک الوتې وه

**یو وهم خور و،**

**هېڅوک هم پوی نه شول چې څه وشول و**

**یوازې شنه اسمان**

**د خپلو رڼو سترګو**

**د رڼو اوښکو له ستورو څخه**

**هر څه چې وشول هغه ولیدلو**

**یوازې ځمکه پوه شوه**

**چې زما د زړه د ارمانو د وطن**

**څومره بې شمېره جنازې یې**

**زړه ته ننوېستې.**

**۳/۳/۱۳۷۰**

# نیمه لاره

پرې مې ږدئ چې دود شم د ارمان په نیمه لاره
داسې چې پرې اېښی یم جانــان پــه نیمــه لاره

زما د خوږې مینې نو په دې کې ګنــاه څــه وه؟
سپرلی چې رانه لوټ کړلو خزان پــه نیمــه لاره

اشنا شونډې غوټۍ کړه سترګې جام اننګي مینه
زړګــی دې رانــه وړی دی ارزان پــه نیمــه لاره

**د کومې مینې غچ و او د کــوم ســرود بــدل و؟**
**یوازې چې دې پرېښودم حیــران پــه نیمــه لاره**

**هېچا د زمانې د مکــر زیــر او بــم ونــه پوښــت**
**دې یون خو ورته څیرې کړ ګرېوان په نیمه لاره.**

**۱۸/۸/۱۳۷۰**

**مرکزي لیلیه، کابل پوهنتون**

# ستوري ستوري اوښکې

که د رانه زړه د ((پوهنې)) د ځوانۍ د ځوانو هیلو خندا

د ګل د شونډو د عطرونو سیند کې تاوه کړي

د خپلو ارمانونو لمبه

او د احساس له پاڼو پاڼو څخه جوړه شي ډولۍ د ژوندون

عاطفه سور او زرغون شال شي پرې راوغوړېږي

ته لکه سپینه سپوږمۍ ځلې په کې

سپرلی د ټول کلي کوڅې او لارې ووینځي په خپلو وږمو

او لمر د ټول طبیعت زړه ته په سجده کړي

خپلې نرمې وړانګې

د کلي لر او بر ګودر کې د منګیو اتڼونه جوړ شي

او زه تر شلو کلو وروسته،

ځنې غوړې کړم د (چا) د اننګو په خولو

د وریت احساس د دنګو غرو د مست کوچي په شان یې

د خپل اواز له ترنمه سره

په ولو ونځوم

او ستا ډولۍ ته اوږه ورکړم د زړګي په قوت

څومره به ښه وي چې نور خاندي د هوس په شونډو

او زه له ډېرې خوښۍ

ستا د ډولۍ له هره ګامه سره

په لپو لپو ستوري، ستوري اوښکې تویې کړمه!!

۲/۳/۱۳۷۰

کابل

# ماتې هیلې

زړګی به په کې وران شي که ځیګر به په کې وران شي
زما خو به دا دواړه ستا نظـر بــه پــه کــې وران شــي

زمـــا د غیرتـــو او ســـتا د حســـن دښـــمنۍ کـــې
مورچل وایه اشنا او که ګودر بــه پــه کــې وران شــي

د شـــوندو د ســـپرلو پـــاڼې دې مـــه رېـــوه یـــاره
زما د ماتو هیلو جوړ لښــکر بــه پــه کــې وران شــي

**د ظلـــم او وحشـــت د پخلاینـــې پـــه اتـــڼ کـــې**

**لویان به نور هم لوی شي در په در به په کې وران شي**

**راځـــه د یـــون د هیلـــو پـــه زړه مـــه اړوه خـــاورې**

**د (هغې) معشوقې د پل اثـر بـه پـه کـې وران شـي.**

**۱۵/۸/۱۳۷۰**

**مرکزي لیلیه، کابل پوهنتون**

# د څلورو کلو شپې مې

د یو ځوان عمر څپه مې
اسوېلیو رانه دود کړه
د څلورو کلو شپې مې
د کوم چا روژه نیولي غوندې شمار کړلې په ګوتو
ددې دومره عمر پاڼو د رڼو سترګو انځور کې
مې هېچا ته هم ونه ویل،
چې کوم رنځ مې په زړه ناست دی؟
د چا حسن مې ځښي وینه؟
چا مې وړی زړه په مینه؟

۱۴/۶/۱۳۷۰

نصرو کلا– بګرام

# د کفر رحم

د لسو کلو درد مــې لــه دې قــام نــه تپــوس وکــړئ
زما د وچو شــونډو بیــا لــه جــام نــه تپــوس وکــړئ

د کوم هوس په زړه کې ســوز او درد د مینــې ګــورئ
د سوز او درد اثــر لــه مــا ناکــام نــه تپــوس وکــړئ

احساس مې راتــه رېــي چــې یــار خانــدي او زه ژاړم
د حال ژوندون خو دادی له انجام نــه تپــوس وکــړئ

**د یار له شونډو مــه پوښــتئ زمــا زړګــي تــه ګــورئ**
**د کفر بــه څــه رحــم وي اســلام نــه تپــوس وکــړئ**

**زما پــه ګــودرو کــې چــې د چــا اســونه تېــر شــول**
**سهر پرې خبر نه دی لــه ماښــام نــه تپــوس وکــړئ**

**یـــو یـــون پـــه لویـــه لاره مینــــانو تـــه دا ووې:**
**که غواړئ ژوند مو اور شي ما بدنام نه تپوس وکــړئ.**

**۱۹/۸/۱۳۷۰**

**مرکزي لیلیه- کابل پوهنتون**

# کيسې

د انګار د سرو بڅرو

د وهمونو ژوند نه وروسته

د جنت د شنه انځور کلي ته لاړم

د مرموزې چوپتيا سيورى و

د دنګو کلاګانو

او د ونو د شنو پاڼو

پر زخمونو غوړېدلى

خو د زړه له درد نه جوړو

فريادي اوښکو کې ماته

ددې دنګو کلاګانو

**دنگو دنگو دېوالونو**

**او د شنو تاکونو پاڼو**

**د رازونو او رمزونو**

**غیرتونو او ننگونو**

**ډېرې ډېرې کیسې وکړې**

**ډېرې ډېرې...**

**۱۳۷۰ل کال**

**نصرو کلا- بگرام**

# له ځانه سره جنګ

بېګاه مې خوب کې وکه لــه جانانــه ســره جنــګ
زړګــي مــې ګنــې وکــه لــه ارمانــه ســره جنــګ

قربان دې له بنو شم تــه مــې ولــه زه بــه خانــدم
کوم چا دی کله کړی له خپل ځانــه ســره جنــګ؟

د تــا د شــوندو قهــر زمــا زړه وېــروی نــه شــي
دا روس کله کــوی شــي لــه افغانــه ســره جنــګ

**په شا چې کله ګورې نو په موســکو شــونډو ګــوره**
**اشــنا پښــتانه نــه کــړي پښــېمانه ســره جنــګ**

**کوم څوک مې دا زړګی د عاطفې په اوبــو وینځــي**
**د نفس اورونه وژني، کــړي ګرېوانــه ســره جنــګ**

**یو (یون) هم د همغــو لــه لښــکرو ســره یــو شــو**
**چې سپین سباوون غواړي، کړي زمانه سره جنګ.**

**۲۴/۸/۱۳۷۰**

**مرکزي لیلیه- کابل پوهنتون**

# لکه وختونه چې وختونو کې مري

لکه وختونه چې وختونو کې مري

او زمانه لکه سرزوری پښتون

پر مخه درومي د مرګي غېږې ته

او شاته نه ګوري د میو او ګلابو اتڼ

داسې مې روح او د زړګي پردو کې تاوه مینه

ستا قدمونه څاري

ستا قدمونه....!

۲۷/۷/۱۳۷۱

کابل

# وینې تخیل

د یــو مــات ژونــدون کیســه ده ژړغــونې شــانته ژاړي
نیمـــه مـــړه نیمـــه ویـــده ده ژړغـــونې شـــانته ژاړي

د ســـندرو وزر مـــات شـــو تخیـــل نـــه وینـــې څـــاڅي
پـــه مـــاتم کـــې ننـــداره ده ژړغـــونې شـــانته ژاړي

د غمونـــو ډزې وشـــوې د شـــیرنې پـــه کوڅـــه کـــې
د فرهـــاد د مرګـــي شـــپه ده ژړغـــونې شـــانته ژاړي

ولــــوليزو شـــېبو وران کـــړ د روښــــان تفکـــر څلــــی
د فکرونــــــو جنــــــازه ده ژړغــــــونې شـــــانته ژاړي

راتــه ښــکاري هنــدوکش کــې مغــوليزه شــمله هســکه
ټيټـــــه شـــــوې تـــــاتره ده ژړغــــــونې شـــــانته ژاړي

د تورانـــــو ژوبلـــــورو د ملالــــو بنګـــــړي مـــــات کـــړل
پښــــتنه لمبــــه ســــړه ده ژړغــــــونې شـــــانته ژاړي

ستا د شوندو پانې چېرې څوک د اوښکو په تــاو وينځـــي؟
د احســــاس پــــاتې ايـــره ده ژړغــــــونې شـــــانته ژاړي.

۱۰/۴/۱۳۷۱

کابل

# د شعر په پاڼو

نن دې په سترګو کې پرون ښکاري
لکه په مرګ کې چې ژوندون ښکاري

بیا دې د زړه له ارادې نه خلاف
څنګه په شونډو کې پاڅون ښکاري

زما احساسه- فکره ویلې نه شې!
درته د زور او زر تړون ښکاري

نور د ښکلا په سیند کې پورې وتل
پښتون پر ماته کښتۍ ستون ښکاري

زمـــا د ګــل وطـــن د شـــعر پـــه پـــانو
نـــن هـــم د ســـرو وینـــو مضـــمون ښـــکاري

چـــا وې یـــو قـــام زرو تـــه وکـــړه ســـجده
مـــا تـــه خـــو لـــرو بـــر پښـــتون ښـــکاري

د زړه پېښلیک مې یـاره څـه لـه ګـورې؟
پـــه هـــره پاڼـــه کـــې شـــبخون ښـــکاري

مـــنم پښـــتو مـــې ځنکـــدن نـــه منـــي
که بر سکون شو نـو لـر (یـون) ښـکاري.

۲۷/۷/۱۳۷۱

کابل

# زهر

زړه مې نــرى نــرى خــوړېږي دچــا مينــو بانــدې
څومره بې رحمــه طــاعون اوري ګلورينــو بانــدې

پام پرې ګوزار د ګل د پاڼو چېــرې هــم ونــه کــړئ
ما لويه کړې خپله مينــه اوښــکو ســپينو بانــدې

ما خو دې ســترګو کــې د زړه وطــن ښــکلا کتلــه
چاوې (سقاو) زهر به څښې شونډو شيرينو بانــدې

**څـــومره تـــوپیر دی د مینـــو او قـــاتلو تـــرمنځ**
**موږه پـــر مینـــو نـــه مړېـــږو دوی پـــر وینـــو باندې**

**مینه تباه شوه احساس دود شو ښکلا وسـوځېده**
**اوس د ښکلا سـندرې نـه لګـي غمګینـو باندې**

**چا وې د ګل وطـن قـاتلو تـه دې هـېڅ ونـه وې**
**اوښـکې مـې اوري د وطـن پـر قـاتلینو باندې**

**د اور پـر لیکـه سـوي یـون پـه لپـو لپـو ژړل**
**وې د وحشت تناب حاکم شو زړو وربښمینو باندې.**

**۳/۳/۱۳۷۲**

**الینګار- لغمان**

# دا په کومو سترګو ګورې؟

تا خو وې چې زما دواړه سترګې ستا دي

په کې ګوره د خپل مات ژوند

د رڼو اوښکو د هیلو انځورونه

د سبا د امید ستوري

د خوږمن زړګي اهونه.

تا خو وې: ((زما په سترګو کې دې ګل شي

که به یې ستا په مینه بل ته غړومه))

خو اوس ای د مینې څړیکې!

د ښکلا د سپوږمۍ وړانګې!

دغه نوی پسرلی چې:

ستا په زلفو کې یې وتومبل ګلونه

تا یې وموښل په مینه

په لاسونو کې لاسونه

دا په کومو سترګو ګورې؟

۱۳۷۲المریز کال

کابل

# برې که نا برې

مــــنم زمـــا کــــه دې ســـرور مـــات کـــړ
ســـتا د ښـــکلا مـــې هـــم غـــرور مـــات کـــړ

لږ خو مې سترګو تــه پــه ځیــر شــه اشـــنا!
چـــا د لوزونـــــو کـــوه طـــور ماتـــه کـــړ

مغولـــه خیالـــه! پـــه ســـجده شـــه راتـــه
خوشـــال زړګـــي مـــې رنتبـــور مـــات کـــړ

تـــــا مـــــې پـــــه زړه د اور بـــــاران وراوه
ما دې پــه ســترګو د عشــق نــور مــات کــړ

دا دې بـــرى کـــه نـــا بـــرى وبـــولم؟
چې په خپل لاس دې خپل منصور مات کــړ.

۱۵/۵/۱۳۷۲

کابل

# سپېڅلی غرور

چا وې د ژوند سپرلي ته دې په کمو سترګو ګـورم؟
پخـوا کـه پـه رڼـو و اوس پـه نمـو سـترګو ګـورم

د تـا د شـونډو پـانې چـې غـوړېږي او موسـېږي
دا زه ورتـه محبـوبې پـه شـبنمو سـترګو ګـورم

قربان د داسـې مینـې د غـرور لـه سـپېڅلتیا نـه
چې خپل رقیب ته ګورمه پـه برمـو سـترګو ګـورم

دا څو ځلې دې راکړل سترګو ســترګو کــې زهرونــه
دې سترګو ته دې نور خو په پرچمــو ســترګو ګــورم

په دې ورانه کوڅه کې مې ځیګر او زړګی مات شول
خو اوس هم ورتــه یــاره پــه صــنمو ســترګو ګــورم

زمــا د زړه چینــه کــې د عشــق اور دی لګېــدلی
نو ځکه ټول جهان تــه پــه همــدمو ســترګو ګــورم.

۱۶/۵/۱۳۷۲

کابل

# د سپینو خولو پرخې

یاد خو به دې وي؟

چې یوه ورځ مې ستا په سترګو کې

د هیلو ګلان یو یو ټوکولو

لاس مې ستا په لاس کې کېښود

ټول وجود مې سره لمبه شو

ستا په زنه کې راټولې شوې

د سپينو خولو پرخې

ما په خپلو دواړو سترګو

په کې ولید

د خپل مات برخلیک سیوری

ستا د مخ خولې مې وچې کړې په خپلو اسوېلیو

خو زما له سترګو اوس هم

سرې او سپينې اوښکې څاڅي.

۲۶/۵/۱۳۷۲

کابل

# د اوښکو سباوون

د زړونـــو زور مـــو دلبرانـــو لـــوټ کـــه
لکـــه وطـــن چـــې رهبرانـــو لـــوټ کـــه

زمـــا قاصـــد ســـتا پـــه کوڅـــه کـــې اشـــنا!
پـــه رڼـــا ورځـــې رقیبـــانو لـــوټ کـــه

د عـــــاطفې د بـــــڼ د ګلـــــو لښـــــکر
خـــزان لـــوټ نـــه کـــړ باغوانـــانو لـــوټ کـــه

ربـــه! د تـــا د دیــــن روښـــانه څـــــراغ
پـــر دیــــن مینــــو پتنګـــانو لــــوټ کـــه

زمـــا د ټـــول عمــــر د هیلــــو ســــپرلی
د کلـــــي ټولـــــو مشـــــرانو لــــوټ کـــه

د معشـــــوقې د مــــخ د مشــــکو کــــاروان
تـــر غلـــو لاړ نـــه شـــو کاروانیـــانو لـــوټ کـــه

د اســـــمعیل د اوښکوســــــپین ســـــباوون
شـــــاوخوا ټولـــــو اشــــنایانو لـــــوټ کــــه.

۱۹/۵/۱۳۷۲

کابل

# زهرجنه خندا

څه د احساس څه د جذبې په نامه
ځواني مې لاړه د هغې په نامه

د وينو جام مې نڅوي پر شونډو
د تا دشونډو د کعبې په نامه

د زړه رڼا مې سره په وينو شوله
د (هغې) (دغې) عقيدې په نامه

د توپــــــانیزو اســــــوېلیو لښـــــکر
سترګو دې لوټ کــړ د جرګـــې پــه نامــه

د زهرجنــــې خنـــدا شـــنه پســـرلي
پـــر مـــوږه اوري د وعـــدې پـــه نامـــه

اوښکې مې څښـلي اسـوېلو کــې لامــبم
دار تـــه مـــې بیـــایي د نشـــې پـــه نامـــه.

۱۴/۹/۱۳۷۲

کابل

# د خندا وزرونه

په فرهاد فرهاد زړګي مــې د اورونــو پرېشــاني شــوه
په شیرین جنت وطن کې چې مې جوړه سقاوي شــوه

د منصور عقل لمبه بــه څنګــه پــانې شــي دمینــې؟
د سپین دېو منطق کې ډوبه د عشقونو پاچاهي شــوه

د احســاس پــانو رژېــږئ، د عطرونــو ورمــو ژاړئ
ســندریزو ولولــو کــې پابنــدي پــه پســرلي شــوه

د خنــدا وزرې پــرې کــړئ، د ګلونــو غــاړې غــوڅې
د ژړا په اور کې کېنــئ عقیــده مــو اســلامي[1] شــوه

عقله څنګه ورته رېږدې؟ ورته جګ کتلــی نــه شــې!
ستا رڼا کې د غلو څنګه کامراني شوه کامیــابي شــوه

ای د اور په میوو مستو د عشــقونو ســپینو ســتورو!
د ظلمونو شپه رڼا کــړئ ګنــې ختمــه زنــدګي شــوه.

۱۵/۹/۱۳۷۲

کابل

[1] هغو کسانو ته اشاره ده چې په غلطه، اسلام د غم دین معرفي کوي.

# امام شکرونه باسي

د ګلو ښار لمبه لمبه شو

او د چتهو پېغلو

له سپينو سپينومړوندونو نه د وينو لمبې دارې وهي

د ښار واټونو کې ګزمه ګرځي د وهم دېوان

او ګرځوي پر دواړو ولو دمرګونو ډالۍ

په څلور لارو کې دي جوړې هديرې د ژوندون

هره کوڅه د ښار رنګ شوې ده په اوښکو وينو

اوس د بنګړيو بازار سوی دی د غم په لمبو

او د شنو، سرو، سپينو بنګړيو پرځای

د رنګارنګه کارتوسونو درمندونه جوړ دي

او د عطار له هټۍ نه راځي د عطرو او لونګو د وږمو رنګين

**رنګین تخیل.**

**اوس هر ماښام له شپږ پوړیزو خونو**

**پېغلې د خپلې حیا روح سپاري**

**د خدای(ج) دفرښتو ګوتو ته**

**او د سپېڅلې ځمکې غېږې ته پنا وروړي**

**خو امام ناست دی د هوس په مرمرینه خونه**

**په خپلو ګوتو د وطن دمرګ تسبیح تېروي**

**او د قدرت د جنون**

**د خوږو میوو په ډنډونو کې بربنډ لامبي**

**او د ژړا پر ځای شکرونه باسي.**

**۱۶/۹/۱۳۷۲**

**کابل**

# د اور په جبل کې

پــه اوښــکو لونــد پــه وینــو ســور قســمت
زمــا پــه برخــه شــو منصــور قســمت

چــا وې د نــاز غــرو تــه دې ســرټیټوم؟
درتــه ټیــټ کــړی یــم مجبــور قســمت

هــر اســوېلی مــې شــي پرهــر پــه شــوندو
پــه زړه مــې لــوبې کــړي ناســور قســمت

ددې تېـــــې وطــــن ګــــزک زخمونـــــه
کلـــه جـــوړېږي پـــه رنځـــور قســـمت

زه پـــرې ګـــلان، دی پـــر مـــازهر شـــیندي
ماتـــه جـــوړ شـــوی دی تربـــور قســـمت

ځواني مـې تېـره کـړه د اور پـه جېـل کـې
بـــدل مـــې نـــه کـــړ رنتبـــور قســـمت

د ســــره دوزخ د لمبـــو تـــاو مـــنم خـــو:
جنـــت کـــې نـــه غـــواړم مـــزدور قســـمت.

۱۵/۱۱/۱۳۷۲

تېمرګره- دیر

# پوړنی

هغې د ژوند پاڼې کړې ژېړې د جانان د پسرلي په هيله

هغې د خپلې فرښتې غاړې امېل څخه کړه جوړه ګردنۍ د ټوپک

دخپل باتور جانان لپاره په وربښمينو ګوتو

هغې پنځه لس کاله تېره کړه د ژوند څپه پر شونډو لکه

زهر د مرګ

او اخترونو کې يې ونه ليده چا پر سرو ورغوو د نکريزو سپوږمۍ

هغې په شپه ورځ کې پنځه وخته دربار ته دخدای(ج)

د تقدس په وږمو وړله د جانان د مقدس جنګ د بري سندره

خو يوه ورځ يې جانان راغی ددې کوره پورې

جامې يې سرې ګردنۍ سره وه په اهونو او سرو وينو باندې

او د ټوپک له خولې یې سره اوشنه لوګي جګېدل

نو چې یې ولګېدې سترګې د هغې په ولولیزو کتو

او ښاپېریزې ښکلا

د تور ټوپک په میل یې کش کړ له معصومو زلفو

د زر کلن عفت سورکی پوړنی

کوڅه کې شور شو او هاها شوه کوڅه ړنګه شوله

د ښار واټونو کې د بنګو او د چرسو واټ شو جوړ

په یوه نوي ریتم

او بیا بنګیانو دوړې پورته کړې له خپلو ولو

پېغله یې ګډه کړه بربنډه لکه سپینه او معصومه سپوږمۍ

او د هوس سترګو پرې جوړ کړل پر زړګي زخمونه

**د پېغلې مخ باندې خورې شوې د نري رنـځ د نهیلــي ژونـد داوښکولیکې،**

**خو پېغلې پورته نه کړه دا ځلې د خدای(ج) دربار ته**

**سپین لاسونه**

**او د نهیل شمال په مړو وربمو یې**

**د مات ولس ټپي اهونو ته**

**په نرمو شونډو ورو وویل:**

**((پرېږدئ چې خړ سېلاب مې یوسي**

**په لامبوزن جانان مې ډېره نازېدمه.))**

**۲۰/۱۱/۱۳۷۲**

**تېمرگره–دیر**

# د رڼا حورو!

چې دې په سترګو کې نیولی نه یم
ښکاري همدا چې دې بللی نه یم

د اسوېلو مزل د هجر دښتې
په لنډه لار درته راغلی نه یم

هره موسکا دې زړه کې اور بلوي
په خوله یم چوپ دننه غلی نه یم

د نــــاز د غـــرو خنـــدا دې وړلای شـــمه
د غـــم فرهـــاد یـــم نـــازولی نـــه یـــم

د رڼـــا حـــورو شـــپه راتوولـــه نـــه کـــړئ!
زه یـــې تـــر شـــونډو رســـېدلی نـــه یـــم.

۲۴/۱۲/۱۳۷۲

الینګار- لغمان

# د زهرو فصل

د رڼــا پـانې خــو مــو بلــې کـړې د شــپې پــه لمــن
خیر که یو څو داغونه شنه شــول د ډیــوې پــه لمــن

د جنـــت مینـــه د ښـــکلا د عواطفـــو ســـتوري
مــوړه کرلــي دي د خپلــې معشــوقې پــه لمــن

احساس شو مات خنــدا ژړیــږي ښــکلا نــه غــوړیږي
چــا کــړ د زهــرو فصــل شــین د عقیــدې پــه لمــن

زمـــا پـــر زړه د پرهرونـــو د ســـپرلي ګلونـــه
دومـــره تورونـــه لګیـــدلي دي ددې پـــه لمـــن

اوس به د جام شونډو کې چېرې وي موسـکا د میـو؟
د عقیـدې سـېلاب شـو خـور د میکـدې پـه لمـن

شونډې مې رېږدي زړه مې تښتي ویې نه شـمه چـې:
څـــومره ژړا وه د کابـــل د هـــدیرې پـــه لمـــن

نـــور د هـــوس د جنتونـــو ډنـــډ کـــې ولمبـــوځ
مـا ویـده پرېـږدئ تـل د مینـې د نشـې پـه لمـن

د سترګو یون، د زلفو یـون، د شـونډو یـون جانانـه!
څنګه دې یوځـای کـړل د خپلـې ارادې پـه لمـن؟

۲۶/۱۲/۱۳۷۲

الینګار- لغمان

# چا ویل چې دګلونو ښار به وران شي؟

چا ویل چې د جنت حورې به وزانګي د اور په تنابونو

په پستو ګلابي شونډو

په ورېښمینو نرمو پښو؟

چا ویل د قاف د غره دېوان به راشي

د وحشت د عقیدې له اباسینه

او زموږ د ارمانونو د جنت ناوې به تاوه کړي

د خپلو هوسونو د زهرونو د شپو جام کې؟

**چا ویل زما د مینې په کابل کې به (یزید) راڅوندی کېږي**

**جوړوي به د ګلونو له سرونو درمندونه**

**نړوي به د ښکلا دعواطفو محلونه؟**

**چا ویل یو چنګیزي شمال به بیا له پورته راشي**

**د مینو د ګلپاڼو په رنګونو**

**د ملالو د غیرت په میوندونو**

**او د ګلو ښار به بیا له سره وران شي**

**د وحشت په ځناورو او دېوانو**

**او په خپلو چنګیزیانو یزیدانو؟**

**۱/۱/۱۳۷۳**

**الینګار- لغمان**

# ولوليز پسرلی

د ارمانونو زړه مې دې يوړ
لکه د ورځې روح چې شپې يوړ

د غريزې د ميوو مست سباوون
توري راکښلې عقيدې يوړ

د ولوليزې ځوانۍ سور پسرلی
په يو نظر رانه هغې يوړ

د ژونـــدون روح رانـــه پـــه نـــوم د جنـــت
پـــر ديـــن مينـــې معشـــوقې يـــوور

لا مـــو د قهـــر پـــه تـــاو ســـېزي هيلـــې
څـــه کـــه ارمـــان مـــو تـــر کعبـــې يـــوور

عشـــقه تبـــاه شـــو ســـتا د حســـن لمـــر
چـــا پـــه ســـره زور چـــا پـــه پلمـــې يـــوور.

۱۹/۱/۱۳۷۳

نصرو کلا- کابل

# د اوښکو احرام

( د یوې ګډې مشاعرې په ترڅ کې)

(( کــه چــاپېر لــه تــورو ســترګو لام پــه کــار دی
غلــه پــه زړونــو لګېــدلي پــام پــه کــار دی))

چـــې زنځیـــر د مغـــولیزو وختـــو مـــات کـــړي
یــو خوشـــال مـــې د منصـــور د قـــام پـــه کـــار دی

ســـــتا د ښـــــکلو او شـــــېرینو شــــوندو زور تــــه
ګلـــــې ماغونـــــدې فرهـــــاد بـــــدنام پـــــه کـــــار دی

د ســـــهار پـــــه رڼاګـــــانو ډېـــــر شـــــکمن یـــــم
زمـــا مینـــــې تــــه ســــکنی ماښــــام پــــه کـــــار دی

چې ستا سرې کافرې شونډې رنـګ پـه عشـق کـړي
زمـــــازړه ورتـــــه موســـــکی اســـــلام پـــــه کـــــار دی

ســـــتا د مینـــــې دښـــــکلا طـــــواف تـــــه یـــــاره
د رڼـــو اوښـــکو یـــو ســـپین احـــرام پـــه کـــار دی

د کابـــــــــل حســـــــــین زړګیـــــــــو شـــــــــهیدانو
د یزیـــد دوزخ کـــې نـــور قیـــام پـــه کـــار دی

د وطـــن د حســـن پـــانې مـــې بـــاد یـــووړې
ورتـــه نـــور د تـــرحم نظـــام پـــه کـــار دی

د احســـاس د نـــوح بېـــړۍ پـــه ډوبېـــدو ده
د غمیـــزو د توپـــان فرجـــام پـــه کـــار دی

د هـــوس ســـتوري دې خانـــدي تـــاج محـــل کـــې
مـــوږ مینـــو تـــه د عشـــق مقـــام پـــه کـــار دی.

۱۳۷۳/ چنګاښ

پېښور

# او د ګلو د سندرو اتڼ بیا له سره وران شو

زمانې د زمانې لمن نیوله،
شپه د ورځې، ورځ د شپې د روح په وړانګو
د تقدیر مزو تړله
زېړېدل په کې د لمر ژوندون ستوري
د ګل پېغلو له سورکو نازکو شونډو
سندریز تفکر زړونو کې وزر و غوړولی
عقیدې و عواطفو ته ځیګر په لاس نیولی
د ګلونو د سندرو اتڼ جوړ و
نڅېدل ورته د مینې د غاټولو ځیګرونه
تاوېدل ترې د وږمو د تخیل د بڼ ګلونه
خو یو (چا) له کومه راوړ
د کینې د زهرو جام
د پستو پستو خبرو له خوږو میو نه جوړ
او نږدې یې کړ د مینې عقیدې د سورکو شونډو تر سرونو

عقیدې لا په سر نه و اړولی د کینې د زهرو جام

چې د شونډو د احساس پر زړه یې راغلل خزانونه

په زړګي کې یې شول مړاوي د ښکلا د عواطفو سره ګلونه

نو شوه ټوله عقیده د زهرو روح د قهر سیند

بیا یې لوټ کړل د سپېڅلو احساساتو ارمانونه

د وږمو د سپوږمۍ حسن د خوږې مینې وزرونه

او د ګلو د سندرو اتڼ بیا له سره وران شو.

۱۶/۱/۱۳۷۳

کارګري قصبه- کابل

# یو جانان او یو جام

چـــې د رڼـــا پـــه لـــوري ګـــام اخلـــو
مـــوږ یـــې لـــه زلفـــو انتقـــام اخلـــو

د مقـــــــدس اور عبـــــادت وي مینـــــــه
خـــود یـــې لـــه شـــونډو نـــه الهـــام اخلـــو

د روح وطـــن یـــې راتـــه رنـــګ کـــړ پـــه غـــم
اوس یـــې هـــم نـــوم پـــه احتـــرام اخلـــو

نمـــرود وختونـــه شـــي شـــداد شـــي امـــام
هـــر څـــو کـــه ذکـــر د اســـلام اخلـــو

عشـــقه دا ســـتا لـــه غوړېـــدلي جنـــت
مـــوږ یـــو جانـــان اخلـــو یـــو جـــام اخلـــو.

۱۳۷۳/زمری

# خواږه خواږه زخمونه

سترګې مې ډکې شوې د اوښکو د لمبو له تاوه

د زړه پردو کې مې د غم زلزلو جوړه کړه د وهم څپه

زړګی مې وایي چې د خپلې معشوقې مخ کې په زوره زوره وژاړمه

او د احساس لمبې سرې کړمه په خپلو چغو

خو دې ګلپاڼې معشوقې مې په سورکیو او چاودلو شونډو

چې د سیلیو ګرد یې ناست و پر خوږو اننګو

او د زړګي له هر یو تار یې څڅېدلې وینې

د حال په ژبه راته ورو وویل:

**((زه پر تا څومره نازېدمه**

**تا په سرو شنو دېوانو خرڅه کړم مینه.**

**د سترګو توره نو اوس:**

**ماته مې خپل غمونه ډېر دي**

**په لویه لار کې راته مه ژاړه مېنه))**

**نو ماچې ټېټ کړ د احساس سر د ویده تفکر سور ګرېوان ته**

**زړه راته وویل زما معشوقه ((خاوره)) د دردونو له بڼ**

**د حقیقت په ژبه**

**څومره خواږه خواږه زخمونه سپړي.**

**۱۷/۱/۱۳۷۳**

**نصرو کلا- بګرام**

# د ستورو قافله

سترګو نــه ســتا د مــخ ډېــوه تېــر وو
څکه تر وړانګــو لانــدې شــپه تېــروو

د زړګـــي پـــانې غوړېـــدلې پرېـــږده
ورتـــه د ژونـــد تپـــي کيســـه تېـــروو

ســـتا د موســـکا د پســـرلو پـــه هيلـــه
پـــر زړګـــي ژونـــد لمبـــه لمبـــه تېـــروو

هر اسوېلی مـــې شـــي منصـــوره وينـــه
ژونـــدون پـــه دار لکـــه نشـــه تېـــروو

شــهید وطنــه! ســتا د زړه پــردو کــې
یــو وخــت د ســـتورو قافلــه تېــروو

شونډې پر شونډو راته کېږده موســکۍ
روح تــه د ســره دوزخ وږمــه تېــروو

د خنــدا پېغلــو وربلونــه تیــټ کــړئ
د یـــون د هیلـــو جنـــازه تېـــروو.

۷/۸/۱۳۷۳

کاګري قصبه- کابل

# مړاوی جانان

چې هم دې فکر هم ایمان شي جانان
څومره به مینې درته ګران شي جانان

د زړه په پانو مې بلېږي هجر
کاشکې چې پرخه شي باران شي جانان

د روح غوټۍ مې په کې وغوړېږي
ماته هم دین شي هم قران شي جانان

د تخیل په وزرو خېږم ورته
خیر دی که ستوری د اسمان شي جانان

دومــره ګلونــه پــرې د اوښــکو شــيندم
چې په شمېرلو يــې ســتومان شــي جانــان

بيــا بــه مــې پرېــوزي دګرېــوان پــر کلــي
چې مې تــر اوښــکو نــه ارزان شــي جانــان

چـــې د خپــل زړه دښــار جنــډې وويـنـــي
څـــومره بـــه مـــړاوی را روان شـــي جانـــان

درد بــه دې وي خومحسوســـېږي بــه نــه
چې هم پردی شي هم دې ځان شي جانــان

وړي د لونګـــو ښـــار تـــه ښـــکلې پښـــتو
ګوندې چې (یون) ددې ((کاروان) شي جانان.

# دسمال

یــو ګــل دې لــه وربلــه نــن شــمال راوړی دی
زمــا ســوو داغونــو تــه یــې شــال راوړی دی

زمــا پــر مــړاوي روح بانــدې دې وشــیندل ګلونــه
څــه رحــم دې پــه زړه کــې ذوالجــلال راوړی دی

د شعر زړګی مې ګل شو پټ په شونډو کې موسېږي
کــوم چــا ورتــه د تــا د ســترګو خیــال راوړی دی

د څو کلونو درد مې په یوه شېبه کې هېر کړ
ریبار مې ستاسو کور څنې دسمال راوړی دی

اشنا واک دې منم چې هم مې ښکېل هم مې ازاد کړې
یوه لاس کې دې جال او بل کې تال راوړی دی

جانانه تندی ورین کړه بیا یې مینه باندې کېږده
د زړه له وینو جوړ مې درته خال راوړی دی.

۱۵/۲/۱۳۷۴

کارګري قصبه- کابل

# د مینې پیغمبر

یــو ســپین د ســبا ســتوری وم ســهر وژلــی یــم
د ګــل د شــونډو پرخــه ومــه لمــر وژلــی یــم

په زور نه یم مات شوی ښــکلیه پورتــه راتــه ګــوره
د تاپــه نــوم یــې یــاره پــه هنــر وژلــی یــم

کوم څوک چې مې په زړه کې پیغمبر دمینې جوړ کړ
د روح پر کــور مــې ناســت دې پیغمبــر وژلــی یــم

ددغــه کلــي پېغلــې او منگــي پــر مــا خبــر دي
گـــودر یمـــه وژلـــی مـــازیگر وژلـــی یـــم

د کوم مغول لښکر مې د زړه ښکار کې پلـی نـه دی
شمشـاد پـه وینـو سـور یمـه خیبـر وژلـی یـم

په دې کې د رقیب د تـورې نښـه گـوره نـه شـته
د خپـل دلبـر پـه غېـږه کـې دلبـر وژلـی یـم.

۱۳۷۴/زمری

کابل

# د سرو ټپونو کان

د زلفــو پــه تیــارو کــې دې پــه نــور نیــولی یــم
بــس زه خــو دې د ظلــم پــه تنــور نیــولی یــم

سهر په وینو رنګ کړمــه ماښــام پــه اوښــکو لونــد
د وخـــت امـــام دا زه څنګـــه تربـــور نیـــولی یـــم

د زړه شیمه مې نه شــته هســې مینــه مینــه وایــم
دې لوز ته چې هــم ټینــګ یمــه غــرور نیــولی یــم

دا شونډې پانې پـانې چــې وريــږي پــر مــا هســـې
جانانــه بيــا دې کــوم غــم تــه ضــرور نيــولی يــم

د ستورو پټ خو هغــو جــادوګرو شــغلو مــات کــړ
دې تنـــدر نـــو زه لمـــر پـــه کـــوم قصـــور نيـــولی يـــم

د زړه د پرهرو پټري مې چـوي خندېـدی نــه شـــم
د ســـرو ټپونـــو کـــان يمـــه ناســـور نيـــولی يـــم

چا وې غېږه جنت، شونډې شراب زلفــې ورېمــې دي
دا ځکـــه ورتـــه زه همـــېش تـــرور نيـــولی يـــم.

۹/۲/۱۳۷۴

مکروريان- کابل

# د پانړو مومن

ماښام شو خور د سهرونو پـر بـام سـیوری کـوي
لکه کوم ذهد چې د شونډو پر جام سـیوری کـوي

لمــر راخېــږي لــه مغربــه د نمــرود پــه ګوتــو
د شرق د ښکلو لمر ګلـو پـر قـام سـیوری کـوي

**د پیغمبر فکر ژوندی دی خــو د زړونــو پــر تخــت**
**په وینو ســـور یــو د جــالیزه امــام ســـیوری کــوي**

**ددې ښــامار وژل د پــانګو مــومن نـــه شـــي کړلــی**
**دومره هوښیار دی چې پر ونو په پام سیوری کــوي**

**زړه مې لمبه شي چې دې زلفــې پــرمخ وغــوړېږي**
**کفر ته ګورم چې پر ښکلي اسلام ســـیوری کــوي.**

**۱۳۷۴ل کال**

# د صراط پُل

چــــې ســــتا پــــه تخیــــل مــــې تخیــــل نیــــولی دی
منمــــه دګــــل شــــوندو کــــې مــــې ګــــل نیــــولی دی

دا خــــال د ســــپین تنــــدي دې پــــاکوم د زړه پــــه تــــوره
مــــورې تــــل پــــه تــــاترو بانــــدې مغــــول نیــــولی دی

د زړه وینــــې مــــې ځــــاڅي لاس دې لــــرې کــــه جانانــــه
(کوم دېو) غونــدې دې ســخت لکــه کابــل نیــولی دی

مجبــور بــه د هــر ښــکلي د خنــدا پــه لمبــو ســوزي
دا زړه چــې مــو هــر چاتــه پــه منګــول نیــولی دی

د مینـــې قـــاتلان یـــې ځنـــې څرنګـــه تېرېـــږي؟
زمـــا مظلـــوم ملـــت د صـــراط پـــل نیـــولی دی

په سترګو کې دې یون شوم زړه کې یون په خوله کې یون شوم
دې مینـــې دې څـــه ښـــکلی تسلســـل نیـــولی دی.

۱۳۷۴/مرغومی

# د جام جنازه

یو شور شــو د جــامونو شــو قیــام پــه میکــده کــې
چا وې پرون ســاقي شــولو اعــدام پــه میکــده کــې

سهر د لمر په وړانګــو جــوړوي تســبیح لــه ســتورو
د روح امام یې ناست وي هر ماښام پــه میکــده کــې

ساده زړونو سجده کړه د محراب پــه لــور پــه مینــه
د فکــر ســـتورو ولیـــده امـــام پـــه میکـــده کـــې

**لــه ســـترګو یـــې د اوښـــکو پـــانې ورو ورو تویــېدلې**
**د جام جنازه پورته کـــړه بــل جــام پــه میکــده کـــې**

**تر سپین قرانـــه لانـــدې د جــامونو ډنــډ کـــې ګــورم**
**د مکـــر ذاهـــد بیـــا تـــړي احـــرام پـــه میکــده کـــې**

**د زړه د وطن ښار مې یو ځــل بیــا پــه وینــو لامبـــې**
**نن بیا نرخ ټاکل شوی مـــې د قــام پــه میکــده کـــې.**

**۱۳۷۴ل کال**

**کابل**

# د سندرو په وزرونو

یــو عشــق مــې لوبولــو د ســندرو پــه وزرونــو
کوم چــې رانــه شــهید کړلــو د زغــرو پــه وزرونــو

شمله شمله لوګی شو د غــره غېــږې ځنــې پورتــه
څـــه اور دی لګېـــدلی د نښـــترو پـــه وزرونـــو

یو دېو د قاف د غره په ځنګلونـو کــې مېشــته دی
د ژونـد دولــۍ مــې وړي د ســوداګرو پــه وزرونــو

د ښـــار د پېغلـــو خـــال وړي او د غـــاړو امېلونـــه
یـــو دوه مـــاران راوړي جـــادوګرو پـــه وزرونـــو

څه لو دی د ګـلاب ګـلاب سـرونو پـه وطـن کـې
یو اور خو خدایـه بـل کـړې د لـوګرو پـه وزرونـو

پـرون رمـه لـه غـره نـه راغلـه کلـي تـه یـوازې
څه سره وینـه پرتـه وه د ګـور ګـورو پـه وزرونـو.

۵/۶/۱۳۷۵

کابل

# شهید غرونه

د مینـــې ســـتوری مـــې غـــاټول نـــه دی
ځکـــه زړګـــی مـــې پـــرې راټـــول نـــه دی

غرونه شـــهید دي، دښـــتې بـــورې ناســـتې
ورتـــــه امېـــل د ګلـــو شـــپول نـــه دی

زړونـــه مـــو اخلـــه خنـــدا مـــه راکـــوه
دمینـــې ښـــار دی کـــار پـــه تـــول نـــه دی

څپـــې څپـــې دریابـــه غلـــی درومـــه
د ژونـــد مـــاڼو مـــې ســـندر بـــول نـــه دی

ســـتونی زبېښـــي د ښـــار د هـــرې پـــانې
لـــه میـــو ډک یـــې لا کنـــډول نـــه دی.

۵/۵/۱۳۷۵

کابل

# څلور شپې

د ژوند سندره لیکمه د ګلو په خولو
د شعر ځیګر مې وینځمه د ښکلو په خولو

د وهم دېو څلورو شپو کې تېر کړلو له ستوني
کوم ښار چې و جوړ شوی د نتلو په خولو

د یار سترګو احساس مې په کې ورو ورو خوبومه
د زړه سیوری مې لوند دی د سنځلو په خولو

دی جوړ زموږ له وینې، دی جــوړ د چــا لــه مینـــې
د ژوند څـــراغ بــل نــه شــو د ښــاغلو پــه خولــو

د شنې جلګې له پاسه کړه پر ســپینو لېچــو دمــه
کوم چــا درتــه وینځلـــي د شـــنو ولــو پــه خولــو

اشنا لاس دې نړدې کړه چې په سترګو ورته ځیر شم
د بخت ســتوری مـــې ګـــورم د منګولــو پــه خولــو.

۲۸/۵/۱۳۷۵

کارګري قصبه-کابل

# ستوري لمرونه

د جانان شنه خندا مــې بیــا لــه کومــه لــوري راځــي
د غزل اوښــکو کــې مــې بیــا د مینــې تــوري راځــي

دلته هــر غــم قــدم پــه پــام ږدي بیــا ښــکلا لټــوي
د تلې ښار دی غم هوښــیار دی ســودا ګــوري راځــي

د شــعر مېــوه مـــې زېږبخنـــه ده بـــازار نـــه لـــري
د ژوند پــر هــر فصــل مــې ډول ډول ســیوري راځــي

**بیــا تلــی ســپین امــام د قــاف د ځنګلونــو دېــو تــه**
**زمــورږ د اوښــکو هیلــې بیــا پــه هغــو پلــوري راځــي**

**زړه کې مې ګرځــي یــوه ګرمــه شــان وربمــه د پښــتو**
**د قلــم نــوکې تــه مــې ټــول ټکــي ســرزوري راځــي**

**بیا مې د زړه ارمان موسکی شي بیا شي مړاوی غوندې**
**چا وې وطن تــه دې لمرونــه چــا وې ســتوري راځــي.**

**۱۳۷۵ل کال**

**کابل**

# د روح سپېڅلی زور

د هیلـــو شـــوندو کـــې مـــې پـــانې بیـــاثمر نیســـي
پـــس لـــه کلونـــو مـــې ګلونـــه بیـــا ګـــودر نیســـي

زه یـــو ســـېلاب شـــومه د اوښـــکو او ســـرو اســـوېلو
دی راتـــه لار کـــې د ســـپېرو شـــګو ســـنګر نیســـي

دا چې شـــمله یـــې راتیتېـــږي نـــه، جګېـــږي پســـې
دا خو پرې خدای(ج) د خپلې مینې خپـــل وزر نیســـي

پــرون یــې ســـر کــې وه نشـــه د فرعونیــت د فکــر
نــن راتــه خــړې خــړې ګــوري ځــان اوتــر نیســـي

دا خو د روح سپېڅلی زور دی د خدای(ج) عشق وینځلی
په یوه وړانګــه چــې د ټــول تــورتم لښــکر نیســي

بیـــا د نـــازو بچیـــو وتږلـــې تـــورې تـــر مـــلا
چا د ګورګین د مرګ ویــل چــا وې شــیبر نیســـي.

۶/۳/۱۳۷۶

کابل

# د شعر پري

د ښکلا سـیمه شـپې نیـولې ځانتـه ښـار جـوړوي
د ژوند په هر واټ کـې د دار لـه پاسـه دار جـوړوي

موره د لمر ورمې شـهیدې کـړې د شـپې پـه کـانو
اوس مـو لـه کلـي پـټ تېرېـږي بلـه لار جـوړوي

ما ځنګوي د تیـارو څنـو کـې د خـدای(ج) پـه نامـه
ځانته د ژوند په نوم یو ښکلی سپین سـهار جـوړوي

ربه د تا پــه نــوم مــې ژونــد اخلــي پــه خپلــه ګټــه
د وخت واکمن څومره هوښیار دی څه ښه کار جوړوي

کلــه د ښــو پــه نــوم قربــان کلــه د بــدو پــه نــوم
دا فرښــتې څــومره پــه ســخته زمــا بــار جــوړوي

د شــعر پــري مــې مــروره شــوه د شــعر لــه روحــه
سپینې خبرې دې لــه شــعر ځنــې شــعار جــوړوي.

۱۳۷۵ل کال

کابل

# سندریزه ورمه

د ژوند په هر فصل مې ځي راځـــي غمیـــزه ورمـــه
د زړه په پـــانو کـــې مـــې رپـــي دا دودیـــزه ورمـــه

زه د وریښـــمو د ربـــاب تـــارو تـــه خـــوب کومـــه
جانان مې خیال باندې راشیندي اوسپنیزه ورمـــه

شهیده وړانګه یم د خپلـــو ســـتورو شـــپو وژلـــې
زړه کې مې بله ده د خپـــل غشـــي اوریـــزه ورمـــه

د ژوندون هر واټ کې مو جوړ دی وژنځای د ګلـــو
لکـــه بیـــرغ پـــرې بانـــدې رپـــي ارمـــانیزه ورمـــه

**موږه غاټول زړونه قربان کړل په همدې هیله چې:**
**د ساندو کلـــي کـــې بـــه راشـــي ســـندریزه وږمـــه**

**شمله زړه، پوړنی زوړ دی، منګی زوړ دی خو هـــم**
**ځومره خوږه خـــوږه تـــرې اوري پتمنیـــزه وږمـــه**

**د جنګ اسونو مې د دښتو ګلان تول ستړي کړل**
**خدایه یو ځل خو پرې خوره کړې سوله ییزه وږمه.**

**۱۳۷۶ل کال د غویي ۲۶مه**

**کابل**

# د شعر حجاب

د ژوند مړاوې سندره مې رباب کې راولم
د ویښو شپو کیسه د عشق کتاب کې راولم

دا سر ربه! مات شوی دی، ټیټ شوی چاته نه دی
خو تاته یې پنځه وخته محراب کې راولم

نن بیا د غزا ډول د هندوکش په سر غرېږي
سپېرې طالبې څنې مې په تاب کې راولم

د نقد ملایان ګرځي له ډُرو سره په ښار کې
د شعر پېغله مې ځکه په حجاب کې راولم

زمــا ترلــي لاس وو ســتا درنــې څپېــړې
یو وخت خو بــه اشــنا دا پــه حســاب کــې راولــم

د سره قهر غلامه بيــا د چــا غبــرګې تــه درومــې!
د سپینو وړانګو تــاو بــه پــه کــولاب کــې راولــم

خندا موسکۍ شي چې پر شونډو د کبــانو
یو شــور خــو د ســندرو پــه دریــاب کــې راولــم

په دې به هم د ډېــرو لــه زړګــو شــي لمبــه تــاوه
دا وران د زړه وطن چــې نغمــه بــاب کــې راولــم.

۱۳۷۵ل کال د کب ۱۷مه

لغمان

# متفرقه شعرونه

# خطا

خنـــدا ســـړي نـــه کېـــږي او ژړا ســـړي نـــه کېـــږي
د ژونـــد رنګـــارنګیو کـــې خـــو دا ســـړي نـــه کېـــږي

چې حورې وي، غلمان وي او ته ځانتـــه پـــه کـــې ګرځـــې
پـــه داســـې ننـــدارو کـــې خـــو خطـــا ســـړي نـــه کېـــږي

مـــلا ویـــل ای ورونـــو ! دمـــلا شـــیطان مـــلا وي
دا غـتــې ګنـــاه‌ګـــانې چـــې مـــلا ســـړي نـــه کېـــږي

که هر څــومره توبــه کــړي خــو توبــه يــې نــه قبلېــږي
نــو ځکــه مسلســلې تــوبې بيــا ســړي نــه کېــږي

ترهغه به ګنــاه وي څــو چــې ســاه وي پــه وجــود کــې
ګناه کلــه بــې روحــه بــې لــه ســاه ســړي نــه کېــږي

ملنګ چېرته په عمــر کــې کــوم کلــی دی وران کــړی ؟
دا لــوېې ورانـــۍ تــولې لــه پاچــا ســـړي نــه کېــږي

بس غر دی او ســتا ســر دی ، زمانــه ده اوســتا لاس دی
همــېش دا ســر زوري (یونــه) لــه تاســړي نــه کېــږي.

۱۳۸۹ ل کال
نوی ډیلی

# مخالف

اقــــرار کـــې مخـــالف دی پـــه انکـــار کـــې مخـــالف
عجیبـــه شـــان جانـــان دی پـــه هـــر کـــار کـــې مخـــالف

چې ناست مې پـر اوږو وي، ښـــه خوشـــاله وي قـــانع وي
چـــې کـــوز يـــې لـــه اوږو کـــړم نیمـــه لار کـــې مخـــالف

منمـــــه هـــــر ســـــړی کـــــوي پاچـــــا پســـــې خبـــــرې
خو ما غونـدې بـه څـوک وي پـه دربـار کـې مخـالف

بېګـــــاه یـــــې د مـــــلا خبـــــرې ته‌ـــولې ومنلــــې
چـــې پاڅېـــده لـــه خوبـــه، شـــو ســـهار کـــې مخـــالف

دې ته‌ـــولې زمـــانې مـــې پـــه نـــبض ووهلـــې ګـــوتې
یـــو تـــار یـــم د درې تـــارو پـــه ســـه تـــار کـــې مخـــالف

زمـــــا او ســــــتا د دیــــــن نظــــــر اوبـــــه دې او اورونــــــه
تـــه ژونـــد کـــې مخـــالف، زه انتحـــار کـــې مخـــالف

هغـــه ســـړی ســـړیو کـــې حســـاب نـــه دی ملګـــرو!
چـــې نـــه لـــرې پـــه کلـــي نـــه پـــه ښـــار کـــې مخـــالف.

نوی ډیلی، هندوستان
د ۲۰۱۰ میلادي کال د فبرورۍ ۱۶مه

# بیړنی خبر

سره کرښه

ځل ځل

بل بل

ډېره لنډه

ډېره تېزه

را ښکاره شوه په سکرین

د تلوېزیون

ژر شوه تېره بیا راتېره

زړه مې ډب کړ

زړه مې ډیب کړ

زړه مې درز کړ

بیا به څوک وي؟

بیا به څوک؟

کوم وکیل

کوم یو ملک

کوم ښوونکی

کومه پېغله

کوم ماشوم د ښوونځي؟

یوځل بیا سکرین ته ځیر شوم

بیا الوتي

بیا پرېوتي

تورو خاورو کې شتهېږي

لاس يې يو سر يې بل چېرته

ټولوي يې اندامونه

د وجود

سپینو کڅوړو کې پولیس
پولیس هم په وینو رنګ
ځمکه هم په وینو سره
هلته پورته
رېبل شوي دي
د شنو ونو شاخونه
نیم دي سوي لوغړن
هلته لرې په بر شاخ کې
دی راځوړند کمربند
د ښوونځي د کوم ماشوم
څاڅکی څاڅکی
وینه څاڅي
مور یې ژاړي ګرېوان څیرې
لګوي تندی پر ځمکه
سولوي خاورې په خولې
وایي څه شو زوی مې څه شو؟

ما خو نن سهار چوف کړی
له قرانه مې تېر کړی
ټول سورت مې پرې ویلی
نو بیا ولې
نو بیا ولې
خدایه خدایه
لویه خدایه!
یو سپین ږیری هلته لرې
د پولیس ترخنګ ولاړ دی
څوک یې نه پرېږدي صحنې ته
د لونګۍ شمله یې خوله کې
پیڅکه سترګو ته نیولې
داسې ژاړي داسې ژاړي
لکه چا یې چې سینه کې
د ځیګر ټوټه رېبلې
زه هم ګورم تلوېزیون ته

د سکرین پرمخ بیا لیک شول

شل تېپیان، شل وژل شوي

شل لا نور هم لا درک دي

یو سربول، یو سندرغاړی

یو وکیل د قوم سپین ږیری

یو ښوونکی

زده کوونکی

یوه مور

او یو تي روی هم شامل دي

په تېپیانو

او په مړو کې

ژر مې لاس کړ ټلېفون ته

یوه نومره مې کړه ډایله

وروره څنګه یې خیریت دی؟

زه خو ښه یمه ته ښه یې؟

خو غږ نه راځي په فون کې

یو سورت دی، تلاوت دی

د قران د سورتونو

بیا مې زنګ

په زوره تېر کړ

وروره څنګه یې خیرت دی؟

بیا سورت دی

بیا سورت

تلاوت دی تلاوت

لږ شېبه انتظار وروسته

ټلېفون راغی له کوره

یو اواز و غریو نیولی

یو فریاد و غریو نیولی

ما ویل څه دي؟

ژر ووایه؟

هغه هغه...

هغه بم چې نن چاودلی

**ها ځانمرګی برید چې شوی**

**ها چې شل یې دي وژلي**

**ها چې شل یې ټپیان کړي**

**ها چې ته پرې نازېدلې**

**ها چې ته پرې ویاړېدلې**

**ها باتور او شمله ور**

**ها د قوم چې مخور**

**هغه ورور یې ستا وژلی**

**سترګو تور یې ستا وژلی.**

**۱۳۹۱ل کال، د چنګاښ ۲۴مه**

**ارګ، د جمهوري ریاست ماڼۍ، کابل**

# غلي خلک

ډېر دي راغلــي، ډېــر بــه راشــي او ډېــر تللــي خلــک
خو څو د ستورو پــه شــان پــاتې شــي ښــاغلي خلــک

د چا نه قبــر نــه يــې نــوم نــه يــې نښــان معلــوم وي
پــر هــر چــا نــه جــوړوي دغلتــه کــې څلــي خلــک

دا هم رواج دی چې هغــه پــه ژونــد کــې ډېــر يــادېږي
چې څوک د بل پر اوږو ناســت وي او بيــا ولــي خلــک

چـــې د غـــرور پـــر نیلـــي ســـور وي او لـــه عقلـــه پلـــی
هغـــه تـــه نـــه ښـــکاري ســـړي دا لانـــدي پلـــي خلـــک

چـــې د ســـرود پـــه ژبـــه پـــوه وي او د ســـاز پـــه ژبـــه
د وخت اړتیـــا ده داســـې پـــوه(!) داســـې منلـــي خلـــک

د اور پـــه مـــخ کـــې وي یـــو څـــو تنـــه ســـر زوري ولاړ
تـــر اوره وروســـته خـــو بیـــا نـــور وي ځلیـــدلي خلـــک

عجیبـــه وخـــت دی د غیـــرت چغـــې هماغـــه وهـــي
د اور شـــمال کـــې چـــې پټـــو لانـــدې وي غلـــي خلـــک.

۱۳۹۲ل کال، د لیندۍ، ۲۸مه، کابل

# مور ته مې

څـــومره چـــې نـــا ســـتړی ومـــه ســـتړی شـــوم
ســـــتا لـــــه دعاګـــــانو چـــــې نیمګـــــړی شـــــوم

تـــــــه وې چـــــــې وېـــــــل دې لنـــــــډوه لارې
اوس خـــــو زه هـــــر ګـــــام کـــــې دمـــــه وړی شـــــوم

مـــا خـــو ســـتا قـــدم پـــه اوښـــکو ښـــکل نـــه کـــړ
څـــــــومره دې مورجـــــــانې پـــــــوروړی شـــــــوم

یـــاد مـــې دې هغـــه شـــېبې پـــه یـــاد مـــې دې
ســـــتا لولـــــو تـــــه چـــــې خـــــوب وړی شـــــوم

ګـــــل ومـــــه غــــاتول وم ســـــتا لمنــــــه کــــې
ســــوی د ســــپېرې دښــــتې ســــرګړی شـــــوم

شــــاباس شــــاباس زویــــه ځــــه ورځــــه پــــر مــــخ
اوس خـــــو لکــــــه بــــاد بنکــــــه وړی شـــــوم

غــــر وې مــــورې څنــــګ تــــه بــــه دې ناســــت ومــــه
اوس خـــو مـــات بنګـــړی شـــومه کـــودړی شـــوم

پـــروت وم ســـــتا لمنـــــه کـــې ســـــتا مینـــــه کـــې
تـــول انســـــان انســـــان وم اوس وګـــــړی شـــــوم

'روح مــــې ســــــتا پــــه روح پــــورې تړلـــــی دی
ګرځمــــــه ژونــــــدی خــــو لکــــه مــــړی شــــوم.

۱۳۹۴ ل کال د ثور (۱۷)مه

***د (۱۳۹۴) ل کال د (ثور) میاشت کې مې مور وفات شوه، دا نظم مـــې د مور تر وفات وروسته د لومړني اختر په شپېو کې لیکلی و.***

# مور مې لاړه مور مې لاړه

خنګ چې به اختر ته څو شپې پاتې شوې
نو مور به مې په سترګو کې راتاوه شوه
شپې به مې تسبو غوندې
یوه یوه له شمېره څنې تېرې کړې
یوه، دوه او درې په خیر
مور به مې لغمان ښخه رابره شوه
کوچ به و، پنېر به و

ساېه به وو، مستې به وې
ډوډۍ د تناره به وې
څو څو دسمالونو کې به تاوې وې
یوه غوټه، په بلې پسې بله وه
زویه تناره ډوډۍ دې خوښې دي
خور دې درته ځان ته تنور واچوه
ورور ته مې ډوډۍ د تناره ځان سره یوسه
چې خوښېږي یې
ډېرې د خپل کور د تناره ډوډۍ
ډېر عمر له مورږ څخه جلا
ښار کې اوسېږي خو
بیا یې هم خپل کور کلی هېر نه شولو
بیا به یې لمسیان ورباندې ټول شولو
یو ته به چارمغز
بل ته هګۍ
نورو ته نور وو رنګارنګ خواړه
✶✶✶
کله چې به ورځ د اختر راغلله

نو پټ به يې په غوږ کې راته وويل
راکه زويه راکه اختری راته
زه مې لمسیو ته
خپل اختری خپله
په خپل لاس وېشم
ستاسو برخه خپله ده
ته پوهېږې ښځه دې
څو چې ورکوئ ورته
خو:
زه مې برخه خپله ورکوم ورته
ما به مې مېرمنې څخه
پټ لږ شان ګوښه ځای کې
اوه اته یا لس زره
پیسې منګول کې ورکړلې
دا نیمې د تا نیمې دې ټولو لمسیانو ته
بیا به نو دې یو یو لمسی وغوښتو
هه! (هیلې) دا واخله زر د تا شولې
هه! (سمسوره) واخله زر د تا شولې

**ها! (سولې) دا زر نو هم د تا شولې**

**واخله (ودانیه) زر د تا شولې**

**نورې مو نور مور او پلار نه واخلئ**

**څه چې غواړئ ترې**

**تاسې پوه شئ کار مو له هغوی سره**

**ما نه مو حساب د اختر خلاص شولو**

**بیا به یې لمسي ترېنه راتاو شولو**

**نه انۍ دا کمې دي**

**دا کمې دي**

**ډېره به یې سترې کړه**

**دې به په خندا، خندا کې وویل**

**هغه دی اغا مو خپل**

**هغه ممي جانه مو**

**پلار مو هم پیسې لري، دنیا لري**

**هر څوک یې ښه پېژني ښه یژني**

**مور مو هم وکیله ده**

**پیسې لري، پنځو باندې یاده**

**او ښاده ده**

زه خو نه پیسې لرم نه معاش
او خزانه لرم
بیا به یې لمسیان ترېنه راټول شولو
نه انۍ نه انۍ
داسې خو یې مور نه منو
تېر اختری پاتې شو
تاسو په لغمان کې وئ
مور دلته وو،
هغه درنه هم غواړو
بیا به  نوحساب د تېر اختر شولو
بیا به یې لمسیانو پرې ورغبرګه کړه
نه انۍ ستا پیسې ډېر خوند کوي
ستا اختری خوند کوي
دا برکتي دی ډېر...
✶✶✶
مور به مې ضرور اختر کې دلته وه
کوم اختر چې پاتې شو
نو ډېر سهار د وخته به

زنګ د تلېفون راغی
زویه زویه مور دې یم
ته څنګه یې
ویښ شوی یې؟
څنګه دي لمسیان مې
پاڅېدلي که ویده دي لا
زویه نن اختر دی
زه خو دلته یم
زړه خو مې ډېر غواړي چې زه هلته وای
خو:
څه وکړمه، مال مې دی احوال مې دی
چا باندې یې وسپارم
هره ورځ جنګونه دي مرګونه دي
هر سړی په خپل غم کې
ډوب شوی دی
زویه زړه مې ډېر غواړي چې هلته وای
خو څه وکړم؟.
زړه مې هلته تاسې سره

خو تش وجود مې دلته دی
(سوله)، (ودانی)، (سمسور) او (هیله) مې
له سترګو څخه نه وځي
څه وکړمه زویه چې:
مال و حال مې دلته دی
هېڅ چاره مې نه شته ترې
هر یو به زما له خوا نه ښکل کړې ته
خپل خپل اختری به ورته وساتم
کله چې زه درشم ورته وایه چې خفه نه شي
اوه! زویه بله خبر دا کوم
یو ټلېفون هم راته راولېږه
څه وکړم
په چل د خدای وهلي هم پوهېږم نه
خو خور نه به دې زده کړمه
تاپسې زه ډېره خفه کېږمه
خپل چې ټلېفون مې وي
ژر به دې احوال اخلم
زړه به مې خوشاله شي

زویه زړه مې تنګ وي ډېر
خپل لمسیان مې سترګو سترګو ته
ودرېږي تل
نه پوهېږم څه راباندې ونه شي؟
✷✷✷
سږ کال لا روژې ته
څه وخت پاتې و
زړه کې مې یو ډول وسوسه وه اندېښنه وه او
څه غلې شان خپه د غم
زړه مې ډېر درب درب کاوه
چې مور ته مې څه پېښ نه شي!؟
✷✷✷
شپه وه نیمه شپه وه
چې یو زنګ راغی
زه یم لالا زه (حبیب الله) یم
له لغمان څخه
مور بي بي ناروغه ده
او زه اوس په روغتون کې یم
لاره کې یې ډېر ویل

چې زوی مې راخبر کړئ
چې ویې ګورم
ما ویل اوس څنګه ده؟
ده ویل بې هوښه ده
ډاکتر وایي خبرې سره مه کړئ
چې ارامه شي
ټوله شپه مې مور سترګو کې پټه وه
کله چې به لږ شېبه خوب وړی وم
نو: د مور پر زنګانه باندې
ویده به وم
مور مې ډېره غلې پرېشانه وه
هېڅ یې راته نه ویل
هر څو چې مې وویل
مورې ولې؟
مور مې غلې وه، پرېشانه
هېڅ څه یې ونه ویل
سترګې یې رنې وې
ما رنې رنې کتل ورته

**تر ملا اذانه وخته**
**بیا زنګ راغی، زنګ وهلی**
**یو د وېرې او د غم لړزې نیولی**
**ما ویل خیر دی مور مې ښه ده**
**یو اواز و غریو نیولی**
**نه خبره پوره وشوه**
**نه خبره بې مفهومه**
**ويي مور بي بي**
**ويي مور بي بي**
**په حق په حق په...**
**نور نو پوه شوم چې مور تللې**
**په دایمي سفر وتلې**
**دا چې ټوله شپه مې خوب کې**
**پرېشانه وه لیدلې**
**دا په دا چې د ژوندون د پای شپېبو کې**
**زه يې مخ ته ولې نه وم ودرېدلی**
**دا به دې وخت کې دردو وي**
**څومره څومره کړولې**

دا چې دا به په دې وخت کې
نهیلیو وي بېشانه څورولې
دا چې بیا به په دې وخت کې
ټولې لونې اولادونه
یو یو زړه ته ودرېدلي
مور مې لاړه مور مې لاړه
ما خو دې وخت کې
بې خدایه هېڅ ارزو نه شوه لرلی
ژر مې لاس که
د انسان پانګې وروستۍ ته
هغه سپین کفن د سان ته
ما له حجه و راوړی
خپلې مور ته مې ساتلی
دا کفن مې و په غېږه کې نیولی
تر روغتونه مې ژړلي
چې مې مور ته ورنږدې شوم
نو په غېږ کې مې نیولې
د مور سترګې مې وې پټې

که هر څو مې فریاد وکړ
خو یې سترګې رڼې نه شوې
خو په شونډو یې
موسکا وه
یوه غلې شان خندا وه
لکه داسې راته
زویه ښه شو چې ته راغلې
دا وروستی دیدن خو وشو
که نه څومره به ارمان و
او د تا به هم ارمان و
زویه ښه شو چې ته راغلې
دا وروستی دیدن خو ښه و
مور مې غېږ کې وه نیولې
تر لغمانه رسولې
خو تر خپلې هدیرې نه
هلته بل شانې فضا وه
په دې ټوله شنه دره کې
د جګړې خوره بلا وه

خویندې ټولې مې راټولې
وروره مه ځه پورته مه ځه
هلته بل ماتم خور شوی
هلته بله واویلا ده
مور مو وږو خپلې دېرې ته
ستا د پلار خپلې هوجرې ته
بیا یې خپلې هدیرې
دا چې ستا دیدن پرې وشو
دا چې ستا پر زنګانه یې
سر و ایښی
دا زمورِ زړه ته تسکین شو
وروره ځه
خدای پاماني واخله
مور دې نوره لیدی نه شې
مور دې نوره کتی نه شې
دا ددې د زړه ارمان و
د ژوندون وروستۍ شېبو کې
چې د خپل زوی دیدن وکړم

دا ارمان زمورږ پوره شو

دا ارمان ددې پوره شو

دا ارمان دتا پوره شو

نور نو څه زیاتي دعا کړه

خدای د مور لاره رڼا کړه

نور نو دلته پاتې نه شې

دلته هم اورونه بل دي

تر هر پل لاندې هم دلته

په لسو غمونه بل دي

ما مې مور په سترګو ښکل کړه

دا د خپل سفر پر لوري

زه د خپل سفر پر لوري

لارې لارې مو جلا شوې

***

شپې او ورځې تېرېدلې

غمېدلې دردېدلې

روژه هم شوله رابره

ځو شپې پاتې شوې اختر ته

مور مې بيا سترګو کې ګرځي
لکه وي خپله دېره کې
هسې نه چې هديره کې
زړه مې وايي چې راځي به
اختر دلته تېروي به
خپل لمسيان به ترې راتاو وي
اختري هم ورکوي به

***

د کوچني اختر لومړۍ ورځ
ماشومان دي غلي غلي
نه موسکا شته نه خندا شته
نه څوک وايي اختري دی
يا زياتی دی يا کمی دی
نه له پلار سره جنجال دی
نه له مور سره دعوه شته
نه احوال نه تليفون دی
نن څه بل شان اوښتون دی
لکه څه مې چې ورک کړي

**لکه باد بنهکه ګرځم**

**اخوا دېخوا سرګردانه**

**نه لغمان څخه احوال دی**

**نه د مور د خولې اواز دی**

**پرېشانه ځورېدلی**

**یم په ویښه خوبولی**

**په دې وخت کې له لغمانه**

**یو زنګ راغی غریو نیولی**

**زه یم خور دې غږ مې اورې؟**

**زه یم خور دې غږ مې اورې؟**

**ما ویل هو خبره اورم**

**وې یې وروره غږ مې اورې**

**ما ویل هو خبره اورم**

**وې تللې وم قبرو ته**

**نن د مور دې څلوېښتې ده**

**ستا سلام مې پر مور ووې**

**تا به طمع نن لرله**

**چې ضرور به مې مور ماته**

له لغمانه تلیفون کړي
مور مې دغه تلیفون نه
تاته هر وخت زنګ وهلو
راته وې به لورې ژر شه
ورور دې رخ که زړه مې تنګ دی
نن اختر دی مور مې نه شته
هغه تللې ډېره لرې
زه نن لاړم
د هغې ابدي کور ته
ستا سلام مې ورته ووې
ورته وې مې
زوی دې لرې دی له تانه
هغه نه شي راتلای د تا ترڅنګه
دلته اور دی دلته جنګ دی
دلته هر قدم کې غم دی ډېر بدرنګ دی
مور دې نه کړي ګیله تانه
نن د مور سلام زه تاته
په همغه شکل وایم: او د مور په ژبه وایم

**زویه څنګه؟ ته ښه یې**

**اولادونه دې هم ښه دي**

**(ودانی)، (سوله)، (سمسور) (هیله) هم ښه دي**

**مور یې ښه ده؟**

**او ته څنګه یې ته ښه یې**

**زه خو ښه یم زویه ښه یم**

**خدای دې تا راته لري، ستا**

**اولادونه!**


د ټولنپوهنې له نظره:
په افغانستان کې د واک جوړښتونه
لیکوال
پوهنوال دوکتور م عثمان تره کي
ژباړن
محمداسمعیل یون
۱۳۸۷ل

## د ټولنپوهنې له نظره:

# په افغانستان کې د واک جوړښتونه

لیکوال

ډاکټر.م. عثمان روستار تره کی

ژباړن

محمد اسمعیل یون

# بسم الله الرحمن الرحيم


**کتاب پېژندنه:**


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه |
| لیکوال: | ډاکټر.م.عثمان روستار تره کی |
| ژباړن: | پوهیالی محمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۷۷ل کال |
| دویم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د ژباړن پرله پسې نومره: | (۱۲) |
| د خپرندوی پرله پسې نومره: | (۱۲) |
| کمپوزر: | ضیاءالرحمن ضیاء |

# دالی!

**هغو افغانانو ته، چې د سولې، ولسواکۍ او خپلواکۍ د اساسي ضمانت په توګه، د مرکزي او ملي حکومت د ټینګښت لپاره جنګېږي.**

# ددې اثر دویم چاپ

دا اثر لومړی ځل له نن څخه لس کاله دمخه ( پر ۱۳۷۷ل کـال) (د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې) له خوا چاپ شوی و. ځینــې محتویات یې د همغه وخت او حالاتو د پېښو څرګندونه کوي، خو څرنګه چې دا اثر په ډېر دقیق ډول لیکل شــوی او د ټولنپــوهنې د علــم لــه معیارونو سره سم یې د افغاني ټــولنې د واک او ژوند جوړښتونه پر هر اړخیز ډول شنلي، نو ځکه خو که ډېر وخت پرې هم تېر شي، د کتاب اساسي محتــوا خپــل موثریت له لاسه نه ورکوي. دا کتاب نــه یوازې د ټولنپوهنې مینه والو ته د زیات ارزښت وړ دی، بلکې هغه چاته، چې پــه سیاســي مســایلو کــې ګــوتې وهــي؛ سیاستوال وي او که سیاستپوه، هغو ته هم د زیات ارزښت وړ دی، په تېــره بیــا سیاستوالو ته. دوی که چېرې دا اثر په ځیر سره ولولي، نو په اوسنیو او راتلونکو سیاسي چلندونو کې به له زیات احتیاط او دقــت څخــه کــار واخلي او دا کار به نه یوازې زموږ د ټولنې په ګټه تمام شي، بلکې خپله همغه سیاستوال ته به هم تر هر چا زیات ګټور پرېوزي.




زموږ په ټولنه کې د دا ډول سیاسي اثارو د لیکنې ګټه ځکه زیاته ده، چې زموږ ټولنه سیاستوالو د همدې سیاسي تېروتنو له امله پر اوسنیو بدمرغیو ککړه کړې ده.

استاد ډاکتر محمدعثمان روستار تره کی، د سیاســتوالو د همــدې تېروتنو قرباني شوی او نږدې شپږ کاله یې د زندان سختې شپې ورځې زغملي دي. دی د یو سیاستپوه او ټولنپوه او د هغه شخص په توګه، چې هم سیاسي بدمرغیو کړولی او هم یې د غمیزې ټول بهیر په زور او زېر سره له نږدې څارلی، تر ټولو زیات زموږ د ټولنــو سیاســي او تــولنیزو ناروغیو ته متوجه شوی دی. ده دا هره ناروغي او نیمګړتیــا لــه خپــل علمي زره لید څخه تېره کړې، شنلې او ارزولې ده او په پای کې یــې د علاج او درملنې نسخه هم وړاندې کړې ده. کــه دا کتــاب د سیاســت مینوال، لېوال او د عملي ډګر لوبغاړي په دقت ولولي او هغه هضم کړي، نو پوره باور دی، چې نه یوازې خپله به د زیاتو سیاسي تېروتنو مرتکب نه شي، بلکې د نورو سیاستوالو د تېروتنو او جنایتونو مخنیوی به هــم وکړي.

د همداسې ورځې په هیله

په درنښت

پوهندوی محمد اسمعیل یون

ارګ، د جمهوري ریاست ودانۍ

کابل- افغانستان

۱۳۸۷ل کال د کب ۲۴مه نېټه

# د خپرندوی یادښت

زموږ ګران هېواد افغانستان نه یوازې د هېواد د سترو اتلانو او ساتونکو استوګنځی و، بلکې ستر تمدنونه یې هم رازېږولي، په دیني او دنیایي پوهنو کې یې ستر ستر پوهان بشریت ته وړاندې کړي دي. زموږ تاریخ له ډېرو لوړو ژورو ډک دی، یو وخت دا خاوره په سیمه کې د پوهې، هنر او سیاست مرکز و او ځینې وخت د نړیوالو ښکېلاکګرو او نړۍ نیونکو د لښکرکښیو قرباني شوې هم ده.

په داسې حال کې چې پخوا دا هېواد د پوهې او فرهنګ مرکز و، خو په معاصر تاریخ کې زموږ خلک تل د سیمې او نړۍ د ځواکونو له یرغلونو سره لاس او ګرېوان وو. خپل ټول ځواک یې د هېواد او ملي نوامیسو د دفاع په لاره کې لګولی او د دې وخت یې پیدا کړی نه دی، چې د پوهې او هنر ډیوه نوره هم روښانه کړي. بیاهم د هېواد پوهانو هڅه کوله له سترو مالي او سیاسي ستونزو سره سره د خپلو لاس لرلو امکاناتو تر بریده د پوهې دودولو او تدریس ته دوام ورکړي. زموږ په هېواد کې د پوهنیزو او کلتوري چارو وده، قناعت ښوونکې نه وه، خو کلتوري انحطاط هم واکمن نه و، ددې هیله موجوده وه، چې د وخت له غوښتنو سره سم د پوهنیزو او کلتوري چارو پرمخبیولو کې سترې بریاوې زموږ د خلکو په برخه شي. خو په خواشینۍ سره چې پر ۱۹۷۸م کال کمونیستي کودتا او ورپسې زموږ پر هېواد د سرو لښکرو یرغل د ټولنیز ژوند په ټولو برخو کې د ګډوډیو پیل و. کمونست ګوند او یرغلګرو ځواکونو غوښتل د زور او دولتي واک په واسطه د دې خاورې خپلواک

ملي هویت له منځه یوسي، د هېواد تاریخ تحریف او ټولــو اقتصــادي، سیاسي، کلتوري او ټولنیزو پدیدو ته، له شوروي څخه راغلی سور رنګ ورکړي.

بې شمېره هېوادپال پوهان او متخصصین قرباني شول، لــه هېــواد څخه د مغزونو فرار پیل شو، د هېواد زېربنا او اقتصادي بنسټ ویجاړ شو او په پای کې د دولتي اداري جوړښت له منځه لاړ، د پردیو او ګاونــډیو هېوادونو له غرضه ډک لاسونه د هېواد ګوټ ګوټ ته ورسېدل. د پرچم، ملي ستم، وحدت حزب او اسلامي جمعیت ګډه کودتا، چې د روسیې او ګاونډیو هېوادو دجاسوسي کړیو له خــواپلان شــوې وه او د نوموړیــو هېوادونو عملي ملاتړ یې درلود، بشپړه سیاسي، اقتصادي، کلتــوري او اخلاقي ړنګونه یې رامنځته کړه، چې د هغو تشریح ددې سریزې له زغم نه وتلې خبره ده.

د ژوند د ټولو برخو بیا رغونه د اوسني او راتلونکي پښت ستره او لویه دنده ده. په هېواد کې د سولې او حقوقي دولت له نشتوالي سره سره، ټول هېوادپال کسان مسوولیت لري، چې په هېواد کې د عادي ژوند د بېرته راګرځېدلو لپاره، د خپلو امکاناتو تر بریده هڅې وکړي، د پوهنیزو او روزنیزو موسسو بیارغونه او د پوهنیزو او کلتوري چارو لپــاره هلــې ځلې هغه ستر مسوولیتونه دي، چې په دې لړ کې راځي.

دا کتاب په هېواد کې د نومیالیو ملي، سیاســي، علمــي او ټــولنیزو شخصیتونو څخه د یوه شخص اثر دی؛ پوهنوال استاد روستار تره کي دا اثر نه یوازې د جهاد په سختو شرایطو کې لیکلی، بلکې دی په خپله د افغاني او ملي هویت د بیاځلونې د مبارزینو په مخکښانو کې دی. ده په

افغاني خپرونو کې په حیرانوونکي جرئت او غوځ منطق سره د پردیو له دسیسو نه پرده پورته کړې او د افغانستان خلک یې لـه هغـو سـترو خطرونو څخه چې زموږ هېواد او خلکو ته متوجه وو، خبر کړي دي.

د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنــه، چــې پـر دې وروســتیو وختونو په المان هېواد کې د کلتوري انحطاط پر وړاندې د مبارزې لپاره جوړه شوې ده. د هېواد په دواړو ژبو پښتو او دري ددې کتاب د خپرونې ویاړ لري.

## په درناوي
## د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنه

# د لیکوال پېژندګلوي

پوهنوال ډاکټر محمد عثمان روستار تره کی د هېواد له لویو ملـــي، علمي او سیاسي شخصیتونو څخه دی. دی پر (۱۳۲۰ل) کال د کابل ښار په یوې پوهنیزې او فاضلې کورنۍ کې زېږېدلی دی. ده خپلې منځنـــۍ زده کړې پر (۱۳۳۹ل) کال په استقلال لېسه کې پایته ورســـولې او پـــر (۱۳۴۳ل) کال د کابل پوهنتون له حقوقو او سیاسي علومو پـــوهنځي څخه فارغ شو. ډاکټر محمد عثمان روستار تره کی پر (۱۳۴۶ل) کال د لوړو زده کړو لپاره فرانسې هېواد ته لاړ او پـــر (۱۳۵۰ل) کـــال د عامـــه حقوقو په څانګه کې د دوکتورا ډپلوم په اخیستلو بریالی شو.

ډاکټر روستار تره کی پر ( ۱۳۵۱ل) کال د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د تدریسي کدر غړی شو.

نوموړی د ۱۳۶۱ل کـــال د غویي(ثـــور) پـــر میاشـــت د افغانســـتان د استادانو او ښوونکو د ټولنې په  کدر کې د فعال غړیتوب له امله چې د شوروي یرغل پر ضد، د پوهنتون او معارف د ښوونکو د مقاومت لپـــاره جوړه شوې وه، ونیول شو. د لاسپوڅي کمونیست رژیم څارنوالۍ، د تش په نامه انقلابي محاکمې، د یوې ناڅرګندې غونډې په ترڅ کې، ډاکتـــر محمدعثمان روستار تره کي ته، د اعدام سزا غوښتنه وکړه. محکمې په

وراندیز شوي سند کې نرمښت راوست او دی یې په لس کاله زندان محکوم کړ. د دې حکم پاڼه به په راتلونکي مخ کې ولولئ.

ډاکټر محمد عثمان روستار تره کی د نړیوالو ټولنو، په ځانګړي ډول د بښنې نړیوال سازمان او د ملګرو ملتو د بشر حقوقو د کمېسیون راپورتر (ارمه کورا) په هڅو او اغېزو د (۱۳۶۶ل) کال د وږي پر میاشت د پینځه کلن بند تر تېرولو وروسته، له زندانه خوشې شو.

د روڼاندو په باب له دود سره سم د خاد پالیسیو، دا غوښتل چې ډاکټر محمد عثمان تره کی باید له زندان څخه تر خلاصون وروسته تر څارنې لاندې وي، چې بهر ته یې د تلو مخه ونیول شي. نوموړي له زندان څخه تر راوتلو وروسته، د خپلې مبارزې دوام او بهر ته د تلو هدف پټ وساته، یو ځل یې په پوهنتون کې پر خپلې تدریسي دندې پیل وکړ. ډاکټر روستار تره کي د مبارزې د دوام لپاره زیات مجال پیدا نه کړ. دی یو ځل بیا د (۱۳۶۸ل) کال د غبرګولي پر میاشت، د (واد) په اووم ریاست کې زنداني شو او جسمي شکنجه ورکړل شوه. دا ځل د ناروغۍ او د پوهنتون د استادانو د هغې غونډې د درناوي په خاطر، چې د جمهوري ریاست په مقر کې، د ډاکټر نجیب الله د وینا د اورېدلو لپاره جوړه شوې وه، تر یو میاشتني زندان وروسته خوشې شو.


ډاکټر تره کی، چې نږدې (۱۵) کاله یې په حقوقو پوهنځي کې تدریس کړی دی، د حقوقو او سیاست په څانګه کې د ګڼو تالیفونو لرونکی دی، چې ځینې تر کمونیستي کودتا دمخه کلونو کې د پلازمېنې په خپرونو او ځینې یې تر کډوالۍ (مهاجرت) وروسته د هجرت په خپرونو کې خپاره شوي دي.

**ډاکټر محمد عثمان روستار تره کی د فرانسې، المان، ایټالیا، سویس، اتریش، یونان، ترکیې، یوګوسلاویا او ایران هېوادونو ته سفرونه کړي، پر (۱۳۶۸ل) کال یې لومړی پاکستان او بیا پر (۱۳۷۰ ل) کال فرانسې تــه هجرت کړی دی.**

**نوموړی څلور زامن لري.**

**په درناوي**

**خپرندوی**


دولت جمهوری دموکراتیک افغانستان
مورخه ۲۹/۲/۱۳۶۲
ریاست محکمه اختصاصی انقلابی
نمبر (۶۱)
پارچه ابلاغ حکم
دیوان ( ) محکمه اختصاصی انقلابی در جلسه قضائی مورخه ۱۳۶۲ حکم ذیل را صادر نمود
بدینوسیله خلاصه نص حکم بشما ابلاغ شد.
محل امضا رئیس محکمه
محل امضا مامور موظف

# سریزه

د انساني ټولنو او ټولنیزو پېښو پوهنیزې مطالعې ته، ټولنپوهنه یا سوسیولوژي وایي، چې له ابژیکتیف تحلیل، شمېریزو (احصایه یي) بېلګو او نورو څخه د خپل کار د لارې (مېتود) لپاره ګټه پورته کوي.

که چېرې ټولنپوهنه، د ټولنې د فعالیت او تشکل د مطالعې وسیله وګڼو، نو ((اګوست کانت)) (۱۸۱۹-۱۸۲۶) باید د هغې د بنسټ ایښودونکي په توګه وپېژندل شي. ده ټولنپوهنه یوه ګټوره پوهه ګڼله. ((دورکیهم)) (۱۸۹۴) لومړنی سړی دی، چې د ټولنیزو پېښو د څېړنې لپاره یې د داسې مطالعې لار ښېرته کړه چې پر پوهنیزو(میتودیکو) بنسټونو ولاړه وي. تر ده وروسته ((ماکس ویبر)) (۱۸۶۴-۱۹۲۰)، ((پول فلکس)) (۱۹۰۱-۱۹۷۶)، ((تلکوت پرسان)) (۱۹۰۲-۱۹۷۹) او نورو په خپل وار سره د ټولنپوهنې دمیتودونو د پلټنې او د موضوعګانو د سپړنې په برخه کې کار وکړ.

په هر ډول! د ځواک د پیدا کېدو څرنګوالی، دهغه د کارونې ځایونه او د هغه دنده، له هغو سترو ټولنیزو پېښو څخه دي، چې د ټولنپوهنې د مطالعې منځی (محور) جوړوي. که چېرې ځواک د دولتي تشکیل په

اډانه کې ځای شي او یا د نفوذ رسالت د دولت داخــل تــه لاره ولــري، سیاسي ټولنپوهنه یې مطالعه کوي.

تر لاس لاندې اثر کې لیکوال هڅه کړې، د دولت د تشکیل له مــنځ څخه تر قاعدې پورې د ځواک جوړښتونه مطالعه کړي او همدارنګــه د ځواک نښې نښانې له پورته څخه نیولې تر ولسي تیتو پرکو هغو پورې په مقدماتي توګه په لنډیز سره وڅېړي.

په افغانستان کې قهر (خشونت) او روغه د تاریخ په غېږ کې د پېښو زېږوونکو پدیدو په توګه، د ټولنپوهنې غــوره موضــوعګانې جــوړوي. لیکوال په لنډیز سره په دوو برخو کې، د دغو دوو پدیدو یادونه کړې ده.

دا ټکی هم د یادونې وړ دی، چې د شــننې (تحلیــل) د اکــاډمیکې طریقې رعایت تل د پام وړ دی، د شمېرنو او ارقامو منځپانګې یا محتوا ته د اخباري او ژورنالیستکو خبرو یو څه رنګ ورکړل شوی، له لیکوال څخه د ژور، ځیرمن او پراخ بحث مجال اخیستل شوی دی.

له نابشپړتیاوو او نیمګړتیاوو سره سره، دا لیکنه د افغاني ټولنپوهنې د یوې لنډې پیلامې په توګه، کولای شي، د نظر د څښــتنانو د ژورو او پراخو پلټنو لپاره د هڅونې سبب شي.

د اثر په لیکنه کې د لیکوال له ذهني پانګې څخه ډېره ګټه اخیستل شوې، په هغو ځایو کې چې له سرچینو او اخځونو څخه بهر، د حافظې له یادښتونو څخه کار اخیستل شوی، هغو ته په لمنلیــک کــې اشــاره شوې ده.

د یادونې بل ټکی دا دی، چې د دې رسالې ځینې برخې د هغو لیکنو را اخیستنه (اقتباس) دی، چې د لیکوال په قلم، پر وروستیو کلونــو د

هجرت چاپېریال په افغاني خپرونو کې خپرې شوې او د رسالې تر بحث لاندې موضوع سره یې په یو نه یو ډول اړه پیدا کړې ده.

دا سریزه به نیمګړې پاتې شي، چې له خپلو هغو ننګیالیو ځوانانو نه، چې د چاپ او خپرونې د فرهنګي کمېټې له لارې یې، په خپله خوښه، د دې رسالې د چاپ، خپرولو او وېشلو نوښت کړی، مننه او منندې ونه کړم. دا ښاغلي دادي: ښاغلی جمال رحمان او ښاغلی خلیل رحمان رسولي.

فرانسه

د۱۹۹۷ کال مارچ

پوهنوال ډاکټر محمدعثمان روستار تره کی

# لومړۍ برخه

## د ټولنیز او سیاسي ژوند ارزښتونه

**لومړی څپرکی:** د افغانستان تعاملي او دودیزه ټولنه، د ټـولنیز او سیاسي ژوند د ځانګړو (ضوابطو) درلودونکې ده. په دې ټولنــه کــې د اسلام دین، جهاد او غزا، قبیله یي اړیکي، کلیــوالي او ملــي جرګــې، ملتپالنه او سلطنتي دستګاه، د دولت د جوړښت بنسټونه جوړوي.

**دویم څپرکی:** له مذهب، قبیلې او کورنۍ، شتمنۍ، سن او د ژوند تجربې، بوروکراسۍ د جهاد قوماندې، ټکنوکراسۍ، اردو او ایــډیولوژۍ څخه د سیاسي ځواک د ملاتړو توکو په توګه ګټه اخیستل شوې ده.

**دریم څپرکی:** د دودیزې قبیله یي دیموکراسۍ رعایت، د افغاني ټولنې ستونزمنې او پېچلې څېرې او د هغې نامتجانس قومي او قبیله‌یي

جوړښت ټولنې ته تر یو حده ثبات او انډول ورکوي. خو په ټولیز ډول زور او (قهر) د سیاسي لوبو واکمن توکي (عنصر) ګڼل کېږي.

افغاني ټولنه له خپلو کړکېچنو او جنجالیزو پېښو سره سره، چې ځینې وخت ان د هغې د ژوند دوام تر پوښتنې لاندې راولي، کېدی شي د وخت له ازمېښت څخه روغه رمټه راووځي؟

د ورځې ستره پوښتنه همدا ده، چې موږ د هغې د ځواب لپاره، له سیاسي ټولنپوهنې (Sociologie Politique) څخه مرسته غواړو.

# لومړی څپرکی

## د دولت د جوړښت بنسټونه

**الف- د اسلام دین:** د افغانستان په تاریخ کې ملي پاڅونونه، چې د یو واحد ملي دولت د جوړېدو سبب شوي، تل له مذهبي ملاتړ څخه برخمن وو. د (۱۹)مې پېړۍ په پای او د (۲۰)مې پېړۍ په پیل کې، د انګلیس د یرغل پر وړاندې، د افغانستان د خلکو پاڅونونو همدغه مذهبي او ملي انګېرنې درلودلې.

په اتیایمو کلونو کې د روسي یرغلګرو پر ضد، زموږ د خلکو ملي او اسلامي جهاد، زیاتره د افغانستان د اسلامي هویت پر بنسټ ډېره لګوله. خو له دې سره سره د افغانستان په تاریخ کې اسلام او ملتپالنه له یو بل سره اوبدل شوي دي. په دې کې شک نه شته چې موږ ان تر اسلام دمخه په خپل هېواد کې د سیمه ییزو (جبهو) لرونکي، ملي غورځنګونه درلودل، خو تر هغه وخت پورې چې دا غورځنګونه له مذهبي ارزښتونو سره یوځای شوي نه وو، ټینګې او پراخه اغېزې یې نه درلودلې. اسلام که له یوې خوا د افغانستان د خلکو د اسلامي او ملي هویت د دفاع اساسي او خوځنده عنصر، له بلې خوا یې ګڼ قومیزې او نامتجانسې افغاني ټولنې ته تجانس او یووالی ورباښه. افغاني قومونه او قبایل د اسلام تر بیرغ او لارښوونو لاندې د روحانیت پر یو واحد مرکز ګروهمن

(معتقد) شول او دې کار د ټولنې په سیاسي ثبات، په ځانګړي ډول، هغه وخت چې سلطنت د سیاسي خبرو پر (بلا منازع) مرکز بدل شو، ملـــي یووالی یې تامین کړ او د بیعت یوه سرچینه وګرځېده، نو په دې بهیر کې اسلام ډېر موثر واقع شو.

په افغانستان کې مذهب او سیاست یو له بله بېل شــوي نــه دي. د هېواد په تېرو قوانینو کې، د دولتي ځواک د نیولو لپاره، دا شرط و، چې واکمنان باید مسلمانان وي. واکمنو د خپل واک د ساتنې لپاره، تل لــه اسلامي فقهې کار اخیستی، له خلکو یې بیعت اخیستی او د مــذهبي مناسکو د ترسره کولو پر وخت د خلکو ترڅنګ ودرېدلي دي.

په افغانستان کې د قوانینو زیاته برخه د اسلامي شــریعت (حنفــي مذهب) پر بنسټ ولاړه ده. له ډېرې پخوا څخه د ځانګړو دیني مدرسو جوړول، د خلکو د دودیزو (تعاملي) حقوقو برخه کنټل کېده او د دولت له خواپرې هېڅ ډول بندیز لګول شوی نــه و. د د دولــت پــه تعلیمــي موسسو کې د دیني پوهنو تدریس د لومړنیو، منځنیو او لوړو زده کړو د پروګرام یوه برخه وه. په پایله کې ویلای شو، چې د یو اسلامي هېواد په توګه په افغانستان کې دین، ملتپالنه او سیاست ګډ او څنګ په څنګ دي.

**ب- جهاد او غزا:** جهاد او غزا سپېڅلې جګړې ته وایــي. پــه افغانستان کې تر اسلام وروسته، د یو نامسلمان یرغلګر پر وړانــدې د دین، هېواد او ملي نوامیسو دفاع، د جهاد تر بیرغ لاندې ترسره شــوې ده.

**کله چې جهاد له افغاني ملتپالنې سره غاړه غړۍ شوی، نو افغانستان ګاونډیو هېوادو ته د اسلام دین، افغاني فرهنګ او ژبې د خپرېدو پر یوه محور بدل شوی او د حقوقي دولت د جوړښت د بنسټ کار یې ورکړی دی.**

**په داسې حال کې چې جهاد د یـاد وړ سـوبو او لویـو امپراتوریـو د جوړېدو لپاره وسیله وه، د اسلام دین په ښه توګه د دغو ګـڼ قـومیزه امپراتوریو تجانس او سیاسي سمون تامین کړی دی.**

**د افغانستان خلک د ملي یووالي له هغه یوازیني ځواکمن احسـاس څخه، چې د جهاد په بهیر کې یې لاره، د ژوند پـه عـادي چـارو کـې ورځخه یو څه بې برخې و.**

**تر هغه وخت پورې، چې جهاد د تاج و تخت د مدعیانو د سوداګرۍ او ګټې پر ناروغۍ نه و اخته شوی او په هېواد کې د نویو لوبغاړو د رانیولو لپاره، د بهرنیانو لاسـوهنې زیـاتې شـوې او پراخــه شـوې نــه وې، د افغانستان بېلابېلو قومونو د یو واحد ملت په چوکاټ کې، د پاملرنې وړ یووالی درلود. پر هغه وخت د افغانستان خلکو، په جهاد کې تــر بــري وروسته په یو زړه او یوه غږ داسې سیاسي او ټولنیز بنسټونه جوړ کړل، چې د یو نوي (عصري) دولـت جوړښـت تـه یـې لاره اواره کـړه. پـه افغانستان کې د (۱۹)مې پېړۍ په پای او د (۲۰)مې پېړۍ په پیل کــې د حقوقو یا حقوقي دولت ستر جوړښتونه، لکه مرکزي حکومت، پارلمان او د جهاد تر بري وروسته قضایي جوړښتونه، د خپلواکۍ ګټل او د انګرېزي ښکېلاک ماتې، زموږ د خلکو په برخه شوي دي.**

د افغانستان د پښتني قبايلو ترمنځ جهاد له قبيله يي دود سره په ښه شان اوبدل شوی دی. خلک د جهاد اعلان په ملي اتڼ سره لمانځي، په ګرمو ولولو ډول او نغاره نر، ښځې او ځوانان د غزا ډګر ته رابولي.

ښځې د جهاد لپاره د نارينه وو په سرښندنه کې ستره ونډه لري، دپښتو حماسي لنډيو بيتونه ددې اند ښکارندويي کوي لکه:

که تور اوربل مې ميراتېږي

د دين غزا ده جانان نه منع کومه

او يا

که په ميوند کې شهيد نه شوې

خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه

## ج- قومي او قبيله يي اړيکي (مناسبات):

په افغانستان کې بېلابېل قومونه او قبايل ژوند کوي؛ پښتانه، تاجک، هزاره، ازبک او ترکمن يې غټ قومونه دي. پښتانه د افغاني ټولنې په جوړښت کې واکمن عنصر جوړوي. له (۱۸)مې پېړۍ څخه يې د شوروي تر يرغله پورې، په افغانستان کې د نورو قومونو د نږدې او صميمانه ملګرتيا په همکارۍ، دولتي او سياسي واک په لاس کې لاره او د افغانستان د دولت بنسټ ايښودونکي ګڼل کېږي. ناپښتنو قومونو په تاريخ کې هېڅ وخت هم له دې واکمن عنصر سره دسياسي واک لپاره يو جدي وسلوال رقابت نه دی کړی او نه يې دا مورچل غوره کړی دی، تل يې د هېواد د ادارې په برخه کې دويم رول منلی و، دې وضعې د هېواد سياسي او ټولنيز ثبات تضمين کړی و.

د (۱۹۷۹م) کال د دسمبر پر میاشت، کله چې شورویانو پر افغانستان یرغل وکړ، پر همدې وخت ځینې قومي لږکي (اقلیتونه) د پښتنو د سیاسي واک د قدرت یا د تاریخي چلوونکي (متصدي) پر ضد وښورېدل.

## د- لویه جرګه:

## یو- د قبیله یي ولسواکۍ په ټینګښت کې د لویې جرګې اغېز:

لویه جرګه چې له ملي، ټولنیزو، مذهبي شخصیتونو او د قومونو او قبایلو له نامتو مشرانو څخه جوړېږي، د قبیله یي ولسواکۍ د نظام په سیوري کې، د ژوند د دوام لپاره د افغان ملت د ارادې سیاسي او حقوقي څرګندوی بلل کېږي.

(لویې جرګې) د افغاني ټولنې د ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي او رواني شرایطو زېږندې دي، چې دودیزې او ځاني ولسواکۍ (دیموکراسۍ) هم په خپله لمن کې رانغاړي. همدا لویې جرګې دي، چې د یو واحد ملي ارمان او یا هم د واکمنو د سیاسي موضع د ثبیت لپاره یې تاریخي پېښې سره اوډلي دي. په داسې حال کې چې لیبرالي ولسواکۍ د ناسم پیوند په شان، د پردیو د تقلید څرګندونه کړې ده، خو لویه جرګه د دویزې ډیموکراسۍ په توګه، د هېواد په تاریخ کې ژورې ریښې لري.

(لویې جرګې) تر نورو جرګو لوړې دي او (د پارلمان په ګډون) د دولت تر ټولو برخو زیات حقوقي صلاحیت لري، ان په نامستقیم ډول ( د واکمن له لارې) د افغانستان د معاصر دولت په جوړښت کې، د ملي واکمنۍ د ځواک وسیله ګرځېدلې ده.

لویو جرګو په دې لاندې چارو کې هم خپــل اغېــز شــیندلی دی: د واکمن ټاکنه، د اساسي قانون تصویب، د عادي قوانینو تصویب او بدلون، د بهرني سیاست په برخه کې، د سترو ملي مسئلو په باب، دولت تــه د لارښوونې لپاره د کړنلارې صادرول او نور...

د افغانستان د معاصر دولت د موسسې لویې جرګې (۱۷۴۷م) د افغان او انګلیس د لومړي جنګ د لویې جرګې (۱۸۴۱)، د غزني د لویې جرګې [ د افغان او انګلیس دویم جنګ] (۱۸۷۸) او د پېښور [ د شوروي پر ضد د جهاد سوق] (۱۹۸۰م) کال له لویې جرګې پرته، د نورو زیاتو لویو جرګو جوړښت او په هغو کې د بحث او مطرح موضوعګانو عملي نوښت تل د واکمنو په لاس کې و. هغه وخت واکمنو ډلو، د وخــت د حکومتونــو او دولتونو د سیاست او پالیسیو د توجیه لپاره، د لویې جرګې په ترکیب او د هغې د اجنډا په ترتیب کې، له خپل واک او اغېز څخه کار اخیســتی دی. د زور له دې اغېز سره سره، د واکمنو ډلــو او د خلکــو د اســتازو ترمنځ، په هغو شرایطو کې، چې واکمن د ملــي یــووالي ممثلــین وو او مذهبي اتوریته یې درلودله او د ټولنې د سیاسي شعور کچه ډېره ټیټه وه، ډېر زیات توپیر نه و. په بله وینا په لویه جرګه کې ګډونوالو مخورو، ټولنیزو شخصیتونو، خانانو، لارښوونکو، مذهبي پوهانو او عالمانو باید لږ تر لږه د خلکو باور درلودلای چې په دې ډول جرګو کې یې ګډون کړی وای. له دې پرته د دولت چلوونکي، د خلکو له خوا د دولت د غوښتنو د ملاتړ په لاره چاره کې له ستونزو سره مخامخېدل او د لویې جرګې لــه جوړېدو څخه د مقاماتو هغه هیله نه پوره کېدله چې د دوی په زړه کې وه.

په تېره نیمه پېړۍ کې، د وخت د حکومتونو له خوا، لویې جرګې ته د اساسي قوانینو وړاندې شوې مسودې او د لویو جرګو له خوا د تصویب شویو متنونو پرتلنه، دا په ډاګه کوي، چې لویې جرګې د مسودو په متنو کې لږ تر لږه له پنځه لسو څخه تر دېرش فیصدو پورې بدلون راوړی، له دې څخه ښکاري چې دا جرګې په ټولیز ډول د حکومتونو تر اغېز لاندې نه وې او په ځینو برخو کې د واکمنو جرګو په توګه څرګندې شوي دي.

په افغانستان کې د شوروي له یرغل څخه، د رازېږېدلې جګړې دوام، لویه جرګه د کابل حکومت د سیاسي لوبو لوړو ژورو ته ور دننه کــړه او هغه یې د مقاومت په ځواکونو کې، د خبرو اترو یوه جنجالیزه موضــوع وګرځوله. په داسې حال کې چې دمقاومت د ځواکونو زیاتې برخې، لویه جرګه د یوې ټولنیزې کارېدونکې موسسې په توګه تایید کړې، د سولې نوښت د بري لپاره د هغې د رول پر تثبیت، د نظر اختلاف لري. د لویې جرګې دود د سیاسي، قومي او مذهبي مخالفینو پر ناروغیو هم اختــه شو.

**سیاسي:** له دې پلوه هغه اشخاص او تنظیمي ډلې، چې لــه جهــاد څخه نویو راپیدا شویو شرایطو، دوی د نوي سیاسي ځواک په توګه د پام وړ ګرځولي دي، لویه جرګه د واک د کلاسیکو او متروکو پدیدو، د بیــا ژوندي کولو وسیله ګني. دې اند هغه وخت لار زور اخیسته، چې د لویې جرګې له نوم سره د پخواني پاچا نوم یادېده.

**قومي:** ځینو قومي او مذهبي لږکیو ډلو او ډلګیو ته له دې کبله، چې په لویه جرګه کې دپښتنو قبایلو (اکثریت) ونډه، د افغانستان د معاصر دولت په جوړېدو کې د دوی رول او د دې ترڅنګ د ملت په لارښــوونه

کې د نومو‌ړو قبایلو اغېز زیات و، لویه جرګه د اکثریت د حقوقي واکمنۍ د توجیه حربه ګڼله، چې په پای کې د دولت په اداره کې، لږکیو ته د دویم رول د ورکړې سبب کېدله. د جهاد د دوران بغاوت او د ولسواکۍ له موازینو لرې د زیاتو غوښتنو کړکېچ، د دې سبب شوی و، چې هغوی د دولت په اداره کې، په فرعي رول قانع نه شي.

دې ډلو د لویې جرګې پر وړاندې قومي چلند وکړ او ان د افغانستان په تاریخ کې یې د ((جرګه بزرګ ملی))، ((مجلس کبیر میهنی)) پر نومونو د لویې جرګې د نوم دبدلانه هڅه وکړه.

**مذهبي:** له دې پلوه چې بنسټپال اسلام، په لویه جرګه کې د ولس د استازو ګډون، د مذهبي پوهانو د یوې اهل (حل و عقد) جرګې تر اعتبار کم ګڼي، نو دې نظر هم خپل اغېز درلود. بنسټپال چې نوي د اسلامي نړۍ په تصورولو سره، د افغانستان چارو ته داخل شوي وو، لویه جرګه یې د افغان ملتپالنې څرګندوی بلله، فکر یې کاوه اسلامي انترناسیونالیزم د ملتپالنې له نوم سره، چې په هر ډول افاده شي، مخالف دی.

که چېرې د جګړې په شرایطو کې انتخابات، چې زموږ په چاپېریال کې یوه نا اشنا پدیده ده، د یو سیاسي توافق د لاسته راوړلو لپاره، چې د یو حکومت په چوکاټ کې راڅرګندېږي، منتفي وګڼل شي، د جګړې د ختمولو یا لږ تر لږه د کړکېچ د کمولو لپاره یوازې یوه لاره چې پاتې کېږي هغه د لویې جرګې جوړېدل دي. په کړکېچن حالت کې د لویې جرګې د جوړېدو لپاره کېدی شي زیات شمېر دلیلونه وړاندې شي. له دې جملې څخه:

ـ د سولې او سیاسي ثبات د تامین لپاره د افغاني قبیله یي ډیموکراسۍ پر اصولو برابرې، پر یوې داسې موسسې ډډه لګول چې د تاریخ په اوږدو کې یې د لیبرالې ولسواکۍ تر تجملي جوړښت څخه زیات، خپل قابلیت ثابت کړی وي.

ـ که چېرې لویه جرګه د یو انتقالي حکومت د ټاکلو لپاره موظفه شوې وي، انتقالي حکومت ته د سیاسي او حقوقي ځواک ورکړه، هغه هم په داسې شرایطو کې، چې ځینې جهادي تنظیمونه د وسلوال جهاد د غوښتنې په پرمخبیولو سره یوازې او یوازې خپل ځان په هېواد کې د سیاسي ځواک بلا منازع وارث وګني.

ـ په داسې شرایطو کې چې ټولې تنظیمي ډلې د جهاد د لسیزې په بهیر کې، له بهرنیو لاسوهونکو هېوادو څخه اغېزمنې شوي، د دودیزې جرګې له لارې د سولې د ټینګښت په برخه کې، په خپله افغانانو ته د نوښت ورکړه.

ـ په افغاني ټولنه کې ((چوپ اکثریت)) ته د سیاسي او حقوقي ملاتړ ورکړه، هغه اکثریت چې غږ یې یوازې د جګړې له ډګر څخه د باندې اورېدل کېږي. د (بې پرې کسانو) د رول ټاکنه او د ننداري له حالت څخه د هغو را ایستل.

د ناپېیلو اشخاصو، سوله غوښتونکو جهادي قوماندانانو، بوروکراتانو، د معارف او پوهنتون استادانو او د منځلارو تنظیمونو د یو نوي ایتلاف د جوړېدو لپاره د لارې لټون، د سولې د ځواکونو دا ایتلاف چې د پراخه تفاهم پر بنسټ منځته راغلی، باید ډاډه شي، چې جګړه مار ځواکونه به په راتلونکي سیاسي ژوندانه کې تجرید او څنډې ته کړي.

ـ د سیاسي تفاهم او سولې، لکه ټاکنې، رفرنډم او نورو د ټینګښت لپاره، د بل هر ډول پروسیجر په انډول د لویې جرګې د جوړېدو اسانتیا، په داسې شرایطو کې چې دلویې جرګې د یاد وړ جوړوونکي عناصر تـر افغانستانه بهر ژوند کوي.

په کړکېچنو شرایطو ( لکه د جګړې د اتلسو کلونو پر مهـال) کـې د لویې جرګې د جوړېدو ترکیب، د نویو غړیو غوښتنه کوي. په دې مانـا چې نوي عناصر لکه جهادي مشـران، جهـادي قومانـدانان، مخـکښ اشخاص یا د ملي مقاومت د ځواک ځرګندوی اشـخاص بایـد د لـویې جرګې په ترکیب کې شامل شي. سربېره پر دې که بیا هم لویه جرګه تر ملي پولو د باندې جوړه شوه، له نویو دندو، لکه د سولې د نوښـت تـر لاسه کول او د لارښود کدر له ټاکنې سره به مخامخ وي.

لویې جرګې د افغانستان د تاریخ د ټاکلو شرایطو زېږنـده دي او پـه طبیعي ډول د هغو شرایطو له امله، چې دا جرګې په کې جوړې شـوي دي، د ځومره والي او ځرنګوالي له پلوه یوه له بلې سره توپیر لري.

د جګړې د وخت لویې جرګې او د سولې د وخت لویې جرګې یو څه توپیرونه لري. د سولې د وخت لویې جرګې له اوسـنیو سـتونزو، چـې افغاني ټولنه ورسره لاس او ګرېوان ده، مخامخ نه وې. کله که د کړکېچ او جګړې د وخت لویه جرګه وغواړي، له ګډوډیو او بغاوتونو سره مقابله وکړي، باید فردي مشخصات او له ورځنیو مسایلو سره د مقابلې لپـاره سم امکانات ولري.

د ګډوډۍ او ملي مشرتابه د نشتوالي په شرایطو کې، د لویې جرګې د جوړېدو غوره دلیل، یو داسې حکومـت تـه د مشـروعیت او تمثیلـي

ځانګړتیاوو ورکول دي، چې د سولې او سیاسي ثبات د ټینګښت دنده پر غاړه ولري.

ددې حکومت مشروع صبغه به، ټولې هغه ډلې چې په سپین سترګۍ سره د سیاسي واک لپاره، د افغانستان د خلکو او ملت د استازولۍ ادعا کوي، بېوسلې کړي او نړیواله ټولنه په ځـانګړي ډول د ملګــرو ملتــو سازمان به، د لویې جرګې د باور وړ اجرایي ځواک د پېژندنې له واقعیت سره مخامخ کړي.

مهمه پوښتنه داده، چې د جګړې او سیاسي ګډوډۍ په شرایطو کې به څوک د لویې جرګې د جوړېدو واکمنه سرچینه وي؟ که د افغانستان د نوي دولت له موسسې جرګې او نورو لویو جرګو څخه، چې د بهرنــي یرغل پر وړاندې یې د ملي مقاومت لارښوونه کوله، په استثنایي توګــه تېر شو، نورې لویې جرګې د افغانستان د واکمنو له خوا په هېواد کې د سولې او سیاسي ثبات په حالاتو کې جوړې شوي دي. په داسې حال کې چې هېڅ یوه جنګیالۍ ډله او د کابل اداره، د حقوقي دلایلو په وړاندې کولو سره نه شي کولای د مشروعیت مدعي شي. موږ باید د افغانستان د معاصر تاریخ په رڼا کې ماضي ته مراجعه وکړو، دا سرچینه چې د لویې جرګې په شان یوه تاریخي پدیده او د یو ډول مشروعیت څرګندویه ده. د پخواني مشروعیت ځینې ممثل سیاسي شخصیتونه، له هغې جملې نه یو هم پخوانی پاچا دی، د لویې جرګې په جوړېدو کې د پخواني پاچا، د واک د غوراوي لپاره کولای شو ګڼ شمېر دلایل وړاندې کړو، له هغې جملې نه:

ـ پاچا د لویې جرګې د جوړېدو په برخه کــې د زده کــړو (کســبي) حقوقو لرونکی دی، نوموړي د خپل سلطنت پر وخت لږ تر لږه درې لویې جرګې (۱۹۴۱، ۱۹۵۵، ۱۹۶۴) جوړې کړي دي.

ـ که د (۱۹۷۳م) کال کودتا، چې د سلطنت د ړنګېدو سبب شوه، د نوي مشروعیت پیــل وګڼــو، د ســلطنت پخــوانی مشــروعیت یــې د جمهوریت د مشروعیت تر شعار لاندې راوســت، اوس د جمهوریــت د مشروعیت د ممثل واکمن د نشتوالي له کبله، پاچا د یو اغېزمن عنصر په توګه یو ځل بیا مشروعیت پیدا کوي.

د اروپا په تاریخ کې تر ټولنیزو او سیاسي کړکېچونو وروسته د پخواني مشروعیت د بیا اعادې لپاره کولای شو، لږ تر لږه دوه بېلګــې وړانــدې کړو:

ـ په فرانسه کې د لوی انقلاب (۱۷۸۹م) تر پېښېدو وروســته، چــې سیاسي او ټولنیز کړکېچ یــې منځتــه راوړ، اتلســم لــویي د ســلطنت مشروعیت د اعادې په ارمان او د انقلاب د ټګلارو د ساتنې په هیله، د چارو واګې په لاس کې واخیستې (–Rest auration ریستوراسیون).

ـ په اسپانیا کې د فرانکو پــه مشــرۍ د ملــي متحــدې جبهــې او جمهوري حکومت ترمنځ تر خونړیو جګړو وروســته، چــې د (۶۰۰۰۰۰) کسانو د وژنې سبب شوې، جمهوري حکومت سیاسي واک واخیست، د وراثت قانون پر (۱۹۷۴م) کال، د سلطنت د مشروعیت اعاده تایید کړه، فرانکو پر (۱۹۷۵م) کال لومړی جان کارلوس خپل ځای ناستی وټاکه.

خو په افغانستان کې پاچا یوازې په اوسنیو اضطراري شرایطو کې د مشروعیت وړ او د لویې جرګې د جوړېدو واکمنه مرجع ده. د راتلونکې

سولې په شرايطو کې، له ډيموکراتيکو لارو چارو څخه د نوي مشروعيت په ټوکېدو سره به، د پخواني مشروعيت د پديدې عمر پايته ورسېږي، يو دا وي چې خلک د ازادو ټاکنو له لارې پخوانی مشروعيت ومني. په هر حال! په افغانستان کې به هېڅکله د سلطنت د اعادې لپاره ملي او نړيوال شرايط مساعد نه وي.

په پايله کې په کړکېچونو شرايطو کې پر لېبرالي ډيموکراسۍ (لکه ټاکنو) ډډه لګول، چې زموږ ټولنه د هغې په ګټه بلده نه ده او پرله پسې جګړې، په سياست کې تورې ته لاس اچول پر يو واکمن قانون بدل کړي، امکان نه لري. د جګړې د اتلسو کلونو تجربې وښودله، چې د مقاومت د ځواکونو ترمنځ د يو تفاهم پر بنسټ د يو سياسي ايتلاف جوړېدل په همغه اندازه مشکل دي، لکه پر (۱۹۹۲م) کال د مقاومت د ځواکونو او د کابل د ايتلافي ادارې ترمنځ روغه جوړه.

د هر حکومت د اغېزمنتوب او اوتوريتې د تامين لپاره، چې غواړي په هېواد کې له سياسي ثبات او په بهر کې له نړيوال باور څخه برخمن شي، بايد مشروع صبغه، حقوقي او اخلاقي ځواک ولري. ددې ځواک د ورکړې مرجع لويه جرګه ده. د سولې نوښت بايد لويې جرګې ته وسپارل شي. بايد پرې نه ږدو، چې د افغاني قبيله يي ولسواکۍ او د افغانستان د معاصر دولت د ټوکېدو اصيله موسسه، د ځينو داسې خلکو د ولولو پر ناروغۍ اخته شي، چې د افغانستان د ټولنيز او سياسي ژوند جوړښت او چوکاټ ته په لنډ فکرۍ، کينې او خيرنو سترګو ګوري.

که نن لويه جرګه دمشروعيت د اعادې، د سولې او سياسي ثبات وسيله نه شي، د يوې تاريخي پديدې په توګه به خپل ارزښت له لاسه

ورکړي او هغه وخت به افغاني ټولنه د خپلو ستونزو د حل لپاره، له يوې نه جبرانېدونکې سازماني تشې سره مخامخ شي.

**دوه- د دولــت د حقــوقي ســتنو پــه تثبيــت کــې د لويې جرګې رول:** د افغانستان په لرغوني تاريخ کې، د مرکــې او جرګې دود ژورې ريښې لري. د لاسته راغلو اسنادو له مخې د مسيح تر زېږېدو نږدې درې زره کاله دمخه، لومړنۍ جرګه په بلخ کې جوړه شوه او ((يما)) يې د پاچاهۍ لپاره غوره کړ.

تر ميلاد دمخه پر (۳۲۷) کال د هرات، بلخ، کنــدوز او فاريــاب پــه ښارونو کې د سکندر مقدوني يرغلګرو لښکرو پر ضد د مقاومت لپــاره ولسي جرګې جوړې شوې.

په (۱۳)مې ميلادي پېړۍ کې د جلال الــدين تــر مشــرۍ لانــدې د باميانو، غزني او پروان، سيمه ييز مشران، د چنګېز د يرغل پر وړانــدې جرګې ته سره کېناستل، خو د بهرني يرغل پر وړاندې د افغانســتان د خلکو پاڅون تل د جرګې د پرېکړې پايله (نتيجه) نه وي. ددې پاڅونونو زيات شمېر د خلکو د ناڅاپي او په خپل سر عکس العمل له مخې منځته راغلي دي. لکه په (۱۶)مه پېړۍ کې چې روښانيانو د مغلو د واکمنۍ پر ضد پاڅون وکړ، دې پاڅونونو ته د ايمل خان او خوشال خان په مشرۍ پښتنو قبايلو تر (۱۷)مې پېړۍ دوام ورکړ.

د (۱۷)مې پېړۍ په پای کې د محمد زمان خان او ذوالفقار خــان تــر لارښوونې لاندې د هرات خلکو د صفوي واکمنۍ پر وړاندې جګړې ته را ودانګل.

بالاخره د (۲۰)مې پېړۍ په پای کې د هېواد ټولو خلکو د شوروي اتحاد د یرغل پر وړاندې په زړورتیا سره مقاومت وکړ.

د مغلو پر ضد د روښانیانو، د صفویانو پر وړاندې د هرات د ابدالیانو او د شورویانو پر ضد د افغانستان د ټولو خلکو پاڅون، خپلواک او خپل سری غورځنګ و او د کومې مهمې جرګې له مخې، چې په تاریخ کې دې ثبت وي، نه دی تر سره شوی.

تر (۱۸) مې پېړۍ دمخه جرګو په عام ډول د بهرني یرغل پر وړاندې د تیت و پرکو سیمه ییزو مقاومتونو د لارښوونې دنده پر غاړه لرله او ډېرې سراسري او ملي صبغې یې نه لرلې؛ د لویې جرګې دا وروستۍ بڼه یې خپله کړې نه وه.

لویه جرګه د یوې ممثلې جرګې، ملي جرګې او د افغانستان د معاصر دولت د جوړونکې جرګې په توګه، پر (۱۷۴۷م) کال د کندهار ښار په منځ کې جوړه شوه. دې لویې جرګې دنده لرله، چې له یوه پلوه د ایران د صفوي دولت پر وړاندې، د افغانستان د خپلواکۍ اعلان وکړي او له بله پلوه د هېواد لپاره مشر وټاکي.

که چېرې د (۱۹۴۷م) کال ( د کندهار شیر سرخ لویه جرګه) په هېواد کې د تمثیلوونکو لویو جرګو پیل وګڼو، د (۲۵۰) کلونو په اوږدو کې پر ملي مسایلو، د خبرو اترو لپاره لږ تر لږه دولس لویې جرګې جوړې شوي دي. په دې شمېر کې د کمونیستي نظام لویې جرګې، چې تشریفاتي بڼه یې لرله او د وخت د حکومتونو د پالیسیو د تایید لپاره مخکې تر مخې دنده ورسپارل شوې وه، شاملې نه دي.

له پورتنیو خبرو څخه څرګندېږي، چې افغانستان په منځنی دول په هرو نږدې (۲۰) کلونو کې یوه لویه جرګې لرلې ده. لویې جرګې په هېواد کې د دودیزو (تعاملي) حقوقو زېږندې دي او د قبیله یي دیموکراسۍ د نظام په سیوري کې، د افغان ملت د ارادې، سیاسي او حقوقي څرګندوی بلل کېږي.

کولای شو لویې جرګې د هغو د دندو له مخې پر دوو ډولونو ووېشو:

لومړی- هغه لویې جرګې چې د مرکزي حکومت د نشتوالي په شرایطو کې، د بهرني یرغل پر وړاندې، د ملي مقاومت د لارښوونې لپاره جوړې شوي دي.

دویم - هغه لویې جرګې چې د مرکزي حکومت په شتوالي کې، د ملي مسایلو په باب، د خبرو اترو لپاره جوړې شوي دي.

لومړی- ځینې لویې جرګې هغه وخت، چې هېواد د بهرني یرغل له خطر سره مخامخ او مرکزي حکومت موجود نه و او یا تر بهرني واک لاندې و، دملي مقاومت د لارښوونې لپاره جوړې شوي دي. دا لویې جرګې دا دي:

**۱۷۴۷- د شیر سرخ مزار لویه جرګه:** په دې جرګه کې له مغلي او صفوي واکمنۍ څخه، د افغانستان خپلواکۍ اعلان شوه.

**۱۸۴۱- د کابل لویه جرګه:** چې د افغان او انګلیس د لومړۍ جګړې لارښوونه یې وکړه.

**۱۸۷۸- د غزني لویه جرګه:** چې د افغان او انګلیس د دویمې جګړې په بهیر کې یې، د ملي مقاومت لارښوونه وکړه.

**۱۹۸۰- د پېښور لویه جرگه: چې له یو واحد مرکز څخه یې، د شوروي پرضد، د افغانستان د خلکو د جهاد د سوق او اداري نیت لاره، خو د بهرنیانو د لاسوهنې له امله په دې کار کې بریالۍ نه شوه.**

نوموړې جرگې د ملي حاکمیت او سراسري حکومت د نشتوالي په شرایطو کې جوړې شوي دي. دې لویو جرگو د ملي مقاومت د تیت و پرکو ځواکونو په یووالي، پیوستون او د ملي تفاهم د لارو چارو په برابرولو کې ډېره مرسته وکړه.

پورتنۍ لویې جرگې پر داسې وخت جوړې شوي، چې په هېواد کې مرکزي حکومت موجود نه و، دین د افغانستان د گڼ قومیزه ټولنې د وصلوونکي توکي په توگه، د جهاد لپاره وکارېده او د ملي روحیې د ځواکمنۍ، سولې او سیاسي ثبات لپاره یې لاره اواره کړه.

دې سره سره دې لویو جرگو د یو واحد ملت په چوکاټ کې، د بېلابېلو قومونو په یو ځای کولو سره، د افغان ملت د جوړونې تاریخي لاملونه برابر او د ملي دولت د جوړېدو لپاره یې لاره اواره کړه.

**دویم-** لږ تر لږه اته لویې جرگې په داسې شرایطو کې جوړې شوي، چې هېواد کې مرکزي حکومت موجود و. پر دې وخت لویو جرگو د واکمنې ډلې او خلکو ترمنځ د اړیکو تامینوونکی رول ترسره کړی او واکمنې ډلې ته یې د ټولنیز ځواک په ورکړې سره، د هغو پرېکړې تضمین کړي دي.

نوموړې لویې جرگې په خپل وار سره د دندو له مخې په دوه ډوله دي:

یو هغه لویې جرګې، چې د افغانستان د بهرني سیاســت د اصــولو د ټاکنې او بل د موسسانو لویې جرګې، چې د هېواد اساسي قوانین یــې وضع کړي دي.

**الف-** درې لویې جرګې، چې د افغانستان د بهرني سیاست د کرښو د تثبیت دنده یې لرله، په لاندې ډول دي:

(۱۹۱۶م) کال د کابل لویه جرګه ( د حبیب الله سلطنت) او (۱۹۴۱م) کال د کابل لویه جرګه ( د محمد ظاهرشاه سلطنت). دا دوه لویې جرګې د لومړۍ او دویمې نړیوالې جګړې په اړه، د افغانستان د دریځ د ټاکنې لپاره جوړې شوي دي.

درېیمه لویه جرګه په کابل کې پر (۱۹۵۵م) کال ( د ظاهرشاه وخت) جوړه شوه، په اجنډا کې یې د پښتونستان مساله، د افغانستان د دفاعي بنسټ پیاوړتیا او د ((سنټو)) د پکټ په باب، د دولت د دریځ څرګندول، شامل وو.

نوموړې درې جرګې، چې موږ یې نومونه واخیستل، د بهرنیو مسایلو په باب، د افغانستان د دولتي واکمنۍ د واک د حق د حقوقي ســتنو د ټینګښت او تثبیت تمثیلوونکې دي.

له هغو لارښوونو څخه چې دې لویو جرګــو، د افغانســتان د بهرنــي سیاست په باب، د وخت حکومتونو ته کړي، داسې څرګنــدېږي، چــې لویې جرګې د هېواد د بهرني سیاست د ټاکنې، تر ټولو لوړې مرجعــې دي.

سربېره پر دې لویې جرګې د افغانستان د ناپېیلي سیاست د ټاکنې لوړ مقام او هم نوښتګرې ګڼل کېږي. د افغانستان د ټولو حکومتونو له

خوا، چې له خپلواکۍ څخه د شوروي تر یرغل پورې (۶۰) کاله یې د چارو واګې په لاس کې اخیستي، د لویې جرګې له خوا، په دودیز ډول، د ټاکل شوې ناپېیلې تګلارې، درناوی کېده.

ب- د موسسانو لویې جرګې، چې د اساسي قوانینو د تدوین او بدلون (تعدیل) لپاره جوړې شوي دي، په لاندې ډول دي:

ـ ۱۹۲۸م کال د پغمان لویه جرګه ( د اعلیحضرت امان الله خان وخت).

ـ ۱۹۳۱م کال د کابل لویه جرګه ( د نادرشاه وخت).

ـ ۱۹٦٤م کال د کابل لویه جرګه ( د محمد ظاهرشاه وخت).

ـ ۱۹۷۸م کال لویه جرګه ( د سردار محمد داود خان وخت).

هغه قوانین چې د پورتنیو لویو جرګو په وسیله تصویب شول، د افغانستان د دولت حقوقي بنستونه یې ټینګ کړل.

د (۱۹۲۳م) کال جرګه پر داسې وخت جوړه شوه، چې د افغانستان د خپلواکۍ تر ګټلو یوازې څلور کاله تېرېدل او شاه امان الله د مشروطه غوښتونکو د کړی، چې د محمود طرزي له خوا یې لارښوونه کېدله، د اصلاح غوښتونکو تلقیناتو تر سخت اغېز لاندې و.

خپلواک افغانستان باید د ملي ژوند د اصولي تنظیم او هم په نړیواله کچه د پېژندنې لپاره په خپلو پولو (حاکمیت) کې د حقوقو دولت ETAT DE DROIT ستنې ټینګې کړې وای. دا کار د (۱۹۲۳م) کال د اساسي نظامنامې په واسطه ترسره شو. دې نظامنامې د لومړي ځل لپاره، په هېواد کې د پارلماني نظام د بنسټ ډبره کېښوده. د اساسي نظامنامې په واسطه، د دولت د شورا په نوم د جرګې (مجلس) وړاندوینه وشوه، چې په هغې کې د حکومت او خلکو استازي راټول شوي وو. شورا غالباً

د مشورې واک درلود، خو کله کله یې د نظامنامو په اوډنې (تدوین) هم لاس پورې کاوه، د دولت شورا په واسطه نږدې دولس نظامنامې وضـع شوې.

که څه هم د دولت شورا د یو مـډرن (عصـري) پارلمــان پــه شــان حکومت ته د باور رایې د ورکړې او د اجرائیوي ځواک د کنتــرول، دود واکونه نه لرل، خو له کومه ځایه چې دا د ملي ژوند د تنظــیم لپــاره، د لومړنیو مډرنو نظامنامو اصلي مرجع ګڼل کېږي، کــولای شــو هغــه د پارلماني او شاهي نظام د بنسټ لومړۍ ډېره وبولو.

حکومت له هغو وزیرانو څخه جوړ شوی و، چې نېغ په نېغه د پاچا له خوا ټاکل کېدل او پاچا ته یې مسوولیت درلود، نه د دولت شورا ته، چې په خپله د اجرایي او مقننه ځواک ترکیب و.

د شاه امان الله د وخت اساسي نظامنامې په حقیقت کې په یوه ناوړه ټولنیز چاپېریال کې د مشروطیت، دیموکراسۍ او د قانون حکومــت، د ځوانو پلویانو د ټینګو تګلارو ښکارندوی بلل کېږي، چې په ملي کچه یې د بنسټیزو سمونونو رامنځته کول، د یو ځــواکمن او اغېــزمن مرکــزي دولت د جوړېدو غوښتنه کوله. هغه ارتجاعي بدلونونه، چــې (۱۹۲۳م) کال د اساسي نظامنامې په متن کې د (۱۹۲۸م) کال د پغمــان د لــویې جرګې له خوا رامنځته شول، په څرګند ډول په ډاګه کړه، چې د اساسي نظامنامې روحیې، د خلکو له روحیې سره سمون نه درلود.

پر( ۱۹۲۹م) کال د سقاو زوی حبیب الله اړو دوړ، دا ټکی نور هم زبات کړ، چې د مشروطیت او د قانون حکومت اصول لا دومره ټینګ شوي نه وو، چې د دولتي نظام د ستنو د ګډوډۍ او ړنګېدنې مخه ونیسي.

د (۱۹۳۱م) کال ( د نادر شاه وخت) لويې جرگې، نوی اساسي قانون رامنځته کړ، دا اساسي قانون د شاه امان الله د وخت د اساسي نظامنانو په پرتله پرمختللی و او د ټولو هغو موسسو جوړښت، چې په نوي دولت کې يې باید يو اساسي قانون يادونه وکړي او د واک پولې يې وټاکي، په دې قانون کې يې وړاندوینه شوې وه، د دې اساسي قانون په رامنځتــه کېدو سره په حقيقت کې افغانستان د اماني پېر له ټاکلي سلطنت څخه، مشروطه سلطنت ته ولېږدېده.

له دې اساسي قانون سره سم د درې گوني دولتي ځواک ترمنځ پولې وټاکل شوې. د قانون جوړولو جرگه (مجلس) له حکومت څخه بېله او د دوو خونو لرونکې شوه. پارلمان د قانون جوړولو دنده پر غاړه واخيسته او کولای يې شول په ځينو برخو کې د حکومت څارنه وکړي. پارلمــان حق لاره هغه نړیوال تړونونه، چې د حکومت له خوا لاسليک شوي وو، تصويب او يا رد کړي.

حکومت د شاه له خوا ټاکل کېده او باید له پارلمان څخه يې د بــاور رايې اخيستلای. حکومت د کورني او بهرني سياست لارښوونه کوله او له بهرنيو هېوادو سره يې تړون لاسليک کولای شو.

شاه د لوړ حاکم په توگه د دولتي جوړښت په سر کې پــه يــو ډول د عامه موسساتو د کړنو څارنه کوله. سکه د شاه په نوم جوړېدله او خطبه د شاه په نوم لوستل کېده. ده د لويې جرگې او پارلمان د پرانيستو واک درلود او عادي قوانين يې توشيح کول.

د (۱۹۳۱م) کال په اساسي قانون کې يو څپرکی د خلکــو حقوقــو او دندو ته ځانگړی شوی و.

د (۱۹٦٤م) کال ( د ظاهر شاه د سلطنت وخــت) لــویې جرګــې بــل اساسي قانون تصویب کړ. دا اساسي قانون د منځپانګې (محتــوا) لــه مخې بډای او د قانون جوړولو د جوړښت له پلوه تر ټولو دقیق او اساسي قانون دی، چې افغانستان ورځخه تر خپلې خپلواکۍ وروسته بــرخمن شوی دی.

د دغه اساسي قانون له حکمونو سره سم، په دقیقه او څرګنده توګه، له حکومت څخه د سلطنت په تفکیک سره په انګلو- ساکسون ډول د پارلماني نظام وړاندوینه وشوه.

پارلمان له دوو خونو سره پاتې شو. د پارلمان د قانون جوړولو ساحې زیاتې څرګندې شوې او د پارلمان له خوا د حکومت د څــارنې چــارې ډېرې مشخصې شوې. پارلمان په داسې حال کې، چې حکومت ته یې د باور رایه ورکوله، له حکومت څخه د باور د بېرته اخیستو واک پیدا کړ. پارلمان کولای شول په ځینو برخو کې له حکومت څخه پوښتنې وکړي.

د حکومت او سلطنت توپیر وشو او له ســلطنتي کــورنۍ څخــه پــه حکومت کې د ګډون حق واخیستل شو. د لومړي ځل لپاره د اساســي قانون په واسطه د سلطنتي کورنۍ غړي تعریف (وپېژندل) شول.

صدراعظم د شاه له خوا ټاکل کېده. نوموړي د کابینې وزیران ټاکل او وروسته یې له پارلمان څخه د باور رایې غوښتنه کوله. صــدراعظم پــه حقیقت کې د سلطنت او نورو عامه اورګانونو ترمنځ د وصل کړۍ ګڼــل کېدله. نوموړي د وزیرانو جرګې ریاست پر غاړه درلود.

شاه له هغو اجرایي واکونو څخه، چې په پخواني اساسي قانون کې یې ورځخه ګټه اخیستله، بې برخې شو. سلطنت زیاتره تشریفاتي بڼه غوره

کړه. دشاه واک هغه څه ته را لنډ شو، چې معمولاً په پارلماني نظـامونو کې د دولت په ریاست پورې اړه نیسي. ( د قوانینو توشیح، د اضطراري حالت اعلان، د لويې جرګې او پارلمان پرانیستل او نور...).

په دې اساسي قانون کې د لوړې قضایي مرجع په توګــه، د ســترې محکمې جوړېدل منځته راغلل. قاضي القضات د شاه له خوا ټاکل کېده. ددې اساسي قانون بل نوښت، د اساسي قانون په مــتن کــې د لــويې جرګې د جوړښت داخلول و، د لويې جرګې جوړښت، د ولایتونو او جرګو د رییسانو، د شورا د غړو او د شاه له خوا د انتصابي اشخاصو په ګډون جوړ شو.

لویه جرګه، خپل منل شوي قانوني جوړښت سره سم هېڅکله جوړه نه شوه. د (١٩٦٤م) کال اساسي قانون د يوې پوځي کودتا په څرګندېدو سره لغوه شو. افغانستان په خپل تــاریخ کــې د لــومړي ځــل لپــاره د جمهوري نظام تر سیوري لاندې راغی. د دې نظام ارکان د هغه اساسي قانون په واسطه تنظیم شول، چې د (١٩٧٨م) کال د لويې جرګې له خوا تصویب شوی و.

د لومړي ځل لپاره د پارلمان د دوو خونو دودیز سیستم پر یو اتاقــه سیستم واوښت. دا لومړی ځل و، چې په دولتي جوړښت کې د صدارت مقام له منځه لاړ او د دولت د ریاست او د حکومت د ریاست دندې سره یوځای شوې.

جمهور رییس د لويې جرګې له خوا ټاکل کېده، نوموړي د ملي انقلاب د ګوند د مشر په توګه د دولت، حکومت او ملي شورا د لارښوونې واګې په لاس کې لرلې. د واکمنو طرحه دا ډول وه، چې د ټاکنو په صورت کې

باید د ملي انقلاب ګوند د یوازیني رسمي او پېژندل شوي ګوند په توګه، د یو اتاقه پارلمان زیاتې څوکۍ ونیسي او هغه حکومت ته د باور رایې ورکړي، چې ستره برخه یې په خپله له همدې رسمي ګوند څخه جوړه شوې وي.

د (۱۹۷۸م) کال اساسي قانون په حقیقت کې د جمهوریت لارښود یانې سردارمحمد داود ته د ټول دولتي واک د راټوکېدو تمثیلوونکی و. سردارمحمد داود په خپل لاس د ټول واک د اخیستلو له لارې د کمونیستانو پر وړاندې، چې د مېړیانو په شان یې د دولت په اورګانونو کې لارې کړې وې، خپل ځان جګړې ته تیاراوه.

***

لکه څنګه چې یادونه وشوه، لویو جرګو د وروستیو (۲۵۰) کلونو په اوږدو کې د دولت د حقوقي ارکانو په تنظیم کې له ډېرو لومړنیو اساسي قوانینو څخه نیولې بیا د بشپړو اساسي قوانینو تر تدوین پورې او په ځینو برخو کې د دې قوانینو د وضع کولو له لارې ستر رول لوبولی دی.

د شاه امان الله له اساسي نظامنامې پرته، نورو ټولو اساسي قوانینو د عبارت په بدلون سره واکمني په ملت پورې تړلې ګڼلې.

د (۱۹۶۴م) او (۱۹۷۸م) کلونو اساسي قوانینو په خپلو متنونو کې لویې جرګې د ملي او دولتي واکمنۍ تر ټولو لوړې ممثلې ګڼلې دي. ټولو اساسي قوانینو د دولت د سیاسي نظام بنه یا شاهي او یا جمهوري ټاکلې ده او ځینو یې د واک د لېږد لاره تثبیت کړې ده. ګردو اساسي قوانینو د مرکز او ولایتونو ترمنځ د واک په وېش کې مرکزي سیستم غوره بللی دی.

په افغانستان کې د دوه نیمو پېړیو په بهیر کــې د لویــو جرګــو تــر جوړښت وروسته، لومړی ملي دولت راوټوکېده او وروســته دې دولــت پورې تړلي رژیمونه له ټاکلي (محــدود) ســلطنت څخــه مشــروطه او پارلماني او په پای کې د جمهوریت نظامونو ته پورته شول.

دې پورته لویو جرګو د تاریخ په اوږدو کې د برحالو حکومتونو د واک په شرایطو کې، د سولې او جګړې، کورني او بهرني سیاست په برخو کې د واکمنو پرېکړو ته مشروعیت ورکړی دی.

پر کوم وخت، چې په هېواد کې مرکزي حکومت موجود و، د افغاني ټولنې د حقوقي نظام په طرح کې د لویې جرګې رول د هغه باور په معیار پورې تړلی و، چې د واکمنو ډلو له خوا د لویو جرګو پرېکړو ته ورکړ شوی دی. دا باور د وخت او ځای او د واکمنو د سیاسي مزاج تر اغېزو لاندې یو شان نه و، خو په هرحال! واکمنو ډلو له دې کبله، چې خپلو پرېکړو ته اجرایي بنه ورکړي، ناچار وو، په پراخه معیار د لویو جرګو پرېکړو ته، چې په هغو کې د خلکو رایې او زیات نظرونه مــنعکس شــوي وو، درنــاوی وکړي. له دې پرته واکمن د دولت د هیلو او غوښتنو په برخــه کــې، د خلکو له خوا له ستونزو سره مخامخېدل او د لویې جرګې له جوړېــدو څخه، د مقاماتو لرلې هیله نه پوره کېدله.

سره له دې چې لویو جرګو په هېواد کې د حقوقو د دولت په جوړېدو کې بنسټیز رول لرلی دی، خو کله داسې هم پېښ شوي، چې د واکمنو ډلو اجراات، د لویې جرګو له خوا د تصــویب شــوي اساســي قــانون د څرګندو کرښو او یا د لویو جرګو د لارښوونو خلاف وي. په ځانګړي ډول د اساسي قوانینو هغه برخې، چې د خلکو حقوقو او ازادیو تنظــیم تــه

ځانګړې شوې وې، یوازې د تیورۍ او روښنفکرۍ د هیلې تر بریده پاتې شوې او د اساسي قانون له متن څخه یې د ټولنې عملي ژوندانه ته لاره پیدا نه کړه.

سربېره پر دې د لویو جرګو له خوا تصویب شوي اساسي قــوانین، د واک د سوله ییزې او قانوني لېږدونې په برخه کې، پر (۱۹۲۹م) کال ( د سقاو د اړ دوړ)، پر (۱۹۷۳م) کال ( د سردار داود کودتا) او پر (۱۹۷۸م) کال ( د کمونیستي کودتا) په واسطه ناکام شول.

خو دې سره سره په افغاني ټولنه کې د ملي مسالو د حل لپاره، د یو عمومي او سراسري ارمان په توګه، د لویې جرګې د جوړولــو دود اوس هم خپله ځواکمني لري. کمونیست رژیم، د ملي هویت له دښمنۍ سره سره دوه ځله پر (۱۹۸۵م) او (۱۹۸۷م) کال په مسخه شوي ډول لــویې جرګې جوړې کړې او اوس تر شلکلنې جګړې وروسته اسلامي ډلې، چې له ملي دودونو سره پر جګړو اخته وې، د هېواد د اوسني کړکېچ د حل، د حقوقو د دولت او د قانون د واکمنۍ د ټینګښت لپاره تر هر چا زیات د لویې جرګې د جوړېدو خبرې کوي.

## ه- سیمه پالنه او ملتپالنه:

په (۱۹مه) پېړۍ کې د فرانسه یي مورخ او ټولنپوه ((ارنست رنان)) په اند، په یوه بشري ټولنه کې د یو ملت زېږېدنه د هغه (( د واحد ټــولنیز وجدان)) او ((ګډ ملي روح)) له یو ځای کېدو څخه رامنځته کېــږي. دا ګډ روح، چې کله په یوه واحد ټولنیز تن کې راټول شي، د تاریخ په لوړو ژورو کې د خپلې شتمنۍ لپاره، د ملت د دفاع د هڅو سرچینه ګرځي او

د ملت د ژوند دوام له تېر څخــه نــن او لــه اوســمهاله راتلــونکي تــه تضمینوي.

د افغانستان د تاریخ لوستنه دا پوره په ډاګه کوي، چې نه بهرني لامل (پردی یرغل) او نه کورنیو عواملو ( د ژبې، قوم او مــذهب بېلــوالي) د افغان ملت واحد تن ټوټې کړی دی.

افغانستان ته له شوروي یرغل څخه راپیدا شوې جګړه او کړکېچ په هېواد کې د بنستیزو سیاسي اختلافونو د څرګندېدو سبب شول. ددې اختلافونو په لړ کې له یــو ډول انترناســیونالیزم نــه د دفــاع لپــاره، د جګړه‌مارو ډلو ترمنځ، پټ او ښکاره رقابتونه موجود وو، ددې جنجال په یوه خوا کې مارکسست انترناسیونالیزم، چې د هېواد پالنې او ملتپالنې له ((بند)) څخه یې د ازادو انسانانو دیوې نړۍ د جوړېدو ادعا کوله، ولاړ و او بل پلو یې اسلامي انترناسیونالیزم ولاړ و، چې د وطن د مینــې لــه وسوسې څخه د باندې یې له اسلامي امت نه د فاضلې مدینې د جوړولو ادعا کوله.

دې انترناسیونالیزم که مادي ســرچینه لرلــه او کــه روحــاني، پــه افغانستان کې د زیاتو سیاسي ډلو پام، بهرنیو هېوادونو ته واړاوه، نه د واکمنۍ د چلوونکي په توګه افغان ملت ته.

بهرنیو هېوادو ته د جنګي ډلو د لېوالتیا لامل څرګند دی: له یرغلګرو سره د تودې جګړې او خپل منځي جګړو په شرایطو کې، کېدی شي له بهر څخه د جګړې د خړوبېدو پوره سرچینې ترلاسه شي، نه له داخــل څخه. ملت ته دواک د همېشني ځواک په توګه یوازې د سولې او روغې

او د هغو دیموکراتیکو معیارونو په شرایطو کې، د ټاکنو له لارې پاملرنه کېدی شي.

د سیاسي ډلو بهرني لېوالتیا په داسې حال کې، چې افغان ملت یې د خپلې ارادې د څرګندولو، له سیاسي وسایلو څخه څه نا څه بې برخې کړ او د ټولنیز پیوستون مزي یې یو څه سست کړل، بهرنیو هېوادو تــه یې په افغانستان کې د اوضاع د څارنې او لاسوهنې پوره وسایل په واک کې ورکړل؛ افغانستان د پردیو او دښمنو هېوادونو د متضادو ګټو د ټکر پر سیمه بدل شو. په داسې حال کې، چې کمونیست انترناســیونالیزم وروسته ماتې وخوړه، اسلامي انترناسیونالیزم هم له خپلې مــذهبي او انقلابي ولولې نه په مالامال څېرې په زبات ونه رسېد: د سیمې اسلامي هېوادو د افغانستان خاوره د خپلو حسابونو دپاکولو لپاره ښه مناســبه وسیله وګڼله او په ډېرې چټکۍ سره (( د انترناسیونالیستو تنظیمونو)) په واسطه، د خپلو ((ملي ګټو)) (( د دفاع لپاره)) په افغانستان کې یو د بل پر ضد اخته شول.

دا خبره هم باید له پامه ونه غورځول شي، لکه څنګه چې تنظیمونو دعوه لرله، هغومره انترناسیونالیست نه وو. د هغو زیاتره د قوم او قبیلې په منځ کې جوړ شوي وو، نه د ملي او نړیوال محور په چوکاټ کې. لــه انترناسیونالیزم څخه دفاع، تنظیمونو ته د هغوی د تنظیمي یانې قومي مواضعو د ټینګښت لپاره، د بهرنیو او نړیوالو مرستو د لاســته راوړلــو وسیله وه. د (وطن) نومونه (اصطلاح) په ولسي فرهنګ کې د سیمې او ځای په مانا کارېدلې ده، له وطن څخه دفاع له سیمې څخه د دفاع مانا ورکوي، له همدې کبله پر افغانستان باندې د شوروي یرغل په بهیر کې،

په داسې حال کې، چې ملي اردو له ملي اشخاصو څخه تصفیه شوه او څه چې پاتې شول هغه د ښکېلاک په خدمت کـې کښېوتل، د هـرې سیمې خلکو له هماغه سیمه ییز وطن څخه دفاع وکړه.

د سیمې په کچه، د سیمه ییزو قوماندانانو څرګندېدل، د دفـاع د حیاتي موضوع د پولو د څرګندونې او ارزونې نښه ده. په افغانستان کې کورني لاملونه په لږ اغېز او بهرني لاملونه په ډېر اغېز، د داسې یو ملي مشر د راټوکېدو پر وړاندې، چې وکړای شي د ټولو په ژبه وګړېـږي او د ټولو باور خپل کړي، خنډ وګرځېدل.

په هر حال! سیمه پالنې ته د تنظیمونو له پاملرنې څخه زموږ منظور دادی، دا ټکی څرګند کړو، چې د تنظیمونو له خوا هغو خلکو ته، چې تر اوسه لا د یو واحد ملت په بڼې کـې پاخـه شـوي نـه دي، د اسـلامي انترناسیونالیزم د شعارونو ورکول، په هماغه اندازه سرسري او نندارېز ښکاره کېدل، لکه د افغاني کمونیستانو ( د نړۍ پرولتاریا سره یو موټی شئ) شعار.

خو بیا هم په افغانستان کې سیمه ییز استوګنځي ته لېوالتیا او نږدې کېدنه څه د مبالغې خبره نه ده. خپل اصلي استوګنځي سره مینـه او لېوالتیا یوه طبیعي غریزه ده، چې په یوې لویې دایرې یانې ملت پورې د وګړیو پیوستون، له منځه نه وړي. سیمه ییزه لېوالتیا ان د اروپـا د زړو ملتو ترمنځ هم په ډاګه کېږي: کله چې د مارسي (پـه فرانسـه کـې د ولایت نوم) د فوټبال ټیم د ګرونوبل ( د فرانسې د ولایت نوم) پر ټـیم بری وموند، ټول ډګر، د مارسي د خلکو د سندرو او ولولو په اثر، په لړزه و، دا خبره له سیمه ییزو عواطفو او ولولو پرته بل کوم تعبیر لرلای شي؟

په افغانستان کې که سیمه ییزه لېوالتیا تر اروپایي هېوادونو څخه لږه نه وي، زیاته هم نه ده. هغه څه چې دا لېوالتیا ډېره څرګندوي، د جګړې شرایط دي. تر جګړې دمخه، سیمې له خلکو سره په ننني ډول جاذبه نه لرله. په باوري توګه د جګړې له پای ته رسېدو سره به د پوهېدنې ښــه زمینه برابره کړي، د ملي ارمانونو د عملي کولــو لپــاره د پیوســتون او یووالي په لار کې به د ټولو ولولې یوځای کړي او د سیمې جاذبه به راکمه شي.

څو عوامل دي، چې د افغانســتان د خلکــو د ټــولنیز رغښــت پــه ټینګښت او د ملت تر بنې پورې یې په دې جوړښت کې مرسته کــړې: دین، د قومونو ترمنځ د خپلوۍ اړیکي، ګډ دود و دستور او ګډ تاریخي ویاړونه له دې جملې عواملو څخه دي. د تاریخ په بهیر کې د افغان ملت له جوړونکو توکو سره باید سلطنتي نظامونه هم زیات شي. د سلطنت موسسه په حقیقت کې د ټولو پورتنیو لاملونو وصلوونکی اولارښوونکی عنصر ګڼل کېږي. د شاه واک د الهي واکمنۍ تمثیل ګڼل کېده. شاه او کورنۍ یې د بېلابېلو قومونو له غړو سره د خپلوۍ (مزاوجت) له کبلــه خپل ځان د قومي یووالي محور ګرځاوه. دی د ګډو دودونو ( لــه هغــې جملې نه د لویو جرګو) ساتونکی و، د بهرني ځواک پر وړاندې د سولې او جګړې عملي نوښت د ده په لاس کې و، د خلکو کینې او سوله ییــزې ولولې یې یوه واحد چینل ته برابرولې او کله یې د هغو ویاړونو، چــې د ملت په وینولاسته راغلي وو، ساتنه کوله، (دشاه شجاع یانو حساب له دې قاعدې نه مستثنی دی).

په دې کې شک نه شته، چې د افغانستان ځینو واکمنو له ټولنیزې او سیاسي زمینې څخه د استبدادي او ارستوکراتیک واک د راټولېدو لپاره ډېره زیاته ګټه واخیسته او د خلکو د روښانولو پــه لاره او ملــت تــه د پوهې او شخصیت په ورکړه کې یې سست ګامونه پورته کړل، خو دلته زموږ د خبرو موخه د سیاسي ثبات د ټینګښت په برخه کــې د شــاه د رول څرګندول دي، چې خپله د ټولنیز پیوستون زمینه برابروي.

افغانستان د ملوک الطوایفي نظام لرونکي هېواد په توګه، تــر هغــه وروسته د ټولنیز او سیاسي ثبات له نشــتوالي ســره مخــامخ شــو، د سلطنت موسسه چې له ځمکوالي (فیــوډالي) رژیمونــو ســره ســمون خوري. په داسې شرایطو کې یوې خوا ته کړه، چــې د جمهوریــت پــه چوکاټ کې لا هېواد د ډیموکراسۍ موازینو منلو ته تیار شوی نه و.

خو دې ټکي ته مو باید پام وي، چې که چېرې په راتلونکي افغانستان کې شاه ( نه سلطنت) ته سیاسي رول ومنو، هغه رول به لــه ګــډوډۍ څخه د امن، سولې، ازادۍ، ډیموکراسۍ او ملي واکمنۍ پر لوري د یو پُل د جوړولو تر بریده وي.

که له مطلب څخه لرې لاړ نه شو، په افغانستان کــې د ډېــرو زیــاتو ناخبره او غرضي بهرنیو ژورنالیســتانو او ډپلوماتــانو د نظــر خــلاف، د لرغوني تاریخ لرونکي یو ملت پخوانی جوړښت شته. هغه څه چې د یو ملت په توګه، د خلکو پېژندنه ناممکنوي، په مذهبي او قومي جګړه کې یو بل سره د اخته وسلوالو ډلو شتوالی دی، ځکه نو د افغانستان خلک د هویت د تثبیت لپاره دوه لارې په مخکې لري:

ـ یو د جګړه مارو ډلو تر بېوسلې کولو وروسته مســتقیمې، ســري، عمومي او ازادې ټاکنې دي، د دې ټاکنو له لارې به مشر او ملي حکومت ټاکل کېږي او خلک به د کینه ګرو ډلو له حساب څخه خپــل حســاب بېلوي. په دې ټاکنو کې به په باوري توګــه هغــه شخصــیتونه او ډلــې ګټونکي وي، چې د هغه ملت ارمان، منعکس کړي چې بې اتفاقي پــرې تپل شوې وه.

په دې ترڅ کې به افغاني ناسیونالیزم ((ګډ ملي روح))، د بیا را ژوندي کولو او د انترناسیونالیزم له سیســتم څخــه، د ازاد ملــي حکومــت د ټینګښت لپاره، د لوی ازمېښت له خطر سره مخامخ وي.

د وسلې لېږد او د جګړې حالت څخه ټاکنو ته مخه کول، چې زموږ په هېواد کې عامو خلکو ته یوه نا اشنا پدیده ده، عملاً څه نــا څــه د څــو کلونو لپاره ناممکن کړي دي. له نېکه مرغه زموږ ټولنه د ډیموکراتیکو او څرګندو دودیزو بنسټونو له نشتوالي سره، چې په اضطراري شرایطو کې ملي اراده څرګنده کړي، مخامخ نه ده:

ـ لویه جرګه چې تاریخ یې د نوي افغانستان له راټوکېدو سره غوټه شوی، په هېواد کې د ملي واکمنۍ د ستونزې د حل لپاره منطقي ځواب دی.

لویې جرګې د هېواد د تاریخ په اوږدو کــې، د قومونــو د یــو ځــای کوونکي لوښي او د یوه واحد ملت په چوکاټ کې د ژوند لپاره د خلکو د ډول ډول ارادو څرګندویې دي. نن ورځ د افغانستان خلک تر بــل هــر وخته، د لویې جرګې راټولوونکي رول تــه اړتیــا لــري. بایــد د افغــاني دیموکراسۍ تمثیلوونکې دې اصلي موسسې سره یو لاس شي او هغه د

اخواني انترناسیونالیزم له جفا څخه وژغورل شي. افغان ملت د خپل لاسه تللي ځواک، د بیا ترلاسه کولو لپاره، دودیزو ډیموکراتیکو پدیدو ته چې لویه جرگه له هغې جملې څخه ده، زیاته اړتیا لري. دې پدیدو ته په پاملرنې سره، د ا پدیدې هغه ملت ته، چې په سوسیولوژیکه مانا همدا اوس ژوندی دی، په سوله کې د ژوند ځواک او مشروعیت وربښي.

د افغانستان د خلکو هوښیارۍ او ځواکمن ملي احساس، په پای کې، Olivier Roy (فرانسه یي افغانستان پېژندونکی)، په افغانستان کې د ملت د شتوالي په باب، د تردید له حالت څخه بهر کړ. دی د ((ډیپلوماتیک لوموند)) میاشتنۍ خپرونې په (۴۷۲) مه گڼه کې د افغانانو د ژوندي ملي احساس شتوالي ته داسې اشاره کوي: (( یو له هغو ټکو څخه، چې په افغانستان کې شخړه له نورو نژادي شخړو څخه، چې په نړۍ کې د کمونیزم تر ړنگېدو وروسته راپیدا شوي، بېلوي، دا دی، چې په افغانستان کې یو گوند هم د قومي ناسیونالیزم مدعي نه دی، د کورنۍ خپلواکۍ غوښتنه نه کوي او د خپلواکۍ او یا بهرنیو هېوادو پورې د خپل تړښت خبرې نه کوي)). د یوه بهرني له خولې، نو تر دې زیات غوځ او پراخ بل اعتراف ته اړتیا نه شته.

**و- د سلطنت موسسه:** پر مذهب، واکمن قوم او ځمکوالۍ (فیوډالیزم) ډډه لگوي.

**یو- مذهب:** د افغانستان پخوانیو اساسي قوانینو څرگندوله، چې شاه باید مسلمان او حنفي مذهبی وي. په افغانستان کې اولی الامر د اسلامي شریعت د ساتنې او پالنې مسوولیت پر غاړه درلود. تاج په مذهبي مراسمو سره د شاه پر سر ایښودل کېده. خطبه د ده په نوم ویل

کېدله او سکه د ده په نوم جوړېدله. شاه ته بيعت کول، له شرعي پلوه، په يو ډول، د ده واک ته د مشروعيت ورکولو مانا ورکوله.

**دوه- واکمن قوم او د هغه پر جوړښت باندې واکمن تعاملات:** واکمنان (معمولاً شاه) به تل د افغاني ټولنې په جوړښت کې اکثريت او واکمن قوم ته منسوب و او همدې قوم له شخړې پرته، د واک تمثيل کړی دی، دا واکمن او اکثريت قوم پښتانه وو، چې د افغانستان د (۱۸)مې پېړۍ حماسي او سياسي تاريخ يې جوړ کړ او د افغانستان د معاصر دولت بنسټ يې کېښود. دوی د (۱۹)مې او (۲۰)مې پېړۍ په اوږدو کې د خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتيا د ساتلو لپاره د هېواد د نورو قومونو د مبارزې لارښوونه وکړه.

د افغانستان پخوانيو شاهانو ددې لپاره، چې د هېواد ګڼ قوميزه ټولنې ته سمون او يو رنګي ورکړي، د نورو قومونو؛ اغېزمنو قومونو او قبايلو ته منسوبو بېلابېلو ښځو سره يې په منکوحه او صيغه يې ډول ودونه کول او په دې ډول د لويو کورنيو د جوړښت په منځ کې پاتې کېدل، کله هم د شاه تر مړينې وروسته د سلطنت د واک د ترلاسه کولو لپاره د وراثت د مدعيانو ترمنځ لويې جګړې کېدلې او د ملي يووالي، قومي انډول او سياسي ثبات د تامينوونکې وسيلې په توګه يې، د سلطنت رول يو څه کموه. اکثريت او واکمن قوم د ځينو ګټورو ټولنيزو تعاملاتو په لرلو سره، په هېواد کې له نورو قومونو او قبايلو څخه بېلېده، دا تعاملات د قبيله يي ژوند چوکاټونه ګڼل کېږي، له جرګې، مرکې، ننواتې او تيرې څخه عبارت دي.

۱- جرگه: د سیمه ییزو او ملي مسایلو د حل د وسیلې په توگــه د افغاني دیموکراسۍ تر ټولو اصیله پدیده ده. که چېرې جرگــه پــه یــوه محدوده جغرافیایي سیمه کې دیوې قومي (قبیله یي) ستونزې د حــل لپاره جوړه شي. قومي یا قبیله یي جرگه بلل کېږي او په هغې کې د یوې سیمې، سیمه ییز استازي گډون کوي. په داسې حال کې که جرگه د یو ملي او د ټولو دعلاقې وړ موضوع په باب، د پرېکړې لپاره جوړېږي ((لویه جرگه)) گڼل کېږي.

د قومي جرگې جوړېدل هغه وخت رامنځته کېږي، چې د دوو لوریو، اشخاصو یا ډلو ترمنځ د یوې ستونزې حل په پام کــې وي. جرگــه پــه افغاني دود او عنعنه کې لوړ ټولنیز مقام لري. د جرگې پرېکړه او حکم د قانون حیثیت لري، د جرگې له حکم غاړه غړونکي له (عامه) اخلاقــي غندنو او سزا سره مخامخېږي.

جرگه د شخړې له دواړو غاړو څخه لازم واک اخلي او د خپل حکــم دعملي کولو د تضمین په توگه، د دواړو لوریو په لگښــت، یــوه انــدازه پیسې او وسلې ( او یا یو له هغو څخه) د ((میچلگه)) پــه نــوم ټــاکي. میچلگه له هغه لوري څخه، چې د جرگې له حکم څخه سرغړونه کوي، اخیستل کېږي او جرگه له هغو سره د ټولنیزو اړیکو په شلون ، خپلــه پرېکړه صادروي، یانې سرغړونکی لوری په یو ډول یوازې کوي.

په جرگه کې د گډون سن ټاکلی نه دی، په جرگه کې زاړه او ځوانان، دواړه گډون کوي. خو د زړو خبرې ډېرې درنې وي. جرگه د خپلو غړو له منځه هغه شخص، چې د نورو په انډول د زیات عمر، تجربــې او پــوهې څښتن وي، د جرگې د رییس په توگه ټــاکي. د جرگــې غــړي غالبــاً د

متلونو او روایاتو په ویلو سره، نور قانع کوي او خپله خبره په زبات رسوي. په جرګه کې پرېکړه غالباً د اکثریت رایو له مخې ترسره کېږي. خو پر ځینو وختونو، چې تر خبرو اترو لاندې موضوع د ځانګړي اهمیت لرونکي وي، د رایو په اتفاق پرېکړه کېږي.

په جزایي او حقوقي چارو کې، د جرګې د جوړېدو لګښت، د ګټندویو غاړو له خوا ورکول کېږي.[1]

**۲- مرکه:** وړې جرګې ته وایي، چې له درېو یا څلورو تنو جوړېږي او وړې چارې لکه ( د واده غوښتنه) ترسره کوي. د مرکې غړي (مرکچیان) غالباً له پوهو او ځیرمنو اشخاصو څخه ټاکل کېږي.

**۳- ننواتې:** د یو چا کور ته د معذرت غوښتنې یا ګناه ښښنې لپاره تګ ته، ننواتې وایي. ننواتې د لویو ګناهونو (جنایت او سپکاوي) د ښښلو وسیله ګڼل کېږي. پښتانه د ننواتې د درناوي په خاطر، ان د وژنې له ګناه څخه تېرېږي.

د ننواتې په ډله کې سپین ږیري، روحانیون، مشران او ښځې ګډون کوي. د ننواتې په ډله کې د ښځو ګډون د هغو د لوړ ټولنیز مقام د تثبیت ممثل او د ټولنیزو کړکېچونو په کمښت کې د هغو د ونډې څرګندوی دی.

د ننواتې له دود سره سم پر هر چا، چې د ملامتۍ پړه پرته وي غالباً له پسه سره د مقابل لوري کور ته ورځي او پسه همالته حلالوي، د قرآن مجید د وړلو دود هم شته.

---

[1] رښتین، صدیق الله، پښتني دودونه، سباوون مجله، د امریکا چاپ، ۱۹۹۴ کال اکتوبر.

**۴- تیره ایښودل:** تیره ایښودل هغه وخت منځته راځي، چې د دوو کورنیو او قومونو ترمنځ جګړه یا اخ و ډب پېښ شي. هغه وخت د دواړو خواوو د غوښتنې له مخې او یا د ولسي جرګې په نوښــت، د تیږې ایښودلو له لارې، د سولې او سلامتۍ موضوع منځته راځي. د تیږې ایښودل د سولې او روغې د بنسټ ډبرې د ایښودلو، د اور بند او ډزبندۍ د اعلان مانا ورکوي. تیره د قومي مشرانو، سپین ږیرو او ملایانو له خوا، چې د سولې د ډلې دنده لري، ایښودل کېږي. د تیږې د ایښودلو پر وخت یوه ناغه هم ټاکل کېږي. هغه لوری، چې د تیږې له لوز نه سرغړونه وکړي، د ((ناغې)) په ورکړه مکلفېږي.

جرګه، مرکه، ننواتې، تیره، سوله او روغه په داسې ټولنه کې، چې د موضوعه قوانینو میکانیزم یې تراوسه د ټولنیزو مناسباتو د اوډنې لپاره ثابت او ډاډمن ځای پیدا کړی نه دی، د ټولنیزو شخړو د کمونې او په پای کې د له منځه وړنې، ګټور دودونه او چوکاټونه دي.

یاد شویو چوکاټونو په داسې حال کې، چې د حقوقو د دولت ستنې لا ټینګې شوې نه دي، د دود قانون په توګه، په افغانســتان کــې د پښتنو قومونو او قبایلو خپل منځي اړیکي سره تړلي او اوډلي دي.

یاد شوي قبیله یي دودونه (تعاملات) چې له غــچ اخیســتنې او ټولنیز کړکېچ نه، د یوې خلاصې ټولنې د جوړېدو موخه تعقیبوي، په پرېکنده ډول یې د حقوقو د دولت ټوکولو لپاره، ټولنیزه زمینه برابره کړې ده.

**درې- ځمکوالي (فیوډالیزم):** په داسې حال کې چې سلطنت په افغانستان کې د ارضي ارستوکراسۍ (اشــرافیت) څرګنــدوی و،

حاصلخېزه ځمکه او ملکیتونه یـې پــه لاس کــې وو. شــاه مخــورو اشخاصو ته د دولتي ځمکې په ورکولو سره، له سیاسي پلوه، هغوی د سلطنت د ارزښتونو په دفاع کې ودرول.

په هر ډول! د سلطنت موسسه د افغانستان په شان یو هېواد کې د مذهبي، ټولنیز او سیاسي پیوستون رول درلــود، شــاه د مختلفــو مذهبونو او بېلابېلو قومونو او قبایلو د یووالي محور و او له سیاسي پلوه د واک د ګڼ شمېر مرکزونو او ځمکنۍ ارستوکراسۍ په سر کې واقع و. د سلطنت دستګاه په ځانګړي ډول هغه وخت د واکمن قوم او ارستوکراسۍ ملاتړ درلود او پر مذهب باندې یــې د یــو مــانیز او روحاني ځواک په توګه ډېره لګوله، چې د سیاسي ثبات او د یووالي پر لامل بدله شوې وه، له دې سره سره د افغانستان په تاریخ کې کلــه چې د سلطنت موسسه د تاج و تخت د مدعیانو د رقابتونو له خطــر سره مخامخ نه وه، څه نا څه یې د ټولنیزې روغې او سیاسي قضاوت د مرکز په توګه، خپل اعتبار ساتلی دی.

# دویم څپرکی

# سیاسي واک

په افغانستان کې د واک مهمې سرچینې دادي: دین، قبیله او کورنۍ، شتمني، عمــر او د ژونــد تجربــه، بوروکراســي، اردو، تکنوکراســي او ایډیولوژي.

**الف- مذهب او دین:** د ټولنیز ژوند تر ټولو بنســتیزه ســتن ده. روحانیون، مذهبپوهان او ملایان تل د عام ولس د درناوي وړ وي او پــه ډېرو برخو کې یې د سیاسي پېښو په تګلوري کې بنسټیز رول لوبــولی دی. د افغانستان واکمنو تل د روحانیونو ټولي د ملاتړ خپلولو ته خپــل پام اړولی او له هغو څخه یې د خپلې واکمنۍ د دوام لپاره، د وسیلې په توګه کار اخیستی دی. هر کله چې شاه د ((کفر او الحاد)) پــه تــور، د روحانیونو د اعتراض له خطر سره مخامخ شوی، د ســلطنت دســتګاه لړزېدلې او یا ړنګه شوې ده. د انګلستان ښکېلاکګر او یرغلګر هېواد، د نولسمې پېړۍ په اوږدو او د شلمې پېړۍ په پیل کې، تل خپلې سیاسي موخې د مذهب په پرده کې تاوې کړي او د یوې داسې زهرجنې دوا په څېر یې، چې په خواږه پوښ کې تاوه شوې وي، د خلکو تر ستوني تېره کړې ده.د انګرېز له دې ګوډاګیانو څخه ځینو یې د هند د نیمې وچې د دیوبند په انګرېزي مدرسه کې سیاسي مذهبي زده کړې ترسره کولې او

د مدرسې تر فراغت وروسته، د دین د سیاسي تبلیغ لپاره افغانستان ته رالیږل کېدل، چې د افغانستان پــه کورنیــو چــارو کــې د ښــکېلاکګر انګلستان، د ځانګړو ګوډاګیانو په واسطه د ارامــې، ناڅرګنــدې، خــو اغېزمنې لاسوهنې څرګندوی و. پر افغانستان باندې د شوروي تر یرغل وروسته، د پېښو په ډلبندۍ کې مذهب پــر یــوې اغېزمنــې سیاســي وسیلې بدل شوی دی. د کابل کمونیست حکومت د افغــان مســلمان ولس د غوسې د کمولو لپاره خپل ځان دمذهب تر شا ودراوه او جهادي تنظیمونو (مسلمانو ډلو) د خلکو د مذهبي ولولو د زیاتې راپــارونې لــه لارې خپل سیاسي مورچلونه ټینګ کړل. په هرحال! د تنظیمي اسلام تر پېنځه لسو زیاتو ډولونو ( په داسې حال کې چې د اســلام دیــن خپــل پلویان د عقیدې او عمل یووالي ته رابولي) څرګندېدل دا په ډاګه کوي، چې دیني ارزښتونه د سیاسي کتنو تر اغېز لاندې راغلي دي.

د جهاد بهیر تجربې په ډاګه کړه، چــې د افغانســتان مســلمانان، د عقیده یې څرګندونو له مخې پر درېو برخو وېشل کېږي:

ــ هغه کسان چې د کینې تر بریده پر مذهبي موازینو ګروهمن دي. دا کسان مذهبي مناسک د خپل ذهن له اخیستنې او کینې سره سم ټکي پر ټکي عملي کوي. دې ډول خلکو ته اسلام یوازې د خپلو توجیهاتو په چوکاټ کې د پوهېدنې وړ دی او تر دې چوکاټه بهر بیا د شریعت پولې مسخه ګڼل کېږي.

د شریعت ټینګ پلویان د دې لپاره، چــې  خپــل ځــان او مــنځلارو مسلمانانو ترمنځ یې د بېلتون کرښه راکاږلې وي، خپل عقیده یې آرونه (اصول)، د اسلام له لومړنیو لارښوونوسره سم ګڼي او خپل ځان تــه د

مکتبي مسلمانانو په سترګه ګوري. مکتبي مسلمانان دين او مذهب له سياست سره يوځای کوي، په دې ډول چې سياست د مذهبي موخو د پر مخبيولو وسيله ګڼي.

دويمه ډله؛ اسلام ته په دې نړۍ کې د نفس د پاکولو او په هغې نړۍ کې د اخروي اجر د ګټلو د وسيلې په سترګه ګوري او په ملي او نړيواله کچه د اسلام دندې ته ( هغه ډول چې د مکتبي اسلام لارويان يې تصور کوي) پام نه لري. مکتبي مسلمانان دويمې ډلې ته له مکتب نه د بهـر ډلې په سترګه ګوري، چې د دوی په اند د شريعت آرونه په ټينګـه نـه عملي کوي.

ــ دويمه ډله اسلام ته د ځاني (فردي) عقيده يي ارزښتونو په سترګه ګوري، نه د يوې ايډيالوژۍ په توګه. د مومنانو دويمه ليکه د شريعت د آرونو په تعبير او شننه (تفسير) کې د پراخ نظر او د مخالفينو پر وړاندې د زغم او اوسېلې لرونکې ده.

ــ ټکنوکراتان، بوروکراتان د معارف او پوهنتــون اهــل کســان، پــه ځانګړې کته ګورۍ کې شاملېږي. د بنسټپال اسلام دفشار لــه کبلــه، سياسي اسلام ته پاملرنه ددې سبب شوه، چې د مومنــانو دا ډلــه نــه يوازې د مذهبي مناسکو پر ترسره کولو ټينګه شي، بلکې د مجاهدينو په ډله کې د باور ګټلو لپاره، په مذهبي څادر کې خپل ځان تاو کړي.

په دې ډول ځينې بوروکراتان، د ښوونځيو او پوهنتــون فارغــان، د رېږې په پرېښودلو د جاينماز، تسبيح او خولۍ په کارونې سره د جګړې ډګر ته راووتل. دا موسمي (اقتضايي) رېږې، چې په بــاوري ډول بــه د وخت په بدلون سره وخريل شي، ددې ډلې پــر ګروهمنتيــا (اعتقــاد)

باندې د بنسټپالو مسلمانانو شک راپيدا کړی دی. د ((حل و عقد)) لــه اهل جرګې څخه په ښکاره او کله هم د پټې جګړې په واسطه، د معارف او پوهنتون د اهل اشخاصو ايستل، چې په ځينو برخو کې د تروريستي غچ اخيستنې سبب کېږي، ټکنوکراتان او بوروکراتان د روحانيــت لــه ټولي څخه لرې کړي دي.

**ب- قبيله او کورنۍ:** د ټولنپوهانو په اند قبيله اوکورنۍ په افغاني ټولنه کې د واک غټ مرکزونه دی. د قبيله يي ژوند ارزښتونه تر عقيده يي ارزښتو تل ډېر ټينګ او ډېر څرګند وي. لکه کمونيستي ايډيالوژۍ، چې د يووالي له خپلو ټولو امکاناتو سره يې ونه کړای شول د افغانستان کمونيست ګوند ته يووالی ور وبښي. دا ګوند پر دوو قومي ډلــو خلــق (اکثريت پښتنو) او پرچم (قومي لږکيو) ووېشل شو. د اسلام دين د خپل يووالي له لارښوونې سره سره په عملي ډول ونه کړای شول د يــووالي يوې مستقيمې لارې ته د جهادي تنظيمونو لارښوونه وکړي. زيــاتره دا تنظيمونه د قومي او قبيله يي لېوالتياوو له مخې جوړ شوي دي او د دې تمايلاتو ټکر د اختلافونو سرچينه ګرځېدلې ده.

د دوو جهادي ډلو (اسلامي حزب او اسلامي جمعيت) ترمنځ د پښتنو او تاجکانو د قومي او قبيله يي غوښتنو پر بنسټ وسلوالې جګړې شوي دي.

کورنۍ زياتره په ښارو کې د مانيز ځواک سرچينه ګڼل کېــږي او لــه لويو قبيلو او قومونو سره نږدې اړيکي لري. نامتو کورنۍ پــه ځــانګړي ډول، د افغانستان له پخوانيو واکمنو څخه پاتې کسان او روحاني کورنۍ

**د ټولنيز اعتبار خاوندان دي او خپل مانيز ځواک په ارثي ډول پښت په پښت خپلو پاتې کسانو ته لېږدوي.**

**ج- شتمني: ځمکه، پولي او مــالي پانګــه، د ټــولنيز واک نــورې سرچينې دي، خو د ځمکوال او پــانګوال واک هغــه وخــت د هغــو د شخصي ځمکې او پانګې تر بريده بهر خپل اغېز شيندي، چې د واک له نورو سرچينو يانې اشرافيت، مذهب، قبيلې او کورنۍ سره يوځای شي. ځکه نو په افغانستان کې د پرمختللو پانګوالو هېوادو پر خلاف، د واک مادي او اقتصادي ملاتړ، د هغه د سرچينې د ټولنيز ملاتړ له اړيکو پرته، زيات اعتبار نه لري.**

**د- عمر او د ژوند تجربه: د قوم او قبيلې ســپين ږيــري د لــوی اخلاقي حيثيت څښتنان وي او ځوانان تل په شخصي او رسمي ژونــد کې له هغو څخه مشوره اخلي. د اسلام سپېڅلی دين د با تجربه سپين ږيرو ټولنيز موقعيت ته د ځانګړي ارزښت په سترګه ګوري او د هغــوی سپکاوی ګناه ګڼي. د باتجربه سپين ږيرو ټولنيز اعتبار هغــه وخــت د زيات اخلاقي واک سرچينه ګرځي، چې له روحاني اغېز څخه بــرخمن وي.**

**ه - بوروکراسي: په بوروکراسۍ او دولتي دســتګاه کــې د مقــام نيول، په افغاني قبيله يي ټولنه کې د واک نوې سرچينې ګڼل کېږي. دا سرچينه يوازې د مرکزي دولت د حيثيــت پــه خپرولــو او د قبــايلو د مشرانو او مذهبي لارښوونکو د مقاومت په ماتولو سره څرګنده شــوه. واليان، ولسوالان او حاکمان د واک له کلاسيکو سرچينو سره پر رقابت**

اخته شول. پـر (۱۹۷۸م) کـال د کمونیسـتانو کودتـا د سیاسـي واک کلاسیکو مرکزونو ته یو ځل بیا پام را واړاوه.

**و- د جهاد قومانده:** وسلې له ډېرې پخوا څخه په افغاني ټولنه کې د سیاسي واک د ګټلو او ټولنیزو ستونزو په حل کې رول لرلـی دی. د کمونیستانو کودتا او افغانستان ته د وسلو د سېلاب په راتګ سـره، د ټولنیز او سیاسي واک د سرچینې په توګه، د هغـې اهمیـت لا زیـات څرګند کړ. په وروستۍ لسیزه کې مختلفو سیاسي ډلبندیو د زیـاتو او نویو وسلو د لاسته راوړلو لپاره له یو بل سره پر رقابت لاس پورې کړ. په دې ترڅ کې د اسلامي تنظیمونو قوماندانانو د جهاد د سوق او ادارې د بنسټیزو عناصرو په توګه ځان څرګندکړ.

د سیاسي حالت پرمختیا هم څه ناڅـه د افغانسـتان د پېښـو پـه تګلوري کې، د جهاد د قوماندانانو تفاهم ته، د زیاتې پاملرنې څرګندویه ده. ځکه نو قوماندانان د افغاني ټولنې په سوسیولوژیکه شننه (تحلیل) کې د ځواک د یوې نوې سرچینې په توګه د محاسبې وړ دي.

**ز- تکنوکراسي او پوهه:** د شعرونو ځینې بیتونه، د لویانو ویناوې او سیمه ییز متلونه، په داسې حال کې، چې د یو ملت د ژوند د فلسفې غوره ممثل ګڼل کېږي، کولای شي خپل ځان له هېرېدو څخه وژغوري، د تاریخ په حافظه کې وي او له یو پښت څخه بل ته ولېـږدي، علـم او پوهنې ته د درناوي په باب او له ((ټولنیز ځواک)) سره د هغو د اړیکو په باب، دري فرهنګ کې تر ټولو غوره بیت دادی:

**توانا بود هر که دانا بود          ز دانش دل پیر برنا بود**

ټکنوکراسي او پوهه زموږ په ټولنه کې د واک نوې پدیدې دي چې د معارف او پوهنتون د نوي تعلیم په راټوکېدو، له بهرنـــي نـړۍ ســـره د افغانستان د خپلواک دولت د کلتوري اړیکو له پراختیا څخه رامنځتــه شوي او زموږ د ټولنې په منځ کې یې لا مناسب دریځ تر لاسه کړی نه و، چې کمونیستانو زموږ د هېواد د مسلمان ولس پراخه پرګنې، د هغو په مخالف لوري کې ودرولې.

ح – اردو: په افغانستان کې دسیاسي بدلونونو په رامنځته کېدو کې د اردو رول، تر ټولو لومړی، د روســـانو د پـــاملرنې وړ وګرځېـــد، دوی د خ.د.ګ (وروسته وطن ګوند) په واسطه په وسلوال پوځ کې نفوذ وکړ. د کمونیستي ډلې له خوا تر پنځوسمو میلادي کلونـــو وروســـته، د اردو د منسوبینو په منځ کې کار پیل شو. پر (۱۹۷۳م) کال د سردارمحمد داود پوځي کودتا، د نیمې پېړۍ دسیاسي چوپتیا طلسم مات کړ او اردو یې د سیاسي واک د ترلاسه کولو پر یوې اغېزمنې وسیلې بدله کړه. پـــه دې کودتا کې کمونیستو ګوډاګیانو هم ګډون کړی و.

کمونیستانو پر (۱۹۷۸م) کال د یوې بلې پـــوځي کودتـــا لـــه لارې دا وسیله وکاروله. دا د افغانستان د معاصر تاریخ د غمیزې پیل دی.

ط – ایډیولوژي: ایډیولوژي او سیاسي ګروهه (عقیده) په افغـــاني ټولنه کې د واک په چارو کې نوي او تر یو حده لوکس عناصر ګڼل کېږي. د ډیموکراسۍ له ارزښتونو، لکه ټولنیزه خپلواکي، د خپرونـــو ازادي، د رایې حق، د ټاکنو ازادي، د مساواتو تامین، د زبېښناک له منځه وړل، د ملي واکمنۍ حق او نورو څخه دفاع، له نړیوالې ټولنې سره د افغانستان د دولت د اړیکو د پراختیا پایله ده. ددې اړیکو ټینګښت پـــه ځـــانګړي

ډول له دوو لارو په افغانستان کې د ختیځ او لویدیځ د پرمختللي صنعتي نړۍ فکرونو او سیاسي ګروهو د اغېز زمینه برابره کړه: د ډله ییزو ارتباطي وسایلو (ماس مدیا) له لارې او له بهرنیو تعلیمي مرکزونو او پوهنتونونو نه د افغاني فارغ التحصیلانو د بېرته راتګ له لارې.

له بهر څخه رالېږل شوې ایډیولوژۍ، د افغاني ټولنیز چاپېریال له ټینګو واقعیتونو سره په جګړه کې، تل ماتې خوړلې ده. دا د دودیز او تعاملي ژوند هغه واقعیتونه دي، چې ملي عمومي ماناوې او ان نړیوالې سیاسي ګروهې، لکه د رایې ورکول، خپلواکي، زبېښاک (استثمار) انترناسیونالیزم او نور یې تر سیمه ییزو، قومي او قبیله یي لېوالتیاوو (تمایلاتو) څخه واړه کړي دي. د افغانستان د سیاسي ګوندونو د جوړېدو تاریخ څو بېلګې وړاندې کوو.

یو- ویښ زلمیان: پر (۱۹۴۷م) کال د ویښ زلمیانو ګوند په کندهار کې جوړ شو او د هغه په جوړښت کې پښتنو ډېر زیات اکثریت درلود. پر (۱۹۵۰م) کال د خپرونو د لیبرال قانون په رامنځته کېدو سره (انګار، نیلاب، اولس، اینه او نورو) پر خپرونو پیل وکړ. ځینې دا جریدې وروسته د سیاسي ډلو د جوړېدو بنسټ وګرځېدې. لږ تر لږه د افغانستان د قومي او مذهبي لږکیو څخه دوه ډلې یوځای شوې وې او د ویښ زلمیانو د مقابل لوري وزنه ګڼل کېدله. د خپرونو په منځ کې د غلام محمد غبار د (وطن) او د عبدالرحیم محمودي (ندای خلق) جریدو پر سیاسي فعالیت لاس پورې کړ. څکه نو قومي پولو عمومي سیاسي ایډیالونه تر سیوري لاندې راوستل.

**دوه- خلق او پرچم: پر (۱۹۶۴م) کال د لیبرال اساسـي قـانون د تدوين او د صدارت له څوکۍ نـه د محمـد داود اسـتعفی، د سیاسـي فعالیتونو لپاره ښه زمینه برابره کـړه. د (۱۹۶۵م) کـال پـر جنـورۍ د افغانستان د خلکو دیموکراتیک گوند جوړ شو، نورمحمد تره کی یې د منشي او ببرک کارمل د هغه د مرستیال په توگه وټاکل شول. د گوند د جوړېدو له همغه پیل څخه د نوموړو دوو لارښوونکو شخصیتونو ترمنځ د مشرتوب د نیولو لپاره پټ رقابت پیل شو، دا رقابت په گوند کې د بې اتفاقۍ او د دوو ډلو د رامنځته کېدو بنسټ وگرځېد او دا ډلې د قومي او قبیله یي اړیکو له مخې، له یو بل نه جلا شوې. روسانو یو موټي او متحد کمونست گوند ته اړتیا لرله، چې له هغه څخه په افغانستان او سیمه کې د خپلو هیلو د پرمختبېولو لپاره، د یوه بې رقیبه ځواک پـه توگـه کـار واخلي. په همدې مقصد یې گوند تل د نظر او عمل یووالي تـه هڅـاوه. وروسته دې ته متوجه شول، چې د افغاني ټولنې قومي او قبیلـه یـي جوړښت تر دې څخه ډېر زیات سخت دی، چې وکړای شي د ایډیولوژۍ په تصنعي چوکاټ کې یو واحد او متجانس گوند جوړ کړي.**

**دې ټکي ته په پاملرنې سره، چې د یو واحد گوند څرگندېـدل بـه د خپلواکۍ د احتمالي لېوالتیا په لرلو سره، د مرکز یانې (ماسکو) کنټرول له ستونزو سره مخ کړي، د خلق او پرچم د دوو کمونیستو گونـدونو د جوړښت لپاره، له قومي او قبیله یي اختلافونو څخه، د روسـانو د پـر وخت گټې اخیستلو په کار کې، یو بل لامل زیات شو.**

**پر (۱۹٦۸م) کال د خلکو ډیموکراتیک گوند د خلق او پرچم پـر دوو ډلو ووېشل شو. نورمحمد تره کی او ببرک کارمـل د یـوې یـوې ډلـې**

مشران شول. نورمحمد تره کي ته د اکثریت پښتنو قومونو او قبایلو په منځ کې د جلب او جذب دنده وسپارل شوه، په داسې حال کــې، چــې کارمل د افغانستان د قومي او قبیله یــي لړکیــو، پــه ځــانګړي ډول د تاجکانو په منځ کې د اغېز لپاره په کار لاس پورې کړ او په دې کار کــې یې د ملي ستم (ستم ملي) له ډلې سره نږدې ملګرتیا پیل کړه. ځکه نو د مارکسیزم لیننیزم ایډیولوژي، له خپلې ظاهري یو رنګۍ او ټینګښت سره سره، پر دې بریالۍ نه شوه، چې د افغاني ټولنې قومي کینــې تــر سیوري لاندې راولي او د افغانستان د زیــار کښــانو د مخکښــانو پــه اصطلاح، عقیده یي سمون ( هم اهنګي) د هغه څه په منځ کــې، چــې دوی طبقاتي ګټې ګڼلې، تضمین کړي. افغاني مارکسیستانو په داســې ټولنه کې، چې د یو ملت په چوکاټ کې د هغې د قومونو یووالی په پوره توګه نه و بشپړ شوی (( د نړۍ پرولتار یا سره متحد شئ)) شعار پورتــه کړ.

دري- د ملي ستم ډله: پر (۱۹۶۵م) کال جــوړه شــوه او طــاهر بدخشی یې مشر شو، دې ګوند د روسانو تــر ملاتــړ او د مارکســیزم د ایډیالوژۍ تر پردې لاندې، د قومي او قبیله یي بې اتفاقۍ د راپارولو لپاره هلې ځلې کولې. دې ډلې د افغانستان په شمالي سیمو کې د تاجــک، ازبک، ترکمن او هزاره لړکیو قومونو په منځ کــې د پښــتنو پــر ضــد د ((جهاد)) د مفکورې په پرمخبیولو سره سیاسي کار کاوه.

حفیظ الله امین د طاهر بدخشي او دهغه د مرستیال قومي او سیاسي حساب ته ځان ور ورساوه او دواړه یې د مرګ کندې ته ټیل وهل.

خلق، پرچم او ملي ستم له ایډیولوژیک پلوه له یوې سرچینې څخه خړوبېدل. یوه هیله یې تعقیبوله او د شوروي له خــوا ورســره پــولي، مالي،سیاسي، تبلیغاتي او د وسلو مرستې کېدلې. په بېلابېلو سیاســي نومونو او نښانونو، د مختلفو ډلبندیو له ملاتړ څخه د روسانو موخــه دا وه، چې د هغو عمومي عقیده یي ارزښتونو د پراختیا مخه ونیسي، چې افغاني ټولنې ته یې یو رنګي (تجانس) وربښه. دوی هڅه کوله د بېلابېلو شخصیتونو او قومونو په راجلبونې سره د خپلو بې اتفاقه او پر دښمنۍ اخته پلویانو په مرسته، ځان د افغانستان پوځي اشغال ته نږدې کړي. د سیاسي واک نیول او بیا د دولت په اداره کې د زیاتې ونډې اخیســتل، ماسکو ته د نږدې کېدو او له هغه هېواد څخه د زیاتو مرستو راجلبول د خلق، پرچم او ملي ستم د ډلو ترمنځ د رقابت د څرګندېدو سبب شول. دې رقابت د ښکېلاک پلان بشپړ کړ.

څلور- د شــعله جاویــد ډلــه: پــر (۱۹٦۸م) کــال د ((د نــوي ډیموکراتیک جریان)) په نوم راڅرګنده شوه. دا ډله وروسته د شــعله جاوید په نوم یاده شوه. شعله جاوید د هغې جریدې د نوم راخیســتنه وه، چې عبدالرحیم محمودي یې د امتیاز خاوند و. شعله جاوید د ټولو لپاره د ژوند د سیاسي او مادي شرایطو د تساوي پر تیوریکي ادعا، چې د هېواد په اداره کې یې قومي او قبیله یي لړکیو ته د زیاتو امتیازاتو او برخې اخیستنې د ورکړې هیله لرله، د مارکســیزم، مــاهویزم تګــلاره تعقیبوله. شعله جاوید د مارکسیزم له دروغجنې ایډیالوژیکي جذبې نه په ګټې اخیستو سره، په لړکیو او د عقدې پر ناروغیو اخته هزارګانو او تاجکانو کې پلویان پیدا کړل.

په ټولیز ډول کینې لاسو ګوندونو ته منسوب د افغانستان قومي لړکیو، د سیاسي واک د ترلاسه کولو لپاره، ان د انترناسیونالیزم له اصل سره د مارکسیزم، لینینزم فلسفه، ( ملي ستم، پرچم) ته دشوروي د کمونستو دولتونو او (شعله جاوید، پیکار، ساما، اخګر، سازا، فازا، ګوافز او نورو ته) د چین د مرستو د راجلبولو وسیله ګڼله. د واکمنۍ د تاریخي چلوونکي په توګه د پښتنو د اکثریت د یوې خوا ته کولو لپاره په کورنۍ کچه بله هېڅ قهرجنه یا سوله ییزه لار موجوده نه وه. د روسانو لښکر کشــۍ او ببرک کارمل ته د واک ورکړه، ځینو دې ډلو ( د روسانو پلویانو) تــه دا خوب پر واقعیت بدل کړ.

پینځه- د افغان ملت ګوند: هغه سخت ټولنیز کړکېچ، چــې لــه (۶۰)مو کلونو څخه د جهاد تر لسیزې (اتیایمو کلونو) پورې افغاني ټولنې ته بدلون ورکړ، د ځینو سیاسي ګوندونو د ناڅرګندتیا سبب شــو، پــه داسې حال کې چې نور نوي ګوندونه راڅرګند شول. پر دې وخــت لــه افغاني ملتپالنې (ناسیونالیزم) څخه، چې سخت د تهدید له خطر سره مخامخ وه، دفاع د یوې تاریخي دندې په توګه پاتې شوه. د افغان ملت ګوند چې د (۱۹۶۶م) کال د مارچ پر (۸) مه نېټه، د غلام محمد فرهاد په واسطه په کابل کې، د کمونیستي انترناسیونالیزم د توطیې پر وړاندې د غبرګون په توګه منځته راغی، د افغــاني ناســیونالیزم د دفــاع لپــاره ګروهمن پاتې شو او په دې ډول یې د کړکېچ په لوړو ژورو کې د خپــل ژوند دوام تضمین کړ.

د افغان ملت ګوند د ګوتو په شمېر هغو ګوندونو له جملې څخه دی، چې د مدرنو تشکیلاتو،له هغې جملې نه، د دارالانشــاء، عــالي شــورا،

اجرائيوي شورا، ګڼ شمېر کمېټو او مهالنۍ کنګرې لرونکی دی او خپل فعاليت د کړنلارې او تګلارې له مخې ترسره کوي.

د افغان ملت ګوند د وخت په تېرېدو سره د مخالفو قوتونو د يرغل پر وړاندې، چې د بهرنيو هېوادو د ملاتړ په سيوري کې، د توطيې له لارې د سياسي واک د لاسته راوړلو په لټه کې وو، د بېلابېلو پښتنو قبايلو ( او څه نا څه د نورو قومونو) پر مورچل بدل شوی دی. پر افغانستان باندې د شوروي تر يرغل وروسته، د افغان ملت ګوند د ملي لېوالتيا او له بهـر سره د نه پيوستون له امله، له مادي پلوه د يو ضعيفه مـنځلاري او لـه اخلاقي پلوه د يو ځواکمن ګوند تر بريده، د روڼ اندو په منځ کې پـاتې شو.

دې ګوند له کينې او ښي افکارو سره په مخالفت کې، ځان د سوسيال ديموکراسۍ پر منځنۍ ليکه ودراوه، د (خدای(ج)، هېواد او ملت) تر شعار لاندې يې د افغانستان د خلکو په جهاد کې برخه واخيسته. هغه وخت نو پر پښتنو سربېره، د اعتقاد له پلوه د زياتو خلکو، له هغې جملې نه د ځينو نورو قومونو د روښنفکرانو د جلب او جذب پر مرکز بدل شو.

انترناسيوناليســتو پرچمـــي کمونيســتانو، پــر افغــاني ملتپــالنې (ناسيوناليزم) باندې د باور له امله د افغان ملت ګوند له سخت ټکر سره مخامخ کړ. پر (۱۹۸۲م) کال دا ګوند د پرچمي حکومت د بريد له خطــر سره مخامخ شو او ځينې مشران يې زندان ته ولېږل شول.

په داسې حال کې، چې ددې ګوند ځينې مشران پاکستان ته کډوال شوي وو، د پاکستان حکومت هغوی ته د لوی افغانستان د جوړېدو لپاره د عقيده يي لېوالتيا له کبله، په خپله خاوره کې د فعاليت اجازه ور نــه

کړه. دا ټکی د افغان ملت؛ په ګوند کې د فعالیتونو د پاشلتیا او انشعاب یو لامل وګرځېد.

افغان ملت سوسیال ډیموکرات ګوند د (۱۹۹۵م) کال په جولای کې د ګن شمېر تیت و پرکو سیاسي فعالیتونو د مرکزونو د یوځای کولو لپاره خپله څلورمه کنګره جوړه کړه. په دې کنګره کې (دوکتور انوارالحق احدي) د (ډاکټر محمد امین) واکمن پر ځای، د ګوند د مشر په توګه وټاکل شو.

## شپږ- اسلامي ډلې، د سیاسي ژوند ځانګړنې او د جګړه ییزې ستراتیژۍ غوراوی.

### لومړی- جهادي تنظیمونه:

۱- عمومیات: (( پر (۱۹۶۴م) کال د مسلمانو ځوانانو غورځنګ جوړ شو او لاندې اشخاصو یې مشري کوله:

سلام نیازي، برهان الدین رباني، محمد کبیر، موسی توانا، عبدالرب رسول سیاف. وروسته ځینې نور اشخاص له لومړني کړۍ سره یوځای شول، هغه اشخاص دادي: عبدالرحیم نیازی، مولوي حبیب الرحمن، غلام رباني، ډاکتر عمر، سیف الرحمن، ګلبدین حکمتیار، محمدجان احمدزی، فاروق، سید نورالله عماد او نور.

د مسلمانو ځوانانو غورځنګ تر خپل جوړښت وروسته په ډېرې چټکۍ سره د منځني ختیځ د اخوان المسلمین له شبکې سره اړیکي پیدا کړل او تر هېواده بهر اخواني ټولنو کې یې ځانته رسمیت ورکړ.

مولانا مودودي، چې پر (۶۰)مو کلونــو پــه بېــروت کــې اســتوګن و، د مسلمانو ځوانانو له غورځنګ سره منظم اړیکي ټینګ کړل.)) [1]

تر هغه وخته پورې، چې سیاسي مبارزه له تیورۍ څخه په عمل کـې پلې شوې نه وه او له غورځنګ څخه د بهرنیو هېوادونو ملاتړ مطرح نه و، اخواني مشرانو بشپړ تیوریک تفـاهم درلـود. د (۶۰)مـو کلونـو تـر بدلونونو او په ځانګړي ډول پر افغانستان باندې د شـوروي تـر پـوځي یرغل وروسته، مسلمان ځوانان پر مختلفو ډلو ووېشل شول. دا ډلبندۍ د سیمې، قوم، ژبې او مذهب ځانګړنو یوه له بلې بېلولې.

دا ټکی هم د یادونې وړ دی، چې د اتیایمو او نویمو کلونو د پېښو جبر هم ځینې اسلامي ډلې مجبوره کړې، چې د خلکـو ډیموکراتیـک لـه کمونیستو ډلو سره سازش او ایتلاف وکړي، دې کار د هغـوی سـوچه اعتقاد راکم او کینه ییز چلند یې لږ څه راټیټ شو.

د ژبې او کلتور له پلوه دوه ډلو جهادي تنظیمونو پر افغانستان باندې خپل کنټرول ټینګ کړ: ( له تاجکانو او هزاره ګانو څخه جوړ) دري ژبي جهادي تنظیمونه او ( له پښتنو قومونو څخه جوړ) پښتو ژبي جهـادي تنظیمونه.

په جنوب کې پښتنو قبایلو د قبیله یي ژوند له دودونو سره د همغاړو تنظیمونو لکه د مجددي، محمدي او ګیلاني تنظیمونو سره پیوسـتون پیدا کړ. د مرکزي برخو کنټرول، چې زیاتره هزاره وګـړي پکـې ژونـد کوي، د شیعه ګوندونو په لاس کې پرېوت. په شمالي سیمو کــې چــې

---

[1] فضل غني مجددي، امید جریده، ۱۹۹۶م کال فبروري، ۲۰۱ ګڼه.

تاجکان، ترکمنان او ازبکان ژوند کوي، د جمعیت تنظــیم او د دوســتم ملي غورځنګ اغېز لري.

د ګوندونو جغرافیايي وېشنه اغېزمنونکې ده: د مقاومت د لومړنیــو کلونو پر مهال په شمالي سیمو کې د اسلامي انقلاب حرکت او اسلامي حزب مقاومت د یادونې وړ دی. پورتنیو دوو تنظیمونو د بغلان، غوربند او بادغیس په پښتون مېشتو سیمو کې پلویان درلودل.

کوچیانو، بلوڅانو د قبیله یي دود پلوي تنظیمونو تابعیت کاوه. مخور نورستاني شخصیتونه د قبیله یي ژوند ملاتړ ته لېواله وو، له همدې کبله د دودیزوالو تنظیمونو پلویان وو، په داسې حال کــې چــې نورســتاني ملایان، اسلامي بنسټپالنې او بنسټپالو اسلامي تنظیمونو ته متعقد وو. د هېواد په لویدیځ کې د تنظیمونو د غړیتوب په لېوالتیا کې د قومي وېش په پرتله د محاورې ژبې ډېر رول درلود. ( د شینډنډ او فراه په اوړدو کې) دري ژبي شوي نورزیان اسلامي جمعیت پورې وتــړل شــول. د ختــیځ پښتو ژبي نورزیان، د اسلامي انقلاب حرکت پلویان وګڼل شول.

د حکمتیار د اسلامي حزب له انشعاب څخه، د مولوي خالص اسلامي حزب منځته راغی. دې ګوند د جهاد پــر لومړیــو کلونــو د (ننګرهــار) خوګیاني قبایل، د کابل د جنوب او د پکتیا پښتانه سره متحد کړل.

په ډېرو برخو کې ګډ کلتور، مذهب، ژبه او دین پر دې نه دي بریــالي شوي، چې د یو واحد قوم د بېلابېلو ډلو ترمنځ د سیاســي یــووالي او پیوستون موجبات برابر کړي، ان سیمه ییز او محلي اړیکي پر نومــوړو څېزونو بریالي شوي دي. له همدې کبله بېلابېل پښتانه قبایل د یــوې

**واحدې ژبې، کلتور او مذهب په لرلو سره، د بېلابېلو سیمو له مخې، په مختلفو تنظیمونو کې تیت او پرک شول.**

**پښتانه په ځینو سیمو، لکه د هېواد په شمالي سیمو کې د قبیله یي ژوند د چوکاټ له اغېزه بهر ژوند کوي او له سترو سیاسي بدلونونو سره لاس او ګرېوان دي.**

**د شمال سیمو اسلام، چې نه دودیز حقوق او نه یې کومې ځانګړې موسسې پر وړاندې ولاړې وې، د جنوب په انډول اعتدالي او نرم ښکاري.**

**۲- د جلب او جذب سیمې او ډلبندي: افغاني مسلمانان د عقیده یي لېوالتیا له مخې، کولای شو پر درېو ډلو ووېشو: اخواني بنسټپال، د تصوف خاوندان او د مدرسو فارغان (طالبان).**

**البته پورتنۍ ډلبندۍ کله نا کله یوه پر بلې اغېز ښندي، لکه د مجددي کورنۍ چې د مدرسه یي او تصوفي اړیکو لرونکې ده.**

**د هېواد په شمال کې بنسټپالې او تصوف پلوه ډلبندۍ د یو بل تر اغېز لاندې راځي. سربېره پر دې د یو سیاسي مشر قوم له هغه څخه ملاتړ کوي، که څه هم له نوموړي مشر سره عقیده یي او سلیقه یي اختلاف ولري.**

**الف- اخواني بنسټپال: پوهنتونونه، ښوونځي او تر یوې کمې اندازې مدرسې، د بنسټپالو د جلب او جذب ځواکمنې سیمې دي. په بله وینا اخواني بنسټپالو د ښارونو په کلتوري مرکزونو کې د جلب او جذب له امکاناتو څخه زیاته ګټه اخیستې ده.**

د مقاومت پر لومړنیو کلونو، په شمال لویدیزو سیمو کې، د تصوف د پلویانو (اهلو) په منځ کې چې بنسټپالنې ته لېواله وو، د جمعیت تنظیم جلب و جذب تر سترګو شوی دی.

په شمال لویدیزه حوزه کې د ښوونځیو او مدرسو فارغانو د فعـالینو زیاته برخه جوړوله. د هرات د جامعې مدرسې ځینې استادانو، د سیمه ییزه جبهو لارښوونه کوله.

د ښوونځیو او مدرسو له فارغانو سره، وروسته د اردو صاحب منصبان (لکه اسمعیل خان) او دولتي مامورین هم یوځای شول.

په شمال ختیزو سیمو کې اخواني روښانفکران که اسـلامي حـزب پورې تړلي وو که په جمعیت پورې معمولاً له پوهنتونو څخــه راپورتــه شول. هغه کسان، چې د (۱۹۷۵م) کال ( د سردار داود د حکومت وخت) له شورش څخه روغ پاتې شول، د شوروي ضد پاڅون پر لومړنیو کلونو یې په شمال ختیځ کې د مقاومت سیمه ییز کدر جوړ کړ.

بدخشان، تخار، کندز او پروان د جمعیت تر کنټرول لاندې راغلل. د فیض اباد په شاوخوا کې ( د یفتل قوم ته منسوب) د رباني شخصي اغېز ستر رول لرلی دی.

په پنجشیر دره، مزارشریف، بغلان او غوربند کې په ډېر شدت سره د بنسټپالو اغېز څرګند شو. بغلان، کونړ او لغمان د حکمتیار د اسـلامي حزب تر کنټرول لاندې راغلل.

ننګرهار د مولوي خالص، د سیاسي اغېز په کړی کې راغی. په لغمان او د هغه په شاوخوا سیمو کې سیاف خپل اغېز ټینګ کړ.

**ب- د تصوف خاوندان یا لارویـان: درې مهمــې فرقــې لــري، نقشبندیه فرقه، قادریه فرقه او چشتیه فرقه.**

له دې فرقو څخه نورې لړی راپورته شوي دي. داسې دود دی چــې دوی خپل لارویان یوې لړی پورې تړي، لکه په هــرات کــې د خواجــه احرار، خواجه محمد اصفهاني، شیخ نمک پوش، شیخ ســبزي پــوش، عبدالرحمن ابن عوف سلسله او نورې نومیالی لړی ګڼل کېږي.

پیران خپل سیمه ییز اغېز لري. د اغېز معیار د هر پیر د شخصیت په اندول توپیر لري. د پیرانو ترمنځ د مرتبو لړی وي. مثلاً ممکنــه ده یــو سیمه ییز پیر خپل ځان پر تېر وخت د یو بل مخور پیــر ځــای ناســتی (خلف) وګڼي. د جهاد په بهیر کې متصوف مریــدان د دوو پیرانــو پــر شاوخوا راټول شول: دا پیران یو (سید احمد ګیلاني) د ملــي اســلامي محاذ موسس او بل (حضرت صبغت الله مجددي) د ملي نجات جبهــې مشر و. عامه ذهنیت داسې دی چې حضرت صبغت الله مجددي پیر نه دی، خو د کورنۍ له لوی اعتبار څخه برخمن دی. د مجددیانو د لــړۍ وروستۍ پیر محمد ابراهیم مجددي نومېده. ملي اسلامي محاذ او ملي نجات جبهه، د اعتدالي (منځلاري) اسلام ملاتړ کوي. اسلامي محــاذ د سلطنت د نظام د بیا ټینګښت ملاتړ کاوه. شاید یوه وجه یې دا هم وي، چې سلطنتي نظام او د پیر مریدان د پښتون له واحدې قــومي چینــې څخه اوبه څښي.

په ټولیز ډول غلزي مریدان د دراني (ټبر) پلوي کوي. کورنیو اړیکو دا پیوستون ټینګ کړی دی. د امان الله خان مېرمن د ګیلاني او محمدزي له پښته وه. د سید احمد ګیلاني مېرمن محمدزۍ وه.

صبغت الله مجددي هم د عثمان د کورنۍ له لارې له پخواني سلطنتي کورنۍ سره اړيکي پيدا کړي دي. (( د ګيلاني او مجددي تنظيمونــه، د مذهبي پوهانو له کينې سره مخالف دي او له اخواني بنســټپالو ســره بشپړ ضديت لري. دا دوه تنظيمونه Laicisme ته د يو ډول متمايل اسلام پلوي کوي.[1]

د ګيلاني او مجددي تنظيمونه د سياسي ځواک له پلوه کمزوري پاتې شول. خو دې سره سره د لوګر د احمدزيو په قوم او کندهار په شاوخوا کې د هغوی اغېز څرګند و.

**ج- د مدرسې اهل:** مدرسه د مدرس او طالــب تــرمنځ د مــانيزو اړيکو بنسټ ايښودونکې ده. د هغو اړيکو په شان، چې د يو پير او مريد ترمنځ کېدی شي، موجود وي.

سره له دې چې په افغانستان کې د مجــددي کــورنۍ لــه سياســي (انقراض) سره، د مذهبي علماوود لارښوونې جغرافيايي يا سياسي مرکز له منځه لاړ، خو اوس هم د مذهبي پوهانو پراخ قشــرونه پــاتې دي. دا پوهان غالباً له مدرسو څخه فارغ شوي دي.

ځينو پښتنو مذهبي پوهانو په پېښور کې زده کړه کړې ده. هغوی په قبايلي سيمو کې با اعتبار شخصيتونه دي. د جهــاد پــه بهيــر کــې د مولويانو نا رسمي شبکه د کابل په شاوخوا کــې (مولــوي شــفيع الله)، ننګرهار (مولوي خالص)، غزني او ګرديز (مولــوي نصــرالله منصــور) او کندهار کې فعاله وه.

---

[1] افغانستان Le Roy Olivier، پاريس، ۱۹۹۴م کال، ۱۶۳مخ.

په جنوب لویدیځ کې تیت و پرک مولویان پاتې شول او په شــمال او زابل کې یې په ټاکلو سیمو کې اغېز پاتې شو او فراه کې د تصــوف لــه پلویانو سره ګډل شول.

له مدرسې نه په راټوکېدلو ګوندونو کې د اسلامي انقلاب حرکــت او اسلامي وحدت ګوند دریځ پیاوړی دی.

ـ د اسلامي انقلاب حرکت: د مقاومت پر لومړنیو کلونو یــې لــه مدرسو څخه د فارغانو مذهبي علماوو زیاته برخه په خپلو لیکــو کــې جذب کړې وه. له دې کبله د مقاومت پــه غورځنــګ کــې د ځــواکمن اکثریت لرونکی و.

لکه څنګه چې مولوي محمد نبي د غزني او لوګر په مدرســو کــې د ښوونکي (مدرس) دنده لرله. نوموړو مدرسو اسلامي انقلاب حرکت ته زیات کدرونه روزلي وو، دغه راز محمدي په هلمند کې د کرنې ځمکــه لرله او له دې پلوه د خپل سیاسي اغېز د شیندلو لپاره په ښه دریځ کې و.

مذهبي عالمانو، داسلامي انقلاب حرکت تنظیم کې یو ناسیاسي ګوند یا د سنیانو یوه ټولنه تر سترګو کوله. په حرکت تنظیم کــې د مرکــزي جوړښت، ټینګ سازماني تشکیل او ایډیولوژۍ د نشتوالي له کبله پــه خپله سطحه، د مذهبي عالمانو د جلب او جذب لپاره یــو اعتــدالي او منځلاری غورځنګ دی.

د اسلامي انقلاب حرکت تنظیم په داسې حال کې، چې د شریعت د پلې کېدو ملاتړ کوي، د اسلامي جمهوریت د ټینګښت خبره نه یادوي. د حرکت تنظیم له اخواني بنسټپالو (چې د حکومت د واک لاسته راوړل

يې د پروګرام په سر کې ځای لري) او د سلطنت له پلويانو سره (چې د Laique دولت د ټينګښت پلوي کوي) يو شان مخالف دی.

له دې سره سره د حرکت تنظيم، له لومړنۍ ډلې سره د شريعت پـه پلي کېدو او له دويمې سره د سلطنت او اسلام د سمون په بـاب سـر خوځوي. له اخواني لېوالتيا پرته، بنسټپالې تګلارې، د شوروي د يرغل پر لومړنيو کلونو، د اسلامي انقلاب حرکت تنظيم، د اعتدالي مسلمانانو د پراخه قشرونو د جلب او جذب پر مرکز بدل کړ.[1]

د اسلامي انقلاب حرکت په سيمه ييزو جبهو کې غالباً د ناحکومتي مذهبي مدرسو په منځ کې د فعاليت لارښوونه کوله. هلته نـو مـدرس مولوي، عموماً د لوستونکو طالبانو سياسي مشري کوله. په دې ډول د هېواد په زياتو سيمو کې، د اسلامي انقلاب حرکت تنظيم تر اغېز لاندې، د ديني مدرسو د طالبانو جبهې راڅرګندې شوې.

په فارياب کې مولوي غفور ( يو ازبک چې د نقشبنديې مريد هم و) پر (۱۹۷۳م) کال يې د (خواجه عبدالروف) په نوم يوه مدرسه جوړه کـړه. نوموړی د شوروي يرغل پر لومړيو کلونو، د اسلامي انقـلاب حرکـت او وروسته د اسلامي جمعيت تنظيم د يوې سيمه ييزې فرقې مشر و او له طالبانو څخه يې يوه جبهه جوړه کړه، چې د جبهـې قومانـداني (مـلا غوث) ته ورکړل شوه. د مقاومت پر لومړيو کلونـو دا ډول جبهـې پـه بادغيس، نيمروز، فراه او زابل کې منځته راغلې.

په هرحال! سره له دې چې ټول مذهبي عالمان له حرکت تنظيم سره يوځای نه شول، خو هغو ټولو تل له سياسي ترښتونو پرتـه د جمعيـت

---

(۱) افغانستان Le Roy Olivier، پاريس، ۱۹۹۴م کال، ۱۶۲مخ.

العلما او یا د عالمانو د یوې شورا په چوکاټ کــې، لــه یــو بــل ســره د سازماني اړیکو د ساتلو لپاره خپله لېوالتیا څرګنده کړې ده، چې له دې لارې د سیاسي اسلام پر وړاندې خپله خپلــواکي وســاتي او د خپلــو واحدو لیکو په واسطه د اسلام د وحدت بېلګه وړاندې کړي.

**اسلامي وحدت ګوند (حزب وحدت اسلامي):** د G.Doronosoro فرانسه یي خبریال په وینا[1] د ایران ((پاسداران انقلاب)) د ګټو د ساتنې لپاره لږ تر لږه یوه سیاسي ډله نېغ په نېغه د ایراني مقاماتو په نوښــت جوړه شوه. په دې مانا چې پر (۱۹۸۱م) کال هزاره جاتو ته د (جعفر زاده) او (هاشمي) ( په ټوله نړۍ کې د امام د لیکې له پلوي ډلو نه د هغه وخت د دفاع مسوولین) تر یو سفر وروسته، د ایران انقلاب له ګېــډې نــه د افغانستان په خاوره کې د ساتونکو (پاسدارانو) ماشوم وزېږېد. پر هغــه وخت ایران خپلې پلوي ډلې دې ته هڅولې، چې په انقلابي ډول سیاسي واک ترلاسه کړي.

دې تګلارې د شیعه ګانو بنسټپالې ډلې، د منځلارو شیعه ګانو، چې لویه برخه یې د محسني د حرکت او ((شورا)) په واسطه تمثیلېدله، له ټینګ مخالفت سره مخامخ کړې. له (۱۹۸۱م) کال نه تر (۱۹۸٤م) کلونو پورې د افغاني شیعه ګانو ترمنځ نښتې د هغو اختلافونو څرګندوی وې، چې ورو ورو پر دښمنۍ واوښتل. د شیعه مجاهدینو ترمنځ ټکر په داسې حال کې، چې د ایران د دولت لپاره د خواشینۍ سبب و، د یــو بــل پــر وړاندې د هغوی کړنې، د خپلواکۍ څرګندوی بلل کېدې. د ایران دولت

[1] د افغانستان اخبار مجله، پاریس چاپ، ۱۹۹۱م کال جون.

ددې ببلابېلو ډلو د مشرۍ د لاسته راوړلو لپاره، پــه دوو پړاوونــو کـــې اغېزمنې هڅې پیل کړې:

**لومړی، د ایتلاف پړاو:** ایراني مقاماتو پر (۱۹۸۷م) کال د ((نیش و نوش)) په تګلارې سره د افغانستان اسلامي ایتلاف شورا (اتــه ګــوني ایتلاف) رامنځته کړه. تهران ددې شورا مقر وټاکل شو. د شورا غړو پــه داسې حال کې، چې په ځینو برخو کې له یو بل سره اختلافونه درلودل، د امام خیمني د روحاني مشرۍ په منلو متفق وو.

د (۱۹۸۸م) کال پر فبرورۍ له افغانستان نه د شوروي ځواکونو تر وتلو وروسته، دوه ټکي د ایراني مقاماتو د زیاتې پاملرنې وړ وګرځېدل:

ـ د ایران په ګاونډ کې د سنیانو د یو بنسټپال اســلامي حکومــت د ټینګښت مخنیوی او له همدې کبله:

ـ تر ایتلافه د باندې د سیاسي مذهبي ډلو په جلب او جذب ســره د ایتلاف د جبهې پیاوړتیا.

دویم ټکی پر (۱۹۸۹م) کال د ایتلاف شورا کې د (بهشتي) تر مشرۍ لاندې د یووالي شورا د رامنځته کېدو سبب شو. په دې ډول نهه ګونې شورا رامنځته شوه. دا شورا د هزاره جاتو د شیعه ګانو په بېلابېلو لیکو کې د ایران انقلاب د پلویانو د سیاسي او پوځي ســمون پــه نوښــت، د بامیانو ولایت د کنټرول او لاسته راوړلو سبب شوه.

د ایران دولت د یوې سرسري او ساده ریاضي د شمېرنې لــه مخـــې هڅه کوله، د پېښور اووه ګوني ایتلاف پر وړاندې، چې له سني ګوندونو او ټولنو څخه جوړ و، که نهه ګوني ایتلاف ته د راولپنډۍ پــه مشــورتي شورا او په پاکستان کې د مجاهدینو په موقت حکومت کې دوه زیــات

امتیازونه لاسته رانه وړي، نو لږ تر لږه خو به یې په پېښور کې د مقاومت په غورځنګ کې د یو څو ضلعي متحد په توګه څرګند کړی وي.

تر (۱۹۸۹م) کال وروسته هغه وخت، چې د افغانستان د لنډ مهالي اداري په اورګانونو کې د ایران پلوه افغاني مجاهدینو (لوړې او ژورې) غوښتنې، د اوه ګوني ایتلاف له سخت مخالفت سره مخامخ شوې، د هغوی غوښتنې ورو ورو لږ څه کمې شوې. د خبرو اترو د ناکامۍ د نښو نښانو څرګندېدل، د دې سبب شول، چې د ایران دولت له یوې خوا له کابل حکومت سره د یو سازش له مخې معامله وکړي او له بلې خوا شیعه ډلې له یو بل سیاسي ازمېښت سره مخامخ کړي. هغه وخت د هغو د یووالي پلان طرحه شو.

دویم- د یووالي پړاو: د (۱۹۸۹م) کال پر جولای له شیعه افغاني مجاهدینو سره د ایراني مقاماتو تر پرله پسې خبرو اترو وروسته د نصر، پاسدارانو او شورا ډلو ترمنځ (( د وحدت چوکاټ)) لاسلیک شو. د دې چوکاټ له مخې موتلفینو ژمنه وکړه، چې په ایتلاف کې داخل ګوندونه به منحلوي او د وحدت ګوند تر بیرغ لاندې به خپل جهاد ته ادامه ورکوي.

له تشکیلاتي پلوه د نظارت شورا، د وحدت ګوند په راس کې راغله، چې په هغې کې ایران ته ژمنو د افغاني شیعه ګانو مذهبي مشرانو غړیتوب درلود. شورا ټولواکه وه او په ورسپارل شویو چارو کې یې له مرکزي شورا څخه، چې ظاهراً له منتخبو استازو جوړه وه، مشوره اخیسته. بامیان د مرکزي شورا مقر وټاکل شو.

د وحدت ګوند د مشرۍ مقام په ټاکلو کې د ایران لاسوهنه، د شیعه ګانو د مشرانو، چې لږ و ډېر د افغاني او ملي تمایلاتو لرونکي وو، د غم او خفګان سبب شوه: شیخ محمداصف محسني د اسلامي حرکت مشر له نوي سیاسي ډلبندۍ نه، (پښتنو او هزاره ګانو) د مذهبي او قومي نښتو د مسوولینو د نیولو او سزا ورکولو د نه څارنې له کبله ځان ارزګان تــه وکښه او د ځینو ملاحظاتو او احتیاط له مخــې یــې د خپلــو سیاســي فعالیتونو مقر له ایران نه پاکستان (اسلام اباد) ته ولېــږداوه. د ایــران دولت د (۱۹۹۰ م) کال پر سپټمبر په ټول ایران کې د اسلامي حرکت د نمایندګیو دفترونه وتړل او د دفترونو پانګه یې په ایراني بــانکونو کــې ضبط کړه.

د (۱۹۹۵ م) کال د مارچ پر (۱۳مه) علي مزاري د نصر ګوند پخــوانی مشر او وروسته د وحدت ګوند رییس له طالبانو سره په یو ټکر کې مــړ شو، خلیلي د هغه پر ځای کېناست.

پر (۱۹۹۵م) کال د کابل جنوب پــه جګــړو کــې، چــې د طالبــانو د پرمختګونو وخت و، د وحدت ګوند د ایران د مرستو په هیله و. د ایران دولت، چې د کابل  اداري سره د اړیکو د ښه کېدو پــه درشــل کــې و، وحدت ګوند ته یې له مرستې نه ډډه وکړه. دې کار د ایراني مقامــاتو او وحدت ګوند ترمنځ اړیکي سست کړل.

د (۱۹۹۴م) کال پر اوړي د ایراني مقاماتو په لارښوونه، د (اکبري) په نوم یو شخص له وحدت ګوند څخه ځان رابېل او له کابل اداري سره یې ایتلاف وکړ. ایران غوښتل له وحدت ګوند سره د اړیکو د خړپړتیــا پــه

صورت کې، له اکبري ډلې څخه د خپلو هیلو د پرمخبیولو لپاره ګټه واخلي.

د وحدت ګوند د افغانستان د جهاد د وخت د ګوندونو په کورنۍ کې له دې کبله ګوښه دی، چې یوازې له هزاره قومونو او شیعه ګانو څخه جوړ شوی او تینګه قومي او سکتاریستي لېوالتیا لري.

## دویم- طالبان:

**۱- د طالبانو رامنځته کېدل:** ابو ذهاب د افغانستان اخبار په مجله کې لیکي: (( د (۱۹۹٤م) کال د نومبر په پیل کې د پاکستان د سوداګرۍ پر مالونو بار د (۳۰) ګاډو یو کاروان، د پاکستان د کورنیو چارو وزیر (نصیر الله بابر) په لارښوونه، دکویټې او چمن له لارې د کندهار او هرات پر لوري حرکت وکړ، چې خپل مالونه د منځنۍ اسیا جمهوریتونو ته ورسوي. د پاکستان د کورنیو چارو وزیر، ددې هڅې د توجیه لپاره د افغانستان او پاکستان ترمنځ د (۱۹۶۵م) کال د ترانزیت تړون او همدارنګه د افغانستان، پاکستان او ترکمنستان ترمنځ پر تړون استناد کاوه.[1]

I.S.I ( د پاکستان پوځي استخبارات) ددې ډول پخوانیو معاملو د ماتې له کبله، د نصیرالله بابر هڅه تر وخت دمخه ګڼله او له هغې سره موافق نه و.

له افغانستان سره د متقاعد جنرال نصیرالله بابر علاقه، له ډېرو لرې وختونو سره اړه پیدا کوي: نوموړی پر ۱۹۷۳م کال د شمال لویدیځ

---

[1] د افغانستان اخبار مجله، ۶۸ ګڼه، ۱۹۹۵م کال، پاریس.

سرحد ایالت والي و. دا هغه کال دی، چې د افغانستان ځینې اخــواني مشران (حکمتیار، رباني او مسعود) د ســردار محمــد داود د امنیتــي مقاماتو د څارنې له کبله، پاکستان ته وتښتېدل. دې فراریانو پــه هغــه شورش کې برخه واخیسته، چې د پاکستان د حکومت په ملاتړ په لغمان او پنجشېر کې رامنځته شوی و او د کابل حکومت ړنګونه یې موخه وه.

په هرحال! د پاکستان د سوداګریز مال کاروان، چې د څلوېښت تنو پوځیانو له خوا بدرقه کېده، د مجاهدینو د یوې ډلې له خوا ودرول شو. (۲۵۰۰) تنه بشپړ وسلوال افغانان چې د ((طالبانو)) په نوم یاد شول، دا کاروان د یرغلګرو له منګولو څخه خلاصوي. کاروان په داسې حال کې، چې د پخواني پاچا د زرګونو پلویانو له خوا یې ملاتړ کېــده، د منځنــۍ اسیا د جمهوریتونو پر لوري خپله لار وهي او د دسمبر پر میاشت په بیا راګرځېدو کې، له ترکمنستان څخه اخیستل شوی مالوچ لېږدوي.

ګڼ شمېر طالبانو په بلوچستان او پښــتون مېشــتو ســیمو کــې د جمعیت العلمای اسلام په مدرسو کې زده کړه کړې ده. له نښو نښــانو څخه څرګندېږي، چې افغانستان ته د طالبانو د راتګ په هڅونــه کــې نصیرالله بابر له جمعیت العلمای اســلام ( د پاکســتان د خلکــو ګونــد موئتلف، چې د ۱۹۹۶ م کال تر اکتوبر پورې یې حکومت په لاس کې و) سره ضمني توافق درلود.

طالبانو د نومبر پر (۵)مه د کندهار تر نیونې وروســته د هلمنــد ( د چرسو او تریاکو لوی تولیدونکی)، زابل، غزني او لوګر ولایتونو کنټرول ترلاسه کړ او په هرځای کې یې خلکو تــه د ســولې او اســلامي عــادل حکومت د ټینګښت وعده ورکوله.

**((طالبان او پاکستان لږ تر لږه د افغانستان په جنوب او شمال لویدیځ کې د سولې په ټینګښت کې یو بل سره ګډې ګټې لري. پـه دې توګـه طالبان تر هغه وخته پورې، چې د پاکستان د اقتصـادي سـتراتیژۍ د تامین لپاره اهمیت لرونکي دوه متحدین، یانې په شمال کې دوستم او په هرات کې اسمعیل خان یې له خپل ځانه خفه کړي نه وي، کولای شي د پاکستان پر روغ نیتۍ حساب وکړي.))[1]**

**طالبان د پاکستان د جمعیت العلمای اسلام په شان، د سـنیانو لـه بنسټپالنې څخه، چې په ټینګه د شیعه ګانو له معتقداتو سره کینه لري، دفاع کوي. له دې کبله ایران د شیعه ګانو برخلیک ته خواشینی دی.**

**۲- جمعیت العلمای اسلام او مدرسې: جمعیت العلمای اسلام د هندوستان د جمعیت العلما وارث دی. نوموړې ټولنه پر (۱۹۱۹م) کال د انګلیس د ښکېلاک پر وړاندې، د اسلامي خلافت د دفاع پـه نیـت، د دیوبند د عالمانو د یوې ډلې له خوا جوړه شوه او (مولانا مفتي محمود) یې مشري کوله.**

**پر (۱۹۴۵م) کال (مولانا شبیر احمد عثماني) د هندوستان د جمعیت العلماء ټولنه، د پاکستان د جمعیت العلمای اسلام د جوړېدو پـه نیـت پرېښودله.**

**د جمعیت العلمای اسلام زیاتو پلویانو د پښتنو له سیمو سر راپورته کړ. جمعیت العلمای اسلام پر (۶۰ )مو میلادي کلونو د شـمال ختـیځ سرحد او د بلوچستان د پښتنو سیمو په ډېرو دودیزو کلیو او باندو کې زیاته وده وکړه. جمعیت العلمای اسلام، د (۱۹۷۰م) کال په انتخاباتو کې**

---

[1] دا نظر د طالبانو له خوا د هرات تر نیونې دمخه څرګند شوی و.

د پښتونستان ( د شمال ختیځ سرحد ایالت) په سلو کې (۲۵) او په بلوچستان کې په سلو کې (۲۰) رایې لاسته راوړې. دې ګوند په نوموړو دوو ایالتونو کې له نیشنل عوامي ګوند سره ګډ حکومتونه جوړ کړل.

د( ۱۹۷۷م) کال پر مارچ د جمعیت العلمای اسلام د پلوي مدرسو زرګونه شاګردان، د پاکستان د ملي یووالي له غورځنګ سره، چې د ذوالفقار علي بوټو د حکومت پر ضد جوړ شوی و، یو ځای شول، چې د (۱۹۷۹م) کال د جولای پر میاشت د جنرال ضیاءالحق په واسطه د واک د نیونې لپاره لاره هواره شي.

وروسته جمعیت العلمای اسلام، د پاکستان د ملي یووالي له غورځنګ سره خپل اړیکي پرې کړل او پر (۱۹۸۱م) کال د ولسواکۍ د ټینګښت له غورځنګ سره یوځای شو.

پر (۱۹۷۹م) کال مولانا فضل الرحمن، چې پر ۱۹۵۳م کال زیږېدلی، د خپل پلار (مولانا مفتي محمود) پرځای د جمعیت العلمای اسلام مشري واخیستله. له جمعیت العلمای اسلام څخه یوه رابېله شوې ډله، چې (مولانا عبدالحق) او د هغه زوی (مولانا سمیع الحق) یې مشران وو او د ((اکوړه خټک)) د لویې مدرسې پالنه او اداره یې کوله، د افغانستان د داعیې د ملاتړ لپاره راپورته شول.

پر وروستیو کلونو د پنجاب په جنوب او د بلوچستان د بلوڅو په سیمو کې د جمعیت العلمای اسلام اغېز زیات شوی دی. په بلوچستان ایالت کې د (۱۹۹۰م) او (۱۹۹۳م) کلونو په ټاکنو کې د جمعیت العلمای اسلام دریځ په ډاګه کړه، چې ددې ګوند تر اداري لاندې مدرسې له سیاسي پلوه په پوره ډول فعالې دي. د یادونې وړ ده، چې په بلوچستان

کې استوګن ګڼ شمېر افغان پښتانه، چې لږو ډېر يې لــه اصــولي لارو پاکستاني تابعيت تر لاسه کړی، د جمعيت العلمــای اســلام لــه فعــالو مبارزينو څخه شمېرل کېږي او په انتخاباتو کې د جمعيت العلمای اسلام د سرېيو د ډاډ وړ برخه جوړوي.

په بلوچستان کې ټول فعال سياسي ګوندونه، د هغــې شــمېرنې او پېژند کارت مخالف دي، چې تر (۱۹۸۰م) کال وروسته افغانانو ته ورکړل شوي وو.[۱] د ضياءالحق د واکمنۍ پر وخت دمدرسو د پراختيــا او ودې زياته ګټه د جمعيت العلمای اسلام په برخه شوه. په داسې حال کې، چې پر (۱۹۴۷م) کال په پاکستان کې (۱۳۷) مدرسې وې، خو اوس يې شمېر نږدې (۱۷۵۰۰) مدرسو ته رسېږي.

ددې مدرسو په سلو کې (۲۰) مه برخه د زکات په واسطه خړوبېږي او له ګوندونو سره تړاو نه لري. نږدې (۲۰) زرو طالبانو د جمعيت العلمــای اسلام په مدرسو کې خپل نومونه ليکلي دي. له هغې جملې نه (۶۰۰۰) تنه په افغانستان کې اوسېږي. د جمعيت العلمای اسلام له خوا ورکړل شوې شمېره تر هغه رقم څخه ډېره اوچته ده، چې ياده مو کــړه. د دې شمېر مطابق د هغو طالبانو شمېر چې په ديني مدرسو کې يې نومونــه ليکلي له (۴۰) زرو څخه تر (۵۰) زرو پورې رسېږي. له هغې جملــې نــه يوازې له (کچه ګړۍ) او (ناصر باغ) کمپونو څخه له (۵) تر (۶) زرو تنــو پورې په افغانستان کې اوسېږي.

[۱] په بلوچستان کې يو مليون افغانان ژوند کوي. ددې شمېر نيم يې په کويټه کې استوګن دي.

په مدرسو کې درسونه په داسې حال کې، چې ټوله مـذهبي جنبـه لري، له سیاسي تملایلاتو هم بې برخې نه دي. پوځي مضمون هم ددې مدرسو د نصاب برخه ده. د دې علت دا هم دی، چې پر افغانستان باندې د شوروي یرغل پر وخت پاکستان غوښتل د طالبانو له لښکر څخه پـه افغانستان کې د جهاد د پوځي فعالیتونو د ځواکمنۍ لپاره ګټه واخلي او بیا د شوروي یرغل تر دفعې وروسته، د طالبانو لـه ملېشـو څخـه پـه کشمیر کې د ملیشایي عملیاتو لپاره کار واخلي. د مدرسو په پراختیـا کې باید درې لاملونه دخیل وګڼل شي. د ضیاءالحق له خوا د مـذهبي بنسټونو ځواکمني، د افغانستان جګړه او د ایران مذهبي انقلاب.

د ایران انقلاب او په ځانګړي ډول د خلیج د جګړې پر وخت (اسلامي جماعت د عراق ملاتړ وکړ)، له اسلامي جماعت سره دسعودي عربستان د اړیکو تر خرابېدو وروسته نوموړي هېواد د جمعیت العلمای اسـلام د مدرسو د زیاتې برخې مالي لګښت پر غاړه اخیستی دی.

دا مرستې چې سعودي عربستان او یا د خلیج نـور هېوادونـه یـې سرچینې دي، که له ځانګړو سرچینو او یا هم له عامه (دولتي) سرچینو څخه لاسته راتلې، د جمعیت العلمای اسلام تر کنټرول لانـدې، هغـو مدرسو ته ورکول کېدې، چې د پښتونستان (شمال ختیځ سرحد ایالت) او د بلوچستان د پښتنو استوګنو سیمو (پښین، ږوب، لورلایي، سـیف الله قلعه او زیارت) کې پرتې دي او په حقیقت کې د ایـران د پراختیـا غوښتنې خطر پر وړاندې یوازېنی کمربند جوړوي. هغه سیمې چـې د سند سیند پر غاړه پرتې دي، په ځانګړي ډول دیره اسمعیل خان، چې

هلته د جمعیت العلمای اسلام مفتي مولانا فضل الرحمن مدرسه جوړه ده، له همدې مدرسې څخه ګټه اوچتوي.

جمعیت العلمای اسلام په بشپړ ډول د شـیعه ګـانو مخـالف دی. د شیعه ګانو پر ضد سازماني جګړه، چې ګمراه عناصر ګډل کېږي له لسو کلونو راپه دېخوا د پاکستان د سپاه صحابه په واسطه، چې د جمعیـت العلمای اسلام له خوا یې لارښوونه کېږي، پرمخوړل کېږي: هغه نښتې، چې پر (۱۹۹۴م) کال د جګړې سیمې ( د پنجاب په جنوب) کې راټولې وې، پر دې تازه وختونو په کراچۍ کې هم راڅرګندې شوې دي. ګنې پر وروستیو کلونو د پاکستان په خاوره کې د ایران او سعودي عربسـتان ترمنځ رقابت ډېر راڅرګند شوی دی.

افغان پښتانه په دودیز ډول د پاکستان د پښتنو سیمو په مدرسو کې شاملېږي. ګڼ شمېر طالبانو له مجاهدینو سره په جهاد کې تـر ګـډون دمخه، په همدې مدرسو کې زده کړه کړې ده. طالبـان د نجیـب الله د حکومت تر ړنګېدو او د مجاهدینو د مختلفو ډلو ترمنځ د اخـتلاف تـر څرګندېدو وروسته، په نهیلۍ سره بېرته خپلو مدرسو ته وګرځېدل. د طالبانو زیاته برخه د ټولنې له غریبو قشرونو راپورته شوې وه او غالباً د جګړې بې سر پناه یتیمان وو. د یاد وړ ده، چې د پاکستان د سـرحدي مقاماتو په واسطه د شمال ختیزو پولو په اوږدو، په ځـانګړي ډول پـه ((دال باندین)) کې د زده کړې کمپونه جوړ شوي دي، چـې د طالبـانو لپاره اسانتیاوې ولري. د پاکستاني مدرسو افغان طالبان، ټیک مخکې تر هغې، چې د پاکستاني سوداګریزو مالونو کاروان، د افغاني مجاهدینو د قوماندانانو له خوا ودرول شي، د خپلو مدرسو په پرېښودلو پیل وکـړ.

نږدې (۴۰۰۰) طالبانو د پښتونستان ( د شمال غرب ایالت) مدرسې، په ځانګړي ډول هغه مدرسې چې په اکوړه ختک، مردان، بنو، چارصده او پېښور سیمو کې پرتې وې، کندهار ته د تلو په نیت خوشې کړې. په دې ډول د ډېرو مدرسو دروازې وتړل شوې.

## ۳- د طالبانو غورځنګ انقلابي خصلت لري: انقــلاب د یــوې

ټولنې د سیاسي، ټولنیز او اقتصادي نظم ناڅاپي بنسټیز بدلون دی. دا بدلون د واکمنې ډلې د واک او اتوریتې پر وړاندې د یوې ډلې د غــړو د بغاوت په واسطه پلی کېږي. د طالبانو پاڅون د بنې او مانا له پلــوه یــو ټولنیز اوښتون (انقلاب) دی:

ـ د شکل له پلوه په دې مانا، چې د وګړیو یــوې ډلــې د خلکــو لــه ملیوني پرګنو سره په پوره سمون او همغږۍ کې د واکمن فساد د واک پر وړاندې د پاڅون مشرۍ پر غاړه واخیسته. په دې پاڅون کې کارګرانو، بزګرانو، روحانیونو، د قوم مشرانو او لنډه دا چې ټولو ټولنیزو قشــرونو ګډون کړی دی.

ـ د منځپانګې (محتوا) له پلوه په دې مانا، په هغو شرایطو کې چــې ملي واکمنۍ، قانون، امنیت، مصونیت، خپلواکي، مدني حقوق او بالاخره ټولنیز نظم موجود نه وي، د دغو ارزښتونو د لاسته راوړلو لپاره پاڅون، یو بشپړ مترقي او انقلابي حرکت دی.

هغه انقلاب، چې پرګنې یې لارښوونه کوي، ممکن په خپله محتوا او متن کې محافظه کارانه او ان ارتجاعي افکار منعکس کړي او ښي پلوه ښوېدنې ولري. دا احتمال هم شته، چې انقلابي حرکت له کــین لاســو تمایلاتو نه اغېزمن شي.

په سترو ټولنیزو انقلابونو لکه ( ۱۷۸۹م) کال د فرانسې لوی انقلاب او پر (۱۹۶۶م) کال د چین کلتوري انقلاب کې ډېر ځله داسې پېښ شوي، چې کینې لاسو او ښي لاسو تمایلاتو د موخې پر لوري د انقلاب د عرادې د پرمختګ پر وړاندې خنډونه رامنځته کړي دي:

په فرانسه کې پر (۱۷۹۲م) کال د مظنونینو د قانون پر نافذېدو سره د انقلاب له اصولو انحراف پیل شو. ددې قانون پر بنسټ همدا چې پر یو چا د انقلاب ضد اشتباه پیدا کېدله ګیوتین (وژنځي) ته راکښل کېدل.

د فرانسې لوی انقلاب ان پر خپلو رښتینو زامنو لکه (روبسپیر، دانتون، بابوف) او نورو هم رحم ونه کړ او ټول یې په اعدام محکوم کړل. یوازې پر (۱۹۷۵م) کال د بېنوایانو تر بغاوت او په هغه پسې د مظنونینو د قانون او د انقلابي محکمې تر لغوې او حذف وروسته، د انقلاب تاو لږ څه کېناست.

د جمهوریت او دیکتاتورۍ په شان د انقلابي نظامونو جفاوو خلک دومره تر پوزې راوستي وو، چې د (۱۸۳۰م) کال په یو شاګرز سره د پخواني حکومت (سلطنت) د ټینګښت په مقصد یې په نامستقیم ډول د انقلاب ټینګې کړنې محکومې کړې. په دې ډول د سلطنتي نظام مشري لومړي لویي (فلیپ) ته وسپارل شوه او تاریخ بېرته شاته مخ وګرځاوه.

د روسیې د انقلاب په پیل کې په پټو سترګو د سوسیالیزم د ایډیالوژیکو آرونو پلي کولو، اقتصادي وده ورو کړه. له (۱۹۲۱م) څخه تر (۱۹۲۹ م) کال پورې نوی اقتصادي سیاست (NEP) پلی شو، چې د لیبرالو اقتصادي اصولو ښکارندوی یانې ښي پلو ته متمایل و.

هغه خونړۍ ګوندي پاکونه (تصفیه)، چې ستالین له (۱۹۳۴م) څخه تر (۱۹۳۸م) کال پورې تر لاس لاندې ونیوله، کیڼ پلو ته، د کمونیست ګوند ښویېدنه ښکاره کوي.

پر (۱۹۵۶م) کال د کمونیست ګوند د شلمې کنګرې د پرېکړې لـه مخې، د ستالیني تګلارې له منځه وړل او د کمونیستي مشرانو لـه هدیرې څخه، د ستالین د جسد ایستل، منځنۍ (اعتدالي) تګلارې ته د ګوند د بیا ګرځېدنې ښکارندوی دی.

د چین په کلتوري انقلاب کې کیڼ پلو ته تر ټولـو غټـه ښـوېدنه د (ماهو) په څرګندېدو سره منځته راغله. ماهو د هغو شیانو ملاتړ تـه را ودانګل، چې افراطیونو هغه د انقلاب آرونه بلل. له دغو آرونو د دفاع له کبله د ښارونو او کلیو د خلکو ترمنځ خونړۍ نښتې رامنځتـه شـوې. روڼاندي او هنرمندان په ډله ییزه توګه اعدام شول او (لرغوني او لیکلي) تاریخي، هنري اثار په بې رحمۍ سره له منځه لاړل.

په ټولنیزو انقلابونو کې کیڼ پلوي او ښي پلوي تمایلات په دې ډول توجیه کېږي، چې د انقلاب مخکښي د پرګنو په لاس کې ده. پرګنې د ټولنیزو ارزښتونو د سمبالښت لپاره ورته نظر نه لـري او د سـازماني او ایډیولوژیکي آرونو تابع نه دي. د انقلاب په بهیر کې ممکـن د خلکـو مختلفې ډلې په نوبت سره د انقلاب مشري ترلاسه کړي. هغه وخت به انقلاب په احتمالي توګه ښي یا کیڼ پلو ته ښویېږي.

د طالبانو انقلاب د خپل مضمون په یوه برخه کې د بشر ( په ځانګړي ډول د ښځو) د حقوقو په ځینو برخو کې ښـي پلـوی او ان ارتجـاعي خصلت لري، خو د جګړې او کړکیچ په حالاتو او اوضاعو کې موږ د بشر

تر حقوقو د افغانستان سلامتیا ( د طالبانو د مبارزې مرکزي ټکي) تــه زیاته اړتیا لرو. د هېواد په لرلو، د افغانستان په لرلو سره به موږ هر څه ولرو، خو خدای مه کړه د هغه په نه لرلو سره به له هر څه څخه بې برخې شو.

طالبان د مرکزي حکومت ټینګښت او د ځمکنۍ بشپړتیا ساتنه خپله دنده ګڼي، د همدې ټکي په پام کې نیولو سره ښي پلو تــه د هغــوی د ښویېدنې، هغو کسانو ته، چې له تجزیې څخه د افغانستان د ژغــورنې مبارزې ته لومړۍ درجه اهمیت ورکوي، د زغم وړ ګرځولي دي. په هغو سیمو کې چې اداره یې د طالبانو په لاس کې ده، د خلکو د پرګنو ملاتړ د دې واقعیت ښکارندوی دی، چې خلک د طالبانو د پاڅون د ارتجاعي تمایلاتو په اندېول د هغو مثبتو لاسته راوړنو (د ملي خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا ملاتړ ، د سولې راوستلو، د تنظیمونو ړنګولو، د مرکزي حکومت جوړولو او نورو) ته زیاته پاملرنه کوي. خلک د طالبــانو ښــي لاســي او ارتجاعي تمایلات د ټینګو او تېزو احساساتو او ولولو زېږنده ګڼي، چې د نوي ژوند له سختو واقعیتونو او د انقلاب له عمومي ســتراتیژۍ ســره سمون نه لري او ژر یا لږ به خپل ځای واقعیت ته پرېږدي.

طالبان چې د کومو ولایتونو اداره په لاس کې لري، د خلکو له بالفعل ملاتړ او هغه ولایتونه، چې د دوی په کنټرول کې نه دي، د خلکــو لــه بالقوه ملاتړ څخه برخمن دي.

له طالبانو سره دخلکو  ملګرتیا او په پخواني حکومت پورې د تړلیو قوماندانانو پیوستون، د طالبانو د ښکاره پرمختګ زمینه برابره کړې ده.

د طالبانو د راتلونکي بریالیتوب نښې، د افغانستان د اداري یووالي پــه تامین کې ښکاره کېږي.

له دې سره سره له کومه ځایه چې انقلاب ضد کسان خپل مقاومت ته دوام ورکوي، طالبانو تر اوسه پورې د پېژندنې وړ حکومت جوړ کړی نه دی او د افغانستان پر ټوله خاوره یې خپل واک ټینــګ کــړی نــه دی، کېدی شي، داسې وانګېرل شي، چې د طالبانو انقلاب د خپل بریالیتوب په لومړي پړاو کې دی. د طالبانو د انقلاب وروستی بریالیتوب په لاندې لاملونو پورې اړه لري:

ـ د انقلاب له ارزښتونو نه د دفــاع لپــاره د خلکــو د زیــات ملاتــړ راجلبول. طالبان باید ددې مقصد لپاره لومړی خپلو عقیده یي ارزښتونو ته د نوي ژوند له غوښتنو سره سمون ورکړي او بیا د چارو په اداره کې ټولوخلکو ته د ګډون حق ورکړي.

ـ د ملګرو ملتو د موسسې د ملاتړ راجلبول. طالبان باید ددې مقصد لپاره د خپل فعالیت سوله ییز اړخونه، دملګرو ملتو د موسسې د سولې له پلان سره همغاړي کړي.

ـ د ټولو ګاونډیو هېوادونو د ملاتړ راجلبول او یو د بل په چارو کې د نه لاسوهنې د غوښتنې له تضمین سره هغو ته د دپلوماتیکې پېژندنې غوښتنلیک وړاندې کول.

ـ له روسانو سره تر جګړې وروسته مسایلو باندې د چلنــد لپــاره د ملي ګټو پر بنسټ د یوې غوځې تګلارې رامنځته کول.

ـ په افغانستان کې د ملي خاینانو او د جګړې د جنایتکارانو په باب د مجددي او رباني د حکومتونو د بښنې د اعلان لغوه کول، د محاکمې مېز ته د اوسنیو بدمرغه حالاتو د لومړۍ درجې مسوولینو راکشول.

ـ د ملي مسلکي اردو بیا جوړول.

ـ د اضطراري لویې جرګې د جوړولو لپاره د بېړنیو تدبیرونو پیلول.

ـ پوهو کسانو ته د حکومت د چارو واګې سپارل، روښاندي او بوروکراتان، همدارنګه د طالبانو د اتلولۍ قدرداني او د چارو په اداره کې د هغو د ګډون تضمین، دولتي عالي شورا باید په دولتي تشکیلاتو کې ځای شي. دا شورا به د مشورتي واک لرونکې وي.

ـ د اساسي قانون تدوین او د ټاکنو دایرول.

**۴- د طالبانو د رامنځته کېدو منطق:** طالبان په حقیقت کې د کابل اسلام دوله ایتلافي ادارې، چې تر (۱۹۹۲م) کال وروسته یې واک ترلاسه کړ، د زور او زورواکۍ پر وړاندې د خلکو عکس العمل ګڼل کېږي.

دکابل اداره د تخت او یا تابوت له شعار سره، چې د غلو په ژبه تاوېده، سیاسي ډګر ته داخله شوه، ټولې سیاسي ډلې یې له ځانه لرې کړې او د (اهل حل و عقد) د اخیستل شوې شورا په واسطه یې د انحصاري واک په توجیه کولو سره، ټولو مخالفینو ته د جګړې اعلان وکړ.

اسلامي حزب ( په پیل کې خالص، حکمتیار)، د اسلامي انقلاب حرکت تنظیم، د ملي محاذ تنظیم، دملي نجات تنظیم، د وحدت حزب، ملي اسلامي غورځنګ، د طالبانو غورځنګ او په یوه مانا ټولې هغه ډلې، چې د افغانستان د سیاست په برخه کې پېښې رازېږولای شي، د کابل ادارې مخالفت ته راودانګل. دې مخالفت تیت و پرک شکل درلود او د

کومې متحدې جبهې په واسطه یې لارښوونه نه کېدله، ځکه نو زور ته په زور ځواب ورکول تر پرله پسې کلونو پورې یوازې د یوې هیلـې پـه توګه پاتې شو.

طالبانو تر یوه حده وکړای شول د کابل د ادارې زورواکي، تاخت و تاز تر یوې اندازې پورې مهار کړي او د هغې په کلابندي کولو او وروسته د پایتخت په نیولو سره د افغانستان پر درېیمه برخه خاوره خپله واکمني ټینګه کړي. هغوی په داسې شرایطو کې چې د کابل ادارې د سولې ټول پلانونه که کورنۍ سرچینه یې لرله که بهرنۍ رد کـړل او د یـوه ممثـل حکومت لپاره یې د ټاکنو له منلو ډډه وکړه، د افغانستان د خاورې لـه درېیمې حصې زیاته برخه یې د تورې په زور ونیوله.

طالبان د ټولو هغو افغاني ډلو او قومونو لپاره د هیلو سرچینه شـوه، چې د کابل ادارې د زور واکۍ له منطق او د ځینو جهادي قوماندانانو له خپل سریو او بې باکیو څخه، تر پوزې راغلي وو.

طالبان د افغانستان په سیاست کې د زور څرګندولو په ډګر کـې، د واک په واسطه د واک لپاره، د پولې د ټاکلو مناسب او طبیعـي ځـواب ګڼل کېږي.

طالبان د هغو مظلومو خلکو د فریادونو ښکارندوی دي، چې د زور په منطق سره یې د جګړه مارو، د امن دښـمنانو، د ولسـواکۍ او ټـولنیز عدالت مخالفینو د ځپلو او له منځه وړلو لپاره یې د مرګ او ژوند جګړې ته دانګلي دي.

د کابل ادارې، په زوره واک تر لاسه کړی و، د زور په کارونې یې هغه ساته او په زور له صحنې څخه وایستل شول.

د کابل اداره په کینه ییز ډول، له باطل څخه د دفاع په لیکه کې ولاړه وه او طالبانو د حق د مدعیانو په توګه د زور په واسطه مغلوبه کړه او بیا پر ټول افغانستان باندې د سولې او امنیت غړ خور شو. یوازې سوله او امنیت ددې امکان برابروي، چې د حق د یو ملاتړي څواک په جوړولو سره، په هېواد کې د حقوقو دولت د جوړښت لپاره لاره هواره شي.

دریيم- د سیاسي ژوند ځانګړنې: له هغو بېلګو څخه، چې د ډلبندیو اوسیاسي ډلو د جوړښت په اړه مو وړاندې کړې، څرګندېږي چې:

ـ پر (۶۰)مو او (۷۰) مو کلونو په ټولنه کې سیاسي ژوند پر دوو مخالفو؛ کیڼ او ښي لورو تشکل موندلی و. ددې خبرې علت ( د مارکسیزم او اسلامي انترناسیونالیزم) پر بنسټ، له بهر سره د کیڼ او ښي ایډیولوژیک او عقیده یي تړون و.

د مارکسیزم د ایډیولوژۍ آرونه او د ((مکتبې اسلام)) عقیده یي ارزښتونه د هغو خپرونو په واسطه، چې له بهر څخه په افغانستان کې خپرېدلې، د ډلو د مفکوره یي او سیاسي تګلوري په ټاکلو کې یې مرسته وکړه. خو په ورو ورو ډول د مارکسیزم د فلسفې ټولیز مفاهیم او د مکتبي اسلام د نړۍ لید معتقدات، د افغاني ټولنې د دودیز قبیله یي ژوند له واقعیتونو سره په چلند کې، په خپلې لومړنۍ مانا پاتې نه شول: مارکسیزم لیننیزم او ماهویزم تر لسو نه پر زیاتو ډلو تقسیم شول او اسلام لږ تر لږه پر پینځه لسو فراکسیونونو ووېشل شو. ددې ډلو (مارکسیزم او اسلام) تر منځ کړکېچ یوازې د ګړني (شفاهي) اختلاف تر بریده پاتې نه شو: چین پلوو مارکسیستانو له روس پلوه مارکسیستانو

سره پر وسله والو نښتو لاس پورې کړ او د ځينـــو جهــادي تنظيمونـــو ترمنځ خونړۍ جګړې ونښتې.

ـ په افغانستان کې سياسي مبارزې تل د سيمه ييزو شخصيتونو پر شاوخوا دوام موندلی دی، نه د مدني ژونـد د ارزښــتونو او د ټــوليزو عقيده يي او ارماني آرونو د ګټو د ساتلو او يا د يو ملي شخصيت د دفاع په شاوخوا کې.

ـ ايډيولوژيک او ډيموکراتيک مفاهيم په ډېره کمه کچه (هغه هم د ښاري روناندو په وړو کړيو کې) د سياسي او ټولنيز واک سرچينې ګڼل کېږي. په پرمختللې نړۍ کـې ايـډيولوژيک او ولســواک ارزښــتونه د سياسي ګوندونو د تشکل محور جوړوي، دا ارزښتونه په افغانستان کې تل د سيمې، قوم، ژبې او مذهب پر قوانينو بدل شوي دي.

**څلورم- د جهادي مشرانو له خوا د جګړه ييزې ستراتيژۍ غوراوی:** له افغانستانه د شوروي ځواکونو تر وتلو وروسته، د تنظيمي حسابونو د تصفيې او سياسي موخو د ترلاسه کولو لپاره جګړه تر خبرو اترو او مفاهمې غوره وګڼل شوه. جګړه دهرې جګړه مارې ډلــې لپــاره دهغو امتيازاتو د ګټلو سبب کېدله، چې د سولې او خبرو اترو په شرايطو کې د هغو د لاسته راوړلو امکان ميسر نه و. مثلاً د اسلامي جمعيت لپاره جګړه پر اکثريت باندې د اقليت د ارادې د تحميل وسيله وه. داسلامي حزب لپاره جګړه دواک د انحصار حربه او د يــو تيوکراتيــک مســتبد حکومت د ټينګښت وسيله ګڼل کېدله. د دوستم او وحدت حزب د ډلو لپاره جګړه له اکثريت سره د ازبکو او شيعه ګانو د قــومي او مــذهبي اقليتونو د مساوي حقوقو د لاسته راوړلو اله وه.

د جګړې تر شا ناوړه هیلې او د جګړې د خړوبونې د واحدې سرچینې ګډ علتونه موجود وو. دا واحده سرچینه د بهرنـۍ مـداخلې لاس دی، چې مختلفې ډلې یې تل پر جګړو اخته ساتلې او د ملت اکثریت د ارادې پر وړاندې یې د هغوی کینه ژوندۍ ساتلې ده. پـه افغانسـتان کـې د اکثریت اراده، چې د لویې جرګې او یا ټاکنو په واسطه له ځواک نه عمل ته راځي منطقاً په جګړه کې د ښکېلو تنظیمونـو د سیاسـي ګټـو پـه مخالف لوري کې واقع ده. د اکثریت د ارادې په څرګندېدو سره به، لکه د جمعیت او پرچم د اقلیت حکومت، پر اکثریت باندې د خپلې ارادې د تپلو وس پیدا نه کړي او اسلامي حزب به د واک انحصار لپاره په خپلـو هڅو کې پاتې راشي.

په همدې ډول به قومي او مذهبي لړکي، په داسې حال کې، چـې د اقلیتونو له طبیعي حقوقو څخه به برخمن شـي، لـه اکثریـت سـره د مساوي حقوقو د ګټلو لپاره به، د خپلې دعوې په طرحه کې د ولسواکۍ له ځېونکي منطق سره مخامخ شي.

څه چې مو وویل له هغو څخه په ډاګه کېږي، چـې د جګـړې پایتـه رسېدنه د ځینو ډلو د سیاسي ژوند له پایته رسېدو او د ځینو د اغېز له کمښت سره سمون خوري. له ټاکنو، لویې جرګې او په یوه مانا له سولې سره د جګړه مارو ډلو دښمني له ځاني دفاع نه پرته بل منطق لرلای نه شي. د مورچل له شا نه د ټاکنو تر حوزې پورې د لارې وهل تر ټولو ستره ستونزه ده، چې جګړه مارې ډلې ورسره مخامخ دي.

د کار ستونزه په دې کې ده چې:

لومړی: دا چې د مورچل کسان اکثره نالوستي دي او سیاسي شعور نه لري. هغوی په داسې حال کې، چې په ړندو سترګو د خپل مشرتابه تر اغېز لاندې راغلي دي، د یو لړ ملـي او عمـومي هیلـو د دفـاع لپـاره خپلواک نظر نه لري. د دې ټوپکیانو ځینې هغه اجیران دي، چې د خپلو ځاني ګټو لپاره د دوو، ان دښمنو ډلو ترمنځ واټن په داسې چټکۍ سره وهي، لکه یو توغندی چې پر ښار ولي.

په هرحال! د جګړې پلویان، چې په هره کچه وي په دې شرط چــې اړوند تنظیم ته ژمن پاتې شي، د مشر لپاره د سولې او جګړې په شرایطو کې ستر غنیمت ګڼل کېږي. په ټولیز ډول هغوی داسې کسان دي، چې له ولسواکۍ د دفاع د عمومي بهیر لپاره په درد نه خوري. هغوی د ټاکنو پر وخت یوه کوچنۍ ټولنه جوړوي، چې د خپلو هڅو په واسطه نه شي کولای د مشرانو د لوړتیا غوښتنې هیلې خړوبې کړي.

دویم: مذهبي مشرانو، د مذهبي پلویانو ولولې په داسې شرایطو کې راوپارولې، چې جهاد د دوستانو د مجلس نقل او د دښمنانو د روحیاتو د ځپنې وسیله وه. داسې ښکاري، چې د جهاد په پایته رسېدو سره بــه مذهبي مشران له یو خوا په خپله تنظیمي کړۍ کې، د خپلــو پلویــانو دساتنې او له بلې خوا د چوپ اکثریت د نظر د خپلونې لپاره، د ویلو څه ونه لري او نه به د جلب او جذب لپاره څه ځواک ولــري. داســې فکــر کېږي، چې د مجاهدو قلموالو د لوړو ژورو خبرو تر اغېز لاندې بــه یــې ځینې پلویان له چوپ اکثریت سره همغږي شي او خپلې رایې به د هغو کاندیدانو په صندوقونو کې، چې د ملي او عمومي ګټــو دفــاع کــوي،

واچوي. مشران يې په دې برخه کې بدګومانه کېږي او هغوی د سولې او روغې پر وړاندې مخالفت ته هڅوي.

درېيم: د مذهبي مشرانو زيات شمېر د بهرنيو لاسوهونکو هېوادونو زېږنده دي. د دې مشرانو سياسي پوځي فعاليت د مقاومت په بهير او تر هغه وروسته د بهرنيو ځواکونو په مرسته خړوبېــده او لارښــوونه يــې کېدله. د سولې شرايط د دې ډلو لپاره څکه د مړينې مانا لري، چې د بهر له سياسي، پوځي، پولي او مالي ملاتړ څخه بې برخې کېږي. پرته له دې چې له مشروعو او قانوني (کورنۍ سرچينې، د ګډون ونډې، د غړيتوب ونډې او نورو) لارو ددې مرستو د جبران ډاډ يې په لاس کې وي.

څلورم: د موسسو او ډلو په سطحه، هم د سياسي اقليتونو او هم د ملت په کچه د قومي لږکيو له خوا د انتخاباتو د نتيجو نه منل د سولې د بهير د سياسي مبارزې نورې ستونزې دي. هغه اساسي پوښتنه، چې د ځواب پيدا کولو لپاره ورته ډېره ځيرتيا په کار ده دا ده چې: ايا لږکي د يو اقليت په توګه د خپلو قانوني حقوقوپه ساتلو ســره خپــل ځــان د اکثريت ارادې ته د درناوي ملزم ګڼي؟ مثلاً کله کــه انتخــابي پارلمــان پرېکړه وکړي، چې وسلوالې ډلې دې په درېو مياشتو کې خپلې وسلې دولتي مقاماتو ته تسليم کړي، داسې پرېکړه چــې د اکثريــت د ارادې ځرګندويه ده، ايا د پلي کېدو ضمانت به ولري؟ هر کله که د افغانستان سني مذهب اکثريت په پارلمان کې د خپلو استازو په واســط پرېکــړه وکړي، چې يوازې دې حنفي مذهب په محکمو او قضاوو کې رســميت ولري، ايا د اقليت شيعه مذهب ډلې به خپل ځــان ددې پرېکــړې پــه درناوي ملزمې وګڼي؟ په همــدې ډول پــه لســګونو نــورې پوښــتنې

راولاړېدی شي. هغه څه چې څرګنـد دي دادي، چـې د ډیموکراسـۍ سیستم په ورو او پرله پسې پلي کېدو کې، د سیاسي زده کړې او تربیې په لاسته راوړلو سره، د اکثریت او اقلیت مقوله د درک او زغم وړ ده. په خواشینۍ سره زموږ ټولنه د خپل سیاسي بلوغ هغـه حـد تـه نـه ده رسېدلې، چې دخپلې سلامتیا او بشپړتیا لپاره، پـه شـعوري توګـه د سیاسي ډیموکراسۍ ارزښتونه ومني، سربېره پر دې د جګړې او کړکېچ په دوو لسیزو کې په تنظیمي کړیو کې د زورواکۍ او حکم عادت ډېـره زیاته وده کړې ده. یوازې د خلکو استازی او د قـوي امنیتـي ځـواک لرونکی یو مرکزي دولت به ددې ځواک ولري، چې د اکثریت د پرېکړو پلي کېدل تضمین کړي.

ټوپکوال مجاهدین خپل ځانګړي سیاسي و حقوقي کلتـور لـري. دا کلتور د لویدیزې نړۍ د سیاسي ماشین د محصول په پلمه د ولسواکۍ او ملي واکمنۍ له حق سره مخالف دی:

ــ ولسواکي د مکتبي اسلام په تعبیر له دې کبله، چې له (اهل حل و عقد) شورا څخه واک اخلي او خلکو ته یې سپاري، د اسلام له موازینو (هغه ډول چې اخوانیت یې تعبیروي) سره اختلاف لري. پر دې انګېرنو باندې په داسې شرایطو کې ټینګار کېده، چې ډېر اسلامي هېوادونـه د حل و عقد شورا له نامه سره اشنا نه وو او رژیمونه یـې د ولسـواکۍ د آرونو له مخې جوړ کړي وو.

ــ د بنسټپالو په نظر، د ملي واکمنۍ حق په یوه بې سرحده خیـالي نړۍ کې د اسلامي امت له ایډیال تحقق سره سمون نه خوري. دا نړۍ په

**جهاد ودانېږي او د کفر او الحاد نړۍ، خپل لاسونه هغه ته د تسلیمۍ د نښو په توګه پورته کوي...!**

**له پورتنیو څرګندونو څخه په ډاګه کېږي، چې اکثرو تنظیمي مشرانو ته هره وسیله، چې د سولې د راوستلو سبب شي، که هغه دیو تشکیل (لویې جرګې) په بڼه وي او یا د یو سیاسي شخصیت (پاچا) په څېره کې، له دې کبله د تایید وړ نه ده، چې پر ملي ګټو باندې ټینګار د هغو تنظیمونو ګټو ته، چې په جګړه کې یې روزنه او پالنه شوې، په ټینګه زیان رسوي.**

**داسې ښکاري، چې د جګړه مارو ډلو غږ اخیستونکو ولولو د کانالیزه کولو لپاره، یو له قهر نه ډک او بل سوله ییز الترناتیف شته، چې یو د بل بشپړوونکي دي:**

**یو: د سولې په پروسه کې د ملګرو ملتو د سوله ساتونکو فعاله برخه اخیستنه. سره له دې چې د نړۍ په ځینو کړکېچنو سیمو کې د سولې لپاره د ملګرو ملتو پوځي مداخلې بشپړ بریالیتوبونه نه درلودل، خو په ځینو برخو کې بري ته نږدې دي او په ځینو قضیو کې یې سوله ټینګه کړې ده. د افغانستان د قضیې په اړه یوازېنۍ ستونزه، چې موجوده ده، هغه داده، چې له هېواد څخه د شوروي ځواکونو تر وتلو او د کمونیستي امپراتورۍ تر ړنګېدنې وروسته، د افغانستان قضیه د ملګرو ملتو د امنیت شورا د اجنډا په حاشیه کې راغله او ګومان نه کېږي، چې لویدیز هېوادونه، مثلاً د خپلې اردو د یو غړي، چې په افغانستان کې به د سولې په ځواک کې شامل وي، د پوزې د وینې کېدلو د لیدو زغم ولري.**

دوه: د ملګرو ملتونو په مرسته د افغانستان په سیاست کې د ټولـو اغېزمنو ډلو او اشخاصو په ګډون، د یوې اضطراري لویې جرګې جوړول. که چېرې دا جرګه د جګړه مارو ډلو، ټولو سیاســي تنظیمونــو او ټولــو قومي، مذهبي او ملي شخصیتونو په رښتیني ګډون سره جوړه شي، د سولې ساتنې په کار کې به له ستر اخلاقي او مانیز اغېز څخه برخمنــه وي.

د (۱۹۹۴م) کال په لومړیو کې د داسې یوې جرګې د لرلید اغېز پــه افغانستان کې د سولې کورنې او بهرنې دښمنان ووېرول:

د اضطراري لویې جرګې د جوړېدو له اوازو سره سم، د دې لپاره چې دا نوښت پایلې ته ونه رسېږي، دلته او هلته ظاهراً د جګړې د ختمولو، خو په واقعیت کې د سولې پر طرحې د برید لپاره، یو لړ تشبثات پیــل شول. د هجرت په خپرونو کې د نشر شوي خبر له مخې:

ــ د مارچ میاشتې پر وروستیو د اسلامي هېوادونو یو شمېر پوهانو(!) په پاکستان کې د ازادو قبایلو په یوه سیمه کې، د افغانستان له جهادي مشرانو سره غونډه وکړه او تر خبرو اترو وروسته د مولوي خــالص پــه مشرۍ یو هئیت کابل، چاراسیاب او مزارشریف ته سفرونه وکړل او لــه دښمنو خواوو سره یې د نظر تبادله وکړه.

ــ د اپریل پر میاشت د قوماندانانو یو هئیت د اور بند د یو تړون لپاره، په اوسنۍ جګړه کې له ټولو اخته غاړو سره لیده کاته وکړل.

ــ پر مۍ میاشت په غزني ولایت کې د نږدې شلو ولایتونو د استازو په ګډون، د جنوب لویدیځ د سولې هئیت د یوې اوونۍ غونډې په ترڅ کې، دجګړې د غندلو په برخه کې یو پرېکړه لیک صادر کړ.

ــ د مې میاشتې په لومړیو کې د پاکستان، ایران او سعودي عربستان هېوادونو، په سعودي عربستان کې د سولې په یوې غونډې کې د ګډون لپاره د مجاهدینو استازو ته بلنه ورکړه. دملګرو ملتونو تر څارنې لاندې د سولې د یوې رښتینې جبهې په منځ کې، د درز د پیدا کولو په موخه، په دې غونډه کې د ګډون لپاره د پخواني پاچا استازي ته هم بلنــه ورکــړل شوه.

د محمود مستیري په مشرۍ د ملګرو ملتو د سولې هئیت د تشبثاتو د خنثا کولو لپاره په ټینګه هڅې پیل شوې. د دې هڅو ګډه وجه په دې کې وه، چې افغاني وسلوالو ډلو د بهرنیو لاسوهونکو هېوادونو په مرســته د سولې له هر نوښت سره، چې په هغه کې د افغانستان چــوپ اکثریــت د خپلو ارمانونو د ځلونې امکان پیدا کړي، په مخالفت کې واحــده جبهــه جوړه کړې وه. د وسلوالو ډلو او لاسوهونکو بهرنیو هېوادونو لــه خــوا د سولې د مخنیوي لپاره د چلوټې جوړول، پــه شــعوري ډول پــه داســې شرایطو کې ترسره کېږي، چې پر تېر وخت په (راولپنــډۍ، اســلام ابــاد، پېښور، جلال اباد او مکه مکرمه) کې دې ته ورته هڅې، د جګړې د پایته رسولو په لار کې هېڅ ډول عملي نتیجې ته نه دي رسېدلي. هغو کسانو، چې دا ډول جالونه یې غوړولي، پر دې ښه پوهېدل؛ هغه امتیــازات یــې، چې په جګړه کې یې ترلاسه کړي، په سوله کې به یې له لاسه ورکړي.

# درېیم څپرکی

# قهر او روغه

**الف- د قهر او زور کارول:** افغانستان د داسې قبیله یي ټولنې لرونکی دی، چې د هغې پر سیاسي ژوند واکمن قوانین دودیز او قومي خصلت لري. په دې ټولنه کې د قهر او زور کارول تل د سیاسي ژوند مسلط توکي دي. د هېواد په معاصر تاریخ کې د بېلګې په ډول (۱۹)مه پېړۍ د قهر او غوصې له پېښو څخه ډکه ده، چې د هغې په بهیر کې د دولت د واک نیول د کورنیو او قبیله یي دښمنیو (رقابتونو) د منځ ټکی ګڼل کېده.

په افغاني ټولنه کې د قهرجنې روحیې په زېږېدو او ځواکمنۍ کې مختلفو لاملونو ونډه لرلې ده. له دې جملې نه د جغرافیایي، ټولنیزو او سیاسي عواملو سپړل ډېر مهم دي:

**یو- جغرافیایي لامل:**

**۱- جیوپولټیک لامل:** افغانستان د هندوستان د افسانه یي هېواد د دروازې په توګه تل د تاریخ د فاتحینو اونړۍ نیونکو د پاملرنې مرکزي ټکی و. دې موقعیت زموږ هېواد د سترو بریدونو او یرغلونو له خطر سره مخامخ کړی، چې د هغو په ترڅ کې خلکو د خپل ځان د دفاع لپاره قهر ته په قهر ځواب ویلی دی.

د تاریخ په بهیر کې د افغانستان پر خاوره د بهرنیو بریدونه او یرغلونه ډېر زیات دي، چې په پای کې دوی ته د ژوند او ځاني دفاع لپاره د قهر څرګندول پر یو نه انکارېدونکي اصل بدل شوی دی.

**۲- فزیکي لامل:** افغانستان یو غرنی هېواد دی. د ډېرو ټولنپوهانو په اند هغه خلک، چې په سختو او لوړو جغرافیایي او فزیکي شرایطو کې ژوند کوي، د ژوند د تامین لپاره ناچار دي، د طبیعت له قهرجنو ځواکونو سره مجادله وکړي. دا مبارزه د هغو خندونو د لرې کولو لپـاره، چــې د یوې موخې د پلي کېدو په لاره کې پراته دي، د زور پر کارونې باندې باور پیدا کول، د سړي تحت الشعور ته ننباسي او ورو ورو هغه د ټولنیز ژوند په یوه ډول اړوي. که چېرې د ټولنیز قهر په تولید کې د جغرافیایي لامل رول ( هم جیوپولټیکي او هم فزیکي) د مدني ژوند ( د ښوونې او روزنې بشپړونه، د ولسواکۍ عامېدنه او د سیاسي شعور اوچتیا) د شــرایطو د پرمختیا په واسطه له منځه لاړ نه شي، نو کمزوری خو به ضــرور شــي. افغانستان د پرله پسې پېړیو په بهیر کې د (۲۰) مې پېــړۍ د تمــدن د نعمت له لاسته راوړلو بې برخې شوی دی، ځکه نو زموږ هېواد کې مدرن او مدني عامل ډېر کم او نامحسوس قهر لري.

**دوه- ټولنیز لامل:** افغان قبایلو ته زور او قهر مختلفې ماناوې لري. پښتانه قبایل ((ټوپک)) ناموس او یا لږ تر لږه له ناموس نه د دفاع وسیله ( د هغه په پراخه مانا چې د کورنۍ او ملي ژوند د ارزښتونو ساتنه په کې راځي) ګني او د زوی زېږېدنه د ((ټوپک)) په ډالۍ سره نمانځي. ټوپک یانې د زور وسیله، د مشرۍ کیلي او په خپل زړه د ټولنیزو شخړو حل.

په افغانستان کې یو ځل د سلطنت پر وخت د فرانسه یې ((لوموند)) ورځپاڼې خبریال له (محمد ظاهر شاه) سره مرکه کړې وه. فرانسه یــې ژورنالیست د خپلې دې مرکې په یوه برخه کې د وزلوبې (بزکشۍ) پــه تشویق کې د شاه د انګېزې په اړه داسې لیکلي وو: ((دا لوبه چې زموږ په ذهن کې د چنګیزیانو د قساوت او بدویت یاد ژوندی ساتي، په داسې حال کې، چې د افغانستان په ګاونډیو هېوادو ( د شوروي ازبکستان او ترکمنستان) کې پرېښودل شوې ده، له دې کبله یې د شاه له خوا ملاتړ کېږي، چې د خلکو له قهر او غوصې نه ډکې ولولې په یوه ګرمونکي او سوله ییز ځای کې سره راټولې شي، له دې پرته به سلطنت له بې ثباتۍ سره مخامخ شي)).

دا چې د فرانسه یې خبریال نظر به تر کومه بریده د وخت دسلطنت د سیاست څرګندوی و، موږ ورسره کار نه لرو، رښتیا خبــره داده، چــې افغاني ازبک او ترکمن قبایلو د ((ټوپک)) پر ځای د قهــر د څرګنــدولو لپاره وزلوبه، چې د قهر او قوت له څرګندولو نه ډکه لوبه ده، ټاکلې ده.

په ټولنیز ژوند کې د قهر څرګندول، په شعر، ادبیاتو او هنر کې هــم منعکس شوي دي: د فردوسي اثار ( په شاهنامه کې د رستم او سهراب داستان) او د خوشال خټک اثار له رزمي شعرونو ډک دي: خوشال خان وایي:

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشال خټک یم

ملالۍ د میوند په جګړه کې د دې لنډۍ په ویلو سره، چې د وطن دمینې روح په کې څپې وهي، غازیان او مجاهدین یې پر دښمن باندې برید ته وهڅول:

که په میوند کې شهید نه شوې

خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

هغه وخت، چې ددې اثر لیکوال د استقلال لېسې زده کوونکی و (( د ښوونکي ورځ)) په شاندارو مراسمو سره لمانځل کېدله. د هغه کمپ په مخامخ دروازه کې، چې مېلمنو به د هغه مخې ته محفل جوړاوه، دا بیت په یوه اوږده ټوټه کې په ځلاند او مشقي لیک لیکل شوی و:

دست مشاطه به رخسار عروسان نکند

انچه بر چهره تو سیلی استاد کند

ملي اتڼ د سپورټ، رزمي حرکتونو او جګړه ییز تمرینونو تر ټولو ښه بېلګه ګڼل کېږي. اریانا دایره المعارف په دې باب لیکي: ((اتڼ د افغانانو یو ډېر لرغونی ملي ورزش دی، چې له (۱۱۰۰)کلونو راپه دېخوا د مختلفو وختونو په ادبیاتو کې منعکس شوی دی.))

هماغه ډول چې نارینه د اتڼ لپاره سندرې او نارې (ولسي سندرې، چې په لوړ غږ ویل کېږي) لري، ښځې او پېغلې هم په ښکلو سندرو او نارو سره اتڼ کوي.

په اتڼ کې د بدن د ټولو غړو د ښېرازۍ لپاره ټول جنګي او رزمي حرکتونه ترسره کېږي. په اتڼ کې هغه پاروونکې نارې، چې د جګړې، برید او یرغل پر وخت د دښمن د ماتې، ډار او د خپل ځواک د څرګندونې لپاره، له خولې څخه راوځي، شاملې دي.

د اتڼ په بهیر کې د جګړې او تېښتې تمثیلوونکي حرکتونه په اسانۍ سره څرګندېږي. پرمختګونه، شاتګ، پر دښمن باندې برید، د دښمن د برید دفع، په اتڼ کې په موزونو حرکتونو سره افاده کېږي.

خېزونه، پورته کېدنه او د اتڼ په پای کې توند او چټک حرکتونه، پـر دښمن باندې د برید او یرغل څرګندوی دي. تر هغه وخته پورې، چې تن په تن جګړه دود وه او توره اصلي وسله ګڼل کېدله، افغاني ځوانانو لـه تورې او یا چوړکۍ سره اتڼ اجرا کاوه. د هېواد په ځینو سیمو کې اوس هم د اتڼ د اجرا پر وخت له چوړکیو نه کار اخلي. په هغو جګړو کې چې افغاني ټولنه ورسره مخ وه، په ورو ورو ډول ټوپک د تـورې او چـوړکۍ ځای ونیو. هغه وخت نو د اتڼ د اجرا پر وخت د ټوپک کارول دود شول.

د افغانستان په ځینو سیمو کې داسې دود و، چې د ((ورا)) په نوم د زوم کورنۍ چې د ناوې د پلار له کوره د ناوې د بیولو لپـاره تللـه بایـد وسلواله وای. هغوی د ناوې په کلي کې، په جګړه کې د تـورې وهلـو، نېزې او هدف ویشتلو د ازمېښتونو له لارې خپل استعداد څرګنـداوه. یوازې په دې ازمېښتونو کې د بریالیتوب تر ګټلو وروسته یې د ناوې د بیولو حق ترلاسه کاوه.

سربېره پر دې د افغانستان په ځینو سـیمو کـې د واده او نکـاح د حاصلولو لپاره، زوم د دې ډول جګړه ییزو ازمېښتونو له تېرولـو سـره مخامخېده: د لرګیو څو خادې  یې په ټینګه یوه له بلې سره تړلې چـې اوږدوالی یې (۲۰) ګزه شي. د تړلیو خادو په یوه نرۍ برخه کې یـې یـو چرګ تاړه، چې ((دار)) نومېده، دجلۍ غوښتونکي دنده لرله، چې پر اس سور شي، د چرګ وزر خپل هدف وټاکي او هغه جګ کـړي. تـر هغـه

وخته، چې د لرګي له پاسه د چرګ وزر په رېږدو و، ناوې اجازه نه لرله، چې د مېړه کور ته لاړه شي.

د هېواد په ځینو نورو کلیو کې یې د چرګې هګۍ پر ځمکه ایښودله چې پر اس سپور سړی، چې په واقعیت کې راتلونکی زوم و، خپل ځان ټیټ او هغه پورته کړي.

په ځینو سیمو کې به یې له یو نه تر درېو پورې د لرګیو مېـوړې پـر ځمکه ټکوهل او سپور سړي یانې راتلونکي زوم ته یې دنده سپارله، چې دا میوړې د اس د ځغاستې پر وخت د نېزې په واسطه له ځمکې وباسي.

په ځینو نورو کلیو کې یې د اوبو پر سر ورېښمین دسـمال اچـوه او جلۍ غوښتونکي سپور سړي بیا دا دسمال پر تورې دوه ځایه کاوه.

له پورتنیو خبرو څخه داسې څرګندېږي، چې په افغانسـتان کـې د کورنۍ جوړونې لپاره لومړنۍ هڅه، له هغو ازمېښتونو سره یوځـای وه، چې د ناموس په توګه د کورنۍ دفاع لپاره د نارینه جګړه ییـز ځـواک ثابتوي.

البته د کورني ناموس دفاع، د ټولنې او هېواد د ناموس دفاع لومړنی ګام ګڼل کېږي، چې نارینه د کورنۍ د جوړېدو له لومړیو ورځو نه هغو ته ژمنه کوي.

په زده کړې، تفریحي لوبو (وزلوبه، غشي ویشتل، اتڼ، پهلـوانۍ) ، د کورنۍ په جوړښت، د ټولنیزو شخړو په حل او په پای کې د سیاسي واک ترلاسه کولو کې د زور څرګندول، د افغاني ټولنې طبیعت دی. دې حالت شخصیتونه روزلي دي. دا قهر په ډېرو برخو کې له مېړانې او زغم سره یو

ځای و او د خپلواکۍ، د حق او عدالت د دفاع په لار کې ورځخـه ګټـه پورته شوې ده.

د خراسان عیاران، د کندهار پایلوچـان او د کابـل کاکـه ګـان، نـه ماتېدونکي سیمه ییز پهلوانان وو، دا پهلوانان، لکه د خوشال خټک په شان د هېواد د ناموس دفاع لپاره د همت ملا تـړي او هېـواد د یـوې امپراتورۍ پر مرکز بدلوي.

## د افغان په ننګ مې وتړله توره
## ننګیالی د زمانې خوشال خټک یم

بیا به نو افغانستان د ژبې، فرهنګ او تـاکلي دیـن د صـادرولو پـر سرچینې بدلېده.

د افغانستان تاریخ په (۱۸)مې، (۱۹)مـې او (۲۰)مـې پېـړۍ کـې د ګاوندیو هېوادونو د تاریخ په اندول د زیاتو خونړیو پېښو مرکز و، چې د هغه په بهیر کې زیات واکمن د سیاسي رقیبانو په واسطه معیوب او یـا وژل شوي دي. د بهرنیو یرغلګرو پر ضد جهاد، کورنۍ جګړې او نور، چې له یوه پښت نه بل ته یې قهر و کینه او غچ اخیسـتل لېږدولـي دي، د افغانستان تاریخ ته یې داسې خوځون او تحرک ورکړی دی، چې بېلګه یې لږ تر لږه په ګاوندیو هېوادو کې لیدل شوې نه ده.

دري – سیاسي لامل: د تاریخ په اوږدو کې د افغـاني ټـولنې پـه جوړښت کې د ګډو قومونو او قبایلو ترمنځ د سیاسـي واک د لاسـته راوړلو لپاره پټه او ښکاره مبارزه موجوده وه. دې مبارزې کله کله قومونه د یو بل پر وړاندې د دښمنۍ، غچ اخیستنې او قهـر پـه مورچـه کـې کېنولي او سیاسي او ټولنیز ثبات یې له منځه وړی دی.

**د (۲۰) مې پېړۍ په اوږدو کې د سیاسي واک د ترلاسه کولو لپــاره د نویو رقیبانو د څرګندېدو وېرې، د افغانستان پاچایان او چارواکي تقریباً د مشروطیت او ولسواکۍ له ټولو غورځنګونو او سیاسي ډلبندیو ســره مخالف کړي وو. تاریخ ته مخ اړوو:**

**پر (۱۹۰۳م) کال د امیر حبیب الله خان د سلطنت پر وخت د لومړي مشروطیت غورځنګ ( پټه ملي ټولنه) په شاهي مدرسه کې جوړ شــو. دې غورځنګ پر (۱۹۰۵م) کال د (عبدالروف کندهاري) په مــدیریت د (سراج الاخبار) په نوم د یوې جریدې د خپرېدو اجازه ترلاسه کړه. ددې جریدې لومړۍ ګڼه پر (۱۹۰۶م) کال په (۳۶) مخونو کې له چاپه راووته او بیا یې د چاپ اجازه ترلاسه نه کړه. که څه هم امیر یې د اساسي قانون د جوړېدو له لارې خلکو ته د سیاسي خپلواکیو ورکولو تــه رابالــه، خــو غورځنګ په پټه خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړ. د امیر په واسطه، د هغوی استبدادي ضد فعالیتونه کشف شول او د ټولنې (۴۳) تنه غړي اعدام او یا زنداني شول. امیر وروسته وویل: (( ما د دې ټولنې د نــورو غــړو لــه نیونې او سزا ورکولو څخه ډډه وکړه که نه نړۍ به په وینو لــړل شــوې وه.))**[1]

**د دویم مشروطیت غورځنګ پــر (۱۹۱۱ م) کــال جــوړ شــو. د یــوه مشروطه غوښتونکي او ملتپال محمود طرزي پــه مــدیریت، د ســراج الاخبار جریدې خپرېدل له سره پیل شول. دا غورځنګ د امیر د وژنې په دلیل، د خپل یو غړي (عبدالرحمن لودین) د ناکامې هڅې له کبله د**

[1] عبدالحی حبیبي، د افغانستان لنډ تاریخ، ۱۹۸۹م کال، خپرندوی، د افغانستان د مهاجرینو سازمان.

لومړي مشروطیت پر برخلیک اخته او تار په تار شو. محمد نادرشاه په داسې شرایطو کې واک ترلاسه کړ، چې د حبیب الله کلکاني (د سقاو زوی) له حکومت څخه راپیدا شویو شرارتونو او ګډوډیو د ټول افغانستان خلک خواشیني کړي وو. نادرشاه د مرکزي حکومت د ټینګښت په نیت د زور په واسطه ټول مخالف سیاسي شخصیتونه او ډلې وځپل.

د ظاهر شاه د سلطنت په لومړۍ لسیزه کې، یانې هغه وخت، چې هاشم خان د وخت صدراعظم و، د صدارت محبس او د کابل د دهمزنګ زندان له سیاسي زندانیانو ډک و.

له (۱۹۴۷م) کال څخه تر (۱۹۵۲م) کال پورې ( د شاه محمود خان صدارت پر وخت) سیاسي ژوند نوې ساه واخیسته. پر (۱۹۴۷م) کال په کندهار کې د ویښ زلمیانو ګوند جوړ شو او پر (۱۹۵۹م) کال د هغه کاندیدانو د شورا د اوومې دورې په ټاکنو کې ګډون وکړ. پر (۱۹۵۰م) کال د مطبوعاتو قانون تصویب شو. شخصي جریدو ونه کړای شول د مطبوعاتو په قانون کې له مطرح ازادۍ نه په احتیاط او نرمۍ سره کار واخلي. پر دولت باندې ډېرې زیاتې نیوکې، چې ځینې وخت یې تحربه یي اړخ هم درلود، د واکمنې ډلې د قهر او غوسې سبب شوې او د (۱۹۵۱م) کال پر وروستیو یې د نومړو جریدو د خپرېدو مخنیوی وکړ. پر (۱۹۵۲م) کال د اتمې دورې لپاره ټاکنې پیل شوې. تر رایو ورکولو وروسته پر حکومت باندې په ټاکنو کې د لاسوهنې تور ولګېد او د سیاسي ډلو له خوا د دولتي ضد مظاهرو له لارې ټینګ غبرګون ښکاره شو، چې د هغه په بهیر کې زیات شمېر سیاسي شخصیتونه زنداني

شول. پنځوسمو کلونو د سردار محمد داود له صــدارت ســره ســمون درلود. د نوموړي حکومت د استبداد او اختناق سیاست، هېڅ شخصیت او سیاسي ډلې ته د فعالیت مجال ور نه کړ.

شپېتم کلونه د ولسواکۍ د ازمېښت لنډه مرحله ده. د (۱۹۶۴م) کال اساسي قانون هغو عقدو ته چې د منځنیو پېړیو د استبداد او مطلقیت په بهیر کې راټولې شوې وې، په یو واریز ډول د څرګندتیا زمینه برابره کړه. شخصي جریدو (کاروان، افغان ملت، ګهیځ، خلق، پــرچم، شــعله جاوید، روزګار او نورو) ته د خپرېدو زمینه برابره شوه. د دې خپرونو په شاوخوا کې مختلفو سیاسي ګوندونو پر جوړېدو پیل وکــړ. د ټــولنیزو عقدو پر ناروغیو باندې ککړو څرګندونو د افغاني ټولنې سیاسي ژونــد کینې او ښي پلو ته بوتــه. کینــو او ښــیو بهرنیــو لېوالتیــاوو، چــې د کمونیستي او اسلامي انترناسیونالیزم له ایډیالوژیکي تومنې سره یــې غوټه پیدا کړې وه، په شپېتمو میلادي کلونو کې یې د هېواد سیاســي پېښې له ځینو خونړیو ټکرونو سره مخامخ کړې. سوله ییزې سیاســي مبارزې، ټاکنو او پارلمنتاریزم ونه کړای شول، زموږ د سیاسي ژونــد د تګلورې په ټاکلو کې ثابت رول ولوبوي، په ځانګړي ډول دا چې د خلکو ډیموکراتیک ګوند له خپلواکۍ نه د ګټې اخیستنې طرز، د خپلواکۍ پر ضد وکاراوه. د قهر او غوسې کرغېړنو څېرو د ولسواکۍ او خپلــواکۍ د ښکلې، خو لړزېدونکې ماسک تر شا افغان ټولنه بېرته د خپل سیاسي ژوند هغه طبیعي بنسټ (زور) راګرځېدو ته رابلله، قهر ته په قهر ځواب ورکړ شو. پر (۱۹۷۳ م) کال سردارمحمد داود د یوې پوځي کودتــا پــه ناوړه ازمېښت سره ولسواکۍ او ټاکنې له منځه یوړې. د پوځي کودتا له

**لارې د سياسي واک د نيونې لپاره لاره هواره شوه. سردار محمـد داود هغه پارلمنټاريزم، چې له هغه څخه د افغانستان د ولسواکۍ غورځنګ د سياسي تاريخ په اوږدو کې، له وروستيو هڅوکو پرته نور څه پاتې نه وو، خاورو کې ښخ کړ او د جمهوري رياست په نږدې پينځو کلونو کې يې ( د پارلمان په غياب کې) د جمهوريت د مرکزي کمېټې د تقنني فرمانونو د صادرولو له لارې حکومت وکړ. د داودخـان د وخـت د (۱۹۷۸م) کـال اساسي قانون د تطبيق مجال پيدا نه کـړ. د (۱۹۷۸م) کـال د اپريـل د کمونيستي کودتا غميزه د نوي قهر او زور ازمويلو پيلامه شوه. د محمد داود د کودتا له پيله، افغانستان ته د شوروي لښکرو د راتګ تر لومړي کال پورې، د نږدې اوو کلونو په بهير کې شـپږ حکومـت رييسـان يـا صدراعظمان وژل شوي دي. پر همدې وخت لږ تر لـږه څلـور ناکـامې کودتاوې کشف او په سلګونو تنه عاملين يې ځپل شوي دي.**

**په افغانستان کې له ۱۹۲۱م کال ( د لومړني ليکلي اساسي قانون له تدوين) څخه تر (۱۹۷۸م) کال ( د ثور غميزې تر رامنځته کېدو) پورې د نږدې (۵۷) کلونو په واټن کې، څلور اساسي قانونونه جوړ شوي دي. د هر يوه د انفاذ عمر نږدې څوارلس کاله کېږي. د همدې وخت په بهير کې لس صدر اعظمان د لسو حکومتونو په راس کې راغلي دي. په همـدې زماني واټن کې د مطلقه سلطنت، مشروطه رژيمونه، لېبرال جمهوري او ديموکراتيک جمهوريت نظامونه ننداري ته وړاندې شوي دي. که يـادو پېښو ته پام وکړو، نو د هېواد د سياسي او ټولنيزې اوضـاع د ثبـات د نشتوالي او د سياسي پېښو په حل کې لـه زور نـه د کـار اخيسـتنې څرګندويي کوي.**

**تر (۱۹۹۲م) کال وروسته په کابل کې اسلام دولت ایتلافي اداره منځته راغله. دا اداره له همغه پیله د مخالفینو، چې کله کله به په خپل منځ کې جنګېدل، د توغندیو او بمونو تر ګوزارونو لاندې راغلې.تر (۳۰۰۰۰) تنو څخه زیات مړي او په لسګونو زره ټپیان چې تقریباً ټول ملکي کسان وو، دا د کابل په اصطلاح اسلامي ادارې څلور کلن بېلانس دی. دې ادارې، چې دعوه یې کوله د مسلمانو پرګنو له منځه راپورته شوې ده. عملاً د خلکو پر خونړي دښمن بدله شوې وه او د ژوند یوه ورځ یې، چې زیاتېدله ډېر نور انسانان یې له ژوند څخه بې برخې کول.**

**له پورتنیو یادونو څخه څرګندېږي، چې په افغانستان کې اوس هم د قانون د احکامو د رعایت لپاره چړې او ټوپک د سوله ییزې مبارزې بنه خپله کړې نه ده.**

## ب- د ولسواکۍ (لویې جرګې، اساسي قانون) د اصولو رعایت:

**په داسې حال کې، چې زور او قهر د افغاني ټولنې طبیعي دود او مسلط توکي دي، پر قبیله یي ډیموکراتیکو دودونو ډېره لګول، په ټولنیز ژوند کې تر استثنا څخه یو څه زیات رول لري او د یو سوله ییز تعامل په توګه یې د ټولنیزو او سیاسي شخړو د حل او یا لږ تر لږه د کمونې لپاره، د تاریخ په بهیر کې خپله لار پرانیستې ده: قومي جرګو د ټولنیز ژوند په روغ ساتلو کې وقایه یي ( د ټولنیز کړکېچ مخنیوی) او یا معالجه یي ( د ټولنیزو شخړو له منځه وړل) رول لرلی دی.**

**له سیمه ییزو قومي جرګو څخه د ژوند د ډیموکراتیکې نښې په توګه، زیاتره پښتنو قومونو او قبایلو ګټه اخیستې ده، ځکه نو د افغاني ټولنې د جوړښت د جوړوونکو نورو قومونو په ټولنیز ژوند کې یې رول کمزوری**

دی. په داسې حال کې، چې لویه جرګه د افغاني ولسواکۍ بله پدیده د ملي پولو په ټولو برخو کې عمومي اغېز لري.

د افغان ملت په سیاسي ټولنیز ژوند کې د لویې جرګې اغېز په لاندې برخو کې ډېر څرګند دی:

ـ د ملي یووالي، سولې او ټولنیز ثبات تامینول.

ـ د اساسي قانون او قانون په چوکاټ کې د ملي ژوند تنظیمول.

ـ د افغاني ټولنې په جوړښت کې د ټولو شـاملو قومونـو او قبـایلو ترمنځ د ملي مسایلو د حل لپاره، د خبرو اترو او د نظر د تبادلې لپاره د زمینې برابرول.

ـ واکمنو ته د ټولنیز ځواک په ورکولو سره، د هغوی د پرېکړو د پلي کولو تضمینول.

ـ له یوه لاس نه بل ته د سیاسي واک سوله ییز لېږد.

( د یادونې وړ ده چې په (۱۸)مه پېړۍ کې د افغانستان د نوي دولت تر څرګندېدو وروسته، د لویو جرګو د جوړېدو نوښت او په هغو کـې د بحث وړ موضوعګانو د طرحې واک زیاتره د پاچایانو او چارواکو په لاس کې و).

د سیاسي ولسواکۍ نوي آرونه ( د ګوندونو جوړېدل، د وینا ازادي، د مطبوعاتو ازادي، عقیده یي ازادي او د انتخاباتو ازادي) په افغاني ټولنه کې د اساسي قوانینو د منځته راتلو پر بنسټ ژورې ریښې نه لري.

د لومړي ځل لپاره پر (۱۹۲۱م) کال اعلیحضرت امان الله خان هڅـه وکړه د لومړني لیکلي اساسي قانون په اوډنې (تدوین) سره د پارلماني ولسواکۍ بنسټ کېږدي.

امان الله خان له خپلو ټولو لیبرال ډیموکراتیکو ارمانونو سره، د کینې له مخې د حبیب الله (د سقاو زوی) د اړو دوړ په واسطه له منځه یووړل شو. ځکه نو له دې ازمېښته د ولسواکۍ د ژورو ملو د وسیلې په نوم، څه شی د افغاني ټولنې په نصیب نه شول.

سره له دې چې د (۱۹۳۱م) کال د اساسي قـانون پـه درشـل کـې نادرشاه ترور شو، خو بیا هم تر مخکنـي اساسـي قـانون او وروسـتیو اساسي قوانینو څخه د دې قانون د تطبیق زمینه زیاته وه او (۳۵) کاله یې د قانون په واسطه د هېواد د ادارې دوام تضمین کړ. د (۱۹۳۱م) کال اساسي قانون د وراثت د آر (اصل) له مخې، د سلطنتي واک د سوله ییز لېږد بنسټ شو.

د پارلمان اسکلیټ ( د شورا د ټاکنو په برخه کې تقریباً د حکومت له همېشنۍ لاسوهنې سره) وساتل شو. دا اسکلیټ د شورا په اوومـې او اتمې دورې کې په ولسواکۍ سره ښکلی شو. د دې ازمون عمر لنـډ و: چارواکو د مخالفینو د کښته و پورته خبرو د اورېدو زغم نه درلود، یا دا چې زموږ خلکو له سیاسي ازادیو نه د ګټې اخیستنې لپاره په تدبیر او احتیاط سره لازمه وړتیا نه ده ښودلې؟ موږ اوس له دې سره کار نه لرو، چې د چا ګناه ده. رښتیا خبره داده، چې زور او ټولواکې د ولسواکۍ او ازادۍ د آرونو د رعایتولو پر نېکې ارادې بر شول.

پر (۱۹۶۴م) کال یو بل اساسي قـانون د هغـه د خیـر غوښـتونکو جوړوونکو په ارادې، چې اکثره د لویـدیزې نـړۍ د لیبرالـې سیاسـي فلسفې تر اغېز لاندې وو، جوړ شو. دا اساسي قانون له دې کبله چـې افغاني ټولنه یې د یو پر مختللي صنعتي لیبرال هېواد په انډول ارزوله، له واقعیت نه لرې و.

په افغانستان کې له (۱۹۶۴م) نه تر (۱۹۷۳م) کال پـورې د اساسـي قانون د تطبیق د لسو کلونو په بهیر کې، پینځو حکومتونو د چارو واګې په لاس کې واخیستې، په دې ډول د هر حکومت عمر په منځنۍ کچـه دوه کاله و، په داسې حال کې، چې اساسي قانون د قانون جوړولو د یوې دورې د رایو د باور له مخې د حکومت د دوام وخت څلور کاله ټاکلی و.
د (۱۹۶۴م) کال اساسي قانون، زموږ د ټولنې د سیاسي ژوند د واکمن توکي په توګه د ((زور او قهر)) په واسطه، چې دا ځل د یوې پوځي کودتا په چوکاټ کې رامنځته شوي وو، لغوه شو.
د (۱۹۷۳م) کال پوځي کودتا په هېواد کې د اساسي قانون د رول له پایته رسولو سره یوځای وه. داود خان د جمهور رییس په توګه لږ تر لږه پینځه کاله (( د جمهوریت د مرکزي کمېټې)) د تقننـي فرمـانونو پـه واسطه حکومت وکړ. هغه اساسي قانون چې د داودخان د واکمنۍ پـر وروستي کال جوړ شو، د کمونیستي کودتا په رامنځته کېدو سره د پلي کېدو مجال پیدا نه کړ.

# دويمه برخه

## پر ټولنيز او سياسي ژوند د (۱۹۷۸م) کال د کمونيستي کودتا اغېزې

**لومړی څپرکی:** د (۱۹۷۸م) کال د اپريـل کمونيســتي کودتــا د دولت جوړښت يانې سلطنت او پارلمان، د قومي او قبيله يي اړيکو او ملتپالنې بنستونه ويجاړ کړل. مذهب د سياسي موخو د پرمخوړلــو وسيله شو او د روڼاندو د سياسي خوځون په لاره کــې ګــڼ شــمېر خنډونه رامنځته شول.

**دويم څپرکی:** له هېواد څخه د شوروي ځواکونو تر وتلو وروسته، په افغاني او بهرنيو سياسي کړيو کې د ناپېيلي حکومت د ټينګښت طرح د خبرو اترو ګرمه موضوع شوه.

**درېيم څپرکی:** د سولې او سياسي ثبات د ټينګښت لپاره د يوې معقولې لارې په توګه، د ناپېيلي حکومت د جوړېدو هيله بريالۍ نه شوه.

د واک نویو ملاتړیو، لکه جهادي تنظیمونو او د مقاومت قوماندانانو د سولې د ټینګښت لپاره خدمت ونه کړای شو، بلکې په خپله د بې ثباتۍ لامل شول.

**څلورم څپرکی:** د جهاد پر کلونو د دښمن سرزورۍ، قهر زموږ د ټولنې لپاره د یوې اشنا پدیدې په توګه دښمنۍ ته د مناسب ځواب ورکولو د وسیلې او وروسته د سیاسي واک، د ګټلو لپاره پـر یـوې حربې بدل کړ. د ولسواکۍ د آرونو منل د سولې او روغې پلي کېدل د یوې هیلې تر بریده پاتې شول.

# لومړی څپرکی

## د دولتي جوړښت د بنسټونو ړنګونه

کمونیستي کودتا او په هغې پسې د شوروي پوځي مداخلې، د دودیزې افغاني ټولنې د اخلاقي، ټولنیز او سیاسي ژوند زیاتو جوړښتونو ته بدلون ورکړ. د روس د لاسوهنې پر ضد د ګټې لرونکو هېوادونو له خوا، د خلکو د پرګنو په منځ کې په پراخه کچه د وسلو تیتول، په بهر پورې د تړلي مرکزي حکومت، چې په خپله د کړکېچ او شخړې پر ډېرو لاملونو بدل شوی و، لوړتیا له منځه یوړه. تر کومه ځایه چې نظام، له حقوقي او سیاسي اتوریتې سره، د خلکو د استازیتوب په لاسته راوړلو بریالی نه شو د قانون له لارې د ټولنې اداره لاسته راوړي، د جهاد د دوام په نړدې دولسو کلونو کې د ګډوډۍ یو ډول، بې ځایه ازادیو او ستونزو د افغاني ټولنې او دولت د جوړښت بنسټونو ته ځینې نه جبرانېدونکي زیانونه واړول. پر (۱۹۹۲م) کال د جمعیت، پرچم، ستم د ایتلافي ادارې په رامنځته کېدو سره د دولتي جوړښت پاتې بنسټونه له منځه لاړل.

**الف- سلطنت او پارلمان:** د (۱۹۷۳ م) کال تر پوځي کودتا وروسته د سلطنتي دستګاه ړنګېدنه، چې په نورو مخ پر ودې هېوادو

کې له دود سره سم، څو نورې ناکامې او بریالۍ کودتاوې ورپسې پېښې شوې، د حکومت جوړونې په چارو کې د اردو د لاسوهنې خراب پیل و، چې د نوې څرګندې شوې سیاسي ولسواکۍ غوښتنې تــه یــې ګــوزار ورکړ. په هر حال! د کمونیستي او ناکمونیستي کودتاوو بریالیتوب پــه ډاګه کړه، چې سلطنتي موسسې د ژوند د دوام لپاره لازم ټینګښت او وړتیا نه لرله او ویې نه کړای شول، چې په یوه نــه یــو ډول د تــولنې د ټولنیز، اقتصادي، سیاسي او رواني ژوند له بدلېدونکو شــرایطو ســره توافق وکړي، چې د ړنګېدنې زمینه یې برابره نه شــي. پــه بلــه وینــا سلطنت په خپل ځان کې د ځان د له منځه وړنې او ړنګــونې لاملونــه وپالل او د ولسواکۍ د آرونو په بشپړونې کې یې لــه واقعیتونــو، ژورې کتنې او د پرمختللو هېوادونو (انګلستان او جاپان) چې شاهي مشروطه نظامونه یې لرل، له تجربو څخه ګټه وانخیسته.

پارلماني رژیمونه د اروپایي هېوادونو د اقتصــادي ودې زېږنــده دي. ددې ودې په بهیر کې د ځمکوالي نظام په پاشل کېدو سره بورژوازي د یو نوي ټولنیز قشر په توګه څرګنده شوه. پانګوالي د خپل پرمختګ د چټکتیا لپاره اقتصادي خپلواکیو (ازادي او د خصوصي مالکیت حق، د یــوې تصــدۍ د جوړېــدو او اداري ازادۍ، د راکــړې ورکــړې ازادۍ، د سوداګرۍ ازادۍ او نور)، سیاسي خپلــواکي ( د رایــې حــق، د ټولنــو خپلواکۍ...)، مدني خپلواکي ( د عقیــدې، وینــا، مطبوعــاتو، لیــک او مخابرې خپلواکۍ...) ته اړتیا درلودله. له ځمکوالي نظام څخــه راپیــدا شویو ارستوکراتیکو بندیزونو، له دې خپلواکیو نه دګټې اخیستلو په لار کې خنډونه رامنځته کول، چې د پانګوالي نظام لپاره یې تر ټولو اوچت

ارزښت درلود. د فرانسې د (۱۷۸۹م) کال انقلاب د اروپايي ټولنې د زوړ او وراسته جوړښت پر وړاندې، د نوي څرګند شوي ناراضه ټولنيز قشر، د غوښتنو د بغاوت ډېر ښه څرګندوی دی، چې د پانګوالي نظام د ودې او پرمختګ له لارې د دې بنديزونو د ماتېدو سبب شو. د دې بنديزونو په له منځه وړلو سره د اقتصادي، سياسي، مدني او نورو خپلواکيو لپـاره لاره هواره شوه، چې د هغې له مخې پارلماني نظامونو د خپل پرمختګ پړاوونه ووهل.

د هندوستان تجربې په ډاګه کړې ده، چې پارلماني نظامونه له يو څه توپيرونوسره په يوه مخ پر ودې هېواد کې هم فعال پاتې کېـدی شـي. ځکه نو په افغانستان کې د اقتصادي پرمختګ سســتيا پــه تېــرو اوو لسيزو کې نه شو کولای د پارلماني سيستم په تعبيه کې ټوليز خنډونه رامنځته کړي. زموږ په هېواد کې واکمنه ډله له ځمکوالو، ارستوکراټو او وړو بورژ وازانو او روڼ اندو څخــه جــوړه وه. لــه کمــزوري اقتصــادي پرمختګ نه راپيدا شوي ټولنيز غورځنګ، تر دې بريده سياسي ځواک تر لاسه کړی نه و، چې د سلطنت د ارستوکراتيکي دستګاه د بنديزونو او فشارونو پر وړاندې د پارلمنټاريزم له غورځنــګ څخــه، د دولــت د ډيموکراتيکې ادارې د يو سيستم په توګه، دفاع وکړي، خو هر کله چې په شپېتمو ميلادي کلونو کې د شورا د اوومې او اتمې دورې په بهير کې د مکتبي او پوهنتوني روڼاندو له خوا، د پارلمان د دريځ د تثبيــت پــه خاطر کومې ناوړه هڅې ترسره کېدلې، د وخت د چارواکو لــه پراخــې اوسېلې او زغم سره مخامخېدلې، په ورو ورو ډول مشــروطه پارلمــاني نظام له خپلو ټولو ځانګړنو ( د ټولنو ازادی، د مطبوعاتو ازادي، ګاکنو او

نورو ازادیو) سره راټوکېده او د سلطنتي نظام پاتې شوني له ولســواکۍ سره د یوځای شوي سیستم د یوې برخې په توګه تضمینېدل. سربېره پر دې د سیاسي ولسواکۍ او پارلمنټاریزم نظام په خپله د کمــونیزم د پرمختګ (( د مخنیوي)) پر یو سوله ییز او ډیموکراتیک لامل بدلېده. په داسې حال کې، چې د لویدیزې اروپا کمونیستي هېوادونه د شــپېتمو کلونو په بهیر کې په سیاسي لوبو کې د مذهب له کمزوري اغېــز ســره سره، پر دې بریالي نه شول، چې د ټاکنو او د پارلماني اکثریت په ګټلــو سره واک ته ورسېږي، د افغانستان په اسلامي هېواد کې خو د مذهب د ټولنیز ځواکمن اغېز له کبله د هغو په واسطه د دولت د چــارو لاســته راوړل، یوه ناممکنه خبره وه. ځکه نو ټاکنې او پارلمان زموږ په هېواد کې کېدی شول، د کمونیزم د ځینې په ښو وسیلو واوړي.

د (۱۹۶۴م) کال لیبرال اساسي قانون د لویدیزو هېوادونو په ډول په داسې شرایطو کې له سیاسي خپلواکیو نه د ګټې اخیستنې امکان برابر کړ، چې کمونیستانو په بهرني ملاتړ سره د وخت له غوښتنو سره سم په پرمختللي تکتیک او ستراتیژۍ سره خپل ځان راټول او تیار کړی و، هغه هم په داسې حال کې چې اکثره خپلواک ملي او اســلامي ګوندونــه د اساسي قانون په اعلان او نافذېدو سره پیــل شــوي وو. پــه بلــه وینــا کمونیستان له همغه پیله تر نورو په سیاسي مقابله او رقابت کې دمخه وو.

د (۱۹۶۴م) کال اساسي قانون هغو خلکو ته، چې د تېرو پېړیو ظلم او ستم یې د سیاسي او رواني عقدو د ټوکېدو ســبب شــوي وو، د زیــاتو ازادیو ورکول، د زمان او مکان له غوښــتنو ســره ســمون نــه درلــود.

کمونیستانو، چې د یو ځواک په توګه څرګند وو، له دې خپلواکیو څخه د ولسواکۍ د ړنګونې لپاره د یوه راټول شوي ځواک په توګه ګټه پورته کړه.

لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه، د ولسواکۍ د آرونو د مراعاتولو په عادي شرایطو کې، د خلکو ډیموکراتیک ګوند په واسطه، د سیاسي فعالیت د پرمختګ او احیاناً د سیاسي واک د لاسته راوړلو امکان موجود نه و.

د (۱۹۶۴م) کال اساسي قانون نیمګړتیاوې وروسته د سردار داود د وخت د (۱۹۷۸م) کال اساسي قانون په واسطه له منځه یووړل شوې. دا اساسي قانون د واکمنې ډلې تر نیمې پېړۍ د زیاتې سیاسي تجربې زېږنده و، چې د خپل څرنګوالي له مخې د دولت د سیاسي او حقوقي سازمان د راټولونې له پلوه د (۱۹۶۴ م) کال اساسي قانون له لسیزې نه د راپیدا شوې ګډوډۍ پر ضد، د مبارزې ډېره ښه وسیله ګڼل کېدله. د دې اساسي قانون د تطبیق لپاره د ناپوهو کسانو ګومارل، چې په دولت کې یې د هغه د ناکامۍ سببونه رامنځته کول. د سردار داود پر ضد د (۱۹۷۸م) کال د اپریل کودتا، د خپل پایښت لپاره د جمهوري نظام د هغې کمزورۍ څرګندویه ده، چې له اساسي قانون نه رازېږېدلې ده.

**ب- له مذهب نه سیاسي ګټه اخیستل:** کمونیستانو د لینن په نظر مذهب او دین ته د پرګنو د تریاکو په توګه کتل او د مذهبي پوهانو ځپنه او له منځه وړنه یې په اصطلاح (( د ټولنې پاکولو)) پروګرام په سر کې ځای کړل. وروسته د خلکو مقاومت، چې په ډېرو برخو کې یې پر مذهبي ولولو ډډه لګوله، کمونیست حکومت مجبور کړ، چې د دیني

ارزښتونو د دفاع تظاهر وکړي. په بله مانا مذهب او دین د سیاسي موخو لپاره وکاروي.

ځینې روحاني ډوله کسان په پیسو واخیستل شول او له هغو نــه د مبلغ په توګه ګټه واخیستل شوه. د دښمن له خوا قومي او قبیله یــي اختلافونو ته په ټینګه لمن ووهل شوه او بېلابېلو جهادي تنظیمونــو د دې اختلافاتو په شاوخوا کې د اسلام پینځه لسګونی بیرغ اوچت کړ او مومنانو ته یې تر هغو لاندې د فی سبیل الله جهاد بلنه ورکړه. بهرنیــو مسلمانو هېوادو دا تفرقه نوره هم پیاوړې کړه او اسلام ته په سیاســي رنګ ورکولو سره یې، د ټولنې په روحاني او مانیز یووالي کې د هغه رول کمزوری کړ، په داسې حال کې چې د پخوانیو نظامونو د واک د وختونو په اندول یې د هغه جګړه ییز ځواک زیات کړ.

د یوې عمومي ارزونې له مخې اسلام پر هغه وخــت، چــې جهــادي تنظیمونه منځته نه وو راغلي او یا یې له خپل شتوالي سره سره، د جهاد د سوق او ادارې امکانات نه لرل، د یرغل پر وړاندې یــې د مقاومــت د طبیعي لامل په توګه په خپل سر بنسټیز رول ولوباوه.

**ج- قومي او قبیله یي اړیکي:** د افغانستان بېلابېلــو قومونــو او قبایلو د تاریخ په اوږدو کې خپل ځان (( د افغان ملت)) لویې کورنۍ ته منسوب ګاڼه او په سوله او جګړه کې له یو بل سره په مانیز پیوســتون کې وو. په افغاني ټولنه کې د قومونو او قبایلو ترمنځ خپلمنځي اړیکي د واحدې کورنۍ په توګه (( مشر ورور)) ته د درناوي څرګنــدونکي وو. د کورنیو اخلاقو د پوړیو د مراعت له مخې دا درناوی د سیاسي او ټولنیز ثبات له لاملونو څخه شمېرل کېده.

کمونیستي افت د دې اخلاقي پوړیو سلسلې ته زیـان ورسـاوه او د ټولنې په اداره کې د اکثریت او مسلط قوم او قبیلې رول، چې د افغاني ټولنې د جوړښت طبیعي توکی او زموږ د ملت د جوړښت د یوې برخې په توګه، د ولسواکۍ د اغېز څرګندوی و، له پوښتنې سره مخامخ کړ.

د روسانو او د کابل د لاسپوڅي حکومت له خوا په سیاسي، کلتوري او پوځي برخو کې د قومي او قبیله یي نفاق د راپیدا کولو لپاره اغېزمن او منظم پروګرام پر مخ یوړل شو او د قومي اکثریت اغېز لـه پوښـتنې سره مخامخ شو.

یو- په سیاسي برخه کې بې اتفاقي: د قومي او مذهبي لړکیو د لمسون په نیت ( د ولسواکۍ د نورمونو خلاف) له پښتنو اکثریت سره د مساوي حقوقو د لاسته راوړلو د ادعا د طرح کولو لپـاره د دولـت پـه جوړښت کې بدلونونه راڅرګند شول. د جمهـوري ریاسـت، صـدارت، وسلوال پوځ او په اصطلاح د ملیتونو چارو وزارت کې بدلونونه رامنځته شول. د دولت د مامورینو او نورو خلکو د حقوقي هویت د تثبیت لپاره په دولتي موسسو کې د ګومارنې په فورمو کې په اصطلاح د ((ملیت))(!) ستون ځای شو. په داسې حال کې چې لږ تر لږ پینځه لس کاله مخکې پخواني حکومت د قومي تعصب او کینې له دې توپیرونـو سـره هـېڅ علاقه نه درلودله.

د خلکو ډیموکراتیک ګوند د پښتون ضد احساساتو د راپارولو لپاره دولت ته د پښتون ضد باند (( ملي ستم)) د ملګرتیا په جلبولو سـره د سیاسي موخو د ترلاسه کولو په لار کې بریالی شو.

**دوه- په کلتوري برخو کې بې اتفاقي:** د ببرک کارمل تر راتګ وروسته انيس ورځپاڼې د (۱۹۸۱ م) کال په بهير کې د يوې ليکنې په ترڅ کې پښتنو ته د بې فرهنګه اکثريت خطاب کړی و. تر هغه وروسته په رسمي خپرونو کې د دري فرهنګ، پښتون ضد ليکنې پيل شوې، چې د هغه په بهير کې د هغو پښتنو نومونو (اصطلاحاتو) پر ځای چې لسګونه کلونه وړاندې په دري فرهنګ او ژبې کې دود شوې وې، د ايراني فارسي او ان د انګليسي يا فرانسه يي نومونې وکارېدلې. پر (۱۹۸۹م) کال په پېښور کې ((جرګه های بزرګ ملی)) په نوم کتاب چاپ شو. مولف يې ((محمد عليم فيض زاده)) په دې کتاب کې هڅه کړې ده د لويې جرګې د نومونې پر ځای د ((جرګه های بزرګ ملی افغانستان)) نومونه وکاروي. په داسې حال کې چې د لويې جرګې افغاني او ملي نومونه زموږ د تاريخ او ملي فرهنګ نه بېلېدونکې برخه ده، خو ليکوال په همدې کتاب کې نه ده کارولې او يا يې د زړه له پاسه په زور کارولې ده. د کتاب په نورو مخونو کې يې په اصلي ډول د بهرنيو کلماتو له کارونې څخه ډډه نه ده کړې. مثلاً د کتاب په ۲۳ مخ کې د ((محافظ شاهی)) پر ځای د ((ګارد شاهی)) نومونه کارېدلې ده. ايا د لويې جرګې نومونه د شاهي ګارد له کلمې څخه ډېره پردۍ او سخت مانيزه ده؟

په داسې حال کې چې روسانو د منځنۍ اسيا په جمهوريتونو کې ازبکي، تاجکي او ترکمني ليکدود په روسي ليکدود اړولی و او د روسي ژبې تدريس يې جبري کړی و، په افغانستان کې هڅه وشوه په هغو سيمو کې چې ازبکان، ترکمنان او بلوڅان ژوند کوي د واکمن دري او پښتو فرهنګ او ژبې اغېز له منځه يوسي.

درې- په پوځي برخه کې بې اتفاقي: د اردو په چوکاټ کــې د هزاره ګانو، ازبکانو او د نورو قومي غونډو جوړول، چې په وسلوال پوځ کې د پښتنو او تاجکانو د واکمنۍ پر وړاندې انډول بلل کېده، د روسانو د تفرقې اچونې د سیاست بل اړخ و. د کابل کمونیست حکومت تــل د یوې سیمې او قوم له پوځي ټولګي نه د بلې سیمې او قــوم د لــوټ او وژنې لپاره کار اخیستی دی.

هغو سیمو ته چې پښتو ژبي او دري ژبي په کې اوسېدل، د غلا لپاره له ازبکانو او ترکمنانو څخه جوړې د ((دوستم)) او ((ګلم جم)) جوزجاني ملېشو لېږل، د سیاسي موخو لپــاره لــه قــومي دښــمنۍ نــه د ګټــې اخیستنې ښکاره څرګندویې دي.

د روسانو له خوا د څارندوی اداره (( پولیس)) خلکیــانو ((اکثریــت پښتنو)) ته وسپارل شوه او هغوی یې د وسلوال پوځ د یوې برخې، پــه ځانګړې ډول د خاد د مشرۍ پر وړاندې، چې د پرچمیانو (غالباً تاجکانو) په لاس کې وه ودرول.

## د- ملتپالنه، پــان اســلامیزم او د جهــاد نړیــوال کېــدل:

ناسیونالیزم ( ملتپالنه) په افغاني ټولنه کې د بېلابېلو قومونو او قبایلو او بېلابېلو مذهبونو یوځای کوونکی لوښی دی. افغاني ملتپالنې پر هېواد باندې د پردیو د یرغل پر وخت دفعه کوونکې اړخ درلود او هر کله چې ځواکمنو واکمنو د چارو واګې تر لاسه کولې، د ناسیونالیزم یرغلیــز او هژمونستي اړخونه څرګندېدل، چې د هغو پــه بهیــر کــې افغانســتان ګاونډیو هېوادونو ته د مذهب، افغاني فرهنګ او ژبې د لېږد پــر مرکــز بدلېده، پــه دې ډول ملتپالنــه د یــوې امپراتــورۍ د جوړېــدو د ډاډ وړ

سرچینه ګرځېدله. افغاني ملتپالنې که دفاعي اړخ درلود که یرغلیز، د ملي او ټولنیز پیوستون لپاره یې تل له مذهب او دین نه مرسته غوښتې ده.

له ملتپالنې سره د افغاني مارکسیستانو دښمني له سیاسي او ایډیالوژیک پلوه موجه څلول کېده: د مارکسیزم ایډیولوژۍ د کارګري انترناسیونالیزم د آرونو پر بنسټ، د واحدې طبقې په توګه د کارګرانو په لیکو کې د بورژوازۍ د تفرقې اچونې تیوري ګڼله: له سیاسي پلوه پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد یرغل، افغاني انقلاب ته د یو دوست هېواد د نړیوالې مرستې په توګه تبلیغېده.

مارکسیزم او مکتبي اسلام، دواړو د افغانستان د نږدې دوو لسیزو جګړې په بهیر کې د ملتپالنې مخالفې هڅې ترسره کړې. مارکسیستانو ملتپالونکي ډله ډله زندانونو او وژنځایونو ته یووړل او بنسټپالو ګوندونو پر هغوی باندې د کفر او الحاد تور پورې کړ او یو شمېر یې ترور کړل.

د اسلام تاریخ د خپلو چارواکو او سیاستوالو د ولولو په لوړو ژورو کې ځینې وخت د روحاني یووالي او پایله کې د اسلامي ټولنو د یووالي لپاره د روشنفکرانه او ذهني ایډیالونو څرګندوی دی. د یووالي د موخې د پلي کېدو لپاره له پوځي (فتوحاتو)، سیاسي (لکه د عرب لیګ او د یووالي د موخې لرونکو سیاسي ګوندونو لکه اخوان المسلمین او بعث ګوندونو جوړول) او حقوقي ( د یو کانفدراسیون یا فدراسیون د جوړېدو لپاره د نړیوالو تړونو لاسلیک کول) لارې ګټه اخیستل شوې ده.

په ټولیز ډول پان اسلامیزم د یو روحاني- سیاسي ښوونځي په توګه په ملي او نړیواله سطح د سیاسي موخو لپاره ګومارل شوی دی. په دې

مانا چې د مسلمانانو چارواکو د هېوادونو د نیـونې هیلــې تــل د پــان اسلامیزم له ولولو سره اغېز پیدا کــوي او ان ښــکېلاکگرو نامســلمانو هېوادونو غالباً خپل مقصدونه د پان اسلامیزم په پوښ کې تاو کړي دي. د انګلیس ښکېلاک، پان اسلامیزم تر لومړۍ عمومي جګړې دمخه پــه منځني ختیځ کې د خپلو استعماري دښمنانو له هغې جملې نه (عثماني ترکیې) پر ضد د ایډیالوژیکي مبارزې وسیله کړی و. ددې ښکېلاکیزې تګلارې په برکت ځینې نومورکې کورنۍ لکه په سعودي عربستان کې د (آل سعود) کورنۍ، د تاج و تخت، شهرت او اغېز خاونــده شــوه. پــان اسلامیزم د مارکسیست انترناسیونالیزم په شان تل د سیمه ییز ژوند له واقعیت سره په چلند کې له ماتې سره مــخ شــوی او بیــا د مســلمانو بنسټپالو ګوندونو په لاس کې د چارواکو د پراختیا غوښتنې د موخو د فردي او سیاسي شعور نه درلودونکو مسلمانانو پرګنو د تېر ایستلو لپاره د یوه کشوونکي سراب په توګه پاتې شوی دی.

پــه افغانســتان کــې د جهــاد پــه دیارلســو کلونــو کــې اســلامي انترناسیونالیزم د مارکسیست انترناسیونالیزم پر وړاندې وکارول شــو. زموږ په هېواد کې سیاستوالو روحانیونو (او په ځینو برخو کې د ګوتو په شمېر روحاني سیاستوالو) دې ته پام و چې له نړیوالې صبغې او د بهرنیو هېوادونو له مرستې پرته د جهاد د غوښتنو پرمخبیول امکان نه لري. د بهرنیو هېوادونو د مرستې راجلبول په داسې حال کې، چې د اســلامي تنظیمونو لپاره په خپلمنځي او کورني اړ و دوړ کې د سیاسي دریــځ د ټینګښت او تثبیت وسیله شوې وه، د سیمې د مسلمانو دولتو لپاره یې

د افغانستان په جهاد کې د پرله پسې او ګټورې سیاسي پانګه اچـونې امکان برابر کړ.

بهرنیو هېوادونو د مذهبي او سیاسي پیوستون او یو څه هم د قومي او کلتوري اړیکو له مخې په افغانستان کې ځانګړې ډلې له خپلو پوځي، سیاسي او تبلیغاتي مرستو څخه برخمنې کړې، د اسلامي هېوادونـو د ټولو پوځي مرستو د اوډنې (کانالیز) لپاره یو افغاني سیاسي واحد مرکز هم موجود نه و: افغانستان د لاسوهونکو هېوادونو د ګټو د ټکر پر سیمه واوښت. دې کار د افغاني ټولنې بېلابېل قومونـه او قبایـل لـه بهرنیـو هېوادونو سره د مذهبي، سیاسي، قومي او کلتوري تړښتونو له مخـې تیت و پرک کړل او د ټولنیز پیوستون او یووالي د یو توکي په توګه یې د ناسیونالیزم اغېز یو څه کم کړ. په مخالف لـوري کـې د افغانسـتان د کمونیست ګوند له خوا مارکسیست انترناسـیونالیزم د واک د بهرنیـو سرچینو د خپلونې ایډیولوژیکه وسیله وګڼل شوه او روسانو له هغه نه د امپریالیستي موخې د تطبیق د حربې په توګه کار واخیست. پـه دواړو حالاتو کې د سیاسي واک د نیولو لپاره د سیاسـي مشـرانو پاملرنـه د خلکو پر ځای چې ملي لیډر شیپ ته د اعتبار ورکولو اصلي سـرچینې دي، تر پولو د باندې بهرنیو لاسوهونکو هېوادو ته واوښتله. دې کـار د بهرنیو لاسوهونکو هېوادونو په ګټه په سوله او جګړه کې له موږ نه هر ډول نوښت واخیست او د یوې نیمې لسیزې په اوږدو کې یې زموږ خلکو ته تر ټولو ناوړه سیاسي زده کړه ورکړه.

د جهاد د دورې مذهبي مشرانو، چې انترناسـیونالیزم یـې د عـرب شیخانو او د ایران د ایت الله ګـانو او حجـت اسـلامیانو (( د پطرولـو

خزانې)) د یوې برخې د لاسته راوړلو لاره ګڼله، ملتپالنه یې د مسلمانو پر ګڼو په روحیاتو کې ووژله او تر دې زیات یې لا د یو سپېڅلي اتحاد له لارې له سرې او ګرمې جبهې نه د ملتپالو د ایستلو لپاره او پر ټولو هغو کسانو باندې، چې د افغانستان له نامه سره یې مینه لرله، د کفر او الحاد تور ولګاوه او ان ځینې یې شهیدان کړل. مذهبي لارښوونکو ددې لپاره چې (( د وطنپالنې ګناه)) پر ((پردي پالي ثواب)) واړوي، له بېلابېلو لارو یې دملتپالنې پر ولولو ګوزارونه وکړل. له هغې جملې:

ـ د هغو تنظیمونو او سیاسي ډلو د نومونو په جوړښت کې، چې د جهاد په کړکېچن چاپېریال او مهال کې څرګند شوي وو، د ((ملي)) او ((افغانستان)) د اصطلاحاتو ځای کولو ته په عمل کې هېڅ ډول پاملرنه ونه شوه. خو د دې خلاف د ((اسلام)) پر نومونې زیات ټینګار وشو (اسلامي حزب، اسلامي جمعیت، اسلامي انقلاب حرکت او نور) په بله وینا د ګوندونو مسلمانتوب د هغوی ملیتوب او افغانیت تر سیوري لاندې راوستی و.

ـ اسلامي تنظیمونو د مسلمانو پرګنو پاملرنه له افغانستانه بهر سیاسي معبودونو لکه ایت الله خمیني، ضیاءالحق او نورو ته واړوله. تر هېواده بهر د ځینو سیاسي او مذهبي شخصیتونو د روحاني پوړیو او کراماتو په اړه مبالغه او ان په ښکاره ستاینه کېدله او هغو ته یې له سیاسي شعور نه بې برخې، د افغانستان د پرګنو د معتقداتو په متن کې، د اسلامي نړۍ د لارښود په توګه(!؟) ډاډمن ځای پیدا کاوه.

ـ د هېواد د داخلي جګړې جبهې یې د اسلامي نړۍ د خلفاوو او مشرانو په نومونو لکه د عمر فاروق جبهه، د خالد بن ولید جبهه او

داسې نورو په نومونو مبارکې او سپېڅلې کړې. ګڼې د افغانستان د ملي او مذهبي لارښوونکو لکه ملامشک عالم، محمد جان خــان غــازي، د میوند فاتح محمد ایوب خان او نورو په مسلمانۍ کې څه شک او ګمان پیدا شوی دی.

ــ د اسلامي نړۍ د عمومي ګټو پر وړاندې د افغانستان ګټــې وړې او بې اهمیته وګڼل شوې. په هغو شرایطو کې، چــې د روســانو د پــوځي شتوالي له کبله په افغانستان کې ســتر جهــاد د مبــارزې د مورچلــو پیاوړتیا ته ډېره زیاته اړتیا درلوده، د اسلامي انترناســیونالیزم د بیــرغ ساتونکو یوازې پر (۱۹۸۰م) کال نږدې پینځه زره افغــان مجاهــدین د عراق د جمهور رییس صدام حسین پر ضد د جهاد(؟) لپاره د ایران ایت الله ګانو د توپ خولې ته وتړل. پر (۱۹۹۱م) کال (۳۵۰) تنه مجاهدین د لنډ مهالي افغان حکومت له خوا د امریکا او سعودي عربستان تر څنګ ( د کویټ د ازادولو))(!) لپاره د عراق د اسلامي هېواد پر ضد ودرېدل: په داسې حال کې چې افغانستان پر همدې وخت د کمونستانو تر اســارت لاندې و. اسلامي حزب پر همدې کال تیاری څرګند کړ، چې د سړیو او مهماتو له لېږلو سره د هندوستان د مرکــزي حکومــت پــر وړانــدې د کشمیر د شورشي مسلمانانو دفاع کوي او هغه هم په داسې شرایطو کې چې افغانستان تر کشمیره زیات د خپلو مسلمانو خلکو مهربانۍ ته اړتیا لرله.

له ځینې مذهبي مشرانو سره دجهاد د خړوبونې، له بهرنیو سرچینو نه د ګټې اخیستنې له دلیل پرته، بل ســتر دلیــل چــې هغــوی یــې د ملتپالنې ولولو مخالفت ته رابلل دا و؛ په غلطــه یــې فکــر کــاوه چــې

مجاهدین حاضرنه دي یوازې د افغانستان د دفاع لپاره د شهادت جام وڅښي. په داسې حال کې چې که یوازې په نړیواله مانــا لــه اســلامي معتقداتو نه د دفاع لپاره د شهادت مرتبه مطرح وای (( د فلسطین دار الشهادت)) چې نږدې یوه پېړۍ یې له عمره تېرېږي، مومنانو ته یــې د اسلام په لاره کې د قربانۍ ورکولو لپاره ښه زمینه برابره کړې ده.

ګومان نه کېږي د اسلام د دفاع په خاطر په فلسطین کې له اسرائیلو سره په جګړه کې د کوم افغان پوزه وینې شوې وي، د شــهادت پــوړۍ لاسته راوړل خو لا پرېږده، ځکه نو هېوادني جهاد ته په تګ کې د ملي او اسلامي نوامیسو دواړو دفاع مطرح ده.

په هرحال! ملتپالنې، په ځانګړي ډول د انګلیس د ښکېلاکیز اغېــز پرضد د پېړیو په بهیر کې، په داسې شرایطو کې چې له ګاونډیو اسلامي هېوادونو سره د مذهبي او دیني اړیکو پر بنســټ د افغــاني ټــولنې د یوځای کولو او رنګولو امکانات موجود وو، د یو ځواکمن مخالف ځواک په توګه عمل کړی او د افغانستان د خپلواک اسلامي دولت په جوړښت کې یې خپل بنسټیز رول ترسره کړی دی. اســلامي انترناســیونالیزم د مسلمانانو له مذهبي ولولو سره په تماس کې، د ځواکمنو جذبو په لرلو سره د مارکسیزم له چاپېریال نه، تر راغلي پردي انترناســیونالیزم نــه زیات، د افغاني ملتپالنې نویو راپیدا شویو توکو ته زیان ورساوه.

اسلامي انترناسیونالیزم د سیاسي ټولنپوهنې په اصطلاح خلک پــه پراخه کچه له ځانه پردي کړل او د افغانستان د ګټې د ساتنې مینه یې ورکمه کړه. د اسیا په جنوب ختیزو بازارونو کې د افغانستان د لاجوردو او زمرودو خرڅون، د عرب امیرانو په بازارونو کې د هېواد د ځنګلونو د

لرګیو خرڅول، د پاکستان او ایران په بازارونو کې د دښمن د جګړه ییزو ماشینونو د ټوټو ټوټو اوسپنو خرڅول او بالاخره د کابل موزیم لوټ، ټول د افغانستان د لوړو ملي ګټو پر وړاندې د هغې بې تفاوتۍ ښــکارندویي کوي، چې انترناسیونالیزم ورته لمن وهي. د دې تېرې شلکلنې جګړې په ترڅ کې د افغانستان خاوره د روسي، ایراني، پاکستاني عربو او نورو اجنټانو پر ((کاروان سرای)) بدله شوې ده، چې هر یو د انترناسیونالیزم تر بیرغ لاندې د افغاني مذهبونو او قومونو پر پاشل شویو ټوټو بانــدې خپل رقیبان ځپل. ځینو عربانو لکه سعودي عربستان ته د افغاني پان اسلامیزم له ګرم بازار نه د سوداګرۍ ګټې ترلاسه کول او په سیمه کې د ایران د پراختیا غوښتنې د مقابلې لپاره تر ټولو ښه لار ګڼل کېدله.

هغه وخت په افغانســتان کــې د دوو اســلامي هېوادونــو ســعودي عربستان او ایران مقابله په خپله د ملتپالنې څرګندوی وه، خو افغانان یې د انترناسیونالیستي لېوالتیاوو لرلو ته هڅول، انترناسیونالیزم یې د ځینو افغانانو د عقیده یې ښوونځي په توګه یوازې د افغانستان په خاوره کې ساته.

د افغانستان په جګړه کې نورو ښکېلو عربانو ( عربو ته د فلسطین په اندول) د افغانستان په لرې پروت هېواد کې د شهادت د درجې لاسته راوړلو لپاره په ارام زړه خپله پاملرنه را اړولې وه، هغه د خــدای بښــلي جمال عبدالناصر په وینا ګڼې اسرائیل د مدیترانې په بحر کې لویــدلي دي او فلسطین د یو خپلواک دولت په توګه راټوکېدلی دی.

له پورتنیو یادونو څخه څرګندېږي، چې د پان اسلامیزم د مفکــورې دفاع د افغانستان د ګټو د دفاع په مخالف لوري کــې ودرېــږي او ان د

هېواد د له منځه وړلو لاره ده. که چېرې په اسلامي نړۍ کې دا مفکوره د عملي کېدو او پلي کېدو وړ وای، نو ډېر پخوا به د افغاني مذهبي ډلو د مشرانو په واسطه د انترناسیونالیزم د شعار په وړاندې کولو سره (په ځینو برخو کې) د متفرقو او دښمنو اسلامي هېوادونو د عقیده یي، ایډیولوژیک، سیاسي او سازماني پیوستون شاهد وو. انګلیسانو له خپلو هر ډول ښکېلاکیزو چلونو سره ونه کړای شول، تر لومړۍ نړیوالې جګړې دمخه د منځني ختیځ عربي هېوادونه، چې د یو دین، تاریخ، ژبې، فرهنګ او واحدې جغرافیا لرونکي دي، په یوه نړیوال سازمان کې سره متحد کړي. هغه ټینګ اختلافونه، چې ځینې وخت د خونړیو جګړو سبب شوي دي، د مسلمانو عربي هېوادونو ترمنځ یې د بېلتون یوه غټه پوله رامنځته کړې ده. جمال ناصر له مصر سره ( د یو فدراسیون په چوکاټ کې) د سوریې د یوځای کولو او صدام حسین له عراق سره د کویټ په یوځای کولو سره لومړی په سوله ییز او دویم د زور له لارې د یوې اسلامي امپراتورۍ د بنسټ د ایښودلو هیله لرله. دواړه په دې لاره کې بریالي نه شول. سوریې او کویټ دا نه منله، د دوو دیکتاتوریو تر بیرغ لاندې، چې د مسلمانو عربو نړۍ یې د تورې په زور جوړوله، له خپلو ملي طبیعي ګټو څخه تېر شي. د عربي هېوادونو د اخوان المسلمین ګوندونه، چې د اسلام د نړیوال دولت د جوړېدو لپاره یې په سیاسي برخه کې ځینې جنجالیزې پېښې رامنځته کړې، تر نیمې پېړۍ نه په زیاته موده کې د ټولو قهرجنو او سوله ییزو وسایلو په کارونې سره نه یوازې ان په یوه مسلمان هېواد کې د سیاسي واک په نیولو بریالي نه شول، بلکې د اسلامي نړۍ د یووالي د پلي کېدنې په لار کې د اسلامي

ټولنو له سیاسي واقعیتونو څخه په ډېر لرې واټن کې، د یوې بنسټپالې او ځانساتې ډلې په توګه یوازې یو لږکی (اقلیت) پاتې شول او د سیاسي مبارزې په ډګر کې تجرید شول. د بعث ګوند چې د ((میشیل افلق)) په واسطه په ټولو عربي هېوادونو کې د واک نیونې له لارې، د عربي هېوادونو د یووالي د راوستو لپاره جوړ شو، نه یوازې دا چې د عربي هېوادونو د یووالي په لار کې یې کوم ګام پورته نه شو کړای، بلکې د عراق او سوریې دوو هېوادونو، چې په هغو کې د بعث ګوند ځانګې واک په لاس کې لري، کلونه کلونه یې له یو بل سره دښمني وکړه او پر (۱۹۹۱م) کال پر عراق باندې د غربي متحدینو د ځواکونو په یرغل کې، سوریه د سعودي عربستان، امریکا، انګلستان او فرانسې تر خوا ودرېده. د ایران او عراق د دوو اسلامي هېوادونو ترمنځ نږدې لسکلنه جګړه او د ایران او سعودي عربستان ترمنځ اختلافونه د دې واقعیت څرګندې نښې دي، چې یو هېواد هم تیار نه دی خپلې ملي ګټې له هغو دروغجنو سیاسي شعارونو ځار کړي، چې د ښکېلاک بوی ورڅخه راځي.

تجربې په ډاګه کړې ده، چې د افغاني ټولنې ټینګو واقعیتونو، دین او ایډیولوژۍ، چې له بهر نه داخل ته رادننه شوي یا زغملي یا یې نه دي زغملي، د دین زغم په هغه کچه (مقیاس) و، چې د خلکو له روحیاتو سره یې یوځای کوونکو ارزښتونو سمون وخوړ او بیا یې له خپل لومړنۍ بنې سره څرګند توپیر پیدا کړی دی.

_ امام ابوحنیفه کابلي د شریعت له آرونو څخه د زمان او مکان له شرایطو سره سم تفسیرونه راوکښل، حنفي مذهب یې پر رسمي، ملي او افغاني مذهب واړاوه.

ـ د مارکسیزم ایډیالوژي د افغانستان د سیاسي او ټولنیز ژوند لــه واقعیتونو سره په چلند کې څو ټوټې شوه او د دې ایډیولوژۍ توغ پورته کوونکي ګوند ( کمونست ګوند چې د ((وطن)) د نامه تر شا یــې ځــان غلی او پټ کړ) د افغاني ټولنې د ملي او دیني جوړښتونو د درناوي پــه تظاهر کې ځان داسې نغاړه چې ځینو بهرنیو دپلوماتیکو کړیو ته یــې، چې له سیاسي لارې یې د افغانستان د ستونزې حل غوښته، له خپــل لومړي هویت سره توپیر ډېر ګران کړی و. ځکه نو په داسې حال کــې، چې په راتلونکي کې به له ټولو اسلامي هېوادونو، په ځانګړي ډول لــه ګاونډیو سره، د مسلمان افغانستان د ښو اړیکو لرل په بهرني سیاست کې یو نه انکارېدونکي اصل وي، د افغانستان په واسطه د پان اسلامیزم د مفکورې د پلې کېدو لپاره د عمل د نوښت ترلاسه کــول، د هېــواد د لوړو ګټو خلاف ملي ضد تشه او له واقعیــت نــه لــرې تګــلاره ده، پــه وروستۍ شننه (تحلیل) کې دا د هغو کسانو سیاسي شعار دی، چــې د افغانستان له مسلمانانو څخه د دین، مذهب په یوه نړیوال ګټور تجارت کې ګټه اخلي او یرغمل کوي یې.

پان اسلامیزم د هماغو سیاسي، مذهبي مشرانو جادوګره افسانه ده، چې د خپل اسلامي او ملي ځواک دملاتــړ لــه لارې د سیاســي واک د لاسته راوړلو هیله نه لري او د خپل هېواد تر پولو دباندې بهرنیانو ته یې د امید سترګې نیولې دي.

**٥- په هجرت کې دملتپالو روڼاندو د سیاسي هڅو پر وړاندې خنډونه:** له سیاسي پلوه هغه لوی درس، چې نږدې (٢٠) کلنې جګړې موږ ته راکړ دا دی، چې د سیاسي ځواک راټولونه، جوړونه، تشکل او د

سیاسي ځواک ښه سمون پر پېښنو باندې ډېر اغېز لري. له همدې کبله شورویانو پر افغانستان باندې د یرغل پر وخت هغو کسانو ته چې په ځاني ډول یې د روس د یرغل مخالفت کاوه په ځنګزني ډول کتل، په داسې حال کې چې پر سیاسي ډلو پورې د تړلو اشخاصو له مخالفت څخه یې وېره کوله. له یو سیاسي جوړښت سره د نه تړښت په مانا د ناپېیلتیا آرونه، د پخوانیو دولتي نظامونو ایډیالونه دي، چې په هغه کې سیاسي ګوندونو ته د شک او تردید په سترګه کتل کېدل او د ټولنې دننه اختلافونو، د یوه ځواک په توګه د سیاسي سازمانونو په چوکاټ کې ځان نه و څرګند کړی.

تجربې په ډاګه کړې ده، چې په نننی افغانستان کې له ټولو سره د اړیکو لرل او هېڅ یوې ډلې سره نه لرل، له دې کبله په سیاسي لوبو کې د پلې کېدو ځای پیدا نه کړ، چې تر شا یې یو سازمان نه درلود. یانې د زور له موضع ( واک د سیاست مضمون دی) په جګړه کې داخل شوی نه دی. له پورته یادونو څخه دا ټکی څرګندېږي، چې د افغانستان د سیاست په برخه کې له یو جوړښت نه کار اخیستل پر یوې اړتیا اوښتی، د همدې اړتیا له مخې ځینې روښاندي په دې باور دي، لکه څنګه چې نورو له بهر څخه په رالېږل شویو ډلبندیو خپل هېواد ویجاړ کړ، نو موږ څنګه د خپل ځاني او ملي ډلبندیو په واسطه نه شو کولای هغه بېرته ودان کړو.

ځکه نو په مهاجرت کې د سولې، د هېواد د ښېرازۍ او سوکالۍ په نیت د یو ملي سیاست جوړښت د رامنځته کېدو هیله ډېره نېکه ده، خو ځینې لاملونه دا نېکه هیله له ګډوډۍ سره مخامخوي.

ــ **جغرافيايي لامل:** د يوې متشکلې ډلې د جوړښت لپـاره د يــو اندود ( د تفکر طرز) د پلويانو ترمنځ تفاهم بشپړ نه دی، د کار په پيــل کې ډلې، د کړنلارې او تګلارې جوړول، چې دتفاهم د امکــان واټــن او لرېوالی لنډ او ان ممکنوي، د اوونيو اوونيو خبرو اترو غوښتنه کــوي، د يوې کړنلارې او تګلارې په جوړېدو سره پايته نه رسېږي. د دې لپاره چې کړنلاره او تګلاره د خلکو د پراخه پرګنو د جلب او جذب وثيقه او يا لږ تر لږه د يوې عقيدې د سازماني اړيکو وسيله شــي، بايــد د موسســې کانګرې له خوا تصويب شي.

د مهاجر ژوند په شرايطو کې د موسسې کانګرې د غونډې د جوړولو امکان ډېر تنګ دی. له پورتنيــو يــادونو څرګنــدېږي، چــې د افغــان مهاجرينو له خوا د اغېزناک سياسي فعاليت ترسره کــول، يــوازې لــه بهرنيو هېوادونو څخه ترسره کېدی شي، چې د زياتو افغانــانو کوربانــه وي. هغه وخت به موږ په ټوله نړۍ کې د بېلابېلو او خپلواکــو ټولنــو د راټوکېدو شاهدان يو، هر کله چې هېواد ته د ټلو امکانات برابر شـــي، د هغوی ټول پر يوه پلاټ فورم باندې د توافق له مخې کولای شي، په يوه واحده جبهه کې ګډون وکړي، خو په دې شرط هغه منفي لاملونه، چې لاندې يې يادونه کېږي، له منځه وړل شوي وي:

ــ **پولي او مالي لامل:** له پولي او مالي ملاتړ پرته د يو سياسي سازمان او ډلې تصورول، د بې امکاناتو او بې وسلې اردو تر تصوره هم مشکل دي. په بنسټيز ډول هغو ډلو ته، چې پــه افغانســـتان کـــې د جهاد پر وخت يې ځان څرګند کړ، که له يوې خوا يې هغوی په پرديو هېوادونو پورې وتړل، له بلې خوا يې دوی ته د دې امکان پيدا کــړ،

چې په اغېزناک ډول خپله سیاسي او پوځي پېژندنه په ډاګه کړي او د کمونیستانو تر ماتې وروسته د پېښو په لارښوونکي ځـواک بـدل شي. له بهره د پولي او مالي ملاتړ د نشتوالي له کبله افغان ملتپالې ډلې په زیاته کچه له جګړه ییز سیاسي ځواک څخه بې برخې او تـر ډېره حده له صحنې نه بهر شوې.

له ګټې او مهمو عایداتو پرته د سازماني چارو د پرمخبیولو لپاره پر ګډون وندې، غړیتوب وندې او نورو مرســتو، کــه څــه هــم ولســي سرچینه ولري، نه د جګړې او جهاد په شرایطو او نه هم د مهاجرت په شرایطو کې کولای شو، حساب وکړو.

ـ رواني او کلتوري لامل: په بهر کــې اســتوګن افغانــان پــه ځانګړي او عام ډول تر ګڼو رواني فشارونو لاندې ژوند کــوي، هغــه ځوانان چې لږ تر لږ (۲۹) کاله عمر لري او تر اوولسو کلونو څخه زیات وخت یې په پردي چاپېریال کې تېر کړی دی، ډېرې لږې ملي ولولې لري. سپین ږیري، چې د هېواد په مینه کې سوزېږي له یوې خــوا د هجرت ژوند په ګڼ شمېره ستونزو کې ډوب دي، له بلــې خــوا لــه سختې فکري پاشلتیا سره مخامخ دي او تراوسه پورې ددې کتګورۍ خلکو ولولې په کوم واحد مرکز کې راټولې شوي نه دي.

په لویدیزو هېوادو کې د مهاجرو ډلو په منځ کې سیاسي فعالیت، د ظلم په اور سوي ځنګله په منځ کې د ډیوې له بلولو سره ورته والی لري. په دې هېوادو کې یوازې دومره کېدی شي، د کلتوري او لیکنیو

اړیکو په واسطه د عقیدې د ګډون لاره چاره برابره او یا د تفاهم پر نویو لارو چارو کار وشي.

البته په دې منځ کې باید پاکستان او ایران ته ځانګړی مقام ورکړ شي. په دې دوو هېوادونو کې د زیاتو مهاجرو افغانانو شتوالی تل د سازماني چارو امکانات برابر کړي دي، خو غالباً کوربه هېوادو د مهاجرو د سیاسي ډلو سوق او اداره په لاس کې اخیستې او له هغو نه یې ځینې وخت د خپل ځان په ګټه او د افغانستان د خلکو پر ضد کار اخیستی دی. له دې پرته کوربه پاکستان د جهاد د کلونو په بهیر کې د خپلې خونړۍ استخباراتي دستګاه او یا په دوی پورې د تړلیو ډلو په واسطه ډېر ملتپال روښاندي وژلي او د سیاسي فعالیت ور یې پرمخ ورتړلی دی.

افغاني وسلوال سیاسي ګوندونه په داسې شرایطو کې نړۍ ته راغلل، چې په افغانستان کې مطلقه ګډوډي واکمنه وه او سیاسي مبارزې، چې غالباً قهرجنه بڼه یې درلوده، قانوني او حقوقي جوړښتونو او ان مدني اخلاقو پرې څه اغېز نه کاوه. د جګړې کلتور که له یوې خوا د ښکېلاک د اغېز د له منځه وړلو لپاره ګټور ثابت شو، له بلې خوا یې خلکو ته ناوړه سیاسي تربیه ورکړه. هغه خلک چې د عادت له مخې د وسلې په زور خپله اراده پر نورو ومني، په ډېره سخته به تیار شي، چې سوله ییز سیاسي قواعد ومني.

اوس مونږ د سوله ییزو هیلو په لرلو سره، خو نه پر نږدې وخت هغه واقعیت وینو، چې د یو ملي سیاسي تشکل د جوړولو په بهیر کې،

چې مهاجر افغانان، په ځانګړي ډول قلموال مجاهدین به په کې ونډه لري، هېڅ ډول هغه ستونزې چې پورته ورته اشاره وشوه، په منځ کې نه شته. پر دې وخت به مونږ د اخلاقي ځواک په توګه د یو ځواکمن او د جګړه ییز ځواک له پلوه د کمزوري سیاسي جوړښــت د شــتوالي شاهد یو. رښتیا خبره داده، چې داسې یو جوړښت په ډېــره ګرانــه کولای شي د افغانستان په سیاسي چارو کې اغېزناک رول ولوبوي. دا چارې د هغو ډلو د زور ازمویلو ډګر ګرځېدلی دی، چې وسله لري. اصولاً هر کله چې د سیاست ډګر د تودې جګړې پر ډګر واوښت بیا نو د پېښو په بدلون کې د اخلاقي او مانیز ځواک لرونکې ډلې ته د رول د اثبات مجال په لاس نه ورځي.

په داسې حال کې، چې عملاً د دې ډلو بې وسلې کول امکان نــه لري، د یو سیاسي جوړښت اخلاقي رول هغه وخت د توجیه وړ دی، چې د ځینو وسلوالو ډلو له ملاتړه برخمن وي او په بله مانــا مــادي ملاتړ ولري. د اتکل له مخې دا له کړکېچ نه د وتلو یوازېنۍ لار نه ده، خو په باور سره یوه رښتینې لار ده.

# دويم څپرکی

## د ناپېيلي حكومت غوښتنه او د ملي اردو د رغونې پر بنسټ د دولت د فزيكي لوړتيا بيا راژوندي كول[1]

د ملي وسلوال پوځ، د يو ملي اردو جوړول، چې د داسې پوځي تجهيزاتو لرونكی وي، چې پر وسلوالو ډلو او د هغو پر پلويانو لاسبرى ولري، د سولې او په پای كې د دولت د فزيكي لوړتيا د تضمين لپاره لومړی گام دی.

**الف- د ملي اردو ( ملي وسلوال پوځ) بيا جوړونه:** تر ټولو دمخه ددې خبرې يادونه كوو، چې په اوسني اضطراري حالت كې زموږ لپاره د ملي اردو په بيا جوړونه او تجهيزونه كې د كورنۍ سولې د ټينگښت او حقوقي دولت د جوړېدو هيله پرته ده، نه له كوم بهرني ځواک سره سيالي او دښمني. په داسې ډول د ملي اردو جوړونه، چې لږ تر لږه د گاونډيو هېوادونو له وسلوالو پوځونو سره د سيالۍ ځواک ولري، د افغانستان لپاره د کړكېچ، ستونزو او غريبۍ په شرايطو كې يوه نه پلې كېدونكې هيله ده.

[1] ددې برخې اړوند بحث د ملي اردو جوړول او د وسلې د راټولولو موضوع يوازې د يو ناپېيلي حكومت له نظره تر څېړنې لاندې نيولې ده. د يوې جنگېدونكې ډلې ( لكه طالبانو) تر پيدا كېدو وروسته دملي اردو دجوړولو، د وسلې راټولولو او د حقوقي دولت د جوړولو د سياسي چلوونكو په توگه د هغوی رول په دې بحث كې په پام كې نيول شوی نه دی.

د دولت د فزيکي لوړتيا د تامين لپاره د ملي اردو جوړونه د يو ناپېيلي حکومت د جوړښت له لارې امکان لري. ناپېيلی حکومت بايد په ټوليز ډول د يوه ناپېيلي اردو پر ملاتړ ډډه ولګوي. د ملي اردو په جوړښت کې د وسلوالو ډلو داخلول له دې کبله ګټور نه دي:

ـ سياسي شوې اردو، د ناپېيلتوب له حالت نه، چې د جګــړه ييــزو غاړو د باور د خپلونې بنسټيز توکی دی، د باندې وځي.

ـ د ګڼو وسلوالو ډلو په منلو سره، چې ممکن په دســتوري ډول پــه اردو کې ځای ونيسي له واحدې قوماندې نه د ملي اردو سوق او اداره له ستونزو سره مخامخوي.

ـ په ملي اردو کې د تنظيمي ډلو په ځای نيونې سره، وسلوال پوځ د ناپايه تنظيمي حسابونو د پاکونې د نښتو پر ډګر اوړي. د ملي اردو کدر بايد له تېرو سلطنتي او جمهوري صاحب منصبانو څخه جوړ شي، چې له وروستيو لاس پوځو رژيمونو سره سياسي تړښت ونه لري. د اردو په ليکو کې بايد د خدمت تر بيرغ لاندې د شرايطو پوره کوونکي ځوانان او په پراخه کچه هغه کسان جذب شي، چې يوې نيمې لســيزې جګــړې هغوی د هېواد د اقتصاد او فرهنګ په برخه کې په نه کارېدونکو عناصرو بدل کړي دي. دا کسان به په خپله خوښه د اردو خدمت ومني.

ملي اردو به په اوسنيو اضطراري شرايطو کې، چې وزګارتيا د ټولنې د کار د ځواک زياته برخه له ګټې ايستلې ده، د جلب او جــذب ځــواک ولري.

د ملي اردو په جوړښت کې د دغه اردو د بــودجې د لاســته راوړلــو مسئله د پام وړ ده، ناپېيلی حکومت پر داسې وخت د سولې د ټينګښت

لپاره ددې اردو مرستې ته اړتیا لري، چې له جګړې نــه راپیــدا شــوې ګډوډۍ، له ملي سرچینو او عوایدو څخه د اردو د بودجې لاسته راوړل ناممکنوي. هغه وخت نو د اردو د تمویل او تجهیــز یــوازینۍ ســرچینه بهرنۍ مرستې دي. له هغو خبرونو څخه، چې د هجرت په خپرونو کــې خپاره شوي دي، څرګندېږي، چې د اروپایي ټولنې هېوادونه او د امریکا متحده ایالات تیار شوي نه دي، چې د ملي اردو په بیا جوړونه کې لــه راتلونکي ناپېیلي حکومت سره مرسته وکړي. ددې مرستو په منلو کې به د اندول ساتل په نړیواله کچه د راتلونکي حکومت د ناپېیلي سیاست د بنسټ لومړۍ ډبره کېږدي.

موږ تراوسه پورې د وسلوالو ډلو له دریځونو سره له اړیکــو پرتــه، د ناپېیلي حکومت په واسطه، د ملي اردو د بیا جوړونې په برخه کې خبرې وکړې. د وسلوالو ډلو له معضلې سره له رښتیني چلند او د هغوی له بې وسلې کولو پرته به د یو ناپېیلي حکومت تشخص ناممکن وي.

**ب- وسلوالې ډلې او د بې وسلې کولو ربړه:** د شوروي د یرغل وخت هغه پړاو و، د وسلوالو ډلو شتوالی، چې د توجیــه وړ و او د ملــي مقاومت په برخه کې یې کارنده ونډه درلوده.. له افغانستان نه د شوروي یرغلګرو ځواکونو په وتلو او په ځانګړي ډول پــه راتلــونکي کــې د یــو حقوقي دولت په ټینګښت سره وسلوالې ډلې د خپل شتوالي منطق له لاسه ورکوي.

همدا اوس د وسلوالو ډلو زیاته برخه د هېواد د خاورې د خپلواکۍ او ملي واکمنۍ پر ضد د بهرنیانو د لاسوهنې پر وسایلو اوښتې ده. دا ډلې

د سولې د ټینګښت او په هېواد کې د حقوقو پر آرونو د ولاړ حکومت د رامنځته کېدو مخه نیسي.

د افغانستان جیوپولیټیک جوړښت، هېواد تل د لښکرکښیو او فتوحاتو له خطر سره مخامخ کړی دی. په ځینو برخو کې د افغانستان واکمنان ګاونډیو هېوادونو ته د لښکرکښیو سرچینه وه، دا سوبې څه کورنۍ وې که بهرنۍ، د دې سبب شوي، چې د افغانستان د خلکو یوه برخه د تاریخ په بهیر کې د سپکې وسلې له کارونې سره په ښه ډول اشنا شي او هغه د ناموس په شان د خپل ځاني او ملي هویت د تثبیتولو د وسیلې په توګه وساتي.

د افغاني ټولنې په هغو سیمو کې چې قبیلې استوګنې دي، کله کله وسله د ټولنیزو شخړو په حل کې د قاضي ځای نیسي.

ددې واقعیت په پام کې نیولو سره، چې پورته ورته اشاره وشوه، د وسلې راټولول، د سولې د بهیر تر ټولو ستونزمن پړاو ګڼل کېږي. همدې ستونزې ته په پام لرلو سره ځینې د نظر خاوندان په دې نظر دي، چې د وسلې د راټولونې پر ځای دا اوسنۍ وسلوالې ډلې د سولې د ټینګښت د مسوولینو په ډله کې په رسمیت وپېژني. په دې برخه کې لږ تر لږه د دوو الترناتیفونو وړاندیز شوی دی:

ـ د ملي اردو له موازینو سره سم د قوماندانانو د شورا جوړېدل: دا وړاندیز له دې کبله د تایید وړ نه دی، چې قوماندانان له دښمنو تنظیمونو سره تړلي او په یوه جوړښت کې یې راټولول اسانه کار نه دی. که بیا هم کله چې د قوماندانانو په سازماني سمبالښت کې ستونزې موجودې نه وي، د قوماندانانو د پرېکړو لپاره د ملي اردو تر څنګ د یو

بل امنیتي اورګان ځانګړي کول، په یوه سیمه کې د دوو پاچایانو مقوله را ژوندۍ کوي، دا له یوه مسوول لاسه، د سولې د ټینګښت له هیلــې سره سمون نه خوري.

ـ دملي اردو په تشکیل کې د وسلوالو ډلو ادغام بل د پام وړ الترنتیف دی. دا الترنتیف که څه هم له تنظیمونو سره د ډلو د نه پیوســتون لــه ژمنو سره مل وي، په ملي اردو کې په لویه کچــه عقیــده یــي جګــړې خپروي او د وسلوالو ځواکونو یو رنګي او یووالی چې په لېږدوونکي پړاو کې د سولې د ټینګښت او حقوقي دولت د بنسټ ایښــودلو د دنــدې سرته رسول دي، کمزوري کوي.

له پورته یادونو څخه دا ټکی څرګندېږي، چې د ملي اردو جوړښــت باید د وسلوالو ډلو د درنو وسلو د راټولولو له پروګرام سره یوځای وي. د سپکو وسلو راټولول به د هغو وسلو په ډول چې پر افغانستان باندې د شوروي تر یرغل دمخه له خلکو سره پاتې کېدلې، لږ کم شي او فکر نه کېږي د حکومت د اضطراري پروګرام برخه شي. د سپکو وسلو راټولول هغه وخت د انتقالي حکومت د دندو په سر کې راتلای شي، چې له دې اړخه را پیدا شوی خطر د دولت امنیت ته ګواښ وکړي. د سپکې وسلې له پلوه به دا خطر په لږه اندازه محسوس وي.

د بېوسلې کولو پروګرام باید پړاو په پړاو د عمل په ډګر کې پلی شي. ددې پروګرام د پلي کېدو لومړی پړاو باید په کابل او د هغه په شاوخوا سیمو کې ترسره شي. په کابل کې د یــو ځــواکمن مرکــزي حکومــت ټینګښت به د افغانستان په نورو سیمو کې ددې حکومت د فعالیتونو د ترسره کولو لپاره لاره هواره کړي.

**ج- د درنو وسلو راټولول:** د درنو وسلو راټولول د لنډ مهالي حکومت له جنجالیزو دندو څخه ګڼل کېږي. ددې کار ستونزه په دې کې ده، هغه تنظیمونه چې خپله سیاسي پېژندنه یوازې د وسلې په ساتنې او کارونې کې ګوري او هغه مواضع چې د دې وسلې په واسطه یې تر لاسه کړي دي، په اسانۍ سره له لاسه نه ورکوي. د دې دلیل دا هم دی، چې دوی غواړي د واک له دې مورچله د راتلونکو سیاسي پېښو پر پرمختګ کنټرول ولري. بهرني لاسوهونکي هېوادونه به هم په دې لاره کې تر خپل ملاتړ لاندې تنظیمونه وهڅوي، خو بیا هم له سختې جګړې نه د سترې‌یا لاملونه، له بې پایلې زور ازمویلو څخه د عقل سر ته راتلل، د دښمنو غاړو د جګړه ییز ځواک کمزوري کېدل او د سولې د منلو د یو میکانیزم د راوستلو ټول کورني او بهرني فشارونه باید وي. د درنې وسلې راټولول چې باید د دې میکانیزم په منځ کې ځای ولري تر یوه حده د لنډ مهالي حکومت په واسطه د وسلوالو ډلو د باور د جلب په کچې پورې اړه لري. په بله وینا باید د لنډ مهالي حکومت په جوړښت کې د ټولو سیاسي ډلو پوره توافق او د انتقالي دورې د دندې ( له هغې جملې نه د وسلو راټولول) پرمخبیولو کې دې حکومت ته د ورتیا او واک ورکول په خپله د هغه باور ښکارندوی دی، چې وسلوالې سیاسي ډلې به یې پر لنډ مهالي حکومت ولري.

ګومان نه کېږي، چې د لنډمهالي حکومت پر وړاندې دا باور تر دې کچې وي، چې وسلوال ګوندونه ډلې ډلې په خپله خوښه درنه وسله ناپېیلي حکومت ته ورکړي، یوازېنۍ لار، چې هغه وخت ناپېیلي حکومت ته پاتې کېږي؛ د لنډ مهالي حکومت په واسطه د بازار تر نرخه په اوچته

بیه د درنو وسلو پېرېدل دي. په دې برخه کې باید د ناپېیلي حکومت له خوا د نړیوالو موسسو پولي مرسته جلب شي او له دوســتو هېوادونــو څخه د مرستې په لاسته راوړلو کې د هغوی بې غرضي په پام کې ونیول شي. سربېره پر دې د مرستو پیداکولو کې باید لازم انډول مراعات شي.

زموږ په اند له افغانستان نه د شوروي ځواکونو تر وتلو وروسته نور د جهاد او عقیدې جګړې خپل ځای، د تنظیمونو په واســطه د سیاســي واک د ترلاسه کولو لپاره پوچو او ناوړه لوبو ته پرې ایښی دی. طالبانو تر یوه حده د دې ورانوونکو لوبو په تګلورو کې کمښت راوست. غالباً هغه کسان، چې په دې لیکو کې وو، د دې ناوړه پېښو بلهاریان (قربانیــان) شول. په زغرده د اکثریت لیکو جنګېدل د کومې لوړې عقیده یې هیلې لپاره نه وو، خو په داسې شرایطو کې یې جګړه د ژوند خړوبېدنې وسیله وګڼله، چې جګړې او کړکېچ په هېواد کې له روا او اصولي لارې څخه د معاش تر لاسه کول، ډېر سخت کړي وو. دا ډله چې کولای شو په یو ډول ورته اجیر ووایو، په اسانۍ سره به تیاره شي، چې د یوه مناسب انډول په مقابل کې خپله وسله دولت ته ورکړي.

د کار، دندې، ښوونې او روزنــې زمینــې پــه برابرولــو ددې ډلــې د راتلونکي ژوند په تضمینولو سره به د ټولنې د ګټو د ساتنې لپاره یو بل لامل هم زیات شي.

د ملي اردو د جوړېدو او د وسلې راټولونې پروګرام باید د افغانستان د پولو د کنټرول له کړنلارې سره پر یوه وخت پلی شي. د وسلو راټولول به تر هغه وخته پــورې، چــې د وســلوالو ډلــو او بهــر تــرمنځ د تړښــت

**لوژیستیکي او تدارکاتي پُل ویجاړ نه شي، هېڅ درد به درمل نه کړي. له دې کبله نو په کار ده چې:**

**ـ انتقالي حکومت باید د سولې د ټینګښت په اړه لــه لاســوهونکو هېوادو سره په پراخ تفاهم کې وي. دا کار ستونزمن دی،ځکــه چــې د لاسوهونکو هېوادونو هیله داده، چې د افغانستان شخړه کې د خپلــو نږدې دوه لسیزې سیاسي پانګې نه په داسې شرایطو کې لازمــه ګټــه پورته کړي، چې تر څو په هېواد کې په ورو ورو ډول قــانوني حکومــت ټینګېږي. له یو دوو ډلو سره چې د بهرنیو لاســوهونکو هېوادونــو پــه لمسون ځان د سولې له بهیره ګوښه کــوي، د لنــډ مهــالي حکومــت قهرجن چلند بل بد کار دی، لنډ مهالی حکومت باید د راتلونکي اټکلي ټکرونو لپاره وړ تیاری ولري.**

**ـ د افغانستان د پولو د څارنې لپاره باید د وســلوال پــوځ ځــانګړي یونټونه (ټولګي) په پام کې ونیول شي. د کورنیو ټولګیو د سمبالښت په برخه کې نړیواله ( د ملګرو ملتو او د اسلامي هېوادونــو د کنفــرانس) مرسته او یا له نړیوالو ټولنو نه د بهرنیو یونټونو تدارک به څه زیان ونه لري.**

**د- د درنې وسلې د راټولولو لپاره د لازمې نېټې ټاکل: د اور بند څارنه او د وسلو راټولونه د لنډ مهالي حکومت لومړۍ او بنسټیزې دندې ګڼل کېږي. لومړۍ او بسنټیزې په دې مانا چــې دا دنــدې ددې حکومت د نورو دندو د سرته رسولو، د اساسي قانون جوړولو، د لــویې جرګې جوړولو، ټاکنو، د مهاجرینو د بېرته راګرځېدو او په پــای کــې د حقوقو د دولت د جوړېدو لپاره لاره هواروي.**

لنډمهالی حکومت د حکومتي تشکیلاتو او ملي اردو د بیا جوړونې او په یوه مانا د خپل ملي او نړیوال دریځ د تثبیت لپاره لــږ تــر لــږه نهــه میاشتې وخت ته اړتیا لري. د وسلو د راټولونې د پروګرام پلــي کېدنــه ددې نهو میاشتو تر تېرېدو وروسته امکان لري. هغه وخت چې د وسلو د راټولونې لپاره به ورته اړتیا وي، د یو کال شاوخوا موده اټکلېږي.

ه– لنډ مهالی حکومت او د مشروعیت ستونزه: د ملګرو ملتو د سولې په پلان کې، چې د (مستیري) له لارې یې وړاندیز شــوی و، د لنډ مهالي حکومت ټینګښت د لویې جرګې تر جوړېدو دمخه دی. پــه دې برخه کې هغه پوښتنه، چې حل یې ډېره څېرتیا غواړي داده: ایا لنډ مهالی حکومت به د خپلو پرېکړو، ( د لویې جرګې تر جوړېدو دمخه) په ځانګړي ډول پر اوربند باندې د څارنې، د امنیتي ځواک پــه ســازماني چارو، د وسلې د راټولولو او نورو لپاره د مشروعیت ( د قانون له لارې د کولو او نه کولو د واک لاسته راوړلو) پیدا کولو ته د اړتیا احساس کوي او که نه؟

که چېرې حکومت د لویې جرګې له لارې جوړ شوی وای، دا ستونزه نه پېښېدله، ځکه چې حکومت له لویې جرګې نه، چې د ملي واکمنۍ د حق لرونکی اورګان دی، د باور رایه اخیسته او مشروعیت یې ترلاســه کاوه.

د ملګرو ملتو پخواني عمومي منشي (پتروس غالي) د افغانستان په باب په خپل کلني راپور کې، چې د (۱۹۹۵م) کال د نومبر پر (۱۹مه) نېټه یې عمومي غونډې ته وړاندې کړ، داسې وویل: ((د مشورتي کمېسیون په اند د یو انتقالي حکومت د ټینګښت لپاره تر ټولو لنډه لار په جګــړه

کې د ښکېلو غاړو له ناپېیلو او خپلواکــو شخصــیتونو څخــه، د یــوې واکمنې جرګې جوړېدل دي.))

د انتقالي حکومــت ټینګښــت پــه هغــه ډول، چــې دې مشــورتي کمېسیون نظر ورکړی دی، په هېڅ ډول د هغو سترو دنــدو پــه ســرته رسولو کې، چې پر وړاندې یې پرتې دي، له هغې جملې نه د ملي اردو په سازماني چارو، د وسلې په راټولولو او د حقوقي دولت په جوړښت کــې ددې حکومت مشروعیت نه تضمینوي.

زموږ په اند مشورتي کمېسیون د یوې لویې جرګې د جوړښت اساسي عناصر، د یوې واکمنې شورا په جوړښت کې، چې د حکومت د جوړولو دنده لري، ځای کړي دي. که چېرې ددې عناصرو تر څنګ نور معمــول مرکبات یوځای شوي وای او د واکمنې شورا نوم د لویې جرګې په نــوم اوښتی وای، د لنډمهالي حکومت پر وړاندې اصلاً د مشروعیت ستونزه نه رامنځته کېدله.

ددې ستونزې د چټک حل لپاره یوازې یوه لاره پاتې وه او هغه په بېړنیو یا اضطراري شرایطو کې د انتقالي حکومت دریځ ته پاملرنه وه. د سیاسي موسسې د پرمختګ بهیر په ډاګه کړې ده، هغه حکومتونه، چې په ((بېړنیو شرایطو)) کې د چارو واګې پــه لاس کــې اخلــي، د مشروعیت د تر لاسه کولو لپاره دعادي حالت او مناسبې موقعې په انتظار، کولای شي د اجرائیه څواک دودیزې پرېکړې د پیل کېدو پړاو ته ورسوي.

د حالاتو په عادي کېدو سره انتقالي حکومت ناچار دی، له واکمنې سرچینې ( لکه لویه جرګه، پارلمان او نورو) نه د خپل ځان او خپلو پرېکړو لپاره مشروعیت ترلاسه کړي.

د انتقال حکومت ډېرې بنستیزې دندې، لکه د لویې جرګې جوړېدل او د ټاکنو ترسره کول، چې د دولت د مانیزې او اخلاقي لوړتیا لپاره لاره هواروي، د سولې په ټینګښت کې نېغ په نېغه له انتقال حکومت سره تړلي دي. د سولې ټینګښت په خپل وار سره د ملي اردو له بیا جوړونې او د وسلې له راټولونې سره تړلی، چې دا په خپله د دولت د فزیکي لوړتیا بنسټ ګرځي. انتقالي حکومت د وسلوالو ډلو د یو پراخ او رښتیني تفاهم له ملاتړ او له نړیوالو مرستو پرته، نه شي کولای د لویې جرګې د جوړېدو، ټاکنو، دملي اردو بیا جوړونې او د وسلې د راټولونې سترې دندې سرته ورسوي.

په دې کې شک نه شته، چې د ملي وسلوال پوځ په بیا جوړونې سره کېدی شي دولت په یوه داسې ځواک سمبال شي، چې دخپلې فزیکي لوړتیا د اثبات لپاره ورته اړتیا لري. پر دې وخت به مور د دولت د اجباري اطاعت شاهدان یو.

د اجباري اطاعت پر ځای د خپلې خوښې اطاعت ترمنځ، په هغه ډول، چې د دولت پر وړاندې د سرې باغي روحیه، د سازښت پر روحیې، مفاهمې او روغې جوړې واړوي، ډېر اوږد واټن په مخ کې دی.

# درېیم څپرکی

## د واک د کلاسیکو بنسټونو ویجاړېدل او د هغو د نویو ملاتړو څرګندېدل

### الف– د واک د کلاسیکو بنسټونو ویجاړېدل:

**یو– قبیله او کورنۍ:** قبایلو تر کمونیستي کودتا دمخه د ژوند د ښاري کېدنې په بهیر سره په کمه کچه خپل یو څه ټولنیز ځواک له لاسه ورکړ. کمونیستي کودتا د واک د مادي ملاتړ په توګه کرنیزې ځمکې د قبایلو له لاسه بهر کړې. هغوی د جګړې د دوام او د سیمه ییزو وطنونو په پرېښودو سره (Deracine) شول. سره له دې چې اوس قبایل او د هغو مشران په هېواد او یا تر هېواده د باندې د مهاجرو په کمپونو کې خپله پخوانۍ سیاسي او ټولنیزه اتوریته نه لري، خو بیا هم د ټولنیز ځواکونو د اندول په ساتنه کې د بنسټیز رول لرونکي دي.

په کورنیو کې د کمونیستي ایډیولوژۍ او نورو سیاسي ګوندونو اغېز، له سیاسي نظره د هغوی غړي وېشل. په دولت کې د دندې ترسره کول

او یا له هغه څخه د ځان لرې کول د کورنیو د غړو ترمنځ د اختلاف بل لامل شو او د هغوی مانیز یووالی یې له منځه یووړ.

کمونیستي کودتا د افغانستان ارستوکراتیکو او بورو کراتیکو کورنیو ته چې زیاتره په ښارونو کې د اخلاقي اتوریتې سرچینې وې، تر قومونو او قبایلو څخه زیات زیان ورسوه او په داسې حال کې چې قومونو او قبایلو خپله فزیکي او اخلاقي خپلواکي د افغانستان د فزیکي جغرافیې په حدودو او ګاونډیو هېوادونو کې وساتله، د کورنیو غړي یې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې تیت و پرک شول. څرنګه چې دا کورنۍ زیاتره د هېواد تحصیل کړي او روښانه قشر ته منسوبې وې، د هغوی نشتوالی (( د مغزونو فرار)) د غمیزې څرګندونه کوي؛ د افغانستان بیا رغونه به لـه ستونزو او د هېواد د سیاسي مبارزې ډګر به له نااندېولتیا سره مخامخ کړي.

په هرحال! د شلکلن کړکېچ او جګړې په بهیر کې د نویو شخصیتونو د شتمنۍ او شهرت په شاوخوا کې نوې کورنۍ په افغانستان او بهر کې د جوړېدو په حال کې دي.

د افغانستان په سیاسي جګړه کې د مذهبي شخصیتونو راڅرګندېدل له دې پلوه نه دي، چې افغانستان د ملي غوښتنې د پرمخبیولو لپاره سیاسي سړي نه درلودل، بلکې زیاتره په دې خبرې پورې تړلي دي چې:

ــ د روسانو پر وړاندې په وسلوال جهاد کې یوازې مذهبي مشران د مذهبي ولولو څرګندونکي وو او هغوی په یوازېتوب سره ((د شهادت په ډګر کې)) د مسلمانانو پرګنو د سوق او ادارې ځواک درلود.

**ـ مذهبي لارښوونکو په یوازېتوب سره د افغانستان په چارو کــې د اسلامي انترناسیونالیزم پر بنسټ د بهرنیو هېوادونو د اغېز د خپراوي لاره هواره کړې.**

**ـ یوازې ښاغلیو حضرتانو، ملایانو، مولویانو، مولاناګانو او نورو هر یو په سیمو ( نه په ملي کچه) په خپل اغېز سره کولای شول، د افغانستان په چارو کې د بهرنیو مسلمانو هېوادو د ارام او ورو اغېز د خپرولو وسایل شي.**

**سربېره پر دې د جهاد د دیارلسو کلونو په بهیر کې، ایران، پاکستان خپلې تبلیغاتي دستګاوې او ډلــه ییــز ارتبــاطي وســایل او ســعودي عربستان د تبلیغ په برخه کې لیدني او اورېدني وسایل، د خپلو مرستو د ((شکر ایستونکو)) په واک کې ورکــړل. پــه دې تــرڅ کــې د ملــي شخصیتونو د زرغونېدو لپاره ځای پاتې نه شو.**

**د لویدیزو هېوادونو ماس میډیا د خپلو خپرونو د اصولي تګلارو لــه مخالفت سره سره د شوروي نظام د واکمنۍ پر وخت په سیاست کې د مذهب په دخالت سره ((مجاهدین)) د دښمن پر لوري د یــوې تیــارې ((ګولۍ)) په څېر ومیندل او خپل مکروفون او لوډسپیکر یې یــوازې د هغوی په واک کې ورکړل. له افغانستان نه د شوروي په وتلو سره لویدیز هېوادونه د دښمن د ماتې موخې ته نږدې شول. هغه وخت یې په ځینو برخو کې خپله پاملرنه د افغانستان په سیاسي چارو کــې د مــذهب د دخالت مخالفت ته راوګرځوله او په تبلیغاتي دستګاوو کې یې د پوهنې او پوهنتون استادانو، بوروکراتانو او ملي شخصیتونو ته د ونډې ورکولو غوښتنه کوله. خو دا کار ډېر ناوخته و.**

**دوه- شتمني:** پر پخوا وختونو د افغاني ټولنې په منځ کې ځمکه، پولي او مالي پانګه د ټولنيز او وروسته د سياسي واک سرچينې وې. د ځمکې د وېش پر بنسټ د خلکو ډيموکراتيک ګوند اقتصادي پروګرام او پر مالي او پولي پانګې د دولت کنټرول، د هغه دوديز اقتصادي سيستم د پاشل کېدو سبب شو، چې د هغه پر بنسټ ځمکوال او پانګوال د ټولنيز واک سرچينې ګڼل کېدې. د جګړې فشار د افغانستان له داخل نه د پولي او مالي پانګې د زياتې برخې د ايستنې سبب شو او د ټولنيز ځواک په توګه يې د شتمنۍ اغېز کمزوری کړ.

له دې سره سره په افغانستان کې د (۱۸) کلونو په بهير کې دښمنو غاړو ته د بهرنيو هېوادونو پولي، مالي او وسلوالې مرستې د شتمنۍ د نويو سرچينو سبب شوي دي: د تنظيمونو ځينې مشران، د جهاد ځينې قوماندانان، د مهاجرينو په کمپونو کې د بهرنيو پروژو د تمويل او ادارې دنده لرونکي افغان شخصيتونه او يا په هېواد کې نوي اربابان، د سرو زرو پيدا کوونکي ګڼل کېږي.

په نننيو شرايطو کې له شتمنۍ څخه يوازې د واک د نورو سرچينو (لکه سياسي ګوند) د مادي ملاتړ په توګه ګټه اخيستل کېږي، ځکه نو د واک د خپلواکې سرچينې په توګه د هغو رول ډېر کمزوری دی.

**درې- عمر او د ژوند تجربه:** پخوا تجربه کار سپين ږيري د خپل ټولنيز ژوند په چاپېريال کې د سترې اخلاقي اتوريتې لرونکي وو. هر کله چې عمر او تجربه د ټولنيز واک له نورو سرچينو، لکه روحانيت، لوېې کورنۍ او مخور قوم سره يوځای کېدل، شخص يې د خپلو شاوخوا خلکو د پاملرنې او درناوي وړ ګرځاوه.

د کمونیزم افت، د ژوند د باتجربه سړیو اخلاقي اتوریته کمزورې کړه او په ځینو برخو کې یې هغه له منځه یوړه. په ښارونو کې چې هلته کمونیزم ځاله جوړه کړې وه، د تجربه کارو شخصیتونو د لارښوونکي رول له منځه وړل زیات څرګند شول. ځوانانو په هغه تبه کې، چې د انقلاب نوم یې پرې ایښی و، پرته ویله او پر خپلو ((پلرونو)) یې د انقلاب ضد، ارتجاعي اند تور لګاوه... د کمونیستي کودتا پر لومړیو کلونو له کومه ځایه چې تجربه کار سړي د ژوند د چاپېریال د پخوانیو جوړښتونو ( چې د کودتا په پیل کې په خپلې ځواکمنۍ سره پاتې وو) پر بنسټ د لویو ښارونو په شاوخوا کې د مانیز ځواک لرونکي وو، ځکه نو د جهاد مشري یې وکړه. له دې کبله په هېواد کې وسلوال جهاد له کلیو او باندېو څخه پیل او ورو ورو له لویو ښارونو راتاو شو.

د کمونیستانو د تیوریکې او مجردې پوهې له مخې، بې ځمکې بزګرانو ته د ځمکې وېش باید د انقلاب د دفاع لپاره د بېنوا بزګرانو د باور د جلب سبب شوی وای، ویې نه کړای شول، چې د انقلاب پر وړاندې د پرګنو د قهر څپې کېنوي. د ماهویست شعار؛ د کلیو په واسطه د ښارونو محاصره پلې شوه، خو څرنګه چې د دې محاصرې انګېزه مادي نه وه، د هغه څه پر وړاندې، چې د زیارکښانو انقلاب په نوم نومول شوی و، ترتیب شوې وه، په خپله د داسې ټولنیز مذهبي اوښتون (انقلاب) د څرګندېدو پر ښښو بدله شوه، چې نه یوازې د مارکسیزم له هېڅ ډول موازینو سره د توجیه وړ نه وه، بلکې له هغه سره یې په څرګنده تناقص درلود.

**څلور- ټکنوکراسي او پوهه:** په افغاني ټولنه کې دواک له نویو بسنتونو څخه ګڼل کېږي، چې پر (۱۹۰۴) م کال د نویو ښوونځیو له ښوونو سره د پاملرنې وړ وګرځېدل. په هېواد کې د نوې ښوونې له پیل څخه تر نوي کلونو زیاته موده تېرېږي، خو له دې سره سره بیا هم د لوستو کسانو شمېر په سلو کې تر پینځو زیات نه دی او د هېواد د ټولو وګړو په اندازه د ښوونځیو او پوهنتون د فارغ التحصیلانو شمېر هېڅ د تصور وړ نه دی.

د خلکو ډیموکراتیک ګوند کودتا د عصري پوهنې د بهیر ورو پرمختګ نور هم ورو کړ او په ځینو برخو کې یې ان ودراوه. ((پر (۱۹۷۸م) کال د هلکانو لپاره (۳۰۰۶) لومړني ښوونځي او د نجونو لپاره ۴۵۳ لومړني ښوونځي موجود وو. په داسې حال کې چې پر (۱۹۹۰م) کال د هلکانو لپاره (۵۷۰) ښوونځي او د نجونو لپاره (۱۱۷) ښوونځي پاتې وو)).[1]

ددې لپاره چې د کمونیست حکومت له خوا د افغانستان پوهنې ته د رسول شویو زیانونو ښه جاج واخیستل شي، لومړی تر کمونیستي کودتا وروسته د پوهنتون حال او چارو ته یو اجمالي نظر اچوو او بیا د ځوان پښت په منځ کې د پېژندنې (هویت) د بحران ستونزه تر شننې لاندې نیسو.

**۱- د پوهنتون د بنسټیزو ارزښتونو ویجاړول:** پوهنتون د زده‌کړې د یوې لوړې موسسې په توګه د په اصطلاح انقلاب په بهیر کې نه جبرانېدونکي زیانونه وزغمل:

---

[1] په فرانسه یي ژبه د افغانستان اخبار مجله، ۱۹۹۶م کال، ۱۷ ګڼه، ۴۰ مخ.

پر (۱۹۸۲م) کال یانې په افغانستان کې تر کمونیستي انقلاب څلــور کاله وروسته د دولت له خوا یو فرمان صادر شو، د هغــه پــر بنســټ د ښوونځیو د لسم او یوولسمو ټولګیو فارغان، چې د یو او دوو کلونو لپاره یې په خپله خوښه د عسکري خدمت مانه، د وخت په تېرېدو سره هغه کلونه، چې په ښوونځي کې د دوی له فراغت نــه پــاتې وو، دوی تــه د بکلوریا دپلوم ورکول کېده، یانې (په عسکري قطعه کې) د ښوونځي د دپلوم تر اخیستلو وروسته په پوهنتون کې د شاملېدو وړ ګڼل کېدل.

دا فرمان د زده کړې له موسسو سره د چلند په برخه کې د دولت د کلتوري سیاست ډېر ښه څرګندوی و، دا یې ښکاره کوله، چې نور نو د ســولې تــامین او د سیاســي واک د ټینګښــت موضــوع د کابــل د مارکسیست دولت د ټولو دندو په سر کــې وه. کــه چېــرې زده کــړې وکولای شي د تش په نامه انقلاب د دفاع په لار کې د عسکري قطعــې رول ترسره کړي، ګنې دوه موخې به ترلاسه شوې وي. یو به د وسلوال پوځ د ځواک د پیاوړتیا څرګندوی او له بل اړخه به په ښکاره د فرهنګي موسساتو ساتنه، چې د نظام د پوهې پالنې(!) په سیاسي پېژندنه کې یې مرسته کوله.

پوځي کافډرا یا پوځي څانګه د همدې موخې لپاره د پوهنتون په کدر کې منځته راغله. پر افغانستان باندې د شوروي تــر یرغــل وروســته د زده‌کړې په موسسو کې د تدریس او ښوونې په بنــه کــې ((انقلابــي)) بدلونونه رامنځته شول.

ددې بدلونونو ټولیزه موخه په ملي فرهنګ کې د ایډیولوژیک اغېــز شیندل او د روس د ښکېلاکیز سیستم د دفاع لپاره د سپاهیانو په توګه

د پوهنتون او پوهنې د فارغانو ترلاسه کول وو. دا بدلونونه، چې موخه یې د افغانستان د خاورې او فرهنګ روسي کول وو، له یوې خوا د نویو تشکیلاتو او نوي درسي نصاب په واسطه او له بلې خوا د نوي پرسونل په واسطه پلي کېدل. ددې هر یو بدلون په باب د ویلو ډېر څه شته، په لاندې ډول یې مورږ په دې برخه کې د غټو ټکو یادونه کوو:

ـ د پوهنتون د تشکیلاتو او درسي نصاب په برخه کې بدلون: ځینې موسسې د کابل پوهنتون له تشکیل څخه بېلې شوې. لکه انجنیري پوهنځی، د کابل پوهنتون له تشکیل څخه بېل او له پولیتخنیک او تخنیکم سره یوځای شو. طب پوهنځی ((د دولتي طب انستیتوت په نوم))، چې نورې طبي موسسې یې په خپل کدر کې ځای کړې، له پوهنتون څخه بېل او له عامې روغتیا وزارت سره وتړل شو. د پوهنتون د کدر په تشکیل کې نوې موسسې او څانګې زیاتې شوې. د ټولنیزو چارو معاونیت او په اصطلاح د افغان شوروي د دوستۍ انجمن له دې جملې څخه دي. په دې ترڅ کې لومړی ګوندي سازمان او د مستخدمینو او کارکوونکو صنفي اتحادیې په ټول پوهنتون کې د ګوند د سیاسي واک د ساتنې او غځونې دنده ترسره کوله او پوځي کافدرا د محصلینو د پوځي روزنې دنده پر غاړه واخیسته.

تر (۱۹۷۹م) کال وروسته د ښوونې او روزنې پوهنځی، چې تر کمونیستي کودتا دمخه له منځه تللی و، بیا جوړ شو.

د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي له منځه یوړل شو او د هغه د ځینو څانګو پر بنسټ نوي پوهنځي منځته راغلل: د جغرافیې له څانګې څخه

د ادبیاتو او ځمکپوهنې پوهنځي راوټوکېدل او د ادبیـاتو پـوهنځي د ښکلو هنرونو څانګه، پوهنځي ته لوړه شوه.

تر (۱۹۸۲م) کال وروسته د ټولنیزو علومو پوهنځی د تاریخ او فلسفې او ژورنالیزم پر دوو پوهنځیو ووېشل شو. د پوهنتون په تشـکیل کـې بدلون د سیاسي کتنو له کبله و، نه د علمي انګېزې له مخـې. مـثلاً د روس لاسپوڅي رژیم د لنډ فکرۍ او کینې له مخې انجنیري پوهنځی، له دې کبله د پوهنتون له تشکیل نه وایسته، چې هغه یې د خپل رقیب لویدیځ هېواد (المان) د سیاسي فعالیت څانګه ګڼله. طب پوهنځی او د هغه په شان نورې موسسې له دې کبله په عامې روغتیا وزارت پـورې وتړل شوې، چې په اصطلاح د انقلاب په شرایطو کې د طبابت د علمي اړخ په انډول د هغه اداري اړخ ته په زیات ارزښت قایل شول. د پوهنتون تحصیلي نصاب هم د ایډیولوژیکو کړلېچونو له ستونزو سره مخ شـو او هغه څه چې له پخوا څخه پاتې وو، له هغو سره په تناقض کې راغـی. د روسي ژبې، د مارکسیزم اقتصاد، د مارکسیزم فلسفه او دې ته ورته نور مضامین الزاماً د ځینو پوهنځیو په درسي نصاب کې شامل شول.

د مارکسیزم د منطق پر لوري دهغو مضامینو د محتوا بدلون، چې په ټولنیزو علومو پوهنځي کې لوستل کېدل، په پوهنتون او له هغې لارې پر ملي فرهنګ باندې د مفکوره یي واکمنۍ لپاره د روس د ښکېلاکیزې ایډیولوژۍ د جبري اغېز څرګندوی دی.

د پرولتاریا د انترناسیونالیزم له آر سـره د پوهنتـون ایـډیولوژیک ترښت، د دې غوښتنه کوله، چې په ټولنیزو علومـو پـوهنځي کـې د افغانستان تاریخ مضمون درسي ساعتونه کم شي. د همـدې موضـوع

لپاره په حقوقو پوهنځي کې زیاته هڅه وشوه، چې د معاصر افغانستان مضمون درسي ساعتونه کم شي او پر ځای یې د مارکسیزم د فلسفې او ټولنپوهنې مضامین زیات شي.

روسي ښکېلاک د ځینو پوهنځیو د تحصیل وخت، له هغه څه سره چې دانقلابي شرایطو په نامه یادېدل، د عیارولو لپاره وروستي کم حد ته رالنډ کړ. مثلاً په طب پوهنځي کې دتحصیل وخت له اوو کلونو څخه پینځو کلونو ته راټیټ شو.

دا کار چې په طب پوهنځي کې له نړیوالو معیارونو څخه مغایر و، له دې کبله عملي شو، چې افغانسان ته د طبیبانو د زیات ضرورت له کبله د طب د ډاکترانو زیات کمښت احساسېده. طب پوهنځی به د مستعجل طبي کورس په توګه (( د انقلاب د شــرایطو)) د معلولینــو او ټپیــانو د درملونې لپاره د طبابت بازار ته خپل بې ګټې لښکر وړاندې کړي.

د ازموینې د اخیستلو ډول هم د خلکو ډیموکراتیک ګوند له سیاسي لوبو سره مخامخ شو: د ګوند غړو یوازې په جګړه ییزو فعالیتونو کــې د ګډون په پلمه کولای شول هر وخت چې وغــواړي وروســتۍ ازموینــه ورکړي. په بله وینا د ګوند غړي د حاضرۍ د نصاب پر پــوره کولــو او د ورځني درس پر تعقیبولو مکلف نه وو، د لوړو مقامونو له خوا هغو ته د ازموینې د څووم چانس اجازه ورکول کېده.

د تحصیل معیارونه، لکه د دېپلوم اخیستنه، چې تر کمونیستي کودتا دمخه د دولتي او اداري مرتبو په سلسله کې د امتیــاز او پرمختــګ د لاسته راوړلو بنستیز محرک بلل کېده، تر کودتا وروسته یې خپل ځای سیاسي معیارونو ته پرېښود.

په دې مانا، هر چا چې د واکمن کمونیست ګوند غړیتــوب ترلاســه کاوه، که څه هم تحصیلي سویه یې نه درلوده، کولای یې شول د خپلې ګوندي سابقې له مخې، داسې سیاسي او اداري امتیازات ترلاسه کړي، چې تر کودتا دمخه یوازې د دپلوم د خاوندانو لپاره وو. په بلــه وینــا د ګوند د غړیتوب کارت تر تحصیلي سنده ډېر ارزښت ترلاسه کړ. ځکه نو د پوهنتون هغه فارغ التحصیلان، چــې د خلکــو ډیموکراتیــک ګونــد غړیتوب یې نه درلود، سره له دې چې دپلوم یې لاره، خو په دولتي ادارو کې د امتیازاتو له زیاتې برخې نه بې برخې شول. مثلاً هغوی په یوه اداره کې الزاماً د یو داسې ګوندي شخص تر امرونو لاندې کار کاوه، چې اصلاً د ښوونځي د زده کړې دوره یې هم بشپړه کړې نه وه.

وروسته تر هغې، چې پوهنې ،په اداري سلسله کــې د پرمختــګ او ټولنیز امتیاز د ترلاسه کولو د طبیعي محرک په توګه خپل ځای ګوندي اړیکو ته پرېښود، پوهنتون ډېرو محصلینو تــه د پــوهې د زده کــړې د ټولنې پرځای، د اردو له خدمت نه د تېښتې د یو پناه ځي حیثیت پیدا کړ. په داسې حال کې، چې ښځینه محصلینو له هغه نه د یو ښکلاییز او تشریفاتي ځای په توګه کار اخیسته.

د ثور کودتا ددې زمینه برابره کړه، چې په اداره کې لوېې څوکۍ چې مخکې د تجربې او دپلوم خاوندانو ته ورکول کېدې، د بې تجربې او بې دپلومه ګوندي اشخاصو له خوا ونیول شي. ددې لپاره چې ګوند پــورې تړلي عناصر په هغو دفترونو کې، چې دوی یې د بې دپلومه آمر په توګه دندې سرته رسولې، د هغو کسانو پر وړانــدې، چــې دلــوړو تحصــیلي سندونو او دپلوم په لرلو سره یې ټیټه ( د مادونۍ) دنده سرته رسوله، د

ناراحتۍ احساس ونه کړي او د حقارت عقده ورته تکلیف ور نه کــړي، ګوند د هغو د تحصیلي او تعلیمي نیمګړتیاوو د بشپړونې په لټه کې شو او ددې موخې لپاره یې شپې پوهنځي جوړ کړل. په شپې پوهنځیو کې غالباً د مدرسینو په توګه د ګوند د منسوبینو له خوا د ورځنیو درسونو جوول شوې برخه شاګردانو ته وړاندې کېدله.

د دقیقو اټکلونو له مخې د کابل پوهنتون د شپې محصلینو په ســلو کې (۸۰) برخــه د خلکــو دیموکراتیــک ګونــد منســوبین او د خــاد کارکوونکي وو. د دولت موخه دا وه، چې خادیستان په راتلونکي کې ((د ځراغ لرونکو غلو په توګه)) د هغه څه له ازرښتونو څخه، چې د انقلاب په نامه یادېدل د ((علمي)) دفاع لپاره تیار کړي.

په داسې شرایطو کې، چې پوهنتون له یوې خوا تجربه کــار علمــي کادرونه او له بلې خوا د لوړې علمي سویې فارغ التحصیلان لــه لاســه ورکول او درسونه د ځرنګوالي او څومره والي له پلوه سخت راټیټ شوي وو، د روس لاسپوڅی حکومت په دې لټه کې شو، چې په ځینو پوهنځیو کې د تحصیل پوړۍ ماسټرۍ او ډاکترۍ ته لــوړې او پــه مزارشــریف او هرات کې دوه نور پوهنتونونه جوړ کړي. دې کار د پوهنیزو ارزښتونو د دفاع په لار کې د دولت دروغجنه ځانښودنه په ډاګه کوله.

**د علمي پرسونل په برخه کې بدلون:** تر کودتا وروسته پوهنتون تر لسو څخه د زیاتو کلونو په موده کې خپل دوه پر درې برخې تجربه کار استادان او علمي کدرونه له لاسه ورکړي وو.

هغه وخت چې افغانستان د روسي عسکرو تــر واکمنــۍ لانــدې و، روسي استخباراتي اجنټانو د استاد او پروفیسر په نــوم د پوهنتــون د

پخوانیو استادانو ترڅنګ د تدریس دنده پـر غـاړه اخیسـتې وه. پـر (۱۹۸۲م) کال هغوی پرته له دې چې د لـوړو زده کـړو وزارت لـه خـوا پوهنتون ته معرفي شي، نېغ په نېغه یې له شوروي سفارت نه پوهنتون ته مراجعه کوله او د خپلې خوښې مضمونونو د تدریس غوښـتنه یـې کوله. پر همدې کال د روسانو د دې خپلسرۍ او زورواکۍ پر وړاندې د یو شمېر با درده او بادرکه استادانو له خوا عکس العمل وښودل شو. ددې عکس العمل تشکیلاتي چوکاټ د افغانسـتان د اسـتادانو او ښـوونکو ((دولتي ضد او انقلاب ضد)) اتحاد و.

ددې کتاب لیکوال ددې اتحادیې غړیتوب درلود. د (۱۹۸۲م) کـال د مې پر (۲۱مه) ددې ټولنې غړي تر څارنې لانـدې راغلـل. ددې کرښـو لیکوال په لس کاله زندان محکوم شو، چې له هغې جملې نه یې پینځه نیم کاله د څرخي پله په زندان کې تېر کړل.

په هرحال! د تدرسي کدر د کمونې بله برخه د پرچم ډلې په واسطه تر سره شوه. پرچمیانو د پوهنیز واک او ان اخلاقي اهلیت له لرلو پرتـه د مقررۍ د فرمانونو پر بنسټ، چې له ګوندي اورګانونو څخه یې ترلاسـه کول. د تدریسي کدر د ګومارنې په لایحه کې د څرګند شویو پړاوونو له تېرولو پرته، خپل ځان پر پوهنتون بانـدې تحمـیلاوه. هغـوی د هغـو تجربه‌کارو استادانو پر ځای، چې یا زنـدان تـه بیـول شـوي وو او یـا تښتېدلي وو، د تدریس دنده پر غاړه اخیسته. بیا نو په تدریسي کدر کې د ګومارنې د مقررۍ د تطبیق پوښتنه، چې د تدریس د ډېرو با استعداده مینوالو د جذب ډاډمن ضمانت و، مطرح نه وه.

پرچمیانو د روسانو په مرسته د پوهنتون د پخوانیو قوانینو او مقرراتو پر بدلولو لاس پورې کړ. د دې بدلون پر بنسټ د پوهنځي د استادانو په غونډه او د پوهنتون په علمي شورا کې د ګوند د استازي ګډون حتمي شو. دخلکو دیموکراتیک ګوند غړو له دې امتیاز نه په ګټې اخیستو سره، د پوهنتون د مشرۍ پر علمي او اداري پرېکړو خپل ایډیولوژیک اغېز خوروه. علمي ترفیع، په بهر کې تحصیل، په بهرني کنفرانس او سیمینار کې ګډون، د ګوند د منسوبینو د موافقې له ترلاسه کولو پرته امکان نه لاره.

د پوهنتون روسي مدرسینو د ګوندیانو په مرسته د ټولنیزو علومو په پوهنځیو په ځانګړي ډول د افغانستان د تاریخ په اړوند مضمونونو کې زموږ د هېواد د تاریخ د مسخه کولو لپاره لویه دسیسه جوړه کړه. د افغانستان د وروستیو اویا کلونو دمخه پېښې له هغې جملې نه د ملي خپلواکۍ ترلاسه کول د شوروي د (۱۹۱۷م) کال د انقلاب په محور کې تفسیر شول. د افغانستان تاریخ په اړه پر درسي کتابونو په ټولیز ډول بیا کتنه وشوه. لنډه دا چې هڅه وشوه په شاګردانو کې د یو خپلواک، لرغوني او له ویاړه ډک تاریخ لرونکي هېواد د اتباعو په توګه، د ملي غرور او روحي خپلواکۍ روحیه له منځه یوسي. هڅه وشوه د محصلانو په ذهن کې دا ښکېلاکیزه مفکوره ننباسي، چې افغانستان یوازې د روسیې تر پوځي او سیاسي ملاتړ لاندې کولای شي، د یو نه تجزیه کېدونکي او خپلواک هېواد په توګه پاتې شي.

له نېکه مرغه ناپوهو، بې تجربې او کم علمه ګوندي مدرسینو او د هغوی روسي ملګرو د دې ځواک نه درلود، چې په بېلابېلو برخو کې

ستېنډرډ درسي کتابونه تالیف کړي. هغوی په ډېرو برخو کې له ناچارۍ له هغو کتابونو ګټه اخیسته، چې تر کودتا دمخه د باتجربه او د علمـــي واکمنو استادانو له خوا تالیف شوي وو او د پوهنتون په فرهنګ کې یې د یوې ځلېدونکې ډیوې په توګه، د انقــلاب پــه تیــارو کــې خپلــه لار پرانیستله. په دې ډول په تدریس کې د روسانو او د خلکو ډیموکراتیک ګوند د منسوبینو نیمګړتیا او د یو شمېر کمو پخوانیو استادانو شتوالی ددې سبب شو، چې په ډېره لږ کچه په پوهنتون کې د تدریس علمي او ابژکتیف تسلسل وساتل شي.

د کمونیستانو تر کودتا وروسته له عسکري خدمت څخه بهــر تــه د ښوونځیو د فارغ التحصیلانو تګ او د ښوونځي تر فراغت وروسته پوځي خدمت ته د ګوند د ځینو منسوبینو تګ، د هغو کسانو شمېر چــې پــه پوهنتون کې د لوړو زده کړو د ادامې لپاره تیار وو، ډېر راکم کړی و، ځکه نو ټولو ته په پوهنتون کې د شاملېدو چانس نه ورکول کېده. له دې کبله د پوهنتون د نویو شاملینو او شاګردانو کانکور، د ډېــرو بــا اســتعداده شاګردانو د پلټنې او ارزونې د لویې وسیلې په توګه خپل ارزښــت لــه لاسه ورکړی و.

زه ( ددې اثر لیکوال) چې د نږدې شپږ کلن زندان د تېرولو تر یــوې وقفې، د روسانو تر لښکرکشۍ وروسته یو ځل بیا په حقوقو پوهنځي کې پر تدریسي چارو وګومارل شوم، متوجه شوم، چې زما شپږ کاله مخکې درسونه په غوږ ډول هغو شاګردانو ته، چې لــه ښــوونځي څخــه پــه نیمګړي تعلیم پوهنتون ته راغلي وو، د پوهېدنې (هضم) وړ نه دي. لــه

دې کبله مې له ناچارۍ، د درسي نوټونو او لکچرونو سویه تر وروستي ممکن بریده راټیټه کړه.

دا ټکی هم د یادونې وړ دی، چې تر (۱۹۸۲م) کال وروسته د دقیقو اطلاعاتو پر بنسټ خاد هر کال خپل (۳۰۰ ) تنه اجنټان د کابل پوهنتون د بېلابېلو پوهنځیو په لومړیو ټولګیو کې د شاګرد په نوم شاملول. دې شاګردانو چې زیاترو یې د بکلوریا سندونه په لاس کې نه لرل، په خپل وار سره د شاګردانو د سویې کچه راټیټه کړه. خادیستانو د راپورونو د برابرولو، د اعتصابونو او مظاهرو د له منځه وړلو، د دولت د مخالفو استادانو د درسونو د ګډوډولو د لمسون، د درسونو د سیاسي او ایډیولوژیک کنټرول او د سیاسي وژنو او چاودنو د ترسره کولو دندې لرلې.

د خاد د وژنو او چاودنو زیاتره موخې دخپل دښمن خلق ګوند د غړو له منځه وړل وو. د ساري په توګه؛ یوسفي ( د حقوقو پوهنځي رییس) او سعیدي ( د پوهنتون رییس) د پرچم ډلې د توطیې قربانیان وو.

په پوهنتون کې د خاد د ستنو په پیاوړتیا کې د اسدالله حبیب (پر هغه وخت د پوهنتون رییس) د کی، جي، بي د دې پېژندل شوي ګوډاګي رول باید له یاده ونه ایستل شي.

له پورتنیو خبرو څخه دا څرګندېږي چې:

ــ هغه ګډوډي چې تر کودتا وروسته د پوهنتون په علمي نظام کې راڅرګنده شوه، ددې سبب شوه، چې د څومره والي او څرنګوالي له پلوه د درسونو سطحه راټیټه شي: کم تجربه او نیمګړو مدرسینو په ځانګړي ډول د حکومتي ګوند غړو او دې سره سره اکثرو استادانو تر کودتا

دمخه په اندېول د سمستر تر پایه خپلو شاګردانو ته څلوېښت سلنه درسونه ورکول، ځکه نو د شاګردانو سویه د (۴۰)سلنې زده کړې په لرلو سره د پخوا په انډول تر (۶۰) سلنې پورې راټیټه شوې وه.

ـ پوهنتون د خپل کدر تجربه کار پرسونل دوه په درې برخه له لاسه ورکړه. دا کار د دوستو هېوادو د فرهنګي مرستو په غوځېدو سره، د پوهنیزو څېړنو د پروژو د پرمخوړلو د ګډوډۍ لامل شو او د درسونو پر ځرنګوالي یې ناوړه اغېزه وکړه.

ـ پر پوهنتون باندې د کمونیستانو د لس کلنې ایډیولوژیکې واکمنۍ په بهیر کې موږ له پوهنتون څخه د زرګونو لاقیدو، پاسیف او ټیټ سویې ځوانانو د فراغت شاهدان وو، چې له خپلې راتلونکي څخه یې روښانه لرلید نه درلود. له دې ځوانانو سره باید په زرګونو هغه ځوانان هم یوځای شي، چې په پخوانې شوروي او ختیزې اروپا کې پر زده کړه بوخت وو. دا محصلین به د فرهنګي خپلواکۍ د یوې ناجوړې پینې په توګه افغانستان له ناوړه بدلونو سره لاس او ګرېوان کړي.

لکه څنګه چې یادونه وشوه، پوهنتون او د افغانستان د لوړو زده کړو موسسو د روسي یرغلګرو د کلتوري انقلاب تر ټولو درانه ګوزارونه زغملي دي، د پوهنتون بیا رغونه چې د یو ملي حکومت دنده به وي په راتلونکي کې ټینګو هڅو ته اړتیا لري. له هغې جملې:

د هغو پوهنتونو حذفول، چې د منځته راتلو دلیل یې سیاسي کتنې وې نه کلتوري. شورویانو غوښتل چې د قومونو ( د روسانو په اند ملیتونو) خپلواکه فرهنګي پېژندنه، د ملي فرهنګي پېژندنې ځای ونیسي، چې په دې ډول د فدرالیزم د یو سیاسي جوړښت لپاره لاره

هواره شي. د فرهنګي اړتیاوو او د هېواد د راتلونکي پرمختګ د اړتیاوو پر بنسټ د پوهنتون ساتنه او د سیاسي او تش په نامه پوهنتونو لغـوه کول به په راتلونکي کې د فرهنګي چارواکو د پاملرنې وړ ټکي وي.

افغانستان ته د شلو کلونو لپاره د دریو پوهنتونو شــتوالی: د کابـل پوهنتون، د ننګرهار پوهنتون او د هرات پوهنتون پوره دي. ددې دریو پوهنتونو بیا رغونې ته پاملرنه چې د کمونیستي جګړې د غمیــزې پــه ترځ کې په پوره ډول زیانمن شوي دي، زموږ لپاره بــه د راتلونکــو (۲۰) کلونو په بهیر کې ښه بوختیا رامنځته کړي.

ــ د بهرنیو مرستو راجلبــول او د اړیکــو د سیســتم بیــا رغونــه: د تدریسي کدر لپاره د اړیکو د سیستم پر بنسټ د دوســتو هېوادونــو د پروفیسرانو ګومارل.

ــ د یو پلان طرح: مثلاً د مهاجرو او له بهر مېشتو افغانانو څخه د تدرسي کدر د بشپړونې لپاره درې کلن پلان او ددې موخې لپاره:

الف– د پوره معاش ټاکل او د هغو د ساتنې لپاره وړ ضمانت ورکول.

ب– هغه شمېر استادانو ته، چې په جهاد کې د برخې اخیستنې لــه کبله زنداني شوي وو، د اکاډمیکو مکافاتو (لکه امتیازي معاش) ورکول. ګڼ شمېر استادان د جهاد په بهیر کې شهیدان شوي دي. د هغوی پاتې کسان باید د مقاماتو د ښې پاملرنې وړ وګرځي.

ج– د هغو استادانو لپاره، چې په بهر کې د خپلو کورنیو د لیدو هیله ولري، د مسافرت د مساعدو لارو چارو برابرول.

د– د استادانو علمي اثارو د چاپ د امکاناتو برابرول.

د پوهنتون اوډلې (منظمه) او پلانیزه بیا جوړونه د یو ریاست لکــه د پوهنتون د بیا جوړونې ریاست په نــوم د جوړېــدو غوښــتنه کــوي. دا ریاست به دنده ولري، چې د پوهنتون د بیا جوړونې لپاره مثلاً یو څلور کلن پلان تر لاس لاندې ونیسي.

په هرحال! د کمونیستي واکمنۍ په بهیر کې د خلکو قهرجنو ډلو، په داسې حال کې، چې پر پخوا وختو ښوونکي او ښوونځي ته د پــوهې د ترلاسه کولو د وسایلو او د دولتي څوکیو د نیولو د وسیلې په توګه زیات ارزښت ورکاوه او د همدې موخې لپاره یې خپله ځمکه او کلیوالي کور، ښوونځي ته د مرستې په توګه ورکول او خپل زامن یــې د ښــوونځي د دېوالونو او چتونو د جوړولو لپاره د خپلې خوښــې کــار تــه هڅــول، د خپلواکۍ، هېواد، دین او ناموس په حق کې سپکاوی یې د نوې پوهې پر غاړه واچاوه او ځینو ښوونځیو ته یې اور ورته کړ، خو دې سره سره اوس هم ښوونکی، استاد، زده کړې او تحصیل ته، د درنښت مثبتې اغېزې، د پرګنو په ذهنیت کې له منځه نه دي تللي. ددې درناوي یوه برخه کولای شو په اسلامي ښوونه او د بډایه ملي فرهنګ او اخلاقو په جوړښت کې ولټوو. دا لاندې بیت له دین ســره د پــوهې د نــه شــلېدونکي پیونــد څرګندوی دی:

چو شمع از پی علم باید گداخت
که بی علم نتوان خدا را شناخت

خو بنسټپال اسلام زیاتره مذهبي فقهو ته د ټولنیز او سیاسي بــاور ترلاسه کولو د مرکزونو په توګه پاملرنه کوي او ( اهل حل و عقد) ته چې د دیني علومو له پوهانو څخه جوړه شوې ده، د ټولنې اداره په همــدې

اشخاصو پورې تړي او د ښوونځي او پوهنتون فارغ ته په دويمه درجــه اهميت ورکوي.

منځلارې روحاني ټولنه هغه کوي، چې پر ديني پوهانو باندې د ډېرې لګونې ترڅنګ د پوهانو، ټکنوکراتانو، د پوهنې او پوهنتون د پوهانو په راټولونې سره خپلې ټولنيزې ستنې پراخه کړي او دې ټکي ته په کتنې سره، چې افغاني ټولنه په اکثريت ډول له منځلارو مسلمانانو څخه ډکه ده، د ټاکنو په شرايطو کې، د يو بې رقيبه سياسي ځواک په توګه څرګند شي. ځکه نو منځلاري تنظيمونه د ولسواکۍ د ارزښتونو منلو تــه ډېــر لېواله ښکاري.

## ۲- د پېژندنې (هويت) کړکېچ او له هغه څخه راپيدا شوې پايلې:

په افغانسان کې هغه کوچنيان، چې د (۱۹۷۸م) کــال د کمونيســتي کودتا په پيل کې زېږېدلي دي، پر (۱۹۹۷م) کال د ځوانۍ پر عمر يــانې اتلس کلنۍ ګام ږدي. ددې ځوانانو زياته برخه د درس او تعليم له نعمت نه بې برخې ده.

هغه کوچنيان، چې د کمونيستي کودتا په پيل کې د ښــوونځي پــه لومړي ټولګي کې شامل وو، اوس (۱۹۹۷ م کال) د څلېرويشت کلنــۍ عمر ته رسېدلي دي. هغوی له لوست او زده کړې نه بې برخې دي.

هغه کوچنيان، چې تر کمونيستي کودتــا وروســته لــه افغانســتانه ګاونډيو هېوادو ته په مهاجرت مجبور شوي، شاوخوا اتيا په ســلو کــې نالوستي او نا زده کړې پاتې شوي دي، هغوی هم اوس د ځوانۍ عمر ته رسېدلي دي. يوازې د هغوی کورنيو کوچنيان، چې په افغانستان کې تر

قتل او وژنو وروسته پر مختللو صنعتي هېوادونو ته مهاجر شوي دي، د لوست او زده کړې امکان يې پيدا کړی دی، پـه بهرنـۍ ژبـه او پـردي فرهنګي چاپېريال کې د دوی لوست او د زده کړې څرنګوالی په خپلـه يوه بحث پارونکې مسئله ده، چې وروسته به په دې برخه کـې ځينـې ټکي وړاندې شي. اوس دا ټکی د يادونې وړ دی، چې نالوستي او د ځوان پښت د زده کړې کمی، هغه پښت چې بايد د خپل مټ او ځواکمن مغز په زور نه يوازې د ټولنې له سر او څېرې څخه د جګړې ګرد او غبار لرې کړي، بلکې لازمه ده، چې هغې ته د هيلو وړ ډيناميزم او خوځون هـم ورکړي، دا هغه ستره ستونزه ده، چې د هغې د حل لارې د امکاناتو پـه لټون پسې بايد همدا اوس فکر وشي.

لومړی- په افغانستان او ګاونډيو هېوادو کـې افغـاني ځوانـان. د افغانستان او د ګاونډيو هېوادو ټولنيز چاپېريال د دې ځوانانو د فکري تشکل سرچينې جوړوي. کله چې موږ د ځوانانو پر فکري تشکل  او په افغانستان کې د ټولنيز چاپېريال په باب خبرې کوو، ژر تر ژره مـو پـه ذهن کې د کمونيستي او مسلمانو حکومتونو ښـوونيز او روزنيـز رول ګرځي. دا ښوونيز او روزنيز رول له مدرسې، ښوونځي او پوهنتون څخه بهر، چې ټول هېواد پر کنډرو بدل شوی، ځوانانو ته د ډله ييزو وسايلو (ماس ميډيا) له لارې د رسېدنې او اغېزې وړ دی. هغـه څـه چـې لـه ماس‌ميډيا څخه د کمونيستي او مسلمانو حکومتونو په واک کې پاتې وو او دوی د هغو په واسطه په تبليغ لاس پورې کاوه او په يو ډول يـې لـه خلکو سره اړيکي ټينګول، راډيو وه او تر يوه حده ټلويزيون و.

د راډیو او ټلویزیون لــه پروګرامونــو څخــه زیــاتره د دروغجنــو او تېرایستونکو تبلیغاتو له لارې د حکومت د فزیکي شتوالي د اثبات لپاره ګټه اخیستل کېده او د خپرونو روښانوونکي او روزنیز اړخ ته یې کمــه پاملرنه کېده.

د راډیو او ټلویزیون له لارې له غرض نه ډک یو ډول تبلیغــات ددې سبب شوي وو، چې خلک زیاتره د بهرنیو راډیوګانو اورېدو تــه لېوالــه شي، خو دې سره سره بیا هم د خپرونو تداوم او د کورنیو څپو د چــارو ښه والی، د دې سبب شوي وو، چې افغاني راډیو ټلویزیون هم د خلکو په منځ کې اورېدونکي او لیدونکي ولري. هغه هم پــه دې شــرط چــې برېښنا یې درلودله.

په هېواد کې د کړکېچ د بهیر په اوږدو کې، حکومتي راډیوګانو تل د جګړې اړوند خبرونه او وسلوالې نښتې، د خپل خبري پروګرام په ســر کې خپاره کړي دي، د نژادي کینې، مذهبي دښمنۍ او طبقاتي جګړې او د تنظیمي دښمنۍ لمسون تل د راډیو له څپو نه د ځوانانو ذهنیت، چې اکثراً نالوستي او یا نیم لوستي وو، مسموم کړی دی. له همــدې نــاوړه فکري لارې څخه، تنظیمونو او دښمنو سیاسي ډلو، د ځوانانو او تنکیو ځوانانو په کړیو کې، د سرتېرو د راټولولو پراخه کړنلاره پلې کړې ده.

اخلاقي انحرافات او په ځانګړي ډول پر مخدره موادو ککړتیــا چــې وزګارتیا او نالوستۍ یې د ودې زمینه برابروي، د ځوانانو په منځ کې په چټکۍ سره دود شوي دي. د عیني شــاهدانو پــه وینــا د کمونیســت حکومت اردو، د کابل د (۱۹۹۲م) کال ایتلافي اداري او جهادي تنظیمونو

په لیکو کې جګړه مارانو د ښې جګړې د ترسره کولو لپاره د چرســو او تریاکو تر نشې لاندې ټوپک ته لاس وروړ.

کوچنیان چې په پاکستان او ایران کې د افغان مهاجرینو په مېشتغالو (کیمپونو) کې د ځوانۍ عمر ته رسېدلي ، د هغوی نړۍ لید د کــډوالو د کیمپونو په چاپېریال پورې تړلی دی، د دې ځوانانو لږ شمېر پــه دینــي مدرسو کې د شاملېدو امکان ترلاسه کړی دی. د هغو طالبــانو ذهنــي راټولونې، چې د مذهبي درسونو د لوست چانس ورته په لاس ورغلــی دی، یوازې د شرعي موضوګانو په باب دي. په ټولیز ډول پــه ګاونــډیو هېوادو کې استوګن افغان ځوانان په بدمرغۍ او غریبۍ کې لوی شوي دي.

بهرنیو مرستو د هغوی بیولوژیکي اړتیاوې تر ډېره کمه حده خړوبې کړي دي، خو د هغوی د فکري، رواني، مانیزو او عقیده یي اړتیاوو د ډاډ او خړوبونې لپاره هېڅ مرجع موجوده نه وه.

په کیمپونو کې مهاجرو افغان ځوانانو تر ډېره کمه حده د خپل کار له لارې ژوند خړوب کړی دی. هغوی ډېر ستونزمن ژوند لري، دې ځوانانو چې خپل ښي او چپ لاس پېژندلی، د مهاجرت، راشن (جیرې) جهاد، تنظیم، اسلام، الحاد، شیعه، سني، پښتون، تاجک، هــزاره، توغنــدي، ماین، کلاشینکوف او نورې خبرې یې په خولو کې ګرځي.

مهاجرو ځوانانو ډوډۍ د ملګرو ملتونو له کمېشنرۍ نــه خــوړلې او ډانګي یې د پاکستان او ایران د پولیسو له خوا. هغوی کــه هــر کلــه د ټولنیز مقام د ترلاسه کولو هیله ولري، هغه به یوازې همدا وي، چې ډېر ښه ((ملا)) ورځخه جوړ شي.

د جهاد بهیر او د اسلامي انترناسیونالیزم تبلیغاتو، پــه پــوره ډول د ځوانانو په ذهن کې د اسلام د سیاسي افسانه یي یــووالي پــر لــوري د عاطفي تړښت ذهنیت پېچکاري کړی دی. ځکه نو هغوی ته افغانستان د هېواد په توګه مطرح نه دی، هغوی ته افغانستان، فلسطین، الجزایر، کشمیر او بوسنیا د اسلامي نړۍ د خاورې په توګه) چې شریعت په کې جهاد فرض کړی دی، د بحث وړ دي. په دې ترڅ کې د هېواد په توګه د افغانستان دفاع، د الحاد له خطر سره د نورو مخامخو هېوادونو په انډول هېڅ غوره والی نه لري، خو دا لوړتیا د جغرافیایي دښمنیو پــه نیــت د سرتېرو د کیمپونو د جوړولو لپاره وه.

د ټولنیزو شخړو د اواري، هېواد پالنې، د ښــځو درنــاوی، د لویــانو درناوی، مېلمه پالنې او نورو چارو کــې د جرګــې د رول منــل، د هغــو ټولنیزو ارزښتونو برخه ده، چې کورنۍ او قبایل یــې خپلــو زامنــو تــه لېږدوي. په نننې افغانستان کې د ځوانانو لپــاره دکــورنۍ او قبیلــې د روزنیز چاپېریال رول، د دغو دوارو جوړښتونو د پاشل کېدو له کبله ډېر کمزوری شوی دی: ډېرو کورنیو او قبیلو د کورني او بهرني مهاجرت له کبله د خپل واک او اغېز جوړونکي توکي له لاسه ورکړي دي. د ځینــو کورنیو مشران په جګړو کې وژل شوي او یا یې په زندانونو کې شتمني له منځه تللې ده، ځکه نو په هېواد کې، په اوسنیو شرایطو کې د ټولنیزو واحدونو په توګه، د کورنۍ او قبیلې رول، د ځوانانو د روزنیز او فکــري تشکل په برخه کې له پخوا سره د پرتلې وړ نه دی، خو کورنۍ او قبیلې په هېڅ ډول د افغانستان د خلکو په عامه ذهنیت کــې خپــل ټــولنیز اعتبار له لاسه ورکړی نه دی. د ځوانانو په منځ کې به د پلرونو او د قوم

د مشرانو د نصیحتونو اورېدونکي لږ وي، خو په ټولنه کې باید د هغو له مثبت انعکاسه ډاډه واوسو. د لویې جرګې نومونه (اصطلاح) د ځوانــانو لپاره د پوهېدو وړ نه ده، خو د عامو خلکو په معتقداتو کې دهغې پر لوړ مقام پوره باور دی.

**دویم- په لویدیزو هېوادو کې افغاني ځوانان:** د دې ځوانانو په منځ کې، هغه چې په افغانستان کې د ثور د کودتا په پیل کې زېږېدلي وو او تر یو دوه کلونو وروسته له خپلو کورنیو سره لویدیزو هېوادونــو تــه راوکوچېدل، د (۱۸) او (۱۹) کلونو عمر لري. هغوی د مهاجرینو په کوربه هېوادونو کې لوست او زده کړې کړي او ثانوي زده کړو ته رسېدلي دي. دا مهاجر ځوانان دهغې ډلبندۍ په اندول، چې د دې بحث په پیل کـــې ورته اشاره وشوه، لږې ټولنیزې او رواني ستونزې لري. هغــوی غالبــاً د کورنیو د پالنې تر سیوري لاندې ژوند کــوي او پــه ورو ورو ډول یــې د پردي تعلیمي او ټولنیز چاپېریال تر اغېز لاندې فکر او دماغ د همــدې ټولنې او چاپېریال بڼه خپلوي.

د ټولو هغو ځوانانو لپاره، چې په لویدیزو هېوادونــو کــې یــې پنــاه اخیستې، د ښوونې او روزنې چانس برابر شوی نه دی، د دې مهاجرینو یو شمېر، چې د افغاني ښوونځیو او پوهنتونونو له خپل نابشپړ تعلــیم سره مهاجر شوي دي، نېغ په نېغه د کار بازار تــه لاره پیــدا کــړه، پــه لویدیزو هېوادونو کې مهاجر ځوانان پر خپلې ملي ژبې نه پوهېږي او یا ورو ورو هغه څه چې په ګړنۍ ژبه یې زده کړي وو، هېروي. هغوی غالباً په پردۍ ژبه خبرې او لیک کوي. یوې واحدې کورنۍ تــه منســوب دوه تنکي ځوانان، چې په دوو بهرنیو هېوادونو لکه فرانسې او امریکا کې یې

ژوند کړی، د یوه او بل ژبې سره اشنایي نه لري. د ساري په توګه د کاکا زامن په یوه ژبه خبرې کولای نه شي.

کورنۍ دې کډوالو ځوانانو ته د ملي ژبې او فرهنګ د لېږد یوازینۍ سرچینه ده. کورنۍ اکثره د خپل ژوند د اړتیاوو د پوره کولو په ستونزه کې داسې ډوبې دي، چې د خپلې کورنۍ د غړو لپاره ډېر کم کلتوري رول لوبولای شي. کورنۍ په هېڅ ډول ددې وس نه لري، چې د پردي فرهنګ پر وړاندې، د ملي فرهنګ په واسطه د ملي او اسلامي کلتور او ژبې ساتنه وکړي او د خپلو زامنو په ذهني تشکل کې د پردي چاپېریال، پوهنتون او ښوونځي د اغېزو مخه ونیسي.

تقریباً په ټولو پرمختللو صنعتي هېوادونو کې مهاجر افغانان د زده‌کړو لپاره د هغو مرکزونو له لرلو څخه چې لږ تر لږه د مهاجرینو زامن په اوونۍ کې څو ساعته د افغاني کلتوردود او لوست زده کړي، بې برخې دي.

که چېرې داسې مرکزونه وي هم، په سختۍ سره د لویدیځ جادوګر، ان ناروغ کلتور د اغېزو مخه نیولای شي. د ګوتو په شمار یو شمېر مذهبي مدرسې، چې په دې لته کې دي د مهاجرو افغان بچو لپاره د شریعت اصول زده کړي، باید له دې خبرې نه مستثنی وګڼل شي. خو دا مدرسې غالباً د دیني مضمونو له تدریس سره سر و کار لري او په داسې نصاب کې د افغاني عمومي کلتور کوم څرک نه شته.

په هرحال! د زده کړې چاپېریال او ټولنیز چاپېریال په لویدیزو هېوادونو کې د مهاجرو ځوانانو دوه روزنځایونه دي. زموږ زامن په پردي هېواد کې په پردۍ ژبه، د کوربه هېواد ترانه زمزمه کوي، د بهرنیو پوهانو

او هنرمندانو نومونه اخلي. د لویدیځ له تاریخ سره نږدې کېږي او له افغاني ټولنې څخه ورو ورو لرې کېږي.

نور نو د خوشال خان خټک، احمدشاه بابا، مولانا بلخي، خواجه عبدالله انصاري او د افغانستان د تاریخ نورو په سلګونو پوهانو او واکمنو نومونه د ځوانانو لپاره الهام بښونکي نه دي. هغوی د هېواد له کلتور، تاریخ او جغرافیا څخه ناخبره دي. د مهاجرو ځوانانو پېژندنه (هویت) په رښتیا له سخت خطر سره مخامخ ده.

د کلاشینکوف او زورواکۍ پښت، نالوستی نسل، له افغاني کلتور څخه ناخبره نسل، د هېواد له تاریخ نه ناخبره نسل، له ماضي سره ناتړلی نسل، د ملي احساس نه درلودونکی نسل، بې هېواده او بې هویته نسل او داسې نور د هغه ځوان پښت ځانګړنې دي، چې د طبیعت د قانون پر بنسټ باید د افغانستان راتلونکی په لاس کې ونیسي او د هېواد د بیا رغونې ګټورې دندې پر مخ بوځي.

د یو هېواد لپاره تر دې ستره بدمرغي نه شته، چې د هېواد د چارو واګې، له ټولنې څخه د پردیو عناصرو لاسو ته وسپارل شي.

په خواشینۍ سره زموږ هېواد باید د ټولنې د بنسټیزو ارزښتونو د زیاتې پاشنې د مخنیوي لپاره هغه پښت، چې د جګړې ظلم او افت، له پوهې او لید څخه بې برخې کړی دی، د راتلونکي افغانستان په اداره کې له فعال رول څخه محروم کړي، ګنې هغه دنده چې ځمکني او اسماني قوانین یې د ټولنې د روغ ژوند د دوام د تضمین لپاره ځوان پښت ته ورکوي، لعنتي جګړه هغه له هغو څخه بېرته اخلي. که چېرې سوله نږدې هم وي، نو افغانستان باید لږ تر لږه له شلو نه تر دېرشو راتلونکو

کلونو پورې د ځوانانو د یو بل پښت تر رسېدو پورې په لویو چارو کې د زاړه عمر د پښت په وسیله یانې د هغه پښت په وسیله، چې دودیز قوانین هغوی د متقاعد قشر په نامه د فعال ژوند په حاشیه کې راولي، اداره شي. متقاعد پښت د ځانساتي پښت دنده لري، هغه ټپونه به چې د انقلابي پښت له خوا زموږ ټولنې ته رسېدلي، درمل کړي. دا پښت د تېر، حال او راتلونکي ترمنځ د اړیکو د پله په توګه دنده سرته رسوي. د زیات عمر لرونکی پښت راتلونکي ته د ټولنې د ساتنې وړ د هغو دودیزو ارزښتونو، چې د کمونیستي انقلاب له افت نه روغ پاتې دي، لېږدونکی ګڼل کېږي. عمر خوړلی پښت په حقیقت کې د روح د ارامۍ لپاره یو داسې ژوندی موزیم دی، چې لږ تر لږه د افغانستان د معاصر تاریخ په پاڼو پورې اړه نیسي.

په دې کې شک نه شته، هغه ټولنه چې د سپین ږیرو سړو او سپین سرو ښځو په لرزېدونکو لاسونو اداره شي، طبیعي ده، چې د خوځون او پرمختګ نوښت به ونه لري، خو بله چاره نه شته. جګړې او ټولنیز کړکېچونه ناوړه او نا طبیعي بدلونونه پر ټولنې زغمي او هغه ټولنیز انډول، چې د سولې په بهیر کې رامنځته شوی، په بې رحمۍ سره له منځه وړي.

## ب- د واک د نویو ملاتړو څرګندېدل:

یو- جهادي تنظیمونه: له مکتبي بنسټپالو مسلمانانو پرته زیاتره جهادي تنظیمونه، د کمونیستي یرغلګرو پر ضد د جهاد د ادامې د شرایطو زېږنده وو، په افغانستان کې د شوروي پوځي او وروسته سیاسي واکمنۍ، زموږ خلک له ډېرو بهرنیو هېوادونو، په ځانګړي ډول له مسلمانو

هېوادونو سره د دښمن د يرغل د ماتولو د ګډ هدف لپـاره د پیوســتون او يووالي په ليکه کې ودرول.

د بهرنيو هېوادونو بې درېغه پولي، مادي، سياسي، تبليغـاتي او پــوځي مرستو، جهادي تنظيمونه د سياسي واک پــه ســتر ځــواک او د کابـل د کمونيست حکومت پر نه تسليمېدونکو دښمنانو واړول. مجاهــدينو تــه د افغانستان جهاد ((اخروي اجر)) او د تــاريخي ويــاړونو د ترلاســه کولــو د وسيلې او بهرنيو هېوادونو ته د نړيوال کمونيزم د ماتې پر حربې بدل شو. د بهرنيو هېوادو، نو ډله ييزو ارتباطي وسايلو، لــه مــذهبي شخصــيتونو نــه سياسي ليډران جوړ کړل... په دې جګړه کې د افغانستان ملي او مسلمانو شخصيتونو او د تېرې بوروکراسۍ د لويو شخصيتونو د تبارز لپاره ځای نه و، نه د هغوی په خوله څوک د جهاد ډګر ته تلل... له افغانستان نه د روســانو ځغلول د مټ ځواک ته اړتيا درلوده، نه د استدلال او عقل ځواک ته.

له نښو نښانو ( په ځانګړې ډول د لويديزو هېوادونو د مرستو له بندېدو) څخه داسې ښکاري، چــې لويــديزو هېوادونــو د روســانو پــه واســطه د افغانستان د پوځي اشغال پر وخت د جهادي تنظيمونو ملاتړ، د هغو جګړه ييز رول ته د پاملرنې له مخې کاوه او جهادي تنظيمونــه يــې د جګــړې د وخت سرتېري ګڼل. لويديز هېوادونه يو وخت په دې لټه کې شول، چــې د هېواد له پخوانيو بوروکراتانو او ټکنوکراتانو څخه ( د سولې وخت) د زېرمه ييز ځواک په توګه کار واخلي.

د سولې اردو پوځي وسايل او امکانات نه درلودل او د جهادي تنظيمونو له ملاتړ پرته نامممکنه وه، چې کوم کار ترسره کړي. ځکه نو د افغاني ټولنې د دوو قشرونو ترمنځ يووالی د يوې نه پوره کېدونکې اړتيا په توګه رامنځته شو. د کابل کمونيست حکومت د خپلو استخباراتي اجنټانو لــه لارې تــل هڅه کوله، چې د افغانستان د پوهنې (معــارف) خاونــدانو پــر وړانــدې د

اسلامي تنظیمونو کینه راوپاروي او پر پوهو اشخاصو باندې د کفر او الحاد د تورونو په لګولو سره چې غالباً ناروا دي، د ټولنې د دوو قشرونو ترمنځ اختلاف پر دښمنۍ بدل کړي. هغه وخت به نو په اصطلاح ( پلار وطنه ملي جبهه)، چې وروسته د ملي جبهې په نامه یاده شوه د یوه ډاډمن سیاسي پناه ځي په توګه د ښوونځي او پوهنتون د روڼاندو پرمخ خپله غېږ پرانیزي.

لکه څنګه چې دمخه یادونه وشوه، قومي او قبیله یي پولو جهادي تنظیمونه یو له بله بېلول، دا تنظیمونه هېڅکله هم د یو واحد سازمان (ګوند یا متحدې جبهې) په چوکاټ کې سره راټول نه شول او نه یې مهربانه روڼاندو ته خپله غېږ پرانیسته. هغوی هېڅکله د افغان ملت د ټولیزو ایډیالونو او ټولو هیلو منعکسوونکي نه وو او په خپلواک ډول یې د هېواد د اداري ځواک نه درلود.

طالبان په دې لټه راووتل، چې افغانستان د تنظیمونو له شره وژغوري، خو دوی هم کوم دقیق، ټولنیز، سیاسي او اقتصادي پلان نه لري.

**دوه- جهادي قوماندانان:** د ټولنیز او سیاسي واک نوي ډاډ ځایونه وو، چې په عملي توګه یې د جهاد د پوځي چارو د پرمخبیولو دنده لرله. په داسې حال کې، چې قوماندانان له سیاسي او پوځي پلوه تنظیمونو پورې تړلي وو، له خلکو سره د تنظیمي مشرتوب د اړیکو واسطه ګڼل کېدل.

په داسې حال کې چې جهادي تنظیمونه د سولې د یوې ستراتیژۍ په جوړولو او د یوې رښتینې سیاسي لارې په موندلو بریالي نه شول او خپل تګلوری او سازماني یووالی یې رامنځته نه کړای شو. د جهادي قوماندانانو د خپلواک عمل په برخه کې د کورنیو او بهرنیو فشارونو بار مخ په زیاتېدو شو. له همدې کبله قوماندانان دوه درې ځله په یوه ګډه جرګه کې سره راټول شول، خو له دې پوځي کانفدراسیونونو څخه هم په زړه پورې

سياسي پايله تر لاسه نه شوه. د قومانداناانو د خپلواکې کړنې رامنځته کول ( د جهاد د يوې لسيزې په بهير کې له تنظيمونو سره د هغوی د پولي مالي او پوځي تړښت له کبله) په هغه اندازه ناممکن وو، لکــه د هغــوی تــرمنځ سياسي يووالی، ځکه چې د دښمن له خوا د تنظيمونو ترمنځ قومي، سيمه ييزو، ژبنيو او مذهبي اختلافونو ته لمن وهل کېدله.

د قومانداناانو له ګډو جلسو او د نظر له تبادلې، نــه يــوازې د تنظيمــي پيوستون د تامين لپاره، د سياسي فشار د يوې وسيلې په توګه، په داســې شرايطو کې کار واخيستل شو، چې د کابل کمونيست حکومت د تنظيمونو ترمنځ خپلمنځي اختلافونه د واک د لېږد لپاره يوه پلمه ګڼله.

# څلورم څپرکی

## د جهاد په بهیر کې قهر او روغه

### الف- قهر:

**یو- د کلاشینکوف او ستهنګر نسل:** د افغانستان تاریخ له ډېرو خونړیو پېښو سره مخ شوی دی. د شوروي او د هغه د لاسپوڅي حکومت پرضد دولس کلنې جګړې او د دښمنو تنظیمونو ترمنځ نږدې شپږ کلنې جګړې د ټولنیزو او سیاسي شخړو په حل کې د قهر او زور کارول، پر یو ډول میخانیکي عادت بدل کړي دي.

د خپلواکۍ، هېواد او اسلام د لارې اکثرو جنګیالیو د خپلې ځوانۍ د وخت زیاته برخه د مورچل تر شا تېره کړې ده. هغه هلک چې پر (۱۹۷۸م) کال د جهاد د ګډون په نیت په دیارلس کلنۍ کې د ښوونځي شپږم ټولګی خوشی کړ، اوس (۱۹۹۷م) کال دوه دېرش کلنۍ عمر ته رسېدلی دی.ده په دې عمر کې هر هغه څه چې له ښوونځي څخه یې زده کړي وو، هېر کړي او د خپلې کورنۍ له غړو لرېوالي ورته خطرناکې نیمګړتیاوې زېږولي دي.

ددې ډول جنګيالیو زړونه هغو کسانو ته، چې د ښارونو په منځ کې يې د ښوونې او روزنې له نعمت او د خپلې کورنۍ په غېږ کې له ژوند څخه خوند اخیستی، په یوه مانا د ښېراز ښاري ژوند له امکاناتو يې ګټه اخیستې او له مجاهدینو سره يې څنګ په جهاد کې برخه نه ده اخیستې، له عقدو او غچ اخیستنې ډک دي.

(( د کلاشینکوف او ستنګر پښت)) چې د قهر، کینې او زور په غېږ کې د ځوانۍ عمر ته رسېدلی، د ښارونو ودانۍ پر توغندیو ولي، د دښمن له اسیرانو سره نه پخلاکېدونکی دی او تیار نه دی هغه ویاړونه، چې د برچې په زور يې ترلاسه کړي له نورو بې احساسه مکتبیانو او بوروکراتانو ((فرصت غوښتونکو او ننداړچیانو)) سره ووېشي. حق د هغوی پر خوا دی، خو د یو هېواد د ادارې لپاره، چې جګړې د هغه د شتمنۍ زیاته برخه له منځه وړې وي، یوازې د نېک احساس، نړه ګروهمنتیا (اعتقاد) او د ځواکمنو متو لرل، پوره نه دي. باید له دې بې درکه او بې درده لښکر (زموږ حکم عمومي نه دی، قلموال مجاهدین ترې بېل دي) له هغو سره چې اکاډمیکه پوهه او تخصص لري، جوړ راشي. دا د وخت غوښتنه ده که څه هم د جهاد غوښتنه به نه وي.

## دوه- تروریزم په سیاست کې د جنایت د هڅې ښکارندوی:

ترورریزم[1] هم د افغانستان د نولسمې پېړۍ په تاریخ کې، هغه وخت چې د سلطنت دستګاه د شهزادګانو او دښمنو واکمنو د رقابت له خطر سره مخ وه، د تاج او تخت د مدعیانو له خوا د دښمن له لوري د متوجه خطر

[1] په دې بحث کې تروریزم د سیاسي هدف لپاره د نفس د وژنې په پراخه مانا که د یو فرد له خوا وي که د دولت له خوا، کارېدلی دی.

د له منځه وړلو تکتیک په نوم کارېدلی دی. د تاریخ په دې پړاو کــې د واک له لاسه وتلو غم او د واکمنۍ د مقام ساتلو هیلو، کورني عواطف تر پښو لاندې کړل او په ځینو برخو کې یې د قومونو او قبایلو تــرمنځ پــر نېکو اړیکو ناوړه اغېزه وکړه، په داسې حال کې، چې د نولسمې پېړۍ په اوږدو کې سیاسي ترورېزم د دښمن د ببوسلې کولو دود او دوول و، د تاج او تخت د مدعیانو د پاملرنې وړ و، د شلمې پېړۍ په پیل کې ټیک هغه وخت، چې افغاني ټولنې د با اعتباره رژیمونو د ټینګښــت پــر بنســټ سیاسي ثبات پیدا کړی و، د مطلقیت پر وړاندې د سیاسي مبارزې پــه برخه کې، پټ اپوزېسیون د سیاسي مخالف د څرګندوی په توګه، خپله لار پرانیستله.

سیاسي ترورېزم د شلمې پېړۍ په اوږدو کې پــه یــو ډول، نــور هــم پرمختللي پړاو ته ورسېد. په دې مانا چې تر دې پېړۍ دمخه په داســې حال کې چې ترورېزم، د شخصي غــچ اخیســتنې لــه مخــې د ځــاني (انفرادي) کړنې (اکټ) څرګندوی و، تر هغې وروسته له یو لــړ ګروهــو څخه، چې د ټاکلي سیاسي سازمان په چوکاټ کې یې انعکاس موندلی و، د دفاع د تکتیک په توګه ځان څرګند کړ. دې سازمان ته د سیاسي واک تر لاسه کول او یا یې ساتل د زیاتې پاملرنې وړ و.

پر افغانستان باندې د شوروي یرغل د نښو نښانو له کبله، سیاســي ترورېزم ته له قهر نه په ډکه دودیزه افغاني ټولنه کې د ښې ودې زمینه برابره شوه. د دې ودې لاملونه دادي:

ـ د ولســواکۍ او خپلــواکۍ د موازینــو او سیاســي شــعور د ودې نشتوالی، ددې پرځای چې دوی خپل سیاسي مخالفین پــه دې قــانع

کړي، چې د سياسي غونډو د جوړېدو او د ټاکنو صندوقو ته، چې تراوسه لا جايز او دود نه وو، ولاړ شي، يو بل ته مورچل نيول غوره وګڼل.

ـ د تروريزم په القاح او سياسي وېرې په خپرولو کې د تاريخ د زده‌کړې رول:

ـ د سياسي او ټولنيز کړکېچ پر ناروغۍ د افغاني ټولنې اخته کېدل، چې د هغې په بهير کې د ژوند تېر جوړښتونه پرته له دې، چې نوي ارزښتونه يې ځای ونيسي، تر پوښتنې لاندې راغلل، دې کړکېچ د قانون او دولت د واکمنۍ وېره له منځه يوړه او د شخصي غچ اخيستنې او ځينې وخت يې د عقيده يي تروريستي جګړې لپاره په داسې شرايطو کې لاره هواره کړه، چې جګړې د مذهب اخلاقي ملې سوزولې وې، د ايډيولوژۍ او اخلاقو ارزښتونه لا دومره ژور شوي نه وو، چې د دولتي پوښتنې او د قانون د واکمنۍ تشه ډکه کړي.

ـ د ژوند د دوام لپاره د مهاجرو افغانانو مادي او اقتصادي اړتياوې. بهرنيو لاسوهونکو هېوادونو له دې اړتياوو نه (( د اجيرو تروريستانو)) د ګومارنې لپاره ناوړه ګټه واخيسته.

په ځينو برخو کې د بهرنيو هېوادو سياسي هدفونو د تروريستانو له سياسي موخو سره سمون وخوړ. بهرنيو هېوادو ځينې وخت له ټاکلو افغاني سياسي ډلو سره يوځای پر ترور او وېرې خورولو لاس پورې کړ.

ترور غالباً له سياسي پلوه دوه هدفه درلودل: يو د دښمن په ليکو کې د وېرې او وحشت رامنځته کول، دلته يوازې د سياسي شخصيتونو له منځه وړل مقصد نه دي، بلکې د دښمن ټوله شتمني هدف ده او بل د يو

**شخصیت په شاوخوا کې د یو عقیده یــي بهیــر پــه وده کــې د همغــه شخصیت د فزیکي ترور له لارې د خنډ رامنځته کول. په افغانستان کې د خپلواکۍ تر ګټلو وروسته په نږدې اتو لسیزو کــې د دولــت د ځینــو مخالفینو، د دولت پر وړاندې زیاتره د ترور له لومړني ډول ګټه اخیستې ده. په داسې حال کې چې د ترور دویم ډول زیاتره د مطلقه واکمنو پــه واسطه له سیاسي اپوزیسیون سره په چلنــدکې د پــاملرنې وړ و او (د مستبدو واکمنو په اند) په زړه پورې پایلې ترې لاسته راغلي دي.**

**د خپلسرو واکمنو له خوا سیاسي ترور، چې پر دولت باندې واکمــن حقوقي فرهنګ کې ورته د اعدام[1] نوم ورکړ شــوی، د خپلــې خوښــې نتیجو د ترلاسه کولو ستر علت په دې کې دی، چې زموږ پــه وروســته پاتې هېواد کې د خانواکۍ او ارباب رعیتۍ ټولنیز قبیله یي جوړښت ته په پاملرنې سره، د یوې ډلې د باور وړ شخصیتونو باندې مفکــوره یــي معتقدات راټولېږي. څرنګه چې دا شخصیتونه د سیاسي ســازمانونو او تشکیلاتو په منځ کې ځای نیسي، د هغو په فزیکي له منځه وړنې سره اړوند سیاسي سازمان او تشکیل پاشل کېږي. په دې شرط چې نوموړی سازمان د لارښوونکي شخصیت تر وژنې وروســته د ټــولنیز ځــواکمن ملاتړ خاوند شوی نه وي:**

**ـ د لومړي مشروطیت غورځنګ ( پټه ملي ټولنه)، چې پر (۱۹۰۳م) کال جوړ شو، تر درې کلن پټ فعالیت وروسته ونیول شو، د هغه (۴۳)**

---

[1] اعدام ( د قانون پر بنسټ جوړ شویو نظامونو کې) له قانون نه د سرغړاوي او (اســتبدادي نظامونو کې) د واکمن له ارادې نه د سرغړاوي په مقابل کې تر ټولو ســخته ســزا ده، تــرور د خپلسرې واکمنې ډلې له نظره له هغه اعدام څخــه عبــارت دی، چــې لــه واکمــن (برحــال حکومت) نه د سرغړونې په مقابل کې ورکول کېږي.

تنه غړي د امیر حبیب الله خان په وسیله ووژل شول او یا زنداني شول. غورځنګ عملاً له منځه یووړل شو.

ــ د دویم مشروطیت غورځنګ پر (۱۹۱۱م) کال جوړ شو. دا غورځنګ پر پادشاه باندې دخپل یو غړي (عبدالرحمن خان لودین) د ناوړه ناکام قصد له امله د لومړي مشروطیت پر برخلیک اخته او تار په تار شو.

ــ مترقي ډیموکراتیک ګوند د خدای بښلي میوندوال تر وژنې وروسته ونه کړای شول، په پښو ودرېږي او خپل ژوند ته دوام ورکړي. که څه هم د یوې نیمې میلادي لسیزې په اوږدو کې د ((مقاومت)) د جریدو په خپرېدو سره ددې ګوند د پاتې شونو غړ څه نا څه پورته شو، خو ګوند هېڅکله بیا راژوندی نه شو.

ــ د سردارمحمد داود د ملي غورځنګ ګوند (۱۹۷۷م) کال د هغه له وژلو سره (۱۹۷۸م کال اپریل) له منځه لاړ.

ــ د خلکو ډیموکراتیک ګوند د نورمحمد تره کي او حفیظ الله امین په وژنې سره تباه کوونکی ګوزار وخوړ. هغه څه چې د ((پرچم)) ډلې تر نامه لاندې یې خو کاله فعالیت وکړ د (وطن ګوند) د نامه له نظره، سیاسي تګلارې او عقیده یې آرونو یې له لومړۍ طرحې سره ډېر زیات توپیر درلود او په واقعیت کې د یو بل مستقل ګوند د رامنځته کېدو څرګندوی و.

ــ په زیات ګومان د کابل مسلمان ډوله اداري، د خپلو خادیستو ملګرو په وسیله د (۱۹۹۵م) کال پر نومبر د تفاهم او ملي وحدت شورا د رهبرۍ غړو (جنرال عبدالحکیم کتوازي او وزیر محمد څدراڼ) وژنه، د تفاهم شورا د فعالیت د سستیا سبب شوه. نوموړې شورا په داسې حال

کې، چې پخوا یې په منظم ډول د افغانستان د ورځنیو ګرمو پېښو په اړه کنفرانسونه جوړول او خبرتیاوې یې صادرولې، په یو واریز ډول د چوپتیا او تمېدو له خطر سره مخ شوه. دا خبره که چېرې د شـورا د سیاسـي پایته رسېدو په مانا نه وي، نو ضرور خو به یې د فعالیت په بهیر کـې د ځنډ ځرګندوی وي.

په افغانستان کې د محمد داود دکودتا له پیل نه د شوروي د لښـکر کشۍ تر لومړي کال پورې، د اوو کلونو په بهیر کې شپږ دولت رییسان یا صدراعظمان وژل شوي دي. پر همدې وخت لږ تر لـږه څلـور ناکـامې کودتاوې کشف او په سلګونو تنه عاملین یې ځپـل شـوي. دا لـړۍ د سیاسي واک د ترلاسه کولو ډیموکراتیکـو لارو چـارو ( ټـاکنو، لـویې جرګې...) ته د افغاني سیاسي شخصیتونو د نه پاملرنې ښکارندوی او د واک د ترلاسه کوونکي په توګه، د دولتي تروریزم د منلو ځرګندوی ده. په بله مانا تروریزم د دولت د سیاست په ارکانو کې مناسب ځای پیـدا کړی دی.

د افغانستان د ستونزې نړیوال کېدل او د هېواد د پېښو په تګلـوري کې د سیمې دهېوادونو لاسوهنې، تروریزم پر داسې یوې حربې بدل کړ، چې د بهرني هېواد په لاس د هغه د دښمن هېـواد تـر ملاتـړ لانـدې سیاسي شخصیتونه وځپي. دا سیاسي شخصـیتونه، چـې د نـورو پـه معامله کې خپل ژوند په وړیا ډول له لاسه ورکوي، افغانان دي. له نښو نښانو څخه ځرګندېږي، چې سعودي عربستان پورې د افغاني ډلو ځینې ترلي سیاسي شخصیتونه د ایران د دولت له خوا ترور شوي او یا د هغه پر عکس.

په پاکستان کې د ضیاءالحق او نوازشریف حکومتونو د آی، اس، آی په واسطه د پښتوانې پاچا د پلویانو، افغان ملتپالو او په عمومي ډول پېژندل شویو روښاندو د ترور (وژنې) منظم پلان تر لاس لاندې نیولی و.

د هندوستان دولت، چې د افغانستان د کورنیو سیاسي پېښو پرمختګ یې له نږدې تر څارنې لاندې و، له شک پرته یې د کابل د ((واد)) په ملګرتیا په پاکستان پورې د تړلو افغاني ډلو د عناصرو په وژنه کې بنسټیز رول لرلی دی.

د افغاني شیعه ګانو کړیو ته د منسوبو عناصر وژل، د سنیانو پر یوې ډلې باندې د تور پورې کول، په زیان منونکې افغاني ټولنې کې د دوو مذهبونو د پلویانو ترمنځ د بې اتفاقۍ او دښمنۍ رامنځته کول، د هغو هېوادونو په واسط ترسره کېږي، چې د افغانستان له کړکېچ نه د ګټې اخیستنې هیله یې د افغاني ټولنې د کورنیو مذهبي او قومي بې اتفاقیو او دښمنیو په دوام پورې تړلې ده. په همدې ډول د یو قوم او قبیلې د سړیو وژل او پر بلې قبیلې او قوم باندې تور لګول، په بهرنیو هېوادو پورې د تړلیو افغان تروریستانو په واسطه د قومي بې اتفاقۍ د اور ګرم ساتل، د نوموړو هېوادو د ګټو د پاللو مانا ورکوي.

بهرني هېوادونه د افغاني ټولنې له داخلي، قومي، قبیله یي او مذهبي اختلافونو څخه د ګټې اخیستنې په کار کې د سیاسي ډلو ترمنځ، چې اکثره د قوم، قبیلې او مذهب له مخې جوړ شوي دي، د دښمنۍ او واټن د لاسختولو لپاره په افغانستان کې د نږدې شلو کلونو کړکېچ په بهیر کې ډېر بریالي وو. سیاسي تروریزم او د دې تروریزم د یوې حربې په

توګه له افغانانو نه ګټې اخیستنې، د بهرنیو هېوادونو بریالیتوب تضمین کړی دی.

د اسلامي تنظیمونو په خپل منځي اړیکو کې کـړکېچ، دتروریســتي پېښو د اټکل په اړه د جالبو او هم دروغجنو پېښو د ښکاره کېدو سبب شوی دی: هغه وخت چې د دې کتاب لیکوال په پېښور کې اســتوګن و (۱۹۹۰م او ۱۹۹۱م کلونه) د ښاغلي مجددي د ملــي نجــات جبهــې او ښاغلي حکمتیار د اسلامي حزب ترمنځ اړیکــي ډېـر کــړکېچن وو. د اسلامي حزب یو غړي ماته روایت وکړ، چې: (( زموږ ګوند پر دې نــږدې وختونو د خپلو استخباراتو یــوه پراخــه شــبکه د حضــرت صــاحب د مصونیت د تامین لپاره موظفه کړې ده. موږ تشویش لرو، چې د حــزب دښمنان به ښاغلی مجددي ترور کړي او په دې برخه کې به د حزب له بد شهرت نه په ګټې اخیستو سره خپله ګناه زموږ پر غاړه راواچوي.)) ما د ټوکو په بڼه وویل: (( د اټکل له مخې، ښاغلي مجددي بــه د ښــاغلي حکمتیار د ځان د دفاع لپاره همدې ته ورته هڅه کړې وي...))

زما دوست وویل: ((حزب د بل چا مرستې ته اړتیا نه لري)). ما ورتــه وویل: (( مقابل لوری)) ستاسو له اړتیا نه چندان خبر نه دی او ضرور یې د حزب د امیر د امنیت د تامین لپاره لازم تدبیرونه نیولي دي...

په افغانستان کې د کمونیستي واکمنۍ د بهیر په اوږدو کې د شوروي کې، جي، بي او د کابل خاد او واد د تروریستي موخو د ترسره کولو لپاره زیاتې پیسې لګولې دي. ((خاد)) او ((واد)) د تروریستي توطیو د ترسره کولو له لارې څو هدفونه تعقیب کړي دي:

ـ په سیاسي برخه کې د قدرت د انحصار او واک د ساتلو لپاره د مخالف اپوزېسیون دسیاسي شخصیتونو له منځه وړل.

ـ د دښمن پر لیکو د سیاسي فشار راوړل.

ـ د قومي او مذهبي بې اتفاقۍ رامنځته کول.

ـ له یوې خوا د اسلامي تنظیمونو ترمنځ د دښمنۍ زمینې برابرول او له بلې خوا د پوهنې او پوهنتون تحصیلکړیو منځلارو مسلمانو ملتپالو او د یاد شویو عناصرو وژل او پر اسلامي ډلو د هغوی د وژنې تور لګول ( دا حکم عام نه دی، ځینې اسلامي تنظیمونه هم د اخرت د اجر(!) په ګټلو کې د سر لوڅو او بې ړیرو مسلمانانو د وژلو له لارې، د کابل د حکومت په جرم کې شریک دي) ترسره شوي دي. د خلکو ډیموکراتیک ګوند په دې ډول غوښتي دي، چې باید د پلار وطنې جبهې یا ملي جبهې پرانیستې غېږ د قلموالو مجاهدینو پناه ځای معرفي کړي.

په هرحال! دا چې د سیاسي وژنې لامل د کابل حکومت وي او که په بهرنیو هېوادونو پورې تړلي اسلامي تنظیمونه، د پوهو مجاهدینو په منځ کې د وېرې او وحشت د فضا د رامنځته کېدو سبب شو. د تروریزم پر وړاندې له جګړې تېښته د دې کته ګورۍ مجاهدینو طبیعي عکس العمل او پاسیف و، چې د هغه د دوام لپاره یې لاره هواره کړې ده.

تر تروره ډېره وېرونکې خبره، د هغو سیاسي ډلو په واسطه په راتلونکي افغانستان کې د سیاسي واک د نیولو تصور دی، چې د مخالفینو پر وړاندې له وژنې (ترور) څخه (( د سیاسي مبارزې د تکتیک)) په نوم کار اخلي. له دې ډلو نه د جوړ حکومت په سیاسي

تګلاره کې به له ډېر لږ مصونیت او سیاسي خپلواکیو څخه د ګټې پورته کولو لپاره کوم ځای او فضا مطرح نه وي.

جګړه او ټولنیز کړکیچ او تر دې لوړ د ټولنیز ژوند د جوړښتونو او ارزښتونو راټیټېدل، قومي، قبیله یي او مذهبي اختلافونو، د کینې او غچ اخیستنې د احساس زیاتون، د ولسواکۍ پر آرونو نه پوهېدنې، په افغاني ټولنه کې د تروریزم د ودې مساعده رواني زمینه برابره کړې ده او تروریزم یې د سیاسي موخو د پرمخبیولو د عادي وسیلې په توګه بدل کړی دی.

ترور او وېره خپرول، د مخالف لوري د ایمان او پوهې د ټینګې واکمنۍ پر وړاندې د ماتې خوړلي تروریست د کمزوري منطق د چلند ښکارندویي کوي. تروریزم په سیاست کې د جنایت د اکټ د نښې په توګه تېر مهال پر دې نه دی بریالی شوی، چې د خپلواکۍ د ابدي ارزښتونو، برابرۍ او عدالت د ترلاسه کولو لپاره د انسان د مبارزې خنډ شي او په راتلونکي کې به هم بریالی نه شي.

ب- روغه: تر یوې لسیزې زیات جهاد، ددې سبب شو، چې ټول جهادي تنظیمونه خپل غړي وسلوال کړي او له دې وسلې، نه یوازې پر دښمن باندې د ګوزار، بلکې ځینې وخت د خپلمنځي اختلافونو لپاره ګټه پورته کړي.

وسلوال خلک، چې د وسلې له کارونې سره روږدي شوي دي، په دې خبره قانع کول، چې د سیاسي تاو تریخوالي د له منځه وړلو لپاره له قهر شیندلو پرته بله لار ( لکه ټاکنې، رفرندم، لویه جرګه) هم شته، ډېر سخت کار دی، خو ناممکن نه دی. هغه څه چې لږ څه ستونزمن

ښکاري، دا دي چې: موږ هغه وسلوالې ډلې چې تل یې په خپلو ځانګړو سیمه ییز اغېزمنو برخو کې فعال ژوند کاوه، د انتخاباتو له پایلې نــه د اکثریت د راپیدا شویو نظر درناوي ته راوبولو. د اکثریت د واکمنۍ منل او د مخالف ( نه دښمن) لوړکي په واسطه د نه کولو د امر ترسره کــول، ( د دودیزو جرګو له لارې) تعاملي یا ( په اوږده واټن کې د هغې د زده کړې او القاح له لارې) اکتسابي پدیده ده. د نړدې شلو کلونو جګړې، د ټولنې د دودیز ژوند زیاتو ارزښتونو ته پرتــه لــه دې چــې د ولســواکۍ نــوي جوړښتونه یې ځای ونیسي، زیان اړولی دی، خلک د ولسواکۍ له یوې ډېرې بنسټیزې پدیدې یانې د رایې له حق څخه د ګټې اخیستلو تمرین نه لري: تر (۱۹۲۱م) کال ( د لومړي لیکلي اساسي قانون تــر تطبیــق) وروسته د (۱۹۷۸م) کال تر کمونیستي کودتا پورې یانې تر نیمې پېړۍ نه په لږ زیاته موده کې رایه ورکوونکي ( هغه په سلو کې (۲۰ ) کسان، چې د رایو حق یې درلود) یوازې درې ځله (په (۷)مې، (۸)مــې او (۱۲)مــې دوره کې) د رایو ورکولو صندوقونو ته تللي دي، خو هغه ټاکنې، چــې د ولسواکۍ د ښوونې په نیت ورڅخه تبلیغاتي ګټه اخیستل کېده، تر لسو ځلو زیاتې اعلان شوې دي.

ځکه نو زموږ په هېواد کې پر ټاکنو ډېره لګول، هغو ته د عقیده یي او رواني لارو چارو تر برابرولو دمخه ګټوره، پایله نه ورکوي. د هغه پښــت لپاره، چې د خپلې ځوانۍ د عمر په زیاته برخه کې یې، د ټوپک لــه ډز پرته بل هېڅ شي، د سیاسي فضا چوپتیا نه ده ماته کړې او د خپل ژوند په اوږدو کې یو وار هم د رایو ورکولو صندوقونو تــه نــه دی ودرېــدلی، ټاکنې یوازې د یوه سیاسي شعار تر بریده کېدی شي ارزښت ولري.

ځینو تنظیمونه له ټاکنو سره د مخالفت عقیده یي دلایل هم لــري: بنستپالې اسلامي ډلې د عقیده یي ارزښتونو له مخې، ((اهــل حــل و عقد)) جرګه د ټاکنو د ځاینیونې وړ ګني. د ((اهل حل و عقد)) شــورا، چې له مذهبي پوهانو څخه جوړه شوې ده، ټاکنو ته د مذهبي پوهې او سیاسي شعور د نه لرونکو پرګنو د ارادې د ځرګندوی په توګــه، زیــات ارزښت نه ورکوي.

د اهل حل و عقد پلویان په دې ګروهه دي، چــې مــذهبي پوهــه د حکمت کیلي ده. په دې ځای کې موږ د هغه حکومت له طرحــې ســره چې د اپلاتون د نظر له مخې باید د فیلسوف په واسطه اداره شي د حل و عقد شورا د طرحې د نږدېوالي شاهدان یو.

د نږدې شلکلنې جګړې او له هغې څخه راپیدا شوي ټولنیز کړکېچ، د افغاني ولسواکۍ د یو ښکلي توکي (عنصر) په توګه د لویې جرګې اعتبار ته هم زیان ورساوه. د لویې جرګې دود ته مخه کول د سیاسي او قومي مخالفت له خطر سره مخ شول.

ـ سیاسي له دې پلوه؛ هغه شخصیتونه او ډلې چې د جهاد له لسیزې نه راپیدا شویو نویو شرایطو، هغوی د واک د نویــو ســتنو پــه توګــه د پاملرنې وړ ګرځولي، لویه جرګه د واک کلاسیکه او پرې ښودل شــوې پدیده ګڼله.

ـ قومي له دې پلوه چې قبیله یي او مذهبي لږکیو ته منسوبې ډلې د لویې جرګې په جوړښت کې د پښتنو قبایلو ( چــې د ټــولنې اکثریــت نفوس جوړوي) زیاته ونډه او د افغانستان د نوي دولت په جوړېدو کې د هغوی رول، چې په ملي لارښوونه کې د نوموړو قبــایلو لــه رول ســره

یوځای و، لویه جرگه ( د نفوس په جوړښت کې د دې قبایلو د اکثریت شمېر ته له پاملرنې پرته) د پښتنو قبایلو د واکمنۍ د حقوقي توجیه حربه گڼي او د دولت په اداره کې په خپلې پخوانۍ ونډې راضي نه دي. دا ډلې لویې جرگې سره له قومي پلوه چلند کوي. هغوی ان د افغانستان له تاریخ نه د لویې جرگې نوم د له منځه وړلو لپاره ((جرگه بزرگ ملي)) و ((شورای کبیر میهني)) په نوم، د لویې جرگې د نوم بدلونې په لټه کې دي.[1] د لویې جرگې د تاریخي نومونې پر ځای، د جرگه بزرگ ملی، جرگه بزرگ میهنی او نورو اصطلاحاتو کارول، د هېواد د تاریخ د تحریف او د افغانستان د نوم د له منځه وړلو لپاره د معلوم الحاله عناصرو د عمومي پلان یوه برخه ده، دا د هغو کړیو ترمنځ د غم او خواشینۍ سبب شول، چې د افغانستان له تاریخي ارزښتونو سره مینه لري او هغه د خلکو ملکیت گڼي. یو قوم، یوه سیاسي ډله او یوه مذهبي فرقه د دې حق نه لري، چې هغه د لنډ فکرۍ او کینې له مخې لرې گوزار کړي او د خپل ځان له خوا جوړ شوي او مصنوعي اصطلاحات دهغې پرځای کېنوي.

افغانان د یوې کورنۍ په توگه، د افغانستان په خاوره کې ژوند کوي. ددې کورنۍ یو غړی حق نه لري، د یوې کورنۍ میراث، چې ټولو پورې تړلی دی، په یوازې ځان او د زور په ښکاره کولو سره له نورو واخلي. د لویې جرگې پر ځای د هرې بلې اصطلاح کارونه نه شي کولای د هغه څه ټول څومره والی او څرنگوالی څرگند کړي چې په لویه جرگه کې شته. د

[1] ((جرگه های بزرگ ملی افغانستان)) د محمد علي فیض زاده تالیف، ۱۹۸۹م کال، پېښور چاپ، کتاب ته دې مراجعه وشي.

لويې جرګې پرځای د بلې کلمې کارول د افغاني ولسواکۍ ( لويې جرګې) تر ټولو آر او نړه پديدې بڼه (قيافه) مسخ کوي او د افغانستان په تاريخ کــې د ولسواکۍ پر اصولو د ولاړو موسسو د څېړنې په برخه کې، په ځانګړي ډول د بهرنيانو لپاره ابهامات او ستونزې رامنځته کوي.

په سويس کې مختلف قومونه ژوند کوي. خو د (لاندس ژمند) اصطلاح، چې د مستقيمې ولسواکۍ د ځرګندو غونډو لپاره کارېدله، د ســويس پــه معاصر تاريخ کې يې خپله لاره پرانيستې ده.

د ((بونديستاک)) او ((بونديسرات)) نومونې، چې همدا اوس د المــان د پارلمان دوو جرګو ته کارول کېږي: اصلاً د شمالي المان (۱۸۷۱م) کــال تــر (۱۸۹۹م) کــال) او وروســـته د المــان امپراتــورۍ ( ۱۸۷۱م تــر ۱۹۱۸م) د کانفدراسيون جرګو ته کارېدلې.

د ((لوک سبها)) او ((راجاسبها)) نومونې، چې د هندوستان د پارلمان د دوو جرګو نومونه دي، اصلاً آريايي کلمې دي، چې د هندوستان په مختلف النژاده او ګڼ قوميزه هېواد کې د نژادونو او قومونو د بريدونو له خطره بــچ پاتې شوي او د هندوستان د اوسني اساسي قانون په غېږ کې ارامې پرتــې دي. د يو تاريخي ارزښت د ښکارندويه نومونو د ساتنې په برخه کې کېدی شي ګڼ شمېر بېلګې وړاندې شي او د هغو کسانو لپــاره، چــې غــواړي د افغانستان له کړکېچن حالت څخه ملي ضد او د هېواد د قومونو د يــووالي خلاف، ګټه پورته کړي، د پوهېدنې سبب شي.

په هرحال! د اساسي قانون له څلورو متنونو څخه، چې د افغانســتان د خپلواکۍ تر ګټلو وروسته د ثور تر کمونيستي کودتا پورې نافذ شول، د هغه درې متنونه د قهرجنو پېښو په واسطه لغوه شول، ځکه نو د څلــورو لويــو

جرګو له پرېکړو څخه، چې د څلورو اساسي قوانینو د تدوین په چوکاټ کې منعکس شوې وې، د قهر تر رازېږېدو وروسته د پرېکړو درې کته ګوریــو، د وخت په اوږده بهیر کې د پلي کېدو مجال پیدا نه کړ. لــه همــدې کبلــه د سولې او سیاسي روغې د روحیې په پیاوړتیا کې د لویې جرګې روزونکــی رول په ټیټه سطحه پاتې شو.

له قانون سره سم په اداري چارو کې نه بلدتیا او د مقصــد پــر لــوري د اوډلي او پلانیزه یون نه لرل، زموږ پر روحیې داسې سیوری خور کړی، چې دمجاهدینو هغه لنډ مهالی حکومت، چې په پېښور کې جوړ شو، نــه یــې اساسي قانون درلود او نه حکومتي کړنلاره.

سربېره پر دې هغه ایتلافي اداره، چې د جمعیت تنظیم په مشــرۍ تــر (۱۹۹۲م) کال وروسته د کابل پر ځینو ناحیو واکمنه شوه، اساسي قانون یې نه درلود او هېڅکله یې خپله تګلاره ( چې اصلاً یې وجود نه درلود) اعلان نه کړه.

د طالبانو اداره، چې تراوسه یې د افغانستان درې پر څلور برخې تر خپل کنټرول لاندې راوستې دي، نه اساسي قانون، نه ملکي حکومت او نه هــم سیاسي تګلاره لري.

# پایله

د افغانستان خلک ډېر لوړ سیاسي شعور نه لري او د سیاسي ثبات د جوړوونکي په توګه یې د ولسواکۍ له تجربې څخه ګټه پورته کړې نه ده. نړدې شلکلنې جګړې د قبیله یي ولسواکۍ پر دود د شک او تردید سیوری خور کړی دی. په داسې حال کې، چې د افغانستان خلکو د یو ملت په توګه د جهاد په کلونو کې خپل ملي پیوستون ساتلی و، د جهاد په پای کې ملي یووالی وشلېد. تر اوسه پورې داسې مشر، چې د خپــل شخصیت پر شاوخوا د ټولو باور جلب کړي او د افغاني ټولنې بېلې شوې ټوټې د یوې واحدې مشرۍ په چوکاټ کې راټولې کړي، څرګند شوی نه دی.

په افغانستان کې همدا اوس د قهر او روغې دواړه پدیدې د پېښو پر زېږون بوختې دي، خو د هېواد په ګوټ ګوټ کې د ډزو تر غږه د سولې غږ ډېر لوړ غوړونو ته رسېږي.

جګړې تل د ملت د ارادې په څرګندېدو سره پایته رســېدلي دي. د سولې د ټینګښت او د افغان ملت د ارادې د څرګندېــدو لپــاره ډېــرو ځواکمنو کورنیو او بهرنیو لاسونو پر اغېزمنتوب پیل کړی دی.

د افغانستان په ګاونډیو هېوادو کې د حکومت د ټاکلو لپاره د ټاکنو دایرول، د افغاني ولسواکۍ دودیزو موازینو ته مخه کول، چې په لــوړه کچه د لویې جرګې په واسطه تمثیلېږي، په ذهنونو کې راژوندي شوي

دي. هېڅ یوه دښمنه ډله د سولې او سیاسي ثبات د تامین د وسیلې په توګه د انتخاباتو دایرول نه ردوي. اختلافات یوازې د ټاکنو د دایرولو پر وخت دي.

د جګړه مارو د ځینې او ټکونې په تګلوري سره د طالبانو راټوکېدل د دې سبب شول، چې نن روځ په افغانستان کې په پوځي او سیاسي ډګر کې دوه ډلې (طالبان او له بلې خوا په جمعیت تنظیم پورې تړلی ایتلاف) د لسګونو وسلوالو او دښمنو ډلو ځای ونیسي. دې کار د ملي تفاهم له ټینګښت سره مرسته کړې ده.


افغاني ملتپالنې د هېواد تاریخ د یو لوی جوړونکي ځواک په توګه د افغاني ټولنې پاشل شوي عناصر، د ټولنو او ملي جبهو په چوکاټ کې له یو بل سره یوځای کړي او په لوړ غږ یې بهرنیو لاسوهنو ته اخطار ورکړی دی.

د افغانستان شخړې یو ځل بیا ورو ورو د سترو هېوادو او د سیمې هېوادو پر اړیکو د واکمنۍ عمومي ستراتیژۍ په محتوا کې ځای نیولی دی. له دې سره پر یوه وخت د افغانستان شخړې د حل لپاره د ملګرو ملتو رول ډېر محسوس شوی دی. ملګرو ملتو تل په سیمه او نړۍ کې د سولې د وقایې لپاره په افغانستان کې دسولې پر اړتیا ټینګار کړی دی. سربېره پر دې د منځنۍ اسیا له شتمنۍ او سوداګریزو امکاناتو څخه ګټه اخیستل، په افغانستان کې د سولې او سیاسي ثبات له تامین سره مستقیم اړیکي لري. دا کار ځینې هېوادونه ناچار وي، چې د افغانستان شخړې د ژر تر ژره حل په نیت د ملګرو ملتو پر موسسې له خپل اغېز څخه کار واخلي. پورتنیو کورنیو او بهرنیو لاملونو د افغانانو د دښمنیو په

نرمولو کې زیات اغېز لرلی او هغوی یې د ټولنیزو شخړو د حـل لپـاره، روغې ته رابللي دي.

په هرحال! راتلونکی افغانستان به د قبیلـه یـي اداري لـه دودیـز سیستم سره، د کړکېچ او د جګړې د بهیر د ((نوښتونو)) په یوځای کولو سره بېرته سیاسي ثبات ترلاسه کړي.

افغان ملت به د پېښو له خطره ځـان وژغـوري. سـوله بـه د ملـي خپلواکۍ د ډاډځي په توګه تامین شي، خو په هغه هېواد کې، چې تاریخ یې په وینو لیکل شوی، د تلپاتې سولې او ټولنیز ثبات تامین به د وخت تېرېدو ته اړتیا ولري. د داسې وخت تېرېدل، چې په هغه کې به سوله او روغه د ژوند د یوې طبیعي او اوږدې ضابطې په توګه، چې د یـو ملـي حکومت له خوا د یو ماسټر پلان په ډول طرح او پلي کېږي، د زور او قهر ځای ونیسي.


په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو
محاکمه
ليکوال
پوهنوال دوکتور م.عثمان تره کی
ژباړن
محمد اسمعيل يون
۱۳۸۷ ل

# په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه

لیکوال

پوهنوال دوکتور م. عثمان تره کی

ژباړن

محمد اسمعیل یون

# بسم الله الرحمن الرحیم

**کتاب پېژندنه:**


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه |
| لیکوال: | پوهنوال دوکتور م، عثمان تره کی |
| ژباړن: | پوهنیارمحمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۷۹ل کال |
| دویم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| دژباړن پرله | |
| پسې نومره: | (۱۷) |
| د خپرندوی | |
| پرله پسې نومره: | (۱۷) |
| کمپوزر: | ضیاالرحمن ضیا |

# ډالۍ

**د هغو پاکو او سپېڅلو شهیدانو ارواوو ته چې د یرغلګرو او کمونیزم په مقابل کې یې یوه تاریخي (نه) وویله، په دې لاره کې یې سربایلود اود جګړې جنایتکارانو دمحاکمې ستر مسوولیت یې موږ ته راوسپاره.**

# ددې اثر پردویم چاپ څو یادونې

استاد پوهنوال دوکتور محمدعثمان تره کی د افغانستان له مخــورو او ځیرکو سیاسي شخصیتونو څخه دی، چــې پــر افغانســتان د راغلــې غمیزې په ټولې دېرش کلنې موده کې یې د قلم له لارې د مبارزې ډګر تود ساتلی دی. استاد روستار تره کی په دې ټول بهیر کې یوه زره هم له خپل ملي دریځ څخه په شا شوی نه دی. دی په افغانستان کې د پیــل شوې جګړې دناتار او سیاسي ناورین له قربانیانو څخه دی، نو ځکه خو ترهر چا زیات، ده د جګړې او جنګــــــي جنایتکـــارانو پر ضد مبارزه کـــړې ده او لاهــــم دې مبـــارزې تــه دوام ورکــوي.




دا اثرده ددې اوږدې مودې دمبارزې او هڅو بېلګه ده، ده دا اکتاب ما پر (۱۳۷۹ل) کال ژباړلی او چاپ کړی و، تر چــاپ وروســته ددې اثــر د ارزښتمندۍ له مخې ډېر ژر د هغه کمی احساس شو. استاد روستار تره کي چې په دې کتاب کې د جنایتکارانو د محاکمې لپاره کــومې هیلــې

ځرګندې کړې وې، هغه نه یوازې عملي نه شوې، بلکې سیاسي ځرخ لا د جنګسالارانو په ګټه تاو شو، د مجازاتوپر ځای مکافات ورکړل شول او اوس هم دا لړۍ روانه ده. نو په دې خاطر چې پخواني جنګسالاران پــه نوي رنګ او نوي لباس کې ځانونه له خلکو غلي نه کړي، ددې اثر بیــا چاپ ته اړتیا نوره هم زیاته شوې ده، نو ځکه مې دا اثر له سره کمپوز او بیا چاپ کړ. پوره باور دی، چــې ددې کتــاب پــه چــاپ ســره ځــوک جنګسالاران نه محاکمې ته راکاږلای شي او نه هم ځــوک ورځخــه دا جهان ورکړی امتیاز اخیستلای شي، داکتاب به یــوازې دومــره تــاثیر وکړي، چې زموږ د ولس د اوسني او راتلونکي نسل له ذهن ځخه د ملي خاینانو او زورواکانو ځېرې هېرې نه شي. ددې ورځې د ارمان په هیله، چې افغانستان کې دظالم او مظلوم، حق اوباطل،خاین او خدمتګار، ملي اتل او ملي خاین، حساب وکتاب سره سپین او یوې خوا ته شي.

په درنښت

پوهندوی محمداسمعیل یون

کابل – افغانستان

۱۳۸۷ل کال د سلواغې ۲۴مه نېټه.

# جنایتکاران باید محاکمه شي

څرنګه چې ټولو ته څرګنده ده، زموږ ګران هېواد افغانستان دپردیو لاسوهنو او زموږ د خپل هېواد د سیاسي ډلو د مشرانو د بې کفایتۍ او د ځینو هېواد پلورونکو د ناوړه چلند له امله وران ویجاړ شو او ټوله مادي او معنوي شتمني یې له لاسه ورکړه. دا خبره هم ټولو ته څرګنـــده ده، چې افغانان په تش لاس، دایمان او عقیدې په ځواک له یوه ستر نړیوال زبرځواک سره ډغره ووهله اود قربانۍ یو بې مثاله معیار او ریکارډ یـــې ټینګ کړ. افغانانو نه یوازې د بهرنیو یرغلګرو پرضد جګړه کوله، بلکـــې دکورنیو جنایتکارانو او هېواد پلورونکو په مقابل کې هم جنګېدل، پـــر یوه وخت له دغو دوو خواوو سره د جنګېدلو له کبله زموږ ولس ته زیات زیانونه واوښتل، ان دومره زیانونه، چې دنړۍ پر مخ یـــې ډېـــرې کمـــې بېلګې لیدل شوي دي. ددې جګړې اوغمیزې په پیل کې زمـــوږ خلکـــو هیله لرله، خدای(ج) به داسې ورځ راولي، چې د افغانستان د جګـــړې ټول کورني او بهرني، سیاسي او جنګي جنایتکاران محاکمه شـــي او د خپلو عملونو سزا وویني. خو په ډېرې خواشینۍ سره باید ووایـــو،چې داسې ونه شول، داسې دردوونکې جګړې پیل شوې اوبیا دومره اوږدې شوې، چې د پخوانیو جنایتکارانو جنایتونـــه یـــې تـــر ســـیوري لانـــدې

راوستل. نړیوال سیاست اود ځینو هېوادونو ګټو هــم پرداســې لــوري بدلون وکړ،چې نور یې نو په افغانستان کې هغه پخوانۍ ګټې نه وې، نو ځکه یې د افغانستان جګړې اکثرو افغان جنایتکارانو ته سیاسي پنــاه ورکړه.

د شوروي له خوا د اشغال په کلونو کې نړیوالې ټولنې افغانستان ته ډېره زیاته پاملرنه کوله، د بشر حقوقو په برخه کې یې استازی پروفیسور ارمکورا ډېر ځله افغانستان ته سفرونه کول، دکابل لاسپوڅی نظام یې دنړیوالې ټولنې تر سخت سیاسي او اخلاقي فشار لاندې راوستی و، چې د بشر حقوقو رعایت ته پام وکړي. د ښاغلي  ارمکورا په هڅه او هاند په سلګونو افغان پوهان، لیکوال، فرهنګیان اوسیاسي اشخاص دمــرګ او زندان له شکنجو څخه ژغورل شوي دي. خو وروسته بیا د افغانســتان خونړۍ پېښې او هلته د بشر حقوقو مسله ورو ورو له یــاده ووتلــه. ان داسې  وخت هم راغی، چې د خدمتګار او جنایتکار توپیرول هم ګران شول.

هغو هېوادونو چې پخوا به یې په افغانستان کې دبشرحقوقو د پاللو دعوه کوله. هغوی د افغانستان سیاسي او جنګي جنایتکارانو ته پنــاه ورکړه.

د افغانستان خلک او په تېره بیا د جګړې قربانیان د نړیوالې ټولنې له دې چلند څخه سخت خواشیني دي.

استاد پوهنوال محمدعثمان تره کی د افغانستان د خلکو رښتینی خدمتګار، د هېواد ملي مبارز د یوه دراک عالم او پوه په توګه، چې خپله هم سیاسي ظلمونو او جنایتونو کړولی او زیات کلونه زندان یې ګــاللی

دی، تر هرچا زیات یې (د جگړې جنایتکارانو محاکمې) اړتیا احساس کړې ده.

استاد تره کی په افغانستان کې دجگړې د جنایتکارانو موضوع د راسپړنې او حقوقي سرچینو ته د هغو دور یادونې له لارې غواړي، زموږ د ټولنې له عامه ذهنیت اود نړیوالې ټولنې له افکاروڅخه دا موضوع هېره نه شي.

استاد ددې موضوع د هېرېدو د مخنیوي لپاره دادی لومړی مثبت گام پورته کړ او ((په افغانستان کې دجگړې جنایتکارانو محاکمه)) اثر یې ولیکه.

دا اثر د بشر حقوقو او جگړې حقوقو له ملي اونړیوالو معیارونو سره سم لیکل شوی، هر بحث یې تر ډېرې ژورې عملي څېړنې اوپلټنې وروسته لیکل شوی او وړاندې شوی دی.هیله ده، هم افغانان او هم نړیوال دې مسلې (د جگړې د جنایتکارانو محاکمې) ته پام راواړوي. نړیواله ټولنه مکلفه ده زموږ دهېواد جنایتکاران افغان ولس ته وسپاري، چې په یوه ملي او یا نړیواله محکمه کې محاکمه شي، گڼو بهرنیو هېوادونو په ځانگړي ډول د جرمني هېواد له ولس او حکومت څخه ډېره هیله کېدی شي، چې په دې برخه کې مرسته وکړي، ځکه چې د جرمني هېواد او ولس د تاریخ په اوږدو کې زموږ له هېواد او خلکو سره ښه دوستي پاللې ده او نوره هیله هم ورڅخه شته. اوس د جگړې یو شمېر جنایتکاران لویدیزو هېوادونو ته پناه ور وړي، چې د جرمني هېواد هم په همدې ډله کې دی. کېدی شي د جرمني حکومت له افغان ولس سره د بېسارې قربانۍ په خاطر، د هغو جنگي مجرمنیو په سپارنه

**کې له افغان ولس سره مرسته وکړي، چې یا په جرمني کې مېشت دي او یا د جرمني نورو ګاونډیو هېوادونو کې، په دې ډول به د افغانانو یو ملي ارمان ( د جنایتکارانو محاکمه) پوره شي، جنایتکاران به خپلې سزاوې ووینې او د نورو جنایتونو مخه به ونیول شي.**

**دهمداسې ورځې د را رسېدو په هیله**

**په درناوي**

**محمدحیدر اقبال پښتونیار**

# د جنگي جنایتکارانو محاکمه
# یوه ملي اړتیا ده

کله چې په افغانستان کې د (۱۳۵۷ل) کال دثور پر اوومــه نېټــه سیاسي بې ثباتي پیل شوه، نو ورسره ((عقیده یي بحران او دمعنویــت سقوط)) هم رامنځته شول، دټولنې ټولې خواوې په لړزېــدو شــوې. د (۱۳۵۸ل) کال د مرغومي پر شپږمه نېټه دبهرني یرغل په پیل ســره، د هېوادکورني کړکېچ نړیواله بڼه ونیوه او نور پراخ اړخونه یې پیدا کــړل. لنډه دا چې ټول هېواد پر داسې یو سور تنور او اورنۍ بټۍ بدل شو، چې افغانان په کې د نړۍ په شان وریتېدل او نورو یې ننداره کوله.

تراوسه پورې چې بشر او په ځــانگړي ډول دبشــري ټــولنې هــر ځانگړي ملت څومره جگړې او زیانونه زغملي، د څومره والي، پېچلتیا او څرنگوالي له پلوه د افغانانو له درنې غمیزې سره د پرتلې وړ نه دي. ددې غمیزې او ستر ناورین له امله زموږ ولس خپله زیاته مادي او مانیزه شتمني بایلوده،ان داچې پر هغو ارزښتونو یې هــم ډول ډول ســیوري خواره شول چې دوی یې د دومره قربانیو په بیه گټلو ته حاضر شوي وو. دا زیانونه کولای شو په لنډیز سره دلته یاد کړو:

- **اقتصادي:** د (۲۲) کلنې جگړې په ترڅ کې په هېواد کې تر (۲۰۰۰) زیاتې لویې او وړې فابریکې، کارځایونه، کــارخونې،

لاسي صنعتي دستګاوې او نور توليدي وسايل له منځه وړل شوي دي.

- **ښوونيز:** دټول هېواد په کچه (۳۵۰۰) بېلابېل ښوونځي تباه شوي او دنړدې لس مليونه افغانانو د لوستواليدو مخه نيول شوې ده.
- **پوهنيز:** د لوړو زده کړو څوارلس موسسې، پوهنتونونه، پوهنځي او د ښوونکو د روزنې موسسې يا په نسبي او يا بشپړ ډول زيانمن شوي دي. د ټول هېواد په کچه تر (۵۰)زرو زيات لوړ زده کړي افغانان د هېواد او مسلک پرېښودلو ته اړ شوي دي.
- **وګړنيز:** يو نيم مليون افغانان شهيدان شوي، يونيم مليون معيوب او معلول شوي او شپږ مليونه مهاجرت ته اړ شوي، يانې تر(۱۵)مليونه اټکلي نفوس څخه (۹)مليونه په ښکاره ډول له خپلې ټولنې بېل شوي دي. هغه پاتې هم د هېوادپه داخل کې نتل شوي او ځپل شوي دي.
- **ټولنيز:** د همدغو ناتارونو له کبله دټولنې اډانه ښورول شوې، هځه شوې، چې د افغاني ټولنې د ټولنيز نظام د ګډوډۍ له لارې د واک د طبيعي او اصلي سرچينو پر ځای نوې او مصنوعي سرچينې د ټولنې لارښوونه وکړي او په دې ډول سياسي-ټولنيز بحران لاپسې سخت کړي، ځکه نو د اقليت او

اكثريت پر بنسټ په هېواد كې د سياسي واک وېشلو شــعارونه زيات شوي دي.

- **خپرنیز:** په خپرنۍ برخه كې د (۱۵) لويو چاپخونو په ګډون د هېواد ټول چاپي امكانات له منځه وړل شــوي. تــر (۲۰) مليونوټوكو زيات كتابونه، لوټ او سېزل شوي دي.

- **تاریخي:** د هېواد ملي موزيم ، د اردو موزيم، دهډې موزيم او نور سيمه ييز موزيمونه لوټ شوي او سيزل شــوي دي. د ملي موزيم ديولک تاريخي اثارو له جملې څخه په سلو كې اويــا قيمتي اثار غلا شوي دي.

- **کلتوري:** د هېواد اصيل افغاني فرهنــګ د مســخه كولو لپاره ((سره ، شنه او سپين)) شعارونه راولېږل شول، ټولــه افغاني ټولنه پرې مسمومه شوه، اوسنی هېــواد مېشــتی او بهــر مېشتی ځوان پښت په ډېره مشكله پــر دې پــوهېږي، چــې: ((زه څوک يم او دكوم توک يم)) د يو هېواد او قوم رغنده فكري توكي؛ هېواد پالنه، ژبپالنه او دينپالنه د اقتصادي ټيكاو د نشتوالي او نورو ستونزو له كبله ډېره ځلا او غوړېدا نه لري.

- **پوځي:** دتېرو دوو سوو كلونو به بهير كې په هېواد كې له خپلو ګنو تجربو سره يوه مسلكي اردو رامنځته شوې وه، ددې اردو جوړښت او اډانه هم له خپلو ټولو وسايطو سره لــه منځــه ولاړه او نور داسې زيانونه رامنځته شول،چې ديوې واحدې ټولنې د روغې ستې لپاره ناسور تېپ ګڼل كېږي.

خو راځو دېته چې دا ټول کارونه په خپله وشول او که چا وکړل او یا چا دچا په واسطه تر سره کړل؟ پرته له دې چې ددې یا هغې ډلې او یا ددغه او یا هغه شخص نوم واخیستل شي، هرڅوک چې په دې پورتنیو زیانونو کې په یو نه یو ډول شریک وي، خپلو خلکو، هېواد او انساني وجدان ته ملامت دي اوباید محاکمه شي.

لکه څرنګه چې څرګنده ده ، په هره ټولنه کې ددې ډول اشخاصو دسزا او محاکمې لپاره ځانګړي اصول وي، زموږ ټولنه هم غواړي، د ټولې انساني ټولنې دیوه هډ په توګه، له دغو اصولو څخه ګټه پورته کړي او جنایتکاران محاکمه کړي،خو په خوا شینۍ سره باید ووایو، چې زموږ ولس د یو داسې ستر ایډیالوژیک جنګ قرباني شو، چې زحمت یې موږ ولید او راحت یې نورو...

زموږ په هېواد کې د دې (۲۳) کلنې غمیزې په پیل کې داسې هیله کېده، چې د هېواد دا جنایتکاران به هېڅکله هم له محاکمې نه خلاص نه شي، خو کله چې جګړه پراخېده او بهرني یرغلګر پر شا تمبول کېدل، دسیاسي لوبو لیدلوری هم ورسره بدلېده، بیا داسې وخت راغی، چې نویو ارزښتونو د پخوانیو ارزښتونو ځای ونیو او په پای کې په وجدان او ژوند ګټلې هیله د سیاست د بازار ښکار شوه.

د روس پلوي او روسپالي ببرک کارمل په واکمنۍ کې دیو زنداني د خولې خبره ده، چې موږ زندانیانو ته یې (۹۳) ډوله سزاګانې راکولې او موږ یې پرې کړولو، موږ ته یې (( د امپرالیزم ګوډاګیان)) ویل، خو یو وخت بیا داسې راغی، چې همغو ((امپریالیزم دښمنو)) د امپرالیزم غېږې ته پناه یوړه.

زموږ ولس ته دا د خواشینۍ خبره دا ده، چې روس پلوو کمونیستو ډلو لویدیځ ته پناه یوړه اویو شمېرجهادي ډلو بیا دروس غېږې ته ځان ګوزار کړ.

ښاغلی سلطان علي کشتمند چې لس کاله د کارمل د روس پلوي کمونیستې حکومت صدراعظم و، د امپرالیزم(انګلستان) غېږې ته پنا ه یوړه اوښاغلي رباني او ښاغلي احمد شاه مسعود چې دځینو د ادعا او ګومانونو له مخې یې لس کاله د روسانو پر ضد جګړه کړې وه، د کمونېزم مور(روسیې) له ګرېوانه سر راوکښه. دا بېلګې ډېرې زیاتې دي، له دې دوو بېلګو څخه ښکاري، چې د افغانستان د شل کلنې غمیزې اکثرو سیاسي ډلو او د هغوی مشرانو هېڅ ډول سیاسي اخلاق او سپېڅلی بشري وجدان نه درلود او که درلودلای یې نو داسې نه کېدل.

دهېواد ملي مبارز استاد پوهنوال محمدعثمان روستار تره‌کی د هغو ملیونو افغانانو یوه بېلګه ده او یو استازی دی، چې د سیاسي جنایت قرباني شوی او زیات کلونه یې د سره ښکېلاک سور زندان ګاللی دی. هغه د یو ژور او ځېرمن لیکوال او سیاستپوه په توګه داسې وخت او حالاتو کې خپل ګتور اثر (په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه) ولیکه، چې نـږدې ده د افغانستان جګړې او بدمرغیو د جنایتکارانو موضوع د نړۍ له ذهنه او زموږ د اوسني پېښت له یاده ووځي. استاد تره کي د خپل دې اثر په لیکلو سره خپل ملي،هېوادنی او انساني رسالت ترسره کړ او دا ستره موضوع یې له هېرېدو څخه وژغورله. استاد خپل اثر د پوهنیزو اصولو له مخې په دومره سړه سینه لیکلی، چې هېچاته په کې د کینې له مخې ګوته نه ده نیول شوې،

بلکې ده د جنایت څرنگوالی تشریح کړی دی. هغه څوک چې د جنایتونو د تشریح په دې هنداره کې خپل ځان او څېره دیو عامل په توگه ووینی، طبعاً به جنایتکار وي او دخپل ولس پر وړاندې مسئول. په دې کتاب کې د ناپېیلتوب اصول په ټینگه مراعت شوي، د ملي او نړیوالو اصولو او معیارونو له مخې جنایتونه ډلبندي شوي او د جگړې حقوق او د بشر حقوق تشریح شوي دي. هر چا چې دا حقوق تر پښو لاندې کړي وي، هغه جنایتکار گڼل کېږي.

ددې کتاب بله ښېگڼه داده، چې د جنایتکارانو د نیونې اویوې ملي او یا نړیوالې محکمې ته د هغوی د سپارنې په باب هم لارې چارې په کې په گوته شوي دي.

که چېرې ددې کتاب پر محتویاتو عمل وشي، پوره باور دی چې جنایتکاران به د خپل عمل سزا ووینې، که چېرې دا جنایتکاران محاکمه نه شي، نو ددې مانا به دا وي، چې زموږ په ټولنه کې د نورو جنایتونو لپاره هم لاره خلاصه ده، ځکه چې راتلونکي جنایتکاران به د خپل ژوند برخلیک له تېرو هغو سره یو شان وگڼي او که چېرې محاکمه شي، نو گټه به یې دا وي، چې د راتلونکو جنایتونو مخه به ونیول شي او هغه غصه او عقده چې د ملت په زړه کې ددې جنایتکارانو له لاسه پیدا شوې، هغه به هم اوراه شي، ټولنه به د نظم او سالم ژوند خواته روانه شي او د سوکاله ژوند هیله او ډاډینه به یې پیاوړې شي.

زه د هېواد تکړه ملي مبارز، ځېرمن لیکوال او سیاستپوه ښاغلي استاد پوهنوال محمد عثمان روستار تره کي ته ددې ارزښتمن کتاب د (لومړي) چاپ له امله مبارکي وایم او د نورو بریالیتوبونو هیله یې کوم.

ښاغلي محمد حیدر اقبال پښتونیار هم د زیاتې مننې او ستاینې وړ بولم، چې ددې کتاب د پښتو او دري دواړو متنونو چاپ لګښت ته یې اوږه ورکړه او خپل ملي او فرهنګي رسالت یې یو ځل بیا په زبات ورساوه.

**په فرهنګي مینه او درناوي**

**پوهنیار محمداسمعیل یون**

# سریزه

د صدارت په زندان کې مې د هغو کسانو چغې او فریادونه اورېدل، چې د افغاني کمونیستانو او بهرنیو یرغلګرو اتبـاعو تـر زور زیـاتي او شکنجې لاندې وو، د څرخي پله په زندان کې مې د زندانیانو پـر بـدن باندې د شکنجې داغونه لیدل، کله چې مې دشپې په تیـارو کـې، د زندان د پنجرو شاته، د هغو موټرو لیکه لیدله، چې د روسي او افغـاني ساتندویانو په واسطه ساتل کېدل اوقربانیان یې په دې جرم وژنځایونو ته وړل، چې دهېواد، خلکو، مذهب، سیاسي او ملي ارزښتونو په باب، د کمونیستانو له فکر و خیال سره همغاړي نه وو، هغه وخت مې یـوازې یوه پوښتنه په ذهن کې ګرځېده راګرځېده او هغه دا وه: ایا داسې ورځ به راشي چې افغان ولس ددې ټولو غمیزو، چې د یـو بهرنـي یرغلګـر ځواک په زور رامنځته شوي دي، پوښتنه وکړي؟

افغانستان د کمونیستانو له ښکېلاکه ازاد شو، شوروي امپراتوري ړنګه شوه، مجاهدین پر کابل واکمن شول، تر دې ځایه پېښې له هیلو او

امیدونو څخه ډکې وې، خو په خواشینۍ سره، چې وضعې په ډېرې چټکۍ سره، د خلکو د هیلو او د هېواد د لوړو ګټو پر خلاف وده وکړه.

ځینې مجاهدې ډلې د خپل اصلي کورني دښمن پر ځای، چې تر اوسه لا نتل شوی او ځپل شوی نه و، په خپلو کې سره ونښتې او د لوټ او تالان بنسټ یې کېښود. دغو ډلو د جهاد سپېڅلتیا ته شا کړه، هغه یې پایته رسېدلی وګانه، له هغه دښمن سره یې سازښت او جوړ جاړی وکړ، چې د افغانستان د خلکو پر وړاندې یې ګڼ شمېر جنایتونه کړي وو. دوی د خپلو سیاسي سیالانو پر ضد له خپل دښمن سره یو ځای، په یوه مورچل کې کېناستل.پر دې وخت د افغانستان د غمیزې مسئولین، د یوې محکومې، نتلې، تر ځارنې لاندې، پاشل شوې او د تېښتې پر حال ډلې له پوړۍ څخه، داسې یوې پوړۍ ته پورته شول، چې هم ورته ښښنه وشوه، هم ورته سیاسي باور ورکړل شو، هم یوه ائتلافي ډله شوه او هم یې د اسلامي حکومت (!) په مشرتابه کې د ونډې امتیاز تر لاسه کړ.

وروسته مجاهدینو هم په خپل وار سره د جګړې له اصولو څخه زیات سرغړاوی وکړ، چې په ټوله نړۍ کې یې انګازې وکړې. د کمونیستانو ظلم او زور زیاتی، د کړکېچ ددې نوي پړاو تر سیوري لاندې راغلل او بده یې لا دا چې د هغوی جنایتونه په شعوري او ناشعوري ډول هېر شول. اوس تر هېواد دننه حالات څه ناڅه سم شوي دي، باید له دغه ثبات او سم سمکي نه د خپلمنځي حسابونو د پاکۍ لپاره ګټه پورته شي. همدا اوس باید لږ ترلږه په خپرو نو کې د جګړې د جنایتکارانو موضوع منعکسه شي.

د ډله ییزو رسنیو له لارې باید د یرغلګرو او ظلم د قربانیانو چغې نارې سورې انعکاس شي او له دې لارې باید جنایتکارانو ته څرګنده شي، چې افغان ملت له خپلو دښمنانو سره حساب کتاب له یاده نه دی کښلی.

لیکوال باور لري، چې افغان ولس به پر دې وپوهېږي، چې جنایتکاران څرنګه محاکمه کړي، جهاد څنګه دوام وکړي او له مشروع حق څخه څرنګه ګټه واخلي. رښتیا خبره دا ده تر هغه چې د هېواد خلک د جنایتکارانو پر محاکمه بریالي نه شي، د جهاد پایته رسېدو، دملي ازادې او خپلواکۍ د ګټلو ادعا نه شي کولای.

له جنایتکارانو سره حساب کتاب کول، د اصولو له مخې د افغانانو د مسئولیت احساس څرګندوي او د افغاني ټولنې د سیاسي بلوغ نښې بلل کېږي.

تر لاس لاندې لیکنه کې د ناپېیلتوب اصول په ټینګه مراعات شوي دي، په دې مانا چې یوازې د بشر حقوقو درناوی او ملاتړ شوی دی. هره هغه ډله چې تورنه ګڼل شوې ده کمونیست دی، هندو دی که مسلمان او که نور... په لوړ غږ او څرګند ډول یې د محاکمې غوښتنه شوې ده.

که چېرې ددې کتاب تر بحث لاندې موضوع، پر شاوخوا تونديې او ارامې خبرې وشي، کولای شو ووایو، چې لیکوال خپله لومړۍ موخه (د قضیې د هېرېدا مخنیوی) ترلاسه کړې ده، دا لاسبری به د وروستۍ موضوع (دجګړې جنایتکارانو محاکمه) د ترلاسه کولو لپاره ډېره ښه لاره چاره وي. له ګران ورور محمد اقبال پښتونیار څخه چې ددې کتاب

د لومړي چاپ لگښت یې برابر کړ او په دې ډول یې (په افغانستان کې د جگړې د جنایتکارانو محاکمه) کې خپله ونډه واخیسته مننه کوم.

له بافرهنگه، مبارز او کاري شخصیت پوهنیار محمداسمعیل یون څخه هم ډېره مننه څرگندوم، چې هم یې ددې کتاب دري متن په پښتو وژباړه او هم یې د چاپ چارې ترسره کړې.

په درناوي

پوهنوال محمدعثمان روستار تره کی

# لومړۍ برخه

## عمومي څرګندونې

د انسان د هوښ او ذکاوت په انډول د هغه اخلاقي شتمني ډېره کمه او شاته پاتې ده. انسان له پوهې، تخنیکپوهنې او عقلي بریاوو څخه په ګټې اخیستنې سره پر نورو سیارو باندې دواکمنۍ په لټه کې دی، خو پر دې نه دی بریالی شوی، چې دکینې او ځانغوښتنې غریزه، وحشت او وېره، لکه څنګه چې د ځمکې پر مخ یې مدني او سوله ییز ژوند غوښتنه کوي، مهار کړي.

د جګړې حقوق دداسې قوانینو او تعاملاتو ټولګې ته ویل کېږي، چې د انسان د غچ اخیستنې، دښمنۍ او کینه ییزو ولولو د کمولو او محدودولو په مقصد رامنځته شوې وې.

د جګړې حقوق دوه ډوله اړیکي تنظیموي: د جګړه مارو تر منځ اړیکي اوبل له عامو وګړو سره د جګړه مارو مناسبات.

د جګړې حقوق دوه موخې لري: د پوځي هڅو حقوقي اوډون (تنظیم) او د جګړې انساني کول.

لومړۍ برخه به دوو غټو موضوعګانو ته، چې تر بحث لاندې متن په انډول پیلیز (مقدماتي) اړخ هم لري، ځانګړې شي:

لومړی څپرکی- د جنګي جنایتونو په اړه د نړیوالو حقوقو تولیز اصول.

دویم څپرکی- د جزا نړیوال دیوان رامنځته کول.

# لومړی څپرکی

# د جنګي جنایتونو په اړه د نړیوالو حقوقو تولیز اصول

## لومړی-دنړیوالو کانوانسیونونوتاریخي شالید(پس منظر)

((خپلو خلکو سره د یوه دولت د چلند څرنګوالی، هغوی ته د یو لړ حقوقو ورکړه یا نه ورکړه، د نړیوالې ټولنې دلېوالتیا وړ یوه موضوع ده. دګڼو نړیوالو کانوانسیونونو ژمنې او په ځانګړې ډول د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه، په ډاګه څرګندوي، چې دبشر حقوقو پالنه او له هغو نه ځانخبرونه، د نړېوالې ټولنې مشروع دندې دي))[1]

د جګړې حقوق د هغو لوزونو، ژمنو او نړیوالو کانوانسیونونو زېږنده دي، چې د وروستۍ یوې نیمې پېړۍ په بهیر کې رامنځته شوي او موخه یې دا ده، چې د جګړې په بهیر کې د بشر حقوق وپالل شي او ساتنه یې وشي، ددې کانوانسیونونو ډېر مهم یې په لاندې ډول دي:

- د ژنیو کانوانسیون (١٨٦٤زکال): دا کانوانسیون د هانري دونات ((دسرې میاشتې موسس)) تر انساني‌پالو هلوځلو

---

١ - دومنیک کارو، **Domenique Carreau**، نړیوال حقوق، پاریس، ١٩٨٦زکال، ٣۴٢مخ

وروسته، چې د جګړې مقرراتو منلو ته یې د نړیــوال ذهنیــت لاره اواره کړه، د اروپایي هېوادونو له خوا لاسلیک شــو، ددې کانوانسیون یوې برخې، د سمندري جګړو په نظــم پــورې اړه لرله.

- د((ســـن پترزبـــورګ)) اعلامیــــه (۱۸٦۸ زکــــال): دې کانوانسیون هغه وسلې منع کړې، چې د جنګیالیو او جګړه‌مارو د درد و کړاو سبب ګرځېدلې.
- د لاهـــې کنفـــرانس (۱۸۹۹ او ۱۹۰۷ زکلونــــه): ددې کنفرانس په لړ کې د ځمکنۍ او ســـمندري جګـــړو د دودیـــزو قوانینو د تنظیم په باب موافقې وشوې. په دې کنفرانس کې د ژنیو د (۱۸٦٤ز) کال کانوانسیون پر منځپانګې( محتوا) تینګـــار وشو.
- د واشنګټن سمندري کانوانسیون (۱۹۲۲ زکال): دې کانوانسیون کیمیاوي او باکتریالوژیکه جګړه منع کړه.
- دژنیو کانوانسیون (۱۹۲۵ زکــال): دا کانوانســـیون د جګړې له اسیرانو، ټپیانو او ناروغانو سره د چلند د څرنګوالي په باب لاسلیک شو.
- د لنـــدن ســـمندري کانوانســـیون (۱۹۳۰ زکـــال): د سمندري جګړې موضوعګانې یې تنظیم کړې.
- د ژنیو کنفرانس (۱۹۴۹زکال): دا کانفرانس د نړیوالې سرې میاشتې ((ن، س،م)) تر سرپرستۍ لاندې جوړ شوی و، د

جګړې د اسیرانو، ټپیانو او ناروغانو پــه بــاب یــې د مخکنیــو کانوانسیونونو پر ځینو موادو بیا کتنه وکړه.

- اروپایي کانوانسیون (۱۹۸۹زکــال): دا کانوانســیون د ناوړه انساني اوبشرضدچلندونو او سزاګانو د مخنیــوي لپــاره جوړ شو. د (۱۹۲۲ز) کال د جنــورۍ پــر (۲۳مــه) نېټــه (۲۳) هېوادونه په دې کانوانسیون کې شامل شول.
- د ژنیو کانوانسیون(۱۹۹۳زکــال): دې کانوانســیون د کیمیاوي او باکتریالوژیکو ګازونو د تولید او زېرمې د منع کولو په باب پرېکړه وکړه.

## دویم- د یالتا کنفرانس:

دا کنفرانس د (۱۹٤۵ز)کال د فبرورۍ پر میاشت جوړ شو او په هغه کې د لومړي ځل لپاره پرېکړه وشوه، د هغو نړیوالــو ژمنــو او لوزونو په رڼا کې، چې د جګړې حقوق یې تنظیم کړي، د جنګــي مجرمینو د سزا لپاره هڅه وشي.

د یالتا په کنفرانس کې چرچل، روزولټ او ستالین د دویمــې نړیوالې جګړې د بریمنو په توګه، تر جګړې وروسته نړۍ د برخلیک ټاکلو او یا که په څرګند ډول ووایو د المان تر نړدې راتلونکې ماتې وروسته د پیدا کېدونکو ستونزو د حل لپاره سره راټول شوي وو.

د المان په باب په سیاسي او اقتصادي برخو کې داسې توافق وشو:

۱- دنازیزم د ریښو د رایستلو تر بریده بایــد د هغــه پرضــد مبارزه وشي.

**۲- د جګړې تاوان دې وغوښتل شي.**

**۳- د جګړې جنایتکارانو قضایي څارنه دې وشي.**

**د جګړې جنایتکارانو ته د سزا ټاکلو لپاره د (۱۹۴۵ز)کال لــه نومبر څخه د (۱۹۴۶ز)کال تر اکتوبره پورې په ((نورنبرګ)) کې یوه نړیواله پوځي محکمه جوړه شوه. دا محکمه چې د اتازونې؛ امریکا، شوروي، فرانسې او انګلیستان استازو په کې غړیتوب درلود، لــس میاشتې اوږده شوه او په هغې کې د جنګي سرغړونو پر دې درېیو ډلبندیو غور وشو او وڅېړل شوې.**

**جنګي جنایتونه، سوله ضدجنایتونه، بشرضدجنایتونه.**

**الف- جنګي جنایتونه پــه دې ډول وو: د اســیرانو وژنــه او د یرغملانو نیونه، د ملکي وګړو جبري لېږدونه، دعامه او خصوصــي شتمنۍ لوټونه.**

**ب- سوله ضد جنایتونه: د یرغلیزې جګړې پیــل او دوام تــه ویل کېږي.**

**ج- بشرضدجنایتونه په دې ډول وو: د ملکي وګړو پروړاندې له جنایته ډکې هڅې، لکه: وژنه، تبعید، عامه وژنــه(Genocide)، د ملکي وګړو جبري لېږدونه، د سیاسي، توکمیزو او مذهبي انګېرنو له مخې د وګړو څارنه او سزا ورکونه.**

**د نورنبرګ پوځي محکمې، دوه ویشت تنه جنګي جنایتکاران پر زندان او دولس تنه نور پر اعدام محکوم کړل.**

**د یالتا کنفرانس کــار د ((پوتســدام))کنفرانس (۱۹۴۵زکــال، جولای- اګست) له خوا تعقیب او تینګار پرې وشو.**

د نورنبرګ محکمې ددې تیره کېښوده، چې هېڅ بشرضد جنایت بې پوښتنې پاتې نه شي.

## درېیم- په کورنیو شخړو کې د جګړې د نړیوالو قوانینو د تطبیق پراختیا:

سره له دې چې د ژنیو د (۱۹۴۹ز)کال کانوانسیون، د نړیوالو جګړو په باب دی، خو د درېیمې مادې له مخې دغه پرېکړې په کورنیو جګړو کې هم د منلو وړ دي.

د (۱۹۷۰ز)کال په بهیر کې د نړیوالې سرې میاشتې (ن،س،م) کمېټې پر یو نوښت لاس پورې کړ او د یو نړیوال کنفرانس له لارې یې د ژنیو (۱۹۴۹ز)کال پر کنفرانس یو ځل بیا عمومي کتنه وکړه.

دهمدې لپاره له کانوانسیون سره دوه ضمیمه پروتوکولونه هم مله شول.

کنفرانس هیله لرله چې:

...تیت وپرکې جګړې لکه: د ملېشو ترمنځ اخ وډب، د (۱۹۰۷) او (۱۹۴۹ز)کال نړیوالو کانوانسیونونو په چوکاټ کې تنظیم کړي او د نړیوالې وسلوالې جګړې د حقوقو بشرپال اړخونه، پر سیمه ییزو وسلوالو نښتو پلي کړي.

ازادۍ ښونکې جګړې ته باید څه ډول حقوقي بڼه ورکړای شي؟

له ملېشو او اجیرانو سره باید څه ډول معامله او چلند وشي؟

کورنۍ جګړه باید د کومو حقوقي معیارونو له مخې وارزول شي؟

له دې پورته پوښتنو سره سره چې نړیواله ټولنه یې سره وېشلې وه، کنفرانس خپلو موخو ته ډېر نږدې شوی و.

د (۱۹۰۷) او (۱۹۴۹ز)کال پر کانوانسیونونو، پر (۱۹۷۷ز)کال لومړی او دویم نمبر پروتوکولونه زیات شول.

لومړی نمبر پروتوکول په خپله لومړۍ ماده کې یادونه کوي: ((که چېرې د ښکېلاکګرې واکمنۍ، بهرني اشغال او توکمپال رژیم له کبله ازادي بښونکې جګړه پیل شي او یرغلګر یا توکمپال دولت د پروتوکول لاسلیکوونکی وي او ازادي بښونکی غورځنګ د پروتوکول محتویات او پرېکړې ومني، نو ملي ازادي بښونکې جګړې ته د یوې نړیوالې شخړې په توګه کتل کېږي.))

دویم نمبر پروتوکول حکم او څرګندونه کوي، چې: (( د (۱۹۰۷ او ۱۹۴۹ز)کال کانوانسیونونو پرېکړې دې په سیمه ییزو جګړو کې د لاسلیکوونکې خوا په خاوره کې د وسلوالو ځواکونو او مخالفې ډلې ترمنځ، چې د پوځي عملیاتو لپاره یې څه سیمه نیولې هم پلې شي.))

## څلورم- د ملکي وګړو، ټپیانو او اسیرانو ملاتړ:

د سن پترسبورګ د (۱۹٦۸ز)کال کنفرانس د (بې ضرورته ظالمانه وسلې نه کارونې) پر اصولو ټینګار کوي. د بې ضرورته ظالمانه وسلې له کارونې څخه د کانوانسیون موخه ((چاودېدونکې سرګلولې)) دي.د لاهې د (۱۹۰۷ز)کال کانوانسیون څرګندوي چې : ((جګړه کوونکي د خپل دښمن د ځپلو اوټکولو لپاره د هر ډول وسیلې د کارونې په برخه کې خلاص مټ نه لري.))

د ژنیو د (۱۹۴۹ز)کال کانوانسیون د لومړۍ فقرې پنځه دېرشمه ماده په ډاګه کوي چې: (( په ټولو وسلوالو شخړو کې، د جګړه ییزو توکو ټاکنې په څرنګوالي کې، د دواړو غاړو حق محدود نه دی.))

د همدې کانوانسیون (٤٨)مه ماده یادونه کوي چې : (( د جګړو غاړې باید د جګړې د موخې په توګه د پوځي او ملکي تاسیساتو او پوځي او ملکي وګړوترمنځ توپیر وکړي؛ د جګړه ییزو عملیاتو موخه باید دجګړه ییزو تاسیساتو او پوځي سړیو له منځه وړل وي.))

د ژنیو څلورګونو (۱۹۲۵-۱۹۲۹، ۱۹۴۹او ۱۹۹۳زکلونو کانوانسیونونو) لاندې هڅې او کړنې چې د وګړو یا مالونو پر ضد ترسره کېږي، د جنګي جنایت په توګه د سزا وړ بولي. لکه: وژنه، تبعید، دوګړو ډله ییزه لېږدونه، یرغمل نیول، د عامه او ځاني شتمنۍ، چې د جګړه ییزو اړتیاوو پر بنسټ یې توجیه شونی نه وي، ضبطونه او له منځه وړنه، د سیاسي، نژادي او مذهبي کتنو او انګېرنو له مخې د خلکو څارنه او سزا ورکونه.

درېیمه ماده چې په پورتنیو درېواړو کانوانسیونونو کې راغلې ده، هغو کسانو سره چې دناروغۍ، ټپ، اوږده بند او یا بل دلیل له امله یې د جګړې ځواک له لاسه ورکړی وي، لږ تر لږه ((د انساني چلند)) هیله او غوښتنه کوي...

د دویم پروتوکول د (۴، ۵ او ۶)مې مادې له مخې ((انساني چلند)) کې دا لاندې شیان راځي:

د اسیرانو د فزیکي روغتیا او کرامت درناوی او د هغو دمانیز او مادي ژوند لپاره د ښو شرایطو برابرول.

د ژنیو کانوانسیونونه او دهغه لومړۍ برخه ضمیمه پروتوکول، له ټپیانو، رنځورانو، د جګړې اسیرانو، روغتیایي کارکوونکو او ملکي وګړو څخه غچ اخیستنه منع کوي. د ژنیو کانوانسیونونه د اسیرانو پر وړاندې بد چلند، د بدن د غړو غوڅونه، شکنجه او اعـدام، پـر بدن باندې رنځوونکې بیولوژیکي ازموینې، د جبهې په لومړیو لیکو کې جبري کار او ددفاع او محاکمې د حق نشتوالی، جنګي جنایت بولي او عاملین یې د سزا وړ ګني.

دژنیو د (۱۹۷۷ز) کال کانوانسیون اړوند لومړی نمبر پروتوکول یادونه کوي: باید د جګړې له اسیرانو او ټپیانو سره داسـې چلنـد وشي، چې لږ ترلږه د انساني حقوقو د رعایت څرګندوی وي. کلـه چې دښمن ته د جګړې د اسیرانو نیول اعلان شول، بیا دې نو تـر جګړې څخه په یوه لرې سیمه کې اسـتوګن کـړي، هغـوی تـه د دله ییزې سزا ورکول منع دي. له اسیرانو اوټپیانو څخه باید پوځي غچ وانخیستل شي، ټپیان او رنځوران له روغتیایي پالنې څخـه د ګټې اخیستنې حق لري.

د ژنیو (۱۹۹۳ز) کال کانوانسـیون((دریم کانوانسـیون)) پـه ځانګړې ډول دولتونه مکلفوي، چې د اسـیرانو د پېژنـدنې بشـپړ لیست، د نړیوالې سرې میاشتې (ن، س،م) کمېټې ته وړاندې کړي. (ن، س، م) په منظم ډول د اسیرانو کورنیو ته د هغـوی احـوال ور رسوي.

هغه څوک چې د جګړې اسیران ورسره دي، مکلف دي، چې له څارونکي (کنټرولر) پرته، اسیرانو ســره د (ن، س، م) کمېټــې د منظمې لیدنې کتنې حق ته درناوی وکړي.

تر شخړو وروسته باید اسیران له بشپړ مصونیت ســره خپلــو سیمو یا هېوادونو ته ولېږل شي، سره له دې لکه څنګه چــې مــو پورته یادونه وکړه، نړیوال قوانین پر کورنیو شخړو هم تطبیقېــږي، خو د جګړې د حقوقو پر رعایت باندې دزیات ټینګار لپاره دکورنۍ شخړې دواړه غاړې کولای شي، یو له بل سره یو لړ تړونونه لاسلیک کړي، چې نیول شویو کسانو ته په کې د نړیوالې جګړې د اسیرانو د حقوقي دریځ پېژندنه شامله وي.

## پنځم- د جګړې قوانینو دتطبیق څارنــه او سرغړونې:

د جګړې حقوقو د پلي کولو څارنه لږ ترلږه له درېیو لارو څخه ترسره کېدی شي:

الف- د جګړه مارو خواوو تر منځ د لیکنۍ موافقې له مخــې، یوې ناپېیلې خوا ته د څارنې دندې سپارل. دا ناپېیلې خوا کېــدی شي یو دولت وي او یا یوه نړیواله موسسه.

څارونکې ډله کېدی شي هر وخت له کاره ګوښه کړای شي.

ب- (ن،س،م) کمېټه تر بلې هرې سرچینې څخه په ښه ډول دا دنده ســرته رســولای شــي. دا کــړنلاره چــې د (۱۹۴۹ز)کــال کانوانسیون د (۱۰)مې مادې له مخې یې وړاندوینه شوې وه، په څو ځایونو کې پلې شوه:

- پر (۱۹۶۵ز)کال د مصر او فرانسې- انګلستان اتحاد ترمنځ شخړه کې.
- پر (۱۹۶۱ز)کال د ګواه (Goa) په پېښه کې.
- پر (۱۹۷۱ز)کال د هند او پاکستان ترمنځ اختلاف کې.

خو دېته مو موباید پام وي، چې د (ن،س،م) کمېټه تر دولتونو لوړ واک وځواک نه لري او نه قضايي صلاحيت لري. دا کمېټه ان په جګړه کې د ښکېلو دولتونو له اجازې پرته، ددې صلاحيت نه لري، چې د جګړې قوانینو د پلي کېدو څارنه وکړي، پر دې دندې ټينګار وکړي او پا په کې لاسوهنه وکړي.

تردولت پورته د همدغسې يو جبري حقوقي ځواک د نشتوالي له کبله، د بشر له نړيوالو حقوقو او د جګړې له قوانينو څخه زیاتې سرغړونې شوې دي.

ددې ډول سرغړونو زياتې بېلګې کولای شو د ايران - عراق په جګړه کې (۱۹۸۰-۱۹۸۸زکال)، د حبشې او سوماليې په شخړه (۱۹۷۷ز)کال او د خليج په جګړه کې(۱۹۹۰-۱۹۹۱ز)کال کې وګورو. سربېره پردې د جګړې له حقوقو څخه، لکه څنګه چې د ژنيو د کانوانسيونونو او د هغو د ضميمه پروتوکولونو له مخې بيان شوي، يو لړ نورې ښکاره سرغړونې هم شوي، چې په لاندې ډول دي:

- په کورنيو شخړو کې: لکه په سريلانکا کې دتاميل بېلتونپالو له خوا، دغه راز په انګولا ،موزامبيک، افغانستان،حبشې،سوډان، سوماليې، کمبوديا او نورو کې.

- د بېوسلې ملکي وګړو په باب د ژنیو د (۱۹۹۳ز)کـــال کانوانسیون او د هغه ضمیمه پرتوکول، یو لړ حقوق تضمینوي، خو بیا هم له هغو څخه ډېر ځله سرغړونه شوې ده. لکه دایران اوعراق په جګړه کې د (۱۹۸۸ز)کال د مارچ پر (۲۳)مــه نېټــه کیمیاوي بمباریو، په زرګونو ملکي وګړي له منځه یوړول. پــه لبنان کې (۱۹۹۱-۱۹۹۲زکال)، په یوګوسلاویا او نورو ځــایونو کې د جګړې له مقرراتو څخه د سرغړونې ډېرې زیاتې بېلګې لیدل شوي دي.
- د نیول شویو سیمو په باب: د سرغړونې څرګنده بېلګه یې پر (۱۹۹۷ز)کال، د عربو په اشغالي سیمو کې د اســراییلو کړنه او د اداري څرنګوالی دی.

## شپږم- د جګړې د مجرمینو او جنایتکارانو سپارنه:

د ژنیو ټول کانوانسیونونه، دا د دولتونو دنده او مکلفیت ګڼي، چې د تورنو کسانو دنیونې او د هغوی دمحــاکمې پــه برخــه کــې اسانتیا برابره کړي.

د ژنیو دکانوانسیونونو پر بنسټ هر لاسلیکوونکی هېواد دنده لري، چې سرغړوونکي او یا هغه کسان چې د نړیوال قانون، مخالف حکم یې صادر کړی دی، وپلټي او محاکمې ته یې وسپاري. دا یوازې د لاسلیکوونکو هېوادونو دنده نه ده، بلکې د جنایت او جرم سیمې ته له پاملرنې پرته، د نورو هېوادونو دنده هم ده.

د ژنیو د دوه ګونو کانوانسیونونو(۱۹۰۷- ۱۹۴۹زکال) د لومړي نمبر پروتوکول (۸۸)مه ماده په ډاګه کوي چې:

(( که چېرې د حالاتو غوښــتنه او هیلــه وي، بایــد د ژنیــو د کانوانسیونونو لاسلیکوونکي د تورنو کسانو د سپارلو په باب یو بل سره همکاري او ګډه هڅه وکړي.)) په دې ډول نور هېوادونــه هــم هغه هېواد ته چې جرم په کې ترسره شوی، دتورنو کسانو د سپارلو په برخه کې هڅه کوي.

خو(دحالاتواو وضعې غوښتنه) چې په (۸۸)مه ماده کــې یــې څرګندونه شوې ده، د تورن، سپارونکي دولت ته دا پلمه برابروي، چې ووایي د تورن کس د سپارلو لپاره د غوښتونکي هېواد له خوا د تورن ټول اسناد او مدارک راټول شوي دي او که نــه؟ دا شــک او ګومان کولای شي د تورن د سپارلو موخه او بهیر ټکني کړي.

## اووم- د جګړې د جنایتکارانو محاکمه:

دټولو حقوقي لارښوونو اغېز په دې کې دی، چې سرغړونکي ته د کومې کړنلارې له مخې سزا ورکوي؟

په حیرانۍ سره باید ووایو، چې د جګړې حقوقو یو لږ سزاوې ټاکلي، چې موخه یې د قرباني شوي ملاتړ دی نه ســرغړونکي تــه سخته سزا. په هرډول! سرغړوونکو جنایتکارانو ته د محکمــو پــه واسطه د سزا غوښتنه کېږي. د جګړې جنایتکار هغه څــوک دی، چې یا یې په عملي او قصدي توګه او یا یې د زور او لټۍ له مخې، د جګړې په اړه د نړیوالو حقوقو له اصولو څخه سرغړونه کړې وي.

که چېرې د یو مادون له خــوا ســرغړونه شــوې وي، ترهغــه لوړپوړی تر جزایي او انظباطي مسئولیت لاندې راځي. که لوړپوړی پر دې پوه وي، چې مادون د جګړې له نړیوالو اصولو څخه سرغړونه کوي او له خپلو ټولو امکاناتو څخه یې، د هغه د مخنیوي لپاره ګټه پورته نه کړه، مسئول ګڼل کېــږي. ډېــره کلاســیکه او جنجــالیزه پوښتنه، چې مطرح کېږي داده، چې په پوځي برخه کې خو مادون تل د امر متابعت ته اړ وي او د امر د پرځای کولو مسئولیت لري، نو ایا مادون د آمر د همدغه الزامي متابعت له کبله برائت اخیستلای نه شي؟

د جګړې دقوانینو د طرحه کولو پر وخــت، ددې پوښــتنې د ځوابولو لپاره نااندرۍ پورته شــوې، ډېــرو ګونــدونو ونــه غوښــتل مسئولیت د مادون پر غاړه واچوي. ځکه چې له هغه پرتــه د اردو ډسپلین چې د آمر د اطاعت پر قاعدې ولاړ دی، ګــډوډېږي او لــه منځه ځي. خو د نورنبرګ محکمې دمادون معذرت ونه مانه او هغه یې مسئول وګڼه. سربېره پر دې د لومړي نمبر پروتوکول مسودې چې (ن،س،م) کمېټې پــر (۱۹۷۷ز)کــال، د (۱۹۰۷ او ۱۹۴۹ز)کــال کانوانسیونونو برخه کړه، وړاندیز وکړ، که مــادون دقــانون خــلاف کارترسره کړي، نو له مسئولیت نه ځان نه شي خلاصولای.

دا وړاندیز ونه منل شو، ځکه چې د کنفرانس ډېرو غړو هغه د اردو ډسپلین لپاره یو خطر وګڼه، ځکه نو کولای شو داسې وګڼو، د هغې قاعدې د پرېکړې منل، چې د نورنبرګ محکمې پــه واســطه

رامنځته شوې وه، ظاهراً له منځه تللې دي. د جګړو جنایتکــارانو څارنه کېدی شي، د ملي او نړيوالو محکمو په واسطه ترسره شي.

الف- که چېرې جنایتکاران په ملي سطحه محاکمه شي، باید دجزا قانون د هغوی د جنایتونو په باب وړ مواد ولري. که چېــرې د جزا په قانون کې دا ډول مواد نه وي، لنډمهاله لاره چاره داده، چې دا جرمونه دې د پورتني فرمان له مخې وځېړل شي.

په فرانسه کې د دویمې نړيوالې جګړې د جنګي جنایتکارانو د محاکمې لپاره، پر (۱۹۴۴ز)کال پو ځانګړی تقنني فرمان صــادر شو، ددې ترڅنګ د جزا په (۲۱۲)ماده کې هم پــه دې اړه یــو لــړ مطالب ځای شول.

د ملي محکموقضایي واک په لاندې حالاتوکې مطرح کېږي:

کله چې د دولت اتباع د جنګي جنایتونو قربانیان وګڼل شي.

کله چې ددولت اتباع پر جنګي جنایتونو تورن وي.

سربېره پر دې، ملي محکمې کولای شي، پرجنګي جنــایتونو تورن کسان، د نړۍ په هر ګوټ کې وڅاري.د ژنیو کانوانسیونونه پر دې ټکي ټینګار کوي، چې دولتونه مکلف دي، د تورنــو کســانو د نیولو لپاره لاره اواره کړي او هغوی محکمو ته وسپاري.

((په نړیواله ټولنه کې عمومي لېوالتیا داده، چــې د نړیوالــو جرمونو څېړنه دې د دولتونو له خوا وشي، نه د نړیوالې ټولنې لــه خوا))

د لندن (۱۹۴۵ز)کال داګست (۱۸)مې نېټې تړون، د جګــړې جنایتکارانو ته سزا ورکول، د کورنیو حقوقو سیستم ته ســپاري. د نورنبرګ او توکیو محکمو (دا محکمه د دویمې نړیوالې جګــړې د

**برېمنو څواکونو له خوا د (۱۹۴۹ز)کال د جنورۍ پر (۱۹)مه نېټه په جاپان کې جوړه شوه) اکثره پرېکړې يې پرمجرمينو پلي شوي نــه دي او په هوا کې پاتې شوي دي.**

**((د خليج جګړې (پر ۱۹۹۱زکال د عراق پر وړاندې د لويــديزو دولتونو جګړه) مجرمينو سزا دلويديزو هېوادونو له بيا بيا غوښتنو سره سره تر اوسه نا څوابه پاتې ده.))[1]**

**په يوګوسلاويا کې د جګړې د جنايتونو څېړنه يــو اســتثنايي حالت دی. په دې هېواد کې  د جنګي جرمونو زيــاتون او شــدت، امنيت شورا د يوې ځانګړې محکمې جوړولو ته مجبوره کړه.**

**((ځينې دولتونه دا ډول استدلال کوي، چې نړيوالې ټولنې ته د جګړې د جنايتکارانو د قضيې دڅېړنې وړاندې کــول، د زيــانمن شوي هېواد د واکمنۍ حق ته خطر ګڼل کېږي.))[2]**

**ب- په نړيواله کچه د جګړې  د جنايتکارانو قضايي څارنه غالباً له دريوپړاوو څخه تېرېږي:**

**۱- د څېړنې پړاو: د څېړنــې واک نړيوالوکمېســيونونو تــه ورکړل شوی دی.**

**کېدی شي داکمېسيونونه لنډمهالي (ADHOC) او يادايمې وي.**

---

[1] کمبوډيا ، انګولااو السلوادور هم د محکمې وړ جنګي مجرمين لري، خو نړيواله ټولنه تر اوسه پورې په دې باب د کومې محکمې پر جوړولو بريالۍ شوې نه ده.

[2] ژان کامبه کو Jean Combacau، نړيوال عمومي حقوق پاريس ۱۹۹۳زکال، ۳۱۵ او ۲۷۸مخونه.

دژنیوکانوانسیون دلندمهالې کمېسیون د جوړېدو وړاندوینه کړې ده، خو ددې کانوانسیون لومړی نمبر پروتوکـول د دایمـي کمېسیون د جوړېدو سپارښتنه کوي. په هر ډول د څېړنې نړیـوال کمېسیون کېدی شي د لېوالو هېوادونو په نوښت جوړ او یا د امنیت شورا د وړاندیزله مخې دایر شي. د امینت شورا پر (۱۹۹۲ز)کـال د خپلې (۷۸۰)مې پرېکړې له مخې دبوسنیا جګړې د جنایتکارانو په باب یو نړیوال کمېسیون جوړ کړ. دبوسنیا د جنګي جنایتونو تورنو کسانو محکمه وروسته پر (۱۹۹۵ز)کال جوړه شوه.

۲- د محاکمې پړاو: دڅېړنې تر پړاو وروسته، د محـاکمې پړاو مطرح کېږي. لکه څنګه چې دمخه مو اشاره وکړه، دنړۍ ترټولو نومیالۍ محکمه چې د جګړې د جنایتکارانود سزا نوښت یې ترلاسه کړ،دا محکمه له (۱۹۴۵ز)کال څخه تر (۱۹۴۶ز)کال پورې دایره وه. ترهغې وروسته دتوکیو محکمې له (۱۹۹۴ )تـر (۱۹٤۸ز)کـال پورې دنورنبرګ محکمې کار بشپړ کړ.

نړیواله محکمه کېدی شي دلېوالو هېوادونو په نوښت چې په هغوی کې زیانمن شوي هېوادونه نقش لري، جوړه شي او یا کېدی شي د هغې د جوړېدو نوښت د (ن،س،م) کمېټې په لاس کې وي. په پخوانۍ یوګوسلاویا کې د جګړې جنایتکارانو دمحاکمې په باب دامنیت شورا پرېکړه وکړه.

((د امنیت شورا د بشر حقوقو او د جګړې حقوقـو د اصـولو ساتنې او ملاتړ لپاره، خپله او یا د (ن،س،م) کمېټې پـه واسـطه هڅې کوي، کله چې د (ن، س،م) کمېټې خبره رامنځته کېږي، پرته

له دې چې دمحکمې جوړېدل الزامي شي، د سولې د تامین خبره، غالباً د هغې په بشرپال چوکاټ کې مطرح کېږي.

لکه پر (۱۹۹۱ز)کال د خلیج جګړې ترپایته رسېدو وروسته د عراق کردان د مرکزي حکومت له خوا ترفشار لاندې راغلل. د امنیت شورا اعلان وکړ، چې د عراق دا کړنه سوله او امنیت له ګواښ سره مخامخوي، شورا د عراق له دولت څخه وغوښتل، چې بشرپالو سازمانونو، په ځانګړې توګه دملګرو ملتونو موسسې(م،م،م) عمومي منشي ته اجازه ورکړي، چې دا قضیه وڅېړي.))[1]

**۳- د محکمې حکم د پلي کېدو پړاو:** د محکمو د حکم پلي کېدنه، د نړیوالې جزایي موسسې د نشتوالي له امله، د دولتونو پرغاړه اچول کېږي، په څرګند ډول وایو، چې جنایتکارته د سزا ورکولو امتیاز، زیانمن شوي دولت ته ورکول کېږي.

---

[1] ژان کامبه کو Combacau Jean، نړیوال عمومي حقوق پاریس ۱۹۹۳ز، ۳۱۵او۲۷۸مخونه.

# دویم څپرکی

## دجزا نړیوال دیوان جوړېدل

د عدالت نړیوال دیوان، چې په لاهه کې یې مقر دی، په داسې حال کې  چې د دولتونو ترمنځ د شخړو په باب د (م،م،م) د قضایي ارګان په توګه  پرېکړې صادروي، نړیوالې ټولنې تــر (۱۹۹۸ز)کــال وړاندې د ډلو ټپلو او نورو اشخاصو د څېړنې لپاره کومــه درېیمــه نړیواله محکمه نه درلوده.

په نړیواله کچه  د سختو پېښو څېړنه غالباً دلنډمهالو محکمو (ADHOC) له لارې ترســره کېدلــه. د دویمــې نړېــوالې جګــړې د جنایتکارانو د محاکمې لپاره  د نورنبرګ محکمه، د (۱۹۹۴ز)کال د عامه وژنې د مســئولینو د مجــازاتو لپــاره د رونــډا محکمــه اود یوګوسلاویا محکمه د وخت له غوښتنې سره سمې جــوړې شــوې وې. د جزا د یوې نړېوالې دایمې محکمې د جوړېدو اړتیا په ټینګــه احساسېدله.

دبشر حقوقو نړیوالې اعلامیې له خپرېدو څخه پنځوس کاله او د نورنبرګ له محکمې څخه نیمه پېړۍ وروسته د یو لــړ ســختو او

خطرناکو شخړو له کبله د (۱۹۹۸ز) کال د جولايي پر (۱۷)مه نېټه په روم ښار کې د جزا نړيوال دېوان(ج،ن،د) د بنسټ ډېره کېښــودل شوه. په هغه کنفرانس کې چې د همدې موخې لپاره د (م،م،م) له خوا تنظيم شوی و، (۱۶۰) هېوادونو ګډون وکړ. د تړون متن تر ډېرو اوږدو خبرو اترو وروسته د (۱۲۰) هېوادونو له خوا لاسليک شو.

امریکا هیله لرله، چې دا نړيوال دېوان ترخپل کنټرول لاندې راولي او له هغه څخه  د اقتصادي بنــديزونو او پــوځي لاســوهنې ترڅنګ، د خپلو سيالانو پروړاندې د فشار ديــوې نــوې هڅــې او وسيلې په توګه ګټه واخلي.

دا هيله ترسره نه شوه، ځکه نو امريکا کينه او لنډ فکري وکړه او ددې تړون په نه لاسليکولو سره يې خپلــه قضــايي خپلــواکي وساتله. هغه دليل چې امريکا ددې تړون د نه لاسليکولو لپاره راوړ دا و، چې نه غواړي سرتېري يې د هغه دېوان له خوا،چې په ټينګه سياسي شوی وي، په ((خيالي)) تورونو محاکمه شي.

دېوان به د لويو جنګي جنايتونو د مخنيــوي او يــا د ترســره شويو جنايتونو د له منځه وړلو لپاره وقايوي او يا معــالجوي نقــش ولري.

د دېوان مقر په (لاهه) ښار کې دی او واکونه يې د هغو څلورو کټګوريو په ګډون، د جنايتونو څېړنه ده، چې دنړيوالو حقوقو لــه مخې پېژندل شوي دي، دا جنايتونه دادي: عامه وژنه(Genocide)، بشرضد جنايت، جګړه ييزجنايت او د تېري جنايت.

دپورتنيو جنايتونو د تعبير او شننې(تفسير) لپاره د واکمنې سرچينې او د دېوان غوندو د جوړېدو دکــړنلارې پــه بــاب د نظــر اختلافونه تر اوسه نه حل شوي نه دي.

هغه تړون چې د هغه پر بنسټ د (ج،ن،د) رامنځته کېـــږي، د ((سیاست او اخلاقو)) ترمنځ له سختو ټکرونو سره مخامخ شـــوی دی. په دې ټکر کې ((د دولت د بشپړ واک)) پلویان له یوې خوا او د ((بشپړ عدالت)) پلویان له بلې خوا یو بل ته مخامخ دي.

له دې سره سره د کنفرانس هېڅ برخوال د دېوان جوړېـدو د ګټې په باب، چې په نړیواله کچه د کینو او جنایتونو د څېړلو لپاره یو اغېزناک ګام ګڼل کېږي، شک او ګومان نه کوي.

دا تړون هغه مهال پلی کېږي، چې له لاسلیکوونکو هېوادونو څخه یو هېواد د کورنیو موسسو له لارې (له هغــې جملــې څخــه پارلمانونه) هغه تصویب کړي.

د داسې یوې موخې تامین په ډېرو هېوادونو کې پر اساســي قوانینو د بیا کتنې غوښتنه کوي.

په دې مانا، چې د جنایتکارانو څېړنه له کورنیو محکمو څخه د جزا نړیوال دېوان ته لېږدول کېږي.

په فرانسه کې اساسي قانون د حکومت غړو اود جمهور رییس د محاکمې واک (دجمهوري عدالت دېوان) ته ورکړی دی.

داسې ښکاري چې دېوان به پر (۲۰۰۱) اویا (۲۰۰۱ز)کال جــوړ شي. تر اوو کلونو وروسته دنویو شرایطو په پام کې نیولــو ســره د دېوان پر تګلارو باندې د بیا کتنې لپاره، دیو کنفرانس د جوړېــدو وړاندیز شوی دی.

## د روم تړون غټ ټکي:

دتړون لومړۍ ماده څرګندوي، چې د (ج،ن،د) د یوې داسې موسسې په توګه رامنځته شو، چې واکونه يې د هغو اشخاصو په باب چې لوی جنایتونه يې کړي او نړیوال اړخونه لري، د پلي کېدو وړ دي. دا دېوان د ملي قضايي سیستم بشپړونکی دی. مقر يې په لاهه کې دی.

الف- هغه جنایتونه چې څېړنه يې د دېوان واک ګڼل کېږي.

۱- ډله ییزه وژنه: دا جنایت هغه ډول هڅې دي، چې د یوې ملي، قومي، نژادي او مذهبي ډلې د ټولیزې او یا قسمي وژنې لپاره ترسره کېږي.

وژنه، جسمي او فکري ځپنه، د ژوند د ناوړه شرایطو تحمیل، پر ټاکلې ډلې د نسل زېږېدو مخنیوی، د کوچنیانو جبري لېږدونه او نور... د جنایت په لومړۍ ډلبندۍ کې راځي.

۲- بشرضد جنایت: هغه ډول هڅو ته ویل کېږي، چې پر ملکي وګړو باندې یو منظم او پراخ یرغل وګڼل شي. په دې ډول دي: وژنه، ټولیزه له منځه وړنه، (Extra Mention) شکنجه، تبعید، جنسي تعرض، جنسي غلامي(Esclavage Sexuel)، نژادپالنه(Aparthid) او نور...

۳- جګړه ییز جنایتونه: هغه وخت يې د دېوان په واسطه څېړنه کېږي، چې په پراخه کچه، د یو ټاکلي پلان اوسیاست دیوې برخې په توګه مطرح وي.

جګړه ییز جنایتونه د ژنیو د (۱۹۴۹ز)کال د کانوانسیون او دجګړې له نورو قوانینو او دودونو څخه د سرغړونې له مخې لکه

ځنګه چې يې په نړیوالو حقوقو کې ځرګندونه شوې ده تعریف شوي دي، وژنه،شکنجه، ناوړه انساني چلند، تبعید، د خلکو جبري لېږدونه، یرغمل کول، پرملکي خلکو برید، د(م،م،م)پر پوځي وګړو برید، د جګړې له سیمې ځخه پر بهر مېشتو سرتېرو برید، دمالونو له منځه وړل، تشدد، جنسي تېری او په جبري ډول د سرتېرو راجلبول، د جنایتونو په درېیمه ډلبندۍ کې راځي.

۴- د تېري جنایت: ددې جنایت د تعریف تړون هغه کنفرانس ته لېږدول کېږي، چې اووه کاله وروسته به جوړ شي او پر تړون به بیا کتنه وکړي.

ب- د دېوان غوندې راغوښتونکې سرچینې:

د دېوان واک پر هغهو هېوادونو منل کېږي، چې تړون يې لاسلیک کړی وي، جنایت یې په خاوره کې ترسره شوی وي او یا تورن د هغه تبعه وي. دا موضوع د تړون په دویمه ماده کې راغلې او دجنجالیزو موادو له جملې ځخه حسابېږي، که چېرې دا ماده ومنل شي، نو ددې لټون له مخې به (پول پوت) د کمبوډیا په دولت کې د غړیتوب د نشتوالي له امله محاکمې ته وړاندې نه شي. په همدې ډول که چېرې د یوګوسلاویا له خوا تړون لاسلیک شي، نو که نوموړی هېواد د جګړه ییزو جنایتونو دڅېړنې په برخه کې د دېوان واک پلی نه کړي، بیابه همدا پایله وي. د تړون له مخې دولتونو ته داسې امکان ورکړ شوی دی.(۱۱ماده)[1]

---

[1] - د یادونې وړ ده، چې همدا اوس د هغې لنډمهالې محکمې له خوا چې د امنیت شورا د حکم له مخې په لاهه کې جوړه شوې ده، د یوګوسلاویا جنایتکاران محاکمه کېږي.

د دېوان غونډې د تړون د لاسلیکونکي دولت، امنیت شــورا، (م،م،م) او ملي څارنوال د غوښتنې له مخې جوړېــدی شــي. کــه چېرې څارنوال د غونډې د جوړېدو غوښتنه کــوي، نــو د څېړنــې دیوې دوسیې د جوړولو لپاره دې له یوې لــومړنۍ ملــي قضــایي سرچینې څخه اجازه ترلاسه کړي.

په دې حالت کې د (م،م،م) امنیت شورا کولای شي د (م،م،م) د منشور د اووم څپرکي په چوکاټ کې دیوه پرېکړه لیک له مخې د څارنوالۍ د غوښ شوي څېړنیز بهیر د دولــس میاشــتني تمدیــد غوښتنه وکړي. (دا ماده لانجمنه ده)

ج- د تړون نیمگړتیاوې:

د روم تړون چې دېوان یې جوړ کړ، عمومي نیمگړتیا یــې داده، چې له یوې خوا انتقالي پړاو کې غړو دولتونو ته ددې حق ورکوي، چې د جگړه ییزو جنایتونو په څېړنه کې د دېوان واک ونه مني او له بلــې خوا د دېوان حکم که چېرې د غړو دولتونو له خو اغونډې ته راوبلــل شي،پر تېر وخت او حالت(Non Retro Act) اغېــز نــه شــي کــولای.د وروستۍ کرښې پر بنسټ ډېر تــاریخي جنایتکــاران د دېــوان لــه پوښتنې څخه خوندي پاتې کېږي. هغه وخت نود پول پوت، پنوچې، ببرک، نجیب، کشتمند، برژنیف او داسې نورو کســانو د محــاکمې لپاره یوازې دا لاره پاتې کېږي، چې د(م،م،م) امنیت شورا د نوموړو کسانو پرضد د دېوان غونډه راوبولي.

د امنیت شورا د لنډمهالو محکمو پرځــای، چــې د رونــډا او یوگوسلاویا د پېښو په اړه ولیدل شوې، کولای شي په ځانگړو برخو کې د قضایي څارنې لپاره د (ج،ن،د) غونډه راوبولي.

**خو پر همدې وخت چې کومه ستونزه پـاتې کېـږي، هغـه د امریکا او چین دریځ دی، چې تړون یې نـه دی لاسـلیک کـړی او دامنیت شورا غړي ګڼل کېږي، نوموړي هېوادونه که چېرې یې اتباع تر قضایي څارنې لاندې راشي، په قوي اټکل به د ویټو له حق څخه ګټه پورته کړي، د دېوان غونډې د جوړېدو مخه به ونیسي.**

## د- د دېوان عمومي واکونه:

**(( د کنفرانس د جوړېدو په خونه کې عمومي روحیه داسې وه، چې د لاسلیکوونکو هېوادونو په باب د دېوان واکونه پـه څلـوورو برخو کې راټول شي.**

- **هغه دولت چې جنایت په کې پېښ شوی دی.**
- **هغه دولت چې جنایتکار د هغه تبعه دی.**
- **هغه دولت چې د جنایت قرباني د هغه تبعه دی.**
- **هغه دولت چې جنایتکار په کې اوسي.**

**ناحکومتي موسسو د څلورم الترنیتیف پرمنلـو، چـې اغېزنـاک ښکارېده ټینګار وکړ. ځکه چې زیاتره جنایتکاران بهر ته پناه ور وړي. په روندا کې پر (۱۹۹۴ز)کال د عامـه وژنـې زیـاتره مسـئولین بهـر تـه وتښتېدل، اوس دا جنایتکاران د افریقایي هېوادونو په مرسته د روندا لپاره یوې نړیوالې محکمې ته سپارل شوي دي.**

**له پورتنیو څرګندونو څخه په ډاګه کېږي، ان د هغو هېوادونو غړي، چې دا تړون یې لاسلیک کړی نه دی، لکه امریکا، که چېرې تر جنایت وروسته هغه هېوادته پناه یوسي، چې دا تړون یې لاسلیک کړ، د دېوان له قضایي څارنې څخه خوندي پاتې کېدلای نه شي)).[1]**

(۱) -لوموند ورځپاڼه، پاریس چاپ، د ۱۹۹۸ز کال د جولای ۲۰ او ۲۱مه نېټه.

د دېوان نورې برخې یا څېرکې د دېوان ترکیب، د تورن د څېړنې او څارنې څرنګوالي، د دعوې د طرحې کړنلارې، د مجازاتو کچې(۳۰) کاله زندان یا تر هغه زیات او یا د لویې جګړې د پیښېدو له کبله (عمري بند) د مرافعې غوښتنې دولونو، د نړیوالې قضایي ملګرتیا اصولو او د(م،م،م) د غړو هېوادونو له خوا د دېوان مالي خروب ته ځانګړې شوې دي.

# دویمه برخه

## په افغانستان کې دبشر او جګړې له حقوقو څخه سرغړونه

پر افغانستان باندې د شوروي تېري لاملونه، ددې تېري پرېکړه کوونکې شوروي سرچینې، د یرغل تائیدوونکي افغاني ډلګۍ، پر افغانستان، سیمې او نړۍ باندې د یرغل اغېزې، هغه موضوعګانې دي، چې اوس لا هم داسې لیدلوري لري، چې پلټل شوي نه دي.

دې خبرې ته کولای شو درې علتونه په ګوته کړو:

یو- د پېړۍ د سترې پېښې( شوروي یرغل) په باب د نړۍ د خپرونو د ډېرې لېوالتیا نشتوالی دی، دا کار په لویدیزه نړۍ کې د خپرونو د سیاسي رسالت دنشتوالي له کبله رامنځته شوی دی.

بل_ د پخواني شوروي د سرغړونو پر وړاندې د روسیې دولت د برائت د یو اړخیز اعلان هڅه ده، چې نه غواړي د پخواني شوروي پړه ومني.

– او په پای کې د پانګوالو هېوادونو پر وړاندې د روسیې تر ایډیالوژیکي ماتې وروسته د اقتصاد او سیاست په برخه کې د هغه هېواد له خوا د لیبرالیزم غوره کول دي.

د لیبرالیزم غوراوی د لویدیزو هېوادونو د خولې خبره ده، نوموړي هېوادونه غواړي روسیه په دې برخه کې ډېره وهڅوي او په ډېر پام سره پرې ډېر زیات، بې ګټې سیاسي جنجالونه بار کړي.

په افغانستان کې له شوروي یرغل څخه را پیدا شوې غمیزه، دا ده درییمې لسیزې ته داخله شوه، په هېواد کې وژنه او ویرنه روانه ده.

په ملي کچه د یو ملي حکومت د نشتوالي له کبله، د جنایتکارانو محاکمه کول، یوازې یوه هیله ده، هغه هم د روښاندو په څو وړو ټولګیو او ډلګیو کې موږ تر اوسه پردې نه یو بریالي شوي،چې  دا دعوه د ډله ییز جنجال له دایرې څخه دیوې ملي دعوې کچې تـه  پورتـه کـړو او لـه کمونیزم او جګړې څخه د هر زیانمن شوي هېوادوال او نړیوالـو عامـه افکارو پاملرنه ورته راواړوو.

په افغانستان کې ځینو کمونیستو ډلو په (دوه ګامه شاته) چل او تکتیک سره مجاهدینو ته ځان ورننېږدې کړ، په اصـطلاح لـه (عمـومي بښنې) نه یې ګټه پورته کړه، د مجاهدینو له یو شمېر ډلـو سـره یـې ائتلاف وکړ، نه یوازې د خپلو کړو جنایتونو ځواب یې ورنه کړ، بلکـې د کمونیستانو په نومونه (د ملګرتیا او همکارۍ) او د اسلامي ډلو په وینا د (ورورۍ) په فضا کې یې لستوني بډ وهل، او له دې کار څخه یې د ملت ضد سازشونو په مقصد، چې پخـوا یـې لا سـمبال کـړي وو، د خپلـو جنایتونو د پټولو لپاره، د یوې ډاډمنې  پردې په توګه کار واخیست.

سربېره پردې، کمونیستانو په هېواد کې د هغه اړ دوړ له کبله، چې د کمونیستانو له دوه ګونو ډلو سره د اسلامي تنظیمونو دسازښــت لــه امله رامنځته شوی و او د مجاهدینو په لاس یې د ګنو جنایتونو د ترسره کولو لپاره لاره اواره کړې وه. د خپلو جنایتونو د پټولو او هېرولو لپاره یې ډېره زیاته ګټه پورته کړه، همدا اوس ګنــو افغــاني کمونیســتانو، هغــو هېوادونو ته پناه وروړې، چې به یې (نړۍ خور امپریالیزم) ګانــه، خــو اوس دوی ته ؛((لنګه غوا)) ده اوس په ارام وجدان (!) له کومې وېرې او پوښتنې پرته په دې لته کې دي، چې د همدې (امپریالیستي نــړۍ لــه نعمتونو څخه) ګټه پورته کړي او خپل سوکاله ژوند نور هم ســوکاله او خړوب کړي.

رښتیا خبره داده هغو هېوادونو، چې په نړیواله کچه یې له کمونیزم سره سیالي کوله او د هغو پرضد یې هلې ځلې کولې، لــه افغانســتان څخه د شوروي پوځونو تر وتلو وروسته [پرته له دې چې زموږ د هېواد ملي ګټې په پام کې ونیسي، افغانستان یې په داسې حال کــې یــوازې پرېښود، چې هرڅه یې په جګړه کې بایللي وو.

زموږ هېواد سره یې یو سوداګریز معامله ییز چلند وکړ. افغانستان پاتې شو او د جګړې د جنایتکارانو او ملي خاینانو د محاکمې ستونزمنه موضوع].

له څوکلونو راهیسې په افغاني ټولیو او په ځانګړي ډول، په افغاني خپرونو کې، د جنایتکارانو د محاکمې موضوع په هېرېدو ده. د شوروي دیرغل ناتار په کال کې یوازې یو ځل په افغاني خپرونو کــې یــادېږي او هغه هم په داسې ډول چې د غمیزې او ناتار جنایتکارو مســولینو او د

هغو د محاکمې په باب نه پوره بحث کېږي او نه تبصره، داسې ښکاري چې هره میاشت او کال تېرېږي، پر جنایتونو یو دروند سیوری غوړېږي. په دې لیکنه کې زما موخه یوازې او یوازې ددې پېښې دهېرېدو مخنیوی دی، ځکه نو زه د کلیاتو په طرح کولو بسنه کوم او د قضیې جزیات د پوهانو د څېړنې او د ملي او نړیوالې څارنوالي همت ته سپارم.خدای (ج) به په راتلونکي کې د جګړې د جنایتونو او جنایتکارانو د څېړنو لپاره ځانګړې ملي او نړیواله محکمه جوړه کړي. ان شاالله. په افغانستان کې د جګړې جنایتونه په دوو پړاوونو کې څېړل کېږي.

- دشوروي تېري پړاو.
- تر شوروي تېري وروسته پړاو.

# لومړی څپرکی

## کمونیست حکومت

## (د شوروي تېري پړاو)

**په دې پړاو کې دشوروي له خوا د افغانستان د پوځي اشغال لس کلونه (۱۹۷۹دسمبر- ۱۹۸۹ فبروري) اودجهادي او ملي ځواکونو پروړاندې د کمونیست حکومت دمقاومت درې کلونه (۱۹۸۹-۱۹۹۲ زکال د اپریل وروستۍ شپې ورځې) راځي. په دې ډول د شوروي دمستقیم او نامستقیم تېري وخت لسو کلونو ته رسېږي.**

**پیرماري دیو پویي M.Dupuy وایي:**

**((پوځي اشغال کېدی شي د دوو دولتونو تر منځ تر تړون وروسته رامنځته شي اویا د دوو دولتونو تر منځ د وسلوالې شخړې په نتیجه کې په یو اړخیز ډول ترسره شي. په دواړو حالتونو کې سیمه ییز واکونه Compemtence Terretoriale د اشغالګر دولت لاسته ورځي.**[1]

[1] – دپویي له څرګندونو څخه په افغانستان کې د جګړې د جنایتونو د پېښېدو په اړه د اشغالګر شوروي غوڅ مسئولیت په ډاګه کېږي.

(( داشغال دويم ډول اوس د اسرائيلو له خوا د اردن پر شاوخوا او غزه کې تر سترګو کېږي.))[1]

دا حالت د شوروي له خوا د افغانستان له پوځي اشغال سره توپير لري.

دې حکومت اصولاً خپل سيمه ييز واکونه له لاسه وکـړي نــه وو. پوځي اشغال د هر لامل له کبله چې وي، ترهغو احکامو لانــدې راځــي چې د وسلوالو شخړو او انساني حقوقو کانوانسيونونو اعلان کړي دي. په دې برخه کې کولای شو، ترټولو لومړۍ د لاهې د څلــورم کانوانســيون (۱۹۰۷ز)کال او همدارنګه د ژنيو د (۱۹۴۹ز)کال  د کانوانسيونونو يادونه وکړو، وروستی کانوانسيون د لومړي نمبر پروتوکول په واسطه بشپړ شو.

نن ورځ  د پوځي اشغال مشروعيت په ښکاره ډول د ځــواک نــه کاروني له آر سره، چې د (م،م،م) منشور د څلورم پراګراف پــه دويمــه ماده کې يې  يادونه شوې او د نړيوالوحقوقو يوه برخه ګڼل کېږي،ټکــر کوي.[2]

موږ په دې باب چې د کابل حکومت د لاسوهنې  دغوښــتنې پــر وخت (د دې ډول لاسوهنې د غوښتنې په باب هېڅ ډول سند نه شته) خپل سيمه ييز واکونه له لاسه ورکړي نه وو. له (ديوپويي) سره هم نظره نه يو.

ځکه چې د کابل د حکومت واکونه ان د جهاد دپيل پر وخت، پــه کليو اوبانډو کې په زياته کچه لږ شوي وو، خو دا چې ديوپويي وايــي د

[1] – دا نظر د اشغالي سيمو له ځينو برخو څخه د اسرائيلي ځواکونو تر وتلو دمخه (۲۰۰۰،جون) څرګند شوی و.

[2] – پ،م ديوپويي، نړيوال عمومي حقوق، پاريس، دويم چاپ، ۱۹۹۳زکال ۴۹مخ.

نړیوالو حقوقو پر وړاندې لاسوهونکی او رابلونکی هېواد د بشر د حقوقو په برخه کې برابر مسولیت لري، یو واقعیت دی.

په افغانستان کې  د جګړې د جنایتونو پــه ترســره کولــوکې پــر شوروي واکمنو او د هغو پر جنرالانو سربېره، چې په هېواد کې پر جګړه اخته وو، لکه دببرک کارمل په واکمنۍ کې د شــوروي لښــکرو پــوځي سلاکار جنرال مایوروف، د ګرباچوف دواکمنۍ پر مهال په افغانستان کې دشوروي لښکرو قوماندان جنرال ګروموف، په کابل کې تــول شــوروي سفیران د خیل او مسوول ګڼل کېږي.

پوزانوف، احمدجانوف،موژایف او ورانسوف له همدې ډلــې څخــه دي. ورانسوف اوسه په (م،م،م) کې د روسیې استازی دی.

د افغانستان د اشغال پر لومړیو کلونو د ثور د غمیزې یو اساســي طرحه کوونکی(اوبلوف) په کابل کې د شــوروي ســفارت مستشــار و، وروسته دا شخص د جمهور رییس( یالتسین)  له خوا د برهــان الــدین رباني دربار ته د ګرځنده سفیر په توګه وټاکل شو.

لومړی- د نړیوالو سیاسي، مدني حقوقــو او شــکنجې ضــد کانوانسینونونو له اصولو څخه سرغړونه: د(م،م،م) دخپلې عمــومي جرګې د (۲۰۷\٤۹) ګڼې پرېکړه لیک له مخې څرګنــده کــړه، چــې  د (م،م،م) یو ځانګړی کمېسیون باید په افغانستان کې دبشر له حقوقــو څخه شوې سرغړونې وڅېړي، په دې باب دې مستند راپوررونه برابر او د (م،م،م) د عمومي منشي له لارې دې امنیت شورا ته وړاندې کړي.

دشوروي تېري کوونکي حکومت او د کابل  کمونیســت حکومــت دافغانستان د جګړې په بهیر کې له ټولو هغو نړیوالو کانوانســیونونو او تړونونو څخه چې د بشر د حقوقو د پاللو او مراعتولو سپارښتنه کــوي،

سرغړونه کړې ده. موږ دلته د سیاسي او مدني حقوقو د نړیوال میثاق او شکنجې ضد کانوانسیون له حکمونو څخه ددغــو دوو حکومتونــو سرغړونو ته یو څه اشاره کوو. د بحث په پــای کــې بــه د کمونیســت حکومت پر مهال، د مجاهدینو پر سرغړونو هم وغږېږو. د زیاتې یادونې وړ ده، چې پورتنیو معتبرو نړیوالو اسنادو، له حکمونو څخه سرغړوونکي او د جګړې جنایتکاران د محاکمې وړ ګڼل کېږي.

دکابل کمونیست حکومت پر (۱۹۸۳ز)کــال د سیاســي او مــدني حقوقو نړیوال تړون لاسلیک کړ، د همدې تړون په چوکاټ کې دبشــر حقوقو یوه کمېټه چې د مدني او سیاســي حقوقــو د نړیــوال تــړون د حکومونو تطبیق د څارنې دنده یې لرله، جوړه شوه.

د تړون اوومه ماده څرګندوي: (( هېڅوک تر شــکنجې، مجــازاتو، ځورووونکي، سپکوونکي او بشرضد چلند لاندې نیول کېدی نه شي)).

د همدې تړون د روحیې له مخــې هڅــه شــوې ده، چــې غــړي هېوادونه (دیواستثنایي خطر د پېښېدو پر وخت، چې د یو ملت شتوالی له ګواښ سره مخ وي او رسماً اعلان شي، کولای شي خپلې یو شــمېر دندې چې په تړون کې یې یادونه شوې، څنګ ته کړي، خــو د اوومــې مادې رعایت چې شکنجه یې منع کړې ده، هېڅوخت په هېڅ پلمه، نه شي کولای شاته وغورځوي.

د کابل کمونیست حکومت د (۱۹۸۵ز)کال د جنورۍ پر(۴)مه نېټه د ملګرو ملتونو د شکنجې، مجازاتو، ناوړه، ظالمانه او سپکوونکو انساني چلندونو ضد کانوانسیون لاسلیک کړ. دا کانوانسیون په خپله درېیمه ماده کې څرګندوي: (( ټول غړي دولتونه دنده لري، چې د شکنجې د مخنیوي لپاره قانوني، قضایي،اداري او نورې اغېزناکې هڅې وکړي)) .

کانوانسیون زیاتوي: ((جګړه،دجګړې ګواښ، د کورني سیاســي ټیکــاو

نشتوالی، اضطراري اوبل هېڅ حالت ددې دلیل کېدی نه شي، چې پــر شکنجه دې لاس پورې شي.))

د بشر حقوقو کمېټه چې د مدني او سیاسي حقوقو د نړیوال تړون د تطبیق د څارنې دنــده لــري. دتــړون د (۷)مــې مــادې د تطبیــق د څرنګوالي په باب څرګندوي:

د (۷)مې مادې د تطبیق لپاره یوازې دا خبره پوره نه ده، چــې د شکنجې د منع کولو اعلان دې وشي او یا دې هغه جــرم وګڼــل شــي. دولتونه باید د تــړون د (۷)مــې او دکانوانســیون د دویمــې مــادې د محتویاتو د سم تطبیق لپاره د څارنې د یواغېزناک او عملي میکانیزم پر جوړولو مکلف شي.

د شکنجې په باب غوښتنلیکونه باید د واکمنو مقامــاتو لــه خــوا وڅېړل شي، د شکنجې له مسئولینو څخه باید پوښتنه وشي او شکنجه شویو کسانو ته د قضایي سلسلې له مخې دخپل حال د بیان امکان برابر شي. عارضین او شاهدان باید دخپل ښه سپیناوي لپاره لــه ګــواښ او وېرې څخه خوندي وساتل شي. (کانوانسیون ۱۳مه ماده).

د شکنجې قربانیان باید د زیان د جبران له حق څخه برخمن شي، د شکنجې مخنیوي د اغېزناکې او عملي څارنې لپاره کېدی شي لاندې هڅې ترسره شي:

۱- په ساتنځي کې د تورن د ساتنې منع کول: هڅه دې وشي، چې تورن کسان په هغو ځایونوکې وساتل شي، چې په رسمي ډول د تورنــو کسانو د ساتنې لپاره اعلان شوي وي.د رسمي او ښکاره ساتنځایونو نوم او ځای باید په یوه مرکزي اداره کې ثبت شي اود هغو لســت بایــد لــه

غوښتنې سره سم لېوالو خواوو، له هغې جملې څخه کورنۍ ته وسپارل شي.

۲- په ساتنځي کې باید له تورن کس سره ډاکټرانو، مدافع وکیلانو او دکورنۍ غړو ته د لیدو اجازه ورکړای شي.

۳- د هغو اعترافونو دباور سلبولو لپاره باید لازمې هڅې وشي، چې په محکمه کې له تورن څخه د تړون د (۷)مې مادې او د کانوانسیون د (۱۵)مې مادې خلاف د شکنجې په واسطه ترلاسه کېږي.

۴- د قوانینو د پلي کولو مسولینو ته دداسې ټینګو، دقیقو زده کړو او کړنلارو ښوول، چې تر شکنجې دمخه د هغې مخنیوی وکړي.

۵- که چېرې د شکنجې په باب پوره او کره دلایل په لاس کې وي، په ناپېیلي او ګړندي ډول د هغو څېړنه او راسپړنه.

د ښځنې نړیوال سازمان (ب،ن،س) پردې باور دی، چې په افغانستان کې د بشر حقوق په ټینګه تر پښو لاندې شوي. د (ب،ن،س) له خوا ډېرې داسې پېښې ثبت شوي، چې په هغو کې یو تورن، پرته له دې چې کوم تور پرې پورې شي او یا یې دوسیه اړوندې محکمې ته ولېږل شي، په میاشتو میاشتو زندان کې ساتل کېږي.

نیول شوي کسان د اعتراف لپاره په پټو ساتنځایونو کې شکنجه شوي دي. د شکنجې مخنیوي یا منع کولو کانوانسیون، تر شکنجې وروسته اعتراف، محکمې ته نه راجع کوي.(۱۵مه ماده). د (ب،ن،س) د کره اسنادو له مخې وایي، چې په افغانستان کې ډېر ځله د محکمې حکم، د شکنجې له لارې، پر لاسته راغلي اعتراف ډېده لګولې ده.

هغه باور چې د شکنجې په واسطه له اعتراف څخه ترلاسه شي، پر هغه باندې د تورن شخص له نیوکې، چې د شکنجې ضد کانوانسیون کې یې یادونه شوې، نیولې، یو لړ تدبیرونه او هڅې چې دیوې عادلانه

محاکمې د جوړېدو هیله لري، داتول د مدني او سیاسي حقوقو د تړون له خوا په ګوته شوي دي. له هغې جملې څخه:

- ❖ د یوې بې پرې او ناپېيلې محکمې له خــوا دیــوې عادلانــه او ښکاره محاکمې حق.
- ❖ د واکمنې محکمې له خوا تر هغه پورې چې تورن محکوم شوی نه وي، د برائت اصل رعایت.
- ❖ دمدافع وکیل دټاکنې حق.
- ❖ د مرافعې حق.

د (ب،ن،س) په ډاډ سره اعلانوي، چې د کابل کمونیست حکومت استثنایي انقلابي محکمه د خپلو دندو پر ترسره کولو کې نه خپلواکه وه او نه هم ناپېيلې. د (ب،ن،س) ته د راغلو اطلاعاتو له مخــې، د تورنــو کسانو محاکمه ښکاره نه ده. (یو شمېر هغه ډېرې لږې محــاکمې چــې تبلیغاتي او ننداره ییزې بڼې او موخې لري، هغه پر عمومي قاعدې څه اغېز نه شیندي.)

تورن کسان له خپل مدافع وکیل څخه دمرستې غوښتنې حق نه لري. هغوی په محکمه کې د خپل ځان په ګټه له شاهدانو څخه ګټه نه شي اخیستلای.دبرائت قاعدې او حالت ته پــام نــه کېــږي، د انقلابــي پرېکړې په باب د مرافعې امکان نه شــته. دیــادونې وړ ده، چــې د دې سیاسي محکمې رییس د انقلابي شورا غــړی دی. ســربېره پــر دې، د انقلابي شورا رییس محکمې ته کړنلاره ورپه ګوته کوي او ټاکي. د ثــور انقلاب حقیقت ورځپاڼې دیو خبر له مخې د (۱۹۸٤ز)کال د نــومبر پــر میاشت، د انقلابي شورا رییس ببرک کارمل، د خادمسئولینو، د انقلابي

محکمې او انقلابي څارنوالۍ د منسوبینو په یوه غونډه کې برخوالو ته دقیقې انقلابي کړنلارې په ګوته کړې.

دسیاسي او مدني حقوقو تړون له یوې خوا او د شکنجې د مخنیوي کانوانسیون له بلې خوا، پر دې خبرې ټینګار کوي، چې په زندانونو او ساتنځایونو کې باید لږ تر لږه روغتیایي حالت ته پاملرنه وشي.

د مجازاتو د و سیلې په توګه دې د اوسپنې زنځیر له کارونې څخه په ټینګه ډډه وشي، نیول شویو کسانو ته دې ددې خبرتیا حق ورکړی شي، چې په کوم ځای کې اوسېږي او له کوم ځایه کوم ځای ته لېږدول کېږي.

د نیول شویو کسانو کورنۍ باید د هغوی له ساتنځي څخه خبر وي او د تورن کس د لیدنې کتنې حق ولري.

د هغو موثقو اطلاعاتو له مخې، چې د (ب،ن،س) ته رسېدلي دي، د خاد په مرکزونو او نورو افغاني زندانونوکې هغه ډول اسانتیاوې او تنظیمونه نه شته، چې د مخه مو ورته اشاره وکړه، ډېر ځلي یو تورن شخص له ظالمانه او بشرضد سزاوو سره مخ شوی دی، چې دا په خپله دمدني او سیاسي حقوقو د تړون ددې مادې پرضد عمل دی. دشوروي تېري کوونکی دولت دمدني او سیاسي حقوقو د نړیوال تړون او شکنجې ضد کانوانسیون یو لاسلیکوونکی ګڼل کېږي. د کانوانسیون د (۵)مې مادې له مخې غړي هېوادونه د خپلې واکمنۍ په سیمه کې له پورتني تړون او کانوانسیون څخه د سرغړاوي مسولیت لري؛ ان که سرغړونکی د هغه غړی وي او که یا نه وي. د شکنجې ضد کانوانسیون(۴)مه ماده اعلانوي چې: (ټول غړي هېوادونه) دنده لري،

**چې د ټاکلو قوانینو په واسطه دخلکو ملاتړ وکړي او له شکنجې څخه یې وژغوري.**

**دا قانوني تدبیرونه او هڅې باید ضرور، د هغو سرغړونو په باب هم وي، چې په مستقیم ډول په کې شکنجه ترسره شوې وي.**

**د(م،م،م) عمومي جرګه د (۱۹۷۹ز)کال دډسمبر پر (۱۷)مه نېټه د قوانینو د تطبیق لپاره مسولینو ته لارښوده نظامنامه تدوین او نافذ کړه. ددې نظامنامې (۵)مه ماده په ډاګه کوي چې: ((د قوانینو د تطبیق هېڅ موظف شخص په هېڅ پلمه نه شي کولای، ظالمانه او بشرضد چلند وکړي، خلکو ته سزا ورکړي یا دا ډول کارونه وکړي او یا د دې ډول هڅو په باب چوپتیا غوره کړي.))**

**د(ب،ن،س) په ټوله پازوالۍ( مسولیت) په ډاګه کوي، چې شوروي پرسونل په مستقیم ډول د افغانانو په زنداني کولو او شکنجه کولو کې لاس درلود. په څو نورو برخو کې شورویانو په خپلــه دشــکنجې بهیــر لیدلی او پر هغه یې سترګې پټې کړي، چې دا په خپله په شکنجه کې د ګډون مانا لري.))[1]**

**دویم- د نورنبرګ محکمې د ډلبندۍ له مخې د جګړې لــه حقوقو څخه سرغړونه: د نورنبرګ محکمې د جګړې حقوقو له اصولو څخه سرغړونه، د جګړې جنایتونو تر عنوان لاندې، پر درېــو ډلبنــدیو وېشلي ده. جګړه ییز جنایت، سوله یز جنایت او بشرضد جنایت.**

## ۱- جنګي جنایت:

**دملکي وګړو اجباري لېږدونې، د ځاني او عامه شــتمنۍ لــوټ او تالان اود جنګي اسیرانو وژنې ته ویل کېږي. د نورنبرګ محکمې د ژنیو**

[1] – د(ب،ن،س)افغانستان دسیاسي زندانیانوشکنجه، لندن،۱۹۸۴زکال۳۹-۴۰مخونه.

د څلورګونو کانوانسيونونو د پرېکړې له مخې چې مخکې ورتــه اشــاره وشوه، دا جنايت د ټينګې سزا وړ ګڼل کېږي.

موږ په دې برخه کې له سلګونو بېلګو څخه پر يو دوو بېلګو بسنه کوو.

## الف- دملکي وګړو جبري لېږدونه:

شوروي ځواکونو د خپلو دښمنانو پرضد له ډېرو عصــري الوتکــو څخه کار واخيست، ددې هوايي بمباريو په پايله کې، په کليوالي سيمو کې په زرګونو ملکي وګړي مړه او ټپيان شول، په مليونونو مهاجرت ته اړ شول، کرنه، حاصلات او څاروي له منځه ولاړل.[1]

د (م،م،م) عالي کمشنرۍ پر (١٩٨٦ز) کال د افغان مهاجرينو شمېر د ځمکې پرمخ د مهاجرينو غټ شمېر وګانه،پر همدې کال په پاکستان کې د افغان مهاجرينو شمېر (۵)مليونو تنو ته نږدې شو.

درې مليونه افغانانو ايران ته پناه وړې وه، په دې ډول نو د يو بــې غرضه اوبې ضرره هېواد پر وړاندې د يو ستر زبر ځواکي او يرغلګر هېواد د جګړه ييز ماشين او ويجاړوونکو وسايلو د کارونې له امله، د افغانستان نيم نفوس تر هېواد دباندې د مهاجرت له ســخت ژونــد ســره لاس او ګرېوان و.

(پر کليوالو سيمو باندې دشوروي د هوايي ځواکونو د بمبارۍ لــه امله په زرګونو ملکي وګړي مړه او ټپيان او په مليونونو تنه مهاجرت ته اړ شول، کرنه، حاصلات او څاروي له منځه ولاړل)

## ب- د ځاني او عامه شتمنيو لوټ او تالان:

[1] – (ب،ن،س) افغانستان، دبشري حقوقو د غميزې په باب نړيوال مسوليت، ١٩٩۵ز کال، نومبر، ١٧ مخ.

**دشپې ګرځېدنې بندیز په بهیر کې شوروي سرتېرو د ګزمې دنده لرله، دلوټ او تالان یوه پېښه چې زیاته رسوایي یې رامنځته کړه، دکابل تر اشغال یوه میاشت وروسته د کب میاشتې پر یوه شپه رامنځته شوه، څرنګوالی یې په دې ډول دی:**

**د روسي پوځ یو ډلګی سرتېري دشپې پر درېو بجو افغان لوی پلورنځي (فروشګاه بزرګ افغان) ته نږدې له خپلو موټرو څخه کښته شول، د نوي مارکیټ یو شمېر قفلونه یې مات کړل او د هغوی مالونه او شیان یې خپلو موټرو ته ولېږدول، وروسته یې پر دکانونو پټرول وپاشل او بیا یې اور ورته کړ، چې ددې اور له کبله (۱۰۰) دکانونه وسوځېدل.**

**یو څوکیدار دا پېښه له پیله تر پایه پورې لیدلې وه، وروسته یې نورو ته کیسه کوله، بیا د امنیتي ساتندویانو له خوا ونیول شو او داسې ویل کېږي چې ووژل شو.**

**مسولینو د اور لګېدو علت د بریښنا شارټي وښوده، په داسې حال کې چې هټیوالو ویلې، که چېرې بریښنا شارټي کړې وای، نو تر او لګېدنې وروسته به د ځینو مالونو او شیانو پاتې شونې او نښې نښانې پاتې وای، هټیوالو خپلو دکانونو ته چې لومړی تش شوي وواو بیا ورته اور اچول شوی و، په ډېرې نهیلۍ کتل.[1]**

**د المان مسیحي دیموکراتیک ګوند پر (۱۹۸۵ز)کال (په افغانستان کې دبشرله حقوقو څخه سرغړونه) په نوم یو کتابګوټی چاپ کړ، په دې کتابګوټي کې راغلي دي: (( د څلورو کلونو په بهیر کې دافغانستان پرهر کلي او بانډه لږ ترلږه یو ځل بمباري شوې ده.))**

[1] – نیازی امیدوار، د ثورکودتالاملونه او پایلې، پېښور۱۳۲۸ل کال، چنګابس، ۱۱۸-۱۱۹مخونه.

دوکتور(کارفري کانګ) چې په افغانستان کې يې دوه کاله د طبيب په توګه دنده ترسره کوله، ګزارش ورکوي: په پکتيا او لوګر ولايتونو کې چې په سلګونو کيلومتره وګرځې، نو له بمبار شويو کليو پرته به نور څه ونه وينې. د ولايتونو په مرکزونو کې هم پر مــارکيټونو او د اســتوګنې پرسيمو زورور هوايي بريدونه کېږي.

د وژنو ډېره زياته برخه، چې شمېر يې تر سلګونو زرو تنو هم اوړي، له همدې اړخه دي. له تائيد شــويو او منــل شــويو ګزارشــونو څخــه څرګندېږي، چې روسانو په افغانستان کې د کيمياوي وســلو، د بمونــو چوولو او کيمياوي ګازونو په وسيله د څښلو اوبه، غلــې دانــې او نــور خوراکي څيزونه مسموم کړي دي.

د ګاز ضد هغو ماسکونو، چې په افغانستان کــې لــه روزل شــوي روسي سرتېرو څخه لاسته راغلي او لابراتــواري کتنــه يــې شــوې او همدانګه دروسانو له خوا د هغو (۱۶) تنو وژل شويو ملکي وګړو د وينې او تشو متيازو تر لابراتواري کتنو وروسته په ډاګه شوې، چــې روســي ځواکونو د مجاهدينو پرضد د(ميکوتوکسين) په نوم له يو ډول کيمياوي ګاز څخه ګټه اخيستې ده.

## ج- د اسيرانو شکنجه او وژنه:

د شوروي له خوا د پوځي اشغال پرکلونو د افغانستان په زندانونو کې په سلو کې (۷۰ )جنګي اسيران ساتل کېدل.د کره معلوماتو له مخې روسانو زموږ د هېواد لس کن اشغال په بهير کې نږدې شل زره جنګــي اسيران په زندانونو يا د جګړې په ډګرونو کې اعدام کړي دي.

((طالبانو د (۶۷۴۹) تنو لست چې د اشغال په کلونو کې د جګړې په لړ کې لادرکه شوي دي، روسي مقاماتو ته وسپاره.))[۱]

[۱] – دافغانستان اخبار، په فرانسه يې ژبه، پاريس، ۱۹۹۲زکال، ۲۹، ۱۷ مخونه.

البته پورتنی لېست بشپړ نه دی او ځانګړي سارايي اعدامونه پــه کې په پام کې نه دي نیول شوي.

شورويانو په افغانستان کې هغه ټپي اسيران، چې د جګړې په ډګر کې يې له وسلې سره نيول، له قضايي پړاوونو(چې هغوهم تېرويستونکې تبليغاتي بڼه درلودله او دتورن د دفاع لپاره يې کوم سيستم نه درلود) پرته اعدامول.

شورويانو د ژنيو د (۱۹۹۳ز)کال د کانوانسيون خلاف، نه يوازې له اسيرانو څخه (ن،س،م) کمېټې دازادې ليدنې کتنې له مخنيوی کاوه، بلکې د(ن،س،م) ته يې د اسيرانو د بشپړ لېست په نــه ورکولــو ســره خپلې دندې او مکلفيت ته شا اړوله.

[(ب،ن،س) د (۱۹۸۰ز)کال د فبرورۍ پر مياشت، کابل ته يو پلاوی ولېږه، چې د اسيرانو د عامه وژنې په باب د خپرو شــويو اوازو څېړنــه وکړي. پلاوي ښه کره اسناد ترلاسه کړل، نه يوازې دا چې پــه زرګونــو بنديان وژل شوي اولادرکه شوي، بلکــې لــه (۱۹۷۸ز)کــال څخــه تــر (۱۹۷۹ز)کال پورې له شکنجې څخه هم په منظم ډول کــار اخيســتل شوی دی.][1]

[(ب،ن،س) په ډاګه اعلانوي، چې شکنجه د هغه څه د دفاع لپاره، چې د کابل کمونيست حکومت ورته انقلاب وايي، يو دود ګرځېدلی دی. بنديان(جنګي اسيران) دخاد د استنطاق په مرکزونو، د زندانونو په انګړونو اوپوځي ځايونو کــې لــه ډول ډول ســختو شــکنجو ســره مخامخېږي، ان هغه جنګي اسيران، چې د جګړې په بهير کې تسليمۍ ته اړوزي، هم بې شکنجې نه پاتې کېږي.

(۱) – (ب،ن،س) افغانستان، دسياسي بنديانوشکنجه، لندن ۱۹۸۲م کال، ۵ مخ.

هغو اسیرانو ته چې شکنجې ورکول کېږي، دژوند پرتول بهیر یې نښې نښانې پاتې کېږي، ډېر اسیران د شکنجې پر وخت مري، د ټولو نښو نښانو او تورونو له مخې، شوروي مقامات، یا د شکنجې په مستقیمو برخوالو او یا هم دهغې د لیدونکو په توګه د شکنجې په مسولیت کې شریک ګڼل کېږي.][1]

شوروي مقامونه د اسیرانو له شکنجه کولو څخه انکار کوي، خو عیني شاهدانو او شکنجه شویو کسانو په شکنجه کې دشورویانو د مستقیم او نامستقیم ګډون خبره تائید کړې ده.

په افغانستان کې د شوروي پوځونو سلاکار (ستر جنرال الکساندر مایوروف) داسیرانو د وژنې پړه او مسولیت د افغانستان پر کمونیست حکومت وراچوي او وایي: (( نجیب او خاد په هرات کې لېونتوب پیل کړ، هو! پرته له پوښتنې اومحاکمې د اسیرانو اعدامول دوام لري.

زه خبر وم،چې ډاکټر نجیب الله ډېر سخت زړی دی، خو پردې نه پوهېدم، چې زموږ له خوا د خپرو شویو تبلیغاتي پاڼو، چې تسلیم شوي دښمن ته په کې د ښښنې ژمنه شوې وه، سره سره د اسیرانو د اعدامولو حکم ورکړ شي...

ما غوښتل د اعدامونو مخه ونیسم، خو نجیب ویل، چې موږ په دې برخه کې دکارمل صاحب امر عملي کوو.))[2]

(ب،ن،س) د (۱۹۸۸ز)کال د مارچ پر میاشت یو لړ داسې اسنادونه وړاندې کړل،چې په هغو کې د شوروي ځواکونو او افغانستان دولت له خوا د (۱۹۸۸ز)کال د قصدي وژنو په باب معلومات وړاندې شوي وو. دې سازمان د (۱۹۹۱ز)کال دمارچ پر میاشت له غور او محاکمې پرته د

---

[1] - (ب،ن،س) افغانستان، دسیاسي بندیانو شکنجه،لندن ۱۹۸۲م کال، ۵مخ.

[2] – الکساندرمایوروف، په افغانستان کې رښتیا څه تېرېدل؟ د داود جنبش ژباړه، پېښور، ۱۹۹۹ز کال ۲۷۲مخ.

سیاسي بندیانو د ساتلو او شکنجې په باب خپله اندېښنه څرګنده کړه او د کابل له کمونیست حکومت څخه یې وغوښتل، چې د دې کــارونو مخه ونیول شي او هغه کسان چې سرغړونه وکړي، باید محاکمه شي.

د یو بل ګزارش له مخې چې پر (۱۹۹۱ز)کال خپورشو، د عقیده یي زندانیانو په ګډون د زرګونو هغو سیاسي بندیانو په اړه اندېښنه څرګنده شوه،چې په اختصاصي محکمو کې په ناعادلانه ډول پر قیــد او مــرګ محکوم شوي دي.

## ۲- سوله ضد جنایت:

ددې جنایت تور د یرغلیزې جګــړې پــه بــاب اســتعمالېږي او د نورنبرګ په محکمه کې مطرح شو.

نړیوالو کانوانسیونونو اود (م،م،م) منشور (۲مه ماده، ۷مه فقــره) یرغلیزه جګړه منع کړې ده.

د نړیوالو حقوقو کلاسیک مولفین دیرغل او لاســوهنې د ردولــو لپاره دوه دلیلونه راوړي:

الف- ملي ټولنه د خپل برخلیک ټاکلو یوازینۍ واکمنه ســرچینه ده.

د یو هېواد په کورنۍ جګړه کې د یو بل هېواد لاسوهنه ان که دیو قانوني اومشروع حکومت د ملاتړ لپاره هم وي، عامه ارادې ته یــو ډول سپکاوی دی.

ب- بهرنۍ لاسوهنه که څه هم د واکمن حکومت دملاتړ لپاره وي، د دولت واکمنۍ ته زیان رسوي او د حکومت د ملاتړ پــه بــاب د عامــه ارادې د نشتوالي دلیل ګڼل کېږي او بیا لا هغه حکومت چې د پاڅون له کبله یې دملت د ارادې استازیتوب تر پوښتنې لاندې راغلی وي.

په دې ډول نو دنورو په چارو کې لاسوهنه او یرغـل پـه نړیوالـو کلاسیکو حقوقو کې یو سیاسي اصل ګڼل کېږي.

کلاسیک حقوق یوازې په یوه ځای کې لاسوهنې ته اجازه ورکوي، هغه دا چې د یو دولت غړي په یوه بهرني هېواد کې له ګواښ او خطـر سره مخ وي او دا پېښه له ډپلوماتیکي لارې د حل وړ نه وي.

کلاسیک حقوق په ډېرو لږو برخوکې د بشري حقوقـو دسـاتنې لپاره لاسوهنې ته اجازه ورکوي، لکه (پر۱۸۲٦ز)کال د ترکانو لـه خـوا دیونان اله ګوله کوونکو ځپنه) خو څرنګه چې له دې فارمول څخه ناوړه ګټه اخیستل کېدی شي، نو ځکه د هغه پـه بـاب د نـړۍ پـه کچـه اندېښنې وې او همدغو اندېښنو له هغه څخه عملي ګټه اخیستنه لـه منځه وړې وه.

پ.م.دیوپویي په همدې باب وایي:

په دودیز ډول دوه لاملونه دیو دولت لاسوهنه دبل دولت په کورنیو چارو کې د توجیه وړ ګني: یوه غوښتل شوې لاسوهنه ( Entervention Sollicitef)ده، چې د یوه دولت د مشروعو مقامونو له خوا یې غوښـتنه شوې وي او بله بشري لاسوهنه (Entervention Dhumantie) ده لکه (پر ۱۸٦۰ز)کال د مسیحیانو د ملاتـړ لپـاره پـه لبنـان کـې د فرانسـې لاسوهنه).

له ډېرې مودې راهیسې په نړیواله کچه د داسې یو مانیز فورمول د جوړولو په باب، چې( دنړیوالې لاسوهنې دندې) وټاکي، د نظر یووالی له ګډوډو او لوړو ژورو تبصرو سره مخامخ شوی او دیو واکمن دولـت پـه کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې آر او د هغه حدودو ته پـام اړول شـوی دی.

د غوښتل شوې لاسوهنې لپاره چې د بلـونکي دولـت د کورنيـو اساسي حقوقو له احکامو سره سمون ولري، د نړیوالو حقوقو له مخــې دوه دلیلونه وړاندې کېږي:

- یو: که چېرې غوښتل شوې لاسوهنه د بلونکي دولت د واکمنۍ په چوکاټ کې وي او لاسوهونکی دولت د هغه دولت د واکمنۍ حق ته زيان ونه رسوي.
- دوه: که چېرې غوښتل شوې لاسوهنه (( د ډله ييزې مشــروع دفاع حق)) په مانا وي، هغه هم پــه داســې حــال کــې چــې لاسوهونکی دولت او بلونکی هېواد د دوه اړخيز تړون له مخې يو بل ته ژمن وگڼل شي.

پر دې وخت بايد وضعه په ډېرې ځيرتيا سره وارزول شي، چــې د یوې اصولي لاسوهنې لپاره د(م،م،م) منشور د (۵۱)مې مادې شــرايط پوره شوي دي او که نه؟ [۱]

موږ به په دې باب لږ وروسته تبصره وکړو، اوس دا خبره کوو،چې ایا د کابل کمونیست او شوروي دولت د بهرنــي یرغــل پــر وړانــدې د مشروع دفاع په دریځ کې [لکه څنگه چې يې ادعا کېدله] وو او که نــه وو؟ باید ووايو: لومړی هغه څه چې شوروي ادعا کوله حقيقت نه و، هېڅ بهرني خطر افغانستان له بهر څخه نه تهدیداوه (دا خبره به هم وروسته سپینه کړو).

دويم که چېرې د مشروع دفاع له حق څخه گټه اخیستنه مطرح وای،نو له دې حق څخه باید یوازې د مقاومت ځواکونو گټه پورته کړې وای، نه يو بهرني یرغلگر ځواک.

[۱] – پ،م ديوپويي، نړيوال عمومي حقوق، پاريس، دويم چاپ، ۱۹۹۳ زکال،۴۱۹مخ.

که فرضاً دکابل کمونیست دولت او شوروي دولت له دې حق څخه د گټې اخیستو اجازه ولري، نو هغه شرایط، چې د هغو په چوکاټ کې دمشروع دفاع حق څخه گټه اخیستل کېږي او دواړو کمونیستو دولتونو (افغاني او شوروي) له هغو څخه تېری کړی، نه شو کولای له پامه وغورځوو:

- دمشروع دفاع حق د یرغل پر وړاندې یوه لنډمهالې نړیواله هڅه اوتدبیر گڼل کېږي.
- له دې لنډمهالي تدبیر څخه یوازې هغه وخت گټه اخیستل کېږي، چې د هغه په لړ کې امنیت شورا، د نړیوال امن اوسولې د ټینگښت لپاره لازمې هڅې وکړي.

د (م،م،م) منشور د (۵۱)مې مادې له مخې دمشروع دفاع له هڅې څخه باید دامنیت شورا ژر تر ژره خبره شي. دا شورا د نړیوالې سولې د ټینگښت لپاره په کومه بڼه چې ضروري وگڼل شي، دلازمو تدبیرونو امکان څېړي او پر هغو لاس پورې کوي.

د پورته یادونو له مخې ویلای شو،چې د ډله ییزې مشروع دفاع له حق څخه ( د دوه اړخیز تړون په شتوالي کې) یوازې ( د امنیت شورا ترڅارنې لاندې) گټه اخیستل کېدی شي.

( دمشروع دفاع حق) په چوکاټ کې دلاسوهنې طرح کول باید داسې وي، چې د لاسوهنې قانونیت له بدلېدونکو حقوقي حالاتو سره، چې پر یوه ټاکلي وخت کې د دولتونو په اړیکو کې رامنځته کېږي په ډېرې ځیرتیا سره مطالعه او وارزول شي.

څرنگه چې د لاسوهنې غوښتنه د وسلوالې کورنۍ جگړې د پېښېدو پر وخت مطرح کېږي، نو دې ټکي ته باید زیاته پاملرنه وشي،

جې ایا د لاسوهنې غوښتونکی مقام د خپلې خاورې پر کـومې برخــې واکمني لري او که نه؟ که چېرې ځواب منفي وي یانې داسې شرایط وي، چې مخالف ځواکونه له لاسوهنې غوښتونکي مقام څخه دملي واکمنۍ یوه برخه ونیسي، له دې ســره هــم د لاســوهنې بلــونکي حکومــت مشروعیت تر ټینګې پوښتنې لاندې راځي او هم د لاسوهنې اصولیت.

په عملي ډګر کې ستر ځواکونه زیاتره د لاسوهنې غوښــتنې لــه فورمول څخه د خپلې واکمنۍ د تثبیت لپاره کار اخلي، ښکاره بېلګه یې د (۱۹۷۹ز) کال د ډسمبر پر میاشت په افغانستان کې د شــوروي او پــر (۱۹۸۳ز) کال په ګریناډا کې د امریکا لاسوهنه ده.(۱)

که چېرې په افغانستان کې شوروي لاسوهنه د مطرحو قوانینو له مخې وارزول شي، د ((پ،م،دیوپویي)) دوینا له مخې باید ووایو، چې دا غوښتل شوې لاسوهنه د هغو شرایطو په چوکاټ کې چې ((دیوپویي)) یې یادونه کوي عیاره شوې نه وه، ځکه چې:

الف: د حفیظ الله امین دحکومت له خوا د پوځي مرستو غوښتنه نه وه شوې، ددې دلیل هم دادی، چې دا حکومت د شوروي لښکرو د یرغل په لومړیو ورځوکې وځپل شو او په زوره سقوط کړای شو.

دکارمل حکومت په څرګند ډول اعتراف ونه کړ، چــې د شــوروي پوځي ټولګي یې رابللي دي، دغه راز د کارمل حکومت د داسې یو ډول غوښتنې لپاره اصولي دریځ نه درلود. دا حکومت له شوروي یرغل سره یو ځای رامنځته شو او تر هغې وړاندې اصــلاً و، نــه، چــې د مرســتې غوښتنه وکړي.

---

(۱) – دپ.م دیوپویي، نړیوال عمومي حقوق،پاریس، دویم چاپ، ۱۹۹۳ز کال، ۷۲-۷۷مخونه.

له یو بهرني هېواد څخه د داسې یو حکومت لـه خـوا د پـوځي مرستې غوښتنه، چې په خپله د هماغه دولت د یرغل زېږنده وي، ددې ښکارندویي کوي،چې دلاسپوځي او اشغالګر تر منځ د اړیکو انډول نـه شته او دا په خپله د مرستندوی هېواد له خوا د مرسـته غوښـتونکي هېواد پرملي واکمنۍ تېری ګڼل کېـږي او پـه حقـه ویـلای شـو،چې مرستندوی هېواد تېری کوونکی دی. څنګه چې افغانستان ته د شوروي لښکرو رالېږل د حکومت د بدلون( د حفیظ الله امین حکومت پرځای د خپل لاسپوځي ببرک کارمل حکومت د ځای پر ځـای کولـو) لپـاره و، نوځکه زموږ د هېواد په کورنیو چارو کې یوه بشپړه لاسوهنه ګڼل کېږي.

څرنګه چې دې لښکرکشۍ په زور او جبر سره د افغانستان ملـي واکمني ګواښوله، نو ځکه یو پوره او بشپړ یرغل ګڼل کېږي.

دغه راز شوروي پوځي او ملکي مشاورینو د افغانستان د کورني او بهرني سیاست په طرحه کولو او د هېواد د سیاسي او پوځي اشخاصو په مقررۍ کې فعـال رول درلـود، نوځکـه شـوروي پـوځي لاسـوهنې د افغانستان پر ملي او دولتي واکمنۍ څرګند تېری ګڼل کېږي، لنـډه دا چې په افغانستان کې هېڅکله د لاسوهنې رابلونکې سرچینه ( د دولت رییس، دحکومت رییس، انقلابي شورا، مرکزي کمېټه اونور) معلومه نه شوه.

سره له دې چې د ببرک کارمل حکومت دلاسوهنې (مرستې) لـه غوښتنې انکار کاوه، خو څرنګه چې دشوروي پوځونو پـه زور واک تـه ورسېد، په عملي ډول ددې مرستې! تائیدوونکی ګڼل کېږي. خو له دې سره سره که موږ د کارمل حکومت ددې مرستو یوه اتکلـي سـرچینه وګڼو، نو بیا هم باید ووایو، چې دې حکومت کوم مشروعیت نه درلود، د

خلکو د رایو له مخې نه و رامنځته شوی او د ملي واکمنۍ یوه برخه ترې د مقاومت ځواکونو نیولې وه.

ب- شورویانو ادعاکوله، چې افغانستان ته یې د (۱۹۲۱ز)کـال د دوستۍ تړون له مخې مرستې ورکړې دي! شورویانو دا ادعا هم کوله، چې (۱۹۷۹ز)کال د دوستۍ او نه تېري تړون له مخې یې د بهرني یرغل د له منځه وړلوپاره د افغانستان د حکومت په بلنه خپل ((محـدود ځواکونه)) افغانستان کې ځای پر ځای کړي دي.

پورتني دواړه تړونونه پر یوبل باندې د نه تېري د اصـل لـه مخې لاسلیک شوي وو، چې شورویانو پر افغانستان باندې د تېري پر وخت د هغو اصلي روحیه په پام کې ونه نیوله. سر بېره پـردې پـر افغانسـتان باندې دشوروي پوځي یرغل پر وخت د (م،م،م) منشور د (۵۱)مې مادې محتوا هم له پامه وغورځول شوه. ددې مادې له مخې د مشروع دفـاع حق څخه هغه وخت ګټه اخیستل کېږي،چې د امنیت شورا تر څـارنې لاندې وي، د کابل کمونیست حکومت او شوروي تېري کوونکو ځواکونو افغانستان ته د سولې د بېرته راوستو موضوع د امنیت شورا ته وړاندې نه کړه اوکله چې د امنیت شورا خپله په نوبت لاس پورې کړ، دپورتنیو هېوادونو له خوا ورته چندان وخت او ارزښت ورنه کړای شو.

دکابل کمونیست حکومت به شوروي لښکرې د افغانستان انقلاب سره د مرستې په نامه توجیه کولې او ددې مرستو د غوښتنې لپاره به یې تل د وسلوالو ډلو په واسطه په افغانستان کې بهرنۍ لاسوهنه پلمه کوله، په دې باب باید څرګنده شي چې:

لومړی دا چې هېڅ کوم بهرنی هېواد افغانستان تـه لښـکر نـه و لېږلی، بلکې یوازې یې د پوځي توکو دلېږلو له لارې د ملـي مقاومـت

ځواکونه مبارزو ته هڅول. هغه هم ددې لپاره چې په خپله د افغانستان خلک خپله خپلواکي اوملي واکمني وساتي. ان له (۱۷) پېړۍ څخه را په دیخوا د نړیوالو حقوقو یو شمېر پوهانو هڅه کوله، چې د نړۍ په کچه د نړیوالو حقوقو له جملې څخه د حقوقو یو شمېر پېژندل شوي اصول په ګوته کړي، (خپل برخلیک ټاکنه) له همدې جملې څخه ده.

په (۱۷)مه پېړۍ کې د نړیوالو حقوقو یو پوه څرګندوي چې:

((ټول بهرني ځواکونه حق لري، له هغو خلکو سره مرسته وکړي، چې تر یرغل لاندې راغلي وي.))

مارټینس (Martens) هم همدا ډول څرګندونې کوي: (( اخلاق حکم کوي، چې دستمګر پر وړاندې باید د ستمکښ ملاتړ وشي.))

بله دا چې که کابل حکومت د خلکو د استازیتوب بنه لرلای، له بهر څخه به د افغانستان پر خلکو نه تپل کېده، یوازې به له اله ګوله کوونکو سره مخ و، نه دملي مقاومت له غورځنګ سره. که چېرې هېواد له کورنۍ جګړې سره مخامخېده، کولای یې شول له (م،م،م) څخه د مرستې هیله وکړي،نه له یو بهرني هېواد څخه، (لکه څنګه چې وړاندې ورته نغوته وشوه، په هېواد کې د (۱۹۲۱او۱۹۷۹م) کلونو تړونونه د دې لپاره کوم مشروع دفاع لپاره ښه پاخه منطقي اسناد ګڼل کېږي. د (م،م،م) منشور د خپلې دویمې مادې پر (۷)مه فقره کې د بل هېواد په کورنیو چارو کې لاسوهنه منع کړې ده، خو که چېرې ((سوله له ګواښ سره مخامخ شي)) نوبیا د(م،م،م) لاسوهنې ته اجازه شته.

## ۳- بشرضدجنایت:

بشر ضدجنایت د هغو جنایتونو له جملې څخه دی،چې د نورنبرګ په محکمه کې څېړل شوی او د ژنیو څلورګونو کانوانسیونونو هغه سزا

وړ ګڼلی دی. هغه بشرضد جنایتونه چې شورویان زموږ هېواد کې پرې تورن دي، ځینې یې په لاندې ډول دي: عامــه وژنــه، دملکــي ســیمو ویجاړونه او بمبارونه، د سیاسي،مذهبي او توکمیزو انګېزو له مخــې د خلکو ځارل او سزا ورکول.

## الف: عامه وژنه:

دنیویارک د (۱۹٤۸ز)کال کانوانسیون له مخې، عامه وژنه یو جنایت ګڼل شوی دی.

روسانو ډېر ځله د افغانستان پر کلیو بمونه او ګولۍ ورولي او ملکي وګړي یې د ژوند له نعمت څخه یې برخې کړي دي. پــه ځــانګړي ډول هغوی ښځې او ماشومان چې له کلیو څخه یې د تېښتې وس نه او چار نه درلود، په ډله ییز ډول وژلي دي.

د لوګر ولایت د برکي برک کلي یو اوسېدونکی وایي: روسانو شل ورځې سر پر سر زموږ پر کلي بمونه و ورول، چې د هغو له کبله (۲۰) تنه شهیدان شول.

پر سبا روسي پلي سرتېري پر کلي راتوی شول او په درېوکلیو کې یې پر نورو عامه وژنو لاس پورې کړ، چې شمېرېې (۱۳۰) تنو ته رسېده.

یو ختیځپوه مکباري (Mecbari) چې د بشر حقوقو د نړیوالې ټولنې له خوا د (۱۹۸۰) زکال د فبرورۍ له (۲۴)مې څخه دمارچ تــر (۱۰)مــې نېټې پورې په افغانستان کې د کمونیستانو د جنایتونو د څېړنې دنده ورکړل شوې وه، په خپل ګزارش کــې لیکــي: (( د کــونړ پــه دره کــې (۱۹۸۰)زکال د فبرورۍ له (۲۸)مې نېټې څخه د مارچ تر (۴)مې نېټــې پورې د یوې نړیوالې جګړې په شان او تر هغې لا هم یوه تېزه او بشپړه جګړه ترسره شوه، چې ټول شیان یې له خاورو سره برابر کړل.

استوګنځایونه او کرنه ټول لــه منځــه لاړل، د هغــې ســیمې لــه (۱۶۰)زرو تنو څخه یوازې (۳۷۷۳۴)تنه ژوندي پاتې شول، چې هغــوی هم په ډېرې وارخطایۍ او تېپي حالت ځانونه پاکستان ته ورسول.

ښځو د روسي عسکرو او افغاني کمونیستانو د اسارت لــه وېــرې ځانونه د کونړ سیند ته واچول او ځانوژنه یې وکړه. خلک د کمونیستانو له خوا د هغوی دماشومانو او ښځو د اسارت له کبله ســخت وېرېــدلي وو)) [1]

((شورویانو د (۱۹۸٦)زکال دمې پرمیاشت دمقر او اندړو ولسوالیو پر اړوندو کلیو باندې د ځمکې او هوا له لارې دبمونــو او ګولیــو بــاران ووراوه، کورونه وران او دکلیو په زرګونه اوسېدونکي ووژل شول)) [2]

د (۱۹۸٤ز)کال د فبرورۍ پر (۲)مه نېټه روسي ځواکونــه د کابــل شمال په (۵۰)کیلومترۍ کې د استالف کلي تــه ننوتــل، د هغــه ځــای اوسېدونکي یې ووژل او بیا یې د هغوی مړي دکارېزونو په څاګانو کــې خطا کړل، عیني شاهدان وایي: ((روسانو وروسته د اســتالف کورونــه وسوځول... روسانو (۴۰) تنه ملکي وګړي ونیــول اوټــول یــې ژونــدي وسوځول. له هرچا څخه چې پوښتنه کېدله دا پېښې یې تائیدولې.)) [3]

((د (۱۹۷۹ز)کال دمارچ پر میاشت د هرات فرقې صاحب منصبان او پرسونل له مجاهدینو سره همغږي شول اوکمونیســتانو پرضــد یــې وسلوال پاڅون وکړ. شورویانو درې شپې او درې ورځې د هرات ښار او د

---

(۱) – البدرجریده، هالنډچاپ، ۲۰۰۰م کال،د اپریل ۲۰مه نېټه،لومړی مخ.

(۲) - زرملوال، غلام محی الدین، پرافغانستان باندې د روسانو وسلوال یرغل، ۱۳٦۸ل کال مرغومی، ۲۷مخ.

(۳)-زرملوال، غلام محی الدین، پرافغانستان باندې د روسانو وسلوال یرغل، ۱۳٦۸ل کال مرغومی.

**هغه شاوخوا کلي د خپلو میګ هلیکوپټر الوتکو په وسیله، چې نېغ په نېغه له شوروي خاورې څخه را الوتلې، په ډېرې بې رحمۍ سره بمبـار کړل، تر(۴۰)زرو څخه زیات وګړي، چې په سلو کې (۹۰) یـې بېوسـلې وګړي وو، ووژل شول.))[1]**

## ب– د ملکي سیمو ویجاړونه او بمبارونه:

**د (لاهې) حقوق او ژنیو حقوق د جګړې له اغېزو څخه، په ټـولیز ډول د ټول بشر او په ځانګړي ډول دملکي وګړو او موسسو د خونـدي ساتلو په لټه کې دي. بېوسلې کسان، د جګړې پر وسایلو یو ډول بندیز (د جګړې وسیله، وسلې او دجګړې ډول، د هغې کارونې څرنګوالي تـه ویل کېږي) له لارې خوندي ساتل کېږي.**

**د ژنیو د (۱۹۴۹ز)کال کانوانسیون (٤٨) ماده ماده څرګندوي چې:**

**((د جګړې خواوې باید دپوځي او ملکي عملیاتو په بهیـر کـې د پوځي او ملکي موسسو او وګړو توپیر وکړي. د جګړې موخې باید پوځي بنسټونه او وګړي وي. (( د شوروي یر غلګرو ځواکونو له خوا د دې مادې له روحیې څخه په ښکاره ډول سرغړاوی شوی دی. پر اسـتوګنځایونو باندې د هوایي بمباریو د کولو او توغندیو ورولو له کبله ډېر ملکي وګړي وژل شوي دي.**

**داسې هم شوي، چې شوروي او افغان پوځي ټولګي، د مجاهدینو د څارنې پر وخت یو شکمن کلي سېزلی، چې د هغه له امله په سـلګونو خلک وژل شوي دي.**

---

[1] - زرملوال، غلام محی الدین، پر افغانستان باندې د روسانو وسلوال یرغل، ۱۳۸۲ل کال مرغومی.

ځینې ملکي وګړي دشوروي او افغان پوځي ټولګیو د څارنې لـه وېرې په کارېزونو کې پټ شوي چې له سختې او دردوونکـې بـدمرغۍ سره مخامخ شوي. ((روسانو پر (۱۹۸۳م) کال، د (پاتخواب) سیمې د یوه کارېز په سوري کې تر (۱۰۵) تنو زیات وګړي دکیمیاوي بم په واسـطه مسموم کړل او ویې وژل.

د (۱۹۷۹او ۱۹۹۲ز)کلونو تر منځ پر کلیوالي سیمو باندې د شوروي د هوایي بمباریو له امله په زرګونو ملکي وګړي تېپیان شوي او وژل شوي دي. ملیونونه تنه مهاجر شوي، غله دانه او څاروي له منځه وړل شـوي دي))[1]

په اشغال شوي افغانستان کې د شوروي پوځونـو لـوی سـلاکار الکساندر مایوروف وایي: (( د فبرورۍ د څوارلسمې ورځې په لـومړۍ نیمایي کې د فرقې د کشف کنډک د ګزمې یوه لـس کسـیزه ډلـه د لومړي بریدمن (ک) تر قوماندې لاندې جلال اباد ته څېرمـه پرګزمـه بوخته وه. د ډلې قوماندان پټېیلې وه، چې خپل کنډک ته د کبابونو لپار د پسونو ډالۍ له ځانه سره یوسي، کله چې (ک) او د هغه ډله دیو ختین کور له دېوال نه د پسونو په لټه ور واوښته، هلته یې درې ځوانې ښځې، دوه سپینږیري سړي او له شپږو تر لسو کلونو شپږ یا اووه ماشومان په نظر ورغلل. یوه واړه ضابط، چې خپل شهوت یې پټولی نه شو، یادونـه کړې وه، چې (پېغلوټې بدې نه دي). د واړه ضابط خبرې لکـه سـپرغو غوندې پر نورو هم اور بل کړ، دلته دغـه واړه ضـابط خپـل عسـکري بالاپوش غورځولی اود یوې ښځې د نیولو په نیت خوځېدلی و...

---

[1] – د (ب، ن، س) افغانستان د بشري حقوقو غمیزې په باب نړیوال مسولیت، لندن، ۱۹۹۵زکال نومبر، ۱۷مخ.

زمورږ انترناسیونالستانو د سپینږیرو او ماشومانو تر مخه تر پایــه د ښځو پر عزت تېری کړی و. دا تېری دوه ساعته روان و، ماشومان چــې یوه ګوټ ته په منډه خلاص شوي وو، په ژړا او نارو له خپلو میندو سره د مرستې هڅه کوله. سپینږیري چې لړزېدل خدای(ج) ته زاری پیل کړې وې، چې رحم پرې وکړي او ویې ژغوري.

وروسته واړه ضابط امر کړی و: ((اور)) لومړی یې هغه ښځه وویشته چې همدا شېبه وړاندې یې پر عزت تېری شوی و. وروسته یې نور ټول وویشتل، بیا یې د زغروال ګاډي د تیلو له ټانکۍ نه تېل راخیستي، پــر مړو یې شیندلي، له پاسه یې پرې کالي، زړې لتې او دکلیوال بېوزلي کور کټونه، لمڅې او پوزي غورځولي او بیا یې اور ور اچولی دی. سرو لمبو د ختین کور غولی رانغښتی و.

(ک) او ډلې یې بیا هم څو پسونه کنډک ته له ځان سره بېولي وو، چې ګواکې کلیوالو د شوروي پوځ ته د ورځې ډالۍ استولې ده.

د یوې وژل شوې ښځې یو دوه کلن ماشوم ورور چې په یوه کوټــه کې پټ شوی و او دا هرڅه یې په خپلو سترګو لیدلي وو، ژوندی پــاتې شو، هغه همدغه بریدګی پېژندلی و.))[۱]

## ج- د سیاسي، توکمیزو او مذهبي انګېزو له مخې څارنه او ځورونه:

په افغانستان کې د شوروي پوځونو د لس کلن شتوالي په بهیر کې د بندیانو شمېر(۱۵۰) زره تنه ښودل شوی دی. دا کسان لــه دولتــي او رسمي اندېښنو پرته، د سیاسي فکر وخیال له کبله زنداني شوي وو. ((د

[۱] - په افغانستان کې رښتیا څه تېرېدل؟ پېښور، ۱۹۹۹زکال، جولای، ۳۳۴-۳۳۵مخونه

هغوی یو زیات شمېر له اسلامي ډلو سره د اړیکو او یا هم قومي تړښت (په ځانګړي ډول د ببرک کارمل او کشتمند په واکمنۍ کې پښتانه قوم ته انتساب) له امله ځورول شوي دي.

په زرګونو نور سیاسي کسان بندیان شوي او اعدام شوي دي. په ځانګړې ډول عقیده یي زندانیانوته د بیان ازادي، دټولنو ازادي او داسې نورې ازادۍ، چې د قوانینو له خوا تضمین شوي دي، د سوله ییزې ګټې اخیستو لپاره حق نه دی ورکړل شـوی. همدغـه کـار(ب،ن،س) ډېـر خواشینی کړی دی.))[1]

((د اردو په تشکیل کې د هزاره ګانو او ازبکانو د قـومي غونـډونو جوړول، په وسلوال پوځ کې د پښتنو او تاجکانو دواکمنۍ پر وړاندې د تلې برابرول، په افغانستان کې د روسانو د بېلتونپالي سیاست یو بل اړخ و.

د کابل کمونیست حکومت تل د یوې سیمې او قـوم لـه پـوځي ټولګیو څخه د بل قوم د سیمې د ځپنې او لوټونې لپاره کار اخیسـتی دی.

د دري ژبو او په ځانګړې توګه د پښتنو سیمو ته دلـوټ او تـالان لپاره د جوزجاني((دوستم)) ملېشو لېږل، چې له ازبکانو او ترکمنـانو څخه جوړې شوې وې، د سیاسي موخو لپاره، له قومي کینو نه د ګټـې اخیستنې څرګنده بېلګه ده.))[2]

[1] – (ب،ن،س) افغانستان، دسیاسي زندانیانو شکنجه، لندن، ۱۹۸۲زکال ۲مخ.
[2] – تره کی، ع، د ټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې د واک جوړښتونه، پېښور، ۱۹۹۸زکال، ۹۹-۱۰۰ مخونه.

د ببرک او کشتمند د واکمنۍ پر مهال پښتنو ته د انقلاب د اساسي دښمن په سترګه کتل کېدل.

پردې مهال د (خاد) ټوله اداره او د اردو د لارښـودې اداري یـوه برخه د افغانستان د تاجکانو په لاس کې وه، چې د شوروي تېـري پـه مرسته واک ته رسېدلي وو. دغو دوو ادارو د شورويانو پـه مرسـته پـه بېلابېلو پلمو د انقلاب دښمنو په نامه د هېواد د نورو سیمو پـه انـډول پښتون مېشتې سیمې زیاتې وځپلې او دهېواد لوی اکثریـت قـوم تـه منسوب کسان یې په زور او پلمو زندان ته لېږل او زیاتره یې اعدامول. په هېواد کې د شوروي ځواکونو د شتوالي پروخـت، دځرخـي پلـه د بندیانو له درېو څخه دوو برخونه زیات زندانیان پښتانه وو.

دهېواد د تاریخ پر دې مهال هزاه مېشتو سیمو بشپړ امن او سوله کې ژوند کاوه.

برنارد دوپینو وایي: ((شورويانو غوښتل د دوی پر وړاندې طبیعي مقاومت له منځه یوسي، نـو د دودیـزې افغـاني ټـولنې دمـاتولو او د افغانستان د ویجاړۍ لپاره یې هڅه کوله، پر پښتنو قبایلو باندې چې د دوی پر وړاندې جنګېدل، سخت او بې رحمه یرغلونه وکړې. (چورلکو له هوا څخه د ځارویو رمې په نښه کولې او نورو پوځي ټولګیو په ځمکه کې لوټ اوتالان کاوه.

ښه موثق ګزارشونه ترلاسه شوي، چـې ښـځې یرغمـل شـوې، جنسي تېري پرې شوي او بیا له هوا څخه ځمکې ته راغورځول شـوې دي.

پښتانه هېڅکله نه شي کــولای دا ظلمونــه او غمیــزې لــه یــاده وباسي.)) [1]

له پورتنیو خبرو څخه څرګندېږي، چې د جګړې له حقوقو څخه د سرغړاوي په مسولیت کې د کابل کمونسیت حکومت او شوروي یرغلګر ځواکونه دواړه شریک دي:

د افغاني کمونیستو حکومتونو غړي، د وسلوالو ځواکونو لارښــود چارواکي، د خاد غړي، د ځانګړې انقلابي محکمــې اولــویېږ څــارنوالۍ غړي، په جګړه ییزو جرمونوکې د شوروي تېري کوونکي پوځ تر کچــې زیات مسولیت لري.

[1] – برنارد دوپینوBernard Dupaigne، د افغانستان لارښود، لیون، ۱۹۸۹زکال، ۲۷مخ.

# دویم څپرکی

## دمقاومت غورځنګ

## (دشوروي تېري پړاو)

**کله چې موږ په افغانستان کې د کمونیستانو د جنایتونو څپرکــی بشپړ او وتړو، نود ((مقاومــت پرمهــال) د جګــړې لــه اصــولو څخــه، دمجاهدینو اود مقاومت د ځواکونو له سرغړولو څخه، نه شــو کــولای سترګې پټې کړو.**

**د یادونې وړ ده ، چې د تېري پر وړاندې افغان ملت او مجاهدین د خپل مقاومت له امله د ((مشروع دفاع)) په دریځ کې وو، چې دا خبره د (م،م،م) منشور د تائید وړ ده، خو مشروع دفاع هېڅکلــه د بشــر لــه حقوقو او د جګړې له حقوقو څخه سرغړاوی توجیه کولای نه شي.**

**لومړی مشروع دفاع:- ((دمشروع دفاع د قاعدې اصــولو لــه کورني حقوقي نظام څخه نړیوالو حقوقو ته لار کړې ده. په کورنیو حقوقو کې په داسې حال کې چې د مشروع دفاع اصولیت وروسته د قاضیانو له خوا څېړل کېږي، نړیوالو حقوقو کې د مشروع دفاع دحــق کــارونې اصولیت ډېر جدي نه دی.))[1]**

[1] – دومنیک کارو، د پاریس نړیوال حقوق، ۱۹۸۲ زکال، ۵۰۲مخ.

نن ورځ دمشروع دفاع حق د (م،م،م) منشور یو ټولنیز آر(اصـل) ګڼل کېږي، د (م،م،م) د (۵۱)مې مادې له مخې، د خپلو ټولـو غـړو د مشروع دفاع حق په رسمیت پېژني. په همدې مـاده کـې دا حـق یـو ((طبیعي حق)) ګڼل شو ی دی. په منشور کې د ((طبیعـي)) نومـونې کارونه یوازې په همدې باب کارول شـوې ده. د مشـروع دفـاع حـق طبیعي ګڼلو نتیجه دا کېږي، چې دا حق د دولت د واکمنۍ اصل دی. په بله اصطلاح دا ډول حق د یو دولـت د واکمنـۍ لـه حـق څخـه نـه بېلېدونکی دی.

( دمشروع دفاع طبیعي حق)، د (م،م،م) منشور د څلورمې فقرې له دویمې مادې څخه یوه استثنا ده. دا ماده په نړیوالو اړیکو کې ځواک کارونې ته اجازه نه ورکوي، د مشروع دفاع حق څخه په ځاني یا ډله ییز ډول (د پوځي ترونونو له لارې) ګټه اخیستل کېږي.

د (م،م،م) منشور (۵۱)مه ماده څرګندوي چې د یو (وسلوال یرغل) پر وړاندې دمشروع دفاع حق څخه ګټه اخیستل کېږي.

هغه هڅې چې د مشروع دفاع په نامه ترسره کېږي، باید د امنیت شورا ترکتنې تېرې شي. کېدی شي دا شورا دسولې او امن د ټینګښت لپاره د وسلوال یرغل پر وړاندې(دمنشور له دې څپرکي سره سم) یو لړ نورې سختې او قهرجنې لارې چارې ولټوي.

که څه هم د (م،م،م) منشور د مشروع دفاع له حق څخه د ګټـې اخیستنې په برخه کې، دولتونو ته اشاره کوي، خو بیا هم هېڅ دلیل نه شته، چې ملي غورځنګونو ته هم دا حق ورکـړای شـي. د افغانســتان مقاومت غورځنګ دمنطق له مخې له دې حـق څخـه بـرخمن و. لـه

افغانستان څخه (دبهرنیو ځواکونو) د ایستلو په بـاب د امنیـت شـورا پرېکړې ددې خبرې پخلی کوي، چې د افغاني مقاومـت غورځنـګ د مشروع دفاع حق لري.

له دې حق څخه ګټې اخیستنې په نړیواله کچه جهـاد تـه لـوی پرستیژ ور وباښه.

## دویم: داشرارو او مقاومت غورځنګ حقـوقي دریـځ: تـر

(۱۹۱۲ز) کال وروسته د (ن،س،م) کمېټه د کورنۍ جګړې د قربانیانو په برخه کې د بشر حقوقو د تطبیق په لټه کې شوه، د (ن، س،م) هڅې، د څلور واړو کانوانسیونونو (۱۹۲۹،۱۹۲۵، ۱۹۹۳،۱۹۴۹) لپاره دیوې ګډې دایمي مادې د جوړېدو سبب شوې.

ددې مادې له مخې ترون د یو غړي هېواد په خاوره کـې د یـوې وسلوالې شخړې د پېښېدو له امله، چې نړیواله ځانګړنه ونـه لـري، د شخړې هره غاړه(دولت او اله ګوله کوونکي) ((لږ تر لږه)) د بشر حقوقو د اړوند تضمیناتو پر مراعتولو مکلف دي.

د (۳)مې مادې د تدوین پر وخت، لاسلیکوونکو هېوادونو په خپله خاوره کې له باندېتیزم(Bandetisms) څخه د راپیـدا شـوې ګـډوډۍ د مقابلې لپاره د خپل واک د محدودیت په اړه اندېښنه لرله، سربېره پردې دوی وېره لرله، چې د شخړې د یوه لوري په توګه باغي د دلو پېژندنه به ددې ډلو تشخیص زیات کـړي او هغـوی بـه د خپـل سیاسـي دریـځ ټینګښت ته وهڅوي. ځکه نو دولت غوره وبلله، چې په دې برخه کـې نړیوالو کلاسیکو حقوقو ته مراجعه وکړي. د هغو له مخې دولـت د یـو اړخیزې پرېکړې له کبله کولای شي، چې (اله ګوله کوونکي) د شخړې

د یوه لوري په توگه وپیژني. دا پېژندنه به خپله اله گوله کوونکي اړ باسي چې د جگړې حقوق او د بشر حقوق ومني.

ډېر پوهان په دې اند دي، چې لږ تر لږه د (۳)مې مادې تضمینونه (چې په خپله یو کانوانسیونگوتی گڼل کېږي) د جگړه ییـــزې غـــاړې د پېژندنې په پام کې لرلو سره په اتوماتیک ډول پلي کېږي. په بله وینا د (۳)مې مادې غوښتنې، د شخړې د دواړو غاړو له خوا دکـــوم متقابـــل شرط له وړاندې کولوپرته د اجرا وړ نه دي.

د پورتنیو څرگندونو له مخې، تردې وروسته د بشر حقوق د هېواد کورني نظام ته ورننوزي: دولتونه نه شي کولای د خپلو اتباعو پر وړاندې چې د دولت پر ضد یې وسلې ته لاس کړی دی، هر ډول چلند وکړي.

دا وخت یوناپېیلی سازمان(ن،س،م) کولای شي، د شـــخړې دواړو لوریو ته خپل خدمت وکړي. اټکل کېږي، چې دا خدمتونه بـــه د هغـــه دولت له استنکاف سره مخامخ شي، چې د شخړې یو لوری دی. خو له دې سره سره یې بیا هم د بشرپالې لاسوهنې د حقوقي بنســـټ ډېـــره کېښوده.

((پروفیسر (Guggenhein) باور لري، چې (۳)مه ماده مخکې تر دې چې ددولت له خوا د اله گوله کوونکو د پېژندنې موضـــوع مطـــرح وي، هغوی دبحث وړ حقوقي موضوع گڼي، خو پروفیسور پنتـــو(Pinto) بیـــا ددې خلاف عقیده لري او وایي: چې اله گوله کوونکي دبحث وړ حقوقي موضوع گڼل کېدی نه شي، ځکه نو په دې کې خو کوم شک نه پـــاتې کېږي، چې یوازې دولتونه د حقوقو لېږدوونکي دي او د نړیوال نظم لپاره

یوازینۍ واکمنه سرچینه ګڼل کېږي، نورې ډلې باید دهغو د څومره والي او څرنګوالي له پلوه په پام کې وساتل شي.))[1]

دا چې (۳)مه ماده د نړیوالو بشري اړتیاوو دتامین لپاره، پر اله ګوله کوونکود ځینو واکونو د پلي کولو ټینګار کوي، پروفیسر((پنتو)) پـرې کومه نیوکه نه لري، خو دی د تړونیزو (کانوانسیوني) او نا تړونیزو دندوو تر منځ توپیر کوي او وایي: په کورنۍ جګړه کې د تړونیزو دندو اجرا کول، د دولت پر غاړه دي، نه د هغه بل لوري. جګړه د دولتونو د اړیکو یوه بڼه ده او باید د داسې یوې سرچینې له خوا ترســره شــي،چې د دولــت د مسوولیت او اهلیت تمثیل وکړای شي.

اله ګوله کوونکي د نړیوالو عمومي حقوقو د(عمومي احکامو) پــر رعایت مکلف ګڼل کېږي.

لکه دمخه مو چې وویل په کلاسیکو حقوقو کې د جګړې د یو لوري په توګه د اله ګوله کوونکو پېژندنه د قــانوني او برحــال حکومــت پــه پرېکړې پورې اړه لري، یوازې د قانوني دولت پرېکړه ده ،چې اله ګولــه کوونکو باندې د جګړې حقوقو او بشري حقوقو تطبیق ته لار برابروي.

په هر ډول: په اوسنیو تړونیزو حقوقو کې پر جګړه ییزو غاړو (هم دولت او هم اله ګوله کوونکو) باندې لــږ تــر لــږه د بشــري حقوقــو د تضمینونو اتوماتیک تطبیق مطرح دی.

خو د بشري حقوقو په چوکاټ کې هېڅکله دیوې حقوقي موضوع په توګه د اله ګوله کوونکو پېژندنه مطرح نه ده.

---

[1] – شارل ژورګبیب Charles Zorgbibe، لاسوهنې حق، پاریس، ۱۹۹۴ز کال، ۸۴مخ.

د یادونې وړ ده،چې د (اله ګوله کوونکو) نومونه د یو قانوني دولت پرضد،یوې باغي ډلې ته کارول کېږي، په افغانستان کې دملي مقاومت غورځنګ ته د((اشرارو)) نومونې هېڅ ډول حقوقي اسناد نه لـرل. پـه خپله د کابل کمونیست حکومت، دیو بهرني یرغلګر ځواک له خوا پـر خلکو تپل شوی و او مشروعیت یې نه درلود.ددې حکومت پر وړاندې د ملي مقاومت غورځنګ ولاړ و، چې د جهاد لپاره د خلکو د بشـپړې او پوره ارادې څرګندونه یې کوله. تر لاس لاندې بحث کـې د الـه ګولـه کوونکو موضوع له راګېدولو څخه زموږ موخــه دا وه، چــې دا موضــوع روښانه کړو، چې دکابل حکومت په اصطلاح ((اشرار)) او دافغانســتان خلکو په نومونه د ((مقاومت غورځنګ)) دواړه د جنګ د قوانینو تــابع ګڼل کېږي.[1]

رښتیا خبره دا ده، په داسې حال کــې چــې د کابــل کمونیســت حکومت او شوروي تېري کوونکي دولت د جګړې حقوقــو او د بشــر د حقوقو نړیوال لاسلیکوونکي ګڼل کېدل او په همــدې نامــه یــې د دې تړونونو د مراعتولو دنده پرغاړه وه، د مقاومت ځواکونو چې نــه کومــه حکومتي اداره درلوده او نه یې د نړیوالو تړونونو د لاســلیک واک، لــه کومې حقوقي دندې او الزام پرته یوازې له اخلاقي پلوه د نړیوالو تړونونو پر منلو مکلف ګڼل کېدل.

ددې تړونونو ځینې یې داسې احکام لري، چې یوې وسلوالې ډلې ته که څه هم حکومتې اداره ونه لــري، دنــده ســپاري،چې د تــړون د

[1] – (په کورنیو شخړو کې د نړیوالو قوانینوپلي کېدوپراخیتا) دلومړۍ برخې لومړی څپرکی، ۳مې ګڼې ته دې مراجعه وشي.

عمومي روحیې درناوی وکړي. زما په نظر په دې ځای کـــې د وســـلوالې ډلې یوازې اخلاقي مکلفیت مطرح دی.

((پته دې پاتې نه وي، چې د بشر حقوق تر هرڅه دمخه، د حقوقي قواعدو په منځ کې د اخلاقي لاربښوونو تعبیه کول دي، هغه وخت چې مدرنې جګړې پر جګړه ییز وجدان باندې په بشپړ ډول ډاډینه له منځه نه وه وړې،((جګړه ییز وجدان)) په جګړه کې د ډېرزیـــاتي د مخنیـــوي لپاره ښه ضمانت و.

د نورنبرګ محکمه کې پورتنۍ خبره په دې ډول راغلې ده:

((اخلاقي خپلواکي او جزايي مسولیت دیوې ســـکې دوه مخونـــه دي.))[1]

د لاهې تګلارې د لومړۍ مادې او د (۱۹۴۹ز)کال د کانوانســـیون د (۴)مې مادې له مخې په یوه نړیواله شخړه کې لاندې ډلې متحاربې ګڼل کېږي.

- وسلوال ځواکونه او دهغوی نورې برخې، لکه ملېشې او خپـــل خوښي کسان.
- ملېشې، خپل خوښي کسان او مقاومت جووړونکي (متشکله) غورځنګ.

پورتنۍ ډلې د یو بهرني ځواک له خوا، د هېواد د اشغال پر وخت، کېدی شي، تر هېواد دننه او بهر پر پوځي هڅو اخته وي، خو د شخړې د یوې خوا په توګه د هغو پېژندنه ددغو لاندې څلورو شرطونو په بشپړېدو سره شونې ده.

[1] – موریس تورلي ،دبشرنړیوال حقوق، پاریس۱۹۸۵ز کال، ۲۳مخ.

الف: دډلې مشري د داسې یو شخص پرغاړه وي، چې د خپلې ډلې غړو ته مسولیت ولري.

ب: د ډلې غړي له نورو سره د توپیر ځانګړې نښې ولري، چې لـه یوه ټاکلي واټن څخه ولیدل شي.

ج: په ښکاره ډول وسیله ولېږدوي.

د: د جګړې په بهیر کې دجګړې قوانینو او تعاملاتو ته غاړه کېږدي. د منظم مقاومت غورځنګونوته، چې پورتني شرایط یې پوره کړي وي، په تېره بیا په نیول شویو سیمو کې، د دغـو سـیمو د خپلـواکۍ لپـاره د مبارزې حق ورکول کېږي.

د لاهې تګلارې اول نمبر پورتوکول څرګندوي،چې: (( پر جګـړې اخته ډله په جګړه کې د تطبیق وړ نړیوالو حقوقو پر مراعتولـو مکلفـه ګڼل کېږي))

(( که چېرې یو جنګیالی د دغو حقوقو له پولو څخـه سـرغړاوی وکړي، د یو جنګي اسیر په توګه خپله ځانګړنه له لاسه ورکوي.))[1]

## سرغړونې:

ځینې مجاهدین د دوه ډوله جنایتونو په ترسره کولو تورن دي.

جنګي جنایت.

بشر ضد جنایت

## ۱- جنګي جنایت:

الف- د عامه شتمنیو ویجاړونه او لوټونه:

[1] –شارل ژورګبیب، د لاسوهنې حق، پاریس ۱۹۹۴زکال، ۸۴مخ.

**((فرخیار (۱) د سکر توغندیو په باب لیکي: دا توغوندي ســل پــه سلو کې خپله نښه ولي او هدف يې ځانګړی ځای ؛ کابل د افغانســتان پلازمېنه ده.**

**سره له دې چې کوټلي شمېرنه نه شته، خو ټول پــوهېږي، چــې ددې توغندیو زیات شمېر پر خلکو لګېږي او کله هم پــر قومونــو او د مجاهدینو پر دوستانو))[۲]**

**(( د (۱۳۶۷ل) کال د کب پر میاشت لرې واټن توغندیو ښار په نښه کاوه او اور یې پرې بلاوه.**

**... د (۱۳۶۷ل) کال د غویي پر میاشت دکابــل-جــلال ابــاد لارې وریښمو تنګي په سیمه کې مجاهدینو پر یوه پوځي کتار، چې تر شا یې ملکي ګاډي هم روان وو، برید وکړ او ټولو ملکي او پوځي وسایطو ته یې اور واچاوه، پر پوځیانو سربېره یې ملکي وګــړي؛ کوچنیــان، ښــځې او سپینږیري، چې د مساپرو له جملې څخه وو، شهیدان کړل.**

**د یوشمېر ښځو پر عفت تېری وشو، یو شمېر نورې یې له خپل ځان سره غره ته پورته کړې اوله ټولو شرعي او انساني قوانینو څخــه یــې تېری وکړ.**

**مجاهدینو د خوست دنیولو په مناسبت داسې جشن! جوړ کړ، چې دبشر تاریخ یې ساری ډېر کم لیدلی، داسې یو جشن! چــې چنګیــز او هلاکو یې هېرول. دا داسې یو جشن! و، چې د زرګونو وسلوالو کسانو په ډزو پیل او د خوست د کورونو د تیرانو او دړو په لوټ او تلان سره پایته ورسېد...**

---

[۱] – عظیمي.م.ن، اردو وسیاست، پېښور، ۱۳۷۷م کال، ۵۷۱مخ.

کړکۍ، دروازې، تیران او د ښار پر دېوالونو داغونه پاتې شول.))(۱)

... دهغې درې ورځنۍ جګړې په بهیر کې چې د (۱۳۷۱ل) کـال د غویي له (۵)مې څخه تر (۷)مې نیټې پورې روانه، دکابل پـه ښلابېلـو سیمو کې زیات کورونه ړنګ اوزیات خلک ټپیان شول. د خلکـو مـال اوشتمني لوټ شوه اوپه ځینو ځایونوکې د هغوی پر ناموس تېری وشو.

په دې جګړو کې د وژل شویو کسانو شمېر هره ورځ لـړ تـر لـړه (۱۰۰۰) تنوته رسېده.))(۲)

لوستونکي باید د هغو خبرو په منلو کې له ډېر پام نه کار واخلـي، چې په دې لیکنه کې د کمونیستانو له خولې د مجاهدینو په باب شوي دي.

د جهاد په بهیر کـې د کمونیســتانو ځــواکمن خپرنځــي، ملــي غورځنګ ته اشرار ویل او د هغوی د بدنامۍ لپاره یې ان په نړیواله کچه ډېر زیاتې سپکې سپورې کولې او حقیقتونه یې تحریفـول. کلـه چــې مجاهدین دواک پر ګدۍ کېناستل او د خلق و پرچم ډلو غړي ښوسلې شول، نو دوی هڅه کوله، چې دمجاهدینو جرمونه له خپلـو جنـایتونو سره پرتله کړي او د هغوی تېروتنې ډېرې لویې ښکاره کړي؟ له کاني نه غر جوړ کړي او بیا له همدې غره څخه د خپلې مبارزې د یو ځـواکمن مورچل په توګه ګټه پورته کړي.

## ب- د زندانیانو شکنجه کول او اعدامول:

((د ښښنې نړیوال سازمان (ب،ن،س) ته داسې ګزارشونه رسېدلي، چې په دښتو کې له کومې محاکمې پرته دولتي اوشوروي اسیر شــوي

---

(۱) - عظیمي.م.ن، اردو وسیاست، پېښور، ۱۳۷۷م کال، ۳۸۲-۳۹۲مخونه.

(۲) - عظیمي.م.ن، اردو وسیاست، پېښور، ۱۳۷۷م کال، ۵۸۴مخ.

سرتېري وژل شوي دي. دا ګزارش د هغــو (۲۵) تنــو دولتــي پــوځي افسرانو یادونه کوي،چې د (۱۹۸۷)زکال په پای کې د جلال الدین حقاني له خوا په ((ژوره)) زندان کې اعدام شوي وو. دغه راز راپور ورکړل شوی چې همدې ډلې د (۱۹۸۸ز)کال د نومبر په لومړیو ورځــوکې (۷۰) تنــه دولتي سپاهیان چې د تورخم په پوسته کې ځای پــر ځــای شــوي وو، اعدام کړي دي. لیدونکو ګزارش ورکړ، چې دوی ټول تر کربښې هاخوا د پاکستان تر کنترول لاندې خاوره کې له محاکمې پرته اعدام شول.

د یوګزارش له مخې د (۱۹۸۹ز)کال دمارچ او اپریــل پــر میاشــت مجاهدو ډلو، د جلال اباد دمحاصرې پــر وخــت، دولتــي ســرتېري او افسران ترخپلې تسلیمۍ وروسته ووژل. پــه یــوه پېښــه کــې چــې د جلال‌اباد ښار د سوېل ختیځ په (۱۳)کیلومتری؛ ثمرخېلو په سیمه کې، چې د (۱۹۸۹)زکال د مارچ په لومړیو کې د مجاهدینو لاسته ورغله، (۲۰) تنه دولتي سرتېري تر خپلې تسلیمۍ وروسته بې له ځنډه ووژل شول. شوروي اسیر شوي سرتېري هم له محاکمې پرته ووژل شول.))(۱)

(( د ۱۳۷۱ل کال د غویي پر ۲مه نېټه د جنرال دوســتم ځواکونــه دلوګر دواخجان په سیمه کې، د اسلامي حزب په یو کمین کې کېوتل، په دې جګړه کــې جنــرال جمعــه عظیمــي اود (۵۳)مــې فرقــې یــو شمېرپرسونل اسیران او بیا ووژل شول.))(۲)

پر (۱۹۸۹)زکال دکابل کمونیست حکومت سرتېرې (احمدشــاه) د اسلامي جمعیت له خوا اسیرشو، څو اوونۍ وروسته تر شکنجې لاندې

---

(۱) – (ب،ن،س) افغانستان، د بشري حقوقو غمیزې په باب نړیوال مسولیت، ۱۹۹۵م کال، نومبر، ۳۸مخ.

(۲) - عظیمي.م.ن، اردو وسیاست، پېښور، ۱۳۷۷م کال، ۵۷۱مخ.

**و، دده په باب چې کوم وروستی ګزارش تر لاسه شوی، ددې څرګندونه کوي، چې دی تر (۱۹۹۱ز)کال پورې د پنجشیر په زندان کې و او تر هغه وروسته دهغه په باب هېڅ اطلاع نه شته.**

**دپنجشیر درې په بازارک زندان کې، چې د (احمدشاه مسعود) تر کنترول لاندې و، په ډېرو زندانیانو جبري کارونه کېدل. زندانیانو تــه د اســلامي محکمــو لــه خــوا ســزا ورکــول کېــده او غالبــاً پــر مــرګ محکومېدل.))**[1]

## ۲- بشرضدجنایتونه:

### الف- عامه وژنه:

**(( هرکله چې د خلکو استوګنې سیمې لاس په لاس کېدلې، نو له خلکوڅخه غچ اخیستل کېده، هم سزاورکول کېده، هم شکنجه کېدل او هم په ډله ییز ډول وژل کېدل))**[2]

**((د (۱۹۹۶ز)کال داپریل پر (۱۳)مه نېټه جلال اباد ښار ته نږدې یوه کنده پیدا شوه، چې (۵۰۰) تنه په هغې کې ښخ شوي وو او ویل کېږي، چې دا د (۱۹۷۸) او (۱۹۹۲م) کلونو عامه وژنې دي.))**[3]

### ب- د سیاسي، توکمیزو او مذهبي انګېزنو له مخې د خلکو څارنه او مجازاتونه:

---

[1] - (ب،ن،س) افغانستان، د بشرحقوقو د غمیزې په باب نړیوال مسولیت، ۱۹۹۵م کال نومبر، ۴۲-۲۴مخونه.

[2] - (ب،ن،س) افغانستان، د بشرحقوقو د غمیزې په باب نړیوال مسولیت، ۱۹۹۵زکال نومبر، ۳۰ مخ.

[3] – دافغانستان اخبار مجله، په فرانسوي ژبه، پاریس، ۱۹۹۲م کال ۷۲مه ګڼه، ۱۲مخ.

**(( د کمونسیت رژیم په پېر کې پوهان او کارپوهان یوازې دیـوې حکومتي ضد اشتباه له کبله د انقلاب ضد شخص پــه نامــه د حــبس، شکنجې او ان اعدام له خطر سره مخامخېدل.**

**نوځکه خو یې د ځان ژغورنې لپاره پاکستان، پېښور او کوټې ښار ته مخه کوله. هلته هم دمجاهدو ډلو له ګورونې اوکړاو سره مخامخېدل. په لسګونو مهاجر پوهان، د افغانستان مسلې د سوله ییز حل پلویانو په تور، دمرګ له ګواښ سره مخامخ شول.**

**په ځینو وختونو او ځایونو کې د ګواښونو تر څنګ له ترور څخه هم کار اخیستل کېده.))**[1]

**دلته به د څو تنو هغو روڼ اندو(روشنفکرانو) نومونه واخلو چــې شهیدان شوي دي:**

**(( عبدالجبار اشرف ( ١٩٨٦م کال، نــومبر)، بهاوالــدین مجــروح (١٩٨٨ز کال، فبروري)، محمد ذاکــر(١٩٨٩م کــال، نــومبر)، ســعادت شګیوال (١٩٩٠م کال، دمارچ٢٦)، عبدالرحیم چین زایي (١٩٩١م کال، نومبر)، عزیزالرحمن الفت، غروال، ځدراڼ، انجینــر عزیزعثمــان،نجم الدین مصلح،مینا کشور او نور...))**[2]

---

[1] -(ب،ن،س) افغانستان، د بشرحقوقو د غمیزې په باب نړیوال مسولیت، ١٩٩٥زکال نومبر، ٢۴مخ.

[2] - په دې لېست کې هغه کسان شامل نه دي، چې دمجاهدینوترواکمنۍ وروسته ترور شوي دي، لکه عبدلاحدکرزی، ولي خان کړوخیل،عبدلحکیم کتوازی (١٩٩٥م کال، نومبر) او نور...

# دریېیم څپرکی

## د مجاهدینو حکومت او د طالبانو حکومت

### (ترشوروي تېري وروسته پړاو)

دا پړاو د (۱۹۹۲ز)کال د اپریل له پیله بیا تر ننــه (۲۰۰۰زکــال تــر جولای) پورې موده رانغاړي، ددې مودې په بهیر کې لومړی مجاهدینو او بیا وروسته (۱۹۹۴زکال په پای کې) طالبانو پر هغو خلکو چــې د (۱۳) کلونو په بهیرکې يې دکمونیستي اختناق او غضب پر وړاندې مبــارزه کړې وه، کړاوونه یې ګاللي وو،خو په سر شاره روح او غرور یې خپل سر هسک کړی و، خپله واکمني پیل کړه.

په دې پړاو کې په تېره بیا مجاهدینو ثابته کړه، چې لــه بشــري او جنګي حقوقو څخه سرغړونه کې تر افغاني کمونیستانو او شورویانو کم نه دي. په ځینو ځایونوکې یې لا ان تر هغو هم تېری وکړ.

لومړی- د مجاهــدینو لــه ســرغړونو څخــه دکمونیســتانو ګټــه اخیستنه:

د (۱۹۹۹ز)کال په اوږدو کــې د (ا.خ.ګ)، کــادرونو د کمونیســت حکومت د واکمنۍ په بهیر کې د خپل سیاسي دریځ د توجیه لپــاره د ((اردو وسیاست در سه دهه اخیر افغانستان)) په نامه یو کتاب خپور کړ.

په دې (۶۴۰) مخیزه کتاب کې په داسې حال کې، چې په عمومي ډول د افغانستان د خلکو پرضد د (ا.خ.د.ګ) د غړو او د شوروي تېري کوونکي پوځ له خوا د ترسره شویو جنایتونوپه بــاب پــه قصــدي ډول

سترګې پټې شوي او په ډېرې هوښیارۍ یې له هغو څخه چې یو شمېر مجاهدین پرې تورن دي، په ژوره توګه او د شیطانۍ له مخې پرده پورته کړې ده. دا کار یې ددې لپاره کړی، چې د کمونیستانو په اندول د مجاهدینو دګناهونو تله درنه ښکاره شي. خلک د خیر او شر په برخه کې د خپلې ارزونې له مخې مجاهدین زیات ملامت کړي او د خپلو تېرو له لاسه وتلو طلایي ورځو ارمان وکړي.

په دې کتاب کې راغلي دي: (( دکابل ښاریانو، چې کله د مجاهدینو برياوې ولیدې، چې له وژنې او ویجاړۍ پرته بل څه نه و، نوډاکتر نجیب الله سره یې مینه زیاته شوه، ځکه چې د خلکو قضاوتونه د هغو د مادي ګټو پر بنسټ ولاړ دي.

خلک د تېر وخت په فکر کې وو. د نجیب د وخت په فکر، نه په خپله د نجیب په ارمان. د هغه په وخت کې لږ تر لږه په ښارونو، له هغې جملې نه په کابل ښار کې د یو تمدن ساده او انساني څرکونه اوس هم تر سترګو کېدل او لا نابود شوي نه وو. کله چې پرون له نن سره پرتله کړي، نو بېشکه ډېر زیات توپیر په کې لیدل کېږي، نوځکه خو ډاکټر نجیب الله حق په جانبه، معصوم اومظلوم ګڼي))(۱)

د (اردو وسیاست) کتاب نه یوازې دا چې په هېواد کې د کمونیستانو جنایتونو پر پراخوالي اعتارف نه کوي، بلکې دا خبره هم هېروي،چې په جګړه کې د یو شمېر مجاهدینو زیات په جنایات خپله د هغې یرغلیزې جګړې زېږنده ده، چې د هغې دپیل ګناه دکمونیستانو پر غاړه ده، په دې ډول دوی خپله ګناه نوره هم درنوي.

(۱) – عظیمي، م.ن: اردو وسیاست، پېښور، ۱۳۷۷ل کال، اوړی، ۵۴۳مخ.

(( کابل خلکو ویل؛ کلونه مو دعاوې کــولې، زارۍ موکــولې چــې خدای(ج) کمونیستانو ته د خپلو عملونو سزا ورکړي، مجاهدین بریالي کړي او مونږ ته سوله اوامن راولي، نذرونه مو ورکړل، زیــارتونو تــه لاړو، زامن مو د کمونیستانو خدمت ته پرې نه ښــودل، هغــوی مــو هېــواد پلورونکي او د روسانو لاسپوځي ګڼل او مشران یې مونږ ته د شاشجاع په شان ښکارېدل، د هغوی له یوې زرې ګناه نه تېرېدلو، نجیب الله مــو د شوروي جاسوسي سازمان (کی، جي،بي) د غړي په نامه نوم بدی کړ او د هغه دملي پخلاینې غږ ته مو اهمیت ور نه کړ، د هغوی پر وړاندې زمونږ زړونه له کینو ډک وو، په دې هیله چې مجاهدین، زمونږ عزیزان، زمــونږ زامن او پلرونه او ددې هېواد اصلي وارثان به یوه ورځ بریالي شي. خو او خدایه تا څه وکړل؟

ددې څوارلسو کلونو په اوږدو کې دې له هغو څخه څه شی جــوړ کړ؟ هغوی پر هرڅه لو ګډ کړی، هر شی له منځه وړي، په توپ، توغندي، ګولۍ او باروتو وینې تویوي، هغوی د خپلو خوینــدو او میــندو وینــې بهوي...))(۱)

کمونیستان داســې فکــر کــوي،چې د جګــړې حقوقــو څخــه د مجاهدینو د سرغړاوي له (برکته) په غــوځ ډول د هغــو جنــایتونو لــه پوښتنې څخه د تل لپاره بېغمه شوي، چې دوی پورې تړلي دي. زیاتوي:

((...خو زیاتو اوسېدونکو فکر کاوه،چې دا ګــډوډۍ، ســړي وژنــه، وحشتونه، غلاوې او لوټونې لنډمهالي دي. د کابل دې ډول خلکو چې له کلونو راهیسې د تېر نظام د ړنګېدو شېبې شمېرلې... د لوی خــدا(ج)

(۱) - عظیمي، م.ن: اردو وسیاست، پېښور، ۱۳۷۷ل کال، اوړی، ۲۲۰-۲۲۱مخونه.

دربار ته يې د نجيب الله درژيم د ړنګېدو لپاره دواړه لاسونه پورته کول. بيا هم باوره کاوه،چې بلاخره به دې ټولو ګډوډيو ته دپای ټکی کېښودل شي، خو وضعه نوره هم خرابه شوه.))[۱]

له پورتنيو څرګندونو څخه په ډاګه کېږي، چې کمونيستان د خپرنيزې مبارزې، کنفرانسونو او په دې نړدې وختونو کې په نا اشنا نومونو د نويو سياسي ډلو د جوړولو له لارې، زياتې هلې ځلې کوي، چې د مجاهدينو له سياسي او پوځي تېروتنو اوزياتيو څخه ګټه پورته کړي.هغوی هڅه کوي د کمونيست حکومت دواکمنۍ پر وخت، له شويو جنايتونو څخه د ملي او نړيوالو عامه افکارو پاملرنه ددې نويو سرغړونو خواته راواړوي.

هغوی په دې لټه کې دي،چې خپل درانه جنګي جنايتونه د جګړې حقوقو څخه د مجاهدينو دنويو سرغړونو تر سيوري لاندې راولي اوپټ يې کړي. هغوی د خپلې دغې هيلې د خړوب په برخه کې يو څه بريالي شوي هم دي. په څو ورستيو کلونو کې افغاني ټولۍ اوکړی زياتره د مجاهدينو پر تېروتنو غړېږي اولويديز هېوادونه د اسلامي بنستپالو پر وړاندې د يوې ګډې ليکې په جوړولو سره، پر جنايتونو تورنو کمونيستانو ته سياسي پناه ورکوي.

کمونيستان په لويديځ کې دسياسي اسلام ضد روحيې څخه ګټه اخلي او د خپلې پناه غوښتنې لپاره داسلامپالو له خوا ځارنه او پلټنه پلمه کوي. عجيبه خولا داده، چې داپلمې په ډېرو برخو کې (مستدللې)

[۱] - عظيمي، م.ن: اردو وسياست، پېښور، ۱۳۷۷ل کال، اوړی، ۲۱۷مخ.

ګڼل کېږي او د هغو کسانوپناه غوښتنې ته مثبت ځواب ورکوي، چې پر جنایتونو تورن دي.

په هرډول: د جګړې حقوق د خپلــو اصــولو لــه مخــې پــر ټولــو کمونیستانو اومجاهدینو یو ډول پلي کېږي، په دې برخه کې چې د هر چا د جنایتونو تله درنه وي، زیاته سزا به ویني.

یوځل بیا دیادونې وړ بولو، سره له دې چې د شوروي ځواکونو تــر وتلو وروسته، د افغانستان جګړې کــورنۍ بڼــه ونیولــه، خــو د ژنیــو کانوانسیون د (۳)مې مادې له مخې د جګړې نړیوال قوانین پر کــورنۍ جګړې هم د تطبیق وړ دي.

له همدې کانوانسیون سره ضمیمه یــو بــل پروتوکــول، چــې پــر (۱۹۷۰ز)کال د(ن،س،م) په نوښت تنظیم شو، پر کورنۍ جګړې باندې د ژنیوکانوانسیون د پرېکړې پر پلي کېدو ټینګار کوي. موږ د تېر بحث په شان دجګړې حقوقو له مقرراتو څخه د مجاهدینو د سرغړونې په باب، پر یوې یا څو بېلګو بسنه کوو، چې د هغو له مخې د لوستونکو په ذهن کې د مدعی الیه پر وړاندې د افغان ملت د دغــې طرحــې د عمــومي چوکاټ یو ابتدایي تصور پیدا شي.

## دویم: سرغړونې

### ۱- جګړه ییز جنایتونه:

### الف: دملکي وګړو جبري لېږدونه:

د ژنیو څلورګوني کانوانسیونونه (۱۹۴۹،۱۲۲۹،۱۹۲۵ او ۱۹۹۳ز) د ملکي وګړو جبري لېږدونه د سزا وړ یو جنګي جنایت بولي. د جګړې له

قوانینو څخه د سرغړونې دا نښې نښانې په بادغیس ولایت ( د افغانستان شمال لویدیځ) او پروان ولایت کې لیدل شوې دي:

(( د (۱۹۹۷ز)کال د نومبر پر (۲۸) نېټه د بادغیس ولایت (۴۰-۵۰) زره تنو اوسېدونکو، د طالبانو او دوستم ځواکونو ترمنځ د جګړې د پېښېدو له وېرې خپل استوګځایونه پرېښودل. له پورته شمېر څخه (۱۰-۱۵) زره پښتانه د ترکمنستان پولې ته نږدې راټول شوي وو.په عشق اباد کې د (م،م،م) د مهاجرینو د عالي کمېشنرۍ استازی وایي: د سیمې د پښتنو پر ضد د ازبک ځواکونو له خوا یوه بشپړه توکمیزه پاکونه روانه ده، ددې کارعلت له طالبانو سره د پښتنو د همکارۍ وېره ده.

د ډسمبر پر لسمه نېټه د طالبانو د بهرنیو چارو وزیر د بادغیس د خلکو پر وړاندې د دوستم ځواکونو پر قهرجن او ناوړه انساني چلند اعتراض وکړ.))(۱)

(( د (۱۹۹۹ز)کال د اګست پر (۴) نېټه طالبانو بګرام، چاریکار او جبل السراج ونیول، له دواړو غاړو څخه (۱۵۰۰) تنه مړه او ټپیان شول. ملکي وګړو نېغ په نېغه کابل ته مخه کړه، تر سلو زرو تنو څخه زیات پنجشېر درې ته وتښتېدل.

خو د اګست پر (۱۲) نېټه مخالفینو طالبان د فتحه شویو سیمو پر لوټ او تالان او له خپلو استوګنځایونو څخه د ملکي وګړو پر جبري لېږد تورن کړل.

(۱) د افغانستان اخبار مجله، په فرانسوي ژبه، پاریس، ۱۹۹۷م کال، ۷۲ګڼه، ۳۴-۳۵ مخونه.

طالبانو کابل او د سرشاهي کمپ (جلال اباد) ته د زرګونو وګړو لېږد ومانه، خو ویې ویل، چې دا کار د هغوی د امنیت ساتنې په خاطر شوی دی.)) (۱)

د (م،م،م) په وینا د اګست پر (۱۵)مه نېټه طالبانو په فتحه شویو سیمو کې کورونو ته اور ورته کړ او کرنه یې له منځه یووړه. د اګست پر (۱۳) او (۱۴) نېټه نږدې لس زره تنه کابل ته مهاجر شوي دي.

د ملکي وګړو په جبري لېږدونه کې د طالبانو په اند‌ول، د هغوی د مخالفانو نقش زیات څرګند ښکارېږي.

د افغانستان اخبار مجله لیکي: ((ګڼ شمېر کورنۍ د مسعود په امر له پنجشېره وځي چې نوموړی د خپلو پوځي موخو لپاره په خلاص مټ کار وکړي.))(۲)

خپرونو وروسته د طالبانو له خولې وویل، چې د کابل شمال د ملکي وګړو په تشو کورونو کې مخالفو ملېشو مورچلونه جوړ کړي وو، طالبان له کومي خبرتیا پرته مخ پر وړاندې لاړل، بیا نو د طالبانو مخالفان له همدې پټو ځایونو څخه رابهر شول او طالبانو ته یې درانه زیانونه واړول او د طالب ځواکونو د پر شا کېدنې سبب شول.

ب - د ځاني او عامه شتمنیو لوټونه:

د ژنیو څلور واړه کانوانسیونونه د ځاني او عامه شتمنیو نیونه یا ویجاړونه، چې د جګړه ییزو اړتیاوو له پلوه د توجیه وړ نه وي، جنګي جنایت او د سزا وړ کار بولي.

---

(۱) د افغانستان اخبار مجله، په فرانسوي ژبه، پاریس، ۱۹۹۹م کال، ۲۰-۲۱مخونه.
(۲) د افغانستان اخبار مجله، په فرانسوي ژبه، پاریس.

په افغانستان کې د کمونیستي نظام تر ړنګېدو وروسته، دکارپوهانو د ارزونې له مخې په سلو کې (۷۰) برخې عامه او ځاني تاسیسات له منځه تللي دي.

اقتصادي بنسټونه لکه صنعتي او کرنیز جوړښتونه په ټولیز ډول له منځه وړل شوي دي.

د (اردو وسیاست درسه دهه اخیر افغانستان) کتاب هڅه کوي، چې د کمونیستانو په اندېول، د مجاهدینو د ګناه پېټی درونـد وښیي، نوځکه خو غواړي حالاتو ته بل ډول رنګ ورکړي. وايي:

کابل ته د مجاهدینو په راننوتو سره ((هره څلورلار کې قوماندانی، پوسته، مورچـل،زغروال ګاډي او ټانک لیدل کېدل. قوماندان د څلورلارې خپلواک پاچا و... څه یې چې ویل او څه یې چې کول هغه قانون و او پوښتنه ترې کېدلای نه شوه، همدا د څلور لارې قانون و، ځکه نو هر څوک چې له هغه ځایه تېرېدل، له بایسکله نیولې تر خره، پسه او سړي پورې د قوماندان شخصي مال ګڼل کېده اود هغه په یوه اشاره نیول کېده، څه دوران و. داسې دوران چې د یو انسان قیمت د ټوپک یوې ګولۍ او د توغندي یوې وړې ټوټې ته راټیټ شوی و.

پر هغه وخت په کابل کې د انساني تمدن هېڅ نښې نښانې پاتې نه وې. برېښنا، اوبه، ګاډي اوټلیفون چې دتمدن ښکارندویي کوي، نه وو. مغازې او هټۍ لوټ شوې او یا د لوټ له وېرې تړل شوې او مېخ شوې وې. سړکونه او ودانۍ په زرګونو ګولیو، توغندیو او توپونو سوري سوري شوي وو، په هره سیمه کې، هر غره او کوڅه کې ژورې کندې ایستل شوې وې، دا کندې تیارو اوشومو قبرونو ته ورته وې...

**د پرمختيا او انساني تمدن پرتابوت باندې وروستي مېخونه ټکوهل کېدل))(١)**

**((پر(١٩٩٢ز)کال د افغانستان اسلامي دولت ترجوړېدو وروسته، په کابل کې وسلوالې ډلې چې د قومي او مذهبي انګېرنو له مخې جوړې شوې وې، نه يوازې پر خونړيو خپلمنځي جګړو اخته شوې، بلکې د خلکو بنديانولو، د ځاني او عامه شتمنۍ لوټونې او د ښځو پر عزت باندې تېري ته يې هم لاس واچاوه.))(٢)**

**لکه څنګه چې د مخه مو يادونه کړې وه، پر (١٩٩٢ز)کال د جمعيت او پرچم ائتلاف د (م،م،م) د سولې پلان پرضد د يو سياسي سازښت له لارې په کابل کې واک تر لاسه کړ، جمعيت تنظيم (پردي اوښان خيرات کړل) پرچم ډلې ته يې زيات امتيازات [ له هغې جملې نه عمومي ښښنه] وراندې کړل، ځکه چې پرچم ډله د نوموړي تنظيم، چې له خپلو ځواکمنو، سياسي او پوځي سيالانو سره سخت لاس او ګرېوان و، پوځي ملاتړ وکړي او هغه په پښو ودروي.**

**د جمعيت تنظيم غټو کادرونو په عامه ذهنيت کې د جهاد او مجاهد مقام د سپکاوي او پرچمي کمونيستانو دباور د لوړاوي لپاره له هر فرصت څخه ګټه اخيستله. په دې باب د جمعيت يو وتلي کادر (عبدالباقي ترکستاني) پر (١٣٧٣ل) کال دمزار شريف په ټلويزيون کې داسې ويلي وو:**

(١) - عظيمي، م.ن: اردو وسياست، پېښور، ١٣٧٧ل کال، اوړی، ٢١۴مخ.
(٢) (ب،ن،س) راپور، لندن، ١٩٩٣م کال، سپتمبر، ١۴مخ.

((کمونیستانود خپل څوارلس کلن حکومت په بهیر کې د ملت او دولت یوه ستن هم لوټ نه کړه، خو موږ مجاهدینو دیوه کال پــه اوږدو کې دولت او خلکو ته یوه ستن هم پرې نښوده.))[1]

لکه څنګه چې مولوي ترکستانی ادعا کوي، د جمعیــت او پــرچم ایتلافي حکومت په پیل کې، د مجاهدینو له خوا لوټ او تــالان کېــده، ددې زیات مسولیت څکه دجمعیت ډلې ته راجع کېږي، چې د کابل پر زیاتې برخې واکمنه ډله ګڼل کېده، نه ټولو مجاهدینو ته.

دبښنې نړیوال سازمان په دې باب وایي: ((حکــومتي عســکرو (د اسلامي جمعیت اړوند وسلوال کسان) د (۱۹۹۵ز)کال دمارچ پر لومړۍ نېټه، په ټوله درېیمه کارته کې یو قیامت جوړ کړ. کورونه یې لوټ کړل، ملکي وګړي یې وتښول، ویې څپل، مړه یې کړل او پر ښځو یــې تېــری وکړ.

د (۱۹۹۵ز)کال په مارچ کې دنظار شورا څواکونــو دکابــل ســویل لویدیځ ناحیې، د درېیمې کارتې دملکي وګړو پر سلګونو کورونو یرغل وکړ، د کورنیو ټول غړي یې ووژل او یا یې وتښول. د کورونو مالونه یــې لوټ کړل او پر هزاره ښځو یې تېری وکړ...

په سیمه کې روغتیایي کارکوونکو ددې خبرې پخلی کړی، چې پر هغه وخت د بې شمېره ښځو پرعزت تېری شوی دی.))[2]

ج- له اسیرانو سره ناوړه انساني چلند، د اسیرانو وژنه:

د جګړې له قواعدو څخه د وسلوالو افغاني ډلو دسرغړونې تر ټولو او زړه بوږنوونکی سرغړاوی، همدا د جنګي اسیرانو په برخه کې دی.

---

(۱) - عظیمي، م.ن: اردو وسیاست، پېښور، ۱۳۷۷ل کال، ۲۲۰مخ.
(۲) - (ب،ن،س) لندن، ۱۹۹۳زکال، سپتمبر، ۸۴مخ.

((هر مجاهد قومندان د خپلې واکمنۍ په سیمه کې یوه اسـلامي محکمه جوړه کړې، چې نېغ په نېغه د هغه تر نظر لاندې دنـده سـرته رسوي: دکابل حکومت هم دخپلې واکمنۍ په سیمو کې زیـات شـمېر محکمې جوړې کړې دي.

په دې محکمو کې محاکمه د یوې عادلانه محـاکمې لـه دودیـزو معیارنو سره سمون نه خوري. په زیاترو برخو کې یوه محاکمه د هغه امر د په رسمیت پېژندنې لپاره دایرېږي، چې د قومندان له خوا صادر شوی وي. تورن نه د دعوې وکیل دټاکلو حق لري او نه د مرافعې حق، هغـه جرمونه چې ترسره کوونکو ته یې د اعدام او د بدن د غړو د پرېکولو سزا ورکول کېږي دا دي:

وژنه، زنا یا غلا.

په کونړ او کندهار ولایتونوکې له کومې قانوني اجـازې او کـومې رسمي محاکمې پرته یوازې د قومندان په حکم په سلګونو تنه اعـدام شوي دي.))[1]

تقریباً په هر هغه زندان کې چې د وسلوالو سیاسي ډلو له خوا اداره کېده، شکنجه او ځکونه ورځنۍ دودیزه چاره ګرځېدلې وه. زندانیان دې ته اړ کېدل، هغه څه وخوري، چې ورتـه ویـل شـوي وو. ان د انسـان غوښې. ځینو ته برېښنایي ټکانونه ورکړل شوي، ځینې ان دمـرګ تـر بریده پورې خپېټه شوي او خصیان کړای شوي دي، تقریباً ټول زندانیان وهل شوي او ټکول شوي دي. ډېر وخت ورته غذا هم نه ورکول کېده او له سختې ګرمۍ اویخنۍ سره مخامخېدل.

---

(۱) - (ب،ن،س)، لندن، ۱۹۹۳زکال، سپتمبر، ۱۴مخ.

ویل کېږي چې ګڼ شمېر زندانیان د همدې شکنجې له کبله مړه شوي او یو شمېر نور وژل شوي دي. زندانیان معمولاً په تلخونو(زېرزمینیو) کې ساتل کېدل. ویل کېږي، چې د خونو کړکیو کې هم خښتې ایښودل کېدې، چې اتاقونه شپه او ورځ تیاره کې ډوب شي.

د خونو ځمکه غالباً نمناکه وي او پرمتن یې لږ څه خواره وي او یا هم هېڅ نه وي. هر بندي ته یوه کمپله ورکول کېږي، د ورځې یوازې یو ځل زندانیانوته اوبه ورکول کېږي، هغه هم چټلې اوبه، د شکنجې له کبله د زندانیانو مات شوي هډوکي او ټپونه د بدبویي سبب ګرځي او د ژوند د ناسم حالت له کبله یې ستونزه نوره هم زیاتېږي. څرنګه چې د زندانیانو خونې نه پاکېږي، نو زندانیان ډېر ژر پر هغو ناروغیو اخته کېږي، چې پخواني زندانیان پرې اخته دي. زندانیان معمولاً څو میاشتې په همدې ډول پاتې کېږي.د خلاصون یوازینۍ لار داده، چې ساتونکي د پیسو په بدل کې هغوی ته ازادي ورکړي او د زندانیانو خپلوان د هغوی د ورکړې وس ولري. که چېري د زنداني کورنۍ د هغه د خلاصون لپاره هغه پیسې ورنه کړای شي، زنداني به ووژل شي او یا به کوم بل لوی زندان ته یوړل شي. د دایمي اسانتیاوو له مخې د زندان شرایط ښه نه دي. زندانیانو ته اوس هم کمه غذا رسي او تشناب ته د تګ امکانات یې هم لږ دي. دوی اوس هم له خپلو کورنیو سره له لیدنې کتنې منع کېږي، له شکنجې او ناوړه چلندسره مخامخېږي. پخوانیو زندانیانو د(ب،ن،س) په دې خبره خبر کړی و، چې دوی د پوځي مورچلو کېندلو او دماینونو پاکولوته مجبور شوي دي.))(۱)

(۱) – د (ب،ن،س)، افغانستان، دبشر حقووق غمیزې په باب، نړیوال مسولیت.

((دنظارشورا ځواکونه د خپلې واکمنۍ په سیمو کې دپخواني خاد څو پټ ساتنځایونه لري، د اوږدې مودې زندانیان په پنجشېر کې دنیونې مرکزونو ته لېږدول کېږي، هلته مورچل جوړولو او ماین پاکۍ ته اړ ایستل کېږي. د رپوټونو له مخې په پنجشېر کې لږ تر لږه پنځه زندانونه شته، چې په هغو کې سیاسي زندانیان ساتل کېږي، د هغو زندانیانو دوینا له مخې چې وروسته خوشې شوي دي، د پنجشیر زندانونو بندیان د لاجوردو په کان کې سختو کارونو ته اړ ایستل کېږي، د لویو ډبرو او وړو کاڼو د ښویېدو او ټوټه کېدو له امله یو شمېر زندانیان مړه شوي او ځینې نورټپیان شوي دي.))(۱)

((د (۱۹۹۷ز)کال د اګست په لومړیو ورځوکې په پنجشیر کې د زندانیانو شمېر نږدې (۱۶۰۰) تنوته رسېده، یوشمېر بهرنۍ خبریالان داګست پر ۶مه نېټه پر دې بریالي شول، چې د بهارک زندان وګوري. هلته په (۱۸۰۰) متره مربع ساحه کې (۳۵۰) تنه زندانیانو ژوند کاوه،هغوی جبري کارونو ته اړ ایستل کېدل، غذایي وضعه یې ډېره بده نه ښکارېده.))(۲)

د (۱۹۹۹ز) کال د فبرورۍ میاشتې پر ورستیو ورځو(د افغانستان مرستې) مرکز یو هیئت د بلخ ولایت زندانیانو حالت د څېړنې په باب مزار شریف ښار ته سفر وکړ، دې هیئت پېښور ته تر خپل راتګ وروسته دیو خبري کانفرانس په ترڅ کې څرګنده کړه، چې: (( له زندانیانو سره د

(۱) - د(ب،ن،س)، افغانستان، دبشر حقووق غمیزې په باب، نړیوال مسولیت، لندن.
(۲) - د افغانستان اخبار مجله،په فرانسوي ژبه، پاریس، ۱۹۹۸م کال، ۸۰مه ګڼه.

**مستقیم تماس له مخې څرګنده شوه، چې طالبان پر زندانیانو شاقه او سخت کارونه نه کوي.))[1]**

**په داسې حال کې چې د ژنیو (۱۹۹۳ز)کال کانوانسیون هغه ډله یا سرچینه چې اسیران ورسره دي پر دې مکلفوي، چې له اسیرانو سره (ن،س،م) کمېټې د لیدنې کتنې حق ته درناوی وکړي او هغې ته لاره اواره کړي. د شمال ائتلاف ازبک او هزاره برخې هېڅکله هم د(ن،س،م) کمېټې ته داسیرانو د لیدنې کتنې او پوښتنې حق نه دی ورکړی.**

**سربېره پردې د جګړه مارو غاړو له خوا(ن،س،م) کمېټې ته د اسیرانو بشپړ لست نه دی ورکړ شوی.**

**((طالبانو پهلوان عبدالمالک تورن کړ، چې د (ن،س،م) کمېټې ته یې د زندانیانو د لیدنې کتنې اجازه نه ده ورکړې.**

**[(ن،س،م) د (۱۹۹۷ز)کال د اګست پر (۱۲)مه نېټه په فاریاب کې، جوزجان او بلخ ولایتونو کې له بندیانو سره د(ن،س،م) د هیئت دکتنې دمخنیوي له کبله، له عبدالمالک څخه سر وټکاوه.][2]**

**د زیاتېدونکي نړیوال فشار له امله د (۱۹۹۷ز)کال په وروستیو کې یو شمېر جنګي ډلو د(ن،س،م) کمېټې ته د زندانونود لیدنې کتنې اجازه وکړه.**

**[(ب،ن،س) په پنجشیر، کابل، مزارشریف، شبرغان، کندهار او هرات کې له (۸۰۰۰) زندانیانو سره وکتل.][3]**

---

(۱) - د(ب،ن،س)، افغانستان، دبشر حقووق غمیزې په باب، نړیوال مسولیت.

(۲) - د(ب،ن،س)، افغانستان، دبشر حقووق غمیزې په باب، نړیوال مسولیتو لندن، ۱۹۹۵زکال،نومبر

(۳) - د افغانستان اخبار مجله،په فرانسوي ژبه، پاریس، ۱۹۹۹زکال، ۸۴مه ګڼه، ۲۲مخ

((پر (۱۹۹۷ز)کال (ن،س،م) په (۷۴) ساتنځایونو کې (۸۸٤٥) تنــه زندانیان وکتل، د (۵۳۰۰) تنو زندانیانو لیکونه یې د هغــو کورونــو تــه ورسول.))[1]

(( له (۱۹۹۲ز)کال څخه تر (۱۹۹۶ز)کال پورې سیالو ډلو په ځانګړي ډول، دکابل په جګړو کې د ملکي اوپوځي وګړو پر یرغملی، چې د ژنیو څلورګونو کانوانسیونونو هغه منع کړي دي، لاس پورې کړ، دا یرغملیان شکنجه شوي او ان وژل شوي هم دي.

د (۱۹۹۷ز)کال د جولای پر (۲)مه نېټه د (ن،س،م) مسول اعــلان وکړ، چې په افغانستان کې له جنګي اسیرانو سره انســاني چلنــد نــه کېږي، ساتنه یې نه کېږي او تل یې د ډله ییزې وژنې امکان وي.))[2]

په داسې حال کې چې دژنیو کانوانسیون او د هغه (۳)نمبر ضمیمه پروتوکول له اسیرانو څخه غچ اخیستنه اوهغوی ته په ډله ییز ډول سزا ورکونه ډېر سخت جنایت بولي او د سزا وړ یې ګڼي. د غچ اخیستنې له مخې د اسیرانو ډلــه ییــزه زړه بوږنــوونکې وژنــه پــر (۱۹۹۷ز)کــال د افغانستان په شمال کې وشوه. د افغانستان اخبار مجله چې په پاریس کې په فرانسوي ژبه چاپېږي (۱۹۹۸م کال، ۸۰مه ګڼه) د لــي براســیون ورځپانې (۱۹۹۷، ۱۲-۱۷ګڼې) اود بېښنې نړیوال سازمان (۱۹۹۷ز) کال، سپټمبر) د راپور په حواله لیکي: ((نړیوالو خپرونو د شبرغان په اړوندو سیمو کې له (۲۰)تر (۳۰) کندو او کاریزونو ( د کاریزونو سوریو لــه (۱۰-۳۰) مترو پورې ژوروالي او (۱۰-۵۰) مترو پورې اوبه درلودل و) په بــاب

[1] - د افغانستان اخبار مجله،په فرانسوي ژبه، ۱۹۹۸زکال، ۸۰مه ګڼه، ۲۱مخ
[2] - د افغانستان اخبار مجله،په فرانسوي ژبه، ۱۹۹۷زکال، ۷۹مه ګڼه،۲۹مخ.

چې په هغو کې(۲۰۰۰) طالبان په ډېر بد حالت کې وژل شوي وو، راپور ورکړ.

د (م،م،م) ژر تر ژره غبرګون وښوده، د (م،م،م) ځانګړی راپورتړ (شونګ شون یګ) په سیمه کې د نومبر له (۱۳– ۳۰) نېټې پورې په افغانستان کې د بشر حقوقو څارونکي په توګه وټاکل شو، نومورې دا ومنله چې پر سلګونو اسیران او زندانیان کارېزونو ته غورځول شوي، وروسته یې دکارېز خوله دبم په واسطه الوزولې ده، په هر کارېز کې (۱۰۰) جسدونه لیدل شوي دي.

اسیران په ګاډو کې دتبادلې په پلمه لېږدول شوي، وروسته یا ژوندي او یا که مقاومت یې کاوه وژل شوي، تر وژنې وروسته کارېزونو ته غورځول شوي دي. وروسته بیا د کارېز پر لوري ډزې شوي او خوله یې د بم په واسطه الوزول شوې ده. وروسته بیا د بلډوزر په واسطه دا ژورې کندې له خاورو ډکې شوي او سطحه یې اواره شوې ده.

په ځینو برخو کې لا د کارېز ژوروالی دومره هم نه، چې جسدونه په کې ځای شي.

خبریال کولای شي دانسان دبدن یوه برخه ؛چې د اوبو له سطحې څخه رابهر شوې وه، ووینې.))

((د (۱۹۹۸ز) کال د ډسمبر پر (۱۶)مه نېټه د (م،م،م) یو ویاند ومنله، چې په سلګونو طالبان لومړی په ځاه ګانو کې غورځول شوي او بیا وژل شوي دي.

په پاکستان کې یوه لویدیز دپلومات هیله څرګنده کړه، چې پر وژنې شخص مالک) دې د هماغه برخلیک انتظار وکړي، لکه دپخوانۍ یوګوسلاویا جنګي جنایتکاران چې ورسره مخامخ شول.))(۱)

پورتنۍ پېښه د افغانستان په جګړه کې دګڼو جنایتونو یوازینۍ بېلګه ده،چې (م،م،م) له هغې سره لېوالتیا وښوده او ددې پېښې څېړنې لپاره یې یو کمېسیون وټاکه، په خواشینۍ سره چې ددې کمېسیون کار دوام ونه کړ او د هغو مسولینو ته دهېڅ ډول سزا د ورکړې لپاره هڅه ونه شوه. په خواشینۍ سره چې هغه وخت افغانستان داسې یو مسول حکومتي کادر نه درلود،چې په ټینګار سره نړیواله ټولنه ددې پېښې څېړنې ته وهڅوي. د جمعیت تنظیم ړنګ شوي حکومت، چې په (م،م،م) کې یې استازی درلود، دې مسلې ته لېوالتیا ونه ښوده او ان هڅه یې کوله (م،م،م) وهڅوي، چې ددې مسلې اړوند دوسیه غلې او ویې ساتي. د طالبانو حکومت چې ددې مسلې زیانمن شوی اړخ و، په نړیواله کچه ددې مسلې د پورته کولو نړیوال باور نه درلود.

د (۱۹۹۹ز) کال د ډسمبر پر ۵مه نېټه د (م،م،م) عمومي منشي اعلان وکړ،چې د افغانستان په درېو لویو ښارونو کې (۱۲) څارونکي ځای پر ځای کوي، چې د بشر حقوقو څخه سرغړونه وڅاري، خو دا پروګرام هېڅکله هم عملي نه شو.

(۱) - د افغانستان اخبار مجله، پاریس، ۱۹۹۸زکال، ۸۰-۲۱مخونه.

## ۲- بشرضد جنایت:

### الف- عامه وژنه:

د افغانستان اخبارمجله د پاکستان چاپ مسلم جریدې له خولې لیکي: (( ۱۹۹۷زکال د ډسمبر پر ۱۰مه نېټه دمزارشریف ختـیځ؛ قـزل ابادکې، د یوې ډله ییزې وژنې نښې نښانې لیـدل شـوي دي. دښـځو، کوچنیانو او سپینږیرو (۷۰) جسدونه چې ظاهراً له شکنجې او دبـدن غړو ترغوڅولو وروسته، وژل شوي وو، په یوه ډله ییز قبر کې پیدا شول. وحدت ګوند وویل: دا وژنه د طالبانو دپرشاتګ پروخت دهغوی له خـوا شوې ده.

ددې کار علت پر ملکي وګړو فشار راوړل و، چـې د وسـلې پـټ ځایونه وښیي.))

د[(ب،ن،س) ناتائید شوي راپورنه ددې څرګندونه کوي،چې په بلخ کې په ډله ییزه توګه ناپښتانه وګړي نیول شوي دي. نیول شوي کسان پټو ځایونو ته لېږدول کېدل، ملکي هزاره ګان د لېږدولو پروخـت وژل کېدل.

د (۱۹۹۸ز)کال د مارچ پر (۲۹) مه نېټه د طالبانو مشر ملامحمدعمر خپلو پلویانو ته لاښوونه وکړه، چې ملکي اسیران ونه وژني.][1]

((د (ب،ن،ي) د (۱۹۹۸ز)کال د سپټمبر پر (۳)مه نېټه طالبان تورن کړل، چې مزار شریف د فتحې پروخت یې په زرګونو هزاره ګـان وژلـي دي، طالبانو دا تور رد کړی دی.))[2]

[1] - د افغانستان اخبار مجله، پاریس، ۱۹۹۸زکال، ۸۱مه ګنه،۱۸او۲۸مخونه.
[2] - د افغانستان اخبار مجله، پاریس، ۱۹۹۸زکال، ۸۲مه ګنه،۱۸مخ.

[د(ب،ن،س) پر (۱۹۹۹ز) کال دبامیانو د فتحې پر وخت د طالبانو له خوا په ډله ییز ډول دملکي وګړو دوژنې یادونه کوي او هم د هغو مخالفو ځواکونو د تشدد یادونه. ملامحمدعمر په داسې حال کې چې د مخالفینو وژنه تائیدوي، زیاتوي چې دا کار دمخالفینو له خوا په سیمه کې دطالب پلوو وګړو د وژنې او د هغو کورونو د سوزونې په ځواب کې شوی دی.

ده خپلو پلویانو ته امر کړی چې غچ اخستنه بنده کړي.][1]

## ب- دملکي سیمو ویجاړونه او بمبارونه:

((د دوو سترو جهادي تنظیمونو؛ اسلامي حزب او اسلامي جمعیت ترمنځ پخوانۍ او ژوره دښمني، دبې دفاع ملکي خلکو د استوګنځایونو د بمبارۍ سبب شوه، اسلامي حزب په داسې حال کې چې په پټو سترګو، لکه د حافظ د غونډاري په څېر، د ښوونځیو، روغتونونو په ګډون، د ښار دملکي وګړو د راټولېدو پرمرکزونو توغندي ورول، دولتي الوتکو د اسلامي حزب تر واکمنۍ لاندې سیمې بمبارولې. ددې کار له کبله ګڼ شمېر جوماتونه او روغتونونه له منځه لاړل، استوګنځایونه ویجاړ او په زرګونو ملکي وګړي مړه اوټپیان شول. د همدې جګړو له کبله تېر کال د کابل ښار له دوه ملیوني وګړو څخه نیم ملیون امن ځایونو ته لاړل.))[2]

---

[1] - د افغانستان اخبار مجله، پاریس، ۱۹۹۹زکال، ۸۲مه ګڼه،۱۸مخ.

[2] – (ب،ن،س) لندن، ۱۹۹۳م کال، سپتمبر، ۱۴او ۲۸ مخونه.

[د(ب،ن،س) دوینا له مخې د (۱۹۹۴ز)کال د ډسمبر پرمیاشت د توغندیو د لګېدو له امله (۱۱۰۰) تنه مړه او (۲۳۰۰۰) تنه ټپیان شوي دي.][1]

((د (۱۹۹۲ز)کال له اپریل څخه راپدېخوا دټولو ډلو له خوا د درنو وسلو دډزو له امله په سلګونو زره ملکي وګړي وژل شوي او ټپیان شوي دي.

داسې ښکاري، چې ددې یرغلونو یو شمېر په قصدي ډول، پر هغو استوګنځایونو شوي، چې ګومان کېده ددې سیمې خلک د مخالف پوځي مشر ملاتړ کوي.))[2]

اسلامي حزب پر هغو خلکو باندې چې د غذایي توکو دپیدا کولو لپاره راټول شوي وو،(کلستر) توغندي و ورول. دولتي ځواکونو هم پرهغو استوګنځایونو چې د وحدت ګوند تر واکمنۍ لاندې وو، لکه پر ازاده ګانو دښته، غزني سرای، درېیمې او څلورمې کارتې باندې کلستر توغندي وتوغول.))[3]

(( په داسې حال کې چې یو زیات شمېر ملکي وګړي پر پوځي سیمو باندې د بریدونو له امله وژل شوي، خو د(ب،ن،س) له دې کبله ډېر خواشیني دی، چې ډېر بریدونه پر استوګنځایونو او یوازې د ملکي هدفونو لپاره ترسره شوي دي. ټولو ډلو پر استوګنځایونو باندې خپل

[1] - د افغانستان اخبار مجله، پاریس، ۱۹۹۴م کال، ۳مخ.
[2] - د(ب،ن،س)، افغانستان، دبشر حقوقو غمیزې په باب، نړیوال مسولیت، لندن، ۲۴، ۴مخونه.
[3] - د(ب،ن،س)۴۷، ۴۹مخونه

بریدونه توجیه کړي، ادعا یي کړې، چې دهغو سیمو اوسېدونکي دسیالې ډلې ملاتړي وو.))[1]

یوه لیدونکي د والي اسمعیل خان د غچ اخیستونکي برید په باب چې د (۱۹۹۵ز)کال دمی پر لومړیو ورځو کې په فراه ولایت کې وشو، (ب،ن،س) ته، وویل:

((هغوی زیات ټوټه کېدونکي(کلسټر) بمونه وغورځول، چې دهغو له کبله(۲۲۰-۲۵۰) تنه ووژل شول. زیاتره وژل شوي کسان عادي خلک و،چې نه یې د کومې ډلې پلوي کړې وه او نه یې له هغو سره مخالفت درلود. جګړه دربېدلې وه، څو ورځې هېڅ کومه پوځي هڅه نه وه، خو داسمعیل خان (میګ ۲۱،میګ۲۳، سو۱۷ او ۱۸) الوتکې راوالوتې، استوګنځایونه یې بمباري کړل،کورونه یې ویجاړ او ډېر ملکي وګړي یې ووژل.))[2]

## ج- د سیاسي توکمیز او مذهبي انګېرنو له کبله د خلکو څارنه او مجازاتونه:

((په کابل کې د مجاهدینو حکومت پرمهال دماشومانو په ګډون د قومي، مذهبي او دیني ډلو غړي ډېرځله د برید له خطر سره مخامخېدل، ناڅرګندو کسانو دکابل ښار د هندوانو او سکانو پر کورونو لاسي بمونه غورځول او ان د هغو دښځو پر عزت یې تېری کاوه. له بشري حقوقو څخه د زیاتو سرغړونو له کبله، دغه دوه مذهبي ډلې

(1) - د(ب،ن،س) ۴، ۲۴ مخ.
(2) - د(ب،ن،س)،افغانستان، دبشر حقوقو غمیزه، نړیوال مسولیتو لندن،۴۹،۲۷مخ.

ناچاره شوې، چې له کابل نه پاکستان او له پاکســتانه هندوســتان تــه وتښتي.

لومړۍ مجاهدې ډلې، چې د (۱۹۹۲ز)کال پر اپريل کابل ته دننــه شوې، ( داحمدشاه مسعود اړوند) تاجک اود (رشيد دوستم اړوند) ازبک ځواکونه وو. هغوی د کابل پښتنو وګړو پرضد چې تقريباً د کابل دټولــو اوسېدونکو نيمايي شمېر يې جوړاوه، خپل برېدونه پيل کړل. دا کار له کابل څخه د هغوی د زيات شمېر د وتنې سبب شو.

د راپورونو له مخې ديوې شيعه مــذهبي ډلــې هــزاره لړکــی، د اسلامي اتحاد له پښتانه تنظيم سره د سخت مخالفت له امله تر ځانګړي ګواښ لاندې راغی. دکابل د افشارو په سيمه کې د هغو پر کورونو باندې د حکومتي اردو ( اسلامي اتحاد تنظيم متحد) له خوا ناترسه بريدونــه وشول.))[1]

((د ۱۳۷۱ل کال د چنګاښ پر (۲۳)مه نېټه، وحدت حزب، حرکت تنظيم او نظارشوار ترمنځ لومړی په مامورينو کارته اوبيا په درېيمه کارته کې دويمه نښته پيل شوه. جګړې قومي او ژبني بڼه غوره کــړه او هــر اړخيزه شوه، د ((ټلويزيون)) او ((توپ چاشت)) له غونډيو څخه هزاره مېشتې سيمې وځپل شوې، د هزاره ګانو جسدونه چــې پــه ډانګيــو، برېښنا مزو او وژل شو وو، پيدا کېدل.

[1] - د(ب،ن،س)، لندن، ۱۹۹۴م کال، سپټمبر، ۲۵، ۲۲مخونه.

**وحدت ګوند هم د نظارشورا اسیران شوي قوماندانان وهل ټکول اود هغو سپکاوی یې کاوه، یو تن پښتون یې په وزیراباد کې پــه مــوټر پورې تړلی و او دومره یې کش کړ، چې ټوټې ټوټې شو.))[1]**

**((سیاسي ډلې اکثره د یو ټاکلي قوم او قبیلــې غــړي او د هغــې سیمې وګړي، چې د سیاسي ډلې تر واکمنۍ لاندې دي، دښمنان ګڼي. ځکه نودوی پر داسو کسانو هم برید کوي، چې په جګړه کې هېڅ ګډون نه لري. ټولې ډلې پر استوګنو سیمو باندې خپل بریدونه توجیه کوي او ادعاکوي،چې د هغوځایونو اوسېدونکي دسیالې ډلې پلویان دي.))[2]**

**هغه بېوسلې ملکي وګړي، چې د سیالې قومي ډلې دملاتړ ګمــان پرې کېده، پرله پسې وهل کېدل، ټکول کېدل او له ناوړه چلندونو سره مخامخېدل.))[3]**

**د افغانســتان اخبــار مجلــه د فــرانس پــریس خبــري اژانــس د (۱۹۹۶ز)کال د نومبر د (۲۷) مې نېټې د خبر له مخــې لیکــي: ((هغــو مهاجرینو چې دکابل شمال جګړو له کبله کابل ته پناه راوړې ده، وایي: چې  د دوستم ځواکونو د شمال ایتلاف  تر واکمنۍ لاندې سیمو کــې د خلکو عامه شتمنیو پر لوټ او تالان لاس پورې کړی دی.**

**همدارنګه د دوستم ځواکونو له خوا(۱۸۰۰۰) تنه پښتانه له طالبانو سره دملګرتیا په ګمان له خپلو کلیو اوبانډو څخه ایستل شوي دي.**

---

[1] – عظیمي، م،ن: اردو وسیاست، پېښور، ۱۳۷۷ل کال، ۲۲۷مخ.

(۲) - د(ب،ن،س)، افغانستان، دبشر حقووق غمیزې په باب، نړیوال مسولیت، لندن، ۱۹۹۵زکال،نومبر، ۱۲مخ.

[3] - د(ب،ن،س)، افغانستان، دبشر حقووق غمیزې په باب، نړیوال مسولیت، لندن، ۱۹۹۵زکال،نومبر، ۱۲مخ.

**په عشق اباد کې د مهاجرينو عالي کمشنرۍ دې پېښې ته دلومړي ځل لپاره د (توکميزي پاکونې) اصطلاح کارولې ده. سربېره پردې کله چې طالبانو دويم ځل شمالي سيمې ونيولې، د سيمې اوسېدونکي يې له مسعود نه د اتکلي همکارۍ په ګمان، له سيمې څخه وايستل اوکابل ته يې رامهاجر کړل.))**

**د افغانستان اخبار مجله د نېشن (Nation) ورځپاڼې په حواله ليکي: (( کله چې وحدت حزب پر طالبانو برلاسی شو، (۱۹۹۶ز)کال د جولای له (۵-۱۵) نېټې پورې يې د غوربند درې (۵۰۰۰-۶۰۰۰) تنه پښتانه له طالبانو سره دملاتړ په تور له خپلو کورونو او باندو څخه وتلو ته اړ کړل، هغوی دکابل په خيرخانه مېنه کې استوګن شول.))[1]**

**(( د (۱۹۹۶ز)کال دنومبر په شاوخوا کې، (۴۵۰۰) تنه (اکثر پښتانه کوچيان) په بادغيس کې دجګړو له سيمو څخه وتښتېدل.**

**د(ب،ن،س) په وينا په افغانستان کې طالب چارواکو (۲۰۰۰) تنه تاجکان بنديان کړل، هغوی په څرخي پله زندان کې تر سختو شرايطو لاندې بنديان شوي دي.))[2]**

**((په شمالي کې طالب مخالفينو د طالبانو زيات پلويان په زندان کې واچول.))[3]**

[1] – د افغانستان، اخبار مجله، پاريس، ۱۹۹۸زکال، ۸۰مخ.
[2] - د افغانستان، مجله اخبار، پاريس، ۱۹۹۸زکال، ۷۴مه ګڼه ۲۳مخ.
[3] – بي بي سي راډيو، ۲۰۰۰ زکال، جون، پښتومابنامنۍ خپرونه.

# درېیمه برخه

## د افغاني جنګي جنایتکارانو محاکمه

سره له دې چې موږ په تېرو څپرکو کې په افغانستان کې تر شوروي یرغل وروسته د جګړې لویو اوګې شمېره جنایتونو ته څه ناڅه اشاره وکړه، خو همدا بېلګې هم په پوره ډول دجګړې له حقوقو څخه د سرغړونې جاج وړاندې کولای شي او د هغوی له مسولینو څخه د پوښتنې ښه پیاوړې انګېزه راکوي.

په افغانستان کې د جګړې له مقرراتو څخه د سرغړونې په برخه کې د مجاهدینو د مقاومت ځواکونو په اندول د حکومتي مقاماتو، کمونیست او مجاهد حکومت دواړو مسولیت زیات دی.

کمونیست حکومت او وروسته بیا د مجاهدینو حکومت د کورنیو قوانینو او نړیوالو تړونونو پر وړاندې پر خپلو حقوقي دندو خبر وو.

په افغانستان کې د هر بل مخ پر ودې هېواد په څېر، جګړې د مدني ژوند دنظم ډېر سرسري ضوابط د هغو نالوستو خلکو له سرزورو

غریزو او ګرمو ولولو سره لاس او ګرېوان کړل، چې د مجاهدینو په ډلو کې تنظیم شوي وو.

اکثرو جهادي ډلو سره د مدني احساس مسولیت ډېر لږ و، سیاسي اخلاقو هم ترهغې کچې وده نه وه کړې، چې عملاً د قانون تشـه(خلا) ډکه او جبران کړي. دلته دجګړې حقوقو له مقرراتو څخـه سـرغړونه ناشعوري بڼه لري.

عام خلک د جګړې پر نړیوالو قوانینو نه پوهېدل، ددې قوانینو له متن اوماناڅخه پوره ناخبره وو او بلې کومې سـرچینې هـم د داسـې قوانینو د پلي کېدو ضمانت پرغاړه نه و اخیستی.

په افغانستان کې د جګړې په شل کلن بهیـر کـې د (ن،س،م)، د بښنې نړیوال سازمان او نورو بېلابېلو هیئتونو، د جګړې له مقرراتو څخه دخلکو د خبرولو لپاره، تبلیغات او خپروني ونه کړې او نه یې دې کار ته پاملرنه وکړه، خو له دې سره سره مسلم حقوقي اصل دا دی، چـې لـه قوانینو څخه ناخبري، سرغړونکي له پړې نه شي خلاصولای، لکه څنګه چې دمخه مو اشاره وکړه، کله چې جګړه پیل شي، د هغې ګډونوال؛ هم دولت هم مخالفین، د هغې د مقرراتو پر مراعتولو مکلف دي.

# لومړی څپرکی

## جنایتکارانو ته د سزا ورکولو اړتیا

## په یوه خپلمنځي افغاني غونډه کې دموضوع طرح کول

### لومړی جنایتکارانو ته دسزا ورکولو اړتیا:

مخکې تر دې چې هغه لاملونه وڅېړو، چې په هېواد کې پرجنګي جنایتونو تورنو کسانو د محاکمې اړتیا حتمي کوي، بده به نه وي، چې د (۱۱۹۲ز)کال داپریل میاشت دکمونیست- مسلمان حکومت لـه خـوا جنایتکارانو ته دبښنې د اعلان په باب یو څه وغږېږو.

قومندان مسعود په جبل السراج کې د کابل د کمونیست حکومت د بهرنیو چارو وزیر (عبدالوکیل) سره تر کتنې وروسته چې د هغې پـه بهیر کې د(م،م،م) د سولې پلان پرضد د کودتا جزئیات طرح شـول، د (۱۹۹۲ز)کال د اپریل پر (۲۰) مه نېټه له خبریالانو سره دخپلې مرکې په ترځ کې څرګنده کړه چې: (( ښښنه تر غچ ښخه ښه ده)) د مسـعود تـر خبرو (۱۶) ورځې وروسته دجهاد لارښـودې شـورا(جهادي شـورا) د برهان الدین رباني په ریاست غونډه وکړه، هغـه عمـومي ښښـنه چـې نوښتګر یې مسعود و(نه لکه څنګه چې اوازه وه،چې مجددي دی) تائید کړه.

دکمونیستانو د ښښنې اعلان، د هغه تړون یوه برخه وه، چې د هغې له کبله پرچم ډله حاضره شوه، دکابل د نیولو لپاره له نظار شورا سره یو

سیاسي او پوځي ائتلاف جوړ کړي. موږ به په دې باب وروسته وغږېـږو. اوس پر دې خبرې ټینګار کوو، هغه مسلمان- کمونیست حکومت چې د (۱۹۹۲ز)کال د اپریل پر میاشت یې په کابل کې واک تر لاسه کـړ، پـه داسې یوه دریځ کې نه و، چې دجنایتکارانو پرسر دبښـنې لاس راتېـر کړي.

ځکه چې هغه مهال:

په افغانستان کې یو قانوني، مسول او د خلکو استازی حکومت نه و، یو اسلامي دوله لنډمهالی حکومت جوړ شوی و،چې له بهر څخـه د افغانستان پر خلکو تپل شوی و، دې حکومت په هېڅ برخه، لـه هغـې جملې نه په ملي مسایلو کې د پرېکړې واک نه درلود. دې حکومـت د عامه حقوقو او له هغې جملې څخه د جګړې جنایتکارانو ته د بښنې په باب هېڅکله پرېکړه نه شوه کولای. په افغانستان کې اساسي قانون او په دولتي کچه له هغه نه راغځېدلي مراتب نه وو، په بله وینا دمجرمینو بښنې حق په باب له قومندان مسـعود او (جمهـور ریـیس!) ښـاغلي مجددي سره هېڅ ډول حقوقي اسناد نه وو.

په هر ډول، د هغو جنایتکارانو بښنه، چې د افغانستان د ملي ګټو پرضد یې هڅې کړي، د لویې جرګې او یا دلویې جرګې له خوا د ټاکـل شوي حکومت واک دی، نه د بهرنیو د لاسپوڅي حکومت.

ځکه نو د افغانستان خلک هېڅکله د هغې بښنې اعلان، چې یـو لاسپوځي حکومت ته د واک لېږدولو لپاره، د یوسیاسي سازښـت لاره چاره وي، په رسمیت نه پېژني او د هغې ورځې په هیله دي، چې لویـه جرګه او یا ټاکل شوی ملي حکومت له جنایتکارانو سره حساب وکتاب

وکړي. ډېر زیات عوامل شته، چې دجګړې حقوقو له مخې، سرغړوونکو څخه د پوښتنې غوښتنه کوي، له هغې جملې څخه:

الف- د داسې یوې مدني ټولنې جوړول، چې غړي یې په سوله او جګړه کې د خپل هر ناوړه عمل پر وړاندې قانون او یا تر هغه څخه لوړ، خلکو ته د مسولیت احساس وکړي، د چارو د مسولینو له پوښـــتنې او ګروېږنې پرته شوني نه دي.

افغانستان باید خپلو نااهلو زامنو ته په سزا ورکولو سره د تاریخ له لارې خپل راتلونکي پښت ته دا پیغام ورسوي،چې هېڅ یو ملي خیانت او هېڅ یو ملي خاین بې پوښتنې او بې سزا نه پاتې کېږي، دا د راتلونکو غمیزو دمخنیوي یوازېنۍ لار ده.

ب- دیوې قانوني سرچینې له خوا د جنګي جنـــایتونو لـــه تورنـــو کسانو څخه پوښتنه، ځاني کینه او غچ چې ټولنیزه سلامتیا زیانمنوي، له منځه وړي او د ملي پوهاوي اوټولنیزې سولې دټینګښـــت لپـــاره لار برابروي.

ج- پر جنګي جنایتونو د تورنو کسانو په ډله کې کمونیستان یـــو غوښنه برخه جوړوي، اوس هغوی ټول د افغانستان د خلکو پر وړاندې خپل ځانونه ګناهکاران، مسول او ملامت ګني، ځکه خو پـــه بېلتانـــه، وېرې او دایمي ډار کې ژوند کوي، واقعیت دادی، چې پر جنایت تورنـــو کسانو څخه د پوښتنې له کبله کېدی شـــي د (ا.خ.د.ګ) ټـــول غـــړي محکوم نه شي، اټکل دی چې د ګوند د لیکو ډېر غړي به برائت ترلاسه کړي.

هغه وخت نو بیا هغوی حق لري، چې له ځاني کینې او وېرې پرته له قانون سره سم ارام ژوندوکړي.

په افغانستان کې  د لوستو وګړو شمېر خورا لـږ دی، تـر قضـايي حساب کتاب وروسته د (ا.خ.د.ګ) زيات غړي او د جهـادي تنظيمونــو کادرونه، چې د خپلې بېګناهۍ سند ولري، کولای شي او بايد ويې کړای شي، د هېواد په سياسي او مدني ژوندانه کې په سـوله او امـن کـې د حقوقوالو وګړو په څېر نقش ولري.

په سياسي او مدني فعاليتونو کې له ګډون څخه ددغه لوسـتي او لوړ زده کړي قشر بې برخې کول به د راتلـونکي افغانسـتان اداره لـه نااندولۍ سره مخامخ کړي.

د: په افغانستان کې د جنګي جنايتکارانو محاکمه بايد په پراخـو تبليغاتو او هلو ځلو ترسره شي، دا به په هېواد کې د جګـړې د ورانيــو لوري ته د نړيوالو افکارو پاملرنه راواوړوي او لېبرال صنعتي هېوادونه به، چې نړيوال اړيکي(دبشرحقوقو) په تله تلي، د افغانستان بيا ودانۍ تـه وهڅول شي.

ه- د جنګي جنايتکارانو محاکمه به د ليبرالو هېوادونو لپاره داسې يوه انګېزه شي، هغو افغاني کمونيستانو ته چې رسماً تورن ګڼل کېږي، د سياسي پناه پر ورکړه او تابعيت منلو له سره کتنه وکړي، ان کېدی شي تورن کسان ملي او يا نړيوالو قضايي څانګو ته وسپاري.

## دويم: د يوځپلمنځي سيمينار جوړول:

په اوسنۍ وضعې او حالت کې چې په هېواد کې جګړه روانــه ده، افغانستان کوم مرکزي او مسول حکومت نه لري او هېوادوال د نړۍ په ګوټ ګوټ کې خواره واره دي، په هېواد کې د جنګي جنايتونو څېړنې

لپاره د یوه خپلمنځي افغاني سیمینار جوړول، ډېر ضروري ښکاري. دې سیمینار کې چې د بشر حقوقو د بېلابېلو ملاتړو موسسو استازي بـه راوبلل شي. پر دې مسلې به له بېلابېلو کورنیو اوبهرنیو لیـدلوریو رڼـا واچول شي.

د اسنادو راټولونه، دمجرمینو سپارنه، دمحاکمې څرنګوالی او نور به په سیمینار کې تر بحث لاندې موضوعګانې وي.

لازمه ده چې سیمینار په افغانستان کـې د جنګـي جنـایتونو د څېړنې لپاره یوه دایمي ټولنه جوړه کړي. ټولنــه بــه مهــالنی غونـډې جوړوي او ددې درې ګونو څانګو له خوا به خپلې دندې سرته رســوي: تبلیغ څانګه، داسنادو راټولولو څانګه او د راجستر څانګه. ددې څانګو فعالیت به د بشر حقوقو د کورنیو او بهرنیو ملاتړو موسسو، افغاني او نا افغاني شخصیتونو او اټکل د کابل حکومت دبسپنو له لارې خروب شي.

### الف- تبلیغ څانګه:

دا څانګه دمضمونونو، کتابونو او کتابګوټو دخپرولو، د کنفرانسونو او سیمینارونو دجوړولو، دنظر له خاوندانو، په ځـانګړي ډول پخوانیــو سیاسي بندیانو سره د مرکو له لارې کولای شي، د وخت د تېرېدو او د افغانانو د پاملرنې د نشتوالي له کبله په هېواد کې د جنګي جنایتونو د څېړنې مسله له هېرېدو څخه وژغوري.

د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ددې څانګې د غړو شتوالی به د ا شــوني کړي، چې په افغانستان کې د جګړې د جنایتکارانو پر وړاندې نړیوالې ولولې راوپارېږي او سزا به یې شوني کړي.

### ب- د اسنادو راټولولو څانګه:

د فرانسې چاپ (فیګارو) جریده د (۱۹۹۲ز)کال د اپریل په خپلې (۲۱)مې ګڼې ګې لیکي: (( دمجاهدینو له خوا دمزارشریف تر نیولو کېدو یوه ورځ وروسته، د (۱۹۹۲ز)کال د اپریل په نیمایي کې پــه کابــل کــې دکی،جي،بي (KGB) او خاد د ارشیف ټول اسناد له منځه یوړل شول او یا مسکو ته انتقال شول))

د خاد د اسنادو له منځه وړل اصلاً د هغه تړون یوه برخه وه، چې د اپریل په لومړیو کې په مزارشریف او د اپریل پر (۱۷) او (۱۸)مه په جبل السراج کې د نظار شورا او د ا.خ.د.ګ د پرچم ډلې ترمنځ لاسلیک شوی و، د نجیب د کمونیست حکومت د بهرنیو چارو وزیر عبدالوکیل د پرچم ډلې استازولي کوله، ددې تړون له مخې دخاد اسنادو پر له منځه وړلو سربېره، دواړو غاړو پر دې لاندو ټکو هم موافقه کړې وه:

- له نجیب الله پرته نورو کمونیستانو ته د بښنې اعلان.
- له شوروي سره دټولو لاسلیک شویو تړونونو دموادو درناوی.
- دوطن کمونیست ګوند د هغو غړو لپاره د تګ اصــولي او باعزتــه لارې چارې برابرول، چې له هېواد څخه د وتلو هیله لري.
- هغو کمونیستانو ته چې (م،م،م) د سولې پلان پرضد یې د کودتــا لارښوونه وکړه او کابل ښار ته یې د نظار شورا راتګ شونی کړ، په وسلوال پوځ (لکه دفاع وزارت، دولتي امنیت وزارت او نورو) کې د لومړیو څوکیو د سپارلو منل.
- د شوروي پوځي مرستو د دوام منل.
- د افغانستان په مسله کې د (م،م،م) دهغو لاسوهنو مخنیوی،چې د چارو بهیر د مسلمان-کمونیست ائتلاف له کنتروله وباسي.

د پرچم ډلې غړي په ځانګړي ډول د هغوی پوځې کادرونه په ټولو هغو کلونو کې چې جمعیت تنظیم په کې واکمن و، له نوموړي تنظیم سره خپله ژمنه ترسره کړه، په مقابل کې یې د مجاهدینو موتلفو تنظیمونو، په ځانګړي ډول جمعیت تنظیم هم دکمونیستانو پروړاندې د سر د یوه وېښته په اندازه سرغړونه ونه کړه.

کله چې د(م،م،م) د سولې پلان پرضد تر یوې کودتـا وروسـته د جمعیت - پرچم ائتلاف د کابل پر حساسو برخو واکمن شو،ورسره سم دا خبرخپور شو،چې د خاد اسناد پر دریو برخو وویشل شول: یـوه برخـه مسکو ته د روسي مشاورینو د کتنې لپاره ولېږل شوه.یوه برخه یې نظار شورا لپاره پنجشیر ته ولېږدول شوه او پاتې برخې ته یې اور واچول شو.

په هر ډول، د خاد اسنادو له منځه وړل په خپله ددې ښکارندوی دي، چې په افغانستان کې د جګړې سـرغړوونکو د هغـې محکمـې د جوړېدو وېره احساس کړې وه،چې په هېواد کـې دجګـړې جنایتونـه څېړي.

هغوی له هغو جنایتونو څخه پوره خبرتیا لرله،چې خپله یې مسول ګڼل کېدل. ځکه د محکمې د راتلونکي کار دګډوډۍ لپـاره، د جـرم د ټولو اسنادو او څرکونو د بشپړې له منځه وړنې په لټه کې شول.

خو له دې سره سره، له کابل څخه مسکو ته د خاد او کی، جي، بي د زیاتو اسنادو لېږدونه او همدارنګه د افغانستان د غمیزې پـه بـاب د کی، جي، بي په ارشیف کې دشتو اسنادو هغې سرچینې سـره چـې د جنایتکارانو د محاکمې لپـاره، د اسـنادو او نښـو نښـانو د راټولولـو مسولیت پر غاړه اخلي، د روسیې د همکارۍ اهمیت په ګوته کوي. پـه اوسنیو شرایطو کې داسې یو ډول همکارۍ شونې نه برېښي.

څه شی چې ښکاره دی دادی، چې دغمیزې لیـدونکي اوس هـم ژوندي دي اوپر بدن یې دشکنجې داغونه ښکاري. دمحاکمې ځنډول، دجنایت د زیاتو اسنادو او شواهدو د له منځه تللـو سـبب ګرځـي. د اسنادو د راټولولو کومه څانګه، چې مخکې مو ورته اشاره وکړه، کولای شي دنړۍ په ګوټ ګوټ کې د اسنادو د راټولولو د یوې خبرتیا له لارې، له هېوادوالو اوبهرنیو سرچینو څخه د اړوندو اسنادو او مدارکو د رالېږلو غوښتنه وکړي.

دا څانګــه د(ب،ن،س)، (م،م،م) د بشــري حقوقــو کمېســیون، د(ن،م،س) کمېټې او په سلګونو ناحکومتي سازمانونو (ان،جي،او)ګانو له لارې، چې په افغانستان کې د شلکلنې جګړې په بهیر کې یــې لــه نږدې نه دا بدمرغه پېښې لیدلي، کولای شي خپل ارشیف بډایه کړي.

ګڼ شمېر پخواني سیاسي بندیان، چې د سړي وژونکو خادستانو له خوا له سختو ناوړه انســاني شــکنجو ســره مخــامخ شــوي دي، د کمونیستانو د سختو او له شرمه ډکو جنایتونو ژوندي شــاهدان ګڼــل کېږي.

په زرګونو ښاري او کلیوال وګړي، چې دښارونو او کلیو د بمبارۍ پر وخت دبېګناه ملکي وګړو د وژنې اود ملکي سیمو د ورانۍ لیدونکي وو، د افغاني اوشوروي کمونیستانو د جنایتونو ژوندي او غــوره اســناد ګڼل کېدی شي.

د اسنادو د راټولولو څانګه به له هیلې سره سم لاسته راغلي اسناد او شواهد د ملي او یا نړیوالې محکمې په واک کې ورکړي.

### ج: د راجستر څانګه:

دا څانګه به د (ا.خ.د.ګ) د مشرانو او نورو تورنو کسانو، چې دنړۍ په ګوټ ګوټ کې خواره شوي دي، دپېژندنې او د سیمې د تثبیت دنده ولري.

دا څانګه به د (ا.خ.د.ګ) د منسوبینو، دسیاسي بیرو، مرکزي کمېټې غړو، دملکي اوپوځي خاد، د پوځ لویو صاحب منصبانو، د څارندوی لویو افسرانو اود انقلابي محکمې او انقلابي څارنوالۍ غړو په هکله او هغه تورونه، چې پر دوی لګېږي، ددې ټولو په باب بشپړه معلومات راټول کړي.

ددې کسانو د هر یوه نسبتي دوسیه به د څانګې ارشیف کې خوندي شي او د غوښتنې پر وخت به ملي یا نړیوالې محکمې ته ورکړای شي.

طالبانو په هېواد کې د جګړه ییزو موخو د یوه لوري او د مرکزي دولت د جوړوونکي په توګه، د یو شمېر فرصتونو په ترلاسه کولو سره په افغانستان کې دکمونیستانو د جنګي جنایتونو د څېړنې موضوع رابرسېره کړې ده.

(( د (۱۹۹۹ز)کال د جون پر (۶)مه نېټه د طالبانو د کورنیو چارو وزیر له خلکو څخه وغوښتل، چې په افغانستان کې د جنایت مسولو کمونیستانو په لټون او نیونه کې دې له حکومت سره مرسته وکړي.))[1]

[1] – د افغانستان اخبار مجله، ۱۹۹۹م کال، ۸۲مه ګڼه، ۱۸مخ.

# دویم څپرکی

## دمحکمې جوړونه اودجنایتکارانو بېرته سپارنه

## لومړی- دمحکمې جوړولو څرنګوالی:

**لکه څنګه چې مخکې مویادونه وکړه،د جنایتکارانو د محاکمې دنده کېدی شي،ملي او یا نړیوالې محکمې ته وسپارل شي.**

(ب،ن،س) په افغانستان (۱۹۹۵ز) کال کې دبشر حقوقو په باب د خپل راپور په سریزه کې لیکي: (...په افغانستان کې دبهرنیو ځواکونو له خوا د بشرحقوقو غمیزې ته د سون توکي ورکړل شوي دي. هغوی هغه هېواد ته ډول ډول وسلې ورلېږي، چې د بشرحقوقو څخه سرغړونه په کې دود وه. هغو هېوادونو چې دا وسله یې رالېږله یوه ورځ هم سرخپل ګرېوان ته کښته نه کړ،چې د وژنې او ړنګونې دا توکي څرنګه کارول کېږي. (ب،ن،س) پر نړیوالې ټولنې غږ کوي، چې په افغانستان کې د بشر حقوقو په باب خپل مسولیت ومني او د جګړې له ټولو خواوو څخه وغواړي، چې نورې سرغړونې ونه کړي.

ربښتیا خبره دا ده، لکه څنګه چې څرګنده ده، دلویو لاسوهونکو هېوادونو وسله په افغانستان کې د غمیزو د رامنځته کېدو سبب ګرځېدلې، نو ځکه خو هغوی باید د جنایتکارانو دمحاکمې مسولیت هم احساس کړي.

(ب،ن،س) په داسې حال کې، چې د افغانستان د غمیزې په بـاب خبرې کوي، خو نړیوالې محکمې ته د جنایتکارانو دراکاږلو په اړه غلې پاتې کېږي.

کـه چېـرې محاکمـه پـه نړیوالـه کچـه مطـرح شـي، د (م،م،م) ټول غړي د ژنیو کانوانسیونونو له مخې دنده لـري، چـې پـر جنایت تورن کسان نړیوالې محکمې ته وسپاري، خو کلـه کلـه بیـا د سیاسي کتنو له مخې دې دندو ته چندان ارزښت نه ورکول کېږي.

که چېرې محکمه (د نورنبرګ محکمې غوندې) په نړیواله کچه، له غوښتنې سره سم په لندمهالې بڼه دایره شي، ان د محکمې د رسـمي دندې تر پایته رسېدو او د جرم ترپېښېدو څخه زیات کلونه وروسته هم، پر جنایت تـورن کسـان دملـي محکمـو لـه خـوا محاکمـه کېـدی شي.تردویمې نړیوالې جګړې وروسته دملي محکمو له خوا د نـړۍ پـه ګوټ ګوټ کې دنازي مشرانو محاکمه روانه ده.

په دوو وروستیو کلونو کې د دویمـې نړیـوالې جګـړې څـو تنـه جنایتکاران، چې د لاتینې امریکا هېوادونوته تښتېدلي وو، اسـرائیلو، فرانسې او ایټالیا ته د محاکمې لپاره واستول شول.

((د (۱۹۹۶ز)کال د می پر (۸)مه نېټه د((هیریش پرپیکه)) په نوم یو الماني نازي،چې ( ۸۲کلن و، په ارجنټاین کې ونیول شو او محکمې تـه وسپارل شو.

تورن په ایټالیا کې د اس،اس، د قومندان په توګه، پـوره ۵۲کالـه وړاندې د ۱۹۴۴زکال دمارچ پر ۲۴مـه نېټـه دهغـه هېـواد دمقاومـت

ځواکونو له خوا د ۳۳تنو نازي سرتېرو د وژنې په تور، روم ښار ته نږدې ۳۳۵تنه بېګناه ملکي ایتالویان وژلي وو.))[1]

افغانستان تر هغه وخته پورې، چې په نړیوال ډګر کې دیوه پراخ باوره ملي حکومت خاوند شوی نه وي، د نړیوالې ټولنې په مرسته د جګړې جنایتکارانو دمحاکمې لپاره د یوې نړیوالې محکمې د جوړولو غوښتنه نه شي کولای. ددې ډول محکمې دجوړولو پرېکړه باید د(م،م،م) دامنیت شورا له خوا وشي. دا پرېکړه هغه وخت کېدی شي،چې افغان حکومت په (م،م،م) کې ښه پاخه دوستان ولري، که چېرې افغانستان د جنایتکارانو د محاکمې خبره پر داسې یومهال راپورته کړي، چې دسزا نړیواله محکمه [2] جوړه شوې وي، هغه وخت نو کولای شي، پرته له دې چې په دې برخه کې نړیوال سیاست له ناوړه هیلو څخه اندېښنه ولري، د دعوې د څېړنې لپاره له دې نړیوالې سرچینې څخه مرسته غواړي، ددې کار لپاره شرایط دا دي، چې افغانستان د سیاسي ثبات او د نړیوال باور ترلاسه کولو سره سم، د روم تړون چې پر ۱۹۹۸زکال تدوین شوی و، لاسلیک کړي.

په هرډول! کله چې د جزا نړیوالو محکمو طرحې عملي شوې نه وي او افغانستان د جګړې پر جنایتونو تورنو کسانو مسله نړیوال ډګر ته راوکاږي، نو په دې برخه کې باید(کارپیل کې) ډېر پام وشي، ځکه چې په نړیواله کچه دیوې ځانګړې محکمې دجوړولو هدف یوازې د جګړې د افغاني لوري تورن کسان دي، نه دجګړې د شوروي خوا مجرمین. کله

---

[1] – عقاب اریانا مجله، ۱۹۹۲زکال، ۵، ۲ ګڼۀ.

[2] – د جزانړیوال دېوان،لومړۍ برخې،دویم څپرکی، ۱۸مخ ته دې مراجعه وشي، د جزا نړیوال دېوان به پر ۲۰۰۱او یا ۲۰۰۲زکال جوړ شي.

چې په نړیواله کچه د افغانستان جګړې د جنایتکارانو مسله مطرح کېږي، په نامستقیم ډول د پخواني شوروي یو شمېر واکمن هم دپېښې برخوال ګڼل کېږي.

د افغانستان دجګړې ډېر طراحان اوس هم د فدرالي روسیې په اداري نظام (حکومت، پارلمان او استخباراتو) کې پوره اغېز لري. دا کسان اوس هم د افغاني کمونیستانو ملاتړي ګڼل کېږي او په افغانستان کې د کمونیستانو د جنایتونو د څېړنې لپاره د یوې نړیوالې محکمې له جوړېدو سره مخالف دي.

څکه نو ددې زیات اټکل شته، چې روسیه به په امنیت شورا کې له خپل (ویټوحق) څخه ګټه پورته کړي او افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو د محکمې د جوړېدو مخالفت به وکړي. امریکا به هم له روسیې سره د دوستانه اړیکو د لرلو له کبله د محکمې جوړېدل و، نه مني، څکه نو تر هغه پورې چې نړیوال سیاست مناسب لوری غوره کوي، په نړیوال ډګر کې باید تر هرڅه لومړی د افغاني جنګي جنایتکاراتو موضوع مطرح شي اود شوروي جنایتکارانو د محاکمې لپاره یو مناسب وخت ته منتظر شو.

پورتنۍ ستونزې اوداسې نور پرابلمونه موږ دېته اړ باسي،چې په ملي کچه دا مسله مطرح کړو. ((په نړیواله ټولنه کې عمومي لېوالتیا دا ده، چې د نړیوالو مجرمینو څېړنه دولتونوته راجع کېږي نه نړیوالې ټولنې ته.))[1]

[1] – ژان کامبه کو، نړیوال عمومي حقوق، پاریس، ۱۹۹۳ز کال، ۳۱۵مخ.

لویدیز هېوادونه په یوازې توګه پــه افغانســتان کــې دجګــړې د جنایتکارانو له قضایي څېړنو سره لېوالتیا لري. د (بي، بي، سي) راډیــو دې خبر ته پاملرنه وکړئ:

((داسلامي حزب قومندان زردادخان دکابل- جلال اباد پر لــویې لارې باندې دطالبانو ترواکمنۍ وروسته، له افغانستان نــه وتښــتېد او انګلستان ته یې پناه یوړه، د انګلستان یوې محکمې هڅه کوله لــه ده څخه د کابل-جلال اباد لویه لاره کې د کړو جنګي جنایتونو لــه کبلــه پوښتنه او ګروپېږنه وشي.))[1]

په افغانستان کې باید دجګړې د جنایتکارانو محاکمه د یــو ملــي حکومت لومړنۍ دنده وي. ځکه چې د وخت تېرېدل دجنایتکارانو پــه ګټه دي؛ د وخت په تېرېدو سره ډېر اسناد او شواهد له منځه ځي او له مجرمینو څخه د پوښتنې هغه ګرمې ولولې همداسې نه پاتې کېږي. په ملي کچه پر جنایت تورنو کسانو د محاکمې لپاره دوه الترنیتېفونه شته:

- ✓ د هغې لومړنۍ لویې جرګې د پرېکړې پربنســټ د یــوې ځــانګړې محکمې جوړول، لکه دهېواد د اساسي قانون دتدوین لپــاره، چــې جوړېږي اوبحث پرې کېږي.
- ✓ ددې محکمې غړي کېدی شي، دلویو جرګو له غړو څخه غوره شي.

ددې کار ښه والی دادی، چې محکمه د خپلو دندو په سرته رسولو کې، د هغه ملت اراده څرګندوي، چې په دوو لسیزو کې د کورنیو او بهرنیو دښمنانو له دښمنۍ سره مخامخ و.

[1] –بي، بي، سي، راډیو، پښتو پروګرام، ماښامنۍ خپرونه، ۲۰۰۰زکال د اګست۳مه نېټه.

یوې محکمې ته دتورنوکسانو په سپارنه کې(چې وروسته به ورته اشاره وکړو) اوسنۍ ستونزې د روسیې په چلند پورې تړلي دي، ځکـه چــې روسیه د زیاتو تورنوکسانو سیاسي ملاتړې ګڼل کېږي، دا کار به افغــان چارواکي اړ کړي،چې یو زیات شمېر تورن کسان په غیابي ډول محاکمه کړي.

نړیوال کانوانسیونونه د محکمې دحکم تطبیق، (ملي وي که نړیوال) د هېوادونو دنده ګڼي. د لندن د (۱۹۴۵ز)کال د اګست (۸) مې نېټې تړون د جګړې جنایتکارانو ته سزا ورکول د کورنیو حقوقو سیستم ته راجــع کوي. په دې حالت کې نو دولتونه پر دوو کټه-ګوریو وېشل کېږي:

- ✓ کله چې د یو دولت اتباع د جګړې قربانیان وګڼل شي.
- ✓ کله چې د یو دولت اتباع پر جنګي جنایتونو تورن وي.

## دویم: د جنایتکارانو سپارنه:

ددې بحث تر پیل دمخه به ښه دا وي،چې لوستونکي پر جنایت تــورن شخص سپارنې او دجنایتکار سپارنې ترمنځ توپیر وپیژني.

د تورن سپارنه د محکمې پر وړاندې د هغه د حاضــرېدو لپــاره مطــرح کېږي،خو د جنایتکار سپارنه د محکمې حکم تر صادرېدو وروســته، د بحث موضوع ګرځي.

په افغانستان کې پر جنایتونو تورنو کسانو زیات شمېر په روســیې او د منځنۍ اسیا په نورو هېوادونوکې، چې هغه هم په روسیې پورې تړلــي دي، میشته دي، دا کار د مجرمانو سپارلو لپاره د روسیې د همکــارۍ اړتیا څرګندوي، څرنګه چې په افغانستان کې پــر شــوروي حکــومتي

مشرانو باندې د جنایتونو تور دی، نو ځکه خو دا ډول همکاري شونې نه برېښي.

په اروپا کې المان دډېرو تورنــو کســانو کوربــه دی، هالنــډ، ډنمــارک، انګلستان،فرانسې او نوروهېوادونو لږ شمېر هغــه افغــاني کمونیســت سیاسي مهاجرین منلي، چې پرجنایت تورن دي. د مجاهــدینو د ډلــو اکثره جنګي مجرمین په پاکستان، ایران او ځینې هم په افغانستان کې استوګن دي.

د خپرونو در اپورونو له مخې، افغاني تنظیمونه په پاکستان کې د اعدام شویو کسانو لپاره ځانګړې هدیرې لري، څرنګه چې یو شمېر جنایتونه د پاکستان په خاوره کې ترسره شوي دي، یوې اړوندې ملي او یا نړیوالې سرچینې ته دمجرمینو، اسنادو او نورو شواهدو د سپارلو لپــاره، ددې هېواد همکارۍ ته هم اړتیا ده.

کله چې په نړیواله کچه دنړیوالې محکمې د جوړولو پرېکړه وشوه، نو بیا دې محکمې ته دمجرمینو د راکاږلو په برخه کې زیاتې ستونزې نه شته، خو ددې معکوس یوې ملي محکمې ته د تورنو د راکاږلو موضوع دومره اسانه نه ښکاري.

په دې حال کې نو د تورنو کسانو د سپارلو موضوع له دوستو هېوادونو سره، د افغانستان حکومت د خبــرو اتــرو لــه لارې مطــرح کېــږي، د افغانستان حکومت باید په ډېرو برخوکې  د تورنو کسانو د نیولو لپاره له معامله کوونکو هېوادونو سره، د مجرمینو دسپارلو تړون لاسلیک کړی وي.

هغو تورنو کسانو او محکومینو سره،چې له هېــواده تښــتېدلي دي، د چلند په برخه کې باید معامله کوونکي هېواد کې د هغوی حقوقي دریځ ته پاملرنه وشي. درې حالته کېدی شي رامنځته شي:

الف: لومړی داچې تر نظر لاندې شخص د سیاسي پناه حقوقي اســناد ولري، په بله وینا خپل افغاني تابعیت یې له لاسه نه وي ورکړی.

ب: بل دا چې د تورن یا محکوم له خوا د بهرني تابعیــت منــل دهغــه افغاني تابعیت د سلبېدو سبب نه شي. یانې د معامله کوونکي دولت د تابعیت قانون، افغاني او بهرنی دوه ګوني تابعیت مني.

ج: او یا دا چې د بهرني تابعیت ورکړه، د افغاني تابعیت د له منځه تللو سبب شي، یانې د تابعیت قانون، دوه ګونی تابعیت ونه مني.

له نیکه مرغه، لکه څنګه چې څرګنده ده، تر اوسه پورې ډېرو کمو هغو افغانانو بهرنی تابعیت ترلاسه کړی، چې پر جنایت تــورن دي. دهغــوی اکثره یې یوازې د سیاسي پناه حقوقي اسناد لري.

په لومړي او دویم حالت کې د افغانستان حکومت له نــورو هېوادونــو څخه خپل هغه اتباع غواړي،چې تر قضایي څارنې لاندې دي.

دا موخه هغه وخت تر لاسه کېږي،چې افغانستان په نړیوال ډګر کې یو ځواکمن او معتبر حکومت ولري.

له نورو هېوادونو سره د افغانستان نیک اړیکي، ددې سبب ګرځي، چې د تورنو افغانانو د سپارنې په برخه کې د دولتونو تر منځ کــوم اساســي شرط ونه ګنل شي. هغه مهال نو بیا د مجرمینو سپارنه د دوو هېوادونو تر منځ د ښه باور له کبله، له سیاسي پلوه مطرح کېږي، نه له حقــوقي پلوه.

په درېيم حالت کې د افغانستان دولت له يو بهرني هېواد څخه ديو داسې بهرني تبعه(چې مخکې يې افغاني تابعيت درلود) د سپارلو غوښتنه کوي، پوره باور دی، چې په دې برخه کې به له زياتو ستونزو سره مخامخ شي، ځکه چې د جنايت نړيوال اړخونه پېژندل شوي نه دي، نو په داسې حالت کې هېوادونه، دمجرمينو د سپارنې په برخه کې د نړيوالو کانوانسيونونو له ټينګار سره سره، دخپلو اتباعو ملاتړ لازم ګڼي.

که چېرې د تورنو کسانو محاکمه په نړيواله کچه وپېژندل شي، د مجرمينو دسپارلو د کانوانسيونونو غړي هېوادونه او ان له کانوانسيون څخه بهر هېوادونه ( دژنيو ۱۹۰۷او ۱۹۴۹ز کال) کانوانسيونونود لومړي نمبر پروتوکول د (۸۸) مې مادې له مخې) مکلف دي، چې تورن محکمې ته حواله کړي.

دژنيو کانوانسيونونه دا دولتونو دنده ګڼي، چې د تورنو کسانو د نيونې اوملي نړيوالې محکمې ته د هغو د سپارنې په برخه کې لاس وکړي. دا يوازې د هغو هېوادونو دنده ده، چې کانوانسيون يې لاسليک کړی دی، بلکې د جرم او جنايت د پېښېدو ځای ته له پاملرنې پرته د نورو هېوادونو دنده نه ده، چې کانوانسيون يې لاسليک کړی دی، بلکې دجرم او جنايت دپېښېدو ځای ته له پاملرنې پرته د نوور هېوادونو دنده هم ده.

که چېرې د کانوانسيون يو غړی هېواد يو تورن يا محکوم شخص ملي او يا نړيوالې محکمې ته ور نه کړي، له کومو عواقبو او يا که په څرګند ډول ووايو له کومې سزا سره به مخامخېږي؟ نړيوالو تړونونو کې ددې خبرې څه څرګندونه نه ده شوې.

ځکه نو په پوره ډول پوهېدی شو، چې دتورنو او محکومینو د سپارلو په باب زیاتره د دولتونو اخلاقي دنده مطرح ده، دا اخلاقي دنــده کېــدی شي، دکانوانسیون دغړو هېوادونو وي او یا تر هغه څخــه بهــر د نــورو هېوادونو.

خو دې سره سره بیا هم دولتونه د جګړې د تورنو کسانو او محکومینو د سپارنې په برخه کې د خپلو سیاسي غوښتنو له مخې چلند کوي.

د روندا د عامه وژنې زیاتره مسولین پــر (۱۹۹۴ز)کــال (دتورنوکســانو دمحکمې د جوړېدو کال) بهر ته وتښتېدل. په افریقایي هېوادونو کې د امنیت شورا اغېز (سیاسي لامل) ددې ســبب شــو، چــې د افریقــایي هېوادونو په مرسته د جګړې پر جنایتونو زیاتره تورن کســان، د رونــدا لپاره نړیوالې محکمې ته وسپارل شي.

# پایله

د افغانستان د جګړې د جنایتکارانو محاکمه کول، د افغان ملت یو ستره اړتیا ګڼل کېږي، په دې باب دوه پوښتنې مطرح کېږي:
لومړی دا چې د محکمې حکم باید د کومو مجرمینو په باب وي؟ د کمونیستانو؟ د مجاهدو ډلو د غړیو؟ طالبانو؟ او که د ټولو په باب؟
دویم دا چې محکمه باید څه وخت؟ د کومې سرچینې له خوا جوړه شي؟ د لومړۍ پوښتنې په ځواب کې باید وویل شي، چې پر یوه وخت یوې محکمې ته دکمونیستانو، مجاهدینو او طالبانو حاضرول نه عملي دي او هم منصفانه:
عملي خو ځکه نه دي،چې کېدی شي واکمن حکومت د دوو کینو او ښیو ډلو(که څه هم د جګړې جنایتکاران وي) له اغېزناکو سیاسي شخصیتونو (کادرونو) سره د نښتو له امله، له کورنیو او بهرنیو لمسونو سره مخامخ شي او خپل سیاسي ثبات چې د ملي هیلې( دجګړې د جنایتکارانو دمحاکمې اهمیت) د ترلاسه کولو لپاره، یو مهم توکی دی، له لاسه ورکړي.
دا خبره هم له انصافه لرې ده، چې کمونیستان او مجاهدین دې په یوه کاني وتلل شي. سره له دې چې موږ ډېر ځله دواړه یو شان ګڼو، خو په حقیقت کې داسې نه دي:

د جګړې د پیل او د جنایتونو د سرته رسولو مسولیت دکمونیستانو پر غاړه دی. همدی وو،چې (انقلاب پر شا نه ځي) شعارونه یې ورکول او په ډېرې بې پروایۍ سره یې د یو بهرني یرغلګر هېواد په ټینګار او ملاتړ د خپلو هېوادوالو پروړاندې سخت جنایتونه ترسره کړل.
ځکه نو د هغوی ناروا او ملت ضد هڅې باید د ټولو وروستنیو ویجاړیو او انحرافاتو اساسي علت وګڼل شي. لومړی باید لــه کمونیســتانو ســره حساب کتاب وشي. کله چې زندانونه او دسزا نور ځایونه دې ډول خلکو ته خپله سزا ورکړي او ملت خپلو اصلي دښمنانو ته د سزا له کبله ارامه ساه وباسي، نو نړیوال شرایط به برابر شي، دنورو نوبت به هم ورسېږي.
د دویمې پوښتنې ( دمحکمې د جوړولو سرچینه او وخت) په ځواب کې باید په ډاګه کړو، ترهغه پورې، چې په هېواد کې یــو ملــي او مرکــزي حکومت جوړ شوی نه وي او ملي ثبات په کې ټینګ شوی نه وي، ددې مسلې راټینګول اسانه خبره نه ده. دا چې د نورنبرګ محکمه په خپله دنده کې بریالۍ شوه، علت یې دا و چې د متحدینو له خوا په نیول شوې اروپا کې سیاسي ثبات ټینګ شوی و. که چېرې د طالبــانو حکومــت د افغانستان د خاورې پاتې برخه ونیسي، د جګړې جناتیکارانو محاکمې لپاره یوه ښه سرچینه ګڼل کېږي، دا سرچینه جنایتکارانو ته د سزا لپاره د نورو سیاسي الټرنیټیفونو لکه (شمال اتحاد او د پخواني شاه جبهه) په انډول، ښه سیاسي او رواني دریځ لري [ځکــه چــې د شــمال اتحــاد کمونیستانو ته ((دعمومي بښنې)) اعلان پر جرم محکوم دی اود شــاه جبهې کې یو شمېر کمونیست پلوي لېبرالان راټول شوي، چې په جبهه کې سیاسي سازښتونوته تیار دي او د پورتنۍ دعوې د طرحې لپاره لازم ملاتړ نه لري].

دا خبره څو دلیلونه لري. له هغې جملې نه:
طالبان د سیاسي اسلام د (جنګیالیتوب) او (انقلابیتوب) اړخونه لري، چې دملت او شریعت د غوښتنو پر وړاندې هېڅ ډول سیاسي معامله نه کوي.
طالبانو د خپلې واکمنۍ په بهیر کې له کمونیستانو سره ډېر تینګ، اصولي اوسخت چلند کړی او په دې برخه کې یې ښه ازموینه ورکړې ده.
دطالبانو په منځ کې ډېر لږ کسان هغه هم په لیکو کې پر جنګي جنایتونوتورن دي، ځکه نو په لومړي ګام کې باید کمونیستان په یوه ملي محکمه کې محاکمه شي. په نړیواله کچه د جنایتکارانو د محاکمې راپورته کول لویې ستونزې لري، ددې حل لاره دا ده، چې د افغانستان حکومت نړیواله پېژندنه ترلاسه کړي، د روم د (۱۹۹۸ز)کال د تړون، چې دجزا د نړیوال دایمي دېوان د جوړېدو لپاره تدوین شوی، لاسلیک کړي.
د روم تړون خپل غړي هېواد ته چې په خاوره کې یې جنایت ترسره شوی وي او یا تورن کس دهغه تبعه وي، د دېوان غونډې ته دغوښتنلیک واک ورکوي.
هېوادپالو، ژمنو اومبارزو شخصیتونو! په هرځای کې چې اوسئ. د جنایتکارانو د محاکمې تر وخته باید:
هر کال پر افغانستان باندې دشوروي یرغل پر ورځ د روسیې سیاسي استازولیو او په بهر کې د افغاني کمونیستانو د مرکزونو پر وړاندې سترې مظاهرې اصلي شعارونه وي.
له کمونیستانو سره خپل ټولنیز اړیکي غوڅ کړئ او هغوی له بشپړ سیاسي او ټولنیز بېلتانه سره مخ کړئ.

ددغه ملي ارمان ( دجګړې جنايتکارانو محاکمه) دهېرېدو د مخنيــوي لپاره هر اړخيزه تبليغاتي مبارزه پيل کړئ.
له هرې هغې حکومتي او ناحکومتي موسسې سره چې د جنايتکــارانو دمحاکمې لپاره هڅه کوي، مرسته او همکاري وکړئ.

پای

دوکتور م، ع، تره کی
ليون٠ فرانسه
۲۰۰۰م کال- جولای

# اخځونه

## په فرانسوي ژبه:

1. ATTAR FRANK, LEFROIT INT. ENTRE ORDRE ET GHAOS. PARIS 1994

2. DUPAIGNE BERNSRD.LE UIADE DE L'AFGHANISTAN.LVON 1989

3. CARREAU DOMENQUE. PUBLIC. PARIS 1993

4. COMBAC AU JEAN DROIT. PUBLIC. PARIS 1992

5. DUPUY PIERRE MARIE. DROIT. PUBLIC. PARIS 1993.

6.MATHIEU JEAN LUC.LA DEFENSE INT. DES DROUTS DEL, HOMME. PARIS 1993.

7.RUZIE DAVID. DROIT. PUBLIC. PARIS 1994.

8. TORRELLI MAURICE LE DROIT DE L'ITREVNTION.PARIS 1994.

9.ZORGBIBE CHARLES. DROIT DEL'ITERVENTION. PARIS 1985.

10. LE MONDE CHRLES. DROIT DE L'ITERVENTION. PARIS 1985.

11. AFGHANISTAN.LA TORTURE DES PRISONNIERS POLITIQUES. LONDON.1986.

**پښتو اودري:**

**۱- زرملوال، غلام محی الدین، پر افغانستان باندې د روسانو وسلوال یرغل.**

**۲- نیازی، امیدوار: د ۱۳۵۷ل کال دثور د اوومې نېټې کودتا عوامل او پایلې، پېښور، ۱۳۶۸ل کال.**

**۳- مایوروف،الکساندر: په افغانستان کې رښتیا څه تېرېدل؟ پېښور ۱۹۹۹زکال.**


**۴- عقاب اریانا مجله: ۱۹۹۶م کال.**

**۵- ازاد افغانستان مجله: پېښور ۱۹۹۹زکال.**

**۶- البدر جریده: هالنډ چاپ، ۲۰۰۰زکال.**

**۷- دبښني نړیوال سازمان راپور، لندن، ۱۹۹۳زکال.**

**۸- د بښنې نړیوال سازمان راپور: افغانستان، دبشري حقوقو غمیزې په باب نړیوال مسولیت، لندن، ۱۹۹۵زکال.**


Yoon Cultural Foundation
یون کولتوري یون
د افغانستان
فرهنګي میراثونو ته
یوه کتنه
لیکواله
نینسي دوپرې
ژباړن
محمد اسمعیل یون
۱۳۸۷ل

# د افغانستان فرهنگي میراثونو ته یوه کتنه

## لیکواله

## نینسي دوپرې

## ژباړن

## محمد اسمعیل یون

# بسم الله الرحمن الرحیم


## کتاب پېژندنه:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د افغانستان فرهنگي میراثونو ته یوه کتنه |
| لیکواله: | نینسي دوپرې |
| ژباړن: | پوهنیارمحمد اسمعیل یون |
| خپرندوی: | یون کلتوري یون |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| لومړی چاپ: | ۱۳۷۷ل کال (دوه ځله) |
| دویم چاپ: | ۱۳۷۸ل کال |
| درېیم چاپ: | ۱۳۸۷ل کال |
| د ژباړن پرله پسې نومره: | (۱۵) |
| د خپرندوی پرله پسې نومره: | (۱۵) |
| کمپوزر: | ضیاالرحمن ضیا |

# ددې اثر پر اوسني (درېیم) چاپ

# څو خبرې

مېرمن نینسي دوپرې د هغو ختیځپوهانو له جملې څخــه ده چې له څو لسیزو راهیسې د افغانستان د کلتور په بېلابېلو برخو کې کار کوي او زموږ د هېواد ددې برخې د خوندیتوب، بډاینې او ځلونې لپاره یې نه ستړي کېدونکي خدمتونه ترسره کړي او لا هم په زهیر ښځینه ځان لګیا ده، دې هلو ځلو ته دوام ورکوي. ددې خاوند هم چې اوس پر حقیقي نــړۍ دی، د افغانســتان د کلتور او تاریخ په سپړنه او ځلونه کې یې زیات زیار ایستلی دی.

مېرمن نینسي دوپرې د تنظیمواکۍ او طالبانو د واکمنۍ پــر مهال چې د افغانستان فرهنګي میراثونه، له ســخت خطــر او ګواښ سره مخ وو، د افغانستان د تاریخي ابــداتو او فرهنګــي میراثونو د خوندیتوب پر لارو چارو مصروفه وه، دې د یو شمېر نورو تولنو، نادولتي سازمانونو او اشخاصو په مرسته د افغانستان د تاریخي اثارو د ساتنې لپاره د سپک (SPACH) په نوم یو انجمن جوړ کړ او له دې لارې یې د افغانستان تاریخي اثارو د ورکېدو د مخنیوي لپاره یو مهم ګام پورته کړ.

دا اثر (( د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنــه)) چــې ستاسو مخې ته پروت دی، ددې د همغو هڅو د لړۍ یوه کړۍ ده، چې دې د تنظیمواکۍ د جنګونو او د طالبانو د واکمنۍ پر مهال یې په کې د افغانستان فرهنګي میراثونو ته کتنه کړې ده. په دې اثر کې د هېواد تاریخي، فرهنګي میراثونو او شتمنیو ته ورپېښې خطرونه او ګواښونه په نښه شوي او ددې خطرونو د مخنیــوي لارې چارې هم په ګوته شوې دي. د (۱۳۷۷ل) کــال وروســتۍ میاشتې وې، چې زما یو اشنا د نینسي دوپــرې ددې اثــر دري ژباړه، چې د یوه افغان له خوا ترسره شوې وه، ماته راوسپارله او همدا یې راته وویل چې: ډېره ژر مې په کار ده په همدې دوه درې ورځو کې به یې راته په پښتو وژباړې! ما ورته وویل چې تر ما خو ستا دري ژبه ښه زده نو ولې یې خپله ژر ژر نه ژباړې؟ زه خپله والله تر حده زیات مصروف یم، ما چې هر څومره اوږه تشوله، خو د هغه ټینګار تر ما هم زیات و، په پای کې یې ددې اثــر ژبــاړه راباندې تحمیل کړه، ما ترې یوه اوونۍ وخت وغوښت، خو هغه پر دوه درې ورځو ټینګار کاوه، کله چې ما دري متن ترې واخیست نو متن ډېر پېچلی و او چندان خوند یې راته رانه کړ، فکر مــې وکړ چې زما اشنا هم پرې خپل زور ازمویلی، نو ځکه یې ماتــه راحواله کړ، ددې اثر تر ژباړې دمخه زما اشنا ماته وویل، چې زه به درته ترې مناسبه حق الزحمه واخلم، ما ورسره د حق الزحمې هېڅ بحث ونه کړ. خو په نه زړه مې پر ژباړې پیل وکړ، کتاب مې

په څو ورځو کې وژباړه، داسې چې بیا سمون ته مې هم وخت پیدا نه کړ، یو نقل مې خپل اشنا ته ورکړ او بل نقل (فوټوکاپي) یې ماسره پاتې شو، کله چې ما دري متن لوسته نو هلته هم راته پته ولګېده چې د ژباړن او د کتاب د اصلي لیکوال ترمنځ روحي رابطه نه شته؛ کتاب یوازې د حق الزحمې په خاطر په داسې ډول ژباړل شوی چې اتومات یې په سلو کې دېرش محتوا او خوږلني زیانمنه شوې ده، ما هغه وخت ونه کړای شو، چې یوه ښه خوندوره ژباړه وکړم، خو څرنګه چې دا موضوع زما لپاره ډېره جالبه وه او تر دې دمخه لا ما خپله پرې یو مستقل اثر لیکلی و، نو ځکه د وخت د قید له مخې ژر ژر وژباړه، زما ژباړه پر (۱۳۷۷ل) کال په ازاد افغانستان جریده، چې له پېښوره خپرېدله او په اسمایي مجله کې، چې له جرمني نه خپرېدله دواړو کې خپره شوه، خو زما همدا ژباړه چې یوه کاپي زما همغه اشنا راڅخه وړې وه، پر (۱۳۷۸ل) کال په خپل نامه د یوه واړه اثر په توګه چاپ کړه، کومه حق الزحمه یې چې راته ویلې وه، وروسته خبر شوم چې هغه یې هم د الله په توره سمه نیمایي کړې وه، زه هغه وخت په پېښور کې پر دې نه وم خبر چې کله کله داسې کارونه هم کېږي؛ چې هم څوک د بل چا ژباړه په خپل نامه چاپولای شي او هم حق الزحمه ورسره نیمولای شي، خیر په هر ترتیب ما ورپسې ډېر سر ونه ګروه او زړه کې مې دا هیله

وه چې خدای یو وخت زمینه برابره کړي چې دا ژباړه یا بیا لــه سره وکړم او یا یې څه ناڅه کره کړم.

اوس چې زه د خپلو تېرو اثارو پر راټولولو مصروف یم، نو په ازاد افغانستان جریده کې مې دا چاپ شوې ژباړه، گوتو ته راغلــه، هسې خو په ژباړه کې له پیله هم تېروتنې وې یو څه پرې نورې چاپي تېروتنې هم زیاتې شوې وې، دا وخت نو ماسره ددې ژباړې دري متن هم نه و، چې زه یې یو ځل بیا ورسره پرتله کړم، نــو همدا متن مې د اثر د محتوا په پام کې نیولو سره غنیمت وگاڼه، له سره مې کمپوز او د تورو لوستنې پر وخت مې یو څه سمون په کې راوست، خو دې سره سره بیا هم هغسې ژباړه نه ده، چــې اوس یې زما زړه غواړي، طبیعي خبره ده له یوې ژبې څخه بلې او بیا له بلې څخه بلې ته د لیک لفظي ښکلا کمــزورې کېــږي او محتوا ته هم تر یوه حده زیان رسي، خو خیر په هر ډول فکر کوم دا اوسنۍ ژباړه دې تر دې د تېرو دریو چاپونو په انډول یو څه ښه وي، خو نه پوره ښه، د کتاب په انگرېزي او دري متنونــو کــې عکسونه نه وو، خو ددې چاپ پر وخت مې لازمه وگڼله، د ځینو هغو مهمو تاریخي ځایونو عسکونه چې په کتاب کې یې یادونه شوې، هم پیدا او له متن سره یوځای چاپ کــړم. عکســونه د کتاب د متن د وینا مصداق گرځي او دا هم په ډاگه کوي چې موږ څومره ښکلي تاریخي او فرهنگي میراثونه مــو درلــودل او دا میراثونه څومره زیانمن شوي او تر څومره نور خطر لاندې دي.

کله چې دا اثر سرۍ گوري نو مېرمن نینسي دوپرې ته د زړه له کومي دعا کوي چې دا څومره زموږ پر تاریخي اثارو زهیره ده او موږ څومره د خپلو اثارو پر وړاندې بې تفاوته یو. د ویښو او ویدو ملتونو، خلکو او اشخاصو توپیر همدلته معلومېږي، چې یو د زړو پر قدر پوهېږي او له بل څخه لعلونه په ایرو کې ورک وي. مېرمن دوپرې د افغانستان تاریخي او فرهنگي شـتمني نـه یـوازې د افغانستان د تاریخ ځلونې لپاره مهمې گڼي، بلکې دا د نړیـوال کلتور او معنوي شتمنۍ یوه برخه هم گڼي، چې نه یوازې افغانان یې پر ساتنه مکلف دي، بلکې نړیوال هم مکلفیـت لـري چــې افغانانو ته ددې اثارو د ساتنې او خوندیتوب لپاره لاس ورکړي. زه نور ددې کتاب او لوستونکو ترمنځ حایل کېږم نـه؛ مېـرمن دوپرې ته د خدای(ج) له درباره روغ صحت، د افغانستان او نړۍ د تاریخي میراثونو د ساتنې لپاره لازیات بریالیتوبونه غواړم.

د همدې فرهنگي لارې یو بل لاروی

پوهندوی محمد اسمعیل یون

په درناوي

کابل– افغانستان

۱۳۸۷ل کال د سلواغې ۶مه

# د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه

## د لیکنې لنډیز:

له ابداتو نیولې تر حماسي شعرونو پورې، د افغانستان ټول فرهنګي میراثونه د یو ځانګړي طبیعت، ویاړ او پرتم څرګندوی دي. اوس دا میراثونه له خپلې سیمې او چاپېریال سره یوځای، له خطر سره مخامخ شوي دي. په دې لیکنه کې د سیمې د فرهنګي پرمختیا د پیل، د اوسنیو ستونزو او د هغو د څېړنو په باب بحث کېږي او د هغو لارو چارو وړاندیز کېږي، چې کولای شي په دې برخه کې یوه ګټوره هڅه رامنځته کړي.

## سریزه:

د افغانستان د فرهنګي میراثونو ریښې تر ننه سل زره کاله دمخه، هغه وخت ته رسېږي، چې نرو او ښځو هغه لومړني ډبرین وسایل رامنځته کړل چې تر اوسه کشف شوي دي. دا وسایل د (پالیولیتیک) په دویم پړاو پورې اړه لري. دا وسایل د غزني په ناور دښته کې چې یو وخت د هغه عصر د خلکو استوګنځی و، په تیت و

پرک ډول شته. د ناور دښته د افغانستان په مرکزي برخه کې یوه پراخه سیمه ده، چې جهیلونه او کرنیزې ځمکې لـري او د زیـات شمېر هیلیو د استوګنې او تغذیې لپاره زمینه برابروي. ډېر ښکلي ډبرین وسایل، له شمالي ولایت بلخ نه، د بلخ د سیند پر غـاړه، د اوسني آق کپرک کلي ته نږدې، له ډبرینو غارونو او پنـاه ځـایونو څخه ترلاسه شوي دي. د پالیولیتیک د لومړي پړاو مربـوط د آق کپرک د چقماقي وسایلو جوړوونکي، چې تر میلاد پنځه لـس زره کاله دمخه یې کار کاوه، د پالیولیتیک د دورې (میکل انژلونو) پـه نامه یادېږي.

تر تاریخ دمخه انسان، هغه سیمې چې اوبه په کې پیدا کېدلې او د وحشي حیواناتو د ژوند لپاره هم مناسبې وې، د خپل ژوند لپاره وټاکلې، دا ځکه چې دوی ښکار کاوه او د دې بشري ټولنو پایښت او د هغوی راتلونکی ژوند د همدې حیواناتو په ښکار پورې تړلی و.

تر نن شاوخوا اوه زره کاله دمخه، هغوی پر دې پوه شول، چې د نباتاتو او حیواناتو، په ځانګړي ډول د وزو او پسونو د اهلي کولو په واسطه غذا ترلاسه کولای شي. د کرنـې او مالـدارۍ د اغېـزمن پرمختګ له امله یې ځانته همېشني استوګنځي جوړ کړل، لومړی یې کلي او ورپسې یې ښارونه ودان کړل.

تر میلاد شاوخوا (۲۵۰۰) کلونه دمخه، کلي د ښـارونو لپـاره د غذایي موادو د برابرولو جوګه شول او صنعتکارانو د نویو موادو د پرمختګ په لاره کې، چې غازات او ځینې لوښي له هغې جملـې

څخه وو، دخپل استعداد د کارولو لپاره زیات وخت ترلاسه کړ، له هغو څخه یې د مذهبي مجسمو، وسلو، د کورنۍ د اړتیا وړ لوښو او د ځان ښکلا لپاره، د ښکلاییزو الاتو په ګډون، بېلابېلې صنایع جوړې کړې. په هنري استعدادونو کې دا پرمختګ د وخت په تېرېدو، له نورو تمدنونو سره د سوداګرۍ د راکړې ورکړې سبب شو، سوداګریزه راکړه ورکړه پر دې وخت، د مصر د نیل دریاب پر څنډو، د عراق جنوب د دجلې او فرات او په هند کې د سند په ناوه کې راڅرګنده شوې وه. د بدخشان لاجوردو- د سوداګرۍ بازار ته لا ځلا ورکړې وه او وروسته د میلادي پېړیو په لومړیو کې دا سوداګري د ورېښمو د مشهورې لارې په اوږدو کې، د ختیځ پر لوري چین، د لویدیځ پر لوري روم او پورته د جنوب پر لوري تر هنده پورې زیاته او پراخه شوه.

افغانستان د سیمې د پیوستون لپاره د یوې کړۍ اهمیت لري، نه یوازې سوداګر، بلکې هغه فاتحان چې د خپلو امپراتوریو د پراختیا غوښتونکي وو، روښنفکران، مذهبي مبلغان، زایرین، صنعتکاران او سیاسي فراریان، ټول دلته په یو بل کې حل شول. پرته له دې چې هغوی د واک او پیسو د لاسته راوړلو، د مفکورې او نظریې د غوښتنې او یا د پناه ځای د لټون لپاره دلته راغلي وي، هغوی ټولو د افغانستان د فرهنګي میراثونو په وده او پرمختیا کې یو شان ونډه واخیسته. د دې ګټور جوړښت سندونه یا لاسوندونه کولای شو چې په ډول ډول بڼو د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې وګورو.

ځینې یې اوس هم په غونډیو او ځینې یې په کنډوالو کې مینـــدل کېږي، ځینې یې لا تراوسه لیدل شوي نه دي او ځینې یې اوس هم د اوسنۍ ټولنې د ژوند یوه برخه جوړوي. دا نښې ځینې د اسلامي پېر وې او ځینې یې د پخوانیو ادیانو. ددې اثارو ځینې ډېر لــوړ او پرتمین، ځینې یې ناڅیزه، ځینې یې نوي، ځینې لرغوني او ځینې یې د تاریخي ابداتو په بڼه دي. دا اثار ځینې صنایع، ځینې لیکنې، ځینې تصویرونه او ځینــې یــې ګنــډل شــوي اثــار دي، چــې د خامکدوزۍ په بڼه دي. ځینې سرودونه، الات او وســایل، البســه، استوګنځي، ښکلي توکي هم شته او ځینې هم په نــورو ډولونــو، تراوسه پورې له خپلې ګټورې ښکلا څخه برخمن دي.

د دې مادي فرهنګ د بېلابېلو برخو مشترکه وجه د طبیعــت د ښکلا ځلونه او څرګندونه ده. افغاني شــعر، فوکلــوري افســانې، سرودونه، انځورګري، خامکدوزي او د غالیو صنایع، هر یو د طبیعت ډالۍ او د هغه د غرونو، سیندونو، الوتونکو، حیواناتو، ونو او ګلونو ستاینه او یادونه ده. د ماهیو او زیارتونو جوړونکو په ډېر مهارت سره هغه د طبیعت پر ښکلو منظرو انځور کړي او رامنځته کړي دي. د باغونو او سیندونو پر غاړو، له دودیزو مېلو سره د افغانانو مینــه-هغه ټولنیزې او ملي ځانګړتیاوې دي، چې د پېړیو په اوږدو کې د دې خاورې د شاعرانو په شعرونو کې منعکس شوي دي.

اوسنۍ کړکېچنې سیاسي وضعې د افغانانو پــر فرهنګــي دود، ویجاړوونکی او تور سیوری خور کړی دی. البته دا یوه پېښه نه ده

چې په تاریخ کې نه وي پېښه شوې، داسې حالات ددې هېـواد د تاریخ په اوږدو کې پخوا هم پېښ شوي دي. کېدی شي یوه بېلګه یې د غزني د ښار لوټ وګڼو، چې د علاءالدین غوري د یرغل پـه واسطه پر (۱۱۵۱م) کال تر سره شو او بل مثال یې پر (۱۲۲۱م) کال د چنګېز په واسطه عامه وژنه ده، چې د غزني پرتمینې مانۍ او ښونه یې د تل لپاره پر کنډوالو بـدل کـړل. څرګنــده خبــره ده چــې کړکېچونه، د نه جبرانېدونکې فزیکي ویجاړتیا او زیـانونو ســبب کېږي. ددې ډول کړکېچونو په پایله کې خلک په ډله ییز ډول بې ځایه کېږي او د خلکو دودونه او هویت ددې ډول بحرانونو په دوړو او تیارو کې ډوبېږي. د مهاجرتونو په بهیر کې ځینې ډلې دېته پام کوي، چې د خپل هنر د ودې او تخلیق په واســطه ځینــې وتلــې هنري پدیدې، د لاسي صنایعو، ګلدوزۍ او نورو هنري څانګړنو له لارې وساتي او وده ورکړي.

ددې خبرې یادول ضروري دي، چې جګړه د هنري بنســټونو د ړنګونې او کمونې یوازینی عامل نه دی، ښاري ژوند هم دودونه له منځه وړي. په بشري ژوند دود کې بدلون په خپلــه د هنرونــو او لاسي صنایعو د له منځه تللو یو بل عامل ګرځي. د ساري په ډول: د لرګیو د کندنکارۍ انجنیري چې یو وخت د پرله پسې پېړیو په بهیر کې په ټول افغانستان کې دود او رواج وه، د (۱۹) پېړۍ په وروستیو کې ورکه شوه. تر جګړو دمخه یې تقریباً ډېرې کمې بېلګې کېدی شي وموندل شي. تر جګړې دمخه دې هنر ته چندان پاملرنه نه وه

شوې او اوس یوازې د کابل د زاړه ښار په کنډوالو کې په تیت وپرک ډول لیدل کېږي.

که چېرې د دې هنر جوړوونکي د هغه بڼه بدله نه کړي، نو دا ډول تخلیقات او هنري پنځونې به بې له شکه پر پخو ودانیو بدلې شي. مهمه خبره داده چې نوې او زړې پدیدې باید سره پرتله شي او په ټولنه کې د دواړو اندول وساتل شي. نوښتونه او د هغو دوام باید یو له بل سره په موازي ډول حرکت وکړي، چې د ټولنې په هر غــړي کې د ځان پېژندنې احساس وروزي؛ هغه احساس چې د یو ملت د واک او صلاحیت لپاره لازم ګڼل کېږي. نن تېرو تاریخي سمبولونو او بنسټونو ته بې اعتنایي دوام لري. موزیمونه په بشپړه توګه لوټ شوي، لرغونې سیمې په بېرحمۍ سره تالا شوي، هنر او موسیقي منع شوي او مهمې تاریخي مانۍ او ودانۍ ویجاړې او ورانې شوي او یا یې لازمه څارنه او ساتنه نه کېږي.

ان د هغو پنځوسو تاریخي ابداتو اوسني حالت ته، چــې پــه دې لیکنه کې یې یادونه شوې، یوه سرسري کتنه، دا په ډاګه کوي چې له استثناتو پرته د افغانستان تاریخي شتمني، کم ارزښــته ګڼــل کېږي، د کم ارزښتۍ دا فکر تر هغه حالت هم بدتر دی چې دا ودانۍ په کې په فزیکي ډول ویجاړېږي او له منځه ځي.

## څه باید وکړو؟

**کوم کار باید ترسره شي، چې اوسنی حالت ښه شي؟ البته ښه او مناسبه خبره به دا وي چې کوم کار کېدی شي ترسره شي؟**

**لاندینۍ مباحثه زما د ځاني کتنو پر بنسټ ولاړه ده. د زمـان او مکان د غوښتنې له مخې، د مـوزیم، انجنیـرۍ او لرغونپـوهنې مسایلو پورې تړلې ده، لکه څنگه چې مو پورته اشاره وکړه، البته پوره پوهېږو چې دا څرگندې شوې خواوې د افغانستان د پرتمینو فرهنگي میراثونو، برخه جوړوي.**

**د بهرنیو هڅو او همدارنگه د وخت د سپما لپـاره، لـه څلـورو بنسټیزو توکو څخه، چې یو له بل سره تړلي او یو پر بل ډډه لگوي، د یو رښتیني پلان طرح کول لازم دي. دا څلور توکي دادي:**

**لومړی- حساسه اداره: په دې برخه کې د اغېزمنو ادارو او موسسو د سیاستونو تثبیتول او ډاگیزول.**

**دویم- با استعداده مسلکي کسان: روزل شوې، اغېزناکې او با احساسه بشري سرچینې.**

**درېیم- د خلکو مسوولیت: د فرهنگي میراثونو د پېژندنې لپاره د خلکو د پوهې لوړتیا.**

**څلورم- لازم او اغېزناک حقوقي سیسـتم: قـوانین او مقررات او د هغو اغېزمن تطبیق.**

## لاربښوده اداره:

اوسمهال د فرهنګي ملکیتونو د ساتنې په برخــه کــې، د ملــي شتمنیو د پېژندنې لپاره ډېر کم امکانات شته. سره له دې چې له تخنیکي پلوه، پر کابل، هرات، مزارشریف او بامیانو باندې د واکمنو حکومتونو په چوکاټ کې رسمي ادارې او سازمانونه نه شته، چې د دولتي جوړښت استازولي وکړي، دا موسسې چې پر (۱۹۹۷م) کال تاسیس شوي، په هزاره جاتو او بامیانو کې د ابداتو او لرغونو سیمو له ساتنې پرته، نورو هغو موسسو ته ورته دي، چې د (۱۹۷۹م) کال تر شخړو دمخه موجودې وې. هغه اوس لازم واک او پــوره مــالي سرچینې نه لري او اغلباً د سیاستونو د پرله پسې بدلېدونکو هیلو، کړکېچونو او اختلافونو تابع دي، طبعاً دا اختلافونه د هغوی پر کار باندې بد اغېز کوي.

ددې ډول لړزېدونکي او بې ثباته حالت یوه ښکاره بېلګه، د کابل موزیم دی، ددې موزیم په سلو کې اتیا برخې اثار چې پر (۱۹۹۲م) کال په دارالامان کې پاتې وو، غلا شوي دي. په داسې حال کې چې په افغانستان کې د لرغونو اثارو ناقانونه تجارت تل موجود و، خــو کابل موزیم د لازم مصوونیت او امنیت بــه سابقه درلودله. تر جګړو دمخه هېڅکله هم د موزیم اثار د تجارت له خطر سره مخ شوي نه وو، خو اصلي توپان او سېلاب تر(۱۹۹۲م) کال وروسته پیل شو. که څه هم د طالبانو تر راتګ وروسته د اثارو ډېره ناڅیزه برخــه لــه

منځه تللې ده. د رباني حکومت هدایت ورکړ، چې پاتې اثار تسجیل شي او په خپله اثار، د ساتنې لپاره له دارالامان څخه کابل هوټل ته ولېږدول شي.

د طالبانو اوسنۍ اداره د دې کار مخالفه ده او هیله لري، چې دا اثار په دارالامان کې موجودې ودانۍ ته، چې د توغندیو د لګېدو له کبله ورانه شوې، تر بیا رغونې وروسته بېرته هلته یوسي. تر کومه ځایه چې د اوسنۍ ودانۍ اساسي بیا رغونه ډېر لګښت او زیاتـه بودجه غواړي، نو نه د طالبانو اداره او نه هم نړیوالې سرچینې، یوه هم د هغو د ورکړې تیاری لري. د موزیم کارمندانو تـه لاربښـوونه شوې، چې هره ورځ په دارالامان کې د موزیم ودانۍ ته لاړ شـي، پرته له دې چې د لېږدونې وسیله ورته برابره شي؛ دوی باید اتـه کیلو متره واټن ووهي، چې دندې ته حاضر شي. لـه هغـه نـاڅیز معاش پرته چې کله کله هغوی ته ورکول کېږي، د دفتر تجهیزات، برېښنا، سون مواد، غذا او د هغـوی د کـار لپـاره نـورې لازمـې اسانتیاوې نه شته. ځکه نو د کابل موزیم ډېره ناڅیزه اداري، مالي او تخنیکي پالنه کېږي.

د موزیم پر وړاندې دا بې تفاوتي، د ښار د نورو مهندسي میراثونو د بنستونو پر وړاندې هم شته، چې د هرې ورځې په تېرېدو سره، د اختلاس او نه پاملرنې په نتیجه کـې لـه منځـه ځـي. دا درک او احساس هم نه شته چې د فرهنګي میراثونو اړوند چارې او د هغو سیمه او چاپېریال یو له بل سره اړیکي لري او د دې ویجاړ شـوي

ښار د ټولنيز- اقتصادي بيا رغونې په ماسټر پلان کې بايد شاملې شي. لومړنۍ دنده کېدی شي د تيمورشاه د مقبرې او بڼ ترميم وي، چې د ښار په زړه کې پروت دی. خو مقامات دې وړانديز ته ډېره کمه پاملرنه کوي. اوسمهال داسې ښکاري، چې په کابل کې د فرهنګي ميراثونو ساتنه يو رسمي لومړيتوب نه لري.

د تعجب وړ نه ده چې هرات د لومړيتوب حق لري او د زياتو تاريخي ابداتو په لرلو سره چې ځينې يې اوس له ډېر خواشينوونکي حالت سره مخ دي، د چټکې او بېړنۍ پاملرنې غوښتنه کوي، کېدی شي ځانته پاملرنه راجلب کړي. د هرات د تاريخي ابداتو د ساتنې مديريت ښه فعال دی، خو بيا هم د لازمو مالي سرچينو نشتوالی، ناسم کار او فکري اختلاف په دې برخه کې د يوې روښانه ستراتيژۍ د مخنيوي نور عوامل دي.

د ودانيو د بيا جوړونې کمزوري پلانونه لازمه اغېزمنتيا نه لري. د موزاييک د کاشي جوړوولو دستګاه، چې د هرات په جامع جومات کې پر (۱۹۴۳م) کال، د هرات د تاريخي ابداتو د بيا رغونې لپاره، پر هغه وخت جوړه شوې وه، تراوسه هم پر کار بوخت ده؛ سره له دې چې د هغې فعاليت ډېر کم شوی دی. د هرات موزيم پر (۱۹۹۴م) کال د اختيارالدين د تاريخي کلا په انګړ کې، چې پر (۱۹۷۶م) کال د يونسکو له خوا ترميم شوې وه، بيا پرانستل شوی دی. د جګړو په بهير کې په ښه حالت کې پاتې شوی. د موزيم څارنه په ښه ډول کېږي، خو خطي نسخې او اثار په ټينګه ترميم او کتلاک جوړونې ته

اړتیا لري. په خواشینۍ سره چې ددې کار لپاره روزل شوي او تربیه شوي کارکوونکي نه شته.

ځینې هغه ځانګړي ابدات، چې یو وخت د ویاړنو د ځلا بازار و، تراوسه هم پاتې دي، د لومړي هدف لپاره، دویم ځل د دې ودانیو د بیا پرانیستلو هېڅ کومه هڅه او تشویق نه شته. د هرات د زاړه ښار په زړه کې د ((چهارسوق)) حوض په اسانۍ سره کېدی شي ترمیم او د بېلابېلو هدفونو لپاره ترې ګټه پورته شي. خو په خواشینۍ سره چې اوس وچ او هېر شوی او د نه پاملرنې له امله مخ پر ورانېدو دی. د هرات د کاروانسرایونو پرځای، چې یو وخت د پېړیو په اوږدو کې د سوداګرۍ مرکزونه ګڼل کېدل، له ختو څخه څو پوړیزه ودانۍ جوړې شوي او د راکړې ورکړې د مرکزونو په توګه کارېږي، له دې کبله کېدی شي د هنر په باب داسې نظر، یو فقر او خلا وګڼل شي. پر همدې بنسټ ویلای شو چې د هنري پدیدو زېرونه او هستونه د محوه کېدو او له منځه تلو په حال کې ده.

دا خبره هم ډېره سخته ده، په څرګند ډول وویل شي، چې د (۱۹۹۶م) کال پر اوړي په مزارشریف کې د حضرت علي(رض) د مقبرې د بیا ښکلا لپاره د هڅې او نوښت انګېزه څه وه؟ د روضې د ترمیم کار د یو لوړ رتبه پوځي افسر له خوا څارل کېده. د تاریخي ابداتو د ساتنې مسلکي او باتجربه غړي، د خپلو مسلکي او معیاري کارونو د پرمخ بیولو لپاره ډېر کم واک هم نه لري. یوځای د موزیم

لپاره ټاکلی شوی، خو کوم متخصص نه شته، چې د هغــه چــارې پرمخ یوسي.

## روزل شوې بشري سرچينې:

په عمومي ډول د هغو متخصصينو کمښــت او خــلا لــه ورایــه محسوسېږي، چې کولای شي له نړیوالو منل شویو معیارونو سره سم، د ابداتو ترمیم او ساتنې ته دوام ورکړي. هغه کسان چې تــر جګړې دمخه روزل شوي او زده کړې یې کــړې وې، هېــواد یــې پرېښود، یا ګوښه کړای شول او یا د اداري، مالي او تخنیکي ملاتړ د نشتوالي له امله په یوه ګوټ کې کېناستل او د هغو پرځــای بــې تجربې او بې تحصیله کسان نصب شول. په کابل پوهنتون کــې د لرغونپوهنې څانګه تړل شــوې ده. تــر اوســه پــورې د افــرادو د پیداکولو او تر ټولو مهمه دا چې ددې برخې د بېلابېلــو څــانګو د ځواکمنۍ او مسلکي ظرفیت د ټاکنې لپاره هېڅ ډول هڅه ترسره شوې نه ده او مشکله برېښــي، د دې ډول اشخاصــو امکانــات او ریزرفونه پیدا شي چې څومره او تر کومې کچې دي.

دا ډېره مهمه دنده ده ، ضرور باید پــر هغــې کــار وشــي. د دې واقعیت په رڼا کې چې اوسني محصــلین پــر انګلیســي ژبــه نــه پوهېږي، نو د هغو هڅو امکان یې له ستونزو سره مخامخ کړی، چې د هغو په پایله کې نوي کادرونه تر افغانستانه بهر وروزل شي. ځکه نو په افغانستان کې باید د عملي مسلکي کورسونو د جوړولو لټه

وشي. مقامات په پرنسیپ کې له دې اصل سره موافق دي، خو له نښو نښانو څخه ښکاري، چې هغوی په دې برخــه کــې چنــدان پاملرنه نه کوي. دا ډول بې تفاوتي، دا پوښتنه راپورته کوي: هغــه کسان چې له دې کورسونو څخه فارغېږي، کولای شي کــوم کــار ترسره کړي؟

## د ټولنې د مسوولیت احساس:

پر اوسني وخت، د فرهنګي میراثونو پــه اړه، رښــتیني رســمي ټرونونه د پوښتنې وړ دي، ځکــه تــر هغــه وختــه پــورې چــې د افغانستان د شخړې سیاسي حل، د پوځي مسایلو په ابهام او چلند کې راګیر وي، په داسې حالاتو کې باید ولیدل شي، چې عامو پرګنو کې څه امکانات او ریزرفونه شته.

لکه څنګه چې په لېست کې ورته اشاره شوې، په ټول افغانستان کې یو شمېر اسلامي زیارتونه، د خلکو له خوا تر څارنې او تــرمیم لاندې دي او په ښه ډول ساتل شوي. په هرات کې چې زیاته پانګه شته، د جوماتونو او زیارتونو جوړول او ترمیمول په ټولنــه کــې، د مذهبي عقیدې او اخلاص د څرګندونې یو ډول دود ګرځېدلی دی. البته هغه کسان چې د ابداتو د ساتنې او نوي کولــو پــه اړه، لــه پوهنیزو معلوماتو څخه بې برخې وي، اغلباً د ګټور کار پر ځای زیان رسوي.

له یوې تاریخي ابدې څخه، بلې تاریخي ابدې ته د ترمیم لپاره، د تعمیراتي موادو لېږدول او د سمنټو د زیاتې اندازې کارول، په دې برخه کې اساسي حل لاره نه ده او نه لازم ځواب دی. کوم شی چې د اړتیا وړ دي، هغه د تجهیزاتو او کاري متخصصینو په واســطه، د مهجزو ارګانونو تاسیسول دي، چې د خلکو لېوالتیا، د یوه پــراخ عملي پلان له لارې عملي کړي.

د غلا شویو اثارو د کشف په برخه کې کولای شو، د خلکو د هڅو بېلګې راوړو: پر (۱۹۹۴م) کال د سلطان محمود غزنوي د مقبــرې اړوند د مرکزي ډبرلیک یوه لوحه، د هغې تــر غــلا لــس ورځــې وروسته، په دقیق ډول هغه وخت چې تــر پــولې اړول کېدلــه، د ذیعلاقه کسانو له خوا کشف او ونیول شوه. سربېره پر دې، یو زیات شمېر خلکو پر (۱۹۹۵م) کال د غلا شویو اثــارو او د هغــو د بیــا راټولونې لپاره د اطلاعاتو او کلتور وزارت د وزیر غوښتنې ته مثبت ځواب ورکړ. هغه په لوړ غږ له کابل راډیو نه د خپلې وینا په ترڅ کې وویل: ((خلکو په ټول ژوند کې هڅې وکړې، چې ښکلا وزېږوي، په داسې حال کې چې یو شمېر نورو د هېوادوالو د خوښۍ په مقصد د دې ښکلا د ساتنې لپاره خپل ژوند وقف کړی، خــو اوس ځینــې انسانان دا تاریخي پدیدې او تخلیقات د خپلو شخصي ګټو لپــاره لوټوي.)) هغه څرګنده کړه، چې د یوې ټولنې د ټولو سالمو وګــړو رسالت دی، چې د خپلې ټولنې د غلا شویو تاریخي اثارو پر وړاندې خپل مسوولیت ترسره کړي، هغه دې د افغانستان د فرهنګــي او

تاریخي اثارو د ساتنې او راټولونې ملي کمېسیون ته ورحواله کړي او یو څه ناڅه مادي انعام به هم ترلاسه کړي. په پایله کې شاوخوا (۱۵۰۰) اثار ترلاسه شول. البته دا د ورک شویو اثارو ډېره کمه برخه ده. خو یو شی یې په ډاګه کړ او هغــه دا چــې، دا ډول غوښــتنې کېدی شي اغېزمناکې او بې له شکه ارزښتمنې وي. ځکه چــې د هېواد لرغونې سیمې، د ناقانونــه پلټنــو پــه اثــر، پــه مــنظم او سیستماتیک ډول تالا شوې دي. د تخار ولایت د آی خانم، د بلخ زوړ ښار، د ننګرهار ولایت هډه، په دې برخــه کــې، درې ښــکاره بېلګې ګڼل کېدی شي.

د اوازو له مخې له یوې سیمې څخه، چې تراوسه یــې لا هویــت څرګند شوی نه دی، د سرو زرو یوه زیاته اندازه اثار کشف شــوي دي. له دې سیمو څخه یوه، کېدی شي په (۱۱) میلادي پېړۍ کې د سلطان سنجر مقر وي، چې د فاریاب ولایت قیصار ولســوالۍ تــه نږدې دی. ویل کېږي، له دې ځایه د ناقانونه پلټنو په پایله کې تر ځمکې لاندې، له پنځه ویشت متره ژوروالي څخه د سرو زرو مرصع تاج، د سپینو زرو یوه مرصع کوزه، زیات شمېر مجسمې، لوښــي، لاجورد او د سرو زرو دوه کیلو ګرامه پوډر ترلاسه شوي دي. دا چې رښتیا دي که نه؟ نه پوهېږم. د پوهانو لپاره یو بل ارزښتمن کشف پر (۱۹۴۲) کال، د پلخمري په شمال کې، د رباطک له پلټنو څخه، د باختري ډبرلیک ترلاسه کېدل دي، د پوهانو په اند دا ډبرلیک په دویمه میلادي پېړۍ کې د کنشکا په نوم، د کوشانیانو د دیــن او

تاریخ په باب معلومات لري او د کوشانیانو د عصر په اړه د ټولنیزې بیا کتنې وسیله گرځېدلی شي.

موږ به په دقیق ډول هېڅکله هم پوه نه شو، چې کوم شیان لــه دې ځای څخه ورک شوي دي، خو کوم شی چې مــوږ تــه زیاتــه خواشینی پیدا کوي، د دې سیمو هغه علمي څرگندونې او مدارک دي، چې هېڅکله د هغو پر کشف نه بریالي کېږو، دا زیان جدي او نه جبرانېدونکی دی، ځکه چې هنري هستونې هېڅکله په یوه خلا کې رامنځته کېدی نه شي.

د یو لرغوني فرهنگ د ژوندي پاتې کېدو په باب، چې پر کوم څیز باندې باید پوه شو، هغه دا دی چې اثار یې باید په همغه سیمه کې مطالعه شي. د افغانستان د ډېرو لرغونو سیمو په باب نور دا امکان له منځه تللی دی او په پایله کې یې علمي کار ته ستر زیان رسېږي.

د کابل موزیم یوه بې مثاله ځانگړنــه دا وه، چــې د هغــه ټــول کلکسینونه، د پوهنیزو پلټنو په نتیجه کې اوډول شوي او څېــړل شوي وو. همدارنگه د هغه زیات اثار بې مثاله او بې ساري وو، نــه یوازې دا چې کولای یې شول، د افغانستان فرهنگ او تاریخ ښــه وځلوي، بلکې د نــړۍ د فرهنگــي میراثونــو د ځــلا لپــاره هــم مرستندوی او گټور وو. تالانگر او غله د گناه او پښېمانۍ هېڅ ډول احساس نه لري. هغوی یوازې د پیسو لپاره دا کار سرته رسوي. هغه بهرنیان چې د افغانستان د تاریخ او فرهنگي اثــارو پــر ارزښــت پوهېږي او د اثارو د سوداگرۍ له ارزښــت څخــه خبــر دي، ددې

اشخاصو د پیسه دوستۍ له انګېزو څخه ګټه پورته کوي. معامله کوونکي کوم پرنسيپ نه لري او د نړيوالو کلکسيونرانو د هيلو په پام کې نيولو سره، د نويو راپيدا شويو غلو او خپلو افغان ايجنټانو له حرص سره يوځای، هماهنګ عمل کوي. د غلا شويو اثارو له خطرناکو او روزل شويو نړيوالو شبکو سره په ټينګه اړيکي لري. په دې کار کې تر بېلابېلو کچو، د دولتي ادارو فاسد کار کوونکي هم برخه لري او له پاکستان څخه تر اروپا، جاپان او امريکا پورې همدا عمليات ترسره کوي.

رښتيا خبره داده، چې د ستونزې د څېړنې او بنسټيز حل لپاره، د افغانستان مسوولې دولتي ادارې، ډېر لږ خلک هڅوي، چې خپلو وياړلو بډايو ميراثونو ته پاملرنه وکړي. د پوهانو او علماوو ډلې، خلکو سره خپله پوهه ډېره لږه شريکوي او کم تبليغ کوي؛ په هېڅ ځای کې د ښوونځيو زده کوونکو ته د خپلو تېرو فرهنګي بډاينو په باب څه نه ورښودل کېږي.

تر جګړو دمخه وختو کې د هېواد ډېر کم شمېر ځوانانو کابل موزيم ليدلی او کتلی و. اوس د هېواد ځوان پښت اکثره تر هېواده بهر، په جلا وطنۍ کې ژوند تېروي او د هغو ارزښتونو او مفاهيمو په باب چې يو وخت يې په هېواد کې موجود وو، پر هېڅ شي نه پوهېږي.

دا يوه سخته ماتې ګڼل کېږي، د يوې ملي ستراتيژۍ د نشتوالي له کبله، هېڅ يو تحصيل کړی مسلکي شخص، په يوازې ځان او د

عامه افکارو له همدردۍ او درک پرته نه شي کولای، پــه اوســنیو شرایطو کې د ښه والي لپاره هیله ولري. په ډېرو برخو کې د مالي سرچینو د پیدا کولو په اندول، پر فرهنگي میراثونو باندې د خلکو د پوهېدو کار مشکل دی. په نورو هېوادو کې، هغه وخت چې چټک اقتصادي پرمختگ، ښاري کېدنه او کورني کړکېچونه د دې سبب گرځي چې د فرهنگي اثارو پر وړاندې بې تفاوتي څرگنده شي، نو مختلفې ډلې د فرهنگي او تاریخي اثارو د له منځه تلو د مخنیوي په خاطر جوړېږي. کولای شو د هغو له تجربو گټه پورته کــړو. لــه اوسنیو اړتیاوو سره سم باید په ټولو سطحو کې د پرېکړو د سرته رسولو لپاره یو لړ غونډې او ورکشاپونه په پام کې ونیول شـــي. د عامه افکارو د پوهې لوړتیا، ددې غوښتنه کوي، چې ســیمه ییــز اوسېدونکي، د ساختماني پلان جوړولو او د اوسېدو د چاپېریال له متخصصینو، دولتي کار کوونکو، ناحکومتي سازمانونو د ماینپاکۍ گروپونو، له نړیوالو تمویلوونکو او متخصصینو سره یوځای شي. که چېرې د خپرونې او تبلیغ لپاره دا لېوالتیا په عمل کې پلې شوه، په هغه حالت کې باید تحصیل کړی پرسونل، په دې برخه کې تیاری ونیسي.

بې له شکه، خنډونه شته، په دولتي دستگاه کې یو شمېر کسان، ناحکومتي سازمانونه، ټولنې او تمویلوونکي د فرهنگي میراثونو د له منځه تلنې پر جدي خطر باندې، یو شان خبر نه دي او فرهنگي مسایلو ته یوشان د لومړیتوب په سترگه نه گوري. ان دا چې ځینې

په بشپړ ډول د فرهنګي فعالیتونو د پراختیـا او سـاتنې لپـاره د بودجې د لګښت مخالف دي، بشري مرستو ته د لومړیتوب حـق ورکوي او پر دې برخه پیسې لګوي. خو بیا هم د خوشالۍ ځای دی، چې د ځینو استثناتو یادونه وکړم او د ماین پاکۍ له ځینو موسسو او د ملګرو ملتونو د بشر د اسکان له مرکـز (هبیتـات) څخـه، د فرهنګ په برخه کې د مرستو او پرله پسې ملاتړ له املـه، مننـه وکړم.

په هر ډول موږ باید داسې افغانان، نه یوازې په افغانستان ، بلکې په اروپا، امریکا او پاکستان کې ولټوو، چې یو روښانه لید او له خپلو فرهنګي میراثونو سره مینه ولري او په دې برخه کـې ځواکمنـه مبارزه وکړي. دا یـوه مهمـه اړتیـا ده، یـوازې قـانون او روزنیـز پروګرامونه به په دې برخه کې د لېوال شخص له لارښوونې پرتـه هېڅ ډول اغېز ونه لري.

له مثبتو عواملو څخه یو دا دی چې نړیوال سازمانونه دمخه شوي او حاضر دي په دې برخه کې مرسته وکړي. په دې موسسو کـې یونسکو، د موزیمونو نړیواله شورا (ایکوم)او دفرهنګي میراثونـو نړیوالې کمېټې د (۱۹۹۷م) کال د(۱۲) میاشتې پر (۸) مه نېټـه د افغانستان دفرهنګي میراثونو په اړه یو پرېکړه لیک تصویب کړ. په هغه کې د افغانستان فرهنګي میراثونو ته د متوجه ګواښونو په باب خواشیني ښکاره شوې او له مقاماتو څخه غوښتل شوي، چـې دا میراثونه وساتي او له نړیوالو ټولنو هم غوښتل شوي، چې ټول لازم

امکانات يې په واک کې ورکړي. داسې لارې چارې باید ولټول شي، چې له دې وسیلو نه ګټه پورته کړو او له دې ډول لېوالتیاوو څخه کار واخلو.

په بېلابېلو خواوو کې د دفاع او تبلیغ کارونه، لومړۍ ګڼل کېږي. ددې هدف لپاره پر (۱۹۹۴م) کال، په اسلام باد کې د افغانستان د فرهنګي میراثونو د ساتنې انجمن سپک (SPACH) تاسیس شو. د سپک SPACH لومړنی هدف دا و چې په هېواد او تر هغه بهر، لــه انفرادي اشخاصو، سازمانونو او موسسو سره، د اطلاعــاتو راکــړه ورکړه وکړي او اړیکي ورسره ټینګ کړي. دې انجمن د خپلو غړو د همکارۍ په واسطه وکړای شول، د موزیمونو، لرغونو سیمو، تاریخي ابداتو، اثارو او معمارۍ له وضعیت څخه، د عکاسۍ یو کتلاک برابر کړي.

د موزیم د پاتې اثارو د تثبیت او راجستر ترڅنګ، باید د موزیم لپاره په عاجل ډول د امنیتي اسانتیاوو د برابرولو غم وخوړل شي. دوی د سروې او څېړنې له هئیتونو سره مرسته کوي، د مطبوعاتو او عامه مبلغینو له لارې عامه اړیکــي پراخــوي. د افغانســتان د فرهنګي او تاریخي میراثونو د ساتنې انجمن، چې د افغانستان له مسلکي شخصیتونو څخه جوړ دی، پر (۱۹۹۷م) کال له پلان وزارت سره ثبت او راجستر شوی دی.

## د قانون خپرول او تطبیق:

په افغانستان کې د فرهنګي ملکیتونو د ساتنې لپاره په نړیواله سطحه زیات غړونه پورته شول. د افغانستان لپاره د بشر حقوقو په چارو کې د ملګرو ملتو ځانګړي استازي، د ملګرو ملتو د بشر حقوقو ځانګړي کمېسیون ته د خپل ګزارش د وړاندې کولو پر وخت، د بشر له حقوقو څخه د اساسي تخلفاتو په توګه، په پرله پسې ډول د افغانستان د فرهنګي میراثونو د لوټ او تالان یادونه کړې ده.

د ملګرو ملتونو عمومي جرګې د (۱۹۹۷م) کال د فبرورۍ پر (۱۳)مه، د افغانستان په باب په اړوند پرېکړه لیک کې، د سولې او فرهنګي ملکیت ترمنځ پر مستقیم ارتباط ټینګار وکړ. د خپلې غوښتنې د تکرار په دوام کې یې د افغاني ډلو د موافقې غوښتنه وکړه، چې د افغان ملت د فرهنګي میراثونو د غلا د ټولو ډولونو، ناوړه عملونو او ناجایزه ګټې مخه ونیول شي او ودرول شي.

د افغانستان تېرو حکومتونو، په دې برخه کې په بشپړ ډول مناسبې هڅې ترسره کولې. د کابل موزیم، د موزیمونو د نړیوالې شورا پوره او کره غړی و او له نړیوالو معیارونو سره سم یې ټول هغه قوانین او مقررات، چې د دې شورا له خوا، په ځانګړي ډول د ګمرکي مقرراتو د درناوي په برخه کې وو، منلي او هم یې د مشکوکو او بې اسنادو اثارو، له تاوان پرته ضبط او نیولو ملاتړ کړی

او هغه يې په عمل کې پلي کړي وو. د تاريخي او فرهنګـــي اثــارو قانون په ډاګه څرګنده کړې ده، چې منقول او نامنقول اثار، پلټل شوي او که تر خاورو لاندې دي، د افغانستان په خلکو پورې تړلي دي. خلک او حکومت د هغو د ساتنې مسووليت لــري، نومــوړي قانون په تاريخي ودانيو کې هر ډول بدلون منع کړی او ساختماني موسسې يې مکلفې کړي، چې که چېرې يو تاريخي اثر او لرغونې ساحې ته، د کار پر وخت زيان رســبږي، نــو دوی مجبــوره دي د بنسټيزې چارې تر پيدا کولو پورې کار ودروي. کله چې پلخمري ته نږدې د کوشانيانو معبد، د سړک د جوړېدو پر وخت وليدل شــو، چې په يوناني ليک هلته ډېرې ليکنې شته، نو په علمي ډول وپلټل شو.

دغه راز قانون حکم کړی، چې په شخصي ځمکو کې پيدا شوي تاريخي اثار، د خلکو ملکيت دی او اشخاص د هغو د خپلونې حق نه لري. البته پر وړو اثارو باندې دا قانون تل د تطبيق وړ نه دی، خو کولای شي د لويو ساحو، لکه د ميرزکــې د خزانــې پــر وړانــدې، ډراماتيک برياليتوب ولري. که څه هم ميرزکي په ډاګه کړه چـــې څنګه د ناقانوني فعاليتونو پر وړاندې د قانون تطبيق له ماتې سره مخ شو. په دې قانون کې د غلا شويو اثارو د مخالفت په اړه مهــم مطالب ځای شوي دي. د (۱۹۴۷م) کال پر مې د پکتيا د ګرديــز د شمال ختيځ په (۵۳) کيلو مترۍ د ميرزکې کلي په يوه څاه کې، د مسکوکاتو د يوې لويې برخې د ناڅاپي کشف خبر کابل ته ورسېد.

د ساحې د څېړنې لپاره د ملي موزیم لېږل شوی هئیت، د (۱۲) زرو هندي، یوناني، ګریکو، باختر، اندوګریک، اندوبتي، اند- پــارتي او کوشاني مسکو کاتو پر کشف بریالی شو. د هغو تاریخ له څلورمې قبل المیلاد پېړۍ څخه د میلادي پېړیو تر لومړیو پورې رســېده. وضع شوی قانون، په میرزکه کې د مسکوکاتو د ناقانونه راټولونې د ودرولو سبب شو.

پر میرزکي باندې دویم برید پر (۱۹۹۲م) کال، هغه وخت ترسره شو، چې د کلي په شاوخوا کې استوګنو خلکو په ډلــه ییــز ډول پرېکړه وکړه، چې په ډېر سیستماتیک ډول له سره کېندنې پیــل کړي. یوه دولس کسیزه کمېټه جوړه شوه، چې د پلټنو سرپرستي وکړي، له پاکستاني معامله کوونکو سره خبرې اترې پرمخ یوسي او د هغو له خرڅلاو څخه لاسته راغلې ګټه، د کلي پر خلکو ووېشي. د کلي خلکو هر یوه د کیندنو لګښت، لکه یو جنراتور، واټرپمپ او بشري ځواک د اخیستلو لپاره پنځوس زره پاکستانۍ روپۍ لګولې وې. میرزکه د مسکوکاتو یو ډېر لوی مدفن دی.

دا خزانه له سرو زرو، سپینو زرو او برونزي مسکوکاتو څخه جوړه وه، چې ټول وزن یې دوه درې ټنه اټکل شوی و. د سرو او سپینو زرو شاوخوا (۲۰۰) کیلو ګرامه شیان لکه ګاڼه، جامونه او مجسمې هم وې، چې په ډېره چټکۍ سره د کلکسیونرانو او بهرنیو معامله کوونکو په لاس، مخکې تر دې چې پوهان د هغوی هویت تثبیت او مطالعه کړي، لا درکه شول.

دا اثار د معامله کوونکو په لاس، په ډېره ګرانه او لـوړه بیـه پـه پېښور او اسلام اباد کې وپلورل شول، خو له هغو څخه د لاسـته راغلو پیسو ډېره لږه برخه بېرته میرزکي ته لاړه. په حقیقت کـې اصلي پانګه اچوونکو، په ډېرې سختۍ سره وکړای شول، د خپـل لګښت جبران وکړي او ډېره لږه ګټه ورڅخه لاسته راوړي. دا عمل د قبیلې د خلکو ترمنځ د سختې بې اتفاقۍ او اختلاف سبب شو. رسمي او دولتي مداخله لکه څنګه چې پر (۱۹۴۷م) کال شوې وه، ونه شوه او ان دا چې د دولت له خوا د هېڅ ډول څارنې امکان نه و. سره له دې چې د پروفیسور ربـاني حکومـت د لرغونپـوهنې انستیتوت ته لارښوونه وکړه، چې سیمې ته یو هئیت ولېږي او د پلټنو مخنیوی وکړي، د لرغونپوهنې مدیر یادونه وکړه، چـې پـه پکتیا کې حکومتي اداره دومره کمزورې وه، چې ویې نـه کـړای شول، د لرغونپوهنې د هئیت لپاره یو شمېر ساتونکي برابر کړي. پر (۱۹۹۷م) کال دا پلټنې ودرول شوې. طالبانو ځان د دې کار د اجرا مدعي وښود، خو حقیقت دا دی چې د پلټنو چارو کـې د پانګـه اچوونکو کمزورتیا، د جنراتورونو او مزدورکارانو د فعال ساتلو لپاره د بودجې کمښت او تر ټولو مهمه دا چې د کشف شـویو شـیانو د ګټې د وېش پر سر، د قبیلې د خلکو ترمنځ د اختلافاتو زیاتوالی، د دې پلټنو د بندېدو اصلي علت و. بیا هم بېرته دې ته راځو چې اثارو ته د زیان رسولو د مخنیوي، ممانعت او یا لږ تر لږه د لرغونو ساحو د تخریب د کمولو لپاره څه ډول ګډ قانوني عمل وکړو؟ په خواشینۍ

سره دا واقعیت مو مخې ته ودرېږي چې افغاني ادارې د خپلو قوانینو تر حوزې بهر، پر ناقانونه فعالیتونو باندې ساده کنټرول هم نه لري. د فرهنګي ملکیتونو د ساتنې په باب پرله پسې دولتي اعلامیو کوم څرګند اغېز شیندلی نه دی. طالبانو د پخوانیو حکومتونو ټول نافذ قوانین ملغی اعلان کړي، خو د غلا شویو اثارو د بیا لاسته راوړنې او ساتنې، د لرغونو سیمو او عامه پانګې د تثبیت په باب ابلاغیې یې له پخوانیو قوانینو سره سمون خوري. څو اثار ونیول شول، خو د موزیم د اثارو د بېرته ګرځونې په اړه د هغو د اعلامیې په ځواب کې کوم عکس العمل ښودل شوی نه دی. هغوی د مکافاتو پر ځای د شرعي سزا د ورکړې ژمنه کړې ده. د پلټونکو حرص او طمعې ژوندۍ دي. له اجرائیوي ضمانت پرته یوازې تشې ابلاغیې کېدی شي معکوسه نتیجه ورکړي.

د کابل ادارې، د جلال اباد په غوچک کې د نا قانونه کیندنو په باب، تر هغې وروسته چې د (بي بي سي) راډیو له خوا په دې اړه تبلیغات ترسره شول، د (شریعت غږ) راډیو له لارې له ټولو خلکو غوښتنه وکړه، چې لرغوني اثار په خلکو پورې اړه لري او هغه شیان چې ترلاسه کېږي، باید دولتي مقاماتو ته تسلیم شي. د اعلامیې تر خپرېدو یوه اوونۍ وروسته په دې سیمه کې ټول شیان ورک شول.

همدا راز، ستونزې هغه وخت لا سختېږي، له داسې کم زده کړو طالبانو سره مخامخ شو، چې لوړې زده کړې نه لري او د ژوندي انسان د عصري تصویرونو د ممنوعیت د فرمان او د هغه فرمان چې

د ملت د میراثونو د غلا، زیان رسولو او غصبولو د مجازاتو پــه اړه دی، توپیر نه شي کولای. د ساري په توګه په دې اړه کېدی شي د یو طالب قوماندان د هغو څرګندونو یادونه وشي، چې د بامیانو د محاصرې پر وخت یې د (۱۹۹۷م) کال د څلــورمې میاشــتې پــر (۱۹)مه نېټه کړې وې. ده ویلي وو چې د بامیانو تر فتحې وروسته به د بودا ((بتان)) والوزوي. د نړیوالې ټــولنې ، د ملګــرو ملتونــو سازمان د سرمنشي او د یونسکو د عمومي مدیر د ټینګ عکــس العمل له کبله، د هماغه کال د اپریل پــر (۲۸)مـه کنــدهار کــې د طالبانو مشرتابه یوه بیانیه خپره کړه، چې د بامیانو د بودا الوزول یې رد کړي وو او یو ځل بیا یې ژمنه وکــړه، چــې ټــول لرغــوني میراثونه ساتي. دا چې د طالبانو لیکې په بشپړ او درســت ډول د هغوی د پیغامونو پر محتوا او مانا پوهېږي او که نه؟ د تشویش وړ بله مساله ده او یو بل عامل دی.

څرګنده ده چې په افغانستان کې د یوې مسوولې او اغېزنــاکې اداري نشتوالي، زیاتې ستونزې او مشکلات رامنځته کړي او د یوه باثباته مرکزي حکومت تر جوړېدو پورې بــه د هغــو حــل تقریبــاً ناممکن وي. ضرور ده وپوښتل شي هر کله چې اثار تر هېواد بهــر ایستل کېږي، څه باید ترسره شي؟ په نړیواله کچه هم ورته خنډونه شته. یو شمېر سازمانونه او مسلکي دولتي اداري تیارې دي، چې د ورکو شویو اثارو په پلټلو کې مرســته وکــړي، خــو څرنګــه چــې افغانستان پر (۱۹۷۰م) کال کې د فرهنګي ملکیتونــو د ناقانونــه

لېږدونې، واردونې او صادرونې د مخنیوي او منع کولـو لپـاره، د یونسکو کنوانسیون لاسلیک کړی نه دی، نو نه شي کولای په دې برخه کې کوم کار وکړي. د رباني له حکومت څخه زیاتې غوښتنې وشوې، چې له هغه سره یوځای شي، خو د کابل سیاسي صحنې ته د طالبانو په راتګ سره دا کار بریالی نه شو. تر اوسه پورې د ملګرو ملتو سازمان، طالبان په رسمیت پېژندلي نه دي، ځکه نو پـه دې برخه کې زیات کار ترسره کېدی نه شي.

ان له قانوني ملاتړ پرته، ډېر او تر حده زیات کار ته اړتیا ده، چې د حقوقپوهانو، قضاوت او دا چې په افغانستان کې څـه تېرېـږي، د ګمرکي سرچینو احساس راوپارول شي. د لویدیزو هېوادونو پېچلي قوانین ګډې وډې نتیجې لري. د (۱۹۹۷م) کال پـر اکتـوبر یـوې بریتانوي محکمې پرېکړه وکړه، چې که چېرې د باګرام د عاج دوه ټوټې د ګمرک په واک بریتانیې ته داخل شي، هغه به د (فیلانو) د ملاتړ په باب، د اروپا د سوداګرۍ ټولنې د تړون له مخې، مصـادره شي. په دې پرېکړه کې په دې باب، چې نوموړي اثار د زرو کلونـو قدامت لري او د کابل له موزیم څخه غلا شوي، هېڅ ډول یادونه نه ده شوې. د اثارو پاکستاني مالک، هغه بېرته پاکستان ته راوړل او اوس په دې غلا شویو اثارو د پیسو د لاسته راوړلو په لټه کې دی.

په دې ډول، په لنډه موده کې زیات شمېر مسوولو او با احساسه افغان شخصیتونو، ته د ګڼو او پراخو هلو ځلو د پیلولو مسوولیت راجع کېږي. ددې لیکنې له غمجنې محتوا سره سره بیـا هـم دا

لیکنه د بېړنیو هڅو لپاره یو امکان دی، چې وکړای شي یو داسې تهداب او بنسټ کېږدي چې د هغه له مخې یــوه ګټــوره مــانیزه کړنلاره پرې جوړه شي. دا لومړیتوبونه کېدی شي، پر لاندې ډول په ګوته شي:

## لومړیتوبونه:

له لاندې لارو څخه باید په ټولو برخو کې ګټه واخیستل شي، چې د افغان مسوولینو ترمنځ د دفاع او احساس روحیه پیاوړې شي.

ـ انفرادي اړیکي؛

ـ سیمینارونه او ورکشاپونه؛

ـ د افغانستان رسمي ادارې بایــد وهڅــول شــي، چــې خپــل مسوولیتونه ومني او په مختلفو برخو کې بنســټیز تجهیــزات او وسایل برابر او پیدا کړي.

ـ داسې رغوونکې هڅې باید ترسره شي، چې د هغو پر بنسټ د ستونزو د حل لپاره یــوه نوښــتګره ســتراتیژي جــوړه شــي. دا ستراتیژي باید داسې نوي معیارونه او سیاستونه طرح کړي چې د هغو له مخې، نوي او ضروري ارقام راټول شي.

ـ نامناسبو ځایونو ته د فرهنګــي ملکیتونــو د بېځایــه کېــدو مخنیوی؛

ـ د ښوونځیو په تعلیمي نصاب کې د فرهنګي میراثونــو اړونــد موضوعګانو ځایول؛

ــ د کادرونو د روزنې په برخه کې هڅه او هاند، چې د ساتنې او ترمیمونې خدمتونه ترسره کړي.

## په هېواد کې باید افغاني ټولنې وهڅول شي چې:

ــ د زیاتې لېوالتیا او نوښتونو لپاره ځینې ډلې پر کار وگوماري.

د ورکشاپونو، لکچرونو ، ننندارتونونو ، راډیویي پروگرامونــو او د ساده او عام فهمه خپرونو د جوړولو له لارې د عملیاتي گروپونو او روشنفکرانو د همکارۍ راجلبول.

## په بهرنیو هېوادونو کې د افغاني ټولنو لپاره:

د افغانستان د هغو غلا شویو اثارو لپاره چې په بهرنیو هېوادونو کې پلورل کېږي، د هغو پر وړاندې د یو ځواکمن کمپاین له لارې په هغو هېوادو کې د مېشتو زړه سواندو او پوهو افغانانو تشخیصول.

ــ په کومو هېوادونو کې چې دوی مېشته دي، د هغو هېوادونو له څېړنیزو ادارو سره، د هغو اثارو د بېرته راگرځونې په باب د اړیکو ټینگول، چې په ناقانونه توگه د افغانانو او یا بهرنیانو په واسطه هلته وړل شوي دي.

## د بهرنیو حکومتونو، نادولتي سازمانونو او تمویلوونکو دندې:

ــ د نړیوالو فرهنگي سازمانونو د اعلامیو او څرگندونو څارنه او له هغو سره د لېوالتیا او همکارۍ څرگندول.

ــ د فرهنگي میراثونو او د ژوند چاپېریال د ساتنې د ملاتړ شبکو ټینگښت او پیاوړتیا.

ــ د ژوند د ښه والي او څرنگوالي لپاره د فرهنگــي میراثونــو د ارزښت په اړه د پوهې زیاتول.

## د معلوماتو راټولول:

ــ د پوهو او مسلکي اشخاصو تثبیتول.

ــ له فرهنگي ملکیتونو او سیمو څخه د ډاډمنو ارقامو راټولول.

ــ د بېړنیو ترمیماتي اړتیاوو په باب د معلوماتو راټولول.

ــ د ابداتو او سیمو د لېست ثبتول او برابرول.

ــ په کتابتونو کې د ورک شویو اثارو پر ځای، د نویو اثارو ایښودل او د هغو ځای ډکول.

## د معلوماتو خپرول:

د ټولو ډله ییزه رسنیو، مجلو، خپرونو، پوسټرونو، تلویزیون، راډیو او نورو له لارې د لکچرونو ورکول، د ســیمینارونو او ورکشــاپونو جوړول.

ــ له تصویرونو سره په پښتو او دري ژبو، د ساده موادو چاپول او د ښو معلوماتو خپرول.

## د کادرونو روزل:

ــ د روزل شویو کادرونو د هویت ټاکنه او تثبیت.

ــ د موزیم، ارشیف او تاریخي ابداتو د ســروې او تــرمیم د کــار کوونکو لپاره د اساسي کورسونو جوړول.

ــ له پوهنیزو او څېړنیزو تجهیزاتو او موادو سره د اشنایي لپاره د انګلیسي ژبې زده کړې او مطالعې ته د ټاکلو اشخاصو هڅول.

ــ د تخنیکي وسایلو د کارونې او د چارو د ښه والي لــه لارې، د فرهنګي میراثونو د ملاتړ لپاره، له سیمه ییزو رضاکارو ډلو ســره همکاري.

## د متخصصینو تبادله:

ــ د نړیوالو شبکو له لارې د با اهمیته ترمیماتي کارونو لپــاره د لرلیدونو (دورنماوو) ترلاسه کول.

ــ د اشخاصو او اسنادو د یو معلوماتي جدول ترتیبول.

د پورتنیو ټولو هدفونو لپاره د مالي پانګې برابرول.

دې لومړیتوبونو ته د پاملرنې راګرځول به زیات وخت وغــواړي، چې د بې تفاوتۍ هغه واکمن سیوری له منځه یوړل شــي، چــې د اکثریت اندود ( د فکر طرز) یې کرخته کړی دی او فکر کوي چې له دې خنډونو څخه تېرېدل، ناممکن دي او ځاني هڅې ګټه نه لري.

په واقعیت کې ستونزې ډېرې ژورې دي، خو کوچنۍ هڅې کولای شي د افرادو د الهام لپاره داسې یو مناسب او دوستانه چاپېریال رامنځته کړي، چې له ماضي څخه خبر شي او د راتلونکو فرهنګي لاسته راوړنو لپاره لاره چاره برابره شي.

د فرهنګي ملکیتونو د ساتنې لپاره د مثبتو لارو چارو رامنځته کول، د چاپېریال او سیمې د ساتنې باعث کېږي او په پای کــې د

**فرهنګ او چاپېریال په باب د هر اړخیزې ملي پوهې د لوړتیا سبب ګرځي. دلته به ترې په انتخابي توګه یادونه وکړو:**

**د لرغونو سیمو او تاریخي ابداتو د لومړیتوبونو اوسنی وضعیت:**



**د تاریخي ابداتو، د لرغونو ساحو د اثارو او مهندسۍ په باب د معلوماتو سـرچینې، د سـپک (SPACH) د عکاسۍ کتلاکونه دي.**


**موزیمونه:**

**د کابل مـوزیم: د (۱۹۹۲-۱۹۹۶م) کلونو ترمنځ په هر اړخیز ډول لـوټ شوی دی.**




**د هډې نامنقول موزیم: پر (۱۹۸۱م) کال د جګړو له کبلـه ویجـاړ او تـر هغـه وروسته تالا شوی دی.**

**د هـرات مـوزیم: پـر (۱۹۹۴م) کال کې دهرات په بالاحصار کې بیا پرانیستل شوی، خو د هغه اثار په دقیق ډول تنظیم شوي نه دي.**



## د افغانستان مرکــزي سیمه–بامیان:

د لویو مجسمو په ګډون له دریيمې څخه تر اتمې میلادي پېړۍ پورې بودايي مجتمع په مناسب حالت کــې نــه دي. دېوالي نقاشي د طبیعي پېښو له ګواښ سره مخ شـــوې او د بېړنۍ پاملرنې غوښتنه کوي.



## غزني:

له دریيمې مــیلادي پېــړۍ څخه تر اتمې میلادي پېــړۍ اړوند د سردار تپــې بــودايي مجتمع، چې د ایټالیانو له خوا یې پلټنه شوې وه، د له منځه تلو په حال کې ده.

د سلطان محمود غزنوي (۹۹۸-۱۰۳۰م) د مقبرې حالت ښه نــه دی.

په (۱۲)مې میلادي پېړۍ پورې اړوند، د غزنویانو د دورې د درېیم مسعود ماڼۍ چې د فرانسویانو له خوا کیندل شوې وه، لوټ شوې ده.




د غزنویـــانو د عصـــر مینارونـــه (۱۲مـــه مـــیلادي پېړۍ) د پېښو د اغېـــز لـــه کبلـــه، پاملرنې ته اړتیـــا لري.

د (۱۲) میلادي پېړۍ پر وروستیو په غور ولایت کې د غوریانو د عصر مینار جام طبیعي عوارض او د



سیند له غاړې د اوبو د راپورته کېدو له امله د هغه ټینګښت او ساتنه بېړنۍ اړتیا ګڼل کېږي.


د تیمور شاه مقبره ۱۷۹۳م:



د تیموریانو پــه دود جوړه شــوې ودانۍ، په جــدي ډول د ویجاړۍ په حال کې ده. بــڼ يې له منځه تللی ، بېړني ساختماني ترمیم ته اړتیا لري.

په (۱۷) میلادي پېړۍ کې د مغولي دورې بابر بڼ: د جګړې په اثر د بابر مقبره (۱۵۳۰ م) مرکزي جومات (۱۶۴۶م) زیانمن شوي، پر (۱۸۸۳م) کال جوړ شوی پاویلون د جګړې له کبله ویجاړ شوی او حرم سرای د بمبارۍ په وجه وران شوی دی. د بڼ ونې وهل شوي او د سون موادو په توګه ترې کار اخیستل شوی دی.

زوړ ښار: د (۱۸-۱۹)م پېړۍ یو لړ ودانۍ لــه ګچــي او حکــاکي ښکلا سره د خاورو پر ډېرې بدلې شوې دي.




ملــي ارشــیف ودانۍ: پــر (۱۹۷۳-۱۹۷۸م) کال د ملي ارشیف لپاره ترمیم شوه، د جګــړو لــه کبلــه یــې زیانونــه

وزغمل، خو بیا یې هم حالت ښه دی.

**بوستان سرای:** پـر (۱۸۹۲م) ودان شــوی حرامســرای د بوستان سرای لپاره: لازمه څارنه یې نه ده شوې. یــو وخــت د ترانسپورت د ډیپو په توګه ترې ګټه پورته کېدله. پر (۱۹۹۶م) کال د تاریخي ابداتو د ساتنې د ریاست له تفاهم پرته په غلطو مشورو، د ښاروالۍ په واسطه ترمیم شوی دی. د ګچو د کارونې او د لرګیو د باندې برخې ښکلا یې په ښه حالت کې ده، خو ځینې داخلي برخې یې له منځه وړل شوي دي.

**باغ بالا:** د (۱۸۹۳م) کال اړوند مانۍ چې پر (۱۹۶۶م) کــال بیــا ترمیم شوه، د جګړې له کبله رسېدلی زیان یې نــاڅیز و، تــرمیم شوې وه، خو د سیاف ډلې له هغې څخه مېلمستون جوړ کړ او اوس د طالبانو د قوماندانۍ مقر دی. له همدې کبله له ویجاړې سره مخ ده.




**ستوري مانۍ:** د بهرنیو چارو وزارت اړونــد پــر (۱۹۰۱م) کال جوړه شــوه او په (۱۹۱۲-۱۹۱۵م) کلونــو کــې نــورې زیــاتونې پــه کــې


وشوې او نورې برخې ور پورې وتړل شوې. پر (۱۹۹۵م) کال يې په سالون کې نوی زیاتون راوستل شو.



**د شاه دوشمشېره جومات:**

د (۱۶)مې م پېړۍ د جومات پر ځای، د هغه ودانۍ پر (۱۹۲۰م) کال جوړه شوې ده، په ښه حالت کې ساتل کېږي.

**د کابل څنډې:**



**د چکړیو مینار:** د لومړنیو میلادي پېړیو بودایي مینار د توغندیو د لګېدو له امله زیانمن شوی و، خو د هغو دلایلو له مخې چې تراوسه څرګند شوي نه دي، د (۱۹۹۸م)کال په اپریل کې نړېدلی دی.

**ګلدره:** ۴ میلادي پېړۍ پورې اړوند د بودایي معبد او ستوپه مجتمع، په پراخ ډول، د سیمه ییزو قوماندانانو له خوا د اثارو د ترلاسه کولو او غلا کولو لپاره پلټل شوې ده.



**چهلستون:** د (۱۸۸۸م) کال يوه ودانۍ وه چې پر (۱۹۰۵ او۱۹۵۰م) کال په کې نور بدلون راوستل شو. د لويو جګړو له امله د خاورو پر ډېرۍ بدله شوې ده.



**د دارالامان ماڼۍ:** پر (۱۹۲۳م) کال د حکومت د مرکز په توګه وپېژندل شوه او جګړو هغې ته درووند زيان اړولی دی.

**د تاج بېګ ماڼۍ:** پر (۱۹۲۴م) کال پورې دې اړوند ماڼۍ لړ زيان ليدلی دی.

**پغمان:** دا دوبنی استوګنځی و، چې پر (۱۹۲۰م) کال جوړ شوی، د ښکلو ماڼيو، تياترونو او هوټل په ګډون، په قصدي ډول پر خاورو بدل شوی، چې دليل يې تراوسه څرګند نه دی. جګړو هغه ته زيات

زیان اړولی، جومات یې د سیمې د خلکو له خوا تر بیـــا جـــوړونې لاندې دی.

## د افغانستان لویدیځ:



### هرات:

**جامع جومـــات:** پـــر (۱۲۰۰م) کال د غوریانو پر وخت جوړ شوی او په (۱۵) میلادي پېړۍ کې د تیموریانو په واســـطه تـــرمیم او لـــه (۱۹۴۳م) کال راپه دېخوا یې ښکلا ته نوره پاملرنه هم کېږي. له جگړې څخه رسېدلي زیانونه یې ترمیم شوي او په ښه ډول ساتل کېږي.



**د مالان پل:** له (۱۵۰۶) کال څخه شتوالی لري. جگړو ورته زیـــان رســـولی او د (۱۹۹۴-۱۹۹۶م) کلونو ترمنځ په ناسم (نا فني) ډول ترمیم شوی دی.

**د امام فخر رازي جومات او مزار:**

د (۱۳م) پېړۍ اړوند، جگړو

**هغه ویجاړ کړی او د پانګوالو خلکو له خوا نامناســب تــرمیم یــې نیمګړی پاتی دی.**

**د مصلی منارونو مجتمع: د (۱۵) پېړۍ د تیموریانو د وخت اړوند د ګوهر شاد مقبره چې د جګړو له کبله د هغې د ګنبــدې د کاشۍ زیاتې برخې له منځه تللي دي. هغه ونې چې پر (۱۹۴۰) کال د ساتونکي دېوال په توګه د جون- سپتمبر د میاشــتې د (۱۲۰)**



**ورځني باد په مقابل کې ایښودل شوې وې، له منځه وړل شوي دي. په دې سیمه کې له شپږو موجودو منارونو څخــه یــو یــې د یــو توغندي په واسطه له منځه تللی او دوه نور یــې د توغنــدي لــه مستقیم لګېدو سره سره ولاړ پاتې دي. هغو ته له مخامخ خطر سره**

سره د ځينو جنجالونو د شتوالي له کبله د هغو د ترميم کار ځنډول شوی دی.



**گازرگاه:** د تيموريانو په واسطه په (۱۵)مې ميلادي پېړۍ کې په کاشيو ښکلی شوی زيارت د (۱۱)مې ميلادي پېړۍ ستر صوفي، شاعر او فيلسوف خواجه عبدالله انصاري ته ځانگړی شوی دی. د هغه د مجاورانو له خوا ښه ساتل کېږي. د مرمرو له ډبرو څخه جوړه، د يوه حيوان مجسمه چې هغه ته په ورننوتونکې دروازه کې ودرول شوې وه. د طالبانو له خوا لرې شوې ده.

**د کرباس حوض:** د هرات ښار د لويديځ په غلوار کلي کې له داخلي ښکلاوو سره په تيموري دورې پورې تړلی دی. د يو ډنمارکي ناحکومتي سازمان ډاکار (DACAAR) موسسې په واسطه ترميم شوی دی.

**د محدث زیارت:** د تیموریانو د دورې د (۱۵)مې میلادي پېړۍ اړوند مدرسه او جومات چې د (۹)مــې م پېــړۍ د پــوه خواجــه عبدالولید په ویاړ جوړ شوی و، د جګړې له کبله ورته زیات زیــان اوښتی دی. د مقبرې پر سر د ګنبدې ترمیم، د خلکو په همکارۍ، د ډاکار موسسې له خوا پیل شوی دی.

**د ظفر تخت:** د تیموریانو د دورې د (۱۵)مې پېړۍ د تفریح بڼ و، تر (۱۹۶۶م) کال پورې د کارېدو وړ و. پر (۱۹۹۴م) کال له یوې مخې له کاره ووت، د مجاهدینو پر وخت د هغه د بیا جــوړونې لپــاره د هرات د والي تورن اسماعیل خان پلان، پر (۱۹۹۵م) کال د هرات ښار ته د طالبانو په راتګ سره عملي شوی نه دی.

**د چهارسوق حوض:** د (۱۷م) پېړۍ اړوند د عامه اوبو زېرمــه، وچه شوې او د له منځه تلو په حال کې ده.

## د افغانستان شمال:

د تخار ولایت خواجه غار ته نږدې، تر میلاد د مخه (۲-۴) پېړیو، یو یوناني ښار دی، چې د فرانسویانو لــه خــوا پلټــل شــوی و. د بلدوزرونو د تونلونو د کیندلو په واسطه هلته په منظم ډول تالان ګډ دی.

**طلا تپه:** شبرغان ته نږدې، په لومړۍ میلادي پېړۍ پورې اړوند، د کوشانیانو یوه هدیره، د افغانستان او شوروي لرغونپوهانو ګډو کیندنو شپږ قبرونه رابهر کړل، چې له هغو څخه د سرو زرو شاوخوا

شل زره اثار لاسته راغلي وو، د دوو ناپلټل شويو قبرونو تالان پــر (۱۹۸۰م) کال پيل شو.

**سور کوتل:** پلخمري ته نږدې دويمې ميلادي پېړۍ پورې اړوند مذهبي مجتمع، په دې باب معلومات په لاس کې نه شته.

**رباطک:** په دويمې ميلادي پېړۍ پورې اړوند، پلخمري ته نږدې يو سلطنتي معبد، د (۱۹۴۳م) کال تصادفي کشف، د بغلان د والي په واک کې دی.



**د رستم تخــت:** د سمنګانو ولايت ايبکو ته نږدې پــه (۴ او۵) ميلادي پېړۍ پــورې اړوند بودايي مجتمع او ستو په غلا شوې او لوټ شوې نه ده.

## بلخ:

**زوړ ښار:** د (۱۹۹۵م) کال له پټو پلټنو څخه د ای خانم يونــاني ستنو ته ورته ستنې لاسته راغلې، چې د شخصي کورونو د جوړولو لپاره ورڅخه کار اخيستل شوی دی. ناتاييد شوي راپورونه د زياتو کشفونو خبرې کوي.

**د نهو ګنبدو جومات: ساساني دوره (۹) میلادي پېړۍ:** د ساتنې دېوال يې د نړېدو او د ګچو برخه يې د اوبو د تويېدو له خطر سره مخ ده او د ماتېدو له کبله يې يوه لیندۍ له خطرناک حالـت سره مخ شوې ده. بېړني ترمیم ته اړتیا لري.

**د خواجه ابونصر پارسا زیارت:** د تیموریانو د دورې د وروستیو وختونو اړوند، د هغه د ګنبدې د کاشیو ځینې برخې د توغندیو د لګېدو له امله بې ځایه شــوې دي. د (۱۹۷۴م) کــال ترمیمونــه د ناسمې ساتنې له کبله، له خطر سره مخ ده. د هغه داخلي برخــه نسبتاً قناعت بښونکې ده. په جنوبي لوري کــې د نــوي جومــات جوړول، د هغه اصل ډيزاين له منځه وړی دی.

**د سید سبحان قلی خان مدرسه:** د (۱۷ )م پېړۍ د وروستیو وختونو اړوند، په جدي ډول د نړېدو په حال کې ده.

**مزارشریف:**



**د حضرت علي کرم الله وجهــه روضه:** د (۱۵)مې مــیلادي پېــړۍ د تیمـــوري عصــــر وداني، د عصــري

**کاشیو له نویو ښکلاوو سره پرې له (۱۹۹۴م) کال راپه دېخوا نا فني کار روان دی. د هغې لوی چمن د سمنتو لــه کڅــوړو، مېزونــو او څوکیو څخه ډک دی.**

**د مزار په لویدیځ کې تخته پل: د (۱۹)مــې م پېــړۍ اړونــد جومات، باندینۍ برخه یې په نسبتاً ښه حالت کې ده، خو د داخلي برخو رنگمالي یې د ویجاړۍ له گواښ سره مخ ده.**

**د آقیني حوض: د اندخوی په شمال کې د (۱۶)مــې م پېــړۍ شاوخوا اړوند، د اوبو د یوې ژورې (۱۶) متره زېرمې پــر ســر (۱۶) متري گنبده، نوې رنگمالي شوې او ښه حالت لري.**

**د سرپل–امام خورد: د سلجوقیانو د وخت د یوولسمې میلادي پېړۍ اړوند، د داخلي ښکلاوو او غوره ډبرلیکنو لرونکی، ښه ساتل شوی دی.**

## د افغانستان ختیځ:



**هډه: جلال اباد ته نږدې له دویمې تر اوومې میلادي پېړۍ اړوند بودایي معبد او ستوپه پــه یو مجتمع کې، پــر (۱۹۸۱م) کــال د**

ځګړو له کبله ویجاړه شوې، په ټولیز ډول یې ټول اثار ورو ورو له منځه وړل شوي. د یو نا منقول موزیم په توګه په اصلي حالت ساتل کېده، اوس ورځخه څه پاتې نه دي.

**غوچک:** جلال اباد په لویدیځ کې د (۱۶۱۰م) کال اړوند د مغولو د وخت بڼ او د شلمې پېړۍ اړوند د امیر حبیب الله بڼ او مـانۍ، د شلمې پېړۍ یوه مانۍ پر (۱۹۹۴م) د معروف په نوم د یو افغاني نـا حکومتي سازمان ( د نړۍ د خوړو او کرنې سازمان) پـه مرسـته ترمیم شوه.

## د افغانستان جنوب:



### د هلمند ناوه:

پـــه بســـت او لښکري بازار کـې د (۱۲)مې م پېـړۍ د غزنویـانو د وخــت ژمنـــۍ مـــانۍ او بالاحصار، تر ځګړې دمخـــه د بســـت تشـــریفاتي لینـدۍ تــرمیم او تراوســه پورې هغې ته د کوم جدي زیان د رسېدو خبر ترلاسه شوی نه دی.

**کندهار- د اشبوکان بڼ:** د کندهار په زاړه ښار کې ارامیک او یوناني دوه ژبی یو ډبرلیک چې (۳) ق م پېړۍ پورې مربوط دی په خپل اصلي حالت موجود و. د هغه په باب معلومات په لاس کې نه شته.

**چهل (څلوېښت) زینه:** د (۱۶)مې میلادي پېړۍ اړوند له ډبرې څخه د څلوېښتو پوړیو جوړه یوه زینه، چې د ظهیرالدین محمد بابر د لارښوونې له مخې د جوړ شوي ډبرلیک له محوطې سره نښلي، د هغو په باب معلومات په لاس کې نه شته.




**د احمد شاه بابا مقبره (۱۷۷۲م):** بهرنۍ برخه یې ډېره استادانه مهندسي او په داخل کې نقاشي لري چې په ښه حالت کې ده.

## د میرویس نیکه مقبره (۱۷۱۵م):

**پر (۱۹۳۰م) کال د احمدشاه بابا د مقبرې په شان جوړه شوې ده؛**




**د باندې د ښې مهندسۍ او په داخل کې د نقاشۍ لرونکې ده، چې شاوخوا یې د کوکران د بڼ په واسط احاطه شوې او ښه ساتل شوې ده.**


فلسفه
او
فلسفي بهیر
لیکوال
پوهندوی دوکتور ناظر حسین افغانیار
ژباړن
محمد اسمعیل یون
۱۳۹۴ لمریز کال

# فلسفه او فلسفي بهير

(د دوکتورا پروګرام لپاره)

ليکوال

## پوهندوی دوکتور ناظر حسين افغانيار

ژباړن

## محمد اسمعيل يون

۱۳۹۴ل کال

# بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه:


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | فلسفه او فلسفي بهیر |
| لیکوال: | پوهندوی دوکتور ناظر حسین افغانیار |
| ژباړن: | محمد اسمعیل یون |
| خپروندی: | د افغانستان ملي تحریک، فرهنګي څانګه |
| وېبپاڼه: | www.melitahrik.com |
| کمپوز/ډیزاین: | ضیاءالرحمن ضیاء |
| پښتی ډیزاین: | فیاض حمید |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چاپکال: | ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م |
| د ژباړن د خپرونو لړ: | (۴۴) |
| د خپرندوی د خپرونو لړ: | (۹۹) |

## د تحریک یادښت

د افغانستان ملي تحریک د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریک دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریک په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریک ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سلو عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریک هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریک له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور وداني ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه

# دا ژباړه او څو خبرې

پر (۱۳۹۲ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو او دري څانګو کې د دوکتورا دورې پروګرام پیل شو، دا د کابل پوهنتون په تاریخ کې لومړی ځل و چې یادو څانګو د دوکتورا پروګرام حق ترلاسه کړ. د تدریسي پروګرام یا کریکولم له مخې د (فلسفې) مضمون د لومړي ټولګي په دویم سمستر کې شامل و. استاد (دوکتور ناظر حسین افغانیار) دې خیر یوسي د تدریس په پیل سره یې خپل لیکلی کتاب زموږ مخې ته کېښود، کتاب چاپ شوی نه و یوازې کمپوز شوی و، کېدی شي ایله څو ګوتو په شمار نسخې یې د دواړو څانګو د یاد پروګرام د محصلینو لپاره برابرې کړې وي. کله چې ما دا کتاب وکوت، نو خوښ مې شو، هغه وخت ما استاد (افغانیار) سره ژمنه وکړه که خدای کول دا کتاب به زه له (دري) څخه (پښتو) ته راژباړم، موخه مې دا وه چې په پښتو ژبه دا ډول فلسفي، شننیز او معلوماتي کتابونه خورا کم دي. بل غرض مې دا هم و، کوم محصلین چې په راتلونکي کې د دوکتورا پروګرام تعقیبوي، هغوی ته به دا چانس پرابر شي چې په خپله ژبه ورته کتاب وروړسېږي، استاد افغانیار هم خورا خوښ شو، څو پاڼې مې همغه وخت وژباړلې، بیا راباندې کارونه زیات شول، له یو شمېر نورو کارونو سره دا کار هم راڅخه څنډې ته شو، خبره (دیارلس سوه دري نویم او څلور نویم کال) ته ورسېده، خو بیا هم دا مجال پیدا نه شو چې دا کتاب وژباړم. د (۱۳۹۳ ل) کال په وروستیو کې موږ خپل ولس سره ژمنه کړې

وه، چې د (۱۳۹۴ل) کال تر پايه پورې به انشـــاء الله د خـــدای (ج) پـــه مرسته او د خپل ولس په همت په بېلابېلو برخو کې (سل عنوانه) مهم اثار چاپوو او خپل ولس ته به يې ډالۍ کوو. (۱۳۹۴ ل) کال نيمـــايي تـــه ورسېد، خو د کتابونو د راټولونې او چاپ بهير لا (لس سلنه) نه و بشپړ شوی، د همدې کال په وروستيو شپږو مياشتو کې مو کار ته کار ووايه، د نورو ملګرو تر څنګ زه (يون)، (ضياء الرحمن ضياء) او (فياض حميـــد) درې واړه د کتابونو په کار کې ډوب شو، د همدې شپږو مياشتو په بهير کې مې د پوهاندۍ علمي رتبې لپاره هم اثر بشپړاوه او د ترفيع پر کارونو هم مصروف وم، خپل (اته عنوانه) ناچاپ کتابونه مې هم ايډېټ کول او چاپ ته تيارول، نور ګڼ ټولنيز او خيريه کارونه مې هم پـــه مخکـــې وو، لنډه دا چې د کارونو باران وو، دا مهال مې د فلسفې د دې کتاب ژباړې ته هم هوډ وکړ.

د (۱۳۹۴ ل) کال د کب پر (۱۸) مه نېټه ددې کتاب له ژباړې خلاص شوم، ورسره مې د کمپوز او سمون چارې هم ترسره کړې، خو دا سمون د نورو کتابونو د سمون په شان څکه نه و چې وخت کم او کارونه زيات وو؛ د نورو کتابونو په سمون کې زه ډېر زيات وخت او انرژي لګـــوم، ان داسې کتابونه هم شته چې تر (شلو څلو) زيات مې کتلي او سمون مې په کې راوستی، خو دې اثر ته ددې مهال او مجال پيدا نه شو، تر کمپوز وروسته مې يوازې دوه څله وکتلای شو، نو طبيعي خبره ده چې د زياتو تېروتنو اټکل په کې شته، ددې ترڅنـــګ پـــه ژبـــاړه کـــې هـــم د ډېـــرو

نیمګړتیاوو او تېروتنو اتکل کېدی شي، په پښتو کې د ډېـرو فلســفي کتابونو د نشتوالي له امله د فلسفي اصطلاحاتو او مفاهیمو ژباړه طبعاً خپلې خپلې ستونزې لري. د کتاب په (دري) متن کې هم ځینې مفاهیم او اصطلاحات ډېر واضح نه وو، د هغو ژباړې هــم ټولــه مانــا نــه شــوه راخپلولای.

فلسفي مفاهیم پېچلي دي، په ژباړه کې د هغو د ماناوو پوره لېږد هم تر یوه بریده ستونزمن کار دی، د دې اثر په دري متن کې داسې برېښي چې له ځینو ایراني اثارو څخه هم ګټه پورته شوې، ایران کې اکثره اثار له نورو ژبو ژباړل شوي وي، نو کله چې یوه محتوا یا اصطلاح له نورو ژبو ایرانۍ فارسۍ او بیا له هغې څخه افغاني دري، بیا له دري څخه پښتو ته وژباړل شي، طبیعي خبره ده چې مانا یې پر خپل همغه لومړني قوت نه پاتې کېږي. له کوم دري متن څخه چې ما ژباړه کوله په هغه کې هم په ځینو برخو کې متن روڼ نه و، کتاب هم پر بېلابېلــو څپرکــو، غټــو او څنګزنو عنوانونو نه و وېشل شوی، ټولو عنوانونو مسلسله او څنګزنــې بڼه درلوده. ما عنوانونه هم مشخص کړل او  د مخونو سرته مې راوړل، د کتاب عنوان چې یوازې (فلسفه) و، هغه مې هم په (فلسفه او فلســفي بهیر) ځکه واړاوه چې په دې اثر کې همدا دواړه محتويات څېړل شوي دي. د مهمو فلسفیانو عکسونه چې پیدا کېدل یې شوني وو، هغه مو هم ورسره مله کړل، هڅه مو وکړه چې له ټکي پر ټکي ژباړې څخه ځان لرې

کړو، خو بیا هم په ځینو برخو کې د ناسمې ژباړې اغېزې پر خپل ځـای پاتې شوې.

که وخت وای او دا ژباړه مې (۷- ۸) ځله نوره هم ایډېټ کړې وای، نو پوره باور دی چې یوه ښه او معیاري ژباړه به ترې جـوړه شـوې وای. اوس چې د وخت لنډون د زیات سمون مجال رانه کړ، د دوکتورا دورې له محصلینو او درنو لوستونکو څخه په ډېر درنښت هیله کوم چې ددې اثر د لوستلو پر مهال ټولې ژبنۍ، مانیزې، چاپي او نورې تېروتنې په نښه او له ما سره یې شریکې کړي، هیله لرم ددې کتاب د بیا چاپ پر مهال دا سمون په پام کې ونیسم او دویم چاپ کې ترې کره اثـر ټـولنې تـه وړاندې کړم. ددې خبرې یادول هـم ضـروري دي چــې ددې اثـر لــه محتویاتو سره زما د فکر او عقیدې توافق او یا نه توافق څکه شرط نــه دی چې دا د یوې پخوانۍ زمانې فکري او فلسفي جریانونه دي چې اوس د تاریخ برخه ده، زما له اندود او ګروهې سره څه تړاو نه لري. نور نــو د لوستونکو او د اثر تر منځ خنډ نه ګرځم، هیله ده په هره علمي برخه کې هېواد ته ډېر علمي، څېړنیز او شننیز اثار وژباړل شي او زمــوږ د ملــي فرهنګ او علمي بڼ ښکلا پرې زیاته شي.

د همداسې یوه مهال په ارمان

په درناوي

محمد اسمعیل یون

# سریزه

د یونان یو فیلسوف چې (دوه زره) کاله وړاندې یې ژوند کاوه، په دې اند و چې فلسفه د انسان له هیښتیا یا حیرت څخه راټوکېدلې ده. هغه باور درلود چې فلسفي پوښتنې په خپل سر راپیدا شوې دي، ددې علت دادی چې د انسان ژوند ډېر عجیب وغریب جوړښت لري.

د (فلسفې) عبارت د کلمې په اساسي او رښتینې مانا له پوهې سره د مینې په مانا دی. په دې تعبیر نو فلسفه له انتقال وړ بشري پوهې او علمي زېرمو سره د مینې او څېرتیا مانا لري. (سقراط) وايي، فلسفیان همغه دي چې یوازې له پوهې سره د مینې کولو ادعا لري او نه دا چې وايي خپله له پوهې برخمن یم.

فلسفه په اصل کې د حقیقت د پلټنې لپاره د تفکر نوې بڼه ده، چې تر میلاد (۶۰۰) کاله وړاندې په یونان کې پیل شوې ده. د فلسفې تر ټوکېدو وړاندې بېلابېل ادیان وو چې د خلکو ټولې پوښتنې یې ځوابولې. دا پوښتنې، ګروېږنې او څرګندونې سینه په سینه له یوه پښته بل ته لېږدېدلې. انسان د تاریخ له همغه پیله هڅه کړې د خپل ژوند، تقدیر (برخلیک)، تېرو او راتلونکو مسایلو ته د اسطورو له مخې ځواب ووايي.

اسطوره په اصل کې د خدایانو په باب داسې داستان دی چې ددې څرګندونه کوي، ژوندون په دې ډول دی ولې دی؟ د ټولو اساطیرو اساسي موضوع د نېکیو او بدیو ترمنځ جګړه ده. د زرګونو کلونو په بهیر

کې اسطورو د فلسفې په رګ رګ کــې ریښــې ځغلــولي دي. یونــاني فلسفیانو غوښتل ثابته کړي چې دا څرګندونې معتبرې نه دي او انسان نه شي کولای پر هغو باور وکړي.

پوهانو زیاتره اسطورې د طبیعت د پدیدو د توضیح لپــاره لــومړنۍ هڅې او لنډه دا چې د یوې بدوي پوهې په توګه انګېرلې. فلســفیان او الهیون لېوالتیا لري چې اسطوره یوه فلســفه یــا بــدوي دیــن وګڼــي. مورخین او هغه کسان چې تاریخي لید لري، اسطوره یې داســتانونه د تاریخي پېښو نیم هېر شوي رسوبات ګڼي چې په دې ډول د یو قوم په ذهن کې پاتې شوي دي. بشر پوهان او ټولنپوهان باور لري، اســطورې هغه بدلونونه دي چې د ټولنې په جوړښــت کــې پــېښ شــوي دي. د شاعرانو او هنرمندانو په نظر اسطورې د ذهني انځورونــو داســې یــوه خزانه ده چې باید په خپل هنر کې ورڅخه ګټه پورته کړي.

ددې لپاره چې د فلسفیانو لومړني نظریات درک کړو باید د نــړۍ د اسطوره یي تصور مفهوم ترلاسه کړو.

په پخوا زمانو کې داسې باور موجود و چې ځمکه د غویي پر ښــکر ولاړه ده، غویی پر کب ولاړ دی او کب هم په اوبو کې اوســي. د زلزلــې لامل هم دادی چې غویی ځمکه له یوه ښکره بل ته ګوزار کړي، نو دې وخت کې ځمکه پر ښورېدو شي. په مصر کې داسې یوه عقیده وه چې د (نیل) رود توپاني کېدل د خدایانو د غوسې زېږنــده ده، نــو بیــا یــې د خدایانو د غوسې د کېنولو او درود د مستۍ د کمولــو لپــاره پېغلــې او ښکلې نجونې د قربانۍ په ډول د رود مستو څپو ته ګوزارولې او یا هــم زمورږ په هېواد کې تر اوسه هم کله چــې لمــر او ســپوږمۍ کســوف او

خسوف (پوروړي) نیسي نو ان تحصیل کړي اشخاص هم دا د خدای(ج) قهر ګڼي، د عوامو په اصطلاح دعاګانې او خیراتونه کوي چې دا بلا پــه خیر سره تېره شي. په داسې حال کې چې د ښوونځي د شــپږم او اووم ټولګي هر زده کوونکی پر دې پوهېږي چې خسوف او کسوف څه شــی دی او ولې پېښېږي!؟

د زلزلې، سېلاب او توپان په شان پېښو، ناڅاپي مرګونو، تېر خلک له وېرې، ډار او وحشت سره مخامخول. هغوی خپل انځورونه د پوښتنې په چوکاټ کې د خپلو افسانوي خدایانو پر وړاندې مطرح کول. هغوی دې پوښتنو ته اړتیا لرله، چې ځمکه ولې ښرخي او خوځېږي او یا هم ولــې اورښت اوري؟ ایا زلزله ددې لپاره ده چې په ځمکه کې چاودنه رامنځته کړي؟ د اورښت د نه اورېدلو علت دادی چې (تور) ویده شــوی او یــا د (تور) ګرز ورک شوی دی. د اروپا په شمال (سکنډنډوي) هېوادونو کې خلکو (تور) د حاصلخېزۍ خدای ګاڼه، نو ځکه دې پوښتنې ته چې ولې اورښت کېږي؟ اسطوره یې ځواب دا و چې (تور) خپل ګرز خوځولی دی.

بزګرانو ته څرګنده نه وه چې بوټي ولې زرغونېږي او ونې ولې مېوې کوي، خو په هر حال دا معلومه وه چې دا موضوع له اورښت سره اړیکي لري. سربېره پر دې خلکو باور درلود چې باران له (تور) سره تړلی، لــه همدې کبله (تور) د اروپا د شمال له ډېرو مهمو خدایانو څخه ګڼل کېده.

اسطوره یې داستانونه د فلسفي تر نیوکې او تردید وړاندې، په ټوله نړۍ کې موجود وو، ان په یونان کې مخکې تر دې چې لومړني فلسفیان راوټوکېږي، د نړۍ د شتوالي یو اسطوره یې انځور موجود و. د پېړیو په بهیر کې د خدایانو داستان له یوه پښت څخه بــل تــه انتقــال شــو. دا

خدایان په یونان کـې د (زیـوس، اپولـون، هـرا، آتنـه، دیدنوسـوس، اسکلپیوس، هرکول او هفیستوس) په نومونو یادېدل.

تر میلاد شاوخوا (۷۰۰) کاله وړاندې (هومر) او (هسیود) د یونـان د اساطیري خزانو یوه غټه برخه نقل کړه. دې کار یو نوی موقعیت رامنځته کړ. د اسطوره یې داستانونو ثبت ددې سبب شو چې د هغو په باب بحث پیل شي. د یونان لومړنیو فلسفیانو پر هغو خدایانو چې (هومر) معرفي کړي وو، نیوکه وکړه. ځکه چې دا خدایان تر حده زیات انسانانو ته ورته وو، رښتیا هم هغه خدایان زموږ په شان ځانغوښتونکي وو او د باور وړ نه وو. د لومړي ځل لپاره د بشر په تاریخ کې وویل شـول چـې شـاید دا اسطورې د انسانانو له تصوراتو پرته بل څه نه وي.

د اساطیرو پـر وړانـدې ددې ډول نیوکـو بېلګـې کېـدی شـي د (کسنوفانس) په اثارو کې ووینو. هغه چې تر میلاد (۵۷۰) کاله وړانـدې زېږېدلی و، په دې نظر و چې انسان خپل خدایان د خپل ځان د بېلګې یا پیغام له مخې ټوکولي او پنځولي دي.

((هغوی مړه کېږي، زېږي، کالي اغوندي، خوراک کوي او له انسانانو سره ورته خبرې لري. (حبشیانو) خپل خدایان تور پوستي او پلن پوزي تصورول. (تراکیانو) خپل خدایان اوبرنګسترګي او سور ویښتاني ګڼل. که چېرې غویو، اسپونو او زمریو لاسونه درلودلای، نقاشي یې کـولای شوای او د انسانانو په شان یې کار کولای شوای، اسپونو به هـم خپـل خدایان د اسپونو او غویو به د غویانو په شان انځورول او د هغوی جسم به یې د خپل ځان په بڼه انځوراوه.))

# د فلسفې مفهوم او تعریف

د (فلسفې) دقیق تعریف عملي بڼه نه لري او ددې کار لپاره هڅه لږ تر لږه په پیل کې له سرې څخه لاره ورکوي. کېدی شي کـوم څـوک د پېغور له مخې هغه تعریف کړي چې هر څیز دی یا هم هېڅ څیز نه دی او موخه یې دا وي چې له ځانګړو علومو سره د فلسفې توپیر دادی چـې فلسفه هڅه کوي تر کومه حده چې کېدی شي ان له ټولـو واقعیتونـو څخه د انسانانو د تفکر ټولیز تصویر وړاندې کړي، خو پـه عملـي ډول حقیقت دادی هغه څه چې ځانګړي علوم یې موږ ته په واک کې راکوي، تر هغه زیات څه نه وړاندې کوي. ان تر دې ځایه چې د ځینو پـه نظـر، فلسفې ته بالا تر دې زیات نور څه نه پاتې کېږي.

د مسلې دا ډول ارزونه او انځورنه له سرې څخه لاره ورکوي، خو په همدې حال کې دا خبره هم باید ومنو چې فلسفه تر اوسه پورې په دې برخه کې خپلو لویو ادعاوو ته نه ده رسېدلې او یا هم د علومو او پوهې په پرتله یې د پېژندنې، منښت عام توافق ترلاسه کړی نـه دی پـه دې برخه کې فلسفه بریالۍ نه ده. دا کار تر یوه حده، نه په ټولـه کـې، دې پورې اړه لري چې هر کله د یوې مسلې په باب د یو چا نظر قبول شوی، هغې مسلې په علمي حوزې پورې اړه لرلې ده، نه په فلسفې پورې.

د (فیلسوف) کلمه هم لـه لغـوي پلـوه د (پـوهې) یـا (حکمـت) خوښوونکي په مانا ده او د هغې اصل هم د (فیثاغورث) له هغه نـامتو ځواب سره اړه لري چې هغه، هغه چاته ورکړی و چې ده ته یې (حکیم)

ویلی و. فیثاغورث د هغه شخص پــه ځــواب کــې ویلــي وو چــې دده (حکیمېدل) یا پوهېدل یوازې په دې کې دي، پوهېږي چې پر څــه نــه پوهېږي. ځکه نو باید ده ته (حکــیم) نــه، بلکــې د پــوهې (حکمــت) خوښوونکی وویل شي.

د (حکمت) کلمه دلته د تفکر په کوم خاص ډول پورې محــدوده او منحصره نه ده او فلسفه هم هغه څه چې موږ یې نن د ((علومو)) په نامه یادوو، په هغو کې شاملېږي. د فلسفې د کلمې د کــارونې دا ډول اوس هم (د طبیعي فلسفې مقام) په شان عبارتونو کې پاتې ده.

هر کله چې ورو ورو په ځــانګړو برخــو کــې د تخصصــي پوهنــو او خبرتیاوو کچه زیاتېدله، په هغه برخه کې څېړنه او مطالعه له فلســفې څخه جلا کېدله او د پوهنې ځانګړې څانګې یې جوړولې. ددې پوهنــو وروستۍ څانګې ارواپوهنه او ټولنپوهنه وه. په دې ډول نو د نورو علومو په پرمختګ سره د فلسفې حدود را لنډ شول، نو ځکه موږ هغه مسایل چې کولای شو د تجربو له مخې هغو ته ځواب ووایو، فلسفي مسایل نه ګڼو. خو دا په دې مانا هم نه ده چې فلسفه نو ګرد سره له هــېڅ ســره برابره ده. د پوهنو بنسټونه، د انساني تجربې او د واقعیت ټولیز تصویر او تر هغه ځایه چې موږ کولای شو د موجهو عقایدو په واسطه هغو ته لاره پیدا کړو، دا ټول د فلسفې په حدودو کې پاتې کېــږي. ځکــه چــې دا مسایل د ماهیت او طبیعت له مخې د ځانګړو علومو په هېڅ ډول طریقو سره د څېړنې او پلټنې وړ نه دي. که څه هم دا ټکی، چې فلســفیان د

پورتنیو مسایلو په باب یو ټولیز توافق ته سره نه دي رسېدلي، تر یــوه حده بد لید رامنځته کوي، خو نه شو کولای له دې څخه داسې نتیجــه ترلاسه کړو چې هر چېرې کومه غوښه او د عام منښت وړ نتیجه ترلاسه نه شي، په هغه برخه کې کوښښ او هڅه بې ګټې ده. کېدی شــي دوه فلسفیان چې یو بل سره توافق نه لري، دواړه ارزښتمن اثــار رامنځتــه کړي، په همدې حال کې کېدی شي خطا او تېروتنه هــم وکــړي، خــو نظرونه به یې د یو بل بشپړوونکي وي. له دې واقعیت څخه چــې د یــو فلسفي شتوالی د نورو فلسفیانو د کار د بشپړاوي لپاره ضروري دی، دا نتیجه اخیستل کېږي چې فلسفه یالنه یوازې یو فردي او شخصي کار نه دی، بلکې یو ډله ییز خوځښت دی. یوه برخه هم د کار ګټــور وېــش او هغه ټینګار دی چې مختلف اشخاص یې له مختلفو لیدلورو څخه د یوې واحدې مسلې په باب لري. د فلسفي مسایلو ډېری برخــه د شــیانو او چارو په باب زموږ د علم د چلند په اړه ده، نه په خپله د شیانو او چارو په اړه.

دا هم په دې اړه یو بل دلیل دی چې فکر کېږي فلسفه محتــوا نــه لري. خو د (حقیقت) د وروستیو معیارونو په شان بحثونه کېدی شي د کارونې پر مهال، د هغو پېښو په ټاکنه کې چې په عمل کې یې رښتینې ګڼو، پر موږ اغېز وکړي. د (پېژندنې) د نظریې په باب فلسفي بحثونو پر علومو باندې په نامستقیم ډول ډېر اغېز کړی دی.

# د فلسفې د مطالعې ګټې

اکثره خلک چې له (فلسفې) سره د چلند په برخه کې کومه پوښتنه مطرحه کوي، داده چې د (فلسفې) ګټه څه ده؟ ددې هیلــه نــه شــي کېدی چې فلسفه دې د مادي ګټې له ترلاسه کولو سره مرسته وکړي، خو که چېرې موږ داسې ونه ګڼو چې مادي پانګه یا ثــروت یــوازې یــو ارزښتمن څیز دی، د پانګې یا ثروت په مستقیم تولید کــې د فلســفې کمزوري ددې مانا نه ورکوي چې هغه هېڅ علمي ارزښت نه لري.

مادي ثروت په خپل ذات کې کوم ارزښت نه لري. د ساري په توګه د کاغذ یوه ګېډۍ که په هر نوم یاده کړو، په خپل ذات کې کوم ښه او یــا خراب شی نه دی، خو که دا کاغذ زموږ د خوشالۍ سبب شي، نو بیا ښه ورته وایو. په دې کې شک نه شته د هغو کسانو لپاره چې غــواړي لــه خوښۍ او سوکالۍ څخه برخمن شي، یوه مهمه سرچینه، د حقیقــت او تفکر پلټنه او د واقعیت په باب څېړنه ده، دا هماغه موخه ده چــې یــو فیلسوف یې غواړي. سربېره پر هغو کسانو چې له یوې نظریې ســره د لېوالتیا په خاطر ټول خوندونه یو ډول ارزوي او هغه کسان چې دا ډول

خوندونه یې په اصولو کې تجربه کړي، دا تر ټولو خوندونو لوړ او خوندور خوند ګڼي. تر کومه ځایه چې ټول صنعتي محصولات، له هغو پرته چې د اړتیاوو د خړوب لپاره ضروري دي، نور یوازې د راحت او لـذت د پیــدا کولو سرچینې ګڼل کېږي. فلسفه د خپلې ګټورتیا له مخې کولای شي له ډېرو صنایعو سره سیالي وکړي. په تېره بیا کله چې ګورو یــو شــمېر کسان خپل ټول وخت فلسفي څېړنو ته ځانګړی کوي. په کار ده چې یو شمېر استعدادونه د دې کار لپاره وګومارو. ان تر دې پورې چې هغــه د خوند او لذت د پیدا کولو لپاره یوازې یوه داسې ځانګړې سرچینه وګڼو چې خپل ذاتي ارزښت ولري (نه په خپله د فلسفیانو لپاره، بلکې د هغو کسانو لپاره چې له دې څخه زده کړه کوي او یا ترې اغېزمن کېږي.)

خو دا ټول هغه څه نه دي چې موږ یې د فلسفې د ملاتړ لپاره ویلای شو. ځکه له هر هغه ارزښت پرته چې له فلسفې څخه په خپل ذاتي ډول پیداکېږي او موږ اوس له هغه څخه تېرېږو، فلسفې تل د هغو کسانو پر ژوندانه ډېر مهم نامستقیم اغېز لرلی چې ان د فلسفې په باب پر هېڅ څه نه پوهېدل او د ویناوو، ادبیاتو، ورځپاڼو او ګړنیو دودونو له لارې یې د ټولنې د فکر له ودې سره مرسته کړې او د افــرادو د نــړۍ لیــد پــر څرنګوالي یې اغېز کړی دی.

هغه څه چې اوس د مسیحیت دین په نامه یادېږي، تر ډېره حــده د فلسفې تر اغېز لاندې اوډل شوی دی.

موږ باید د افکارو او عقایدو په باب چې د عمومي تفکر په برخه کې یې اغېزناک رول لوبولی او د یوې علمي پاپلې یا فرضیې په توګه یې په خپله ځانګړې ساحه کې باور ترلاسه کړی، ټول له کوم قید او شرط پرته

فلسفي حقيقت ونه ګڼو. د ساري په توګه نه شو کولای ووایو چې فزيکي زمان له مکان څخه د انفکاک یا توپير وړ نه دی، لکه څنګه چې يې نن د فزيک علم ادعا کوي، نو ځکه پر زمان باندې د مکان تقدم یو فلسفي اصل دی. ځکه خو کېدی شي دا خبره د فزيکي زمان په باب رښتيا وي، هغه په دې دليل چې د فزيکي زمان کچه په مکان کې معلومېږي. موږ بايد په ډېرو برخو کې د فلسفيانو منندوی اوسو، د بېلګې په توګه داسې نظريات چې له انسانانو سره بايد د وسايلو په توګه چلند ونه شي او يا هم دا چې حکومت بايد د هغو خلکو په خوښه وي چې حکومت پرې کېږي.

دا اغېزې په تېره بيا په سياسي ډګر کې مهمې دي، د ساري په توګه د امريکا اساسي قانون تر ډېره بريده د يوه فيلسوف (جان لاک) د نظرياتو د عملي کولو بېلګه ده. يوازې په دې توپير چې په هغه کې ولسمشر د موروثي پاچا ځای نيولی دی. لکه څنګه چې د فرانسې د (۱۷۸۹م) کال په انقلاب کې د (روسو) د افکارو پر وړاندې توافق موجود دی.

دې کې هم شک نه شته چې فلسفه کله کله پر سياست ناوړه اغېزه کوي. په المان کې د نولسمې پېړۍ فلسفيان په دې هېواد کې د افراطي ملتپالنې د ګناه مسوليت پر غاړه لري. که څه هم د دې برخې په غندنه کې زياتره اغراق شوی، ځکه چې د مسلې د پېچلتيا له امله د هغې د بريد او پولې ټاکل ستونزمن کار دی. خو که بدې فلسفې پر سياست ناوړه اغېز درلودلی، خو په مقابل کې يې ښې فلسفې بيا پر سياست ښه اغېز کړی دی. موږ په هېڅ ډول نه شو کولای پر سياست د فلسفې له

اغېز څخه منکر شو، خو باید په بشپړ ډول دې خبرې ته پاملرنه وکړو چې کوم فلسفي مفاهیم کولای شي پر سیاست مثبت اغېز وکړي، نه منفي، نړۍ به څومره له کم زحمت سره مخامخېدلـه، کـه المانیـان د نازیزم (نژادپالنې) پر ځای د بلې فلسفې تر اغېز لاندې راغلي وای؟

کوم څه چې مخکې تېر شوي هغو ته په کتو سره اوس نـو بایـد دا باور، چې فلسفه د مادي پانګې په کچه ارزښت نه لري، یوې خواته کړو. د یوې بدې فلسفې پرځای یوه ښه فلسفه پر سیاست باندې د تاثیر له مخې کولای شي ان موږ سره په دې برخه کې، چې څنګه کـولای شـو پانګوال شو، هم مرسـته وکـړي. سـربېره پـر دې، د پـوهې مـخ پـر زیاتېدونکې وده او د هغې عملي ګټه د هغې په فلسفي چاپېریال پـوره اړه لري.

ان دا مطلب چې (له شک پرته مبالغه هم په کې شته) ویل شوي د تمدن ټول پرمختګ د هغه بدلون زېږنده دی چې د علیت لـه مفهـوم څخه راټوکېدلي، یانې بدلون د هغه له جادویي او خرافاتي مفهوم څخه علمي مفهوم ته، علت ګڼل کېږي او له شک پرته د علیت مفهوم یـوه فلسفي مسله ده. په خپله علمي نړۍ لید هم یوه فلسفه ده او فلسفیانو تر ډېره بریده د هغه په اوډنه کې لاس لرلی دی.

خو که چېرې فلسفه موږ په غته کچه داسې وسیله وګڼو چـې پـه نامستقیم ډول د مادې د پیداکولو لپاره کارېږي، نو د فلسفې لپاره به مو ښه لیدلوری نه وي غوره کړی. د فلسفې اساسي نقش د یوه تمـدن د بهرنیو او محسوسو مظاهرو لپاره د فکري او عقلي زمینـو د رامنځتـه کولو او د هغه باب له ځانګړو نظرونو څخه عبارت دی.

کله کله د فلسفې د نقش په باب غښتې ادعاوې هم شوي دي. (وایته) په اوسني وخت کې هغه لوی متفکر دی چې فلسفه پــه افراطــي بڼــه ستایي. دی د ژوند د ارزښتونو په باب د بصیرت پنځونه، لرلید او ادراک د فلسفې بریاوې ګڼي او لنډه دا چې د بشر ټولې هغه هڅې چې د یوه تمدن په جوړونه کې راټولې شوي او هغه ته ژوند ښني، فلسفه ګڼي. دی زیاتوي کله چې یو تمدن د خپل ژوند وروستي پړاو تــه رســېږي، کــه چېرې واحد، انډولیز او د ټولنې پر ټولو برخو خور نه وي، په خپله فساد، تباهۍ او د ټولو هڅو او کوښښونو زوال ته لاره اواروي. هغه ته فلسفه له دې پلوه اهمیت لري چې د مسایلو په اړه د یوه فرد د شخصیت بنستیز لوری ټاکي، د هغه باورونه څرګندوي او د شخصیت هسته ټاکي.

په هر ډول دا ټکی څرګند دی چې د یوه تمدن اساسي ځانګړنه تــر ډېره حده د ژوند او واقعیت په اړه د هغه له ټولیز لید سره تړاو لري. دا خبره تر دې وروستیو پورې خلکو ته د دیني زده کړو له لارې په ګوتــه کېدله، خو په خپله دیني لیدلوری هم تر ډېره بریده د فلسفي تفکر تر اغېز لاندې و. سربېره پر دې، تجربې په ډاګه کوي، هر وخت چې مذهبي عقاید د عقل په وسیله تر څېرنې او بیاکتنې لاندې ونه نیول شي، ســر یې خرافاتو ته رسېږي. هغه کسان چې دا ډول مذهبي عقیده مــردوده ګڼي، هغو ته هم په کار ده (که کولای شي) باید خپــل نــوی لیــدلوری وړاندې کړي چې د مذهبي باور ځایناستی شي. پر دې کار لاس پــورې کول په خپله یوه فلسفي چاره ګڼل کېږي.

علم نه شي کولای د فلسفې ځایناستی شي، خو کولای شي فلسفي مسایل مطرح کړي، ځکه چې علم ظاهراً نه شي کولای موږ ته ووایي، له

هغو پېښو سره چې ورسره سروکار لري، د چارو او شـيانو پـه تـوليزه طرحه کې څه موقعيت لري، ان تر دې چې د هغو خلکو له ذهن ســره، چې دا څيزونه ګوري څه ډول اړيکي ټينګوي. علم نه شي کولای ان د مادي نړۍ شتوالی ثابت کړي (که څه هم د هغې په باب فرضيې وضـع کوي) او يا د هغو وړاندوينو په باب چې په راتلونکي کې به پېښې شي، د استقرايي اصولو د کارونې سموالی او يا په هر حال کې چې څــه کتــل کېږي، تر هغو اخوا څه ثابت کړي.

هېڅ علمي ازمېښتځای نه شي کولای ووايي چې انسان د کومې مانا له مخې روح لري؟ ايا نړۍ هدفمنده ده که نه؟ ايا انسان خپلواک دی که نه؟ او که چېرې دی په کومه مانا؟ او دا ډول نور مثالونه. زه نه وايم چې فلسفه کولای شي دا مسايل حل کړي، خو که چېرې فلسفه نــه شــي کولای دا مسايل حل کړي، هېڅ بل شی نه شي کولای دا ډول کارونــه ترسره کړي. خو د فلسفې ارزښت په دې کې دی چې ددې ډول مسايلو د حلولو يا نه حلولو د وړتيا په باب څېړنې کوي. علم لکه څنګه چې يې ګورو، مفاهيم تل د يوې فرضيې په توګه ګني، چې دا مفاهيم په خپله د فلسفې په حوزې پورې اړه لري. موږ لکه څنګه چې نــه شــو کــولای د ځينو فلسفي مسايلو لپاره هېڅ علمي څېړنه، له څنګزنو ځوابونو پرته پيل کړو، په ډاډ سره ويلای شو چې د خپلې فکري ودې لپاره له هغــه علم څخه مناسبه ذهني ګټه نه شو پورته کولای. پرته له دې چې لږ تر لږه يو منسجم نړۍ ليد ولرو. که چېرې د نويو علومو پوهــانو لــه لويــو فلسفيانو څخه ځانګړې فرضيې نه وای ترلاسه کړې، هغه فرضيې چې دوی پرې خپل ټول کار دود ودرولی، د نويو علومو پرمختګونه يــې نــه

شول ترلاسه کولای. د نړۍ په باب مکاني انګېرنه چې د نوي علم د یوې ځانګړنې په توګه په تېرو درېو پېړیو کې پیدا شوې، تر زیـاتې کچــې د (دکارت) په نوم د یوه فلسفي د تعلیماتو زېږنده ده. دا مکاني لیدلوري چې حیرانوونکې پایلې یې رامنځته کړي، باید تر یوه بریده واقعیتونو ته نږدې وي، خو د هغو ځینې برخې هم د باور وړ نه دي، نو احتمالاً پوهان باید د یو بل فیلسوف مرستې ته سترګې پــه لاره وي چــې د پخوانیــو لیدلورو پرځای یو نوی لیدلوری رامنځته کړي.

(زمونږ په زمانه په تېره بیا د کره کتنیزې فلسفې په زمانــه کــې) د فلسفې بل ارزښتمن خدمت د همسویه او ناپېیلي قضاوت پــه بــاب د هغو لپاره د ملکې راټوکول دي او بل په دې باب چې په هره مسله کې، دلیل او برهان کوم یو دی او څه ډول دلیل باید تــر څېړنـــې او پلټنـــې لاندې ونیول شي، دا خدمت د بېړنیو پرېکړو او احساساتي پلویتوب د مخنیوي لپاره اهمیت لري، په تېره بیا د هغو سیاسي مجادلو په برخــه کې چې ناپېیلتوب په کې نه مراعتېږي، اړتیا ورتــه لیــدل کېــږي. پــه سیاسي مسایلو کې که د قضیې دواړه غاړې د فلسفي روح لــه مخــې خبرې وکړي، پر قوي اټکل سره به د دواړو غاړو د لیدلورو ترمنځ جګړه او خصومت رامنځته نه شي. د ولسواکۍ ځواک تر ډېره حــده پــه دې پورې تړلی، چې د یوې ټولنې غړي لــه ناســمو دلایلــو څخــه د ســمو استدلالونو په باب بیا کتنه وکړي او په التباسونو او ابهامونو کې خپلــه لاره ورکه نه کړي.

انتقادي فلسفه د ښه تفکر بېلګه رامنځته کــوي او لــه فــرد ســره مرسته کوي، چې ابهامات او پرېشاني له منځه یوسي. شاید همدا دلیل

دی چې (وایته) لکه څنګه چې مو دمخه په تېرو مخونو کې یادونه وکړه، وایي: ((فلسفه یوازې یوه طریقه نه لري، بلکې د بېلابېلو موضوعاتو په تناسب، بېلابېلې طریقې او لارې لري)) او ددې لارو چارو تعریف هم تر هغه وخته پورې چې په کوم ځای کې کارېږي او پر څه شي اطلاقېــږي، سم کار نه دی، ان تر دې چې دا کار ډېر خطرناک هم دی. په پخوانیــو وختونو کې هم تر ډېره حده هر هغه څه چې د ځانګړې طریقې له لارې د څېړنې وړ وو، له فلسفې څخه یې جلا کول او همدې کار پــه ناســمه توګه د فلسفې لمن راتنګوله.

فلسفه په خپله لمن کې بېلابېلو طریقو ته اړتیا لري، ځکــه ټــولې انساني تجربې باید شرح او تفسیر کړي. په همدې حال کې د فلســفې طریقه ابداً تشې تجربې نه دي، ځکه د فلسفې دنده داده، تر کومه حده چې شونې وي سربېره پر تجربه یې واقعیت، واقعیتونه راوســپړي او د انساني تجربو همغاړی تصویر وکاږي.

یوه بریالۍ ټولنه هغه وخت رامنځته کېدی شي چې ښوونه او رزونه په کې داسې عامه شي چې فرد ته فلسفي لیدلوری ورکړي. په داســې حال کې چې دا فرضیه باید شاته پرېږدو چې خلک په هغه فلسفه کې ژوند کوي چې موافق نظر ورسره لري. په داسې حال کې چې د خلکو یو زیات شمېر مخالف کارونه باید داسې ونه انګېرل شي چې د هغوی لــه ناپوهۍ او اشتباه څخه سرچینه اخلي، بلکې داسې باید وګڼل شي چې هغوی نه غواړي په ایډیالي او ارماني ډول ژوند وکړي. دا ټکی هم نه شو کولای رد کړو چې د ارزښتونو د نړۍ او طبیعت په باب ټولنیز عقایــد د انسان په پرمختګ او انحطاط کې خورا مهم اغېز لري. په داډ سره ویلای

شو چې د فلسفې ځينې برخې زيات عملي اغېز لري، خو داسې تصــور هم بايد ونه کړو چې ځينې څېړنې او مطالعې څرګندې عملــي نښــې نښانې نه لري، نو ځکه خو هېڅ بل عملي ارزښت هــم تــرې نــه شــي راوتلای. د تاريخ د راپوروونو پر بنسټ هغه عالم چې عملي ليدلورو ته د سپکاوي له امله پر خپل ځان وياړي، د نظري څېړنو په باب داسې وايي: (( ددې څېړنو تر ټولو غټ امتياز دادی چې د هېڅا لپاره د کارونې هېڅ عملي بڼه نه لري، خو دې سره سره دا څېړنې د (الکترسيته) د کشــف سبب شوې.)) د فلسفي مطالعاتو هغه برخه چې ظاهراً د کارېدنې عملي بڼه نه لري او بشپړ پوهنتوني بحثونه دي، کېدی شي زموږ پر نړۍ ليــد باندې هر ډول اغېز وښندي او په پای کې پر اخلاقو او مذهب ډېر اغېز وکړي.

څرنګه چې د فلسفې بېلابېلې برخې او زموږ د نــړۍ ليــد بېلابېــل اړخونه يو بل سره تړلي دي. دا کار لږ تر لږه په يوه ښه فلسفه کې يــوه موخه ګڼل کېږي، که څه هم دا داسې يو هدف دی چې تل نه ترلاســه کېږي. په دې ډول نو هغه مفاهيم چې ظاهراً له عملي ګټو او لېوالتياوو سره زيات واټن لري، کېدی شي د اړتيا پر وخــت پــر هغــو اړتيــاوو او لېوالتياوو چې له ورځني ژوند سره ډېر اړخ لګوي، اغېز وکړي. ځکه نو فلسفه له دې خبرې څخه چې د هغې عملي ګټه څه ده کومه وېره نــه لري. دې خبرې ته په پام سره زه هېڅکله هم د فلسفې په باب پــه يــو اړخيز ډول (پر اګماتيستي) ليدلوری نه منم. د فلسفې ارزښت يوازې د هغې د نامستقيم عملي اغېز لپاره نه دی، بلکې د فلسفې ارزښت پــه خپله په هغې پورې تړلی دی. د همدې عملي اغېز د تضمين لپــاره تــر

ټولو ښه لاره همدا ده چې په خپله د فلسفې لپاره د فلسفې په لټه کې شو. د حقیقت د پلټنې لپاره باید په ناپېیلي ډول هغه وپلټو. که څه هم کېدی شي تر هغه وروسته چې حقیقت مو ترلاسه کړ، د هغه له ګټــور عملي اغېز څخه هم برخمن شو، خو که ددې عملي اغېزو لپــاره بیــړه وکړو، کېدی شي هغه څه چې رښتیا هم رښتیني وي، هغه ته ونه رسو. په ډاډ سره ویلای شو چې نه شو کولای د فلسفې عملي اغېزې د هغې د حقیقت معیار وګڼو، عقاید له دې پلوه چې حقیقت لري، ګټور دي، نه دا چې ګټور دي حقیقت لري.

# د فلسفې اصلي وېش

فلسفه معمولاً پر لاندې فرعي موضوعاتو وېشل کېږي:

**۱- مابعدالطبیعي فلسفه:** ددې بحث هدف دا دی چې تر کومه حده انسان وس لري په ټولو وجوهاتو او تصوراتو کې واقعیت وڅېړي او مطالعه یې کړي. د هغې له ځینو مسایلو څخه یو څو پــه دې ډول دي: ((ماده (وجود) او ذهن یو بل سره څه اړیکي لري؟ کوم یو، یو تــر بلــه وړاندې وروسته دي، ایا انسان خپلواک دی؟ ایا نفــس جــوهر دی کــه یوازې د تجربو یوه ټولګه ده؟ ایا نړۍ متناهي یا ناپایه ده؟ ایــا خــدای شته؟ وحدت او کثرت له نړۍ سره څه اړیکي لري؟ نړۍ تر کومه ځایــه وحدت او همغږي لري او ترکومه ځایه اختلاف او ناهمغږي؟ د نړۍ نظام تر کومه حده پر عقل او پوهې ولاړ دی؟))

**۲- کره کتنیزه فلسفه:** د مابعدالطبیعي (یا نظري فلسفې لکه څنګه چې کله کله ویل کېږي) فلسفې پر وړاندې غالباً (کره کتنیــزه) فلسفه ولاړه ده. په دې فلسفه کې د متعارف عقل او علومو د مفاهیمو شننه او کره کتنه شامله ده.

علوم، ځانګړي مفاهیم د فرضیې په توګه غوره کوي، چې دا مفاهیم بیا په خپله په دې علومو کې نه شي کولای وڅېړي او وارزوي، ځکه نو یاد شوي مفاهیم د فلسفې حوزې ته داخلېږي.

له ریاضیاتو پرته نور ټول علوم په یو نه یــو ډول د طبیعــي قــانون مفهوم د یوې فرضیې په توګه ټاکي او ددې ډول قانون په باب څېړنه د فلسفې کار دی، نه د کوم بل هېڅ ځانګړي علم. په عادي ورځنیو خبرو اترو او نافلسفي مجادلاتوکې هم مونږ په یو نه یو ډول داســې مفــاهیم کاروو چې له فلسفي مسایلو سره اړه لري. د ساري په توګه: ماده، ذهن، علت، جوهر، عدد او نور مفاهیم.

ددې ډول مفاهیمو شننه او د هغو د دقیقې مانا ټاکنه او دا چــې دا ډول مفاهیم په متعارف عقل کې تر کومه بریده کولای شو په موجــه او معقول ډول اطلاق او استعمال کړو، د فلسفې لپاره یوه مهمه دنده ګڼل کېږي. د انتقادي فلسفې هغه برخه چې د حقیقت، د هغه د معیار او د هغه په اړه زمونږ د علم د څرنګوالي په باب بحثونه لري، معرفت پېژندنه (د پېژندګلوۍ نظریه) نومېږي. دا برخه دې مسایلو سره سروکار لري: د حقیقت تعریف (رښتیا) څه شی دی؟ علم او عقیده څه توپیر لري؟ ایا یقیني علم ممکن دی؟ د تعلق نسبي کړنې، حسي تجربه یي شواهد څه دي؟ ستاسو په لاس کې همدا کتاب همدغه دوه برخې چې د فلســفي مسایلو تر ټولو بنسټیزې او ټاکونکې برخې دي، څېړي. لاندې مسایل که څه هم له فلسفې سره توپیر لري او په خپله مستقل دي، خو د فلسفې د څانګو په توګه په دې کتاب کې ورته پام شوی او تر څېړنــې لانــدې نیول کېږي.

# د فلسفي مسایلو بحثونه

۱- که څه هم منطق د معرفت پېژندنې له بحثونو څخه جلا نه دی، خو معمولاً د یوې خپلواکې څانګې په توګه په پام کې نیول کېږي. منطق هغه علم دی چې د بېلابېلو قضیو په څېړنې پورې اړه لري او د هغــوی ترمنځ هغه اړیکي څېړي چې نتیجه ترې راوځي. ددغــه علــم ځینــې برخې له ریاضیاتو سره د پاملرنې وړ نږدېوالی لري او بله برخه یې کولای شو د معرفت پېژندنې یوه برخه وګڼو.

۲- عملي حکمت یا د اخلاقو فلسفه په لازمي ارزښتونو او مفهــوم پورې اړوندو بحثونو سره سروکار لري او دا ډول مسایل څېــړي: ((لــوړ خیر څه دی؟ د خیر تعریف څه دی؟ ایا د یوه کار ښه والی د هغــه پــه نتیجو پورې تړلی دی؟ ایا زموږه قضاوت د هغه څه په بــاب چــې بایــد ترسره یې کړو، عیني دی که ذهني: (زموږ د قضاوت معیــار عینــي یــا بهرنی دی که شخصي یا ذهني؟) مجازات څه ډول عمل دی؟ ایا مجازات د غچ اخیستلو لپاره دي او یا هم د بالقوې مجرمینو د مخنیوي لپاره؟ ایا موږ د مجازاتو له لارې مجرم او خطاکار سره عادلانه چلنــد کــوو: هــر څوک چې یو بد کار ترسره کړي باید د هغه ســزا ووینــي؟ د دروغــو د غندلو اصلي او وروستی دلیل څه دی؟))

۳- د فلسفې کارونې سیاسي فلسفه (په تېره بیا د عملي حکمــت برخه) د هغو مسایلو په اړه ده چې په یوه هېواد کــې د یــوه فــرد لــه غړیتوب سره اړه پیدا کوي.

سیاسي فلسفه له دې ډول مسایلو سره سروکار لري: ایا یو فــرد د دولت پر وړاندې څه حقوق لري؟ ایا ټولنه له هغو افرادو څخــه چــې دا

ورځخه جوړه شوې، له هغو پرته تر هغو پورته بل څه ده؟ ایا ولسواکي د حکومت کوم ښه ډول دی؟

۴- ښکلا پوهنه، د هنر او ښکلا په باب د فلسفې کارونه ده او له دې ډول مسایلو سره سروکار لري: ایا ښکلا یو عیني څیز دی که ذهنـــي؟ هنر څه ډول عمل دی؟ د ښکلا بېلابېل ډولونه د انســاني طبیعــت لــه کومو اړخونو سره اړه لري؟

۵- کله کله په عام ډول د ارزښتونو د مطالعې لپــاره (د ارزښــتونو نظریه) اصطلاح په عامه توګه کارېږي. که څه هم کولای شــو چــې دې بحث ته په لاندې ډول د عملي حکمت یا د اخلاقو د فلسفې په بحثونو کې ځای ورکړو، خو کولای شو ارزښت د هغه د عام مفهوم له مخــې د (۲)، (۳) او (۴) مو بحثونو ځانګړې بېلګې او سمون وګڼو.

له فلسفې څخه د مابعد الطبیعه د جلا کولو لپاره هڅه له دې امله د ردولو وړ ده چې ان انتقادي فلسفه هم له مابعدالطبیعه پرته ممکنه نه ده.

زیاتې هڅې (چې ځینې به یــې یــادې شــي) ترســره شــوي چــې مابعدالطبیعه په دې دلیل چې له یوې مخې بې مانا، د پوهېدو وړ نه ده، د فلسفې له لمن څخه جلا کړي او فلسفه پر همغو پنځو څــانګو چــې مخکې یې یادونه وشوه، محدوده کړي، البته تر کومه ځایه چې وس وي هغه باید د علمي بنستونو او عملي ژوند د فلسفي فرضیو د یوې کــره کتنیزې څېړنې په توګه وانګېرل شي.

# فلسفه او ځانګړي علوم

**فلسفه له نورو ځانګړو علومو سره لاندې توپيرونه لري:**

**۱- د هغې زيات ټوليزوالى.**

**۲- د هغې د طريقې له پلوه. فلسفه هغه مفاهيم څېړي چې د ټولو علومو د بنسټونو يوه برخه ده، يوازې د هغو ځانګړو مسايلو په باب لـه څېړنې پرته چې ټول د علومو له حوزې څخه بهر دي. علوم او متعارف عقل هغه مفاهيم دي چې دې ډول فلسفي څېړنې ته اړتيا لري، له هغو څخه ګټه پورته کوي، خو ځينې ځانګړي مسايل هم شته چې د علمي پلټنو په پايله کې رامنځته شوي يا يې موضوعي بحث پيدا کـړى، خـو څرنګه چې علوم د هغو د څېړنې لپاره بشپړه او تامه وړتيـا نـه لـري، فلسفه بايد هغو ته ورودانګي او د هغو په باب څېړنـه وکـړي. لـه دې جملې څخه کولاى شو د (بنسټ) د مفهوم يادونه وکړو. ځينې مفکرين لکه (هربرت سپنسر) فلسفه د علومو د نتيجو يو ترکيب ګڼـي، خـو د فلسفي متني لارويان دا خبره نه مني. دې کې شک نه شته چـې کـه چېرې وشي فلسفي نتيجې د علمي پلټنو د ترکيب او تصميم لـه لارې ترلاسه شي. دا هغه خبره ده چې په عمل کې سپينېږي. په داسې حال کې چې فلسفې له دې لارې کوم ځانګړى پرمختګ نه دى کړى.**

**د تېرو لويو فلسفو يوه برخه د تفکر په بنستيزو څېړنو پورې اړه لري او بله برخه يې هم هغه هڅې دي چې په علومو کې تـر بحـث لانـدې واقعيتونو سره د بېلابېلو حقيقتونو د طرح کولو په اړه ترسره کېږي او يا هم د هغو له ميتودونو څخه له بېلابېلو لارو ګټه پورته کېږي.**

دا فلسفې لکه چې ظاهراً معلومېږي، تر هغه زیاتې د خپلې زمانې د علومو تر اغېز لاندې دي، خو نه شو کولای د هغې یوه هم د علومــو د نتیجو ترکیب وګڼو، ان د (هیوم) پــه شــان د مابعدالطبیعــه مخــالف فلسفیان هم مخکې تر دې چې د علومو نتیجو ته کوم اهمیت ورکړي، د هغو د بنسټونو د څېړنې په لټه کې شول. ان تــر دې چــې پــه خپلــې ځانګړې حوزه کې یوه علمي نتیجه یا فرضیه د پام وړ وګرځي، موږ باید له کوم قید او شرط پرته دا یو فلسفي حقیقت ونه ګڼو.

د ساري په توګه په هېڅ ډول نه شو کولای ووایو څرنګه چې فزیکي زمان له مکان څخه د توپیر وړ نه دی، لکه څنګه چې یې نن د فزیــک علم ادعا کوي، نو ځکه پر زمان باندې د مکان تقدم یا وړانــدېوالی یــو فلسفي اصل دی، ځکه چې کېدی شي د فزیکي زمان په انډول دا خبره رښتیا وي، هغه هم له دې کبله چې فزیکي زمان په مکان کــې انــدازه کېږي. خو دا خبره د هغه زمان په اړه چې موږ یې تجربــه کــوو ( چــې فزیکي زمان له هغه څخه منتزع او یا د هغه برخه ده) سر نــه خــوري. علوم کېدی شي له ګومانونو او همیانو څخه ګټه پورته کړي، د پېژندنې داسې لارې چارې یا اصطلاحات وکاروي چې مانا یې په معمول ډول دود نه وي او له دې لارې پرمختګ وکړي، خو فلسفه باید په هر ډول چــې وي په هغو کې سمون راولي. د فلسفې د علم اصطلاح معمولاً د منطق هغې ځانګې ته ویل کېږي چې د یوې ځانګړې طریقــې پــه واســطه د علومو بېلابېل میتودونه څېړي.

# فلسفه او علمي میتودونه

د فلسفې میتودونه د ځانګړو علومو له میتودونو سره لــه بنســته توپیر لري. له ریاضیاتو پرته علوم د تجربه يي تعمیم له میتود څخه ګټه پورته کوي او دا هغه میتود دی چې په فلسفه کې ډېر لږ کارول کېږي. له بلې خوا ټولې هغه هڅې چې په ریاضیاتو کې د فلسفې د ګډولو لپــاره کارېدلي، هم بریالۍ نه وې. (یوازې د منطق په ځینو ځانګړو برخو کــې چې هغه هم ریاضیاتو سره نږدې دي نه فلسفې سره) داســې ښــکاري چې د انسان په توګه موږ هغه غوښ او مسلم حالت ته چې په ریاضیاتو کې رسېږو، په فلسفه کې نه شو رسېدلای. د څېړنو او پلټنو لــه مخــې ددغو دوو څانګو ترمنځ توپیرونه کولای شو د بېلابېلو لاملونو زېږنــده وګڼو. لومړی دا چې څرګنده نه ده د هغو اصطلاحاتو مانا چې په فلسفه کې کارېږي، په ریاضیاتو کې هم د همغو مفاهیمو وضاحت په همغه ډول مشخص کړو، لکه څنګه چې د یو استدلال لــه مخــې دا اصــطلاحات نامحسوس او نازک بدلونونه مني او سربېره پر دې ددې خبرې منل هم اسانه او ډاډمن نه دي، هغه فلسفیان چې مختلف نظرونــه او فکرونــه لري، یوه واحده کلمه په واحده مانا وکاروي. دویم یــوازې د ریاضــیاتو

حوزه ده چې د یو لړ پېچلو خو دقیقو بنسټونو له مخې په کې له ساده مفاهیمو څخه یوه نتیجه ترلاسه کېږي.

درېیم د ریاضیاتو قضیې له یوې مخې شرطي قضیې دي، په دې مانا چې نه شي کولای موږ ته ووایي، په بهرنۍ نړۍ کې وضع رښتیا په څه ډول ده؟ د ساري په توګه نه شي کولای ووایي په یوه مشخص ځای کې څومره ځانګړي شیان موجود دي، بلکې کولای شي ووایي، که چېرې دا ډول او یا هغه ډول وي، څه به وشي. لکه دا چې کولای شي ووایي په یوه خونه کې (۷+ ۵) برستنې دي، په هغه بله خونه کې (۱۲) برستنې دي. خو د فلسفې موخه داده چې د پېښو په باب په مستقیم ډول خبرې وکړي، یانې دا چې ووایي په بهرنۍ نړۍ کې وضع رښتیا هم په څه ډول ده. له همدې کبله نو هغه ډول قیاسونه چې د وضع شویو اصولو له مخې وي او یا تعریف شوي وي، له فلسفې سره اړخ نه لګوي، په داسې حال کې چې په ریاضیاتو کې تر ډېره بریده خبره په همدې ډول ده.

# فلسفه او ارواپوهنه

ارواپوهنه له فلسفې سره ځانګړې اړیکې لري. د ارواپوهنې ځانګړې نظریې د یوه تجربه یي علم تر ځانګړو نظریو ډېرې وړاندې دي، کېدی شي د خیر و شر په باب پر یو نظریاتي او فلسفي استدلال اغېز وکړي، د هغه معکوس حالت هم ممکن دی، یوازې له هغو ځایونو پرته چې په هغو کې ارواپوهنه له فیزیولوژۍ سره اړیکې لري.
ارواپوهنه د هغه زیان په اندول چې په طبیعي علومو کې د غړیتوب له کبله یې زغمي، د فلسفې له تېروتنو څخه زیاته زیانمنېږي. دا کار کېدی شي له دې امله وي چې نور طبیعي علوم له ډېرې پخوا زمانې له یوه تثبیت شوي انډولیز موقعیت څخه برخمن وو، ځکه خو یې د خپلو ځانګړو هدفونو په بنسټیزو مفاهیمو د څېړنې او څرګندونې لپاره بشپړ وخت درلود. خو اروپوهنه په دې وروستیو کې د یوه خپلواک علم په توګه څرګنده شوه. یو پښت وړاندې یې اروپوهنه معمولاً داسې یوه پوهنه ګڼله چې د یوه فیلسوف د کاري حوزې په داخلي برخې پورې یې اړه لرله او ډېره کمه یې هغه د طبیعي علومو یوه برخه انګېرله. له همدې کبله خو اروپوهنې د فلسفې له نیوکو سره سره د خپلو بنسټیزو مفاهیمو د څېړنې د لوړو ژورو د بشپړاوي لپاره بشپړ مجال پیدا نه کړ، داسې مفاهیم چې په بشپړ ډول باید روښانه او څرګند وي او عملاً د

کاروني وړ وي. د فزیک د علم فعلي وضعیت دا ټکی ثابتوي، هر کله چې یو علم د پخوا په اندول یو پرمختللي پړاو ته رسي، کېدی شي د فلسفي مسایلو له مخې له ستونزو سره مخ شي. په دې ډول چې هغــه علــم د خپلواکۍ پړاو کې وي، نه د هغه د ټوکېدو او نه د پرمختګ پــړاو کـــې، بلکې د دغو دوو پړاوونو ترمنځ واقع وي. له شک پرتــه چـــې فلســفه کولای شي د فزیک علم د بیا رغونې په برخه کې اغېزناک ګام پورتــه کړي.

# شکاکیت

د فلسفې د دندو پامووړ برخه یوازې د (شکاک) په نامه له یو عجیب مخلوق سره تړلې ده. که څه هم داسې یو څوک چـې پـه غـوڅ ډول شکاک وي، نه شته او که چېرې وي هم د هغه د نظر ردول یو محال کار دی. دا ډول شخص نه شي کولای خپل مخالف رد کړي او نه شي کولای کوم څیز ان خپل شکاکیت ثابت کړي، پرته له دې چې خپل ځان سره پر تناقض اخته شي، ځکه ددې خبرې ثبوت چې هېڅ ډول پېژندنه نـه شته او هېڅ ډول اعتقاد حق نه دی، په خپله د یوه اعتقاد ثبـوت دی. خو تاسې نه شئ کولای هغه ته ثابته کړئ چې خطا یې کړې ده. ځکـه چې هر دلیل باید یو څیز حقیقت وګڼي، یا د یو بـل شـي او منطـق د قواعدو سریزه. که چېرې په یوه مسله کې د تناقض د امتناع قانون سم نه وي، قانون هېڅکله نه شي کولای د یو چا خبره په دې دلیل چې د تناقض بنه لري، رد کړي.

ځکه نو یو فلسفي نه شي کولای له هېڅ څخه یې پیل او هـر څـه ثابت کړي، لنډه دا چې یو شی باید د فرضیې په توګه غوره کـړي. پـه مشخصه توګه باید د منطق د قواعدو سموالی د یوې فرضیې په توګـه وټاکي که نه نو نه شي کولای هېڅ استدلال اقامه کړي ان دا چې مانیزې جملې بیان کړي. ددې قوانینو له جملې څخه دوه ډوله قوانین [ تناقض او ثالث مطرود قانون] (د ایجاب او سلب ترمنځ د اړیکو نشتوالی) ډېـر مهم دي. د قضیو پر وړاندې د لومړي ډول قانون کارونه داده چې د هغه له مخې یوه قضیه کېدی شي چې هم دې رښتیا وي او هم دې دروغ وي او د دویم قانون پر بنسټ یوه قضیه باید یا رښتیا وي یا دروغ. د شیانو

او چارو په باب د لومړي قانون کارونه هم داده چې دا نه شي کېدی چې یو شی دې هم وي او هم دې نه وي او یا دې هم کوم صفت ولري یا دې ونه لري. د دویم قانون پر بنسټ یو شی هم باید یا وي یا نه وي او یا دې یو صفت ولري او یا ونه لري.

دا دوه قوانین ډېر با اهمیته نه ښکاري، خو د بشر ټول تفکر پر همدغو دوو قوانینو ولاړ دی. که چېرې د یو شي ثبوت د هغو د نقض او نفي په مانا نه وي، هېڅ خبرې به مانا نه لرله او نه شو کولای د هېچا خبره رد کړو، ځکه چې کېدی شي هم هغه خبره او د هغې رد دواړه سم وي.

البته دا خبره هم مهمه ده چې کله کله په ځینو برخو کې د یو څه اسنادو وړاندې کول او نه وړاندې کول ګټور وي او کله کله دواړه له سرې څخه لاره ورکوي. د بېلګې په توګه یو زیات شمېر اشخاص شته چې د هغو د (پکوالي) صفت یا خاصو ځانګړنو په اړه د اسنادو وړاندې کول سم نه وي، خو دا کار د (پک) د کلمې په اړه د دقیق تعریف د نشتوالي له امله دی او دا هم په دې دلیل چې (پک) او (ناپک) خپلې خپلې درجې لري او د هغوی ترمنځ دوه داسې توپیرونه موجود دي چې نه شو کولای دهغو له مخې ددې دوو اصطلاحاتو له جملې څخه یوه هم وکاروو. بلکې باید ووایو چې: ((تر یوه حده پک)) یا ((لږ و ډېر پک)).

په دې ډول هېڅوک نه شي کولای چې ددې صفت یوه ټاکلې درجه ولري او یا یې هم ونه لري. هر څوک باید د (پک) یوه ټاکلې درجه ولري او یا یې ونه لري، خو هر کله چې د (پک) او (ناپک) کلمه کاروو په دقیق ډول نه ښکاري چې تر کومه بریده مو ددې صفت درجه په پام کې نیولې

ده. زما په نظر کله کله چې د بېلابېلو نقـض شـویو قواعـدو پـه بـاب اعتراضونه کېږي، د همدغه ناسم پوهاوي زېږنده ده، لکه څنګه چې د امتناع قاعده د هغو ناقضینو په باب، چې یو شخص له یوه اړخ ښه او بل له بل پلوه بد او یا هم کله ښه او کله بد ګڼي، بشپړ سمون خوري.

اصلاً د فلسفې له بنسټیزو موضوعګانو څخه یوه داده چې د فطري باورونو پر بنسټ داسې یو اوډلی نظام رامنځته کړي، چې له انسجام او منطقي نظم سره د یو بل د جوړونې لپاره دې باورونو کې ډېر کم سمون او بدلون راولي.

لکه څنګه چې هره نظریه د یوې مسلې د پېژندنې لپـاره یـوازې د همغې برخې پر څېړنې ډډه لګوي چې په عملي ډول زموږ په پوهې پورې اړه لري او زموږ د پوهې لارې چارې پر هغې ولاړې دي، نو پـه دې ډول ویلای شو که چېرې د کومې ځانګړې فلسفي نظریـه دې نتیجـې تـه ورسېږي، چې پوهه هغه ځانګړې او مشخص شیان چې موږ پرې پوهېږو چې شوني نه دي، هغه اعتقادات چې په غوڅ ډول سم دي، سم نه دي، دا نو په خپله هغې نظریې ته ستونزې دي چې دا مسایل وړاندې کوي، نه هغې پوهې او اعتقاد ته چې غواړي دا نظریه رد کړي. له بلې خـوا د یوه متعارف عقل پر بنسټ لکه څنګه چې دي، د ټولو عقایدو سم ګڼل، یو ساده توب دی. کېدی شي ددې عقایدو سمون د فلسفې کار وګڼو، نه دا چې هغه لرې وغورځوو او یا په کې داسې ادلون بدلون راولو چـې د پوهېدو وړ نه وي.

# فلسفه او عملي حکمت

فلسفه لکه څنګه چې له نظري حکمت سره تړلې ده، عملي حکمت سره هم تړاو لري او ((د چارو فلسفیانه انګېرنــې)) عبــارت، دې دواړو ماناوو ته نغوته کوي. د واقعیت له مخې په نظري فلســفه کــې د بریــا ترلاسه کول په پورته عبارت کې د یاد شوي مفهوم او د فلسفې عملي بریا نه تضمینوي. د (سقراط) ډېرې په زړه پورې تجربې دا وې چې کــه چېرې یوه شوم کوم کارونه ښه دي هغه به ترسره کړم، خو دا خبره هغه وخت سمه ده چې موږ په واقعیت کې په ډېر دقت سره څه شی چې موږ ته څرګند دي، د (پوهېدو) په کلمه کې ځای کړو. ددې خبرې اټکل هم په بشپړ ډول شته چې زه پوه شم یا باوري شم د یوه کار ترسره کول چې زه ورسره لېوالتیا لرم. مخکې تر دې چې دا کار ماته خوند راکړي، د بل چا، لکه د (الف) د ازار سبب ګرځي. ځکه نو په بشپړ ډول ناسم دی، خو دې سره سره کېدی شي هغه ترسره کړم، ځکه زه هغه درد او ازار چې (الف) شخص یې زما له عمل څخه زغمي، په تېنګه د هغه د درد او رنځ په اندول نه احساسوم چې زه یې خپل مطلوب کار ته د نه رســېدو لــه امله ګالم. څرنګه چې په بشپړ ډول دا شونې نه ده چې یو څوک دې د بل چا غم و درد د ځان د غم و درد په شان احســاس کــړي، خــو ددې امکان شته چې چاته وسوسه پیدا شي او دا خپله اخلاقي دنده وګڼي. ځکه نو د همدې احساس له مخې، نه په علمــي ډول، بلکــې د زیــات

تمرین له لارې له ارادې سره مقابله وکړو. داسې هم نه ده چې موږ تــه دې د یوې قوي غوښتنې او لېوالتیا پــر وړانــدې مقاومــت (ان کــه دا مقاومت زموږ د خپلې خوښۍ او خوشالۍ سبب شي) اســانه کــار دی، پاتې لا دا چې د یوې اخلاقي خیر ښېګڼې لپاره داسې یــو کــار وکــړو. فلسفه له فلسفي معتقداتو سره زموږ د سمو چلندونو یا د سمو غوښتنو د تطبیق تضمینونکې نه ده. ان له نظري پلوه هم فلسفه په یوازې سر نه شي کولای موږ ته وواییي څه باید وکړو. ځکه نو موږ پر فلسفي اصــولو سربېره دې ته اړتیا لرو چې اړوند واقعیتونه په تجربه یې دېول وپېژنو، د چارو د اتکلیزو نتیجو د وړاندوینې ځواک پیدا کړو او د هر موقعیت په باب لیدلوری ولرو. په دې ډول کولای شو خپل اصول په سم او کره ډول وکاروو. زما هدف دا نه دی چې فلسفه نه شي کولای له موږ سره د ژوند د چارو په سمون کې مرسته وکړي، بلکې هدف مې یوازې دا دی چــې فلسفه په یوازې سر نه شي کولای موږ ته هغه ځواک راکړي چې ســم ژوند پرې وکړو، یا ان دا چې په ګوته یې کړو چې سم ژوند کوم دی. خو مخکې مې یادونه وکړه چې فلسفه کولای شي لږ تر لږه دې برخې تــه نغوتې وکړي. که چېرې ما غوښتلای پــه دې بــاب د فلســفې اخلاقــو ځانګړی بحث یانې د فلسفې هغه برخه چې د اخلاقــي کړنــو او خیــر ښېګڼو په باب ده، دلته راوړم، بیا به مو نو باید د فلســفې او رښــتیني ژوندانه د اړیکو په باب ډېر مطالب راوړل. له دې خبرې څخــه بایــد دا نتیجه وانه خیستل شي چې زه ګنې د خوند سخت پلوی یم یانې داسې

څوک یم چې وایم خوند و لذت د یو عمل د رغښت ټاکونکي عوامل دي. زه داسې نه یم.

ما بعدالطبیعه یا انتقادي فلسفه موږ سره په دې برخه کې چې پوه شو، ډېره مرسته نه کوي. کېدی شي د مشکلاتو د زغم په چارو کې له موږ سره مرسته وکړي، په دې برخه کې ځینې فلسفي رښتیا دي، خو په خواشینۍ سره دا خبره چې د نړۍ په اړه د ښه لید خبره د فلسفې پــه نظر معقوله او موجه ده، داسې نه ده چې ټول فلسفیان پرې اتفاق ولري، خو موږ باید د حقیقت ملاتړ وکړو. کله چې ذهن راویښ شي نو پر هغه څه ډډه نه لګوي چې معقول او موجه نه وي. ځکه چې ناسم فکر سمې نتیجې ته نه رسېږي. په همدې حال کې د هغو کسانو ادعاوې چې تصور کوي، د الهام له لارې یې په ډاډمن ډول واقعیت ته لاره موندلې، هم باید له پامه ونه غورځوو او هېرې یې نه کړو. هغو قضیو ته چې ددوی په وینا د متعارف او معمول عقل د مقولو له لارې د حاصلولو وړ نه دي. موږ باید له سره دا ونه وپتیو چې په دیني او عرفاني تجربو کې د موثــق او لــوړ معرفت په باب شوې ادعاوې حتمي ناسمې دي او په نا موجه ډول هغه یوې غاړې ته کړو، هغه هم په دې دلیل چې د (ماتریالیزم) له ځــانګړي ډول سره چې په هېڅ ډول نه اثبات شوی او ان نه هم په رښتیا سره د نوي علم ملاتړ لري، سمون خوري.

# د لرغونې او معاصرې اروپا فلسفې

د بشري ټولنې او ډلو تفکراتو د تاریخ له اقتصادي او فرهنګي ودې سره متناسبه بڼه اخیستې او متناسبه بڼه اخلي. لکه څنګه چې مو په مخنیو بحثونو کې یادونه کړې؛ د یوه فکر د ودې بهیر له فلسفې څخه فلسفې، له اساطیرو او علومو څخه علومو ته غځېدلی، په بېلابېلو پړاوونو کې یې ټاکلې فرهنګي بڼې غوره کړې دي. له (تالسي) تفکر څخه تر (لیوتاري) تفکر پورې، د تفکر پړاوونو داسې بڼه خپله کړې چې د (فوکو) په وینا په ټاکلو بڼو کې یې خپله پوهه پر بېلابېلو پړاوونو وېشلې ده.

تر (هلینیزم) وړاندې چې په هنر او تفکر کې یې خپل ځانونه د څمڅو اوسېدونکي څرګندول، تر (هلینیزم) وروسته حالت د پوهېدو لپاره د اهمیت وړ دی. فلسفې او ادبیاتو، هنر او پوهې، اقتصاد او فن د لرغوني یونان په پنځېدلي مدنیت کې د فرهنګي خوځښتونو د یوه ټولګي لپاره د پوهې لاره اواره کړه. په همدې ډول د اروپا رنسانس او تر

هغه وروسته د روښانتیا عصر او ورپسې نوی عصر او بیا د نــوي عصــر دوام همدا کار وکړ. روښانتیا د رنسانس د له منځه وړلو په مانا نه ده، په همدې ډول باید په څرګند ډول ووایو چې تر (مډرنیزم وروسته) حالت له (مډرنیزم) حالت څخه د انکار مانا نه لري.

مډرنیزم یا نوی والی د پانګې له خوځون او نوې ټکنالوژۍ سره تړلی، خپل تفکر یې له خپل داخلي جوړښت ســره ســم رامنځتــه کــړی او وروستي نویوالي هم د یو فکري وضعیت او هم د یو ټاکلي نظري بهیر په توګه خپل ځان څرګند کړ.

د وروستي نوي والي فکر د معمارۍ له فضا څخه نــورو حــوزو تــه ولېږدېده. د معمارۍ د فکري برخې فلســفیان د وروســتي نویــوالي د ساحې لومړني نظریه جوړونکي وو.

په مډرن لید کې، مستقیمو، مربع او قایمه کرښــو ډېــر ارزښــت او اهمیت درلود، خو نوي معماران بیا د مستقیمو او قایمو لیکو دا قاطعیت ماتوي او نویو هندسي شکلونو ته پناه وروړي.

دلته نو کېدی شي دې درک ته نږدې شو چې د وروستي نویوالي لید د معمارۍ له هنر څخــه ټوکېــدلی دی او دې لیــدلوري د قاطعیــت او مرجعیت پر ماتېدو ټینګار کاوه او هڅه یې کوله، یوه شي ته له یوه واحد لید څخه د څو لیدلورو مسله دود کړي.

ډېر ژر په اویایمو کلونو کې د فرانسوي فلسفیانو له خوا د وروستي نویوالي نظریه د هنر له حوزې څخه د فلسفې او ټولنپوهنې حوزې تـه ننوته او په بېلابېلو ساحو کې د وروستي نویـوالي د نظریـې تګلـوری څرګند شو.

(ژان فرانسوالیوتار) شاید د فلسفې او ټولنیزو علومو په حوزه کې د وروستي نویوالي د مقولې یو له مهمو مخکښانو څخه وي. (لیوتار) ((د وروستي نویوالي پر لوري)) یو اثر ولیکه چې دې اثر په واقعیت کـې د وروستي نویوالي د نظریې مانیفسټ (ارمان) وړاندې کړ.

اوس دلته په دې باب یو څو خبرې کوو چې څنګه فرانسوي فلسفې له یو اوږده بشپړتیاوي پړاو څخه سر راوکاږه او د وروستي نویوالي پـه نامه یې یو شی راڅرګند کړ. تر وروستي نویوالي دمخه موږ د نویوالي په حوزه کې په تېره بیا د هغه په فرانسوي ساحه کې له داسې تفکراتو سره مخامخېدلو چې هر یو یې په یو نه یو ډول قاطعیت او مرجعت زغملای و. د ساري په ډول، د (مرلوپونتي) څرګندپوهنه، د (لـوی اشـتراوس) او (التوس) جوړښتپوهنه، جوړښتي (مارکسیزم) او ((اګزستاسـیالیزم)) هغه بهیرونه وو چې د هغه ځای او مهال فلسفې، هنر او علوم یې جوړ کړي وو.

له دغو رغښتپالو افکارو بیا وروستی جوړښتپالی بهیر راوټوکېده او ستر فلسفیان یې په خپله غېږه کې وروزل. چــې د هغــوی مجموعــه کولای شو د وروستي نویوالي د وضعیت په نامه یاده کړو.

تر نویوالي وروسته شاعر، تر نویــوالي وروســته مارکسیســت، تــر نویوالي وروسته فیلسوف او نور... هغه عبارتونه دي چې پــه مولــف او لیدلوري کې د یو وضعیت ښکارندویي کوي. د ژبې فلسفه په واقعیــت کې تر نویوالي وروسته وضعیت جوړوي او د دنیایي متن له حوزې څخه بهر نه ده. هستي او واقعیت په متن کې خپله بنه جــوړوي او زمــان او مکان په ژبه کې انځورېږي، د قاطعیت او مرجعیت انګېرنې لومړی خپل ځان په متن کې څرګندوي او وروسته په ټولنیز چلند کې ښکاره کېږي، د نوښتپالو هدف دادی، چې د قطعیت دېوال ونړوي او پرځای یې باوري نسبیت واکمن کړي. (لیوتار) او... په دې باور دي چې له (مارکســیزم) څخه نیولې تر دینه، له څرګندتیا پوهنې څخه تر (پوزیتیویزم) پــورې ټول د باوري مرجعیت حکمونه او نظرونه لري.

په دې حالت کې نو تر نویوالي وروسته وضعیت ځانګړتیاوې په دې ډول لنډولای شو:

- د قطعیت او مرجعیت پرېښودل
- د لویو روایتونو باطلول

- **د متکثرو او وړو روایتونو راخپلول**
- **د مولف مړینه**
- **له اثر څخه متن ته**
- **جوړښت ماتونه**
- **د خپلولو نظریه (هرمنوتیک)**
- **څو غږیز (پولي فونیک)**
- **د ژبنیو لوبو نظریه**
- **د مانا ځنډول**

**تر نویوالي پړاو وروسته د فلسفې او هنري اندونو په باب دقیق بحث، زیات مجال او ډېر متن ته اړتیا لري، خو ددې لیکنې له روحیې سره سم، هغه څه چې مو تر دې ځایه ویلي، کولای شــي د یــوه بحــث تــولیزې خواوې څرګندې کړي چې هره برخه یې کولای شو د جزئیاتو له مخــې وڅېړو. د ساري په توګه د لویو روایتونو د باطلولو مسله هغــه وخــت د پوهېدو وړ ګرځي چې لوستونکی لومړی له لویو روایتونو سره اشــنایي ولري او د همغې پېژندنې پر بنسټ د هغو د باطلولو بحث مطرح کړي. تر هغه پورې چې لوستونکي پوه نه شي چې پــه لیبرالــه ولســواکۍ او د مارکس په تاریخي ماتریالیزم کې د دولت مقوله له دوو بېلابېلو لیدلورو دوه لوی روایتونه دي چې لومړی یې د هغه د تلپاتېوالي له املــه لــوی روایت جوړوي او دویم یې د هغه د له منځه تلو له امله لوی روایت تــه**

رسېږي. خو که اوس چېرې لوستونکی د لوی روایت لـه مخـې د دوو بېلابېلو لیدلورو او د دولت د تیورۍ په اړه اشنایي ونه لري، د هغه ابطال په اړه نه پوهېږي چې وروستی نویوالی د هغه باب غړېږي.

قطعیت ذاتاً له یوه غړ څخه راپورته کېږي او دا یو غړیز حالت ځان ته چورلیز حالت رامنځته کوي او دا ځان چورلیز حالت ددې سبب کېږي چې د (زه یو فلسفي) حالت وپنځـوي او دا حالـت بیـا لـه بـورژوازي (اندیویډالیزم) څخه چې پر نوي انسان د شیانو اقتصاد تحمیلوي، توپیر لري. د بشر جوړښت او ټولنیز تفکر څو اړخیز او څو بعدیز دی. دا څـو اړخیز والی نه یوازې د انسـان پـر روانـي جوړښـت او د ژوندانـه پـر څرنګوالي واکمن دی، بلکې د انسان پر فکـري جوړښـت هـم د هغـو اغېزې څرګندې دي. د ساري پـه توګـه د (سـور ریـالیزم) ترڅنـګ، (سمبولیزم) او (فورمالیزم) هم خپل ژوند ته دوام ورکړی دی.

# یوناني فلسفې

هغه مهال چې یونانیانو په یونان، د ایټالیا په سویل او کوچنۍ اسیا کې په خپلو مستعمرو کې ګڼ حکومتونه جوړ کړل، په دې حکومتونو کې درانه او سخت کارونه زیاتره د غلامانو پر غاړه وو او هغه خلک چې ازاد وو، سیاسي او فرهنګي کارونه یې کول. د ژوند د همدغو ستونزو له امله په خلکو کې بېلابېل افکار راوټوکېدل، په دې مانا چې هر چا کولای شول له ځان سره دا پوښتنه مطرحه کړي چې ټولنه باید څنګه جوړه شي؟ له دې لارې افرادو کولای شول پرته له دې چې (اسطورو) ته مخه کړي، فلسفي پوښتنې طرحه کړي. له همدې کبله مورږ پر دې باوري یو چې دا مهال اساطیري تفکر داسې تفکر ته ځای پرېښود چې د عقل او تجربې پر بنسټ ولاړ و. د یوناني فلسفیانو لومړنی هدف دا و، هر هغه څه چې په طبیعت کې پېښېږي، هغو ته طبیعي توجیحات پیدا کړي.

# طبیعتپال فلسفیان

تر اوسه پورې دا خبره څرګنده نه ده چې لومړنی فیلسوف څوک و، خو څرنګه چې بشر له ورځنیو ستونزو سره مخامخېده، یو ډول معماوې ورته پیدا کېدلې او دې معماوو ته یې ځواب نه شو ویلای. له همدې کبله یې داسې لارې چارې لټولې چې د دوی ځینو ستونزو ته ځواب ووایي. البته بشر د خپل تاریخ له همغه پیل څخه د داسې لارې په لټه کــې و، چې په ژوند کې یې خپل ځاني مشکلات حل کړي. دا ځاني ستونزې څه وې؟ یو خوراک و چې د ژوندي پاتې کېدو تر ټولو مهمه وسیله ده. دویم کالي او درېیم کور دی. بشر لومړی همدې درېو مسلو ته پـام کـوي او معماوې یې هم د همدې مسایلو په اړه دي. خو کله چې په دې برخه کې خپلو اړتیاوو ته ځواب ورکوي، په وروستي پړاو کې له حیرانتیـا سـره مخامخېږي او دا فکر ورسره پیدا کېږي چې کوم بل څه هم شته که نه؟

ځکه نو که موږ یو څه تخیلي فکر وکړو، نو لومړني فیلسـوف هغـه څوک دی چې دغه درې ستونزې: ډوډۍ، کالي او کور یې حل کــړې. دا په خپله د ژوند د دوام لپاره د انسان او طبیعت ترمنځ د جګړې پیل و.

**د یونان لومړني فلسفیان معمولاً د ((طبیعتپالو)) په نامه یــادېږي، ځکه چې هغوی تر هر څه وړاندې طبیعت او طبیعي پېښو ته پاملرنــه کوله.**

**فلسفیانو په خپلو سترګو لیدل چې پــه طبیعــت کــې بدلونونــه پېښېږي، خو دا بدلونونه څنګه پېښېدل؟ څنګه کېدی شي پــر یــوې مادې د بلې مادې بدلون توجیه شي؟ د یونان لومړني فلسفیان ټول په دې اند وو چې باید لومړنۍ مشخصه ماده ددې ټولو بدلونونو سبب شوې وي. دا چې هغوی څرنګه دې نتیجې ته رسېدلي وو، په اسانۍ سره نــه شي کېدی طرحه شي. موږ یوازې دومره پوهېږو چې دا باور د یو تصور پر بنسټ ولاړ و. هغوی سره داسې یو تصور و چې لومړنۍ ماده بایــد وای چې د هغې په وسیله طبیعي بدلونونه رامنځته شي.**

**په دې منځ کې څه چې موږ ته ډېر په زړه پورې دي دا نه دي چــې فلسفیانو موندلي، بلکې هغه مسایل دي چې مطرح شوي او هغه لارې او طرحې دي چې د خپلو پوښتنو د ځوابولو لپاره یې غوره کــړي دي. مهمه داده چې هغوی (څرنګه) فکر کړی نه دا چې (څه) فکر یې کــړی دی.**

**اوسمهال دا په ډاګه شوې چې لومړني فلسفیان یــوازې د ظــاهري بدلون په لټه کې وو. خو هڅه یې کوله د طبیعت تلپــاتې قوانینــو تــه لاسرسی پیدا کړي. د هغوی غوښتنه دا وه چې اساطیري داستانونو ته**

له کتنې پرته، د طبیعت پېښو ته لاره ومومي او هغه څه چې په طبیعت کې پېښېږي، د طبیعت له لارې توضیح کړي. دې طریقې له هغې نظریې سره چې وایي تندر او برېښنا، ژمی او پسرلی د خدایانو د کار نتیجه ده، په بشپړ ډول توپیر درلود.

دې نوې طریقې سره فلسفې د هغه وخت له مذهبي باورونو څخه خپله لاره جلا کړه. ځکه نو کولای شو ووایو چې طبیعتپالو فلسفیانو د علمي تفکر لپاره لومړنی ګام پورته کړ او په طبیعي علومو کې یې د څېړنې لپاره ښه زمینه برابره کړه.

د طبیعتپالو فلسفیانو د اثارو ډېره زیاته برخه له منځه تللې ده، هغه څه چې د یونان د فلسفیانو له افکارو څخه زموږ په واک کې دي، په هغو راپورونو کې رالنډېږي، چې (ارسطو) په خپلو لیکنو کې راوړي دي. ارسطو د یونان تر لومړنیو فلسفیانو شاوخوا دوه سوه کاله وروسته ژوند کاوه. هغه په خپلو لیکنو کې ددې فلسفیانو فکرونو ته نغوته کړې ده. دا ټکی په دې مانا دی چې د هغو تفکر ته لاسرسی محدود و، خو هغه څه ته په پام سره چې زموږ په واک کې دي، کولای شو ادعا وکړو چې د یونان د لومړنیو فلسفیانو کړنلاره د لومړنۍ مادې په باب تفکر او ددې مادې له لارې د طبیعي بدلونونو څرنګوالی دی.

# د ملطیه نقش

لومړني فلسفیان له ملطیه (milet) څخه ګڼل کېږي، (ملطیه) چې په (ترکیه) کې یو وړوکی ښار و، تر میلاد وړاندې په (شپږمه او اوومه) پېړۍ کې یو (ایوني) (ionie) ښار ګڼــل کېــده. ددې ښـــار بندرونو ته به داسې ببړۍ تلې راتلې چې هر ډول محصولات به یې لېږدول رالېږدول. له همدې کبله د ملطیه د اوسېدونکو روحیه د نورو هغو ځایونو په شان، چې هلته سوداګري ښه غوړېدلې وه، له مذهب څخه یې یو څه واټن درلود او کولای یې شول د زیات کار په واسطه عملي او عقلي فعالیتونه ترسره کړي. دلتــه غــواړو ددې سیمې ځینو اړوندو فلسفیانو او د هغوی نظریاتو ته لنډه کتنه ولرو:

# تالس

## تر میلاد (۶۲۴- ۵۴۶) کاله وړاندې



لومړنی فیلسوف چې په ملطیه ښار کې وپېژندل شو، (تالس) نومېده، تالس د خپل عمر ډېره برخه په تفکر کې تېره کړه. د هغه په باب ویل شوي چې هغه مصر ته د سفر پر مهال د هرم لوړوالی د هغه له سیوري څخه معلوم کړ. ده هغه وخت پر دې کار لاس پورې کړ چې د خپل ځان سیوری یې د خپل قد په کچه و. تالس تر میلاد (۵۸۵) کاله وړاندې د (کسوف) د پېښېدو وړاندوینه هم کړې وه.

ځینې خلک په دې باور دي چې (تالس) واړه ستوري هم کشف کړي او ځینې دا باور هم لري چې ده ددې ستورو اهمیت د بېړۍ چلونې پر وخت پېژندلی دی. په ریاضي کې د تالس قضیه همده ته منسوبوي او

دده د نظريو له جملې څخه کولای شو دې مشهورې قضيې تــه نغوتــه وکړو چې: دوه مثلثه هغه وخت مساوي دي چې يوه ضلعه او دوه زاويې يې يوه له بلې سره مساوي وي. البته ځينې پر دې باور دي چې دا قضيه د نورو افرادو له خوا مطرح شوې او په دې خاطر چې نظر يې ومنل شي، ددې فليسوف په نامه يې مطرح کړې ده.

(برتلراندراسل) په خپل کتاب (د فلسفې تاريخ) کې ليکي: فلسفه تر ميلاد (شپږ پېړۍ) وړاندې له الهياتو څخه پر يوه څه توپير پيل شوه. د اسنادو له مخې (تالس) د فلسفې پيلونکی و. د تالس هنــر دا و چــې د (چا) کلمې پر ځای يې د (څه) کلمه وکاروله. تــالس څخــه د پخوانيــو مفکرينو او يا هم که په دقيق ډول ووايو لکه د پخوانيو متدينانو په شان ونه پوښتل چې نړۍ له (څه) څخه يا د چا په وسيله جــوړه شــوې ده، بلکې پوښتنه يې په بشپړ ډول نوې مطرحه کړه. ويې پوښتل: نړۍ لــه (څه) څخه جوړه شوې ده؟ ياني دا چې تالس د نړۍ د پيدايښت په باب د پخوانۍ اسطورې پېژندنې تفسير پرېښود او هڅه يې وکــړه چــې پــه عقلي ډول د طبيعت توصيف وکړي او د نړۍ پيدايښت بيان کړي. کــه چېرې موږ دا پوښتنه په لومړۍ بڼه مطرح کړو، د خپل ځواب په پای کې داسې خدايان مومو چې دا نړۍ يې پنځولې ده او دا د افسانو پر بنسټ ديني ځواب دی، نه فلسفي. خو ددې پوښتنې ځواب چې نړۍ له څــه شي څخه جوړه شوې ده؟ يو علمــي او فلســفي ځــواب دی، لــومړنی شخص چې دا پوښتنه يې په دې ډول مطرح کړه، تالس و چې تر ميلاد شپږ پېړۍ وړاندې يې ژوند کاوه.

د هغه د افکارو له ځانګړنو څخه یوه داده چې دی د (ارخه) په نامه د یوه لومړني اصل (یا د نړۍ د پیدایښت لومړی عنصر) چې ددې نــړۍ د پدیدو پیلوونکی دی، په لټه کې دی.

(تالس) اوبه د ټولو شیانو لومړنۍ ماده ګڼله. موږ په دقیق ډول نــه پوهېږو چې دده هدف څه شی و؟ شاید هغه پر دې باور و چې ټول شیان له اوبو څخه راوتلي او بېرته پر اوبو بدلېږي. څرنګه چې ده په ((ملطیه)) ښار کې ژوند کاوه او دا داسې یو ښار و چې د ټاپو بڼه یې درلودله او اوبو د هغه اوسېدونکو ته ډېر اهمیت درلود او کله چې تالس په مصــر کــې ژوند کاوه نو پوره باور دی چې د (نیل رود) تر څپانده کېدو او کېناستو وروسته یې د کرنیزو ځمکو حاصل ته پام کړی او لیدلي یې دي چې تر هر ځل اورښت وروسته کانټاران او چینجي پیداکېږي. سربېره پــر دې تالس شاید پر یخ او بخار باندې د اوبو د بدلېدو او پر اوبو باندې د هغو د بېرته بدلېدو فکر هم کړی وي. ځینې خلک دده دا تفکر د (بابلیانو) له تفکر څخه اغېزمن ګڼي، ځکه هغوی باور درلود چې ((ابسو)) د خوږو او ((تی امت)) د تروو اوبو استازي دي. دی د همدغه فکر تر اغېز لاندې د نړیوالو پدیدو د پیدایښت ریښه اوبه ګڼي.

له بلې خوا دې تفکر ته دده لېوالتیا کولای شو داسې په ګوته کړو، څرنګه چې اوبه کوم ټاکلی شکل نه لري او کولای شي هره بڼه خپلــه کړي، له همدې کبله دی د اوبو په باب فکر ته راکاږي او دا چې اوبــه د ژوند ماده ده او بیا چې همدا خوځښت او لید په اوبو کــې دی، د هغــه ذهن خپل ځان ته راکاږي او هم د شتوالي ټولې نښې نښانې له همدې ځانګړتیاوو برخمنې دي. هغه هنر چې تالس ترسره کړ ی و په ډېروالي

کې د یووالي پیداکول، بل د رښتیا پالنې پلوي کول او د دیني اسطورو او افسانو ړنګول دي چې شاعرانو د نړۍ د تحلیل لپاره خلکو تــه انځــور کړې وې او خلکو هم پر هغو باور درلود.

تالس پر روح باور لري، خو نه د یو مجرد څیز په توګه، بلکې د داسې یوه خوځنده ځواک په توګه چې شیانو ته حرکت ښښي او هغوی یو بــل کې ځایوي. دی روح هم خدای ګڼي.

په پای کې تالس دې پایلې ته ورسېد چې: ((هر څیز له خدایانو ډک دی)) تالس تصور کاوه چې نړۍ له ناڅرګندو خوځنده ځواکونو ډکه ده. په دې سره چې له خدایانو څخه دده هدف همدغه خوځنده ځواک و او د (هومر) د سرودونو له خدایانو سره اړیکي نه لري.

# اناکسیماندروس

## تر میلاد (۶۱۰-۵۴۷) کاله وړاندې

اناکسیماندروس بل فیلسوف و چې په (ملطیه) ښار کې یې ژوند کاوه، هغه باور درلود چې زموږه نړۍ د بې شمېره نړیو له جملې څخه یوه ده او دا بې شمېره نړۍ له یوې تلپاتې مادې څخه راټوکېدلي او بېرته به همغې ته ګرځي. ستونزمنه خبره ده چې وکولای شو له تلپاتې مادې څخه د هغه پر منظور پوه شو، خو دا څرګنده ده چې دی د تالس پر خلاف کومې ځانګړې مادې ته نغوته نه کوي.

شاید دهغه هدف دا وي، هغه څه چې رامنځته شوي، باید له هغه څه سره توپیر ولري چې دا ورڅخه راټوکېدلي دي. څرنګه چې هر شی رامنځته شي، له منځه تلونکی دی، نو باید رامنځته کوونکی یې تلپاتې وي چې هر څه وکولای شي له هغه څخه راوټوکېږي او بېرته هغه ته وګرځي. په دې ډول نو څرګنده ده، ممکنه نه ده چې دا لومړنی ماده همدا معمولي اوبه وي. بلکې د فلسفې لومړۍ مهمه پوښتنه داده چې دا نړۍ له څه شي څخه راټوکېدلې؟ او څه ډول جوړه شوې ده؟ (اناکسیماندروس) په (ایونیا) او (یونان) کې د لومړي ځل لپاره

((د طبیعت په باب)) په نامه یو اثر کې خپل فلسفي نظرونه په نثر لیکلي دي. د لمریز ساعت یا شاخص (gnomon) جوړونه یې هم ده پورې تړلې ده، کــه څــه هــم ویــل کېــږي چــې دا د (بابلیــانو) تــرمنځ دود و او (اناکسیماندروس) له هغوی څخه اخیستی دی. د لومړي ځل لپاره یې جغرافیایي نقشه انځور کړه، د ځمکې په باب پر دې باور و، چې دا ځمکه استواني شکله ستونونه دي چې هوا پرې راتاوه شوې ده او لــه کــومې ډډې لګولو پرته د نړۍ پر مرکز په عمودي ډول تاوېږي، له همدې امله نه لوېږي، ځکه چې په مرکز کې د واقع کېدو له کبله د خط وسیر کومــه مرجح نه لري چې د هغې خواته لېوالتیا پیدا کړي.

ځکه خو د هغه څه پر خلاف چې د اسطورو پر بنسټ پرې باوري وو، ځمکه ((نه پر ټینګو ستنو ولاړه ده او نه داسې ونه ده چې سر یې هوا ته رسي او ملې یې ناپایه ژورو ته، بلکې په فضا کې معلقه ده.)) او د اسمان څرګند چت ددې خبرې ښکارندویي کوي، چې ځمکه یې په مرکز کې واقع ده او ((لمر تر هغه وروسته چې د ځمکې له پاسه خپل ورځینــی راګرځېدل پای ته ورسوي، تر ځمکې لاندې خپلــو ګرځېــدو تــه دوام ورکوي او سهار بېرته همغې نقطې ته رسي چې له هغې څخه یې حرکت پیل کړی و.))

ځکه نو دا کیهان نیمکره نه دی، بلکې بشپړ کره دی او ځمکه د هغه په مرکز کې واقع ده. او لکه څنګه چې په پخوانیو نظــامونو کــې ویــل شوي، لمر د نړۍ پر څنډو راڅرخي، لمر یوازې یوه ژوره کنده ده چې د

یوې لویې څرخې په لمن راڅرخي هغه ژوره کنده چې په هغه کې واقع ده، هم په همدې ډول څرخي.

که اوس دا ژوره کنده وتړل شي او د کوم څه په واسطه ددې ژورې کندې خوله پټه شي، (خسوف) یا (کسوف) رامنځته کېږي، ځکه خو د هغه انځور له مخې چې (اناکسیماندروس) یې وړاندې کوي، ځمکه پــه مرکز کې واقع ده، لمر او نورې سیارې د هغې پر شاوخوا راڅرخي.

نړۍ ولې دا بڼه خپله کړه؟ هغه څه (اناکســیماندروس) تــه پــه زړه پورې دي چې هغه ددې نړۍ د جوړښت څرنګوالی بیانوي. ((کله چــې شیان له یو بل څخه جلا شول، دا نړۍ چې موږ یې پېژنو، د بوړ بوکۍ په شان د یوه څرخنده حرکت له امله جوړه شوه، په دې مانا چې د خاورې او اوبو په څېر درانه عناصر د باد په مرکز کې پاتې شول، اور څنډې تــه تېلوهل شو او هوا په منځ کې پاتې شوه. نړۍ لکه د یوې ګردۍ په څېر نه ده، بلکې یوه لنډه استوانه ده.))

هغه باور درلود چې ((زموږ تر نړۍ مخکې بې شــمېره نــورې نــړۍ موجودې وې، چې دویم ځل له منځه تللي او د نامنظومو وړو ټوټو بڼــه یې خپله کړې ده)) ظاهراً دا فکر د (هیسود) په تفکر کې ریښه لــري، (هیسود)به ویل: ((په پیل کې د نړۍ ټول شتوالی نامنظم او ګډوډ و.))

د ژوند د پیدایښت په باب (اناکسیماندروس) باور درلود، چې ژوند له سیندونو څخه راټوکېدلی، ژوي له رطوبت څخه پیدا شوي دي او انسان

په پیل کې کب و، خو دا چې ولې انسان له نورو حیواناتو څخه زیږېدلی دی، د هغه په نظر ځرنګه چې د انسان ماشـوم نـه شـي کـولای پـه ماشومتوب کې ځان خپله وساتي، تر حیوان زیات، ساتنې ته اړتیا لري او دا شونې نه ده، په یوازې ځان لږ تر لږه له طبیعي لارې خپل ژوند ته دوام ورکړي، ده د هغو نظریاتو مخه نیولې چې د ارسطو په شان انسان داسې ګڼي چې له ځمکې څخه راوتلی دی.

خو ولې نه شو کولای د نړۍ رغوونکي عناصر له اوبو یا نورو عناصرو څخه وګڼو او ولې (اناکسیماندروس) د خپل استاد (تالس) نظر ونه مانه. د (اناکسیماندروس په نظر له اوبو څخه د تالس مراد ((همدا متعـارفې اوبه دي)) چې هغه د ټولو څیزو منشـا او ټولـو شـیانو اصـل ګڼـه. د اناکسیماندروس په نظر اوبه نه شي کولای، د ټولو شیانو مـاده اوسـي ځکه چې خپله د خپل پیدایښت لپاره تودوخې ته اړتیا لري. یانې کـه چېرې یو جامد جسم غواړي ذوب شي او یا مایع پر بخار بدل شي، باید حرارت ورکړل شي، ځکه نو هغه دوه (یخ) او (ګرم) عناصر باید د جـلا والي له لارې د بلې مادې له موادو رامنځه شوي دي. دده په نظر ځرنګه چې اضداد (ضدین) یو بل سره نه پخلا کېږي، که چېرې یو د اصل پـه توګه وټاکل شي، نو سملاسي به پر نورو عناصرو سیوری وغړوي، یانې دا چې ټوله نړۍ باید پر اوبو بدله شوې وای، د (انکسیماندروس) په نظـر ټول مواد او مادي بنې چې له یو بله پیدا کېږي، په یوه مانا یو بل ســره مساوي ارزښت لري او یو پر بل هېڅ لوړتیا نه لري، له همدې کبله نه شو

کولای لږ تر لږه یو د بل مبدا او مولد وګڼو. دا عنصر پر اضـــدادو مقـــدم دی؛ اضداد له هغه څخه رامنځته کېږي او له هغو سره منحلېـــږي. ((دا خمیره د عادي شیانو ځانګړتیاوې نه لري.)) د ډېرو تختـــې، رودونـــه او داسې نور... یا ان د هغو د رغوونکو (خـــاورې، اوبـــو او داســـې نـــورو... ځانګړتیاوې، بلکې ددې ټولو بنسټ په هغو کې څرګندېږي.

ځکه نو هغه لومړنی عنصر یا لومړنی اصل څه شی دی؟ د هغه پـــه نظر ماده. د موادو ماده داسې یو شی دی، چې دوه ځانګړنې لري: ۱- د ټاکنې یا تعین نشتوالی. ۲- د تناهي نشتوالی. (سیمپلیکوس) د (تنـــو فراستوس) له خولې لیکي: ((د ټولو موجوداتو د لومړني اصل عمـــومي عنصر د (اپاپرون) په نامه یوه نامحدوده ماده ده... دا نه اوبه دي او نه هم په اصطلاح کوم بل عنصر، بلکې بل نامحدود طبیعت دی چې له هغـــه څخه ټول اسمانونه او نورې نړۍ چې په هغه کې دي، راڅرګندېږي او له هغو څخه نور څېزونه راټوکېږي، هماغه دی چې یو ځل بیا د اړتیـــا لـــه مخې له منځه ځي، ځکه خو نو پر یو بل د ظلم له امله د وخت له فرمان سره سم یو بل ته تاوان او جریمه ورکوي. لکه څنګه چـــې دی یـــې پـــه خپله په دې شاعرانه ژبه بیانوي.

(اپا پرون) په یوناني ژبه کې د لایتناهي، ډېر زیات نامحدود او د بې بریده او بې سرحده مانا ورکوي. د لایتناهي مانا د څومره والي له پلوه هم کېدی شي او له مکاني پلوه هم او دغه راز د شکل او ماهیت له پلوه هم ټاکلی برید نه لري. هغه نا متناهي تر متناهي لوړه ګڼله، څرنګه چې

(انکسیماندروس او ملیوس) نا متناهي تر متناهي لوړه ګڼله، نو ځکه خو د ارسطو تر نیوکې او کره کتنــې لانــدې راغلل.څرنګــه چــې د نــوې افلاطوني او مسیحیت تر فلسفې وړاندې په تېره بیا لرغونو فلســفیانو نامتناهي تر متناهي وروستۍ ګڼله، نو خدای یې د نامتناهي په انــډول متناهي انګېره، دا پوښتنه مطرح کېدله چې متناهي خدای موجود دی؟ څرګنده ده چې کولای شي د هر شي لارښوونه وکړي او دا خبــره هــم څرګنده ده چې په خپله (اناکسیماندروس) (نامتناهي) چې پــه پرلــه پسې توګه نوې نوې نړۍ زېږوي او بېرته خپله بنــه خپلــوي، خــدایي موجود ګڼلی دی.

# اناکسیمنس

## تر میلاد (۵۸۵– ۵۲۸) کاله وړاندې

(اناکسیمنس) تر میلاد(۵۷۰– ۵۲۶) کلونه وړاندې د ملطیې ښار دریېم استوګن فیلسوف و. (اناکسیمنس) هم د (اناکسیماندروس) په شان د نړۍ د پیدایښت لومړنی عنصر د یو نامحدود او یوازیني علت زیږنده ګڼي، خو برعکس هغه په دې نظر و چې دا یو مشخص او ټاکلی علت دی، نه نا مشخص او نا ټاکلی. دی (هوا) د نړۍ د پیدایښت د لومړني عنصر په توګه مطرح کوي.



په پاخه باور چې (اناکسیمنس) به د اوبو په باب د (تالس) پر نظریاتو پوهېده، خو دا چې اوبه څرنګه پیدا شوي دي؟ (اناکسیمنس) اوبه د هوا غلیظ شوی شکل ګانه. البته اوس هم موږ چې کله ګورو باران اوري، اوبه له هوا څخه لاندې تویېږي، دا فیلسوف په دې نظر و چې که چېرې اوبه ډېرې غلیظې شي،

نو پر خاورې به بدلې شي، کېدی شي په دې برخه کې دده پاملرنه هغې خاورې راجلب کړې وې، چې د یخ تر ویلي کېدو وروسته د ځمکې پـر مخ راڅرګنده شوې وي، له بلې خوا هغه په دې نظر و چې د هوا په نرۍ کېدو سره اور رامنځته شوی دی. په دې ډول د (اناکسیمنس) په نظـر خاوره، اوبه او اور له هوا څخه رامنځته شوي دي.

په هغه پړاو کې چې په لرغوني یونان کې فلسفي تفکر د باور وړ و، نو د منطقي تفکر پر وړاندې ټول دودیز باورونــه او یـا بـاوري ســرچینې لړزېدلې او خپل باور یې له لاسه ورکاوه. ددې بهیر شعار دا و چې: ((تر هغه پورې هېڅ مطلب سم نه دی چې (زه) ونه کړای شم هغه خپل ځان ته په غوڅو دلایلو توجیه کړم او (زما) تفکر پر دې بریالی نه شي چې د هغه په باب خپل ځان ته قناعت ورکړم.)) دا روحیه له بشـر پـوهنې، جغرافیې او تاریخ څخه نیولې تر طبي کتابونو پورې پر ټولو (ایونیــاییې) لیکنو واکمنه وه. په دې ټولو کتابونو کې نیوکه (د لومړي مفرد شخص له ضمیر ) یانې (زه) له لارې ترسره کېږي. د ساري په توګه د بشر پوهنې او جغرافیا لومړنی رامنځته کوونکی (هکاتنوس) د (انسانپوهنې) په نامه خپل کتاب داسې پیلوي.

((د ملطیې اوسېدونکی (هکاتنوس) داسې وایي: هر هغه مطلب چې زما په نظر یې له حقیقت سره سمون درلود، هغه مې لیکلی دی، ځکه چې د یونیانیانو خبرې رنګارنګ او زما په نظر له دروغو ډکې دي.))

ځکه نو په لرغوني یونان کې د فلسفې د پیدایښت په پیل په تېره بیا په ملطیه ښوونځي کې فلسفي تفکر د (زه) د ظهور لپاره یــوه لاره وه. البته په دې شرط لکه څنګه چې ورته نغوته وشوه دا (زه) وکولای شي په غوڅو او څرګندو دلایلو خپلې ادعاوې توجیه کړي او د هغــو لپــاره

بېرته حساب ورکړي. سربېره پر دې باید دا توجیهات او دفاعیې له (زه) څخه بهر سرچینې ته لاړې نه شي. بلکې په خپله د (زه) پـر سـرچینو ولاړې وي او ان که چېرې تاکل شوې وي له (زه) څخه د باندې پر بهرنیو سرچینو ولاړې وي، باید د هغو سرچینو باور او ارزښت مخکې تر مخکې په خپله د (زه) له لارې تائید شوې وي.

داسې ښکاري چې ان نن ورځ هم دا ډول وي، یـانې دا چـې د هـر انسان (زه) او یا هم د یوې ټولنې زه زه (موږ مـوږ) ددې لپـاره چـې د څرګندېدو ورتیا پیدا کړي او د کړنې یا فعلیت پړاو ته ورسېږي، له دې پرته بله هېڅ چاره نه لري چې پر فلسفې لاس پورې کـړي او دا ځکـه چې:

د دیني تفکر په تګلاره کې ((نقل)) پر ((عقل)) واکمنېږي او (زه زه) نو بیا د دیني بنسټګرانو پر وړاندې سر نه شي پورته کولای. ((عقل)) بیا د دیني ارزښتونو، اعتقاداتو او احکامو پر وړاندې (د یوې توجیه کوونکي وسیلې) کچې ته راټیټېږي او د ازادانه بیان ورتیا له لاسه ورکوي.

په (اناکسیمنسي) فلسفه کې د پاملرنې وړ بل ټکی هغه ورتوالی یا تشابه ده چې د (هوا) او (خدای) تر منځ موجـوده ده. (اناکســیمنس) وایي: ((هوا)) خدای دی. دی د ټولو موجوداتـو د شـتوالي علـت پـه نامحدودې هوا پورې تړي، هغه د خدایانو له شتوالي انکار نه کوي او نه د هغو په باب غلی پاتې کېږي، دې سره سره هغه باور نه درلود چې (هوا) دې خدایانو جوړه کړې وي، بلکې خدایان خپله له هوا څخـه منځتـه راغلي دي.

پر لرغوني یونان کې مطرحو خدایانو د یوه واکمن په توګه یو خدای درلود، چې په دیني اصطلاح یې هغه د ((زنوس)) په نامه یاداوه.

د دوی دا واکمن خدای د (اناکسیمنس) په نظر همغه ((هوا)) وه. د (اناکسیمنس) په نظر ځمکه مسطح بڼه لري، د هوا د انقباض په نتیجه

کې رامنځته شوې او خپله ځمکه پر هوا سوره ده، پـر هغــې یــې ډده لګولې ده. په خپله هوا بیا یو ټاکلی امر او د هویت ځښتنه ګڼي، شاید (اناکسیمنس) په دې باب چې هوا د ځمکې او اسمان ســاتندویه ده، د انسان د تنفسي وضعیت تر اغېزې لاندې راغلی وي، یانې لکه چې نفس (دم یا بیا دم) بدن په بشپړ ډول احاطه کړی او د هغه د خوندیتابــه او ساتنې سبب ګرځي، هوا هم نړۍ په بشپړ ډول احاطه کړې او د هغې د خوندیتابه او ساتنې سبب ګرځېدلې ده، ځکه نو دده په نظر له هوا پرته بل څه نه شي کولای د موجوداتو د پیدایښت او ژوند عامل شي.


# په یوناني افکارو کې بدلون

موږ په تېرو بحثونو کې دېته متوجه شو چې (تالس، اناکسیماندروس او اناکسیمنس) وایي: چې ټول شیان له یوې لومړنۍ مادې څخه منځته راغلي دي، خو د مسالې اصلي زړی په دې کې دی چې دې لومړنۍ مادې څرنګه په ناڅاپي ډول بدلون کړی او پر یوه بل شي بدله شوې ده؟

ددې مهمې مسالې په باب غوارو ددې دورې د مهمو او نامتو فلسفیانو: (پار منديس، هراکلتیوس، امپکلس، اناکساګوراس او دموکراتیوس) نظریات وڅېړو:

# پارمنیدس

## تر میلاد (۵۴۰- ۴۸۰) کاله وړاندې



پارمندیس دېر نامتو (النایي) فیلسوف و، چې تر (۵۴۰- ۴۸۰) کلونه وړاندې یې د ژوند زمانه ده. ده د مادې د تغیر او بدلون مسالې ته پام وکړ او لومړنی سړی دی چې د میتا فزیک په باب یې بحث کړی دی. ده خپل (میتا فزیک) د خپل اثر پر بنسټ اعیار کړی. دا اثر (د طبیعت په باب) نومېږي. څه شی چې د هستۍ یا ژوند په باب دده مخې ته راغلي، هغه یې په شهودي ډول شرح کړي دي. دی په دې نظر و؛ څه شی چې په نړۍ کې شته هغو همېشه وجود درلود. پارمندیس د (النا) ښار اوسېدونکی و، دا ښار د ایټالیا په (سویل) کې واقع و، چې هغه وخت د (یونان) له مستعمرو څخه ګڼل کېده. (پارمندیس) او نور نامتو

(النايي) فلسفيان چې دی يې بیا تر ټولو مشهور وو، په دې نظر و چـې هېڅ شی نه شي کولای له هېڅ څخه رامنځته شوی وي او هغه څه چې شته هغه هم نه شي کېدلای پر هېڅ بدل شي.

(پارمندیس) یوازې پر دې هم بسنه ونه کړه، د طبیعت په باب يـې خپلې پلټنې ته دوام ورکړ او په پای کې دې پایلې ته ورسېد چې (شی، وجود او یا هستي) تلپاتې څیز دی، په هغو کې تغیر او اوښتون ته لاره نه شته.

همدارنګه د هستۍ لپاره نیستي نه شته، یانې په دې مانا چې واقعي بدلون شونی نه دی او هېڅ شی نه شي کولای، له خپل ځانه پرته پر بل شي تبدیل شي. هغه په خپل دې فکر سره له هستۍ څخه د وخت يـا زمان عنصر حذف کړ او دا د (پارمنـدیس) د میتافزيـک لـه اساسـي شکلونو څخه ګڼل کېږي.

البته (پارمندیس) ته دا خبره څرګنده وه چې طبیعت همېشه له یو لړ بدلونونو سره لاس و ګرېوان دی. هغه پر دې پوهېده چې پـه خپلـو حواسو دا بدلونونه توضیح کړي، خو نه يې شول کولای، کوم څه چـې هغه ته حکم کوي، هغه سره منسجم کړي. په هر ډول دا خبره څرګنده ده، که ټاکل شوې وای هغه د (حس) او (عقل) له جملې څخه یو غـوره کړي، نو (عقل) به يې غوره کاوه.

یوه مشهوره مقوله ده چې: ((هغه څه منم چـې ویـنم يـې)) خـو (پارمندیس) ان تر هغه وروسته چې یو شی به يې په سترګو لیده، بیا يې هم نه مانه، هغه په دې نظر و چې حواس موږ ته ددې نړۍ سم انځور نه

کاږي او دا تصویر له هغه څه سره چې عقل یې حکم کوي، سـمون نـه خوري.

(پارمندیس) (د طبیعت په باب) په یوه منظومه کې په شاعرانه ژبه داسې ویلي دي:

((دا هېڅکله مه منه کوم څه چې نه شته، هغه شته

ژور فکر دې له دې فکر څخه لرې لره))


د (پارمندیس) موخه داده ، هغه څه چې ثابت وجود لري، تغیر نـه کوي، د پېژندنې او کشف وړ دي، دا هستي ده او هر هغه څه شی چـې بدلون مومي او د تغیر وړ دي، څرنگه چې حقیقي وجود نه لري، نو ځکه نشتوالی دی او (هستي) یا شتوالي نه لري.

د (پارمندیس) په فلسفه کې له هستۍ یا شـتوالي څخـه د زمـان حذف پر دې بنسټ و چې هغه زمان هم د مکان او حرکت پـه شـان د هستۍ ظاهري بڼې گڼلې، نه دا چې د هستۍ له حقیقت او ماهیت څخه یې ریښه اخیستې وي، هغه زمان د وهم، حواسو او سرسـري ذهنونـو زېږنده گاڼه او په پایله کې هغه ته په کومه اساسي مانا قایل نه و، نو ځکه خو یې له همدې کبله د هستۍ ژوره پېژندنـه د زمـان او حرکـت لـه تېرویستنې (سرابه) لرې گڼله.

# هراکلیت

## تر میلاد (۵۴۰- ۴۸۰) کاله وړاندې

(نه شو کولای په یوه رود کې دوه ځله ولامبو)




هراکلیت د (پارمندیس) همعصره و، هغه د کوچنۍ اسیا، د اوسنۍ ترکیې د (افه سوس) ښار اوسېدونکی ګڼل کېده، (افه سوس) د لرغوني یونان دویم لوی ښار و، چې مکیوس (ملطیه) ته نږدې ودان و. (هراکلیت، هراکلتیوس یا هرقلیتوس) تر سقراط وړاندې ډېر نامتو فیلسوف دی، چې د لویدیځ ډېرو لویو فلسفیانو د هغه فلسفې ته پاملرنه کوله، چې له هغې جملې څخه کولای شو، د (افلاتون، هېګل، نېچه او هایدګر) نومونه د بېلګې په توګه یاد کړو.

تر میلاده نیمه پېړۍ وړاندې بیا تر اوسه پورې چې دوه زره څو سوه کاله تېرېږي علم او فلسفه لا هم د هراکلیت د نظریاتو تر اغېز لانــدې دي. په داسې حال کې چې هغه خپله د ختیځ د خوځنــده او تلپــاتې فلسفې تر اغېز لاندې و. (سقراط) به ویل: (( د یوه هوښیار انســان یــو ژورلید په کار دی چې د هغه په جملو پوه شي.)) (هیګل) هراکلیت یو ژور روښنفکر ګڼه چــې د فلســفې د علــم د کوچنیــوالي د ودې او د بشپړتیا د پیل سبب شو. (نېچه) لیکي: ((د هراکلیت اثار  او نظریات به هېڅکله زاړه نه شي)). د بشر د تفکر د بهیر د مورخانو په نظر (افلاتون، هېګل، مارکس، نېچه) او نور فلسفیان د (هراکلیت) د نظریاتو تر اغېــز لاندې وو.

سره له دې چې د هراکلیت د تضاد قانون پر خپلو نورو همهالو خپل مهم اغېز پرېښود، خو د هغه نظر وروسته بیا د ناسم پوهاوي سبب او په غلط ډول تفسیر شو. (دارونیستانو) هڅه وکړه د اضدادو د مبارزې پــر تیورۍ ډډه ولګوي، هغه زده کړي او د خپلو نظریاتو تیوریک بنسټ یې کړي، له هغې جملې څخه د بقا د تنازغ او تکامل تیوري ترلاسه کــړي. (هراکلیت) په خپله هم د خپلو هممهالو روښنفکرانو لکــه (ســکریت، فیثاغورث، هومر او هزوید) د نظریاتو پر وړاندې د نیوکــو پــه یــوه نــا ډیموکراتیک دریځ کې پاتې شو.

(هراکلتیوس) د میلتوسي (ملطیې) له دریو غټو فلسفیانو څخه لوی توپیر درلود، هغه د دریو مخکینیو فلسفیانو چې د طبیعت د لــومړنۍ مادې په لټه کې وو، د هغوی پر خلاف خپله پاملرنه د طبیعت د متوازن

بدلون او د دغه بدلون د څرنګوالي په باب راتوله کړه، ځکه نــو شــاید وویلای شو چې هراکلیت تر (پارمندیس) زیات پر حواسو ډډه لګوله.

د هراکلیت د فلسفې د کتورینو دوه خواوې درلودې:

لومړی هراکلیت په دې نظر و چې: ((هر څه په حرکت کې دي)) هر څه د تېرېدو په حال کې دي او هېڅ څیز ثابت نه دی. ځکه نو موږ نه شو کولای په یوه سیند کې دوه ځله ګامونه پورته کړو. ځکه چې هر ځل په دې سیند کې ګام واخلو، زموږ له پښو څخه اوبه تېرېږي او موږ به هم هر خل بدلون کړی وي، د نړۍ دا تغیر او بدلون کولای شو د (هراکلتیوس) د وکتورینو لومړۍ خوا وګڼو.

د هغه د دوکتورینو دویم اړخ په نــړۍ کــې د اضــدادو تــرمنځ لــه کشمکش څخه عبارت دی، هراکلیت په دې نظــر و چــې نــړۍ تــل د اضدادو محل دی.

د هراکلیت په نظر نړۍ نه خدای او نه هم انسان پنځولې ده. بلکــې تضاد او د اضدادو مبارزه د هغې د تحول، تغیر، ژوند او حرکــت ســبب ګرځي. که چېرې هېڅکله ناروغ نه شو، نو هېڅکله به درک نه کړو چې روغتیا یا سلامتي څه شی دی. که چېرې هېڅکله وږي نــه شــو، نــو د مړښت په خوند به هېڅکله پوه نه شو، کله چې جګړه نه وي نو د سولې پر ارزښت نه پوهېږو او که چېرې ژمی نه وي، نو پسرلی به هم دا پــرتم ونه لري.

هراکلیت په دې نظر و چې ښه او بد دواړه په ژوند کې خپــل خپــل ځای لري او یو د بل ترڅنګ د اضدادو له وجود پرته دا نړۍ پایته رسي، هغه د یو فرد مرګ د بل فرد له ژوند سره تړلی بولي، بدي او نیکي یــو

شی ګڼي او وايي چې يوازې زموږ په نظر توپير لري، خوښي او غم هم يو د بل لازم او ملزوم ګڼي.

هراکليت په دې باور و چې که چېرې ((خدای همغـه شـپه او ورځ، اوړی او ژمی، جګړه او سوله، لوږه او مړښت وي)) په ډاډ سـره د هغـه خدای اساطيري خدای نه دی. دده په نظر خدای او خدايي هغه شی دی چې ټوله نړۍ رانغاړي، يانې خدای دده په نظر هغه طبيعت دی چې پـه پرله پسې ډول بدلون کوي او د اضدادو يوه مجموعه ده.

هراکليت زياتره د (خدای) د کلمې پر ځای له ((لوګـوس)) يونـاني کلمې څخه چې د عقل مانا ورکوي، ګټه پورته کړې ده. هغه په دې نظر و چې که چېرې موږ انسانان تل په يوه ډول فکر ونه کړو او زموږ پوهه هم په يو ډول نه وي، بايد يو ډول (نړيواله پوهه) موجوده وي چې د طبيعت د ټولو پېښو لارښوونه کوي چې دا ((نړيواله پوهه)) يا (نړيوال قانون) په ټولو کې يو ډول دی او انسانان بايد هغه تعقيب کړي. دې سره سره هغه په دې نظر و چې اکثره خلک په ژوند کې له خپل شخصي او فردي عقل څخه ګټه پورته کوي. له همدې کبله هغه د ادم زامنو ته زيات ارزښت نه ورکاوه او د هغوی نظريات يې ماشومانه ګڼل.

په دې ډول نو هراکليت د طبيعت په ټولو اضدادو او بدلونونو کې يو ډول يووالی او ژوند ليده او هغه څه چې ددې تغيراتو او بدلونونو زمينه يې برابروله، هغه يې د (خدای) يا ((لوګوس) په نامه ياداوه.

له بل پلوه د هراکليت فلسفه تاريخي اصالت لري او هغه دا چـې د تاريخ د قضاوت اخلاقي اړخ ته قايل دی. په بله وينا په دې تله چې ((څه

چې واقعي دي هغه حقيقي دي)) ياني دا چې ويلای شو، ((کوم څه چې واقعي دي، هغه اخلاقي دي)).

لکه څنګه چې هراکليت يې څرګندوي د جنګ نتيجه تل عادلانــه وي، لکه څرنګه چې هراکليت پر دايمي بــدلونونو بــاور لــري، لــه دې ستونزې سره مخامخېږي چې د عدالت معيار او تلنه هم د تغير او بدلون په حالت کې دي. هراکليت دا ستونزه د ارزښــت پــالنې پــه نســبت د اضدادو په يووالي حلوي:

((ژوند او مرګ، ويښه او خوب، خواني او زړښت دا ټول سره يو دي، ځکه چې يو پر بل بدلېږي او بيا دويم بېرته پر لومړني. هغه چې له خپل ځان سره پر دښمنۍ اخته دی، د خپل ځان لپاره ملتزم کېږي. اضداد يو بل سره پيوستون لري، تر ټولو ښه همغږي د ناسم جوړښت پايله ده او هر څه د دښمنۍ له لارې پيدا او پالل کېږي، هغه لاره چې پورته ځــي، همغه لاره ده چې کښته راځي... مستقيمه لاره همغه کږه لاره ده او له هغې سره تړلې ده.

د خدايانو پر وړاندې هر شی ښکلی او حــق دی، خــو د ادم زامــن ځينې شيان حق او ځينې ناحق ګڼي. ښه او بد دواړه يو دي)).

د ځينو اړخونو له پلوه د (هراکليت) او (پارمنديس) ليدلوري يو د بل پر وړاندې ودرېدلي دي. يوه پر (عقل) لاس پــورې کــړی او دويــم پــر (حس). (عقل) پارمنديس ته حکم کاوه چې هېڅ شی بدلون نه مومي او تغير نه خوري، خو (حس) بيا هراکليت ته حکم کاوه او د طبيعت دايمي

**تغیر يې تائیداوه ، کوم یو حق په جانب و، (هراکلیت) یا (پارمندیس)؟ پر عقل باید باور وشي که پر حس ډېه ولګول شي او باور پرې وشي؟**

**ددې دواړو فلسفیانو د دوو مسلو وړاندوېنه کړې ده:**

**پارمندیس باور درلود چې:**

**الف- هېڅ شی بدلون نه مومي.**

**ب- حس کېدی شي له سړي څخه لاره ورکه کړي.**

**او په مقابل کې یې هراکلتیوس په دې نظر و چې:**

**الف- هر شی بدلون مومي (هر شی په حرکت کې دی)**

**ب- کولای شو پر حس باور وکړو.**

**دا شوني نه ده چې د نورو لویو فلسفیانو تر منځ داسې لوی تضــاد پیدا کړو. خو له دوی څخه یو حق په جانب و.**

# امپډکلس

## تر میلاد (۴۹۴-۴۳۴) کاله وړاندې

امپډکلس چې تر میلاد (۴۹۴-۴۳۴) کلونه وړاندې يې ژوند کاوه، په پای کې پر دې بریالی شو چې له تیارې څخه دراوتو لاره پیـــدا کــړي او فلسفه لــه دې ســرگردانۍ څخه وژغوري، هغه پــه دې نظر و چـــې (پارمنـــدیس) او (هراکلتیوس) هر یو د خپلو دې دوو نظرونو له جملې یوه کې په حقه و او په بل کې يې اشتباه کړې وه.



په دې ټکي کې له نـــورو فلسفیانو سره د (امپډکلس) د نظر اختلاف مهم و، هغوی د یوې لومړۍ مادې پر شتوالي باور درلود، په داســې حــال کــې چــې (امپډکلس) په دې نظر و چې که چېرې یــوازې یــوې لــومړنۍ مــادې

شتوالی لرلای، هېڅکله نه شو کېدی کوم څه چې عقل وايي او کوم څه چې حس يې وايي، د دواړو تر منځ اړيکه ټينګه کړو.

(امپېدکلس) په دې نظر و چې په طبيعت کې څلور لومړني عناصر (منشا) شته چې دا څلور عناصر له خاورې، هوا، اور او اوبو څخه عبارت دي.

د هغه په نظر په طبيعت کې ټول رامنځته شوي بدلونونه د دغو څلورو عناصرو له يو خای کېدو او بېرته له يو بله له جلا کېدو څخه رامنځته شوي او يوازې د هغو د ترکيب کچه يو بل سره توپير لري.

هغه ويل دا خبره سمه نه ده چې وايو: ((ټول شيان)) تغير کوي. ځکه چې په اصل کې هېڅ شی تغير نه کوي، څه شی چې پېښېږي، په اصل کې يو بل سره د دغو څلورو عناصرو پيوستون او بېلتون دی.

(امپېدکلس) په دې نظر و چې په طبيعت کې بايد دوه ځواکونه موجود وي. هغه دا دوه ځواکونه د (مينې) او (کينې) په نامه يادول، هغه څه چې د عناصرو د شلېدلو سبب ګرځېده هغه کينه وه، ځکه نو د مادې د ځواک تر منځ توپير ته قايل و.

(امپېدکلس) وايي بدن د روح زندان دی او دا په دې خاطر دی چې ده ګناه کړې ده، خو کومه ګناه چې دی يې يادوي د سامي مذهبونو له لومړنۍ ګناه څخه توپير لري، هغه په دې نظر دی، له هغه وخته چې انسان د نورو حيواناتو پر وژنه لاس پورې کړی او خپله ګېډه يې د نورو حيواناتو لپاره هديره کړې ده، پر ګناه يې لاس پورې کړی دی او له ګناه څخه د خلاصون لاره له تناسخ پرته بل څه نه دي، ياني بايد تر هغه


پورې دا گناه کاره روح پر بېلابېلو جسمونو کې کښــته پورتــه شــي او ورنځېږي چې په پای کې په تذکیه پاک شي او ارامۍ ته ورسېږي)).

د (امپدکلس) په فلسفه کې د نفس (ارفه يي) نظريه او (ايونيــايي) طبيعي فلسفه دواړه یــو بــل کــې ســره ننــوتي او دا اغښــلتيا ددې ښکارندوي کوي چې  د نړۍ په باب مختلف لیــدلوري څنگــه پــر دې بریالي شوي چې د یوه واحد شخص په ذهن کې یو بل سره بشپړ کړي، ددې دوو لیدلوریو انځور د عناصرو په دوړو کې پټ دی، په داسې حال کې چې هوا او اوبه، خاوره او اور تړول له دوی څخه بېزاره دي او هغه د یو بل لوري ته ځغلوي.

# اناکساګوراس

## تر ميلاد (۵۰۰– ۴۲۸) کاله وړاندې

## (لمرى يوه اورينه ډبره ده)



(اناکساګوراس) داسې يو فيلسوف دى چې نه يې شو کولاى ومني چې وجود له يوې لومړنۍ مادې څخه جوړ دى، هغه د (ام پدکلس) نظر هم نه مانه او نه يې شو منلاى چې خاوره، هوا، اور او اوبه دې پر وينه، هډوکي، پوټکي يا وېښتانو تبديل شوي دي.

(اناکساګوراس) له يو بل پلوه هم د پاملرنې وړ دى؛ هغه لومړنى (اتني) فيلسوف دى چې د ژوند په باب يې ډېر معلومات ترلاسه شوي دي، په (کوچنۍ اسيا) کې زېږېدلى، په (څلوېښت کلنۍ) کې يې (اتن) ته کډه کړې، خو د بې دينۍ په تور محاکمه شو او له اتن څخه يې تبعيد کړ، ځکه هغه ادعا کوله چې لمر خداى نه دى، بلکې د اور يوه ډبره ده چې د (پلويونس) تر ټاپو څخه لويه ده.

(اناکسا ګوراس) په دې نظر و چې په طبيعت کې ټول شيان د وړو وړو ذرو له يو ځاى کېدو څخه رامنځته شوي، دا کوچنۍ ذرې په سترګو نه ليدل کېږي، هر شى کېدلاى شي پر ډېرو کوچنيو برخو ووېشل شي، خو د دوى تر ټولو ډېره ډېره کوچنۍ ذره به بيا هم د همغوى خپلې ځانګړې ولري.

زموږ بدن هم دا ځانګړتیاوې لري، زموږ د پوټکي د سلولونو په زړي یا هسته کې یوازې په پوټکي پورې تړلي معلومات نه دي راټول شــوي، بلکې د سترګو، رنګ، وېښتانو د ګوتو شمېر او ان د هغوی په شــکلونو پورې اړوند معلومات راټول شوي دي. زموږ د بدن په سلولونو کې زموږ د ژوندني جوړښت په باب ټول اطلاعات خوندي دي.

څکه نو په هر سلول کې (هر شی په هر شي کې) موجود دی، هــره برخه د جوړو شویو برخو د ټولګې یوه برخه ده چې د دې هره برخه بیا د هغې ټوله ټولګه په خپل وجود کې رانغاړي.

(اناکساګوراس) دا کوچنۍ ذرې چې د ټول (کل) یو (جز) ګڼل کېږي، د (بذر) یا (تخم) په نامه یادوي، لکه څنګه چې مخکې یادونــه وشــوه امپډکلس (مینه) د موادو د پیوستون ځواک ګاڼه. (اناکساګوراس) هم پر یو ډول ځواک باور درلود او دا ځواک یې د انسانانو، حیواناتو، ګلونو او ونو د رامنځته کېدو عامل ګاڼه. ده دا ځواک د (روح) په نامه یاداوه.


هغه ستور پېژندنې ته زیاته پاملرنه کوله، هغه په دې نظر و چې ټول اسماني څیزونه له همغې مادې څخه جوړ شوي چې ځمکــه لــه هغــې څخه جوړه شوې ده. دی هغه وخت پر دې خبره باوري شــو چــې یــوه اسماني ډبره یې وڅېړله، د همدې دلیل له مخې (اناکساګورس) په دې باور و چې په نورو کرو کې هم د انسان د ژوند تصور کېدلای شي.

(اناکساګوراس) چې څه موده یې په (اتن) کې ژوند کاوه، په دې جرم چې لمر یې یوه اورینه ډبره ګڼله، له اتن څخه تبعید کړ.

# دموکرتیوس

## ترمیلاد (۴۴۰- ۳۷۰) کاله وړاندې

د فلسفي تفکر لومړنۍ بنې د لرغونې دورې پر مهال د غلامۍ په دوره کې ځرګندې شوې. لرغونې فلسفه ځرګندې نښې نښانې لري، چې وروسته د لویدیځ په نوي فلسفه کې په ځرګند ډول ښکاره کېږي، ددې دورې د فلسفیانو له جملې څخه چې پر نوې فلسفه یې ځرګند اغېز درلود کولای شو، (افلاتون، ارسطو، سقراط او دموکریت) ته نغوته وکړو، د (ماتیریالیزم) لومړنۍ نښې نښانې، د لرغوني یونان د ستر فیلسوف



(دموکریت) د عقایدو په سیستم کې لیدل کېږي، یا یې دا سستم لومړنۍ بېلګه ګڼل کېږي، په لرغونې دوره کې فلسفې پر علم ډېره

لګوله، پخه نه وه، ځکه تر کومې کچې چې تړولنې وده کړې وه او د هغه پړاو پر لومړنۍ او سرسري پېژندنې یې ډډه لګوله، فلسفې پر همغې ډډه لګوله، ځکه یې نه شو کولای علمي بڼه خپله کړي.

د لرغوني یونان په فلسفه کې مورږ د (ماتریالیزم) او (ایډیالیزم) او (دموکریت) او (افلاتون) دنظریاتو تر منځ د جګړې شاهدان یو، یانې د هغو تر منځ ټکر وینو.

د موکریتوس یا دموکریت، دیموقراطیس (Democrius) تر میلاد (۴۴۰– ۳۷۰) کاله وړاندې ژوند کاوه، له کومه ځایه چې ده د خوشالۍ پر ارزښت ډېر ټینګار کاوه، په (خندان فیلسوف) مشهور و او د (ابدرا) بندر اوسېدونکی و.

د موکراتیوس (دموکریت) د داسې یو فلسفي نظام بنسټ کېښود چې د طبیعې نړۍ د مادي بیان ښکاردندویي کوي، په دې برخه کې دی له خپل ښوونکي (لیوسیوس) څخه اغېزمن شوی و.

(دموکرتیوس) د خپل پلار تر مرګ وروسته د پوهې د حاصلولو لپاره ګڼ شمېر سفرونه پیل کړل او د خپل میراث ډېره برخه یې پر خپلو سفرونو ولګوله، ویل کېږي چې هغه د مصر، ایتوپیي (حبشې)، اریانا او هند لیدنه وکړه. کله چې (دموکرتیوس) خپل پلرني ټاټوبي (ابدرا) ته بېرته ستون شو، نه ورته د خپل پلار له میراثه څه پاتې و او نه یې د ژوند لپاره د خوراک څه لرل. په دې ډول یې ورور (دا موسیس) له هغه سره مرسته وکړه او ده بیا خپل پاتې عمر د طبیعت په باب ازموینو ته وقف کړ، له طبیعي پدیدو سره د هغه اشنایي او د اوبو په باب د هغه

وړاندوينې د (دموکرتيوس) د شهرت عوامل شول، هغه لــه خپلــو دې ځواکونو څخه په دې باب چې راتلونکی د وړاندوينې وړ دی، د خلکو د باوري کولو لپاره ګټه پورته کړه، (دموکرتيوس) په داسې حال کې چې سلکلنۍ ته رسېدلی و، وفات شو.

(دموکرتيوس) د اوسمهال له الکترونيکي او ډيجټلي شان و شوکت څخه خبرتيا نه لرله، عقل او فکر د هغه يوازيني وسايل وو. عقل هغه ته د بل انتخاب اجازه نه ورکوله، که دا ومنو چې هېڅ شی نه شي کولای پر بل شي بدل شي، هېڅ شی له هېڅ شي څخه نه رامنځته کېږي او هېڅ شی له منځه نه ځي، هغه وخت نو بايد طبيعت له ډېرو وړو ذرو څخــه جوړ شوی وي، چې يوه له بلې سره وصل او يوه له بلې جلا شي.

(دموکرتيوس) په طبيعي بدلونونو کې د (ځواک) پــر کــوم ډول يــا (روح) پر شتوالي باور نه درلود، د هغه په نظر څه شی چې ممکــن وو، اتومونه وو او تشه فضا وه. څرنګه چې (دموکرتيوس) يوازې (مادې) ته پاملرنه کوله، نو ځکه يې هغه ماده پال باله. هغه په دې نظــر و چــې د اتومونو حرکت د يوې ځانګړې ارادې تر واک لاندې نه دی، خو دا ټکی په دې مانا نه دی چې دهغو حرکت يوازې اتفاقي دی، دی په دې نظر و چې د هرې پېښې لپاره يو طبيعي دليل موجود وي او دا دليل په شيانو کې نغښتی وي.

(دموکرتيوس) په دې نظر و چې ان د نړۍ په اړه زموږ احساس د نه تجزيه کېدونکو ذرو پر بنسټ د توجيه وړ دی، که کوم څه احساسوو په تشه فضاء کې د اتومونو د حرکت له امله دي، که چېرې موږ کولای شو

سپوږمۍ ووینو له دې امله دي چې د سپوږمۍ اتومونه زموږ پر سترګو لګي.

(دموکرتیوس) له (اتوم) سره د (ادراک) د اړیکي په باب په دې نظر و چې د انسان روح له یو ډول ګردو او رڼو اتومونو څخه جوړ شوی دی، کله چې یو څوک مړ کېږي، د هغه د روح اتومونه د هغه د بدن له هرې برخې څخه وځي او بیا بل روح رامنځته کوي، چې نوي جسم پورې اړه پیدا کوي.

دا نظر په دې مانا دی چې د انسان روح هېڅکله نه مري، تر اوسه هم په یوویشتمه پېړۍ کې یو زیات شمېر خلک د (دموکرتیوس) په شان نظر لري، چې د انسان روح د هغه له مغز سره اړیکي لري، کله چې انسان له منځه لاړ شي، شونې نه ده چې (ادراک) پاتې شي، په دې مانا چې دموکرتیوس په بشر کې تلپاتې او نامادي روح نه مانه. د هغه په نظر د انسان روح له نرۍ مادې، ګردو او رڼو اتومونو څخه جوړ شوی، چې ددې مادې اتومونه د مرګ پر مهال یو له بله جلا او پاشل کېږي.

(دموکرتیوس) د یونان د طبیعتپالې فلسفې پای د نه تجزیه کېدونکو ذرو د نظریې پر وړاندې کولو سره اعلان کړ، هغه له (هراکلتیوس) سره په دې نظریه کې چې هر څه د (حرکت) په حال کې دي، هم نظره و، د هغه په نظر هر څه په تغیرکې وو، اما دموکرتیوس په دې باور و چې څه شی چې په حرکت کې دي، د هغه تر شا یو تل پاتې او نه بدلېدونکی شی واقع دی او دا خبره څرګنده ده چې هغه (اتوم) دی. د هغه په نظر تر طبیعت پورته او یا تر طبیعت بهر کوم ځواک وجود نه

لري، دموکرتیوس لپاره یوازې هغه وجود د منلو وړ دی چې له اتوم څخه جوړ شوی وي، له همدې کبله هغه په بشپړ ډول د ماتریالیست (مـاده پال) فیلسوف په نامه پېژندل کېږي.

د هغه په نظر په طبیعت کې هر څه میکانیکي، جبري او تخلف نـه منونکي دي، څرنګه چې هر څه له اټوم څخه رغېدلي او هغه هم یوازې د خپلو ذاتي قوانینو لاره تعقیبوي. نو ځکه د طبیعت د قوانینو په پیدا کولو سره کولای شو په اسانۍ سره د راتلونکي وړاندوینه وکړو، موږ وینو چې د دموکرتیوس د فلسفې زیاته برخه  د اتوم په باب ده. (اتـوم) پـه یوناني ژبه کې د  (نه تجزیه کېدونکی) مانا ورکوي. (دموکرتیـوس) دې پایلې ته رسېدلی و چې نه شو کولای ماده په نامحدود ډول پر وړو وړو ذرو ووېشو او تر پرله پسې وېش وروسته به د (اټوم) په نامه نه تجزیـه کېدونکې ذرې ته ورسېږو.

د دموکریتوس په نظر اټومونه تلپاتې دي، یانې ازلـي او ابـدي دي. دلیل هم دادی چې نه له نشت څخه څه شی پیدا کېږي او نه وجود پر نشت بدلېږي.

له دې کبله نو (دموکرتیوس) له (انسانپالو) سره موافـق و، خـو د هغوی پر خلاف بیا دموکرتیوس خلا، حرکت او تغیر مني، د هغه په نظر اټومونه یو بل سره واټن لري، حرکت کوي او (خلا) یې ترمنځ واټن دی.

هغه په دې نظر و چې شیان له بېلابېلو اټومونو څخه جوړ شوي دي، چې دا اټومونه یو بل سره نښتي دي، که چېرې شی یا جسم تجزیه شي، دا اټومونه به یو ځل بیا یو له بل سره جلا او وپاشل شي. د طبیعت پـه

باب د ارسطو نظریات ددې سبب شول چې د دموکرتیوس د اټوم تیوري نړدې د خلکو له یاده ووځي، ان تر دې چې دوه زره کاله وروسته یو انګلیسي کیمیاپوه (جان ډاسون) یو ځل بیا هغه مطرح کړه.

دموکرتیوس تل په ژوند کې د ښو او ښکلو شیانو هرکلی کاوه، خپلې پنځونې یې بشپړې ګڼلې او زیات شکایت یې نه کاوه، د دموکریت اثار چې به (عتیق) دوران کې یې زیات شهرت درلود، زموږ لاسته نه دي راغلي، یوازې (دېوژن) د هغه د اثارو له جملې څخه د څو اثارو یادونه کړې ده، لکه: (د روح سوکالي، د انسان طبیعت، دوزخونه، درې پښته، د همغږۍ ځمکني عوامل، او عددونه).

# په یوناني افکارو کې تاریخ

# اود تاریخ فلسفه

هغه مهال چې یوناني فلسفیانو په طبیعت کې د موجـودو طبیعـي بدلونونو د توضیح په باب هڅه کوله، ورو ورو د تاریخ لپاره هـم پوهـه رامنځته شوه. په دې علم کې هڅه کېدله چې د تاریخي پېښو طبیعي دلایل وڅېړل شي.

تر هغه وروسته په جګړه کې ماتې د خدایانو په غچ پورې تړل کېده. د یونان د نامتو مورخانو له جملې څخه کولای شو د (هرودوت) چې تر میلاد (۴۸۴-۴۲۴) کاله وړاندې یې ژوند کاوه او (توسـیدید) چـې تـر میلاد (۴۶۰- ۴۰۰) کاله وړاندې یې د ژوند مهال و، نومونه یاد کړو.

د یونان د لرغونې دورې تاریخ لیکونکی (هرودوت) تر میلاد وړاندې په پنځمه پېړۍ کې ژوند کاوه، د (هرودوت) لیکنې په نهو (۹) کتـابونو کې راټولې شوې، له همدې کبله هغه (په نهو کتابونو کې تاریخ) په نامه یادوي او د هغه هر یو کتاب د لرغوني یونان له ارباب الانواعو یا خدایانو څخه د یوه په نامه نومول شوی دی. څېړونکي د (هرودوت) د اثـارو دا وېش او نومونه په وروستیو پېړیو کې د نورو کار ګڼي او په دې نظر دي چې د هغه تالیفیاتو په لومړیو کې کوم وېش نه درلود.

له یوناني پوهانو څخه نیولې بیا تر معاصرو مورخینو پورې له هغـې جملې څخه (ویل دورانت) او (ارنولدتوین بي) پورې ټولو (هـرودت) د تاریخ پلار ګڼلی دی.

د (میشیگان) پوهنتون د تاریخ څانګې استاد (هنري. اس. لوکاس) په وینا (هرودوت) په رښتیا سره ددې لقب وړ دی، ځکه چې د شلمې پېړۍ د بشر لپاره ټول اطلاعات لکــه د (مادیــانو، پارســیانو، بابلیــانو، یونانیانو، ایټالویانو، فینیقانو او مصریانو) په باب معلومات د هغه د هڅو په برکت ترلاسه شوي دي. که چېرې هرودوت نه وای، نــو فرانســوي (شامپلیون) نه شو کولای (هیروګلیف) لیک ولولي، ځکه چې هرودوت د خپلو کتابونو په واسطه د لرغونو ملتونو په باب پاشــلي اطلاعــات د یادګار په توګه پرې ایښي دي، چې همدا اطلاعات د وروستیو پېړیــو د تاریخپوهانو او لرغونپوهانو د څېړنې او په پایله کې د لرغونــو پېړیــو د ډېرو حقیقتونو د سپړنې سبب شول.

تر (هرودوت) دمخــه هــم ډېــرو تاریخپوهــانو، لکــه: (کــادموس، هلانیکوس، میتي لین، شارن او هکاته) ژوند کاوه ، (هرودوت) د ځوانۍ پر مهال هیله لرله چې یوه ورځ له هغوی سره له نږدې وګــوري، هغــو تاریخپوهانو تر ډېره حده د لرغونو ښارونو د بنسټ اېښودلو او د لویو او اشرافو کورنیو د شان و شوکت په باب خبرې کــړې دي او پــه خیــالي دلایلو یې د ځینو کسانو نسبت خدایانو او لرغونو اتلانــو تــه رســاوه. (هرودوت) په ځوانۍ کې د هغوی لیکنې لوستلې او د هغوی له خیالي افسانو څخه یې خوند اخیسته، خو یو څه موده وروسته پوه شو چې د هغوی د تاریخ لیکنې دود ډېر سم نه دی او هغوی یې پر افسانه جوړونې او داستان جوړونې تورن کړل.

د (هرودوت) لیکنې لــومړنی اثــر و چــې تــر دینــي تفکراتــو او د جغرافیایي خبرتیاوو په باب د څېړونکو تر څېړنې او قوم پېژندنې پورته

لاړ او تر (څېړنې) پورې ورسېد. څېړنه په انساني واقعیتونو کې د دیني او ایماني دودونو په منځ کې شوې ده، له همــدې کبلــه (هــرودوت) د (Historiai) کلمه د خپل کتاب د عنوان په توګه غوره کړه. (historiai) په یوناني ژبه کې د حقیقت د موندلو لپاره د څېړنې او پلټنې په مانا ده.

د یادونې وړ ده چې تر (هرودوت) وړاندې یو شمېر لیکوالو چې هغه یې د (ویناپالو) په نومونو یادول، پر دې بسنه کوله، اساطیري استانونه چې خدایي او انسایي ریښې یې درلودې، له حماسي منظومــو، نســب لیکنو او د پېښو له شرحو څخه راوکاږي او په نثر یې ولیکي، طبیعــي خبره ده چې (هرودوت) هم د خپل اندود پــه انــدول د اســانه او روان سبک د تعقیب له پلوه داستان لیکنو او همدارنګه د ژبې د کارونې لــه پلوه له (ویناپالو) سره نږدې دی. ځکه چې (هیرودوت) خپل اثــار پــه (یوناني) ګړدود لیکلي دي.

خو راځو دېته چې (توسیدید) څه ډول فکر کاوه؟

(توسیدید) د جګړې د (سبب) او (دلیل) غځ توپیر ته ګوته نیسي، چې تر هغه وروسته د جګړه ییز تاریخ لیکنې لپاره د ډېر اهمیت وړ وو. په دې ډول موږ کولای شو له دې توپیرونو څخه د (عراق) پر وړاندې د (امریکا) د جګړې د توضیح لپاره ګټه پورته کړو. تر میلاد وړانــدې پــه پنځمه پېړۍ کې هغه بېلابېل دلایل چې د (سپارتیانو) له خوا وړاندې او د (اتن) پر ضد یې هغوی جګړې ته اړ ایستل ، هغه دا وو چې له یوې خوا د دوارو خواوو تر منځ تړونونه سست شول او وشلېدل او له بلې خوا د اتن له لوري یو لوی برید و. (توسیدید) دا یوازې د جګــړې د (ســبب) یانې د جګړې د بالواسطه دلایل په توګه شمېري او هغو ته څه خــاص


ارزښت نه ورکوي. د یونان دا نامتو تاریخپوه ددې جګړې د مخنیوي د عواملو تر بشپړې څېړنې او ارزونې وروسته دې پایلې ته رسېږي چې ددې جګړې دلیل دا و چې (سپارتیانو) فکر کاوه له (اتن) سره په داسې یو تړون کې چې هغه تل د پراختیا غوښتنې فکر درلود، د دوی پاتې کېدل، دوی ته په زیان او ضرر پرېوزي.

دا لومړی دلیل و او اصلي دلیل چې البته د هغه په باب ډېرې کمې خبرې شوي دي، زه یې د (اتنیانو) د واک په زیاتېدو کې وینم چې (سپارتیان) یې وترهول او هغوی یې جګړې ته اړ ایستل.

(ژاکلین دورمه یي) په دې نظر و چې د (توسیدید) تاریخ په داسې حال کې چې د (پلوپونزي) جګړې د پېښو تاریخ دی، له ځینو خاصو ځانګړنو برخمن دی چې تاریخ یې تر هغه وخته ساری نه و لیدلی، (توسیدید) ټولې پېښې په ډېر دقت او ځیرتیا سره څېړلي او هغه انګېزې یې هم په پام کې نیولي چې ددې پېښو د پېښېدو سبب شوي دي، تر هغه وروسته بیا پېښه توضیح کوي، د هغه اثر یوه علمي لیکنه ده چې په هغې کې د انساني پوهو ټولې غوټۍ د غوړېدو په حال کې وینو، د هغه په اثر کې نه خرافات، نه د معابدو غیبي اوازونه او نه هم خدایان کوم نقش لري، د (پلوپونزي جګړو تاریخ) د (توسیدید) یو تلپاتې اثر دی.

# طب

د هغه وخت یونانیانو ان خدایان د ناروغیو د پیدا کېدو مسؤلین ګڼل، ساري، انتقامي او نورې ناروغۍ د خدایانو له لوري تعبیرېدلې او سلامتي هم د هغوی له خوا ډالۍ کېدله په دې شرط چې د قربانۍ په ورکولو سره د هغوی د خوښۍ زمینه برابره شوې وي.



پر همغه مهال چې یوناني فلسفیان په دې لټه کې وو چې په تفکر کې یو نوی تګلوری رامنځته کړي، د روغتیا د ساتنې او د ناروغیو د مخنیوي لپاره طبیعي توضیحات پیدا کړي، د یونان د هغه مهال د طبابت د نوي علم بنسټګر (بقراط) ګڼل شوی دی، هغه (تر میلاد ۴۶۰) کاله وړاندې په (توس) ټاپو کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې.

د (بقراط) د طبابت پر اساس د ناروغیو پر وړاندې د انسان د خوندیتابه تر ټولو ښه ساتندوی په ژوند کې اندول او د روغتیایي اصولو

تطبیق دی. روغتیا د انسان لپاره یوه طبیعي اړتیا ده او د ناروغۍ پیدا کېدل له دې کبله دي چې د جسمي او روزنیز اختلال له امله د سـړي طبیعت له ګډوډۍ سره مخ شوی دی، د انسان روغتیا په انډول، همغږۍ او په سالم جسم کې د سالم روح په شتوالي کې نغښتې ده.

(بقراط) چې د نوي طب د پوهې د پلار په توګه پېژندل شوی، لومړی شخص و چې طبابت یې له خرافاتو جلا کړ، دی چې په (توس) یونـاني ټاپو کې زېږېدلی و، د یوه طبیب زوی و، (بقراط) د خپلو هممهالو هغـه نظر چې ویل به یې: ((ناروغي د غچ اخیستونکو خـدایانو پـه واسـطه رامنځته کېږي))، رد کړ او د هغه پر ځای یې اعلان وکړ چې هره ناروغي یو طبیعي علت لري. هغه وویل: ((که چېرې علت یې پیـدا کـړئ، نـو کولای شو د هغې درملنه وکړو)).

(بقراط) به ویل، د یوې ناروغۍ د نښو نښانو په لیـدلو او د هغـې د شدت په نظر کې نیولو سره، ډاکټر یا طبیب کولای شـي یـو ځـانګړي ناروغ ته ددې ناروغۍ د تګلوري په باب وړاندوینه وکړي. (بقراط) د دغه منطقي فکر پر بنسټ د یوې طبي مدرسې بنسټ کېښود.

بله طبي عقیده چې (بقراط) ومنله، دا وه چې د یوه ناروغ د درملنې لپاره چې له کومې طریقې څخه کار اخیستل کېږي، کېدی شي د بـل ناروغ لپاره په ښه توګه کار ونه کړي. هغه اعلان وکړ کوم څه چې د یـو تن لپاره غذا ده، کېدی شي د بل لپاره زهر وي.

بقراط همدارنګه نور طبیبان وهڅول چې له ساده درملو لکه یو سالم غذایي رژیم، زیات استراحت او غوره چاپېریال څخه ګټه پورته کـړي. هغه به ویل کله چې طبیبان ونه کړای شي، د یوه ناروغ درملنه وکړي،

غالباً طبیعت دا کار کوي. د مرګوني ناروغانو لپاره باید د درملنــې لــه ساده طریقو څخه کار وانه خیستل شي، ده وړاندیز وکړ چــې پېچلــې ناروغۍ، پېچلې درملنه هم غواړي.

د (بقراط) له نورو سپارښتنو څخه یو څه دا هم دي چې نــن ورځ د (ښه چلند) په نامه یادېږي، په دې مانا چې ناروغي هغه وخت سختېږي چې ذهن پرېشانه وي او ځینې ناروغان کله چې د طبیب له ښه چلنــد څخه راضي وي، خپله روغتیا بېرته ترلاسه کوي.

دی په دې نظر و چې طبیبان باید د خپلو ناروغانو خدمتګاران وي او له شرافته د ډک چلند معیارونه رعایت کړي، دده په زمانه کې ځینــې طبیبان د خپلو ناروغانو د له منځه وړو لپاره هڅول کېدل، ددې امکان و چې یو حاکم یو طبیب ته ووایي چې دده د دښمن د وژنې لپاره هڅه وکړي. بقراط به ویل: طبیب د ناروغ پر وړاندې مسؤل دی.

(بقراط) هغه ژمنلیک جوړ کړ چې نن یې پوهان د ډاکترۍ د ډیپلوم د اخیستلو پر مهال لولي. ددې ژمنلیک په یوه برخه کې راغلي دي: ((زه د زړه له تله ژمنه کوم چې خپل ځان د انسانیت خدمت ته وقف کوم، زه به خپله دنده له وجدان او شرافت سره سمه سرته رسوم او د ناروغانو روغتیا به زما لومړنۍ دنده وي.))

موږ به تېرو برخو کې له طبیعتپــالې فلســفې ســره چــې د نــړۍ اسطوره‌یي تصور یې باطل کړ، اشنا شو. څرنګه چې طبیعتپالو فلسفیانو تر (سقراط) وړاندې ژوند کاوه، نــو ځکــه یــې تــر (ســقراط) وړانــدې فلسفیانو، په نومونو هم یادول. که څه هم (دموکرتیوس) تر (ســقراط) څو کاله وروسته له نړۍ څخه سترګې پټې کړې، خو د هغه ټول افکار او

نظریات تر (سقراط) وړاندې په طبیعتپــالې فلســفې پــورې تړلــي وو. (سقراط) یوازې د مهال له پلوه یو تاریخي پیل نه ګڼل کېږي، بلکــې د هغه حضور او ان جغرافیایي موقعیت فلسفي څېړنو ته بــدلون ورکــړ. (سقراط) لومړنی فیلسوف دی چې په (اتن) کې زېږدلــی دی او تــر ده وروسته د دوو نورو فلسفیانو په شان یې په همدې ښار کې ژوند ، کار او هلې ځلې کړي دي.

# سوفیستایان

طبیعت پلوي يا طبيعتپالي فلسفيان تر هر څه وړانــدې د طبيعــي مسايلو څېړونكي ګڼل كېدل، هغوی له همدې كبله د علم په تاريخ كې مهم ځای لري. خو په (اتن) كې بيا چې تر ميلاد (۴۵۰) كاله وړاندې د يونان د يو فرهنګي مركز په توګه څرګند شــوی و، پــه تــدريجي ډول ولسواكۍ په دې ښار كې رامنځته شوه. په (اتن) كې د ولسواكۍ لپاره د مخكې تر مخكې فرضيو له جملې څخه يوه هم په دې ډول سياست كې د ګډون لپاره د خلكو روزنه وه، دا مسئله ان اوسمهال هم د تائيد وړ ده، چې ولسواكۍ په هغو ټولنو كې كولای شي عملي شي چې خلک هغــه وپېژني، له همدې كبله د خبرو هنر د (اتن) د خلكو لپاره تر هر څه زيات اهميت درلود.

څه وخت وروسته د يونان له مستعمرو څخه ښوونكي او فلســفيان راټول شول هغوی خپل ځانونه سوفيستايان ګڼل، د (سوفيست) كلمې د معرفت او حكمت ښوونكي مانا لرله.

سوفيستايانو په اتن كې خلكو ته د زده كړې لــه لارې خپــل ژونــد خړوباوه، ددغې دايــروي دورې د فلســفيانو ډلــې هــم د طبيعتپــالو

**فلسفیانو په شان پر اساطیري باورونو اعتقاد نه درلود، خو له بلې خوا یې فلسفي تفکرات هم مردود ګڼل، د هغوی په نظر ان کــه د فلســفي مسایلو په باب یې ځواب هم درلود، دې ځواب نه شو کولای د طبیعت او د ژوند د معما د حل لپاره کوم غوښ دلیل وي. دې فلسفې لیدلوري تــه (شکاکیت) وایي.**


**په هر ډول که چېرې پر دې بریالي هم نه شو چې د طبیعت د معما لپاره کوم ځواب پیدا هم نه کړو، پوهېږم چې انسانان یو او بایــد دا زده کړو چې د یو بل تر څنګ ژوند وکړو.**

**دا لیدلوری ددې سبب شو چې سوفیستایان انسان او په ټولنه کې د هغه مقام ته پاملرنه ولري.**

**تر میلا (۴۸۷-۴۲۰) کاله وړانــدې د (پروتــاګوراس) پــه نامــه یــو (سوفیستایست) ویلي دي چې : ((انسان د ټولو شیانو مقیاس دی)). د هغه په نظر حق او ناحق، ښه او بد باید د انســان د اړتیــاوو لــه مخــې وارزول شي، هغه ددې پوښتنې پر وړاندې چې ایا د یونان خدایان مني که نه؟ داسې ځواب ورکړی دی: ((د خدایانو په باب هېڅ نه پوهېږم چې شته که نه شته... داسې ډېر شیان شته چې موږ له دې پېژندنې څخه ګرځوي؛ د مسلې پېچلتیا او زموږ د عمر لنډون.)) چــا چــې د خــدای وجود نه مانه هغه یې (لادري) باله.**

# پروتاګوراس

## تر میلاد ( (۴۸۷-۴۲۰) کاله وړاندې



(پروتاګوراس) تر (سقراط) وړاندې د (سوفیستایانو) لومړنی او ډېر مهم فیلسوف و، ژبور استاد او په هغه زمانه کې د یونان په شمال کې د (ابدرې) ښار اوسېدونکی و چې (دموکریت) هم ددې ښار اوسېدونکی ګڼل کېده، (پروتاګوراس) ویلې: ((انسان د ټولو شیانو مقیاس دی)) لکه څنګه چې پورته مو یادونه وکړه، دده په نظر حق او ناحق، ښه او خراب باید د انسان د اړتیاوو له مخې وارزول شي، هغه ددې پوښتنې په باب چې ایا د یونان خدایان منې که نه؟ داسې ځواب ورکړی دی: ((د خدایانو په باب هېڅ نه پوهېږم چې شته که نه شته... ډېر شیان شته چې موږ له دې پېژندنې لرې ساتي، د مسلې

سپېڅلتیا او زموږ د عمر لنډون)). دا د خدایانو د شتوالي په باب دده د نظر څرنګوالی و، پورته راوړل شو.

(افلاتون) د یوه کینه ییز چلند په ترڅ کې هغه ته ویلي وو: ((خدای د ټولو شیانو میزان دی)) او امریکایي (پراګماتیسـتان) کلونـه کلونـه کېږي. چې لیکي: ((علم د ټولو شیانو میزان دی)).

(پروتاګوراس) ((د خدایانو په باب)) کتاب له امله د کفر او الحاد په تور پر مرګ محکوم شو او په اویا (۷۰) کلنۍ کې د اعدام د حکم له اجرا څخه د تېښتې له امله په سیند کې ډوب شـو، دی د (اناکسـاګوراس، فیدیاس، آسیا زیا او سقراط) تر څنګ د تاریخ د فکري بهیر د اعدامیانو له ډلې څخه دی، هغه وخت دولتي خدایانو ته نه پاملرنه پوهانو ته یـو لوی سردردی و، د (پروتاګوراس) ((د انسان –میزان)) جمله د (انسان - روښنفکرۍ او هومانیزم) د دورې د پوهانو د پاملرنې وړ هم وګرځېده، د (پروتاګوراس) د اهمیت په باب ویل کېږي چې نه (افلاتون) او نـه هـم (ارسطو) د لرغونې فلسفې استازولي وکـړه، بلکـې (پروتـاګوراس) او (ګورګیاس) د لویدیځ د روښنفکرۍ فلسفې بنسټګر دي.

سوفیستایانو به زیاتره په (اتن) کې پر هغو شیانو چې طبیعي دي او هغه څه چې له ټولنې څخه راټوکېږي، خبرې اترې کولې او د ټـولنیزې شننې او کره کتنې لپاره یې لاره اواروله، د ساري په توګـه، هغـوی دا څرګنده کړه چې ((د شرم احساس)) یوه طبیعي پدیده نه ده، ځکه که دا ډول احساس طبیعي وای باید د انسان برخه وای، شونې نه ده چــې ډار تر لوڅتوبه ذاتي عامل وي او یوازې پر ټولنې باندې پر واکمنو دودونو او ادابو پورې تړلي وي.

کوم درسونه چې (سوفیستایانو) وړاندې کول، له فلسفې، ادبیــاتو، هنر، ریاضي علومو، ستورپوهنو، ګرامر، د اساسي قانون پــه ګــډون د سیاست علم، اداري چارې او د جنګ هنر په تېره بیا د خبرو لــه هنــر څخه عبارت وو.

(سوفیست) چې اصلاً د استاد او هنرمند په مانــا و، د ښــوونکي او روزونکي مانا پیدا کړه، (سوفیستایان) د (ګردې دورې) ښــوونکي وو، چې ښار په ښار به ګرځېدل او کوم درسونه یې چې ورکول د هغــو پــه بدل کې به یې اجوره ترلاسه کوله.

سوفیستایانو ځان سره نوی فکر راوړ، د اخلاقي ارزښتونو اصالت یې رد کړ او د (پان هلیېزم) یانې د یوناني قومونو د یووالي هڅې یې پیــل کړې، ((د سوفیستایي ښوونې او روزنې غایه دا وه چې زده کوونکي پر دې بریالي شي خپل خصوصي ژوند اداره کړي، په سیاسي ټولنــو کــې خلک پر خپلو عقایدو باوري کړي او په دې توګه د هېــواد د ادارې پــه چارو کې خپل نقش ولوبوي))

سوفیستایانو سیاست د خلکو په ورځني ژوند کې په سرګرموونکي ډول داخلاوه. که چېرې وغواړو (سوفیستایان) له هغو خلکو سره چې نن ورځ ژوند کوي، پرتله کړو، شــاید وویــلای شــو چــې دوی ((نیمــه استادان او نیمه ورځپاڼه لیکونکي وو)) ځکه نو یو ښار ته د (سوفیست) راتک یوه مهمه پېښه ګڼل کېدله، ځوانان د هغه پر شا و خوا راټولېدل، چې د هغو یوه صحنه افلاتون د (پروتاګوراس) په کتابګوتې کې انځــور کړې ده، (سوفیستایان) له سیاسي پلوه پر دوو برخو وېشل کېدل: یوه ډله پر دې نظر و چې (طبیعت) ښه او (تمدن) بد دی، لکه (رسو). قانون

د ځواکمنو خلکو اختراع او د انسانانو د غلامۍ لپاره دی. (ترازیماخوس) په خپل لومړني اثر کې د عدالت د تعریف په باب وايي: ((عدالت هغه څه دي چې د ځواکمن لپاره ګټور وي)) او په دوام يې د سقراط د ایراداتو په باب وايي: ((هر حکومت هر قانون د خپلو ګټو په پام کې نیولو سره وضع کوي، ولسواک حکومت د خلکو عمومي ګټې پــه پــام کــې نیســـي او زورواکي حکومتونه د مستبد حاکم ګټې.)) نور حکومتونه هم همدا ډول عمل ترسره کوي او د قوانینو په وضع کولو سره هغه څه چې د واکمن په ګټه وي، د حق په نامه یادوي. هغه له ټولو خلکو غواړي چې هغــه تــه درناوی وکړي او څوک چې له هغه څخه سرغړونه وکړي، هغــه قــانون ماتونکی او ظالم ګڼي او سزا ورته ورکوي.

ځکه نو زما د خبرو مانا داده چې په هر هېواد کــې حــق و عــدالت داسې یو شی دی چې د هغه هېواد د حکومت لپاره ګټور وي. څرنګــه چې په ټولو هېوادونو کې واک د حکومت په لاس کې وي نو ځکه خــو ګورو چې عدالت په هر ځای کې کوم بل څه نه دي، بې لــه دې چــې: ((داسې یو شی دی چې د ځواکمن لپاره ګټور وي)). بله ډله بیا په دې نظر وه، چې طبیعت نه ښه دی نه بد لکه (نېچه) او قانون د ځواکمنو د منع کولو او حصارولو لپاره د ضعیفانو اختراع ده.

قدرت تر ټولو لوړ فضیلت دی، تر ټولو عاقــل او تــر ټولــو طبیعــي حکومتونه د اشرافو حکومت دی، افلاتون په (ګرګیاس) کتابګوټي کې د (کالیکلس) له خولې سقراط ته خطاب کوي او ورته وايي: ((څوک چې غواړي د ازادو سړیو په شان ژوند تېــر کــړي بایــد خپلــو هوســونو او

شهوتونو د محدودولو پر ځای هغه لا پسې وپالي، هغو ته ځواک وروبښي، خپله پوهه او زیرکي د هغو د راضي کولو لپاره وکاروي.

البته ډېری خلک ددې کار توانایي نه لري، ځرنګه چې له خپلې کمزورتیا څخه شرمېږي، نو د دغو نیمګړتیاوو د پټونې لپاره هغه ناوړه څیز ګڼي او په دې ډول غواړي هغه کسان چې له طبیعي پلوه ځواکمن دي، رامحدود کړي، ځرنګه چې خپل هوسونه نه شي خړوبولای او خپلو هیلو ته نه شي رسېدلای، زغم او عدالت ستايي. دا ستاینه د کمزورتیا له امله ده. چاته چې مشري یا واکمني له پلاره په میراث پاتې ده او یا یې هغه د خپل طبیعي ځواک په مټ تاج و تخت ګټلي دي، هغو ته له زغم او تحمل څخه بدتر او ناوړه څیز شته؟ دوی چې کولای شي له کوم خنډ پرته له هر ځواک څخه برخمن شي، ولې د خپل ځان پر وړاندې بل واکمن راپیدا او د قانون، محکمې او د خلکو د عبث خبرو پر وړاندې خپل سرټیت کړي؟ څوک چې پر هېواد واک چلوي که د زغم او عدالت په منګولو کې داسې پرېوت چې تر دوستانو دښمنانو ته زیاته ګټه ورسوي، نو دا سړی به زبون او له تیارو سره به مخامخ نه شي؟ د یونان خلکو ولې له (سوفیستایانو) څخه کرکه کوله؟ (افلاتون) په (پروتاګوراس) کتابګوټي کې د (سقراط) له خولې (هیپوکراتس) ته وايي: ((شرم نه لرې چې په یونانیانو کې د سوفیستايي په نوم مشهور شوی یې؟))

۱- کومو کسانو چې د پېژندنې، حقوقو او اخلاقو په باب تفکر کاوه، هغوی به پر ناروا څېړنې تورنېدل.

۲- د فکري او ذهني کار په بدل کې د اجورې اخیستل یو ناوړه عمل ګڼل کېده او خپل خوښې بندګي انګېرل کېدله.

۳- هغو کسانو چې سوفیستایانو ته یې د حق الزحمې د ورکړې لپاره پیسې نه لرلې، نه شو کولای د (سوفیستایانو) په جرګه کې د

زده‌کوونکو په توګه کېني او که خبره يې محکمې ته رسېدله، هم نه يې شو کولای د خپلو هغو سیالانو پر وړاندې چې د خبرو له هنر سره بلد وو یانې ژبور وو، مقابله وکړي، په پایله کې به په محکمه کې له محکومیت سره مخامخېدل.

۴- مذهبي او اخلاقي اړیکي چې د ټولنې غړي يې يو بل سره پیوندول، په یو ځايي ډول وشلېدل او هغوی پر دې بریالي نه شول چې نوي اخلاقي قواعد د هغو ځای ناستي کړي او ثابت معیارونه وړاندې کړي.

۵- هغو کسانو چې خپله شخصي بریا تر ټولو شیانو لوړه ګڼله، د خپل فکر لپاره يې فلسفي ملاتړ پیدا کړ.

۶- هغو سوفیستایانو چې د خبرو هنر يې خلکو ته ښوده، کار يې ورو ورو ځلا موندله او خپلو زده کوونکو ته يې دا ورزده کوله چې څرنګه حق د باطل او باطل د حق په توګه څرګند کړي. خپل زده‌کوونکي يې خبرو بحث او مناظرې ته هڅول.

دلته غواړو د سوفیستایانو خدمتونو ته هم لنډه نغوته وکړو.

۱- د انسانانو فکر يې له ډېرو بندیزونو او ابهاماتو ازاد کړ.


۲- بېلابېلې پوهې يې دود کړې.

۳- د بشر مخې ته يې ډېرې پوښتنې کېښودې، د (ویل د ورانت) په وینا: ((د یونان د فلسفې ډېر مشخص او پر ژور پرمختګ له سوفیستایانو پیل شو.))

# سقراط

## تر میلاد (۴۸۰- ۳۹۹) کاله وړاندې

اوس ددې وخت رارسېدلی چې د لرغوني یونان له ډېر لوی فیلسوف (سقراط) سره اشنا شو. سقراط، افلاتون او ارسطو درېواړو فلسفیانو هر یو د اروپا د تمدن په غوړېدلو کــې موثر نقش لرلی دی.



سقراط یو پوهنپالی فیلســوف و، هغه به ویل:

((رښتینې پېژندنه د انسان له درانه څخه سرچینه اخلي.))

د لویدیځ د تفکر په تاریخ کــې سقراط یوه مرجع ده، څکــه چــې خبره یــادېږي نــو ((تــر ســقراط مخکې)) او ((تر سقراط وروسته)) اصطلاح ورسره یادېږي.

تر هغه وړاندې به فلسفیانو خپل نظریات تر ډېره حده د پیغمبرانو او کاهنانو په شان بیانول، خو تر سقراط وروسته اکثر لرغونــو ښــوونځیو خپل ځان د هغه د نظریاتو وارث او یا له هغه متاثر ګاڼه.

سقراط تردې وروسته د یوه ځلانده اتل، د فلسفي پوښتنو بنسټګر او د اخلاقي مطالعاتو د یوې سرچینې حیثیت غوره کوي، دغه عجیب و غریب سړي له خپلو دومره اغېزو سره سره کوم څه په لیکلي بڼه پرې نه ښودل، خو اوس پوښتنه داده چې کولای شو هغه د خلکو د پرګنو په منځ کې له دغومره افسانو او تفسیرونو سره سره سم وپېژنو؟

(سقراط) تر میلاد (۴۷۰- ۳۹۹) کاله وړاندې په (اتن) ښار کې نړۍ ته سترګې وغړولې او د عمر ډېره زیاته برخه یې ددې ښار په بازارونو او واټونو کې له خلکو سره پر خبرو تېره کړه، (سقراط) بدرنګــه او زشــته څېره لرله، ونه یې هم وړه وه، او چاغ پلن و، تنګې سترګې، لویه او پیته پوزه یې لرله، خو لکه څرنګه چې وویل شول، په زړه پورې بــاطن یــې درلود، سربېره پر دې که موږ ټوله ماضي او حال ولټوو، شونې نه ده چې دده په شان یو څوک به پیدا کړو، پر ځای به وي که ووایو چې سقراط د فلسفې د ټول تاریخ له اسرارو ډکه یوه څېره ده. داسې یو فلسوف چې یوه کرښه یې هم نه ده لیکلې خو پر اروپایي او تر اروپا بهر افکارو یې تر ټولو زیات اغېز درلود. تر مرګ وروسته یې د فلسفې ددې ډول لیدلوري بنسټګر شو. هغه ته د ډېرو فلسفي لیدلورو منسوبول، له همدې امله وو چې دده شخصیت له ډېرو رازونو ډک و. پر کوم څه چې موږ د (سقراط) په باب پوهېږو هغه د (افلاتون) له لیکنو څخه راوتلي دي.

(افلاتون) د (سقراط) شاگرد و او خپله هم د تاریخ د سترو فلسفیانو له ډلې څخه گڼل کېږي، (افلاتون) ګڼ شمېر اثار لیکلي دي. په اکثرو دې اثارو یا خبرو اترو کې (سقراط) دده په فلسفي بحثونو کې ګډون لري. کله چې (افلاتون) د (سقراط) د خولې خبره بیانوي، دا نه په ډاګه کېږي چې دا خبره د (سقراط) نظر دی که د (افلاتون). له همدې کبله له (افلاتون) څخه د (سقراط) د نظر بېلول اسانه خبره نه ده.

دا ټکی چې (سقراط) رښتیا هم څوک و، کوم خاص اهمیت نه لري، خو کوم څه چې اهمیت لري، هغه انځور دی چې افلاتون یې له هغه څخه کاږي، موږ ته یې په مخ کې ږدي او تر دوه زرو (۲۰۰۰) کالو وروسته هم پاتې او ژوندی دی.

د (سقراط) د خبرو اترو د زړي اصلي ټکی دا و چې هغه د چا د روزنې نېت نه درلود، هغه په ظاهره دا ښودله چې له مقابل لوري څخه یو څه زده کړي، په دې ډول د هغه د تعلیم طریقې له نورو ښوونکو سره ورتوالی نه درلود، هغه د تدریس پر ځای له بحث څخه ګټه پورته کوله.

سقراط چې د یوې روغتیا پالې (قابلې) زوی و، ادعا کوله چې د مور دنده تعقیبوي، هغه به ویل: روغتیا پاله خپله زېږونه نه کوي، خو له نورو سره په زېږون کې مرسته کوي، په دې ډول (سقراط) په دې نظر و چې له نورو خلکو سره مرسته کول یې دنده ده . چې هغوی خپل فکر او نظر بیان کړي او له تیارو څخه راووځي.

د هغه په نظر واقعي پېژندنه د انسان له درانه څه سرچینه اخلي، هغه وایي: موږ نه شو کولای پېژندنه د انسان درانه ته ورننباسو، بلکې د هغه درانه څخه یې باید بهر ته را وباسو. کومه پېژندنه چې له درانه څخه

راخوتېږي، حقیقي بصیرت دی. سقراط پر دې ټینګار کوي چې زېږون یوه طبیعي ښکارنده ده، په همدې ډول انسان هم کولای شي، د خپل عقل په واسطه، فلسفي واقعیتونه پیدا کړي. که چېرې انسان له عقله ګټه پورته کړي، نو د خپل درانه څخه یې یو څه په کار اچولي دي. (سقراط) له فردي نقش څخه ګټه پورته کوله او ځان یې ناګاره اچوه چې ګنې پر هېڅ نه پوهېږي، خلک یې دېته اړ ایستل چې له خپل عقل څخه ګټه پورته کړي، هغه خپل ځان ناپوه یا لږ تر لږ څومره چې وو تر هغه ځان ډېر کم ښوده. د ده دا چلند (د سقراطي استهزا) په نامه یادېږي، له مخامخ خبرو اترو او پوښتنو څخه د سقراط موخه دا وه چې اورېدونکي ته اخلاقي اصول ولېږدوي، هغه به ویل: په خبرو اترو کې روغتیا پالی ډیالکتیک د حقیقت د کشف او زېږېدنې سبب ګرځي، سقراط هڅه کوله د ډیالکتیک د منطق او خبرو د هنر د ټولو تکتیکونو په مرسته، د بحث ګډونوال د خبرو تل ته بوځي، سقراط د سوفیستایانو همعصره و، ده د هغو په شان او د طبیعتپالو فلسفیانو د اند خلاف انساني مسلې او بشري ژوند څېړه، خو سقراط خپل ځان سوفیست یا په بله وینا د عالم په توګه نه معرفي کاوه. ان خپل ځان یې ښوونکی هم نه ګاڼه.

سقراط د کلمې په رښتینې مانا خپل ځان فیلسوف ګاڼه. فیلسوف په واقعیت کې هغه څوک دی چې (له پوهې سره مینه) ولري. یانې داسې څوک چې حاضر وي د پوهې لپاره له خپل ژونده هم تېر شي، پر ناپوهۍ باندې اعتراف د سقراط د فلسفې د پیل ټکی ګڼل کېږي، په دې مانا چې: ((تر ټولو هوښیار سړی همغه دی چې پردې پوهېږي چې نه پوهېږي.))

سقراط به ویل: ((خپل ځان وپېژنه! که چېرې ذهن او فکر خپل ځان ته متوجه نه وي او خپل ځان ونه ازمويې، رښتینې فلسفه به عملي نه شي.)) دی په دې نظر و چې: ((د شیانو بهرنی طبیعت (د پارمنــدیس، زنون او فیثاغورث په شان د فلسفیانو افکار) ښه دی، خو فیلسوف تر ونو، ډبرو او ستورو ډېره په زړه پورې او ښکلې موضوع لري چې دده د لید ژورتیا ځان ته راکاږي او هغه انساني روح دی، انسان څه دی او څه باید وي؟))

د سقراط لپاره دا خبره ډېره مهمه وه چې پر دې بریالي شي، د بشر د پېژندنې لپاره یو بنسټ پیدا کړي، هغه په دې نظر و چې دا بنسټ په عقل کې موجود دی، د انسان پر عقل باندې د سقراط ټینګ باور د دې سبب شو چې کولای شو هغه د یو پوهنپال شخص په توګه یــاد کــړو، سقراط د سوفیستایانو پر خلاف چې د حقیقت پر سم او مطلــق درک باور مند نه وو، هڅه کوله چې خپله فلسفه پر پخو بنسټونو ودروي.

سقراط په دې نظر و، که یو څوک پر دې پوه شي چې څه شی ښــه دی، ښه عمل هم تر سره کوي او سمه پېژندنه د ښه عمل سبب ګرځي، څوک چې نېک عمله وي پر واقعي انسان بدلېږي، زموږ تېروتنې له دې امله دي چې یو شی سم نه تشخیصوو نو ځکه خو باید په پرلــه پســې ډول د زیاتې پوهې د ترلاسه کولو په لټه کې اوسو.

سقراط به تل هڅه کوله چې دا په ګوته کړي کوم څه حق دي او کوم څه ناحق، هغه د سوفیستایانو پر خلاف په دې نظر و چې د حق او ناحق تشخیص د سړي په شعور کې نغښتي دی، نه په ټولنه کې.

سقراط باور درلود چې ټول خلک د خپل شعور په کارولو سره کولای شي فلسفي واقعیتونه درک کړي، هغه به ویل یو غلام هم کولای شي د خپل شعور په مرسته د یو اشراف په شان فلسفي مسایل حــل کــړي، (سقراط) د ښځې او نر د شعور کچه هم برابره ګڼله.

مخکې مو نغوته وکړه چې سوفیستایانو او سقراط د طبیعــت پــالو فلسفیانو له مسایلو خپل ځانونه جلا کړي وو او تر ډېره حده یې انسان او ټــولنې تــه پاملرنــه کولــه تــر دې ځایــه دا خبــره ســمه ده، خــو (سوفیستایانو) او (سقراط) هم هغو شیانو ته چې تلپاتې دي او هغه څه چې د بدلون په حال کې دي د دوی تر منځ اړیکو تــه لــه یــوه خــاص لیدلوري پاملرنه کوله، هغوی ته دا زماني مساله چې د انسان اخلاق او کمال د ټولنې په بــوهې پــورې تړلــي وو، مطــرح وه. پــه ټــولیز ډول سوفیستایان په دې نظر وو چې د حق او ناحق مسله له یــوې ســیمې څخه بلې او له یو پېښت څخه بل ته بدلون مومي. د حق او ناحق مساله د بدلون په حال کې ده او قطعي نه ده. هغوی په دې نظر وو چــې کــه چېرې موږ له خپل شعور څخه کار واخلو نو کولای شو، دا ډول بدلون نه منونکي مسایل تشخیص کړو، ځکه چې د انسان شعور په اصــل کــې تلپاتې دی او بدلون نه مني.

سقراط د (المپ) په غره کې پر ګڼو پخوانیو خدایانو د خلکو عقاید له منځه یوړل، دا مهال له دې خدایانو څخه د خلکــو وېــره یــو اخلاقــي ضمانت ګڼل کېده، که چا انکار کاوه، نو بیا خــو د هغــه د هوســونو او خوندونو پر وړاندې کوم خنډونه نه وو او یوازې بشري قانون پاتې کېده،

سقراط پر یوازیني خدای معتقد و او هیله من و چې مرګ دی له منځه نه شي ورلای.

په پایله کې سقراط دوه مسلې روښانه کړې:

یوه د فضیلت (د معرفت او فضیلت تر منځ د اړیکو په باب سقراطي نظریه د سقراطي اخلاقو ځانګړنه ده، د سقراط د نظر پر بنسټ معرفت او فضیلت یو شی دی، په دې مانا چې عاقل شخص پر دې پوهېږي چې حق څه شی دی، هغه څه چې حق دي عمل هم پرې کوي. په بله وینا هېڅوک په پوهېدلي او قصدي ډول په بدۍ لاس نه پورې کوي. هېڅوک شر د شر په توګه نه غوره کوي) او بله مسله د حکومت مسله ده.

په هغه وخت کې د یونان د ځوانانو لپاره تر دې دوو مسلو بل مهم حیاتي څیز نه و، سوفیستایانو د (المپ) د خدایانو په باب د هغوی عقاید یو بل سره مړاوي کړي وو، اخلاق سست شوي وو، ځکه چې د اخلاقو غټ ضمانت یوازې له خدایانو څخه وېره وه. دوی به ویل: تر هغې ولسواکۍ چې عوام پرې واکمن وي بل هېڅ ریشخند شی نه شته، حکومت د هغو خلکو په لاس کې و چې دایمي په شور و ځوږ کې وو، د لښکرو بولندیان په ډېرې چټکۍ سره ټاکل کېدل، بېرته په همغې چټکۍ سره لرې کېدل او اعدامېدل. د لوړ رتبه پلاوي غړي د الفبا د تورو پر اساس ټاکل کېدل او د هغوی په منځ کې بازاري خلک او بزګران هم پیدا کېدل، اخلاق په هغه ټولنه کې د هغو قوانینو پر بنسټ ولاړ وو چې دوی خپله جوړول او د (المپ) د خدایانو د سزا او عذاب له مخې انګېرل کېدل.

هغه حکومت چې د عقل، پوهې او اعتقاد له مخې نه و جوړ شــوی، ویل به یې حکومت داسې یو کار دی چې د هغه لپاره ډېر زیات هوش په کار نه دی، داسې یو پراخ فکر او اندېښې ته اړتیا نه لري چې ډېر باهوشه او ځیرمن اشخاص باید په هغه کې ګډون ولري. د سقراط عملي طریقه له خبرو اترو سره د ډیالکتیک بڼه لرله، ده له هر چا سره خبرې اتــرې کولې او کوښښ به یې کاوه چې دیوې موضوع په بــاب د هغــه افکــار راڅرګند کړي، دده همدغه نوي کار هغه د زهرو ګوټ د څښلو تر بریده ورساوه.

ارسطو په دې نظر و چې په علم کې دوه پرمختګونــه دي چــې پــه رښتیا سره کولای شو سقراط تــه یــې منســوب کــړو، ((د اســتقرایي استدلالونو کارونه او ټولیز تعریفونه)).

د فکري بهیر تاریخپوهانو سقراط یو داسې روښنفکر ګڼه چې هــر څه ته یې په ښه نظر کتل. انساني عقل ته د ژور باور لــه املــه هغــوی سقراط یو (راسیونالیست) باله. سقراط به ویل: ((د ژونــد د فلســفې د طرحې لپاره تجربه یې پوهه ډېره ګټوره ده او د واسطې رول ادا کوي)).

(کارل پوپر) هغه په انتقادي عقلپالنه کې یو ډېر لوړ او بــې ســاری مبلغ ګڼه، (برښت) بیا د طنز په ژبــه هغــه تــر تــاریخ وړانــدې د یــو (مارکیست) په نامه یاد کړ. (نېچه) لیکي: سقراط د نړۍ په تاریخ کې د پیوستون ټکی دی او یوه بوړبکۍ ده. هغه وړاندیز کوي چې د ټولو علومو د پوهنځیو د دروازې پر سر دې د هغه په نامه یوه نښه او بیــرغ نصــب شي، (نېچه) زیاتوي سقراط یو ژورلیدی ناراضه نابغه و، سازش یې نــه مانه. د ځینو نورو په نظر سقراط (ماتریالیزم) او (طبیعي فلسفه) رد کړل

او د اخلاقو تبلیغ یې خپل هدف وټاکه. په منځنیو پېړیو کې مسـیحي فلسفیان د عیسی مسیح روحي خپلوان ګڼي، چې خپله پوهـه یـې د ښار په ډګرونو، بازارونو او کوڅو کې د خلکو په واک کې ورکوله او دې ته هم حاضر شو چې د خپلې عقیدې لپاره له ځانه هم تېر شي. که څه هم هغه ددې وس درلود چې پر تېښــته بریـالی شــي. د لرغـونې دورې د شاعرانو له جملې څخه (نسلي) سقراط خپل ښوونکی باله. ځکه چـې هغه یو پیاوړی ټولنیز، انقلابي او سمونپالی روښنفکر و.

سقراط به ویل: ((د انسان تر ټولو ښه ځانګړتیا تقوا ده او د سرېتوب یو شرط دادی چې انسان خپل ځان وپېژني، تقوا داسې یو ځانګړنه ده چې په ژوند کې د انسان د خپلواکۍ او ارامۍ سبب ګرځي)). د هغه په نظر تقوا یانې پوهه او پېژندنه او کولای شو چې دواړه زده کړو. سقراط د حقیقت لټون د تقوا تر ټولو ستره نښه او نېکمرغۍ تـه د رســېدو لاره ګڼله، هغه د انسان داخلي وجدان د هغه د حقیقت موندنې انګېزه ګڼله. د سقراط په نظر خبرتیا او تقوا د انسان له بشپړتیا سره مرسته کــوي، څرنګه چې ښه چلند او ښه وینا له ښې انګېرنې سرچینه اخلي، نو ځکه خو په کار دي چې د انګېرنــې ، پېژنــدنې او پــوهنې لپــاره لــه خپلــو نیمګړتیاوو او ناپوهیو څخه خبر و اوسو.

# د سقراط محاکمه

د دغه اویا (۷۰) کلن بوډا سړي، د (پلوپونز) د جګړې پخواني جنګیالي، د ښار د شورا پخواني غړي او نامتو اتني شخصیت (سقراط) محاکمه تر میلاد وړاندې پر (۳۹۹) کال دایره شوه. سقراط په هغه ځای کې د ځوانانو منحرف کولو او کفر په جرم حاضر شو، پر هغه تور و چې په خپلې ویجاړوونکې فلسفې یې دودونه له پوښتنې سره مخامخ کړي او نوي خدایان یې معرفي کړي دي. (سقراط) چې یوه اوونۍ زنداني و، د خپلو دوستانو له خوا د تېښتې له طرحې سره مخالفت وکړ او پرېکړه یې وکړه چې مرګ ته غاړه ورکړي. د سقراط دا پرېکړه تل د هغه په باب یوه معما ګڼل کېږي.


د محکمې منصفه هیئت د رایو په اکثریت سره سقراط ګناهګار وباله.

سقراط کولای شول د ښنې غوښتنه وکړي او که دا یې منلې وای چې (اتن) پرېږدي، خپل ځان یې ژغورلای شو، خو که هغه دا کار کړی وای، بیا به نو (سقراط) نه و، اصلي خبره داده چې هغه (وجدان) او (حقیقت) تر خپل ژونده مهم ګڼل، هغه په دې نظر و چې د خپل هېواد د ګټو لپاره یې هڅه کړې ده. خو دې سره سره بیا هم پر مرګ محکوم شو، څو شېبې وروسته د خلکو په یوه ډله کې د هغه نږدې دوستانو د زهرو یو جام د هغه په لاسونو کې ورکړ، سقراط هغه په مستانه ډول پر سر واړوه او تلپاتې ژوند یې غوره کړ.

# افلاتون

## تر میلاد (۴۲۷– ۳۴۷) کاله وړاندې

کله چې سقراط د زهرو جام پر سر واړوه، افلاتون تر میلاد (۴۲۷– ۳۴۷) کاله وړاندې نهه ویشت (۲۹) کلن و، هغه ډېر وختونه د سقراط



شاګرد و او څه شی چې پر سقراط تېر شول، هغه یې پر سترګو ولیدل، دا موضوع چې (اتن) ددې ښار تر ټول نجیب انسان پر مرګ محکوم کړ، نه یوازې یې پر افلاتون نه هېرېدونکی اغېز وکړ، بلکې هغه یې دې ته وهڅاوه چې د فلسفې په بېلابېلو برخو کې د خپل استاد لیدلوری مشخص کړي، د سقراط مرګ افلاتون ته دا ثابته کړه چې کېدی شي، د ټولنیز واقعیت او ټولنیز خیال تر منځ تضاد موجود وي. د یو فیلسوف په توګه د افلاتون لومړی کار دا و چې د سقراط دفاعیه یې خپره کړه. افلاتون په دې اثر کې هغه څه چې سقراط

په ستره محکمه کې بيان کړي وو، ليکلي دي، افلاتــون د ســقراط پــر دفاعيې او ځينو ليکونو سربېره تر پنځه دېرشو (۳۵) زيات اثار ليکلي دي، ددې اثارو د ژوندي پاتې کېدو يو غټ دليل هغه فلسفي مدرسه وه چې (افلاتون) شخصاً هغه د اتن تر ښاره بهر جوړه کړې وه، دا مدرســه اتن ته نږدې په يوه باغ کې واقع وه، خاوند يــې هغــه پهلــوان و چــې (اکادموس) نومېده، نو ځکه خو د افلاتون مدرسه د همغه پهلــوان پــه نامه مشهوره شوه، له هغه وخته بيا تر دې دمه پورې په نــړۍ کــې پــه زرګونو اکاډمۍ جوړې شوې دي. د افلاتون په اکاډمۍ کې د (رياضياتو) او د (جمناستيک) پر فلسفي خبرې اترې کېدې، له همدې کبله افلاتون خپله فلسفه د خبرو اترو يا مکالمې په ډول ليکلې ده. افلاتون له يــوه اړخه د هغو شيانو تر منځ اړيکو ته چې تلپاتې او د بدلون وړ نــه دي او هغه چې د (بدلون) په حال کې دي، پاملرنه وکړه. عيناً لکه تر ســقراط وړاندې فلسفيانو په شان، ياني دا چې ده هغو شيانو ته چې په طبيعت کې تلپاتې وو او د بدلون وړ نه وو، پاملرنه کوله او همدارنګه يــې هغــو شيانو ته چې په اخلاقو او ټولنه کې تلپاتې وو، اهميت ورکاوه.

دا موضوع افلاتون ته يوه واحده مسله وه، هغــه د داســې يــو ډول (واقعيت) په لټه کې و چې، تلپاتې وي او د بدلون وړ نه وي. افلاتون په دې نظر و هر هغه څه چې په طبيعت کې کولای شو لمس يا حس يــې کړو، هغه د بدلون وړ دي، ځکه نو داسې عناصر نه شته چې هغه تجزيه نه شي، ټول محسوسات له داسې مادې څخه جوړ شوي چې د زمانې په بهير کې تجزيه کېږي، خو له بلې خوا ټول شيان له داسې يو ټوليز شکل او بڼې څخه رغېدلي چې د بدلون وړ نه دي او تلپاتې بنه لري.

**د افلاتون په نظر نه بدلېدونکې او تلپاتې ښکارنده یا پدیده (لومړنی فزیکي عنصر) نه دی، بلکې هغه ذهني او انتزاعي بېلګې دي چې د ټولو محسوساتو زړی یا اصل یې جوړ کړی دی، افلاتون د بېلابېلو ښکارندو تر منځ ورتوالي ته حیران و، له همدې کبله دې پایلې ته ورسېد، هر څه چې زموږ په شاوخوا کې موجود دي، په اصل کې د لومړنیو بېلګو له محدودو ټولګو رغېدلې بېلګې دي.**

**هغه دا بېلګې د (مثل) په نامه ونومولې. هغه په دې نظر و چې د ټولو اسونو شاته اس، د خوګانو شاته خوګ او د سړیو یا انسانانو شاته سړی یا انسان ولاړ دی. افلاتون د نړۍ د محسوساتو تر شا یوازې پر یوه واقعیت باور درلوده، هغه دا واقعیت ورته نړۍ (ورته عالم) ونوماوه او په دې نظر و چې اصلي بېلګې یې هماغه لومړني تصویرونه دي چې په طبیعت کې د ټولو موجودو ښکارندو بېلګې دي چې په دې نړۍ کې واقع دي، دا مهمه نظریه د افلاتون د (مثل) نظریې په نامه یادوي، افلاتون په دې نظر و چې نه شو کولای د هغو شیانو په باب چې د بدلون وړ دي سم او ډاډمن درک ته سره ورسېږو، موږ د هغو شیانو په باب چې د محسوساتو نړۍ پورې اړه لري د لید او لمس وړ دي، یوازې کولای شو نامطمین نظر ولرو، حقیقي پېژندنه کولای شو یوازې د هغو شیانو په باب ترلاسه کړو، چې د عقل له لارې د تشخیص وړ وي، په لنډیز سره ویلای شو، موږ د هغو شیانو په باب چې تصور کولای او احساسولای یې شو نامطمینه درک لرو او د هغو شیانو په باب چې د عقل په واسطه یې تشخیصولای شو حقیقي او ډاډمنه پېژندنه لرو.**

په ټولو شرایطو کې به د یو مثلث د زایو مجموعه (۱۸۰) درجې وي او دا هماغه (مثل) دی چې افلاتون مطرح کړی دی، چې ټول اسونه څلور پښې لري او په همدې څلورو پښو ودرېږي ان که د محسوساتو په نړۍ کې ټول اسونه ګوډ هم وي.

د افلاتون په نظر نړۍ پر دوو لويو برخو: د ظواهرو او محسوساتو نړۍ او ممثله او ايډياله نړۍ چې يوازې په عقل ورته لاس رسی کېدی شي، وېشل کېږي.

**د محسوساتو نړۍ:** د هغو په باب يوازې کولای شو چې د نيمګړو او تقريبي پنځه ګونو حواسو په مرسته نيمګـړې او تقريبـې پېژندنـه ترلاسه کړو، د ((محسوساتو نړۍ)) کې هر څه د بدلون په حال کې دي او هېڅ شی نه شي کولای تلپاتې دي، د محسوساتو په نړۍ کـې هـېڅ څيز ثابت نه دی، هر څيز راځي او ځي.

**ورته يا ممثله نړۍ:** د هغې په باب کولای شو چـې د عقـل پـه مرسته ډاډمنه پېژندنه او حقيقي معرفت ترلاسه کړو، دا نړۍ دحواسو له لارې د پوهېدو او درک وړ نه ده. همېشه تلپاتې ده او بدلون نه مومي. د افلاتون په نظر انسان هم يو دوه اړخيز موجود دی. موږ يو (جسم) لرو چې (بدلون) مومي. دا د محسوساتو له نړۍ سره ټينګ پيوند لري او د بل هر څيز په شان د ناڅاپي پېښو تابع دی، زموږ حواس هم زموږ بدن پورې اړه لري له همدې کبله د ډاډ وړ نه دي. خو موږ له يـوه نـه فنـا کېدونکي روح څخه هم برخمن يو چې په اصل کې زموږ د عقل ځـای دی، څرنګه چې روح کومه مادي ښکارنده نه ده، نو کولای شو د ورته يا ممثلې نړۍ په نظر ورته وکتل شي. افلاتون په دې نظر دی روح مخکې

تردې چې بدن ته داخل شي، موجود دی، روح په جسم کې تر حلــول وړاندې په ورته یا ممثله نړۍ کې موجود دی، خو کله چې روح په جسم کې داخل شي، نو ورته یا مثله نړۍ مو له یاده وځي، خو کله چې اصلي نړۍ ته د روح د بېرته ورګرځېدو هوس وېښېږي، نو دغسې لېوالتیا یــا شوق ته (افلاتون) ایروس (Eros) وایي، چې د عشق یا مینې په مانا دی، نو ځکه خو روح خپل بنسټ تــه د بېرتــه ورګرځېــدو لپــاره یــو ډول (عاشقانه لېوالتیا)) څرګندوي او دا نو بیا هغه وخت دی چــې بــدن او ټول هغه شیان چې په حواسو پورې اړه لــري، همداســې نیمګــړي او نادوامه پرېږدي. د روح غوښتنه دا ده چې د مینې په وزرونو والــوزي ، بېرته خپلې ځالې ته ستون شي او د بدن له زندانه ازاد شي.

د افلاتون په نظر د انسان بدن له درېو برخو، سر، سینې او تنې څخه رغېدلی دی. دا درې برخې هره یوه خپلې خپلې ځانګړتیاوې لري:

- فکر سر پورې اړه لري.
- اراده په سینې پورې اړه لري.
- میل یا لېوالتیا په تن پورې اړه پیدا کوي.

د درېو برخو هره یوه خپل خپل فضیلت لري:

- فکر باید د پوهې د زده کړې لپاره هڅه وکړي.
- اراده د شجاعت څرګندویه ده.
- او میل یا لېوالتیا باید د اعتدال تر بریده عمل وکړي.

کله چې د انسان دا درې برخې په همغږۍ سره عمل وکړي، نو هغه وخت به له یو انسان څخه معتدل انسان جوړ شي. افلاتون خپله (فاضله مدینه) د انسان په شان جوړه کړې ده. دا دولت هم د انسان په شــان

چې سر، سینه او بدن لري، له دولتمشر، سرتېري او کارګر څخه برخمن دی، د هغه په نظر، سوداګر، کاسب او بزګر هم د کارګرو پــه ډلــه کــې شاملېږي، په دې ځای کې دا څرګندېږي چې افلاتون د یونــان د هغــه مهال له طب څخه د بېلګې په توګه ګټه پورته کړې ده. هغه وخت کــې یوناني طب په دې نظر و چې سالم انسان له اعتدال او تناســب څخــه برخمن دی، له همدې کبله خو د هغه په دولت کې هر فرد خپل خپــل ځای درلود او دا په دې خاطر چې یو تناسب رامنځته کړي.

د افلاتون فلسفه او فلسفي حکومت دواړه لــه پوهنپــالنې څخــه سرچینه اخلي. د هغه په دولت کې پرېکړه د پوهې پر بنســټ ترســره کېږي او لکه څنګه چې سر، جسم ته لارښوونه کوي فیلســوف هــم د ټولنې د لارښوونې دنده لري. د افلاتون په نظر د جسم او دولت د برخو دندې کولای شو په لاندې ډول سره انځور کړو: ځینې کسان کېدی شي د افلاتون دولت شاید استبدادي دولت وګڼي، له همدې کبلــه ځینــې فلسسفیان هم وو چې د افلاتون پر دې نظریې ټینګې نیوکې کولې، خو دا ټکی باید په پام کې ولرو چې هغه په داسې یوه زمانه کې ژوند کــاوه چې زموږ له زمانې سره یې ډېر توپیر درلود، باید دې خبرې ته مو هم پام وي چې افلاتون په دې نظر و چې ښځې هم کولای شي د نرو په شان د دولت مشري وکړي، ځکه چې د حکومت لارښوونه د عقل پــر بنســټ ترسره کېږي او که ښځې هم د نرو په شان زده کړې وکړي او وپالل شي، د نرو په شان به له پوهې څخه برخمنې شي. افلاتون هڅه کوله کورنۍ ستونزې او شخصي مسایل د لارښوونکو یا مشرانو او سرتېرو لــه اوږو لرې کړي.

د هغه په نظر د ماشومانو روزنه تر هغې ډېره مهمه ده چې هغه د خلکو مسؤليت وګڼل شي. د هغه په (فاضله مدينه) کې د ماشومانو روزنه د دولت مسؤليت ګڼل شوی دی، افلاتون لومړنی فلسفي و چې د وړکتون او د شپې او ورځې د ښوونځيو په باب يې خبرې کړې دي.

افلاتون په هېواد کې تر ټو کلنې سختې سياسي تجربې وروسته د (نورميسو مکالمه)) اثر وليکه. هغه په دې اثر کې يو بل ارماني حکومت مطرح کړ، په دې نوي حکومت کې يې شخصي او کورنيزه پانګه هم تائيد کړه.

په دې ډول د افلاتون په نوي حکومت کې د ښځو ازادي محدودېږي، خو دې سره سره افلاتون پر دې ټکي ټينګار کوي چې د هغه په دولت کې بايد ښځې زده کړې وکړي او وپالل شي او که چېرې دا کار ترسره نه شي، نو دا ددې مانا ورکوي چې انسان يوازې ښي لاس وروزي او خپل کيڼ لاس له ياده وباسي.

افلاتون له رياضي سره زياته مينه درلودله او دا ځکه چې د رياضي د عمليو نتيجه که هر څومره تکرار شي بيا هم تغير نه کوي، له همدې کبله افلاتون هغه ((تر ټولو ډاډمنه پوهه) ګڼله، خو په ټوليز ډول افلاتون د واقعي پېژندنې لپاره د انسان د پوهېدلو او لاس رسۍ په باب ډېر شکاک و او په دې نظر و کوم څه چې د انسان ذهن يې درک کوي، ډېر ډاډمن نه دي. د افلاتون د ژوندانه په اړه د اثارو مطالعه، په خپله دده خپل اثار دي، دده ډېر مهم اثر هماغه د (جمهوريت) اثر دی. چې په ادبي ژبه ليکل شوی دی. ددې اثر له لارې مونږ کولای شو، دده د ادبي

ذوق ځرک هم ولگوو، په دې اثر کې پر بېلابېلو مسایلو لکــه فلســفې، سیاست، هنر، ښوونې اوروزنې او د مابعدالطبیعت مسایلو په باب بحث شوی دی.

د افلاتون سیاسي فلسفه نه یوازې د ولسواکۍ مخالفه فلســفه ده، بلکې تر طبیعت اخوا میتافزیک (Metaphysics) مقوله هم ده. د الهیاتو (theologies) کلمــه دلــومړي ځــل لپــاره افلاتــون وکارولــه. او پــه (نوموي Nomoi) کتاب کې یې د یو الهي نظم د طرحې بنسټ کېښــود، چې په هغه کې دې مذهبي نړۍ لید سره د هېڅ ډول نظریې د اختلاف بیان ته اجازه نه شته، د افلاتون دا پوښتنه نن هم د ژبو پر سر ده چــې کوم حکومت ډېر ښه او کوم نظام ډېر منصفانه دی؟

# ارسطو

## تر میلاد (۳۸۵- ۳۲۲) کاله وړاندې

ارسطو نه یوازې د یونان ستر وروستی فیلسوف ګڼل کېږي، بلکې په اروپا کې لومړنی ژوند پوه هم ګڼل کېږي، ارسطو د اتن استوګن نــه و، هغه تــر مــیلاد (۳۸۵) کالــه وړانــدې پــه (مقدونیــه) کــې زېږېدلی و او هغه وخــت یــې اکاډمۍ ته لاره پیدا کړه، چــې (۱۷) کلن و، دا مهال افلاتــون (۶۱) کلـــن و. پـــلار یـــې د مقدوینې د پاچا چې (امین تاز) نومېده، شخصــي ډاکتــر و، د هغه دندې د ارسطو پر فلسفي طرحو بشپړ اغېز درلود، ژونــد اوطبیعت د هغه لپاره ځانګړې اهمیت درلود، ارســطو د (ســکندر) تــر مړینې وروسته د کوچنۍ اسیا لویدیځ ته وتښتېد، څرنګه چې غرضــي



اشخاصو هغه پر کفر او الحاد تورن کړی و، نو کوچنۍ اسیا ته تر تېښتې وړاندې هغه ویلي وو چې نه غواړي یو ځل بیــا د (اتنیــانو) لاســونه د (سقراط) په شان د یو بل فیلسوف پر وژنې ککړ شي.

د اوسنۍ ترکیې لویدیځ ته د هغه تر تېښتې وروسته ارسطو د یــوه سیمه ییز واکمن، چې فلسفې سره یې لېوالتیا لرله، پر خدمت بوخــت شو. د یونان د تاریخ لیکونکو له جملې څخه د یوه په وینــا کلــه چــې (هخانشیانو) هغه سیمه ییز امیر یا واکمن وواژه، ارسطو یو ځل بیــا اړ شو چې اتن ته لاړ شي، ارسطو تر میلاد (۳۲۲) کاله وړاندې په اتن کې مړ شو.

که څه هم افلاتون د شیانو په تلپاتې یا (مثل) شکلونو کې ډوب و او اصلاً یې د طبیعت بدلونونو ته پاملرنه نه کوله، خو ارسطو د خپل استاد پر خلاف، بدلونونو او یا په اوسنۍ نومونه د طبیعت لوړو ژورو ته زیــات اهمیت ورکاوه.

که افلاتون د محسوساتو نړۍ ته په کمه سترګه کتل او هغه څه چې موږ یې په خپله چاپېریال کې ګورو، هغو ته یې په سرسري نظر کتل، خو ارسطو بیا د افلاتون برعکس چلند کاوه، هغه طبیعت تــه ځیــر و او د طبیعي موجوداتو په باب یې څېړنه کوله.

د همدې دلیل له مخې ویلای شو چې افلاتون یوازې له عقل څخــه کار اخیسته او ارسطو د عقل تر څنګ له حواسو هم ګټه پورته کوله، د استاد او شاګرد تر منځ په کار دود کې اختلاف پر همدې ځای پای ته نه رسي؛د افلاتون لیکنې تر ډېره بریده شاعرانه او اساطیرې جذبه لري، په داسې حال کې چې د ارسطو اثار وچ او مفصل دي، سم لکــه د دایــره

المعارف په شان. د ارسطو یو زیات شمېر لیکنې د طبیعــت ډېــره ژوره څېړنه کوي.

هغه اثار چې له لرغونې دورې څخه پاتې دي، د ارسطو تر یو سلو او یا وو (۱۷۰) زیاتو اثارو ته نغوته کوي. خو له دې جملې څخه یې یــوازې اوه څلوېښت (۴۷) اثار پاتې دي، چې یو یې هم بشپړ نه دی، د ارســطو اکثره لیکنې هماغه یادښتونه دي چې هغه د وینا لپاره چمتو کړي وو، د ارسطو پر مهال هم فلسفې ګڼۍ بڼه درلودله.

د اروپايي فرهنګ لپاره د ارسطو اهمیت یوازې په دې کې نه و چې هغه د لومړي ځل لپاره علمي ژبه رامنځته کړه او داسې اصطلاحات یې وپنځول چې اوس پر بېلابېلو پوهنو کې کارول کېږي، بلکې هغه داسې یو بنسټ کېښود چې د هغه له امله بېلابېل علوم رامنځته او سره منظم شول.

موږ په خپلو مخنیو خبرو کې وویل چې افلاتون هم تر ده وړانــدې فلسفیانو په شان، هڅه کوله چې په ټولو بدلونونو کــې تلپــاتې او نــه بدلېدونکی عامل پیدا کړي، په همدې خاطر یې په ورتــه (مثــل) لاس پورې کړ او اعلان یې وکړ چې (مثل) د ټولو هغو ښکارندو بشپړې بېلګې دي چې د محسوساتو په نړۍ کې لیدل کېږي، سربېره پر دې افلاتــون په دې نظر و چې دا مثالونه په طبیعت کې تر ټولو موجود و ښــکارندو ډېرو واقعي دي، د ساري په توګه لومړی (اس) راڅرګندېږي او وروسته د محسوساتو په نړۍ کې ټول موجود اسونه د هغه له مخې منځته راځي، ځکه نو د هغه په نظر (د چرګ مثال تر چرګ او هګۍ وړاندې رامنځته شوی دی)، ارسطو په دې نظر و چې افلاتون ټول شیان سرچپه لیدلي

دي، هغه د خپل استاد په شان په دې نظـر و چـې هـر اس ځـانګړی (بدلون) کوي او هېڅ اس تلپاتې نه دی، ارسطو د خپل استاد دا نظر هم تائیداوه چې د اس بنه تلپاتې ده او د بدلون وړ نه ده، خو په دې نظـر و چې د اس (مثال) هغه مفهوم دی چې انسان د بېلابېلو اسونو تر لرلـو وروسته په خپل ذهن کې ټوکولی دی.

ځکه خو نو شونې نه ده چې د اس (مثال) یا (بنه) د اس تر پېژندنې وړاندې موجوده وي، د ارسطو په نظر د اس (بنه) کې هغـه ځـانګړنې شاملېږي چې اس یې لري او دا ځانګړنې بیا په ټولیز ډول اس رامنځته کوي، ارسطو باور نه درلود چې دا بنې په طبیعت کې یوه له بلې څخـه جلا دي. د هغه په نظر (بنې) د شیانو ځانګړنې دي او دا ځانګړنې په هر شي کې نغښتې دي. ارسطو د افلاتون له دې نظر سره هم مخالف و چې د (چرګ) مثال په خپله تر چرګ وړاندې رامنځته شوی دی، هغه څـه چې ارسطو یې د چرګ (بنه) ګڼي د چرګ په ځانګړتیاوو پورې اړه پیدا کوي، د ساري په توګه دا ځانګړنه چې چرګ هګۍ اچوي، ځکه نو چرګ او د چرګ (بنه) یو له بله نه توپیرېږي، سم لکه د جسم او روح په شان.

په دې بحث کې مهم اصل دادی چـې د فکـري طریقـې د بـدلون تګلوري ته پام کېده، د افلاتون لپاره تر ټولو لوړ واقعیتونه د عقـل پـه مرسته فکر کول وو او ارسطو بیا حواس دپـوهې او واقعیـت یـوازینۍ سرچینه ګڼله، افلاتون په دې نظر و هغه څه چې په طبیعت کې د لیدو وړ دي د مثلې نړۍ د واقعیتونو انعکاس دی چې د انسان پـه روح کـې نغښتي دي، د ارسطو نظر بیا ددې برعکس و، د ارسطو په نظر هغه څه

چې د انسان په روح کې موجود دي، په اصل کــې پــه طبیعــت کــې د موجودو شیانو انعکاس دی.

د ارسطو په نظر افلاتون د اسطوره يي نړۍ د انځورونو په زندان کې ځان بند کړی و، چې تصورات يې د واقعیتونو په توګه څرګندول.

ارسطو پر دې ټکي ټینګار کاوه چې پېژندنه یوازې د ادراک له لارې ترلاسه کېدی شي، په دې باب افلاتون ضرور په دې نظر و چې تر هغــه پورې هېڅ شی په طبیعت کې نه پیدا کېږي چې مخکې تر مخکې پــه ورته نړۍ کې موجود نه وي. د ارسطو په نظر افلاتون هر څه له همــدې امله غبرګ کړي دي.

دا پوښتنه راپیدا کېږي چې (د اس مثال) له کومه ځایه راغلی دی؟ شاید یو درېیم اس هم موجود وي، چې دا اس د هغه له مخې جوړ شوی دی؟

ارسطو په دې نظر و هغه څه چې موږ په فکر او نظر کې لرو زمــوږ د لیدلو او اورېدلو د طریقې له لارې يې عملي بڼه خپلــه کــړې ده، خــو انسان خپل یو ډول ځانګړی شعور هم لري. په موږ کې داسې استعداد شته چې زموږ حسي اغېزې ډلبندي او سره منظمې يې کړي.

له همدې امله دي چې د (تیږې، بوټو، انســان او حیــوان) مفــاهیم رامنځته کېږي.په دې ډول نو ارسطو د انسان د ځانګړي شعور مخالف نه و، بلکې برعکس هغه شعور د انسان یوه ډېره مهمه ځانګړنه ګڼله، خو په دې نظر و چې دا شعور تر هغه وخت پورې چې دمحسوساتو له لارې د یو څیز په درک بریالی نه شي (خالي) شی ګڼل کېږي، په دې ډول نو شونې نه ده چې (مثل) د انسان ځانګړنه وي.

**ارسطو په پای کې پر خپلې طرحې لاس پورې کړ او د افلاتون د (مثل) نظر پر وړاندې یې خپل نظر څرګند کړ. د ارسطو په نظر واقعیتونه له مختلفو ښکارندو څخه جوړ شوي دي، چې د (بڼې یا صورت) او (مادې) تر منځ د یووالي ښکارندویي کوي، (ماده) په اصل کې د ښکارندو د جوړښت زړی او جوهر دی او (بڼه یا صورت) د ښکارندو خاصې ځانګړتیاوې وي.**

**پورته نغوته وشوه چې ارسطو د طبیعت بدلونونو ته پاملرنه کوله، ماده په بالقوه ډول کولای شي خپله بڼه ولري، په دې ډول کولای شو ووایو چې ماده هڅه او کوښښ کوي، له قوې څخه فعل ته راشي. د ارسطو د لیدلوري له مخې په اصل کې هر ډول بدلون له قوې څخه فعل ته د مادې د اوښتو زېږنده ده.**

**د ارسطو او افلاتون د سیاسي فلسفې اختلافات کولای شو په دې ډول ډلبندي کړو:**

- **افلاتون د یوه فرهنګي انقلاب غوښتونکی دی او ارسطو نه غواړي له اوسني فرهنګ سره خپل اړیکی غوڅ کړي.**
- **افلاتون پوه او متخصص کسان په پام کې نیسي او ارسطو ټول وګړي.**
- **افلاتون په سیاسي چارو کې تر طبیعت اخوا (میتافزیک) فلسفې باندې باورمند او ارسطو بیا دا باور نه درلود.**
- **افلاتون خپله فلسفي تیوري او ټولنیز چلند یو بل سره ګډوي، خو د ارسطو لپاره بیا عملي فلسفه (philosophy practical) معتبره ده.**

• په یوه بله وینا افلاتون اسمان ته ګوته نیسي او ارسطو ځمکې ته، ارسطو په وروستي تحلیل کې د نظم او ترتیب سړی و، هغه غوښتل د خلکو په ذهن کې موجود مفاهیم راټول، جوړ او مرتب کړي، له همدې کبله یې د منطق علم مطرح کړ، وچ او ریاضي ډوله قواعد یې ددې علم لپاره په پام کې ونیول، هدف یې دا و چې د هغو په مرسته منطقي قضیې تعریف کړي، د ساري په توګه (لومړی نظر) ټول ساکښ مري، (دویم نظر) موږ ټول ساکښ یو. له دې څخه دا پایله راوځی چې: (موږ هم مرو). په دې مثال کې موږ په څرګند ډول د ماناوو تر منځ اړیکي وینو.

ارسطو په طبیعت کې د موجود ښکارندو د ډلبندۍ پر مهال هغوی په لومړي پړاو کې پر دوو ډلو وېشي، لومړۍ ډله بې روحه ګڼي، لکه تیږه، لرګی، د اوبو څاڅکي، د ځمکې لوړې ژورې او نور... د ښکارندو په دې ډله کې بدلون شونی نه دی او د ارسطو په نظر یوازې د بهرنیو عواملو په مرسته کولای شو په هغو کې بدلون راولو، دویمه ډله ساکښ نومېږي، چې د هغو په دننه کې بدلون شونی دی.

د ارسطو په نظر په طبیعت کې موجودې ښکارندې کولای شو په وروستي تحلیل کې د ساکښو او بې روحو له مخې سره ډلندي کړو. تر بشپړې بې روحې ډلې وروسته، بوټو ته رسېږو چې دبې روحو په انډول ساکښ ګڼل کېږي او د ساکښو په انډول بې ساه، ارسطو بیا ساکښ هم پر دوو ډلو: ځناورو اوانسانانو ډلبندي کړي دي.

ارسطو تصور کاوه چې د ځمکې پر مخ هر ډول حرکت د ستورو او سیارو د حرکت له لارې هدایت کېږي، خو په هر ډول یو بل څه هم باید

د اسماني شیانو د حرکت سبب شوی وای، هغه دا ځواک لومړنی محرک یا خدای باله، دارسطو په اند لومړی محرک حرکت نه لري، خو د اسماني شیانو د حرکت علت ګڼل کېږي، چې په خپله په طبیعت کې دحرکت سبب ګرځي.

ارسطو په دې نظر و چې د انسان (بڼه، شکل یا صورت) (د بوټو له روح)، (حیواني روح) او (منطقي روح) څخه برخمن دی، د هغه په نظر انسان هغه وخت نېکمرغه کېدلای او ښه ژوند کولای شي چې له ټولو استعدادونو او امکاناتو څخه ګټه پورته کړي.

ارسطو پر درې ډوله نېکمرغیو باور درلود، هغه لومړی نېکمرغي، خوشاله او خندانه ژوند ګاڼه. دویم ډول نېکمرغي یې دا ګڼله چې یو سړی باید ازاد او بامسؤلیته ژوند ولري او درېیمه نېکمرغي یې بیا دا ګڼله چې نېکمرغي د هغه چا ژوند ته ورداخلېږي چې اندیال (متفکر) او فیلسوف وي.

ارسطو په دې نظر و چې دا درې ډوله نېکمرغۍ یوه له بلې سره تړلې دي، انسان د هغو په مرسته کولای شي په ژوند کې نېکمرغي ترلاسه کړي، له همدې کبله هغه د یو اړخیز ژوند مخالف و، که چېرې ارسطو اوسمهال ژوندی وای، نو هغه څوک به یې چې یوازې سپورت کوي او د خپل بدن غړي غړوي او یا هغه څوک چې یوازې پر ذهن پالنې بوخت دی، یو اړخیز شخص بللای وای، ځکه د هغه په نظر دا افراط او تفریط پر نېکمرغۍ باندې یو لړ منفي اغېزې کوي.

ارسطو د فضیلت په باب په دې نظر و چې فضیلت د افراط او تفریط تر منځ (منځنی طلایي حد) دی، نه ډار په کار دی او نه هم نا منطقه

زړورتيا هغه څه چې تر ډېره حده زموږ موخه ده، هغه شجاعت دی، تر شجاعته ټيټ حالت به ډار او تر هغه پورته حالت به زړورتيا وي؛ نه بخيلي په کار ده، نه اسراف او هغه څه چې ښه او منلي دي هغه سخاوت دی، تر سخاوته ټيټ حالت بخيلي ده او تر هغه پورته حالت اسراف ګڼل کېږي.

دا موضوع د خوراک په باب هم سمه ښکاري، کم خوراک او ډېر خوراک دواړه خطرناک دي، کوم څه چې افلاتون او ارسطو يې د اخلاقو په باب مطرح کوي، هغه د لرغوني يونان د طبابت پر بنسټ ولاړ دي، د هغه وخت د طبابت په علم کې نظر دا و چې د اعتدال او تناسب په رعايت سره يو سړی کولای شي نېکمرغه او (متناسب) وي.

د ټولنې په باب هم د ارسطو ليدلوری له افراط او تفريط سره د مخالفت پر بنسټ رامنځته شوی و، هغه انسان يو (سياسي موجود) ګاڼه او په دې نظر و چې انسان له ټولنې پرته بشپړ نه دی، د ارسطو د نظر پر بنسټ کورنۍ او کلی د خلکو لومړنۍ اړتياوې لکه غذا، ګرمي، ښځه او اولادونه تامينوي، خو د ټولنې وروستۍ بڼه کېدلای شي، يوازې دولت وي.

ارسطو درې ډوله حکومتونه طرح کړي دي:

**۱- سلطنتي حکومت:** په دې ډول حکومت کې د ټولنې لارښوونه د يوه فرد په لاس کې وي، ارسطو دا حکومت هغه مهال ښه ګڼي چې (استبداد) ته مخه ونه کړي او دا په داسې حال کې ده چې مشر يې يوازې خپله ګټه په پام کې ونه نيسي.

۲- اشرافي حکومت: په اشرافي حکومتونو کې د خلکو لارښوونه یا مشري د یوې ډلې واکمنو پر غاړه ده، واکمنه ډله باید لــه ســرزورۍ څخه کار وانه خلي او که دا کار وکړي، نو اشــرافي حکومــت پــر یــوه زورواکي (دیکتاتور) حکومت بدلېږي.

۳- ولسواک حکومت: دا حکومت هم ممکن خپل ښه والی یــا مطلوبیت له لاسه ورکړي او دا کار هغه وخت شونی دی، چې د حکومت مشري د لنډغرو لاس ته ورشي.

په انقلابي ژبه او یا د پخوانۍ وسلوالې مبارزې په ژبه کــولای شــو، ووایو چې ارسطو په (تاکتیــک) کــې (ماتریالیســت) فیلســوف او پــه (ستراتیژۍ) کې (ریالېست) عالم و، یانې په دې مانا چې هغه په ورځني ژوند کې د دې نړۍ سرې و او په رښتیني ډول یې فکر او عمل کاوه. او په سمایي او وروستۍ نړۍ کې د خدای بنده او یو (ایډیالیست) انسان و، ان تر دې پورې چې د هغه مهال پر کلتور باندې د واکمنو خرافــاتو تــر بریده وررسېدلی و. د اوسمهالو فلسفیانو په وینا ارسطو تر ډېره بریــده پورې په خپله فلسفه کې (ما تریالستي) او (ایډیالیستي) اصول ســره ګډوله کړي وو، (انګلس) هغه د لرغونې دورې د فلسفیانو په ډله کې د نړۍ ستر فیلسوف ګڼي، که څه هم هغــه د (افلاتــون) خــلاف چــې د پایتخت (اتن) استوګن و، د ولسي فیلسوف په توګه یاد شــو، ارســطو (۲۴۰۰) کاله وړاندې ولیکل چې د فلسفې موخه بایــد (پېژندنــه) وي. فلسفه د ارسطو پر مهال یو پراخه علم و چې بېلابېل علوم په کې راټاله وو، چې هر ښاروال، والي، پولیس او ښوونکي باید د هغه له اصولو سره اشنایي پیدا کړې وای. هغه لومړنی فیلسوف و چــې فلســفه یــې پــه

سستماتیک ډول ډلبندي کړه، یانې دا چې هغه یــې پــه یــوه فکــري چوکاټ کې شامله کړه، پر سیستماتیک ډول د هغه له خوا د فلســفې وېش پر دې بنسټ و چې په فلسفه کې د تیورۍ او عمل تر منځ تــوپیر وشي. د هغه په نظر حقیقت دا مانا چې فکر له واقعیــت ســره ســمون وخوري. هغه ادعا کوله چې پر فلسفي مسایلو لاس پورې کول د روح د روغتیا، خوشالۍ، رضایت، انسانیت او شجاعت سبب ګرځي.

هغه به ویل، انسان باید هڅه وکړي چې ابدي شي او مرګ ونه کړای شي، چې هغه د هېرېدو کندې ته ورګوزار کړي.

د ارسطو په نظر یو څه شی په ښځو کې کم دی، په همدې خاطر هغه ښځه یو ((نیمګړی انسان)) ګاڼه. ارسطو په دې نظر و چې ښځې د مثل په تولید کې منفعلې او منونکي دي، په داسې حال کې چې نرینه فعال او مولد دي.

په همدې خاطر ماشوم خپلې ځانګړنې له خپل پلاره رااخلي، ارسطو په دې نظر و چې د ماشوم ټولې ځانګړنې د نر په نطفه کې بڼه غوره کوي او ښځه یوازې هغه ته هغه چاپېریال برابروي چې نطفه په کې وده کوي. په دې ډول نر د ماشوم (بڼه یا صورت) تشکیلوي او ښځه د هغه (ماده) جوړوي.

دا موضوع چې د ارسطو په شان یو پوه او ځیرک عالم دې د جنسي اړیکو په باب تردې حده تېروتنه وکړي، د ژورې خواشینۍ خبره ده. خو دا موضوع دوو ټکو ته نغوته کوي: لــومړی دا چــې ارســطو د ښــځو او ماشومانو د طبیعت په باب پوره تجربه یي اطلاعات نه درلودل او دویم دا چې کله هم نرینه یوازې خپل ځان ددې وړ وګڼــي چــې یــوازې دوی

کولای شي فیلسوف او څېړونکي شي. طبعاً به کار له نیمګړتیاوو سره مخ شي.

د ښځو په باب د ارسطو لیدلورې په خواشینۍ سره چې د منځنیو پېړیو په ټوله دوره کې تائید او د افلاتون نظر له یاده وایستل شو. د ارسطو نظر په کلیسا کې په پراخه کچه دود شو. لویدیځ څېړونکي د اغراق په بڼه د ارسطو د اثارو شمېر له (۴۰۰) څخه تر (۱۰۰۰) عنوانو پورې اټکلوي، د هغه یو ملګرې ان ددې ادعا کوي چې د هغه ویل شوې جملې (یو نیم ملیون) جملو ته رسي. له ارسطو څخه راپاتې اثار، د منطق، طبیعت پوهنې، میتافزیک، لیکوالۍ، سیاست، د خبرو هنر، اخلاقو او حیوان پېژندنې په باب دي. هغه د بوټو پېژندنې، حیوان پېژندنې، منطق، ریاضیاتو او سیاست په شان د علومو پر تعریف او تغیر خپل خپل اغېز پرېښود. ارسطو لومړنی عالم و چې د خپلې زمانې د بېلابېلو علومو ترمنځ توپیر ته قایل شو. هغه د (سیاست) په کتاب کې انسان د یو ټولنیز موجود په توګه معرفي کوي، که څه هم هغه د انسانانو ترمنځ طبیعي توپیر ته قایل و. د خادمانو له غلامولو او په درباري خدماتو کې د هغوی له کارونې یې ملاتړ کاوه. په (میتافزیک) کتاب کې هغه د شیانو د بڼې او د مادې ترمنځ اړیکي څېړي. همدلته ده چې د میتافزیک یا هم تر طبیعت لوړ حالت لغت موږ ته د شیانو دننه کلمه راپه یادوي. د منځنیو پېړیو په بهیر کې د ارسطو اثار د مدرسینو یا (اسکولاستیک) ښوونځي لپاره د نورم او اصل په توګه وکارېدل. هغه د منځنیو پېړیو پر (ایډیالستي) او (ماتریالستي) بهیرونو خپل ځانګړی اغېز پرېښود. د هغه

فکري سيستم له پنځمې ميلادي پېړۍ څخه بيا تراوسه پورې په اروپـا کې له مسيحيت سره يوځـای شــو او (اسکولاســتيک) مدرســينو د ښوونځي په مرسته يې د مسيحيت د فلسفې د رسمي ستنې بڼه غوره کړه. ارسطو له کيفي پلوه طبيعت د ودې په حال کې يو بهيــر ګڼــي او ګومان کوي چې د هر حرکت پيل الهي ځواک پورې تړلی دی. سره لــه دې چې د هغه له نظره پيلوونکی ځواک په مسيحيت کې له ازلي خالق سره ورتوالی نه لري. پېړۍ پېړۍ کېږي چې هغه د مســلمانو او عربــي هېوادونو علم و فلسفه تر خپل اغېز لاندې راوستي دي. يوه بله ډله بيا ارسطو د تاريخ په ډګر کې د مسيحي ايډيالونو او الهياتو يو صفاکوونکی واټ يا لاره ګڼي. د (پروتستانو) يو سمونپال (مارتين لوتر) په تحقير سره ارسطو يو کيسه ييز شاعر او د زنګوهلو افکارو فيلسوف وباله.

# مابې یوناني افکار

تر میلاد وړاندې پر (۳۲۲) کال کله چې ارسطو مړ شو، نو یونان په هغو کلونو کې د نړۍ یو ستر ځواک و. دا ستر ځواک تر میلاد (۳۵۶-۳۲۳) کلونه وړاندې د (سکندر) د لښکر کښنیو او د هغه د فتوحاتو له امله رامنځته شوی و.

سکندر د (مقدونیې) پاچا و. ارسطو هم د مقدونیې اوسېدونکی ګڼل کېده او ان دا چې څه موده یې د سکندر پر روزنه هم تېره کړه، سکندر پر دې بریالی شو چې له (مصر) او (ایران) څخه رانیولې تر (اریانا) یا اوسني افغانستان او (هنده) پورې خپلې لښکرې وځغلوي، دا ټولې سیمې تر خپل واک لاندې راولي او په هغو کې یوناني تمدن دود او پراخ کړي. په دې ډول نو د بشر د تاریخ یوه نوې دوره پیل شوه، نړیواله ټولنه رامنځته شوه چې یوناني ژبې او فرهنګ په هغې کې ټاکونکی نقش درلود. د تاریخ دا دوره چې (درې سوه) کاله وغځېدله، معمولاً د (هلنیزم) دورې په نامه یادېږي.

له (هلنیزم) څخه موخه واکمن یوناني کلتور دی چې د هغې زمانې پر څلورو لویو امپراتوریو؛ (هلني یانې مقدونیې، سوریې، مصر او اریانا) واکمن و. تر میلاد (۵۰) کاله وړاندې (روم امپراتورۍ) سیاسي او پوځي

واکمني راخپله کړه، تر هغه وروسته دې نوي ځواک د (هلنـــي) ټــولې امپراتورۍ تر خپل واک لاندې راوستې او بیا لاتیني ژبه او رومي کلتور له (اسپانیا) څخه نیولې د اسیا تر زړه پورې پراختیا وموندله او پــه دې ډول د روم د ښکېلاک دوره پیل شوه. دا هماغه دوره ده چې د لرغونتیا د وروستۍ دورې په نامه مشهوره ده. په دې ځای کې باید دې ټکي تــه پاملرنه وکړو او هغه دادی مخکې تر دې چې رومیان (هلني) نــړۍ تــر خپل واک لاندې راولي، روم د یوناني کلتور او طبعاً فلســفې تــر اغېــر لاندې خپل نقش ساتلی و او خپل ژوندانه ته یې دوام ورکړ.

د بېلابېلو هېوادونو او فرهنګونو د ســرحدونو لــه ختمېــدو ســره (هلنیزم) وده وکړه، تر دې دورې وړاندې (یونانیانو، رومیانو، مصــریانو، بابلیانو، اشوریانو، اریایانو یانې د ایران، نني افغانستان او د امو دریاب د شمال د ځینو برخو په ګډون) خلکو خپل ځــانګړي مــذهبي باورونــه درلودل او د خپلو خدایانو عبادت یې کاوه، خو په دې دوره کې مختلف کلتورونه یو بل کې ننوتل او د هغې زمانې د دیني، فلســفي او علمــي باورونو یوه ټولګه یې رامنځته کړه.

یوناني عقایدو د یونانیانو تر اغېز لاندې په ټوله سیمه کې پراختیــا وموندله، د جنګ ډول د سوداګریزو بازارونو بڼې خپلې کړې. د شیانو او مالونو د راکړې ورکړې ترڅنګ د افکارو تبادلې هم په ډېر ځواک ســره جریان پیدا کړ. له بلې خوا د نورو سیمو افکارو او عقایدو هم د نړۍ نورو سیمو ته لاره پیداکړه او خپل اغېز یې ورساوه. د (مدیترانې) پــه ټولــه

حوزه کې د ختیزو خدایانو عبادت هم کېده او داسې ادیان هم رامنځته شول چې خدایانو او مذهبي عقایدو یې له زاړه کلتور څخه سرچینه اخیستې وه او په دې ډول د ادیانو یو ګډوله حالت یا دیني اختلاط رامنځته شو.

تر دې دورې وړاندې خلکو خپل ځان په خپل ملت او خپل ولایت پورې تاړه، د هېوادونو د پولو تر ړنګېدو او د افکارو تر ازادانه تبادلې وروسته، ډېری خلک د خپل نړۍ لید په باب متردد شول. ددې دورې څرګنده ځانګړنه کولای شو، مذهبي تردیدونه، فرهنګي شلېدنې او بدلیدونه وګڼو.

د (هلنیزم) فلسفه په حقیقت کې کوم نوی شی نه و. په دې دوره کې موږ د کوم نوي (سقراط، افلاتون او ارسطو) شاهدان نه یو، بلکې د (اتن) د دغو دریو سترو فلسفیانو لیدلوري د څو بېلابېلو متفاوتو فلسفي جریانونو د ټوکېدو لپاره بنسټ، سرچینې او د الهام سبب شول.

د (هلنیزم) په دوره کې علم هم د بېلابېلو فرهنګونو د ګډوله حالت تر اغېز لاندې راغی. په (مصر) کې د (سکندریې) ښار د ختیځ او لویدیځ د افکارو د تبادلې په برخه کې ستر نقش ولوباوه. په داسې حال کې چې اتن له (سقراط، افلاتون او ارسطو) څخه د راپاتې فلسفي ښوونځیو په برکت د فلسفې مرکز ګڼل کېده. سکندریه هم د علم مرکز شو، دا ښار د ستر کتابتون په لرلو سره، د ریاضي، نجوم، ژوندپوهنې او طبیعي څېړنو مرکز شو.

نن هم د همغو وختونو په شان، د دین، فلسفې او د نوي او زاړه علم یوځای کېدو د نوي نړۍ لید لپاره ښې لارې چارې برابرې کړې دي.

ددې (نوې پېژندنې) لویه برخه په اصل کې همغه پخواني افکار دي، دا افکار د (هلنیزم) په دوره کې او تر هغې وړاندې خپله ریښه لري، چې د (سقراط، افلاتون او ارسطو) او تر هغو وړاندې فلسفیانو له خوا طــرح شوي وو.

ددې وخت د فلسفیاتو ترمنځ د داسې یوې ګډې وجې پیداکول مهم و چې د انسان ژوند او مرګ د پوښتنې لپاره ځواب پیداکړي. له همدې کبله ددې دورې د فلسفې تر ټولو مهم اختلاف او یا هم ددې نړیــوالې ټولنې د فلسفیانو د پاملرنې وړ موضوع ګڼل کېږي. اصلي پوښتنه په دې کې وه چې رښتینې نېکمرغي په څه کې ده او څه ډول ترلاسه کېږي؟

ددې دوو مهمو پوښتنو د ځوابولو لپاره په دې دوره کې لږ تــر لــږه (څلور) فلسفي ښوونځي چې تر نورو زیــات څرګنــد او مشــخص وو د جګړې ډګر ته داخل شول. دا ښوونځي (کلبیان، رواقیون، اپیکوریان او نوي افلاتونیان) نومېدل.

# کلبیان

د (سقراط) یو چلند په حقیقت کې ددې فلسفي طریقې د ټوکېدو سبب شو، په دې ډول چې یوه ورځ د یوې هټۍ مخې ته ودرېد او په هټۍ کې موجودو شیانو ته ځیر شو او بیا یې وویل: ((وګورئ انسان د خپل ژوند لپاره کومو کومو شیانو ته اړتیا لري.)) ددې خبرو له بیان څخه د سقراط موخه څه وه؟ په واقعیت کې سقراط غوښتل نور وپوهوي چې هغه دې شیانو ته اړتیا نه لري.

د سقراط دا وینا او چلند د کلبي فلسفې د بنسټ حیثیت غوره کړ. دا فلسفه په (اتن) کې تر میلاد (۴۰۰) کاله وړاندې رامنځته شوه. بنسټګر یې انتیستنینس (Antistnenes) په نامه یو شخص و چې د سقراط د شاګردانو له جملې څخه و.

کلبیان په دې نظر و چې رښتیني نېکمرغي په تېر ایستونکو ظواهرو لکه، لوړو زده کړو، سیاسي واک او یا روغتیا کې نغښتې ده. دا نېکمرغي هغه وخت ترلاسه کېږي چې انسان له ټولو هغو شیانو څخه چې اتفاقي او تېرېدونکي دي ځان ازاد او خلاص کړي. ځرنګه چې رښتیني نېکمرغي لنډ مهاله او ناثباته ښکارنده نه ده، شوني ده چې د هر چا لپاره وي. کله چې رښتیني نېکمرغي یوځل ترلاسه شي بیا له لاسه نه وځي.

ډېر نامتو کلبي دیوجانس (Diogens) نومېده. هغه د (انتیستینینس) د شاګردانو له جملې څخه و. ویل کېږي چې هغه به شــلېدلې جــامې اغوستلې، امسا به یې ګرځوله، توبره به یې تر شا وه او پر ځمکه به ویده کېده. په دې ډول نو له ده څخه ددې نېکمرغۍ اخیستل اسانه هم نــه وو. یوه ورځ (مقدوني سکندر) د هغه لیدو ته ورغی چې له هغه څخه د هغه د غوښتنې یا هیلې پوښتنه وکړي او څه شی له ده څخه وغواړي، (دیوجانس) له (سکندر) څخه غوښتي وو چې څنډې ته شي او د لمــر مخه بنده نه کړي. هغه په دې ډول غوښتل څرګنده کړي چې تر یو ستر ټولواکه ډېر بډای او ډېر نېکمرغه دی. ځکه څه شی چې غواړي هغه یې په واک کې دي.

# رواقیون

کلبیانو د رواقي فلسفې لپاره چې تر میلاد (۲۰۰) کاله وړانـدې پـه (اتن) کې راوټوکېده، ډېر زیات اهمیت درلود. (زنون) تر یوه چت لاندې خپلو شاګردانو ته وینا کوله. له همدې کبله دوی د (رواقیونو) په نامـه مشهور شول. دې لیدلوري بیا وروسته په رومي کلتور کې ډېـر زیـات اهمیت پیداکړ. رواقیون هم د (هراکلتیوس) په شان په دې نظر وو چې ټول انسانان په یوه کچه له پوهې (لوګوس) څخه برخمن دي. (لوګوس) د هغه په رواقي مانا نه یوازې د ټولو شیانو د ټوکېدو ځای دی، بلکې د پېښو قانونمندي هم ده.

په یوه عمومي قانونمندۍ کې، نـه یـوازې شـیان، بلکـې د هغـو پېژنـدونکی هـم د ځایېـدنې وړ دی. پـه دې ډول د مفهـومي تفکـر جوړښتونه او واقعیت یو بل سره سمون خوري. ځکه نـو د (لوګـوس) درک د کیهاني نظم د یوه اصل په توګه نه یوازې د پوهې په پېژندنــه او میتافزیک کې مهم دی، بلکې دا درک تر هغــه پورتــه دا امکــان هــم رامنځته کوي چې سړی د طبیعت پر بهیر نو باندې هم په ښه او هدفمن ډول پوه شي.

تر کومه ځایه چې غایې یا موخې خپل اثر ښندي، نورې موخې هــم شته چې باید وڅېړل شي او دا بیا په دې مانا ده چې طبیعت د هــدف پېژندنې له درک سره سم یو منظم نظم هم ګڼل کېــږي. د طبیعــت د

رواقي مفهوم منظمه ځانګړنه د اخلاقو په فلسفه کې د هغې د چلند پر غور باندې ولاړه ده چې د خپل طبیعي حق ځانګړتیاوې لري.

د روایتونو په نظر (انسان) د (نړۍ) پر وړاندې د (یو کوچني موجود) حیثیت لري چې د یو (لوی موجود) انعکاس یا څرګندونه کوي.

دا لیدلوری ددې سبب شو چې (رواقیون) په یو ډول پر ټولنیز حق یا په بله وینا پر طبیعي حق باورمند شي. دا طبیعي حق د انسان پر پوهې او کایناتو ولاړ دی، له همدې کبله په زمان او مکان کې بدلون نه مومي، څکه نو ویلای شو چې (رواقیون) د سقراط ترڅنګ او د سوفیستانو پر وړاندې ولاړ دي.

طبیعي حق په ټولو انسانانو پورې اړه لري او ان غلامان هم لــه دې حق څخه برخمن دي. روایتونه په دې نظر وو چې پر هر هېــواد بانــدې واکمن قوانین له طبیعي حق څخه له نیمګړي تقلید پرته بل څه نه دي.

له کومه ځایه چې (رواقیونو) انسان د نړۍ انعکاس باله، نو څکه خو یې د دوی د دواړو ترمنځ توپیر نــه مانــه. هغــوی دغــه راز د (روح) او (جسم) ترمنځ هم توپیر نه لیده، څکه هغوی په دې نظر وو چې طبیعت یوازې یو دی. په فلسفې کې دېته (یــوازینی لیــدلوری) وایــي چــې د افلاتون له لیدلوري سره چې واقعیتونه یې (دوه ګونی) ګڼل له هغو سره یې تقابل څرګند شي.

(رواقیون) د خپلې زمانې اصلي زامن وو، نړۍ یې خپل استوګنځی ګاڼه، نو څکه خو یې د خپلو هم عصره (کلبیانو) په اندول خلاص ذهن درلود. هغوی د انسانانو ټولنې ته پاملرنه کوله، سیاست ته یې اهمیــت ورکاوه او ځینې یې له هغې جملې څخه قیصر مارکو اورلیوس ( Mar cus

Aurelias) تر میلاد (۱۸۰– ۱۲۱) کاله وړاندې لوړو دولتي څوکیو ته هـم ورسېدل.

رواقیون په تېره بیا کسیرون (Ciceron) چـې خطیـب، فیلسـوف، سیاستوال او ددې ښوونځي پلوی و، هڅه کوله چې یوناني فلسـفه او کلتور په روم کې پراخه کړي. سیسرو (Cicero) تر میلاد (۱۰۶– ۴۳) کاله وړاندې د انسانپالنې (Humanisms) مفهوم د یوه نړۍ لیـد پـه توګـه مطرح کړ چې ددې فکر مرکزي زړه انسان و. څو کاله وروسته یانې تـر میلاد (۶۹– ۴) کاله وړاندې د (سنکا) په نامه یو بل رواقي په خپلو لیکنو کې دا جمله یاده کړه چې: ((همدا انسان دی چې د انسانانو د سوکالۍ سبب ګرځي.)) دې عبارت د داسې یو شعار بڼه خپله کړه چـې پېـړۍ وروسته د انسانپالنې د یو ښوونځي د جوړېدو سبب شو.

سربېره پر دې رواقیون په دې باور وو چې د طبیعـت ټـولې لـوړې ژورې لکه ناروغي او مړینه، د طبیعت د نه بدلېدونکو قوانینو تابع دي. انسان باید خپل برخلیک ومني، ځکه چې هېڅ پېښه ناڅاپي نه ده. هره پېښه د یوې اړتیا له مخې پېښېږي او دا هم ډېره سخته ده چې سـړی پوه شي ددې پېښې اړتیا څه ده، انسان د هغو لویو نېکمرغیو پر وړاندې چې په برخه کېږي یې ارام او ټینګ وي. د رواقیونو دا لیدلوری د کلبیانو له لیدلوري څخه ډېر لرې نه دی. هغو ته هېڅ پېښې، څه ښه وه او څه بده، اهمیت نه درلود، ان نن ورځ هم (د رواقي) اصطلاح د هغو اشخاصو لپاره کارول کېږي چې د هر څه پر وړاندې بې تفاوته وي.

# اپیکوریان

په تېرو بحثونو کې دې ټکي ته ځير شو چې د هغو مسایلو له جملې څخه چې سقراط پر هغو د پوهېدو هڅه کوله، يــوه مســله دا وه چـــې انسان څه ډول کولای شي ښه ژوند ته ورسېږي. پــه دې بــاب مــوږ د (رواقیونو) او (کلبیانو) په نظر هم پوه شو. رواقیونو او کلبیانو له مــادي تجملاتو څخه د انسان تېښته د هغې پوښتنې ځواب او ښه ژوند تــه د ورتېرېدو لاره ګڼله.

اریستیپوس (Aristippos) د (سقراط) یو بل شاګرد بیا د رواقیونو او کلبیانو خلاف ژوند او ښه ژوند کــول پــه دینــوي لــذت کــې ګاڼــه. د (اریستیپوس) په باور د ژوند بد حالت په درد او رنځ کې نغښتی دی او د ژوند ښه حالت بیا هغه دی چې له خوښۍ او لذت څخه خوند واخلې. له رواقیونو او کلبیانو سره د اریستیپوس د لیدلوري توپیر په دې کې و چې رواقیونو هڅه کوله له انسان څخه درد او رنځ لرې کړي، خو اریستیپوس په ژوند کې د داسې یو تګلارې په لټه کې و چې د انسان درد او رنځ له منځه یوسي.

اپیکور (Epikur) تر میلاد (۳۴۱–۲۷۰) کاله وړاندې د (۳۰۰م.ز) کال شاوخوا په اتن کې په خپل نامه یوه فلسفه یي مدرسه جوړه کړه. هغه د (اریستیپوس) لیدلوري ته پراختیا ورکړه او د (دموکریتوس) له نظریې او لیدلوري سره یې ګډه کړله.

((ای غریبه دا ځای به تاته د خوښۍ سبب شي، ځکه چې په دې ځای کې خوښي تر ټولو ستره نېکي ده.)) دا جمله د هغه د بڼ د وره پر سر راځوړنده وه چې اپیکوریانو به معمولاً په هغه کې غونډې کولې او خپل افکار به یې تبادله کول.

(اپیکور) په دې نظر و چې د هرې خوښۍ ترڅنګ ناخوښي او نور عوارض هم وجود لري. د ساري په توګه خوړه که له ټولو ګټو سره سره زیاته وکارول شي، انسان د شکر پر ناروغۍ اخته کوي.

اپیکور پر دوه ډوله خوښیو باور درلود: لنډمهاله خوښي او اوږدمهاله خوښي. هغه غوښتل لنډمهاله خوښي له اوږدمهاله خوښۍ سره پرتله کړي، د ساري په توګه د خوړو شیانو اخیستل او خوړل یوه لنډمهاله خوښي ده، خو که د یوه کال په بهیر کې ددې ټولو خوړو پیسې زېرمه کړې، پر هغو یې ونه لګوې او بیا پرې خپل ځان ته یو بایسکل واخلې او بیا په هغه هر چېرته سفر وکړې، نو د هغه خوند به زیات او خوښي به یې اوږدمهاله وي. هغه په دې نظر و چې انسان د حیواناتو خلاف د پروګرام جوړونې وس لري، انسان کولای شي د خپلې خوښۍ لپاره په خپله پرېکړه وکړي.

اپیکور پر دې خبرې ټینګار کاوه چې (خوښي) الزاماً له جسماني لذت لکه د خوړو له خوړلو سره یوشان نه ده. دوستي او د هنري اثر ننداره هم کولای شي د خوښۍ سبب شي. د لرغوني یونان لیدلوری چې عفت، اعتدال او وقار یې د خپلې خوښۍ بنسټ ګاڼه، یو د هغو شرایطو له جملې څخه و چې اپیکور د ښه ژوند لپاره په پام کې نیوه. هغه په دې نظر و چې د روحي ارامتیا د ترلاسه کولو او پر درد و رنځ

باندې د برلاسی لپاره باید انسان خپلې جسماني او نفساني غوښتنې تر کنټرول لاندې وساتي.

موږ مخکې وویل چې (دموکرتیوس) په دې نظـر و چــې تــر مــرګ وروسته ژوند نه شته، ځکه چې د انســان تــر مړینــې وروســته د روح الوتونه سره شلېږي. اپیکور د مــذهب او خرافــاتو د مقــابلې لپــاره د دموکرتیوس له اتومي لیدلوري ګټه پورته کوله. هغه په دې نظر و چې د ښه ژوند د ترلاسه کولو لپاره باید د مرګ وېره له ځانه لرې کړو. اپیکور به ویل: ((ولې باید له مرګه وډار شو؟ تر هغه وخته چې موږ ژوندي یــو مرګ نه شته او کله چې مرګ زموږ سرته راورسېد بیا به نو موږ ژوندي نه یو.))

د اپیکور د میتافزیک فلسفه په واقعیت کې د اتومونو د شتوالي او تشیال د اثبات لپاره یوه پیلامه ده. چې له دوو لاندې ټکو څخه پیلېږي:

۱- موږ دحرکت په حال کې جسمونه ګورو.

۲- له نشتوالي څخه شتوالي ته څه شی نه تېرېږي.

یا په بله وینا له نشت څخه څه شی نه پیداکېږي.

د اپیکور په نظر د سړي د ذهن، روان او فکر (mind) مسول د هغه د بدن غړي (brain) دي. طبیعتاً دا یوه مادي خبره ده او د اتومي نظریې له مخې چې ضرور مرګ او له منځه تګ هم لري، د توجیه وړ ده.

اپیکور د پېژندنې په پوهه کې پر تجربې ډېره ډډه لګوله او پر هر څه به یې ډېر شک نه کاوه. هغه په دې نظر و چې مــوږ ټــول اطلاعــات او معلومات د خپلو حواسو په واسطه ترلاسه کوو او که په سمه توګه ترې ګټه واخیستل شي، نو زموږ حسي غړي د باور وړ دي. د هغه پــه نظــر

زمونږ ذهن په داسې حال کې چې مادي جوړښت لري، د استدلال او پایلې لپاره هم اصول او زمینې یا امکانات لري چې دا په خپله د تکرار شویو تجربو پایلې ګڼل کېږي.

اپیکور د شکپالنې پر وړاندې داسې دلایل وړاندې کول:

- که له هغو کسانو څخه چې په دې نظر دي چې نه شو کولای هېڅ شی وپېژنو، پوښتنه وکړو چې ایا هغه پر دې پوهېږي چې نه شو کولای هېڅ شی وپېژنو؟ هغه به په ځواب کې له لوی تناقص سره مخامخ شي، ځکه چې د منفي ځواب له مخې روښانه ده چې خپل لومړی باور یې نقص کړی دی او که چېرې یې ځواب مثبت وي، پر دې ټکي اعتراف کوي چې ددې پوښتنې پر ځواب پوهېږي او پوه شوی، چې بیا هم د هغې خبرې نقض دی چې وایي نه شو کولای هېڅ شی وپېژنو.
- که یو شکپالی شخص ووایي یو شی نه شي کېدلای وپېژندل شي یا نه شي کېدی یو واقعیت تشخیص شي. پر دوی باندې کولای شو اعتراض وکړو، د بېلابېلو مفاهیمو لکه پوهې، واقعیت او نورو په باب یې اطلاعات او یا معلومات څنګه ترلاسه کړي دي؟ که چېرې پر حوادثو باندې په بشپړ ډول ناباوره یو، نو د هغو مفاهیمو پر کارولو هم نه بریالي کېږو چې ددې حوادثو په واسطه مو ترلاسه کړي دي.

اپیکور خپله فلسفه په څلورو جملو کې را لنډوي او هغه د څلورګونو ښودنو په نامه نوموي:

- له خدایانو باید ونه ډار شو.

- نه شو کولای چې مرګ حس کړو.
- کوم څه چې ښه دي کولای شو ترلاسه یې کړو.
- کوم څه چې زمونږ د وېرې سبب ګرځي کولای شو لــه مخې یې لرې کړو.

اپیکوریانو د واقعیتونو خلاف سیاست او ټولنې ته ډېر اهمیــت نــه ورکاوه. (له جنجاله لرې ژوند) د اپیکور شعار و.

تر اپیکور وروسته اپیکوریانو بیا یوازې نفساني لذت ته پاملرنه وکړه. ((دمګړۍ غنیمت دی)) د هغوی د یوه شعار بڼه خپله کړې وه. زمونږ په زمانه کې هم هغو اشخاصو ته چې ((دمګړۍ غنیمت)) ګڼي (اپیکوریان) وایي.

# نوي افلاتونيان

په مخکنيو بحثونو کې يادونه وشوه چــې د رواقيونــو، کلبيــانو او اپيکوريانو دربواړو ليدلوري د سقراط د نظرياتو پر بنسټ ولاړ وو، او ان د (دموکرتيوس) او (هراکلتيوس) نظرياتو او ليــدلورو تــه يــې هــم ســر ورښکاره کړی و او څه ناڅه اړيکي يې ورسره لرل، خو په دې بهير کــې بيا تر ټولو مهم يو بل فلسفي بهير راوټوکېد چې د (افلاتون) ليــدلوری يې پاله، نو ځکه خو دې فلسفي بهير ته (نوی افلاتوني) بهير وايي.

فلوتين (plotin) (۲۰۵– ۲۷۰م) د نوي افلاتوني بهير تر ټولــو مهــم فيلسوف دی. هغه په (سکندريه) ښار کې چې پرله پسې پېړۍ د يوناني فلسفې او ختيز عرفان د يوځای کېدو او ټکرونو ځای و، خپلې فلسفي زده کړې پيل کړې او بيا روم ته لاړ. ده روم ته خپل ليدلوری يووړ او له هغه څه سره چې نن ورځ يې مسيحيت ګڼي هغه ته د يوه جدي سيال په توګه تبديل شو. البته (نوي افلاتوني) ليد لوري پر مسيحيت زيــاتې اغېزې پرې ايښې دي.

نوې افلاتوني فلسفه له دې سره سره چې لرغونې فلســفې ســره بنسټيز اختلافات لري، له هغې سره يو څه ورتوالی هم لري. چې له هغې جملې څخه يې کولای شو ځينو ته په لاندې ډول نغوته وکــړو او هغــه دادي چې (فلوتين) خپله فلسفه په يوناني ژبه ليکي او د هغې د تشريح لپاره له يوناني اصطلاحاتو او مفاهيمو کار اخلي او د مسيحيت فلســفه

بیا په داسې حال کې چې له یوناني مفاهیمو څخه ګټه پورته کوي، نور مفاهیم هم رامنځته کوي چې له یوناني فلسفي مفاهیمو سره هېڅ ډول ورتوالی نه لري. سربېره پر دې د (فلوتین) فلسفه پر عقل او اســتدلال ولاړه ده، ژمنه، ایمان، جزمي معتقدات او تر عقل پورته شیان هغه تــه لاره نه پیداکوي. په داسې حال کې چې مسیحي فلسفه نه شي کولای له هغو څخه سترګې پټې کړي.

هغه مهال چې افلاتوني فلسفه د اکاډمۍ د پلویانو د کمزورۍ له امله له خپلې اصلي لارې واوښته او د هغې اصلي څېره لــه یــادونو ووتلــه، (فلوتین) د افلاتون د فلسفې د منځپانګې، مفاهیمو او مقولو په کارولو سره پر دې بریالی شو چې یاده فلسفه بېرته د خلکو په ذهنونــو کــې ژوندۍ کړي او هغه د نړۍ د یو ډېر پراخ، منظم، مهم او اغېزناک فکري نظام په توګه مطرح کړي، دې سره ټول نور ښوونځي څنډې ته کړي او لږ تر لږه (څلور سوه) کاله د علم او تمدن پر اسمان خپل سیوری وغوړوي. په دې ډول چې په لویدیځ کې پېړۍ پېړۍ او په ختیزه نړۍ کې تراوسه هم څوک نه شي کولای هغه د افلاتون له فلسفې څخه توپیر کړي.

د افلاتون د (مثل) نظریې د (ممثلې نــړۍ) او (محسوســاتو نــړۍ) ترمنځ پر توپیر باور درلود. دی د جسم او روح ترمنځ هم غوڅ توپیر ته قایل و. په دې مانا چې انسان دوه اړخیز شخصیت یا دوګونی جوړښت لري: جسم او روح.

د افلاتون په نظر جسم چې د انسان د وجود یوه برخه جوړوي، لــه خاورې څخه جوړ شوی دی. لکــه د هغــو شــیانو پــه شــان چــې پــه محسوساتو پورې اړه لري او د انسان د وجود بله برخه تلپاتې روح دی. په یونان کې دا لیدلوری تر افلاتون وړاندې هم ډېرو خلکو ته د منلو وړ و. (فلوتین) دې لیدلوري ته ورته نظر سره چې په اسیا کې دود و، پوره اشنایي درلودله.

(فلوتین) د نړۍ پر دوه قطبیتوب باور درلود. د هغه په نظر په یــوه خوا یا قطب کې یې خدایي نور واقع و چې ده هغه (احد) باله، البته په ځینو برخو کې یې په دې هکله د (خدای) له اصطلاح څخه هــم ګټــه پورته کوله. په بله خوا کې یې مطلقه تیاره خوره ده چې د (احد) وړانګې پرې نه لګېږي. د (فلوتین) په نظر په هغې تیاره کې څه نه شته، په هغه ځای کې یوازې د نور نشتوالی دی او بس. د (فلوتین) په نظر هغــه رڼــا چې له (احد) څخه پر تیارې لګېږي، هماغه روح دی، په داسې حال کې چې ماده یوه تیاره ده چې واقعي شتوالی نه لري. په طبیعت کــې هــر موجود د (احد) د وړانګې یو سرسري انعکاس دی.

(فلوتین) ادعا کوله چې د ژوند په اوږدو کې یې څو ځله دا احساس کړې ده چې روح یې له خدای سره ګــډ شــوی دی. دې لیــدلوري تــه معمولاً (عرفان) وایي.

# افکار او عرفان

عرفان د بشري معرفت یوه بڼه ده چې د دین، جادو، علم او فلسفې تر پیدایښت وروسته رامنځته شوی دی. په مخکنیو بحثونو کـې مـې یادونه وکړه چې دین د هغو خلکو د خبرتیاوو هماغه شکل دی چې په ځمځو او ځنګلونو کې به اوسېدل، دې شکل بیا د شیانو لـه ځـواکمن عبادته رانیولې ان د ارواوو تر عبادت پورې مسایل بیانول.

په دې معرفت کې اصلي ټکی ایمان؛ له کوم دلیل پرته عبادت او د سبب لټون و. خو فلسفه یې د بشر د پوهې یوه بڼه ده چـې د منطـق، شیانو او پدیدو د عواملو د لټون پر بنسټ ولاړه ده. معرفـت د همـدې تګلوري د څرنګوالي پړاوونه وهلي دي.

عرفان له خپل پانته ییزم (وحدت الوجود) سره د بشر د معرفت یوه بڼه ده، چې د دین او فلسفې ترمنځ واقع دی.

په عرفان کې حقیقت ته رسېدل، د حق ذات ته د رسېدو په مانا دی. دا رسېدنه د استدلال له لارې (چې علم او فلسفې پورې اړه لري) نـه، بلکې له شریعت څخه تر تېرېدو وروسته د شهود او پلټنې (طریقت) له لارې او په وروستي پړاو کې د حق ذات سره د یو ځای کېـدو لـه لارې بشپړېږي.

په څرګند ډول ویلای شو چې عرفان د نړۍ په ټولو لویو ادیانو کې په بېلابېلو کچو موجود و. کوم څه چې عارفانو د عرفان په باب لیکلي دي، له موجودو فرهنګي اختلافاتو سره سره یـو بـل سـره ورتـوالی هـم څرګندوي. کله چې یو عارف هڅه کوي خپل عرفان د دین له لارې پـه یوې ځانګړې فلسفې سره څرګند کړي. د عرفان فرهنګي زمینـه پـه ګوته کېږي. البته عرفان په خپل سر نه رامنځته کېږي. معمولاً عرفـان باید یو پر بل پسې د خپلې تذکیې پړاوونه ووهي چې په دې بریالی شي، خدای(ج) ته ورسېږي.

د تذکیې دا پړاوونه د ژوند اندود هم رانغاړي او هم فکري اړخ پورې اړه پیدا کوي. عارف ددې پړاوونو تر تېرولو وروسته یو ناڅاپه خپل هدف ترلاسه کوي او فریاد کوي چې ((زه خدای یم)) یا ((زه ته یم)).

د خدای پېژندنې لپاره تر ځان پېژندنې پرته بله لار نه شته (بایزیـد بسطامي) وایي عرفان په اصل کې له خدای سره د یووالي او پیوستون په مانا دی. په ډېرو ادیانو کې دې موضوع ته نغوته شوې ده، چې د خالق او د هغه د مخلوق ترمنځ یو پیوند شته، خو عارف ته دا پیوند څرګند نه دی. د عارف نقش د لوړو صعودي پړاوونو تر بشپړاوي وروسته له خدای سره وصلېږي. کوم څه چې په عرفان کې مطرح دي، په ټوله کې په دې بڼه د بیان وړ دي، هغه څه چې د (زه) په نامه يادېږي زما (اصلي زه) نه دی. موږ په دې یوه ډېره لنډه شېبه کې کولای شو له بل لوی (زه) سره یوځای شو. ځینې عارفان بیا دغه لوی (زه) خدای ګڼي او ځینې نور بیا (یوازینی نور)، (د هستۍ مبدا) یا (مطلق وجود) خدای ګڼي. لکه د اوبو

د څاڅکي په شان کله چې په دریاب کې ولوېږي، له هغه سره یوځــای شي او په هغه کې ورک شي.

یو هندي عارف په دې باب داسې ویلي دي: ((کله چې زه ومــه نــو خدای نه و، اوس چې خدای شته نو زه نه یم.))

هغه عرفان چې په یهودي، مسیحي او اسلامي ادیانو کې ریښه لري، په هغه کې عارف ادعا کوي چې خدای یې لیدلی دی. سره له دې چــې خدای په هر ځای او د انسان په روح کې موجود دی، خو تر دې نړۍ په پورته موجوداتو کې هم حاضر دی.

د ختیزې اسیا یانې د (بودایي ائین، هندي ائین او چیني مذاهبو) په عرفان کې بیا عارف ادعا کوي چې له خدای سره یوځــای شــوی دی. همدا حالت دی چې عارف ادعا کوي چې ((زه خدای یم)). ځکــه چــې ددې مذهبونو له مخې خدای د انسان په وجود کې دی، نه له هغه څخه بهر.

تر (افلاتون) څو پېړۍ وړاندې په تېره بیا په هندوستان کې عرفــان موجود و. (سوامي ویو کاناندا) چې په لویدیځ کې د هندو ائین مبلغ و، داسې ویلي دي: (( لکه څنگه چې په ځینو مذهبونو کې هغــه څــوک مشرک گڼل کېږي چې د انسان له وجوده بهر پر خدای عقیده نه لري. موږ هم هغه څوک مشرک گڼو چې پر خپل ځان ایمان نه لري، موږ تــه هم پر هغه روح چې زموږ په داخل کې دی، عقیده نه لرل شرک گڼــل کېږي.))

هغه لاره، طریقه او پېژندنه چې د زړه د پاکوالي، تذکیې او علم ته د تسلیمۍ له لارې حاصلېږي، هغه ته معرفت وایي. تر ټولو مناسبه کلمه چې د تصوف ځانګړنه بیانوي، هغه عرفان دی چې له معرفت (پېژندنې) څخه مشتق شوې ده. معرفت د پېژندنې د یوې پوړۍ د حاصلولو مانـا ورکوي، په دې مانا چې تر څېړنې او پلټنې لاندې موضوع یانې د انسان پېژندنې یوه خوا هم پټه او ناپېژانده پاتې نه شي او په پای کې د خپـل ځان د پېژندنې ترڅنګ خپل پنځوونکي وپېژني، د مکان علم ترلاسه او د ژوند پر اسرارو پوه شي. د عرفاني ښوونځي ښوونکي ته (عارف) ویل کېږي. عارف د خپل وجود رښتینولي د خپل پنځوونکي په ذات کــې د ورډوبېدو او د ژوندانه د حقیقت په ثبات کې پلټي. پــه واقعیــت کــې عرفان د ښوونې او رزونې یو نظام او یو سیستم دی چې د خپــل ځــان پېژندنه د خپل سفر د مسیر په توګه ټاکي. دا داسې یو ســفر دی چــې انسان د خپل شتوالي ثابت واقعیت او په پای کې د خپل معبود واقعیت پلټنې ته بیایي.

عرفان خپل سالک (د عرفان زده کوونکي) ته څلور سفره ټاکي:

۱- له پنځول شوي څخه پنځوونکي ته سفر (له خلق شــوي څخــه خالق ته سفر)

۲- په خپله پنځوونکي (خالق) کې سفر.

۳- له خالق څخه مخلوق ته سفر، خو له خپل خالق سره. په داسې حال کې چې له خدای سره دی، دی د مخلوق پر لوري بېرته راګرځي.

۴- له حق سره د خلکو په منځ کې سفر او کتنه.

د عرفان لپاره شاید تر ټولو غوره تعریف دا وي چې ووایو: (( عرفان د ځان پېژندنې یو ښوونځی دی)) یا (د فرد د ذاتي حقیقت پلټنه). عرفان خپلو زده کوونکو او سالکانو ته دا ورښیي چې په څه ډول د انسان ناپېژندل شوي استعدادونه او وړتیاوې وپلټي او دا کار ددې سبب ګرځي چې انسان له فرضي تعلقاتو او بندیزونو څخه ازاد او په خپل ځان کې د روحي او نرم سفر او کتنې د ترسره کولو جوګه شي.

# منځنۍ پېړۍ او فلسفه

منځنۍ پېړۍ د هغې دورې نوم دی چې د تاریخ او فلسفې د تاریخ د ډلبندۍ لپاره ترې ګټه پورته کېږي. منځنۍ پېړۍ معمولاً په پنځمه میلادي پېړۍ کې د (روم) د امپراتورۍ له وروستیو بیا د (قسطنطینې) تر ړنګېدو او پر (۱۴۵۳م) کال د ختیځ روم یا(بیزانس) امپراتورۍ تر وروستیو پورې مهال ته ویل کېږي.

د منځنیو پېړیو په بهیر کې په فیوډالي ټولنه کې، اروپا د فلسفې، (نومینالیزم) او (ریالیزم) د فکري لیدلورو ترمنځ د جګړې ډګر و چې په واقعیت کې د (ماتریالیزم) او (ایډیالیزم) بېلابېلې بڼې ګڼل کېږي. په هغه دوره کې د منځنیو پېړیو (سکولاستیک) فلسفه راوټوکېده او ددې ترڅنګ د کلیسا په زور واکمنو مذهبي عقایدو او (انګیزسیونو) یا (د عقایدو د څار جوړښت) د فلسفي افکارو د ټوکېدو او پراخېدو مخه ډب کړې وه. په هغه زمانه کې د فلسفې اساسي بحث یوازې پر تولیزو او عامو مفاهیمو راڅرخېده. ځینو به ویل، دا مفاهیم او ویناوې په عقلي

نړۍ کې ((واقعیت لري)) یانې پرته له دې چې ملموسه او محسوسه نړۍ په پام کې ونیسو، دا واقعیت په خپل سر موجود دی. له همـدې کبلـه (ریالست) یانې واقعیت پلوي ګڼل کېدل. ځینې نور بیا په دې نظـر وو چې دا مفاهیم د محسوساتو په نړۍ کې واقعیت لري او یوازې له نومونو پرته نور څه نه دي، ځکه یې نو هغو ته د (نومینالیست) یا (نوم پلوو) نوم غوره کړ. ریالیستان د ایډیالیزم استازي وو ځکه چې ټولنیزو او عـامو مفاهیمو یانې هغو شیانو ته چې د بشري ذهن محصول دي او په بهرنۍ نړۍ کې موجود نه دي د واقعیت او اصل په توګه قایل وو. د ساري پـه توګه (ونه) چې په مشخص او څرګند ډول وجود لري ایا هغـه ونـه ده. (ونه په ټولیز ډول) په عیني نړۍ کې موجوده نه ده. د (ونې) ټـولیز او عام مفهوم د یوه تجرید شوي مفهوم په توګه د بشر د فکر زېږنده ده. که څوک هغه واقعي وګڼي، نو د (ایډیالیزم) مفکوره یې خپله کـړې ده. د نومپالو دویمه ډله د منځنیو پېړیو پر هغه مهـال پـه واقعیـت کـې (د ماتریالیزم) استازي وو، ځکه چـې دوی شـیانو، ((ځـانګړو او جزیـي مفاهیمو)) ته د واقعیت په سترګه کتل او ویل به یې چې ټولیز مفاهیم له اورېدو څخه ترلاسه کېږي او خپلواک وجود نه لري.

منځنۍ پېړۍ په حقیقت کې هغه زمانه ده چې د هغو په بهیر کې د لویدیځ هویت په هغه مانا چې نن یې موږ پېژنو، بڼـه غـوره کـړه. دا د لویدیځ د تفکر هغه وختونه دي چې په هغو کې مفکرو اشخاصو د دین، طبیعت، تر طبیعت پورته، انسان او ټولنې په بـاب خپـل خپـل افکـار

څرګند کړل. مورخانو دا تاریخي دوره د یونــاني- رومــي دورې، چــې پخوانۍ دوره ګڼل شوې او د نوې دورې ترمنځ یوه دوره ګڼلې ده. ځکه خو نورې دورې ته منځنۍ پېړۍ ویل کېږي. پیل یې پنځه میلادي پېړۍ ګڼي چې د (جرمنیانو) په لاس د لویدیځ روم امپراتوري ړنګه شــوه او پای یې بیا د رنسانس راټوکېدل او په شپاړسمه پېړۍ کې د نوې دورې پیل ګڼي.

تر میلاد (۱۰۰) کاله وړاندې په لویدیځ تفکر کې د یونانیــانو اصــلي نقش له هر پلوه پایته رسېدلی و. فلسفې او هنر تر علم (دوه سوه) کاله وړاندې له اتن سره یوځای نزول کړی و، خو علم لا هم په سکندریه کې ځانګړې پرمختګونه کړي وو. ان تر دې ځایه چې ټولو فکري بهیرونو له هره پلوه ډېرې زیاتې پرمختیاوې کړې وې او نور نو نویو فکرونو ته کوم ځای پاتې نه و او هر علم ته به دې چې کتل د اوسنیو فکــري لارو لــه پراختیا پرته د بشر له لاسه نور څه نه شول کېدلای. ســتورپوهانو لــه کتنې پرته بل کار نه شو ترسره کولای. لمر پوهانو یا رڼاپوهانو سره لاهم یوازې د خپلې زمانې هماغه وسایل وو چې (کیمیاوي) یې بلل، په سرو زرو د ځینو فلزاتو بدلول او یا هم د ځینو درملو جوړول وو. له بلې خوا اتومي ښوونځي، کیمیا او فزیک ته نه پاملرنې دوی له پرمختګ څخــه شاته پاتې کړي وو.

په داسې حال کې چې د یوناني علم د زوال اصلي عوامـل داخلـي عوامل وو. خو درې باندني لاملونه هم ډېر موثر وو. دا لاملونـه پـه دې ډول وو:

۱- د روم امپراتوري

۲- د منځنیو پېړیو مسیحیت

۳- د کلیسایي واکمنو د حکومت ائین

که څه هم دې لاملونو د ناروغۍ په زېږونې کې کوم نقش نه درلود، خو هغه یې ډېره سخته او درملنه یې ورته ناشونې کړه.

# د روم امپراتوري

رومیانو سیاسي ازادي له منځه یوړه او د مدیترانې په حوزه کې یې قومي پراختیا غوښتنه پایته ورسوله. پرته له دې چې پر یوناني تمــدن باندې یو محاسبه شوی یرغل ترسره کړي، په نامستقیم ډول یې پر هغه باندې نه رغېدونکي ګوزارونه وکړل، د مدیترانې د سمندرګي په حوزه کې یې اوسېدونکي قومونه له پښې وتړل او هېڅ یو هم هغه پاملرنه چې یونانیانو د منځني ختیځ علم ته لرله، دوی هغه د (سکندریې) پوهې ته څرګنده نه کړه. رومیان یوازې پرحکومتي چارو او د نورو  هېوادونو پــر ایل کولو بوخت وو، علم او پوهې ته یې دېره کمه پاملرنه هم نه کوله.

مسیحي تفکر هم د رومیانو د چلند په کچه پر علم ناوړه اغېزه وکړه په مسیحي تفکر کې د بشر د ژوند موخه یوازې پر اخــرت بانــدې پــر پانګونې راټولېده. د رحمت ژمنه چې تر ټولو ستره اشاره ګڼل کېدلــه، یوازې هغه کسان یې وړ او مستحق ګڼل کېدل چې لــه کــوم دلیــل او منطق پرته یې ایمان راوړ. پر معرفت برید، پر مذهبي استازو او څارونکو برید ګڼل کېده، همدا مهال په یوه کتابګوټي کې پــر مــذهبي اســتازو

نامستقیم خو یو ډېر ځیرکانه برید وشو. ((ځکه نو هېڅــوک بایــد پــر انسان ونه ویاړي)) دې ډول څرګندونو انسانپالنه چې د علم او هنــر د پرمختګ بنسټ دی، مردوده کړه. د یوناني علم پراختیا د دوو بشــپړو مخالفو لوریو ترمنځ کشمکش کې راجوتېږي. لــومړی پــه (اتــن) کــې دودیزه طریقه وه چې د فلسفي طریقې په نامه یادېدله او د ریاضي لــه بریالیتوب څخه یې الهام اخیسته، د هغو تولیزو اصولو له مخې چې پر اخلاقي بنسټونو ولاړ وو، د معرفت نتیجه یې راایستله. دویمه طریقــه چې یو څه ځواکمنه وه او په (سکندریه) کې یې  اعتبار هم درلود، هغه (استقرایي) طریقه وه چې هغې کې بیا تولیز اصول له کتنې یا مشاهدې څخه ترلاسه کېدل او وروسته بیا د قضیو د سریزو په توګــه کارېــدل. ددغو دوو طریقو ترمنځ له اختلافاتو سره سره د ددې طریقو پلویــانو د عقایدو په اصولو کې ګډ نظر درلود او د انسان د تشخیص ځواک او عقل یې نه ردول، خو مسیحي وحې ښوونه یې د عقل له مخې ترسره کوله.

# د کلیسا د اربابانو حکومت

د مسیحیانو داخلي یووالی یا هغه ډول چلند چې دوی د نورو مذهبونو پر وړاندې کاراوه او له اسانۍ او نرمښت سره مل نه و، په همدې ډول پراختیا وموندله او لاپسې ټینګ شو. مخکې تر دې چې مسیحیان خپله مذهبي ښوونه پیل کړي. د روم په امپراتورۍ کې په شرک ککړ مذهبونه له خپلو مذهبي خپلواکیو برخمن وو. هغوی یو د بل ترڅنګ په ازادانه ډول ژوند کاوه، پر ته له دې چې د یو بل په چارو کې لاسوهنه وکړي او یا یو پر بل بدګومانه شي، خو مسیحي ائین نور مذاهب باطل ګڼل او په دې نظر و چې د هغو مذهبونو مومنان باید مسیحي ائین ومني. سره له دې چې د روم د امپراتورۍ په داخل کې ټول مذهبونه له خپلو ازادیو برخمن وو، خو دا کار بیا له امپراتور سره د ژمنتیا یا وفادارۍ په اعلان پورې تړلی و. څرنګه چې مسیحیانو له دې کار څخه سرغړونه کوله، نو ځکه یې د امپراتور غوسه راوپاروله او حکومت ډول ډول هڅې کولې چې هغوی سره وځپي، خو حکومت ډېر ژر پر دې پوه شو چې ان د پوځ په داخل کې هم، چې امپراتوري پرې ډډه لګوله، نه شي کولای، د مسیحیت د پراختیا مخه ونیسي.

له همدې کبله (لوی قسطنطين) د قدرت پر سر خپلو مدعيانو تــه، (مسيحيان) د يوه درز په توګه ښکاره کړل، ځکه چې هغه فکــر کــاوه مسيحيان کولای شي حالات دده پر ګټه راوګرځوي. ده خپله پلازمېنه د (قسطنطينې) په نامه ياده کړه او مسيحيت يې د روم د امپراتورۍ د رسمي دين په توګه اعلان کړ.

دې پېښو يو نوی واک چې همغه د کليسا د اربابــانو حکومــت و، د خلکو پر ژوند واکمن کړ. واکمنو کليساوو، خپل (کشيشان) له داســې مدني واک و ځواک څخه برخمن کړل او د قــدرت، شــهرت او ثــروت داسې امکانات يې ورته برابر کړل چې د تېرو خپلواکو کليساوو په تاريخ کې يې ډېره کمه بېلګه ليدل شوې ده.

د پوځي او اداري پوستونو خلاف لوړو کليسايي منصبونو ته په ټوليز ډول د ټولنې د ټيټې طبقې د خلکو رسېدل شوني نه وو. د پيسه دوستو او بداخلاقو کشيشانو ترمنځ د واک پر سر ناولې جګړه ونښــته، ان تــر هغه ځايه چې هغوی د خپلو سيالانو د ځپنې لپاره د کليســا عوايــد د خپلو ډلو ټپلو او لنډغرو د ګومارنې لپاره لګــول. د کليســا اربابــانو د حکومت سياسي ځواکونو د علمي او دنيايي فلسفې په نړولو کې ډېــر اغېز درلود. کشيشان که څه هم د کليسايي منصبونو د نيولو لپاره پــه خپل منځ کې سره جنګېدل، خو په يو شي کې ټول سره يوه خوله وو او هغه له خپلواک فکر څخه بېزاري وه. هغوی د خلکو افکارو ته کتل او د هغوی څار يې کاوه. له همدې امله د کليسا مشران پر دې بريالي شول چې امپراتوران اړ کړي د اخرت د نېکمرغۍ د ترلاسه کولو لپاره يوناني علــم (د شــيطاني ښــوونځي د مرســتيال) پــه توګــه معرفــي کــړي.

(قسطنطین) له همدې کبله اړ شو د نامتو فیلسوف (سوپاتور) د وژنــې فرمان صادر کړي. د عوامو په نظر پر (سوپاتور) باندې لګېــدلی تــور د ملنډېو وړ و، خو عوامو کوم زور وځواک نه درلود. د دولت واک د کلیسا په منګولو کې داسې بند و چې امپراتوران د مدني امنیت د ترلاسه کولو لپاره هم ناچاره وو، د کلیسا فرمانونه ومني او تعقیب یې کړي. همغــه مهال د سکندریې د کتابتون ډېر میراثونه د هغه وخت د لــوی مفتــي (تنوفلوس) په لارښوونه له منځه لاړل.

دا کړنه او د (هیپاتیا) وژنه چې د (سوپاتور) د سنتونو وروستی پاتې شونی ګڼل کېده، د سکندریې د علم پر بــې روحــه وجــود وروســتي ځپونکي ګوزارونه وو.

# د منځنیو پېړیو فلسفیان
# سنت اګوستین

اګوستین) د منځنیو پېړیو لومړنی فیلسوف دی. د افریقا په شمال



(ننني الجزایر) کې یې نړۍ ته سترګې وغړولې. په شپاړس کلنۍ کې (کارتاژ) ته د زده کړو لپاره لاړ او څه موده یې په (روم) او (میلان) کې هم ژوند وکړ او د عمر په وروستیو کلونو کې د (سقف) مذهبي پوړیو ته ورسېد. هغه ټول عمر مسیحي نه و، د هغه وخت د نړۍ موجود فلسفي او مذهبي بهیرونه یې تجربه کول. (اګوستین) په پیل کې د (مانویت) د ائین پلوی و. دې ائین نیمه فلسفي او نیمه مذهبي ښوونې درلودلې. (مانویانو) نړۍ پر رڼا او تورتم، ښه او بد، روح او مادې باندې وېشله. د هغوی په فکر انسان کولای شي، د خپل روح په ځواک سره له مادي نړۍ څخه پورته لاړ شي او د خپل روح د ژغورنې لپاره زمینه برابره کړي. خو په (مانویت) ائین کې د تور او

سپین، خیر او شر ترمنځ غوڅ بېلتون او جزم پالنه پر دې برېالي نه شول چې د هغه د ذهن د ارامتیا سبب شي. په پایله کې هغه د ورکړل شویو شیانو د سرچینې په لټه کې شو چې پر دې پوه شي شر څنګه رامنځته کېږي. (اګوستین) په دې نظر و چې خدای نړۍ له هېڅ نه پیداکړې ده. د هغه دې اعتقاد له (انجیل) څخه الهام اخیسته. هغه به ویـل چــې د دیني مسایلو د عقلي شننې لپاره یو برید او پوله شته، په هرحــال پــه مسیحي دین کې هم الهي رمز او راز موجود دی چې یوازې د ایمان لــه لارې د درک وړ دی. هغه د انسان په چلند کې خپلواکي مردوده نه ګڼله د((الهي مدینې)) په نامه په خپل کتاب کې لیکي: ((هغه څه چــې پــه تاریخ کې تېرېږي د الهي مدینې یا د خدای د واکمنــۍ او ددې نــړۍ د حاکمیت ترمنځ جګړه ده. دوی یو بل سره د واک د نیولو لپاره پر جګړه اخته دي.)) هغه په دې ډول د لومړي ځل لپاره تاریخ خپلې فلسفې ته داخل کړ او هڅه یې وکړه د (افلاتون) د فلسفې ښودنه په داســې ډول مطرح کړي چې د مسیحیت له لیدلورو سره تضاد ونه لري.

د فکر، نظر یا عقیدې تر بدلون وړاندې د (اګوستین) فکري زمینــه (نوې افلاتوني فلسفه) ده. دغه راز همدا فلســفه وه چــې دی یــې دې بدلون ته تیار کړ. هغه ان د خپلې ګروهې تــر بــدلون وروســته د یــوه افلاتوني په توګه پاتې شو او د اساسي مســایلو د حــل لپــاره یــې لــه افلاتوني مفاهیمو څخه ګټه پورته کوله، خو دا ډول تبیعت یوازې د یوه ساده او نا ازمویل شوي منښت زېږنده نه دی. د مسیحي تفکر د اړتیاوو په حدودو کې د افلاتوني ښوونځي تفسیر او شننې هم رانغاړي.

له مسیحیت سره د لرغوني تفکر په غاړه غړۍ کولو کې (اګوستین) تر (توماس اکویناس) وړاندې ځي، یوازې له هغه اړخــه چــې (تومــاس اکویناس) د دین لپاره د ارسطو تفکر د عقلاني بنسټ په توګه مطرح کړ، په داسې حال کې چې (اګوستین) همدا کار په افلاتوني اصولو ترســره کړ. د افلاتوني تفکر اساسي ټکی تر حس پورته نړۍ کې د نفس ګډون و.

(اګوستین) چې د خپلې فلسفې د جوړښت په بهیر کې یې د اکاډمۍ د غړو له شکپالنې سره ټکر کړی و، پر دې پوهېده چې د پېژنــدنې پــه مسله کې دوه ستونزې شته، یوه د پېژندنې د موضوع د وجود په بــاب چې دا حقیقت د اکاډمۍ د غړو له خوا ردېده او بله په خپله د پېژندنې د توکېدو د ځای په باب.


د لومړۍ پوښتنې په برخه کې (اګوستین) د شکپالنې پــر فلســفې بریالی شو او د پېژندنې د وجود (امکان) مسله یې په مشهور استدلال تصدیق کړه چې ((زه شک کوم، نو ځکه یم.)) د دویمې مسلې یــانې د پېژندنې د راټوکېدو د ځای په باب (اګوستین) د یو افلاتوني پــه توګــه حسي ادراک ناځیزه ګڼي، ځکه چې هغه د عقلي معرفــت بنســټ نــه رامنځته کوي.

له همدې کبله، دی په دې مهمه مسله کې اساساً لــه (ارســطو) او (اکویناس) سره اختلاف لري، ځکه نو باید وویل شــي چــې دا عقلــي

ادراک له کوم ځایه راپیداکېږي؟ د اشراق له لارې. لکــه ځنګــه چــې سترګې د محسوسو شیانو د لیدلو لپاره د لمر رڼا ته اړتیا لري، عقلــي ځواک هم الهي رڼا ته اړتیا لري چې معقول موجودات وپېژني.

# توماس اکویناس

د منځنیو پېړیو دویم او لوی فیلسوف (توماس اکویناس) دی. هغه په الهیاتو کې تخصص درلود. که څه هم دا مهال لا الهیات او نور ډېر علوم



له فلسفې څخه جلا شوي نه وو او د الهیـــاتو او فلســـفې ترمنځ ځانګړې کرښه او برید نـــه وو رامنځتـــه شـــوی. (اکویناس) د (ارسطو) افکار مسیحیت ته داخـــل کـــړل، لکه څنګه چې (اګوســـتین) دا کار د افلاتون په لیدلوري ترسره کړی و. ددې دواړو شخصیتونو موخه دا وه چې د یونان د سترو فلسفیانو نظرونه په داسې ډول تعبیر او تفسیر کړي چې د مسیحیت له لارښوونو سره تضاد پیدا نه کړي. (اکویناس) به ویل: ((د فلســـفې او د

مسیحیت د لاربښوونو ترمنځ ډېر زیات اختلاف نه شته او په ډېرو برخو کې فلسفه او دین دواړه یوه خبره کوي.))

ځکه نو موږ په خپل عقل او شعور همغو واقعیتونو ته رسېږو چې په (انجیل) کې راغلي دي. که چېرې ارسطو یو ټکي ته نغوته کړې وي او موږ د خپل عقل په واسطه هغه سم وبولو، هغه ټکی نه شي کولای د مسیحیت له ښوونو سره په تضاد کې واقع شي. (توماس) به ویل: څرنګه چې موږ د عقل په واسطه کولای شو پر دې پوه شو چې هر شی یوې ریښې یا منشا ته اړتیا لري، ځکه نو د ارسطو د فلسفې له لارې کولای شو د خدای شتوالی ثابت کړو. د (توماس اکویناس) له مرګه لا څو کاله نه وو تېر شوي چې په مسیحي فرهنګ کې درز رامنځته شو. فلسفې او علومو ورو ورو ځان د کلیسا له واکمنۍ څخه راوویست او دا موضوع ددې سبب شوه چې دین ته هم له عقلاني لیدلوري وکتل شي. د دین او علم ترمنځ د دېوال ړنګېدل ددې سبب شول چې د دین په باب هم تازه صمیمیت راوټوکېږي او ان تر دې چې په پای کې د پنځه لسمې او شپاړسمې میلادي پېړیو په بهیر کې موږ د رنسانس او سمونپالو دوو مهمو بدلونونو شاهدان یو.

تر مسیحي میلاد وړاندې په څلورمه پېړۍ کې (مقدوني سکندر) ظاهراً د یوناني فرهنګ د پراختیا په خیال د هغه مهال متمدنو سیمو ته

لښکر کشي وکړه، د سکندر جنجالونه د نورو فاتحینو خــلاف یــوازې سیاسي پایله نه لرله، بلکې د لویدیځې نیمې وچې په فرهنــګ کــې د یوناني دوله عصر په نامه د یو تازه عصر د ټوکېدو سبب هــم شــول. د قومي او ملي پولو د ړنګېدو او د واحد یوناني حکومت د جوړېدو له امله په نیول شویو سیمو کې یوناني عقلانیت د ځان څرګندولو لپــاره ښــه فرصت پیدا کړ. له بلې خوا ختیزو ادیانو ددې عقلانیت په اړه او د هغې هېوادنۍ نړۍ په باب چې دې امپراتورۍ د واحدې یوناني ژبې په واسطه رامنځته کړې وه، هغه مهال ښه پراختیا موندله، یونــاني او تــر هغــه وروسته یې رومي دینپالنې ته شرقي رنګ ورکړ. په دې ډول نو ځینــو یوناني فلسفي بهیرونو دیني بڼه غوره کړه او یوناني او رومي ادیانو هم د ختیزو ادیانو روحانیت او له اسرارو ډک عرفاني تمایلات راخپل کړل.

د څوارلسمې میلادي پېړۍ په وروستیو کې، روم خپل سیاسي واک عملاً له لاسه ورکړی و، خو ډېر وخت لا نه و تېر شوی چــې ددې ښــار مذهبي مفتي د (رومي کاتولیک کلیسا) مشري خپله کړه، هغه ته یې د پاپ (پلار) لقب ورکړ. په پای کې هغه د ځمکې پرمخ د عیسی استازی وګڼل شو. له همدې امله د منځنیو پېړیو پــه ټولــه دوره کــې، (روم) د کلیسا مرکز او د مسیحیت پلازمېنه ګڼــل کېــده. تــر دې وختــه بیــا راوروسته نو ډېرو کمو خلکو جرئت کاوه چې د روم د نظر خلاف حرکت

وکړي. ورو ورو سیمه ییزو ځواکونو خپل سیاسي او پوځي اغېز زیات کړ، پاچایان او والیان پر دې بریالي شول چې ملي حکومتونه رامنځته کړي. د هغوی واک دې برید ته ورسېد چې په یوازې ځان یې کولای شــول د کلیسا پر وړاندې سر پورته کړي چې له دې جملې څخه یــو یــې هــم (اسوري) نومېده او د (ناروې) پاچا و.

په مخنیو بحثونو کې مو یادونه کړې وه چې منځنۍ پېړۍ داسې یوه زمانه ده چې په هغې کې لویدیځ تفکر خپله بڼه جوړه کړه. د منځنیــو پېړیو فکر په اساسي ډول دیني فکر دی.

د دین د پراختیا څرنګوالی او د هغه ملاتړ پــه هغــو پېړیــو کــې د لویدیځو مفکرانو ګرمې بوختیاوې وې. په منځنیو پېړیــو کــې دیــن د مسیحیت (پولوسي) انګېرنه او تفسیر وو. (پولوس) یو یوناني ډوله یهود و. په لومړیو میلادي پېړیو کې د هغه د خبرو له مخې د یوناني ډوله فکر او ادیانو په چوکاټ کې د عیسی(ع) اعمال په نوې بڼه تفسیر شــول. د مسیحیت دې ډول تفسیر، د لویدیځ دیني نړۍ پېژندنه رامنځته کړه او دین پر دې لویه وچه واکمن شو.

د روم امپراتوري ورو ورو پر دریو فرهنګي حوزو ووېشل شــوه: پــه لویدیزه اروپا کې مسیحي او لاتیني ژبې کلتور رامنځته شو چې د روم ښار یې پلازمېنه وه. ختیزه اروپا له مسیحي او یوناني ژبې کلتور څخــه

برخمنـــه وه، ددې فرهنګـــي حـــوزې پلازمېنـــه (قســـطنطینه) وه، د قسطنطینې بل نوم (بیزانس) و چې یوه یوناني کلمه ده. له همدې کبله ګورو چې پر دې مهال د دوو منځنیو پېړیو یـــوه (د بېزانســـي منځنـــۍ پېړۍ) او بله (د رومي کاتولیک منځنۍ پېړۍ) یادونه کېږي چې په دې توګه دا دواړه فرهنګي حوزې یوه له بلې جلا شي. خو د افریقا شمال او نږدې ختیځ هم په روم امپراتورۍ پورې تړلي وو، دا ځمکې په منځنیو پېړیو کې پر اسلامي او عربي ژبو فرهنګي حوزو بـــدلې شـــوې دي. تـــر منځني ختیځ وروسته، د نږدې ختیځ ځینې برخې او د افریقا شمال د اسلام تر واکمنۍ لاندې راغلل. څـــه مـــوده وروســـته (اســـپانیا) هـــم د مسلمانانو تر واک لاندې راغله. (مکه، مدینـــه، اورشـــیلم او بغـــداد) د مسلمانانو سپېڅلي ښارونه ګڼل کېدل. د فرهنګي تاریخ له نظره بایـــد پوه شو چې د (هلني) کلتور د سترو مرکزونو له جملې څخه یـــو مهـــم مرکز یانې (سکندریه) هم د مسلمانانو تر واک لاندې راغی. په دې ډول نو مسلمانانو د یوناني علم یوه درنه برخه د میراث په توګه راخپله کړه، عربو د منځنیو پېړیو د تولې دورې پرمهال د علومو په بېلابېلو برخو کې له هغې جملې څخه په ریاضیاتو، کیمیا، نجوم او طـــب کـــې لـــومړۍ او وروستۍ خبره کوله. زموږ د عددونو لیکل هم له عربو څخه را اخیستل شوي دي. له همدې کبله دي چې یو ډول عدد لیکنه (د عربي ویســـي

عدد) په نامه يادوي. په دې ډول نو عربي كلتور په ځينو برخــو كــې د مسيحيت تر كلتوره وړاندې لاړ.

د منځنيو پېړيو فلسفيانو مسيحيت يو روښانه واقعيت ګاڼه، كومــه پوښتنه چې له هغوی سره مطرح كېدله، هغه دا وه چې ايا يوازې بايد پر مسيحيت ايمان ولرو او يا هم كولای شو د عقل له لارې هم د هغه پــر درک برياليي شو؟ د يونان د فلسفې او د (انجيل) د لارښــوونو تــرمنځ اړيكي څه دي؟ ايا د انجيل او عقل ترمنځ تضاد شته؟ يا كولای شــو د عقل او ايمان ترمنځ يووالی رامنځته كړو؟ د منځنيو پېړيــو د فلســفې پاملرنه تقريباً په بشپړ ډول د همدې پوښتنې پــر څېړنــې راټولــه وه. (اګوستين) دا په ډاګه كړه چې د ديني مسايلو د شننې لپاره يو بريد او پوله شته. په هر حال په مسيحيت كې هم الهي رمزونه او رازونه موجود دي چې يوازې د ايمان له لارې د پوهېدو وړ دي، خــو كــه چېــرې پــر مسيحيت ايمان ولرو، نو خدای به مو روح له ظلمه وژغوري او دا نو هغه مهال دی چې موږ به د خدای پر وړاندې خارق العاده درک ته رسېدلي يو. (اګوستين) په دې نظر و چې فلســفه نــه شــي كــولای ناپېژانــدو لايتنهاهي شيانو ته ورسېږي. پر مسيحيت باندې تر ګروهېدو وروسته د هغه روح ارام شو. هغه په دې باب داسې ليكلي دي: ((زما زړه تر هغه نا ارام دی تر څو چې په تا كې ارامتيا پيداكړي)) اوګوستين عقيده لرلــه

چې خدای نړۍ له هېڅ څخه پیداکړې ده. دا اعتقاد له انجیــل څخــه سرچینه اخلي خو یونانیانو زیاتره پر دې عقیده لرلــه چــې نــړۍ تــل موجوده وه. اوګوستین معتقد و چې د نړۍ تر پنځونې وړاندې د خدای په ذهن کې د هغې (مثل) موجود و. هغه (مثل) ته الهي بڼه ورکړه او په دې ډول یې له تلپاتې (مثل) څخه د افلاتوني تصور لپاره یوځای پیداکړ.

دی په دې نظر و چې د خدای او د ژوند د نړۍ ترمنځ ناپایه اړیکــې شته. هغه د مسیحیت د اعتقادي اصولو او د (فلوتین) د لارښوونو پــر بنسټ په دې نظر و چې ټول شیان بېرته خدای ته ګرځي. خو (اګوسین) دې ټکي ته هم نغوته کړې چې انسان یو مانیز موجود دی، مادي جسم لري چې په مادي جوړښت پورې اړه لري او فنا کېدونکی دی، خو انسان یو روح لري چې کولای شي خدای ته ځان ورسوي. د (اګوستین) په باور د انسان جسم تر مړینې وروسته د هغو ګناه ګانو له امله چې ده ترسره کړې دي، له منځه ځي، خو د خدای(ج) په غوښتنه ځینې انسانان لــه بشپړې نابودۍ څخه ژغورل کېږي.

(اګوستین) د لومړي ځل لپاره تاریخ خپلې فلسفې ته داخل کــړ. د (خیر) او (شر) ترمنځ پر جګړې باندې اعتقاد کوم نوی شی نه و، کوم څه چې نوي یا تازه ښکارېدل، پر دې ټکي د هغه اعتقاد و چې دا جګړه به د زمانې په بهیر کې سرته ورسېږي. د (اګوستین) په دې نظر کې ډېر کم

کولای شو افلاتوني اغېزې وګورو هغه په دې برخه کې معتقـد و چـې خدای ټول تاریخ ته اړتیا لري چې د خپلې ((الهـي مـدینې)) بنسـټ کېږدي. ځکه خو نو تاریخ له دې پلوه لازم و چې انسانان د هغه په اوږدو کې پرمختګ وکړي او شر او بدي له منځه یوسي.

که چېرې (اګوستین) د افلاتون لیدلوری مسیحیت ته ورداخل کړ، په مقابل کې بیا د منځنیو پېړیو ډېر لوی او مهـم فیلسـوف (تومـاس اکویناس) د ارسطو لیدلوری مسیحیت ته ورننویست. ده هڅه وکـړه د مسیحیت او فلسفې ترمنځ یووالی رامنځته کړي، دی پر دې بریالی شو چې د علم او ایمان ترمنځ پیوند ټینګ کړي. ده لـه (انجیـل) سـره د (ارسطو) فلسفه همغږې کړه.

(توماس) معتقد و چې ((د الهي– طبیعي واقعاتو)) یوه مجموعه هم موجوده ده چې د مسیحیت د لارښوونو د ذاتي یا (طبیعي) عقل دواړو په مرسته په یوه بڼه د درک وړ ده، ددې واقعیاتو له جملې څخـه یـوه داده. لکه خدای وجود لري. د خدای د وجود اثبات هم د ایمان او هم د دیني لارښوونو له لارې ډېر د ډاډ وړ دی. ځکه چې که یوازې له عقـل څخه کار واخلو، کېدی شي تېروتنه وکړو. دې سره سره (توماس) په دې نظر و چې د مسیحیت د لارښوونو او د ارسطو په شان د یوه فیلسوف د لیدلورو ترمنځ تضاد نه شته.

لنډه دا چې د يوناني فلسفې دريو څانګو: پـه لويـديځ کـې نـوې افلاتوني فلسفې، په ختيځ کې افلاتوني فلسفې، په سويل او د عربو په منځ کې ارسطويي فلسفې خپل ژوند ته دوام ورکړ. دا درې څـانګې د منځنيو پېړيو په وروستيو کې د (ايټاليا) په شمال کې يوه له بلې سـره يوځای شوې او يو ستر درياب يې رامنځته کړ. عربو په (اسـپانيا) کـې خپل کلتور پراخ کړ او يوناني کلتور هم په (يونـان) او (بيـزانس) کـې واکمن و. پر همدې مهال (رنسانس) پيل شو او د لرغوني کلتور (د نوې ټوکېدنې) عصر د اروپا څېره بدله کړه. په دې ډول کولای شو ووايـو د لرغونې دورې کلتور د منځنيو پېړيو په ټولې اوږدې دورې کې خپل ژوند ته دوام ورکړی دی.

موږ په مخنيو بحثونو کې وويل چې يوناني فلسفې په دريو څانګو: په لويديځ کې نوې افلاتونې فلسفې، په ختيځ کې افلاتوني فلسـفې، پـه سويل او د عربو په منځ کې ارسطويي فلسفې خپل ژوند ته ادامه ورکړه. دا درې واړه څانګې د منځنيو پېړيو په وروستيو کې د ايټاليا په شـمال کې سره يوځای شوې او يو ستر درياب يـې رامنځتـه کـړ، عربـو پـه (اسپانيا) کې خپل کلتور پراخ کړ او يونـاني کلتـور هـم پـه يونـان او (بيزانس) کې واکمن و. پر همدې وخت (رنسانس) پيل شو او د لرغوني کلتور د نوې ټوکېدنې عصر د اروپا بڼه بدله کړه. له رنسانس څخه موخه

د اروپا د کلتوري غوړېدنې د دورې (بیا راژوندي کــول) دي. چــې پــه څوارلسمه میلادي پېړۍ کې د ایتالیا په شمال کې پیل شوه او په ډېرې چټکۍ سره یې د اروپا شمالي څنډو ته پراختیا ومونده.

د منځنیو پېړیو تر اوږدې دورې وروسته چې د انسان ژوند یــې پــه الهي انوارو کې رالنډاوه، یو ځل بیا هغه وخت راورسېد چــې انســان د ژوند په مرکز کې واقع شي. ددې دوران د سر خبره (مبدا یا بنسټ تــه ورګرځېدنه) وه او مبدا هم د لرغونې دورې له انسانپالنې پرته بله خبره نه وه.

رنسانس یانې هغه دوران چې د لرغونې دورې کلتور او هنر په کــې یوځل بیا راژوندی کېږي. په دې دوره کې تر خــروارو خــاورو لانــدې د زرګونو مجسمو او لیکلو اثارو را ایستل، یو ډول ورزش یا تفــریح ګڼــل کېدله. ان د خلکو په منځ کې د یوناني ژبې زده کړه هم دود شوې وه او دا کار ددې سبب شو چې یو ځل بیا د یوناني کلتور پر څېړنې لاس پورې شي.

د یوناني انسانپالنې مطالعې روزنیزه موخه هم درلودله، د بېلابېلــو انساني علومو د څانګو څېړنه او مطالعه ددې سبب شوه چې خلک یو ډول کلاسیکه روزنه ترلاسه کړي او په دې ډول تر نــورو موجوداتــو د انسان مقام لوړ وانګېري.

په حقیقت کې درې غټې اختراعګانې (قطت نما، باروت او د چـاپ صنعت) د نوي عصر د څرګندېدو تر ټولو غټ لاملونه وو چـې هغـه د (رنسانس) په نامه یادوي. د (قطب نما) اختراع پر سیندونو ورګرځېدنه اسانه کړه او د څېړنیزو او پلټنیزو سفرونو لپاره یوه مهمه وسیله شوه. د باروتو لپاره هم همدا موضوع مطرح وه. نویو وسلو د اروپـا لپـاره ددې امکان برابر کړ چې پر امریکایي، اسیایي، افریقایي او استرالیایي کلتور خپل واک وچلوي. دا خبره باید هېره نه شي چې باروتو د اروپا په داخل کې هـم مهـم نقـش درلـود. د چـاپ صـنعت د رنسـانس د دورې د روښنفکرانو د افکارو په خپرولو کې ځانګړی اهمیت درلود.

د چاپ صنعت ددې سبب شو چې کلیسا د علومو د خپـراوي پـه برخه کې خپل انحصاري واک له لاسه ورکړي. څه موده وروسته پر دې لومړنیو وسیلو یوه بله وسیله هم ورزیاته شوه، ددې وسیلو له جملـې څخه یوه هم (تلسکوپ) و چې د نجوم په برخه کـې یـې یـو انقـلاب رامنځته کړ.

د مهمو بدلونونو له جملې څخه پر مالي اقتصـاد بانـدې د طبیعـي اقتصاد بدلول و. د منځنیو پېړیو په وروستیو کې اروپایي ښـارونو کـې صنعت ډېره ځلا وموندله. اقتصاد د سوداګرۍ پر ستنو ودرېد او ان بانکي موسسې رامنځته شوې. په دې ډول نو جنس پر جنس راکړې ورکړې له

منځه لاړې، په دې مانا چې طبیعي اقتصاد خپل ځای پر پیسو باندې د اجناسو بدلونونو ته پرېښود. دا کار د دې سبب شو چې پــه اقتصــادي چارو کې خلاقیت، استعداد او پلان جوړونه رامنځته شي، مالي اقتصاد د ټولنې د وګړو لپاره د ودې نوې لارې چارې برابرې کړې.

لکه څنګه چې د لرغوني یونان فلسفیان پر دې بریالي شول د کرنیز کلتور له اساطیري اعتقاداتو ځان خلاص کړي، په رنسانس دوره کې هم خلکو کوښښ وکړ له همدې لارې د مالکانو او د کلیسا د اربابانو له واکه خپل ځانونه وژغوري. پر همدې وخت په اسپانیا کې له (عربــي) او پــه ختیځ کې له (بیزانسي) کلتور سره نږدې اړیکي ددې سبب شول چــې یوناني کلتور یو ځل بیا وپېژندل شي.

ډېره مهمه مساله چې په رنسانس دوره کې تــر ســترګو کېــږي، د انسان هغه نوی انځور و چې په دې دوره کې مطرح شو. پــه رنســانس دوره کې انسانپالو د انسان او د هغه د ارزښتونو په باب یو نوی اعتقاد یا باور وړاندې کړ. دې باور د منځنیو پېړیو له لیدلورو سره په ټینګه تضاد درلود. په منځنیو پېړیو کې یوازې د انسان ګناه کاره طبیعت ته پاملرنه کېدله، خو په رنسانس دوره کې انسان ډېر لوړ مقام او ارزښت درلود. د رنســانس د دورې لــه ډېــرو مهمــو شخصــیتونو څخــه یــو هــم (مارسیلیوفیسیچینو) نومېده. هغه چیغه پورته کړه چې: ((د انسان په

پوټکي کې ای خدایي موجوده خپل ځان وپېژنه!)). له دې ډلې څخه یو بل تن (جووان پیکودلامیراندولا) و چې ((د انسان د شوکت په باب)) یې یوه ستاینه ولیکله. په منځنیو پېړیو کې دې ته ورته شیان د تصور وړ نه وو. په یادو پېړیو کې هر څه په خدای کې رالنډېدل، خو په رنسانس دوره کې بیا د هر شي مرکزیت انسان و.

په رنسانس دوره کې د لرغوني دورې په اندول فردپالنې ته زیات اهمیت ورکول کېده، ځکه چې ددې دورې متفکران په دې نظر وو چې موږ یوازې انسانان نه یو، بلکې زموږ هر یو په خپله یو ځانګړی فرد هم دی. شونې وه چې دا باور انسان له کوم دقت پرته د ځان غوښتنې خواته بوځي، خو د هغه مطلوب برید هغه څه و چې د رنسانس دورې انسان ته په برخه شوی و. د رنسانس دورې له انسان څخه مقصد هغه انسان دی چې د ژوند د ټولو اړخونو، هنر او علم په لټه کې وي. د رنسانس انسان د لرغوني دورې د انسان په شان نه یوازې د طبیعي مسایلو په خاطر د اناتومی، جسد پېژندنې او جسد څیرنې څېړنه کوله، بلکې د هنري پنځونو لپاره یې هم کار کاوه. په هنري اثارو کې ننندارې ته د انسان د لوڅ بدن وړاندې کول یو دود ګرځېدلی و. ګورو چې تر یوې اوږدې دورې وروسته په خلکو کې شرم و حیا له منځه تللي وو او

انسان هڅه کوله یو ځله بیا لکه څنګه چې دی باید هماغه شان اوسي او لکه څنګه چې دی له هغه څخه ونه شرمېږي.

د منځنیو پېړیو اروپا کې هنر تر ډېره بریده، د کلیسا او د هر هېواد د واکمنو په خدمت کې و. په واقعیت کې عادي خلکو خپله ځانګړې موسیقي درلودله چې له هغې څخه ډېر معلومات اوس په لاس کې نه شته. د رنسانس په پیل کې اروپایانو دکلیسا د غوښ واک د دورې تر پایته رسېدو وروسته، مذهب او تر مرګ وروسته ژوندانه ته کمه پاملرنه کوله او تر ډېره ددې نړۍ ژوندانه ته متوجه شول. هغوی د بوټو، څناورو د څېړنې او همدارنګه د نجوم او فزیک د مطالعې په لټه کې شول. موخه یې دا وه چې د خپلې نړۍ په باب د ډېرو شیانو پر زده کړه بریالي شي، په دې پړاو کې د خپل ځان په باب د انسانانو د فکر کولو طریقې هم بدلون وکړ. له بډایه خلکو پرته یو زیات شمېر نورو خلکو ته هم د زده کړې چارې برابرې شوې، ټولنیز توپیرونه تر ډېره بریده له منځه لاړل او ثروتمندو خلکو د هنرمندانو ملاتړ وکړ چې په بېلابېلو هنري ډولونو کې لوړو پوړیو ته ورسېږي.

دربار یا کلیسا نور غوښ واک نه درلود او یوازې ملاتړی نقش یې درلود. په داسې یوه هنري فضا او په داسې یوه ټولنیز چاپېریال کې هنرمندانو ددې توان درلود چې د منځنیو پېړیو له خنډونو او بندیزونو

پرته، تر هرې کچې چې کولای شول، وده وکـړي. د خلکــو او د خپلــو ملاتړو له خوا یې هم زیات درناوی کېده او پاملرنه ورته کېده. هغوی به د اروپا ګوټ ګوټ ته سفرونه کول او خپلو ټولو لیدونکو او اورېدونکو ته به یې خوښي وربښله.

د رنسانس دورې په پیل کې مطرح سبکونه یو د (هلند) او (بلژیک) د سیمو سبک و چې د فلمیش (Flemish) په نامه یې شهرت درلود او بل فرانسوي سبک و. خو د (۱۵۵۰م) کال په شاوخوا کې نورو هېوادونو هم په دې برخه کې پر ډېرو هڅو لاس پورې کړ. په دې دوره کې انګلستان پر داسې کورنیو جګړو اخته و چې تر (۱۴۸۵م) کال پورې یې موسیقۍ هغه پخواني مهارتونه په همغه یوه بڼه وساتل.

په پای کې د انسان په باب نوی تصور په یو ډول، د ژوند پر یوې نوې پېژندنې بدل شو، نور نو انسان یوازې د خدای په غوښتنه نه و پنځول شوی، بلکې په دې پنځونه کې د انسان غوښتنه هم مطرح وه، ځکه نو انسان کولای شول په دې نړۍ کې د خپل شتوالي په برکــت خوشــاله ژوند وکړي. د ازادۍ دا احساسددې سبب شو چې نامحدوده امکانات د انسان پر وړاندې ودرېږي. تر دې وروسته نو انسان د پولو د نړولو او له ټولو تېرو بندیزونو څخه د تېرېدلو په لټه کې شو. ځکه نو موږ ګورو چې د رنسانس دورې انسانپالنه د لرغوني دورې له انســانپالنې ســره ډېــر

توپیرونه لري. یانې دا چې د لرغونې دورې انسانپالنې د انسان پر واک، اعتدال او ارامۍ ټینګار کاوه.

د رنسانس په اړه مهمه مسله دا ده چې د طبیعت د نوې پېژنــدنې سبب شو. انسان هغه مهال احســاس کــړه چــې دا مــادي نــړۍ دده استوګنځای دی او په دې نړۍ کې د هغه ژوند یوازې ددې لپاره نه دی چې خپل ځان د اخرت سفر ته تیار کړي. دا احساس ددې ســبب شــو چې انسان ته ددې مادي نړۍ په باب یو فکر پیدا شي. طبیعت د انسان لپاره یو مثبت اړخ پیدا کړی و. ان دا چې ډېر خلک معتقد وو چې خدای د خپلو مخلوقاتو په منځ کې دی. نو ځکه خو نه شو کــولای د خــدای لپاره وروستی برید وټاکو. د همدې دلیل پر بنسټ هغه په هرځای کــې حاضر دی. دا ډول لیدلوري یې د (خدایي ائین) په نامه یادول. د منځنیو پېړیو فلسفیانو تل د انسان او خدای ترمنځ پر نه انکارېــدونکو اړیکــو ټینګار کاوه، خو د رنسانس په دوره کې طبیعت یوه الهي ښکارنده ګڼل کېدله او ان ((خدایي شکایت)) ګڼل کېده. البته کلیسا دا ټــولې نــوې ښکارندې نه خوښولې. هغه څه چې د (جوردانو برونو) پر ســر راغلــل، ددې ادعا لپاره ښه دلیل ګڼل کېږي.

هغه یوازې پر دې معتقد و چې خدای په طبیعت کې حاضر دی. ددې ترڅنګ هغه په دې نظر و چې فضا لایتناهي ده. هغه له همدې کبله پر

سختې سزا محکوم شو. هغه يې پر (۱۶۰۰) میلادي کــال د روم ښــار د ګلانو په ډګر کې وسوزاوه. دلته نو باید دې ټکي ته پاملرنه وکړو چې د انسانپالنې ترڅنګ انسانغندنه اوس هم شته او انګازې کوي.

د رنسانس زمانې پوهانو د طبیعت د څېړنې لپاره هڅه کوله چې له خپلو حواسو ګټه پورته کړي، د حقیقت ریښې پیداکړي په پټو سترګو د کلیسا د ښوونو او د ارسطو د فلسفې ملاتړ ونه کړي، د هغوی او د تېرو اشخاصو د نظریاتو، چې د څوارلسمې پېړۍ له همغه پیله اوربېدل کېدل، مخالفت وکړي. یانې د رنسانس دورې پوهانو یوازې د مغز له تفکر څخه ترلاسه شوې پایله مردوده ګڼله. هغه طریقه چې د منځنیو پېړیو په ټوله دوره کې د تائید وړ وه، خو په رنسانس دوره کې ازمېښت او تجربــې (د تجربه یي څېړنې طریقې) ځانګړی مقام ترلاسه کــړ. طبیعــت بایــد د ازمایښت د طریقې له لارې څېړل شوی او ارزول شوی وای. ددې خبرې یادونه هم په کار ده چې په منځنیو پېړیو کې هم له تجربه یي طریقــې څخه ګټه پورته شوې ده، خو په نامستقیم ډول. په رنسانس دوره کــې تجربه یي طریقې او ازمېښتونو ته ځانګړی نظم ور وبښل شو.

په رنسانس دوره کې هڅه وشوه چې علمي څېړنــې او مطــالعې د ریاضیاتو پر بنسټ ودروي او کوم څه چې د اندازه کولو وړ وو، باید پــه دقیق ډول اندازه شوي وای، د اندازه کولو لپاره طریقې کشف شوې. د

رنسانس دورې انسان په دې لټه کې و چې خپل ځان او نور د طبیعت له بندیزونو څخه ازاد کړي. یانې دا چې انسان نور د طبیعت یوه برخه نـه ده، بلکې نور نو دا طبیعت و چې د انسان لپاره بایـد ګټـه او کـارترې اخیستل شوی وای.

(ګالیلوګالیله) د اولسمې پېړۍ یو مهم پوهاند په دې نظر و چـې د طبیعـت کتـاب د ریاضـي پـه ژبـه لیکـل شـوی دی. بیـا غوړېدنـه (Renaissance) مهم فرهنګي غورځنګ و چې په اروپا کـې د علمـي انقلابونو، مذهبي سمونونو او هنري بدلونونو پیلامه شو. د بیا غوړېدنې زمانه له منځنیو پېړیو څخه نوي پړاو ته د تېرېدو مرحله ده. د غوړېدو پړاو پیل معمولاً د (ایټالیا) په شمال کې په څوارلسمه پېړۍ کـې ګڼـل کېږي. دې غورځنګ په پنځه لسمه پېړۍ کې د اروپا له شمال څخه هم خپله لمن راتاوه کړه.

د پنځه لسمې او شپاړسمې پېړۍ په بهیر کې علم او هنر په ایټالیـا کې ستر پرمختګونه رامنځته کړل. دا فرهنګي بیـا غوړېدنـه پـر بیـا غوړېدنې (رنسانس) مشهوره شوه.

داسې پوهان، سندرغاړي او فلسفیان راوټوکېدل چې د روم او یونان له اصیل میراث څخه یې الهام اخیسته او نړۍ ته یې له یو نوي او تـازه لیدلوري څخه کتل. انځوګرانو به د انسان جسد مطالعه کاوه او د انسان

د بدن غړي به يې په ربښتيني ډول انځورول. واکمنو به د سترو ودانيو او لويو هنري کارونو سپارښتنه کوله. دا ډول عقايد ډېر ژر ټولې اروپا تــه وغځېدل.

درې فکري انقلابونه د رنسانس دورې اساسي ستنې جوړوي:


۱- د کوپرنیک فکري انقلاب

۲- د ګالیله فکري انقلاب

۳- د دکارت فکري انقلاب

# د کوپرنیک فکري انقلاب

کوپرنیک د ځمکې د مرکزیت نظریه مـردوده وګڼلـه او د ځمکــې پرځـــای یــې د لمــر د محوریت یا مرکزیت نظریه وړاندې کړه. ددې نظریــې له مخې نو ځمکه نـوره د نړۍ مرکز او انســان هــم اشرف المخلوقات نه و. دا د لویدیځ انسان د وجدان لومړنی بحران و، ځکه چې انسان د کیهان په ناپایـه څپو کې یو موجود و.



د لمــر د محوریــت یــا مرکزیت نظریه یو لوی فکري انقلاب و ځکه چې هــم د (بطلیموســي) نجوم د منل شویو اصولو او هم د سپېڅلي کتاب د نصوصو پر وړانــدې ولاړه وه.

د کوپرنیک لنډه لیکنه له زیات هرکلي سره مخامخ شوه او هغه یې د اروپایي پوهانو په منځ کې زیات نومیالی کړ. خو کوپرنیک لا هــم پــه علمي ټولنه کې خپله نظریه نیمګړې ګڼله، څو کلونه یې پر ژورو علمي څېړنو او د شواهدو او مدارکو پر راټولولو تېر کړل چې خپلې نظریې ته زیات اعتبار وروبښي.


پر (۱۵۳۳م) کال د (کوپرنیک) شهرت داسې یو مقام ته رسېدلی و چې (البرت ویدمانتشتات) (د اووم پاپ کلمنت) منشي په (واتیکــان) کې پاپ او د (کاردینالانو) یوې ډلې ته د هغه د نظریو په بــاب یــو لــړ ویناوې ترتیب کړې. پر (۱۵۳۶م)کال چې د (کوپرنیک) څېړنې بشپړې شوې نور نو په اروپا کې داسې عالم پاتې نه و چــې د هغــه د انقلابــي نظریاتو په باب یې څه نه وي اورېدلي او ډېر یې په دې وچه کې د هغو د خپرېدو غوښتونکي وو. هغه ان په کلیسا کې ځواکمن ملاتړي درلودل؛ (کاردینال نیکلاس فون شونبرګ) کوپرنیک ته د خپل یو لیک په تــرڅ کې ولیکل: ((... ای عالم سړیه! هیله ده زما غوښتنه بې ځایه ونه ګڼې، خو ګوره په ټینګار سره له تا غوښتنه کوم چې د کایناتو په باب خپــل کشف د نړۍ نورو پوهانو ته د بحث لپاره وړاندې کړې او په لومړي ګام کې خپله شرح له جدول او هر هغه څه سره چې په هغو پورې اړه لري، ماته راولېږې...))

دا هڅوونکی لیک که څه هم (کوپرنیک) ته ډېر ارزښــتمن و، خــو داسې بشپړ نه و چې هغه  د خپلې انقلابي نظریې خپرېدو تــه رامــات کړي.

ده همدارنګه د خپلو څېړنو بشپړاوي ته تــر (۱۵۳۹م) کــال پــورې ادامه ورکړه چې د (ګنورګ یواخیم رتیکوس) په نامه له یوه ریاضي پوه سره اشنا شو او هغه یې د خپل شاګرد په توګه ومانه. دوی دواړو یــوه نظریه وڅېړله. تر دوو کلونو وروسته (رتیکوس) د کوپرنیک له تیــورۍ څخه په ګټې اخیستلو سره د ځمکې د حرکت په باب د (ناراتیوپریما) په نامه یو کتاب ولیکه او پر (۱۵۴۲م) کال یې د کوپرنیک په نامه د هغه د څېړنو ځینې برخې په مثلثاتو کې خپرې کــړې. د (رتیکــوس) د ډېــر ټینګار له امله په پای کې (کوپرنیک) ومنله چې د خپلې نظریې لپــاره بشپړه شرحه تیاره کړي او هغه (نورنبرګ) ته واستوي چې د هغــه لــه نظریاتو سره یې خپره کړي. په پای کې کتاب پر (۱۵۴۳م) کال خپور شو.

# د ګالیله فکري انقلاب

په رنسانس دوره کې ګالیله دویم فکري انقلاب رامنځته کړ، فزیک یې له الهیاتو څخه خپلواک کړ. د رنسانس دورې تر ټولو ځانګړی مفکر



همـــدا ګالیلـــه دی. ګالیلـــه د حقیقـــت یانې طبیعـت تـازه مفهوم اعلان کړ چې د کلیســا د ښــوونو بنسټونه یې ولړزول. ګالیلــه بــه ویــل: د طبیعت حقیقت زموږ د سترګو پر وړانــدې پروت دی. دا حقیقت داسې نه دی چې یو ځل اسرائیلي انبیاوو او حضرت مسیح تــه وحــې شوې وي. د طبیعت حقیقت تل زموږ د سترګو پر وړاندې پروت دی. خو پر دې حقیقت د پوهېدو لپاره باید د ریاضي پــه ژبــه پــوه شــو. ددې حقیقت ژبه هندسي شکلونه یانې دایره، بیضوي مثلث او داسې نور دي،

چې په سپېڅلي کتاب کې د رياضي او هندسې په باب څه نه دي ويـل شوي. ګاليله د فزيک علم ته (سيکولاره) بڼه ورکړه او هغه يې له الهياتو څخه خپلواک وګاڼه، تر هغه وروسته د (فزيک) علم د انسان پر عقـل ډډه لګوله.

ګاليله (داونګ قانون) کشف کړ، د ګاليله د اونګ قانون نن هم پـه بېلابېلو برخو کې کارول کېږي، د ساري په توګه، د ستوري د حرکت د اندازه کولو او يا هم د ګړۍ د کار د بهير د مهارولو لپاره له همدې قانون څخه ګټه پورته کېږي. د اونګ په باب د هغه ازموينې د نوي ډيناميـک فزيک پيل و. هغه غبرګون چې د حرکت قوانين يې رامنځتـه کـوي او هغه ځواکونه چې د حرکت سبب ګرځي، دا رانغاړي.

ګاليله پر (۱۵۸۸م) کال په (پيزا) پوهنتون کې دوکتورا (اسـتادي) ترلاسه کړه او همالته د رياضياتو د تدريس لپاره پاتې شو.

ګاليلو ګاليله په (۲۵) کلنۍ کې خپل دويم لوی علمي کشف ترسره کړ. دا داسې يو کشف چې د دوو زرو کلونو په بهير کې د يوې پرځـای پاتې نظريې د له منځه تللو سبب شو. دې کار هغه ته زيـات دښـمنان پيداکړل، د (ګاليله) په دوران کې د علومو يوه زياته برخه د ستر يوناني فيلسوف (ارسطو)، چې تر ميلاد وړاندې په څلورمه پېړۍ کې يې ژوند کاوه، پر نظرياتو ولاړه وه.

د هغه اثار د ټولو علومو د يوې مرجعې او سرچينې په توګـه ګڼـل کېدل. هر چا چې د ارسطو د قوانينو له جملې څخه پر يوه شک کـاوه، بشپړ او عاقل انسان نه ګڼل کېده. د هغو قواعدو له جملې څخه چـې

ارسطو بیان کړي وو، یو دا و چې درانه جسمونه تر سپکو جســمونو ژر سقوط کوي. ګالیله ادعا کوله چې دا قاعده اشتباه ده، لکه څنګه چې وایي هغه ددې خطا د اثبات لپاره د خپل پوهنتون استادانو ته هم بلنه ورکړه چې له ده سره د (پیزا) د مایل برج تر ټولو لوړې طبقې ته لاړ شي. ګالیله د توپ دوه ګولۍ یوه د (۵) کیلو په وزن او یوه بله د (نیم) کیلو په وزن له ځان سره یوړلې او د پیزا برج له لوړې برخې یې دواړه ګولۍ پــر یوه وخت لاندې راخوشې کړې، په ډېرې ژورتیا سره په صحنه کې ټولو شاهدانو ولیدل چې دواړه ګولۍ پر یوه وخت ځمکــې تــه ورســېدلې. ګالیله په دې ډول د فزیک یو مهم قانون (د اجسامو د سقوط سرعت د هغو له وزن سره اړیکي نه لري) کشف کړ.

وروسته بیا کله چې دا اصل ( د ازاد سقوط) یا د( هم ارزي حــل) د قانون په توګه وپېژندل شو، د نوي فزیک بنسټ یې کېښــود. (البــرت انشتین) خپله ډېره مشهوره تیوري ((عام نسبیت)) د همدې اصل پــر بنسټ ودرولې وه.

ګالیله همدا راز د یو لرلید (دوربین) پر جوړولو بریالی شو، خــو دې ماشین زیات ځواک نه درلود، خو مهم مطلب دا و چې اصــلي اختــراع کشف شوې وه او د یوه ځواکمن لرلید جوړول یوازې یو فني کار و.

دا لرلید د (وینز) حکومت مشر ته وړاندې شــو او د (ســن مــارک) ترڅنګ کېښودل شو. سناتوران او ثروتمند سوداګر د دې لرلید شــاته

ودرېدل او ټول له یو ډول هیښتیا او حیرانۍ سره مخامخ شول، ځکــه چې له ګاونډیو کلیساوو څخه یې د مومنانو ایستل او هغه کشیشان چې د افق پر لرې پرتو برخو کې یې حرکت کاوه، ولیدل. خو ګالیله سم لــه لاسه لرلید د اسمان خواته واړاوه، د هغو منظرو جوړښت ته متوجه شو چې تر دې وخته هېڅ سترګه د هغو د لیدلو پر نندارې بریالۍ شوې نه وه. په (ګالیله) کې یې شــور او ځــوږ راپیــداکړ. ګالیلــه ولیــدل چــې (سپوږمۍ) د ارسطو د نظریاتو خلاف چې هغه یوه صفا او صیقل شوې کره ګڼله، پر غرونو او واورو پوښل شوې ده. چې د لمر رڼا یــې د هغــې ځانګړتیاوې په ګوته کوي.

سربېره پر دې هغه وکتل چې د (مشتري) د سیارې پر شاوخوا څلور وړې سپوږمۍ د حرکت په حال کې دي او په پای کې یې د لمر داغونه په خپلو سترګو ولیدل. دې لوی عالم پر (۱۶۱۰م) کــال دا ټــولې پــایلې د (اسمان قاصد) په نامه د یوه کتاب په بېلابېلو برخو کې خپرې کړې چې د ډېرې ستاینې او قدردانۍ وړ وګرځېدې. خو د (اسمان قاصد) کتــاب یوازې له قدردانۍ او ستاینو سره مل نه و، بلکې یو شمېر خلکو یې پــر لیکوال نیوکه هم وکړه چې ولې یې سیارې (۷) ګڼلي نه دي، په داسې حال کې چې فلزات (۷) دي، د عبادت ځایونو رڼا ځایونــه (۷) څــانګې لري او د انسان په سر کې (۷) ســوري موجــود دي، ګالیلــه بیــا ددې ټولوپوښتنو په ځواب کې وویل: په خپلو سترګو په لرلید کې وګورئ چې اشتباه مو رفع شي.

د (ګاليله) څېړنو او کتنو هغه ته ددې لارې لارښوونه وکــړه، هغــه علمي فرضيې چې د هغو پر بنسټ ځمکه ددې نړۍ (محور) دی، لمر او ستوري د هغې پر چورليز راڅرخي، مردودې وګڼلې. تر دې نږدې نيمه پېړۍ وړاندې (کوپرنيک) د خپل ستر اثر په ترڅ کې دا ثابته کړې وه چې لمر د ستورو د جوړښت په منځ کې واقع دی، ځمکه او ستوري د هغه پر چورليز راڅرخي. کوپرنيک خپلــه دا مفکــوره د عوامــو ذهنونــو تــه وررسولې وه.

# د دکارت فکري انقلاب

درېیم فکري انقلاب د (دکارت) پــه واســطه پیــل شــو. دکــارت د سپېڅلي کتاب، پاپ، کلیسا او واکمنو د سنتونو، پرځای د بشر عقل ته ترجیح ورکړه او په دې کار سره یــې یــوه نوې موضوع وپنځوله.



د دکــارت فلســفې پــه لویدیځې اروپا کې خرافــات له منځه یوړل او (د روښــانه او نویو فکرونو) زمانــه پیــل شوه. تر دې وروسته نو هر څه د عقل له مخې تلل کېدل، ان د (انجیل) د سپېڅلي کتاب محتویاتو او د ایمان زمانې خپل ځای د عقل زمانې ته

پرېښود. د طبیعت د څېړنې لپاره د دکارت طریقه یوه داسې طریقه وه چې پر قیاس او نتیجې ولاړه وه.

(نیوتن) د ګالیله د بریاوو د وارث په توګه او (کپلر) رامیدان ته شول. د ګالیله قانون په تېره بیا د اجسامو د ازاد سقوط پــه برخــه کــې او د عمومي جاذبې په باب د کپلر قوانین ډېر مشــخص شــول. د (نیــوتن) طریقه بیا یوه شننیزه او استقراري طریقه وه.

د (دکارت) په دوران کې د عام ولس د فکر کولو پر وړاندې تر ټولــو ستر خنډ هغه خرافات وو چې د کلیسا له خوا پر خلکو تپل شوي وو؛ که چېرې د منځنیو پېړیو د فلسفو ټول مخونه دې نه وي زده کړي، نه شې کولای د فلسفي پوښتنو په باب فکر وکړې. په پایله کې خلکو اړتیا لرله مخکې تر دې چې نوې فلسفه پیل کړي، دا زده کړې چې د جهالت ددې ستونونو په باب شک وکړي.

دا همغه هدف و چې د لومړنۍ فلسفې په باب دکارت (پوهنیز غور) کتاب کې د خپل ځان لپاره ټاکلی و.

شکګر په شک او تردید مشهور وو او ټول پر دې پوهېــدل چــې د هغوی فکر و خیال نه شي کولای د یوه (ډاډمن) ژوند لپاره یوه مثبتــه فلسفه رامنځته کړي. له بلې خوا د باور لپاره د هغوی هڅه د کلیســا د منظمو اصولو او د هغې د فلسفې یانې (اسکولاستیک) فلسفې له منلو

سره مترادفه وه، ځکه نو دکارت (د باور لپاره شک) چې د خلکو لپـاره زړه راکښونکی و، دوداوه او د هغه په پایله کې د متخصصو روحانیینو او د ټولنې د یوه عادي فرد ترمنځ رامنځته شوي یا ډلبندي شوي بنسټونه لړزېدل. هغه لیکي:

(( په دې خاطر نه چې زه شکگر چې شک په خپله د شـک لپـاره ترسره کوي، او تل غواړي چې بې پرېکړې پاتې شي، ځارم، برعکس زما هدف دا و چې باور تر لاسه کړم. او خپل باور تر هغه بریده ورسوم چې زه پرې پوره ډاډه شم.))

ځکه نو د (دکارت) د شک ډول ددې ځواک دودول و چې د شکگرو د شک په اندول چې اساساً ځینو روښنفکرانو تـه یـې کـولای شـول جذابیت ولري، ډېره عمومي بڼه خپله کړي. دکارت ډېر احتیاط کـاوه، مخکې تر دې چې عملي او اخلاقي چلند تر علمي ځیرنې لاندې ونیول شي، یو (لانیک) سړي ته ددې ډول فلسفي لارې د بشپړولو لپاره ټولې لازمې لارښوونې مهمې دي چې له سرگردانۍ څخه وژغورل شي.

ددې لومړنیو شرایطو په پام کې نیولو سره په کتاب کې بحث پر هغه پوهانو دی چې دی یې د لومړنۍ فلسفې په باب په (پوهنیز غور) کتاب کې یادونه کوي.

**په (پوهنیز غور) اثر کې دی لومړی پر حواسو شک کــوي، خــو دده مهم حرکت په دویم (Medition) کې دی چې پر خدای شک کــول دي. ((ایا خدای شته؟)) او ان دا چې شک کوي چې ایا خدای تېرویستونکی دی. کله چې لیکي: ((موږ باید دا وازمویو چې ایا خدای شته که نه؟ که چېرې وي، نو ایا کولای شي تېرایستونکی وي یا نه وي؟))**

**هغه زمانه چې دکارت په کې ژوند کاوه، دا یوه لویه ګناه ګڼل کېدله چې څوک دې د خدای پر وجود شک وکړي، دا خو لا پرېږده چې څوک دې د تېرایستونکي په توګه د خدای په باب فکــر وکــړي. (فرانســیس بیکن) د (امپریسیزم) پلار او د دکارت هممهالی ګڼل کېده، خپل ځان ته کار اسانه کړی و، په دې وینا چې فلسفه باید یوازې پر استدلال ډډه ولګوي. په داسې حال کې چې الهیات د اعتقاد له لارې د پېژنــدنې وړ دي، په دې ډول نو (بیکن) له کلیسا سره له مخامخېدنې ځان لرې کړی دی. له بلې خوا (بیکن) د (دکارت) په پرتله له خپل هدف سره په ډېــر دقیق ډول د خپلې ټولنې تر ډېرو ممنوعو شکونو اوړي، یانې په ټولنــه کې د عوامو لپاره په ډېرې روښانتیا سره خپلواک فکر وړاندې کوي. یو زیات شمېر کره کتونکي د اعتقاد په باب د دکارت خدای پالې نتیجــې اخیستنې او همدارنګه د علم او کلیسا د پخلاینې په برخــه کــې دده چلند، هڅو او کوښښونو ته نغوته کوي او دوی دا پورته حرکت د دلیل**

په توګه راوړي چې (دکارت) د خدای پر وجود باندې د شک په برخه کې رښتینی نه و، کره کتونکي سمه خبره کوي که ناسمه او یا هم هغه بحث چې په خپله دکارت مطرح کړی، د هغه په باب که د دکــارت وروســتۍ نتیجه اخیستنه هم په پام کې ونه نیول شي او یا دا چې د دکارت درک په خپله اساساً ډېر ځانساتی دی.

که دا ټول یوې خواته کړو، له دې واقعیت څخــه ســترګې نــه شــو پټولای چې د شک په باب د دکارت چلند او د یوه فرېبکاره پــه توګــه خدای ته د هغه کتنه د خپلې زمانې مذهبي اعتقادات پــه جــدي ډول وګوابښل او ویې لړزول. کله چې عام خلک له خدای سره داسې چلنــد جایز وګڼي، دا حرکت عملاً کولای شي کفر ته ورسي. له دې پرته چې د لومړي بحث د مقابل لوري ځوابونه هر څومره هم د قناعت وړ وي. پــه واقعیت کې همدا فکري طرحه په دقیق ډول د دکارت د انقلاب زړی و. سره له دې چې دا بدلون شاید د یوه ځانساتي له خوا بېل شــوی وي، یانې په خپله د دکارت له خوا، خو په ټولنه کې د واکمنو اعتقاداتو پــه باب د شک جرئت، د خپلواکو فکرونو د هڅولو لپاره همــاغومره لازم و ځکه چې په انسانانو کې د استدلالونو د ظرفیت برابــري پــه رســمیت وپېژندل شي.

موږ په تېرو بحثونو کې يادونه وکړه چې د رنسانس د زمانې پوهانو طبيعت د ازمويني او تجربې له لارې تر څېړنې او ارزونې لاندې نيوه، دا طريقه يې د تجربه يي څېړنې په نامه يادوله. پوهان د همدغو ازموينو او اندازه کولو له لارې پر دې برياليي شول چې لويو موندنو ته ورسي.

دې پوهنيزې طريقې د صنعتي انقلاب ټوکېدو تــه لاره اواره کــړه. همدغه صنعتي بدلون بيا ټولو نويو اکتشافاتو ته زمينه برابره کړه، لنډه دا چې په دې دوره کې خلکو هڅه کوله چې خپل ځان د طبيعــت لــه خنډونو او بنديزونو ازاد کړي، يانې دا چې انسان نور د طبيعت يوه برخه نه وه، بلکې دا طبيعت و چې د انسان د ګوتې وتې وړ ګرځېده. انګليسي فيلسوف (فرانسيس بيکن) په دې نظر و چې ((پوهه ځــواک دی)) لــه (پوهې) څخه د هغه مقصد هغه پېژندنه وه چې له تجربې څخه ترلاسه کېده.

موږ د (کوپرنيک) او د هغه د هغې ادعا په باب چې لمر د ځمکې پر محور نه راڅرخي، بلکې ځمکه ده چې د لمر پر چورليز راڅرخي، يادونه وکړه، ومو ويل چې دا د کوپرنيک مهم نظر و، نو کوپرنيک لمر د نــړۍ، عالم يا کايناتو مرکز باله، په داسې حال کې چې نن ورځ موږ پوهېږو لمر د کهکشان د مليياردونو ستورو له جملې څخه دی او نوې خبره لا دا چې

دغه کهکشان چې زموږ دا لمریزه منظومه په کې واقع ده، د ملیاردونو کهکشانونو له جملې څخه یو کهکشان دی چې موجود دي.

سربېره پر دې (کوپرنیک) په دې نظر و چې ځمکه او نورې سیارې په دایروي ډول د لمر پر محور راڅرخي. خو (یوهانس کپلر) الماني منجم د اوه لسمې میلادي پېړۍ په پیل کې تر کلونو کلونــو څېړنــې او پلټنــې وروسته پر دې بریالی شو، ثابته کړي چې د لمر پر محور د کرو څرخېدنه بیضوي بڼه لري او څومره چې له لمر څخه په لــرې واټــن راڅرخــي، د ګرځېدو چټکتیا یې هم کمېږي. همدا د (کپلر) زمانه چې ثابته یې کړه چې ځمکه هم تر نورو سیارو زیات کوم بل شی نه دی. هغه په دې نظر و چې د مشخصو فزیکي قوانینو یوه ټولګه پر ټول عالم واکمنه ده.

تر (ګالیله) وروسته ددې دورې بل لوی عالم چې په تېرو بحثونو کې مو د هغه نظریات بیان کړل، انګلیس فزیک پوه (اسحاق نیوتن) (۱۶۴۲– ۱۷۲۷م) و. پر کوم څه چې د شمسي منظومې او د سیارو د ګرځېدو په باب پوهېږو هغه ټول دده د هڅو برکت دی. (نیوتن) نه یوازې دا ثابتــه کړه چې د شمسي منظومې سیارې ولې د لمر پر محور راڅرخي، بلکې ددې تاوېدو دلیل یې هم څرګند کړ. ده دا کار د ګالیلــه د نظریــاتو پــر بنسټ ترسره کړ.

نيوتن د عمومي جاذبې قانون مطرح کړ. د عمومي جاذبې د قـانون هدف دادی چې په نړۍ کې د مادې دواړه ذرې يوه بله جذبوي او ددې جذب تېزوالی د هغوی له جزر سره متناسب دی او د مجزور د عکـس نسبت د هغه په واټن پورې اړه لري.

نيوتن ثابته کړه چې سيارې د بيضوي مدارونو پـه بنـه د لمـر پـر شاوخوا راڅرخي او دوه ډوله حرکت کوي، يو د لمريزې منظومې له نورو سيارو څخه د وارد شوي ځواک تر اغېزې لاندې پر خپل محور چې مونږ هغه ته وضعي حرکت وايو او بل هم د لمر د جاذب ځواک تر اغېز لاندې د لمر پر محور راڅرخېدنه، چې دې ته انتقالي حرکت وايو. (نيوتن) پـه واقعيت کې پر دې بريالی شو ثابته کړي چې دا قوانين په ټول کهکشان کې د ټولو اجسامو له حرکت سره سمون خوري.

هغه له دې لارې بريالی شو هغه تصور چې په منځنيو پېړيو کې ډېر معتبر ګڼل کېده، رد کړي. په منځنيو پېړيو کې خلک په دې باور وو چې ځمکني قوانين له اسماني قوانينو سره توپير لـري، د لمـر د مرکزيـت ليدلوری ثابت شوی و او قاطعيت يې درلود.

رنسانس د خدای پېژندنې يو نوی انځور وړاندې کړ. له الهياتو څخه د علم او فلسفې جلاوالي ورو ورو په مسيحي نړۍ ليد کـې هـم يـو لـړ بدلونونه رامنځته کړل. رنسانس د انسان پېژندنې يو نوی تصوير وړاندې کړ او همدا نوی انځور ددې سبب شو چې د خلکو د عبادتونو پـه ډول کې بدلونونه رامنځته کړي. د کليسا له لارې له خدای سره د اړيکو پـه اندول په خپله د هر سړي او خدای اړيکو زيات اهميت پيداکړ.

مارتین لوتر (۱۴۸۳- ۱۵۴۶م) د (پروتستانیزم) بنسټګر، الماني ژبې ته د انجیل ژباړن، په شپاړسمه میلادي پېړۍ کې په اروپا کې د دینـــي اصلاحاتو ډېره مشخصه څېره، هغه څوک دی چې پر دې بریالی شو، د لومړي ځل لپاره له خدای سره د ژور فردي ایمان اهمیت څرګند کړي او د منځنیو پېړیو په پایته رسونه کې مهم رول ادا کړي.

(لوتر) چې په خپله یو کشیش و له کلیسا څخه جلا شو ځکه چې نه یې غوښتل د خپل روح د ښښنې یا ارامۍ لپاره کلیسا ته پیسې ورکړي، هغه په دې نظر و کوم څه چې په سپېڅلي کتاب کې راغلي همغه د منلو وړ دي نه نور څه. (لوتر) لــه دې لارې هڅــه کولــه چــې د مســیحیت سرچینې ته بېرته وګرځي. سم لکه په رنسانس دوره کې چې انسانپالي د لرغونې دورې د هنر او کلتور پــه ســرچینې پســې ګرځېــدل. هغــه (تورات) او (انجیل) الماني ژبې ته وژباړل، هدف یې دا و چې هر څــوک سپېڅلی کتاب لولي په خپله ترې کشیش جوړ شي. (لوتر) د ټــولنې د وګړو پر اوږو باندې ستر مسولیت کېښود چې له خــدای ســره فــردي اړیکي ټینګ کړي. د (لوتر) دا کار په واقعیت کې د رنسانس دورې لــه مروجو لیدلورو سره همغاړی و. د پوهانو له جملې څخه یوه یې ویلي وو: ((لوتر مذهب ازاد کړ، نه انسان)). په دې پړاو کې د خپل ځان په باب هم د انسان اندود بدلون وکړ. پر بډایه خلکو سربېره د ټولنې یو زیات شمېر خلکو ته د زده کړې زمینه برابره شوه، ټولنیز توپیر تر ډېره بریــده لــه منځه لاړ او پانګوالو خلکو د هنرمندانو ملاتړ وکړ، چې د هنر په ښلابښلو

ډولونو کې لوړو پوړیو ته ورسېږي. نور نو دربار او کلیسا ټولواکه واکمني نه درلودله او یوازې ملاتړی نقش یې درلود. په داسې یوه فضا کې او د داسې یو ټولنیز بستر په شتوالي سره هنرمندانو ددې ځواک درلود چې د منځنیو پېړیو له خنډونو او بندیزونو څخه خلاص شي، په ازادانه ډول څومره چې کولای شي، وده وکړي او د خلکو او خپلو ملاتړو له خوا ډېر درناوی او پاملرنه راجلب کړي. هغوی د اروپا ګوټ ګوټ ته سفرونه کول او خپلو ټولو اورېدونکو او لیدونکو ته به یې خوشالي وربښله.

# رنسانس او لومړنی ښاري دولت

تاریخ شاهدي ورکوي چې د اروپـا د مـذهبي فرهنگـي اسـتبداد پرمهال د ایټالیا په (فلورانس) کې د زرگونو کلونو په بهیر کې د خاورو او ایرو تر ډېرې لاندې د لـومړي ځـل لپـاره د اومـانیزم ((عقلانیـت)) غورځنگ شغلې پورته شوې. په (فلورانس) کې د لومړي ځـل لپـاره د منځنی طبقې په اوږو د فلورانس ښار د دولت بڼه خپله کړه. وروسته د دولت او ملت فکر د پوهنې او هنر د حرکت سبب شو. د هغـې دورې د متفکرانو له جملې څخه یو هم (لیوناردوداو ینچـې (۱۴۵۲ م د اپریـل ۱۵مه د ۱۵۱۹ م د مې ۲مه) د ایټالیا نامتو هنرمند و. ده د خپلو اثارو په واسطه په ایټالوي ملت او په تېره بیا په فلورانس ښاریانو کې نوې سـاه پوه کړه. هغه څومره ښه ویلي دي: ((معرفت تېـرې زمـانې او د عقـل جغرافیا ته ښکلا وربښي او هغه روزي.))

(داوینچې) یې د ((رنسانسي سړي)) لپاره د لارې مشال گڼه، هغه د ډېر زیات خلاق او ژور لید خاوند و. د هغه ډېرشهرت د (وروستي ماښام) او (مونالیزا) د انځورگرۍ له امله و.

ددې دورې بل مفکر نو بیا له (ماکیاولي) پرته بـل څـوک نـه دی، ماکیاولي د (ښاري) په نامه په خپل تلپاتې اثر کې په ډېره هدفمنـه او اډولې بڼه بشریت ته د دولت او ملت تیورۍ وړاندې کړې. چې په پـای کې یې په خپله د فلورانس ښار د دولت فکري تکامل د فرانسې پر ملت

او دولت تبدیل کړ. وروسته بیا (لویاتان) چې د دولت یو ځرګندویه نښه ګڼل کېږي، دویم اثر د نامتو انګلیسي فیلسوف (توماسوهابز) له خوا په (۱۵۸۸- ۱۶۷۹م) کلونو کې په انګلیسي ژبه لیکل شوی دی. ده په خپله سیاسي فلسفي تیورۍ کې دولت د (لویاتان) په نامه یاد کړ. (لویاتان) په دې مانا چې د (تورات) په سپېڅلي کتاب کې یو ډېر خطرناک ښامار ته نغوته شوې وه چې هغه د قدرت نښه ګڼل کېږي. (هابز) د قدرت یا واک دا نښه له تورات څخه راواخیسته، خو ویې غوښتل دا ووایي چې یو واحد قدرت باید رامنځته شي چې د یو ملت او ټولنې پر کنټرول بریالی شي چې دا د ملت او دولت هماغه مفکوره راژوندۍ کوي. په دې مانا چې ملت خپله بڼه نه وي خپله کړې او د خپل بشپړاوي پړاو ته نه وي رسېدلی، نو د ټولنې مخکښان باید وړاندې شي او د ملتونو لپاره دولت جوړ کړي.

(هابز) د متمرکز او ځواکمن دولت د جوړېدو پلوی و، دده په نظر انسانان ذاتاً خپلسري او انارشیستان دي او تاریخ تل ددې ښکارندویي کوي چې زورور پر کمزوري واکمني کوي، ځکه باید د ځواکمنو خلکو له خوا یو ټینګ دولت جوړ شي چې کمزوری او خپلسری ولس د زور او انضباط په کارونې سره پر خپل ځای کېنوي. اصلي خبره داده چې (هابز) د ملي او متمرکز دولت د تیورۍ او د ښاریتوب د تیورۍ بنسټ کېښود او همدا تیوري وې چې د ملت د ودې په بهیر کې یې اوسني دولتونه رامنځته کړل.

تر (هابز) وروسته بل انګلیسي فیلسوف (جان لاک) په (۱۶۳۳- ۱۷۰۴م) کلونو کې د مدني ټولنې نظریه مطرح او هغې ته یې تیوري

جوړه کړه. (جان لاک) مدني ټولنه د دولت دویم قطب ګڼي او پــه دې نظر و چې دولتونه د مدني ټولنې له شتوالي پرته د استبداد خواته ځي او د بنسټیزو ازادیو لکه د عقیدې او بیان د ازادۍ د تامین لپاره په کار ده چې ملتونه له یوې خوا د خپلو مدني بنسټونو په وسیله خپلې ازادۍ خوندي کړي او له بلې خوا د دولت د عملونــو څارنــه وکــړي. د (لاک) افکارو د فرانسې، امریکا او المان پر انقلابونو ژور اغېز وکړ او په اروپا کې یې صنعتي بورژوازي پر مدني ټولنې واړوله. لکه څنګه چې د فرانسې د لوی انقلاب په اعلامیه کې د (جان لاک) افکار په څرګنــد ډول لیــدل کېږي او د اعلامیې د موادو یوه برخه جوړوي.

(لاک) د (هابز) برعکس په دې نظر و چې دولت باید له ملت څخــه خپل مشروعیت ترلاسه کړي، مدني وي او د قانون له مخې ټول اتبــاع زورور او کمزوري سره مساوي او برابر حقوق ولري. د جان لاک همــدا عقاید وو چې (تاریخي نیشنلزم) خپــل ځــای (مــدني نشــنلیزم) تــه پرېښود، یانې د ازاد ملت، دولت او ازادو اتباعو مفکوره رامنځته شوه.

که چېرې موږ د ارسطو نظریات رایادکړو، هغه پــه دې نظــر و چــې انسان او څاروی یو بل سره ډېرې ورته ځانګړنې لري، خــو یــوه مهمــه ځانګړنه هغوی له یو بل سره توپیروي او هغه د تفکر ځواک دی.

(دموکرتیوس) د انسان او څاروي ترمنځ ډېر زیات توپیر ته قایل نه و، هغه په دې نظر و چې ټول شیان د (اتوم) په نامه له وړو ذرو څخه جوړ شوي دي. هغه په دې نظر نه و چې انسان او یا څاروی دې تلپــاتې روح ولري.

دموکرتیوس هم روح د همدې اتومونو په شان ګڼي او په دې نظــر و چې تر مړینې وروسته د هغه اتومونه په مختلفو برخو سره پاشل کېږي، ځکه دیموکرتیوس تفکر له روح څخه جلا نــه ګڼــه. اوس اوه لســمې میلادي پېړۍ ته ګورو چې دا دوره د (باروک) په نامه یادوي، یو مفکــر انسان څه ډول فکر کوي؟

(باروک) اصلاً د کلمو هغه بدله شــوې بڼــه ده چــې ((د نــامنظمو مرغلرو)) په مانا کارول کېږي. د باروک دورې غټه ځانګړنه دا ده چې د بېلابېلو شکلونو له ډېروالي او په سرلیک کې له تضاد څخه ګټه پورتــه کوي، یانې د رنسانس دورې د هنر خلاف چې سر ترپایه یې له همغــږۍ څخه کار اخیسته. دا نه پخلاکېدونکي تضادونه باید د اوه لسمې پېړۍ ځانګړنې وګڼل شي. یوه خوا رنسانس له خپل ځانګړي نړۍ لید او هغه ارزښت سره چې د انسان او ژوند لپاره یې درلود، ولاړ و او بله خوا لــه هغه سره په تضاد کې د دینوي ژوند نفې او مذهبي ارتجاع ولاړه وه.

موږ په دې دوره کې څه په هنري برخو او څه د خلکو پــه ورځنــي ژوند کې د بېلابېلو نړۍ لیدونو کتونکي یو. پــر همــدې مهــال داســې بنسټونه تاسیس شول او داسې راهبانو هغو ته لاره وکړه چې ویل به یې خپل ځان باید له ژوند څخه څنډې ته کړو.

د باروک د دورې د شعارونو له جملې څخه یــو هــم (دم غنیمــت) (Carpe diem) و. په مقابل کې یې په همدې لاتیني ژبه یو شعار ((مرګ باید هېر نه کړو)) (Memento mori) هم کارېده.

د انځورګرۍ په برخه کې هم په نړۍ لید کې همدا دوه ګونی حالت تر سترګو کېده. انځورګر له شور او خوږه ډکه یوه غونـډه انځورولـه او د همدې انځور په لاندینۍ برخه کې به یې یو اسکلیټ رسموه. له همدې کبله کولای شو د باروک دوره له یوې خوا د غرور او لېونتوب دوره وګڼو او له بلې خوا یې داسې یوه دوره وګڼو چې په هغې کې د ژوند بې ثباته او لړزانده حالت ته پاملرنه وشوه. د باروک عصر له سیاسي لیدلوري هم د تضاد دوره وه. د پرله پسې جګړو له امله اروپا د یوې نیمه دښتې بڼه غوره کړه. ډېر بد وختونه یې هغه دېرش کلنـې جګـړې وې چـې لـه (۱۶۱۸م) څخه تر (۱۶۴۸م) کلونو پورې یې دوام وکړ. دې جګړې ټولـه اروپا راونغاړله او ټول ځایونه یې له خاورو سره برابر کړل، البته دا دېرش کلنې جګړې د څو جګړو یوه ټولګه ده. په دې جګړو کې المان تر هر بل هېواده زیات زیان ولید او په پایله کې یې فرانسه ورو ورو د اروپا پر یوه لوی ځـواک بدلـه شـوه. دا جګـړه پـه اصـل کـې د (پروتسـتانو) او (کاتولیکانو) ترمنځ وه، خو د سیاسي قدرت مسله هم مطرح وه. سربېره پر دې اوه لسمه پېړۍ د ټولنې د بېلابېلو پوړیو ترمنځ د ټینګ اختلاف ښکارندوی هم ده. له فرانسوي اشرافیت او د ماڼیو له خاوندانو پرته عام ولس له فقر او بدمرغۍ سره لاس او ګرېوان و. په هـر حـال، جـلال او شکایت دواړه د قدرت نښې ګڼل کېدې.

ځینې ادعا کوي چې د باروک دورې سیاسي شرایط ددې دورې په هنر او معمارۍ کې د درک وړ دي. ځکه نو د باروک دوره د هغې زمانې د

سياست د مداخلې له بېلابېلو اړخونو، فتنو، دسيسو او وژنو څخه ډکه ده. په باروک دوره کې تياتر تر يوه ساده هنر لوړ مفهوم درلود. تيــاتر د باروک دورې يوه څرګنده ځانګړنه ده، تياتر په باروک دوره کې د انسان د ژوند يوه بېلګه وه. خلکو کولای شول د تياتر له لارې دې نتيجې تــه ورسېږي چې غرور د ماتې سبب ګرځي، تياتر کولای شول د انســان د کمزورتيا او ضعف يو بې رحمانه انځور وړاندې کړي. يانې هغه څه چــې موږ اوس په يوويشتمه پېړۍ کې هم هغو ته اړتيا لرو.

# باروک دوره او فلسفه

د (ایډیالیزم) او (ماتریالیزم) دوه مخالف او متقابل لیدلوري په باروک دوره کې هم پراخ حضور لري. په دې دوره کې هم فلسفي تضادونه لــه ورایه څرګندېږي. مخکې مو یادونه وکړه چې ځینې فلسفیان په دې نظر وو کوم څه چې مانیز او د ذهن زېږنده دي هغه ښوونځي ته (ایډیالیزم) وایي، د هغو پر وړاندې یو شمېر نورو فلسفیانو بیا یوازې مادي نړۍ تــه پاملرنه کوله. هغوی د (ماتریالیزم) د ښوونځي پلوي کوله او په دې نظر وو چې ټول حقیقي شیان له ملموسو مادي موادو څخه ترلاسه کېږي.

ماتریالیزم هم په اوه لسمې میلادي پېړۍ کې زیات پلویان درلودل. په دې برخه کې کولای شو ووایو چې انګلیسي فیلسوف (توماس هابز) تر بل هر فیلسوفه په دې دوره کې د ماتریالیزم پر ښوونځي زیات اغېز درلود. هغه په دې نظر و چې ټولې ښکارندې ان انسان او څاروی د مادي عناصرو له مجموعې څخه جوړ شوي دي. ان د انسان له خوا د بهرنــۍ نړۍ درک هم په مغزو کې د همدغو ټولو عناصرو له فعالیت سره اړیکي لري. ځکه نو هغه پر داسې یو شي معتقد و چې دوه زره کالــه وړانــدې

(ديموکرتيوس) مطرح کړی و. ايډياليزم او ماترياليزم د فلسفې د ټــول تاريخ په بهير کې مطرح وو، خو دا ډېره کمه پېښېدله چې د (باروک) د دورې په شان دې دا دواړه فکري ښوونځي يو د بل ترڅنګ واقع شــي. ماترياليزم په دايمي ډول د طبيعت په وسيله پياوړی کېــده. (نيــوتن) اعلان کړی و چې د حرکت قوانين عمومي دي او سمون يې دايمي دی. هغه په دې نظر و چې د جاذبې قوانين او د اجسامو حرکــت پــه ټولــو طبيعي بدلونونو کې معتبر دي، که دا بدلونونه د ځمکې په کره کې پېښ شي او يا په ټولو کايناتو کې. ځکــه نــو هرڅــه چــې موجــود دي لــه ميخانيکي پوهې سره د نه بدلېدونکو قوانينو تابع دي چې کولای شــو هغه د رياضي په ژورتياوو سره توضيح کړو. پــه دې ډول نــو (نيــوتن) ميخانيک نړۍ ليد بشپړ کړ. د (ميخانيک) کلمه له يوناني ريښې څخه اخيستل شوې چې د (ماشين) مانا ورکوي، خو دې خبرې ته مو بايد پام وي چې (هابز) او (نيوتن) د ايمان او ميخانيکي نړۍ ليد تــرمنځ هــېڅ ډول تضاد نه ليده.

دا موضوع د اوه لسمې او اته لسمې پېړۍ اکثرو ماترياليستانو سره هم مطرح نه وه. د اته لسمې ميلادي پېړۍ په نيمــايي کــې فرانســوي طبيب او فيلسوف (لامتری) د (ماشين- انسان) په نامه يو کتاب وليکه هغه په خپل کتاب کې دې موضوع ته نغوته وکړه چې انسان لکه څنګه چې پر لاره د خپل تګ لپاره له خپلو غړو څخه ګټه پورته کوي، د خپل فکر لپاره هم غړي لري. څه موده وروسته فرانسه يي رياضي پــوه پــه

خپل فکر په بشپړ ډول یو میخانیکي لیدلوری دود کړ. هغه په دې نظر و چې که چېرې د انسان هوش وکولای شي په یوه خاصه زمانه کې د یوې مادې د ټولو برخو موقعیت تشخیص کـړي، اتکـل لـه منځـه ځـي او راتلونکی د تېر په شان په غوځ ډول زموږ سترګو ته ودرېږي. په دې ډول نو که څه شی ممکن وي پېښ شي، مخکې تر مخکې به مشخص وي. دا نړۍ لید د (د ترمنیزم) په نامه یادېږي.

په دې شرایطو کې به هر څه د میخانیکي بهیر زېږنده وي. ان فکـر کول او خوب لیدل. په نولسمه پېړۍ کې الماني ماتریالیستان په دې نظر وو چې په مغز کې د فکر تولید په (پښتورګي) کې د (ادرار) یا په ځیګر کې د (صفرا) تولید ته ورته یو شی دی.

د نولسمې پېړۍ د فلسفیانو له ډلې یو فیلسوف (لایبنیس) دې ټکي ته نغوته کوي، د هغو شیانو، چې مادې پورې اړه لري او هغو شیانو چې ذهن پورې اړه لري، ترمنځ مهـم تـوپیر پـه دې کـې دی چـې مـادي ښکارندې پر ډېرو کوچنیو عناصرو وېشل کېږي، خو ذهني ښـکارندې بیا یوه ټولیزه بنه خپلوي او پر ډېر کوچنیو عناصرو د وېش وړ نه دي او نه شو کولای غوځې یا پرې یې کړو.

# باروک، هنر او ادبیات

ادبي او هنري رنسانس تر صنعتي رنسانس او د نوي عصر تر فلسفي (۲۰۰) کاله وړاندې خپله بنه غوره کړه. یانې مخکې تر دې چې علمي او فلسفي ادلون بدلون رامنځته شي او د (فرانسیس بیکن) او (رنه کارت) په شان پوهان راوټوکېږي، د (دکارت) (سوبژکتیوسیستي) او (راسیونالیستي) افکار او د (بیکن) علمي او تجربه یي میتودولوژي په علمي نړۍ کې پلي شي، د هنر په ډګر کې ژور هنري بدلونونه رامنځته شوي وو، په دې ډول چې د هنر په ډګر کې نوی رنسانس او پرمختللی رنسانس له (ګوتیک) سبک سره په تضاد کې راڅرګند شو او د (رافایل، مازانچو، میکلانژ، تیسین، جوتو، داونیچې او دوناتلو) په شان لویان د انځورګرۍ او د مجسمه جووړونې په برخو کې (برونلسکي) او (برامانته) په شان شخصیتونو د معمارۍ په برخه کې پر هنري نوښتونو لاس پورې کړ او په بېلابېلو هنري حوزو کې پاموړ بدلونونه رامنځته شول، په دې ډول چې هنر د تاریخ له خپل تېر حالت څخه توپیر وکړ او د رنسانس او نویوالي دورې ته داخل شو.

وروسته تر هغې چې په څوارلسمه او پنځه لسمه میلادي پېړۍ کې په انځورګرۍ، مجسمه جوړونې، معمارۍ، ادبیاتو او نورو برخو کې هنري بدلونونه رامنځته شول، په هنري لارو او سبکونو کې داسې پاموړ

بدلونونه رامنځته شول چې تر پرمختللي رنسانس وروســته تــر (۲۰۰) کلونو پورې د انځورګرۍ او مجسمه جوړونې په برخه کې نه یــوازې دا ډول مخ پر ودې بدلونونه رامنځته نه شول، بلکې د ډېرو مورخانو په وینا (التقاطي) هنر له کوم نوښت پرته ارتجاعي بڼه خپله کړه چې له هغــې جملې څخه کولای شو د طریقه یي (منریزم) او (روکوکو) سبکونو تــه نغوته وکړو.

د هنر په تاریخ کې (باروک سبک) د هغو سبکونو له جملې څخه دی چې د شپاړسمې پېړۍ په پای او د اتلسمې پېړۍ تر وروستیو پورې پــه اروپا کې د دوو سبکونو طریقــه یــي (منریــزم) او (روکوکــو) تــرمنځ راټوکېدلی دی. د باروک بدلونونه د نورو ډېرو هنري بهیرونو او بدلونونو په شان لومړی په (ایټالیا) کې رامنځته شول، وروسته بیا ډېرو اروپایي هېوادونو ته وغځول شول او په ځینو هېوادونو لکه فرانسه، انګلــیس، هالنډ، فنلنډ او نورو کې یې سیمه ییزې ځانګړنې هم راخپلې کړې. په انځورګرۍ او معمارۍ کې طریقه یي سبک چې پر تقلیدي، تصــنعي او التقاطي چلند ولاړ و، د رنسانس او باروک ترمنځ د بېلتون کرښه شوه، په دې ډول چې ځینو دا سبک د هغې ودې او پرمختګ له امله چې په رنسانس دوره کې یې کړی و، یو ارتجاعي او منحط سبک او ښــوونځی باله چې د رنسانس هنر په انډول یو ډول شاګرز ګڼل کېده، له همــدې کبله د شپاړسمې پېړۍ پــه وروســتیو کــې د (کــاراوادجو) پــه شــان هنرمندانو د طریقه یي سبک د تخیلي چلند پر وړاندې واقعي چلند او اصولو ته په ژمنتیا سره او یا هم په بل تعبیــر د طریقــه یــي ســبک د التقاطي او تصنعي عناصرو پر وړاندې د روم او یونان د کلاسیکو اصولو

**له مخې پاڅون وکړ، هغه سبک یې څنډې ته کړ او ورو ورو یې د باروک سبک بنسټ کېښود.**

**د اوه لسمې پېړۍ ډېر مهم فلسفیان (دکارت) او (سپینوزا) دي، په کار ده چې دا دواړه فلسفیان هم په ژور ډول وپېژنو:**

# دكارت

دكارت (۱۵۹۶- ۱۶۵۰م) هم د سقراط په شان پـه دې نظـر و چـې حقيقت ته يوازې د عقل او پوهې په واسطه وررسېدی شو. هغه په دې باور و کوم څه چې په زړو کتابونو کې



راغلي، هغه د بـاور وړ نــه دي او ان هغه څه چې د حواسو له لارې درک کېږي، نه شو کولای په بشــپړ ډول پرې باور وکړو. افلاتون هم پر همدې اصل باور درلود، هغــه هــم اعتقــاد درلود چې داډمنه يا باوري پېژندنــه يوازې د عقل له لارې ترلاسه کېدی شي. په حقيقت کې يوه مستقيمه کرښه (سقراط، افلاتون، اګوستين) او په پای کې (دکارت) يو بل سره نښلوي. له همدې امله موږ هغــوی تــه (پوهنپالي) وايو. هغوی عقل او پوهه، پېژندنې ته د رسېدو لپاره يوازينی

او ډاډمنه سرچينه ګڼله. دکارت تر کلونو مطالعې وروسته دې پايلې ته ورسېد چې نه شو کولای د منځنيو پېړيو په افکارو خپل زړه خوشـــاله وساتو. په دې برخه کې کولای شو هغه له سقراط سره پرتله کړو، هغــه هم په دې نظر و چې د اتن د بازار او کوڅې متداول ليدلوري د باور وړ نه دي.

د دکارت افکارو دده تر مړينې وروسته هم په فلسفه کې خپل غټ نقش ولوباوه. له هر ډول اغراق او مبالغې پرته کولای شـــو ووايـــو چـــې دکارت د نوې فلسفې بنسټګر و. پـــه رنســـانس دوره کـــې د انســـان او طبيعت په باب د لويو پلټنو تر پېښېدو وروسته د معاصر تفکر د منظمې طرحې اړتيا احساسېدله. مفکرانو دا احساس کاوه چـــې بايـــد مـــنظم فلسفي نظام رامنځته کړي. ددې فلسفي نظام بنسټ د لومړي ځل لپاره دکارت کېښود او په هغه پسې (سپينوزا)، (لايبنتيس)، (لاک) (بارکلي) (هوم) او (کانت) ددې ډول نظام په جوړښت کې لاس درلود.

ددې وخت رارسېدلی و، داسې نوې فلســـفه رامنځتـــه شـــي چـــې وکولای شي ټولو مهمو فلسفي مسايلو ته ځواب ووايي. په لرغونې دوره کې ددې نظام بنسټګران (افلاتون) او (ارســـطو) وو. منځنيـــو پېړيـــو د (توماس اکويناس) په شان فيلسوف درلود چې غوښتل يې د ارسطو د فلسفې او د مسيحي الهياتو ترمنځ د پله حيثيت خپل کړي. وروسته د طبيعت، علم، خدای او انسان په باب له ټولـــو اوازو او انګـــازو ســـره د

رنسانس دورې ته وار وروسېد او بیا په اوه لسمه پېړۍ کې فلسفې هڅه وکړه چې نوي تفکرات په یوه کوټلي نظام کې سره راټول کړي. لومړی سړی چې دا کار یې ترسره کړ، هغه دکارت و. هغه وروستي بنسټ ته لاره اواره کړه چې د نوې دورې فلسفي طرحه مشخصه شي.

لومړنۍ مسله چې د دکارت ذهن یې خپل ځان سره مشغول کړ، باوري معرفت و، دویمه مسله د روح او جسم ترمنځ په اړیکي پورې اړه پیداکوي. دې دوو مسلو ته د ځواب پیداکولو لپاره کولای شو ووایو چې دا د (یو سل او پنځوسو) کلونو په بهیر کې د فلسفي بحثونو یوه ځانګړتیا وه. یا په بله وینا (یو نیم سل) کاله پر دې دوو مسلو، فلسفي بحثونه شوي دي.

(رنه دکارت) د تاریخ په اوږدو کې د ډېرو مهمو فلسفیانو او ریاضي پوهانو له جملې څخه و. هغه د فرانسې په (لاهه) کې نړۍ ته سترګې وغړولې، هغه د یوه خان زوی و، خو ډېر ثروت یې نه درلود. په (۸) کلنۍ کې یې په یوه ښوونځي کې خپلې زده کړې پیل کړې. تر پنځه کلنې زده کړې وروسته یې درې کاله یې په ریاضیاتو او نویو علمي نظریاتو کې نورې زده کړې وکړې. هغه نوی علمي باور چې د علم یوه ازمېښت کوونکي ته ورکول کېده، د زیات درناوي سبب ګرځېده. له پخوانیو زده‌کړو سره د نویو تجربه یي طریقو توپیر ددې سبب شو چې دکارت پر

خپلو پخوانیو زده کړو شک وکـړي. دا شـکاکیت او تردیـد د هغـه د وروستۍ فلسفې د بنسټ بنه غوره کړه.

دکارت سفر سره مینه درلوده، له همدې کبله یې پر (۱۶۱۶م) کال د هلنډي (برنس موریس) له پوځ سره یوځای شو. تر هغه وروسته به یې په هر دوبي کې سفرونه کول او په هر ژمي کې به یې په هغو ښارونو کـې ژوند کاوه چې دده خوښېدل. پـر (۱۶۲۹م) کـال د خلاصـې او ازادې روښنفکرې فضا له امله یو ځل بیا په هلنډ کې استوګن شو.

دکارت په هلنډ کې د لومړي ځل لپاره پر (۱۶۲۹م) کال د (ذهـن د کارونې قواعد) تر عنوان لاندې یو کتاب پیل کړ. چې د ژوند په بهیر کې یې خور شو. پر (۱۶۳۳م) کال یې د (نړۍ) په نامه د یوه بل کتـاب پـر لیکلو پیل وکړ، خو کله چې له (کوپرنیک) سره د کلیسا له مخـالفتونو خبر شو، د خپل کتاب د لیکلو بهیر یې ودراوه. دده درېیم کتاب د (لارې یا طریقې) په باب وینا ده چې خپرېدل یې ډېر موثر و. دې اثر دکارت په نوې فلسفه کې د یوه وزن لرونکي شخص په توګه تثبیت کړ. په دې اثر کې هغه د پوهې پر ماهیت او د نویو اطلاعاتو د یادولو پر بهیر بحث کړی دی. د هغه یوه مشهوره جمله (فکر کوو، نو ځکه خو یـو)، د خـدای د وجود ترڅنګ د خپل وجود څرګندولو لپاره ویل شوې ده. دکـارت (د طریقې په باب وینا) تـر کتـاب وروسـته د خپلـو علمـي مطالعـاتو د موضوعګانو په باب درې مهمې لیکنې خپرې کړې دي. د هغه د مطالعاتو

یوه برخه د لمر یا (نور) د وړانګو د اساسي قانون په باب ده چې دکارت هغه کشف کړي دي. ددې قانون له مخې هغه زاویه چې پر عمودي لیکې باندې د لمر د وړانګو له راغورځېدو څخه رامنځته کېږي له هغې زاویې سره برابره ده چې بېرته د همدې وړانګو له ګرځېدو یا انعکاس څخه رامنځته کېږي.

د طریقې د وینا په باب دده درېیمې ضمیمه یې لیکنې پوهانو ته ډېر زیات اهمیت درلود. ځکه چې دکارت په دې ضمیمه کې تحلیلي هندسه، چې خپله یې رامنځته کړې وه، شرح کړې ده. تحلیلي هندسه د (هندسې او جبر) له یوځای کېدو څخه جوړه شوې ده. په دې علمي څانګه کې هندسي شکلونه د (x) او (y) د مختصاتو د محورونو له مخې شنل کېږي.

په دې جوړښت کې د یو هندسي شکل هره نقطه کولای شو د مختصاتو له محور څخه د هغې د واټن له مخې، هغه مشخصه او پیدا کړو. دا جوړښت ددې زمینه برابروي چې هندسي شکلونه د اعدادو په بڼه بیان شي. دکارت د مجهولو اعدادو د څرګندولو لپاره د الفبا له وروستیو تورو او نماګانو څخه د هغو د توان د معلومولو لپاره د ګټې اخیستنې فکر پیدا کړ.

پر (۱۶۴۹م) کال د (سوېډ) ملکې (کریستینا) چې دا مهال (۲۳) کلنه وه، دکارت یې د خپل خصوصي ښوونکي په توګه خپل دربار ته

راوباله. ددې بلنې تر منلو وروسته دکارت متوجه شو چې ملکــه لــه تګلارې سره سم خپله زده کړه د سهار پر (۵) بجو پیلوي. په خواشینۍ سره چې دکارت د (ستهکولم) ژمي ته ځان ټینګ نه کړ او (سویډ) ته تر ورتګ څلور میاشتې وروسته د تورې ټوخلې د ناروغۍ له امله ومړ.

دا خبره مو په یاد ده چې دکارت د فلسفي تفکراتو لپاره د (ریاضي طریقې) له اصطلاح څخه ګټه پورته کوله، د هغه موخه هغه تفکر و چې د استدلال پر بنسټ ولاړ وي. (سپینوزا) هم د عقلپالنې د همدغه دود تابع و. هغه د خپلو اخلاقو په علم کې هڅه کوله دا څرګنده کړي چې د انسان ژوند د طبیعت د قوانینو تابع دی. هغه په دې نظر و چې موږ باید خپل ځان د ولولو او تصوراتو له بند څخه ازاد کړو چې وکولای شو ارامۍ او نېکمرغۍ ته ورسېږو.

موږ ته معلومه شوه؛ دکارت په دې نظر و چې واقعیت لــه دوو جــلا جوهرونو څخه چې یو له بل سره بشپړ توپیر لري، یانې نفس او جســم څخه جوړ شوی دی. خو (سپینوزا) بیا د نفس او جسم ترمنځ توپیر ته قایل نه و. هغه یوازې پر یوه جوهر اعتقاد درلود او معتقد و چــې ټــول شیان به همدې یوه جوهر ته بېرته ګرځي. هغه په خپلو بحثونو کــې د (جوهر) له اصطلاح څخه ګټه پورته کوله، خو په ځینو برخو کې د هغه پرځای د (خدای) او (طبیعت) له کلمو څخه هم ګټه اخلي. په دې ډول (سپینوزا) د (دکارت) پر خلاف نظر درلود او پر مثنویت یــا دوه ګــوني

حالت هم معتقد نه و. هغه د وحدت د ليدلوري له نظره د يووالي پلوی و. يانې په دې نظر و چې ټول ژوند او طبيعت يو واحد جــوهر تــه بېرتــه ګرځي.

دکارت هم باور درلود چې د خدای وجود پر خپــل ذات ولاړ دی. د (سپينوزا) نظر هغه وخت د دکارت له نظر سره توپير پيدا کړ چې خدای او طبيعت، خالق او مخلوق يې يو شی وګڼل. البته د سپينوزا دا نظر د مسيحيت او يهودي دين له ليدلورو سره هم توپير درلود.

په ډېره ساده ژبه په دې مانا چې (سپينوزا) خدای يا طبيعي قوانين د پېښو داخلي علت ګڼي، خدای باندينی علت نه دی، ځکه چې هغــه يوازې د طبيعي قوانينو له لارې راڅرګندېږي.

له خپلو بحثونو څخه دې پايلې ته رسېږو چې (دکارت) او (سپينوزا) دواړه پوهنپالان وو. پوهنپال همغه څوک دی چې د عقل پــر اهميــت ټينګار کوي. يانې پوهنپال، عقل د معرفت ريښه او سرچينه ګڼي.

پوهنپالی تفکر د اوه لسمې پېړۍ د فلسفې ځانګړنه وه. دا فکــري ښوونځی په منځنيو پېړيو کې هم دود و او ان د افلاتون او سقراط پــه نظرياتو کې هم ليدل کېده. په شپاړسمه پېړۍ کې پر پوهنپالنې سختې نيوکې وشوې.

په دې پېړۍ کې يو زيات شمېر فلسفيان پر دې باور وو چې معرفت يوازې د تجربې له لارې ترلاسه کېږي او تر هغه وخته چې تجربه په منځ کې نه وي، معرفت نه رامنځته کېږي. دې ليــدلوري تــه تجربــه پــالی ليدلوری وايي.

ډېر مهم تجربه پالي فلســفيان درې انګليســي فلســفيان (لاک)، (بارکلي) او (هيوم) دي. په داسې حال کې چې په اوه لسمه پېړۍ کــې ډېر مهم پوهنپالي فرانسه يي (دکارت)، هالنډي (ســپينوزا) او المــاني (لايبنتيس) وو. تجربه پلوي په دې نظر وو چې له خپل چاپېريال څخه د انسان پېژندنه يوازې د هغه د حواسو په مرسته حاصلېدی شي. د تجربه پالنې کلاسيکه بڼه موږ د ارسطو په تفکراتو کې وينو، هغه په دې نظر و چې د هر څيز خبرتيا هغه وخت ترلاسه کېږي چې د حواسو په مرسته درک شي.

ارسطو په خپل دې نظر د افلاتون پر ليدلوري نيوکــه وکــړه، ځکــه افلاتون په دې نظر و چې انسان د (مثل) له نړۍ څخه پــه فطــري ډول (مثل) له خپل ځان سره راوړي. (لاک) د (ارسطو) نظر تائيــد کــړ او دا ليدلوری يې د (دکارت) د نظر د ردولو لپاره وکاراوه.

داسې يو تصور و چې موږ د نړۍ هېڅ ډول پېژندنه او فطري تصور نه لرو، انسان د يوې داسې ښکارندې تر درک وړاندې له هغې ښــکارندې

سره نابلده دی. هغه تصور چې د تجربې له لارې او د حسي واقعیتونو پر بنسټ نه وي موندل شوی، یو غلط تصور ګڼل کېږي.

کله چې موږ د (خدای)، (ابدیت) یا (جوهر) په شان کلمې کاروو، زموږ عقل او شعور په خالي فضا کې لاس و پښې وهي ځکه چې هېڅ هم تراوسه پورې د (خدای) او (ابدیت) په شان ښکارندې یا هغه څه چې فلسفیانو د (جوهر) په نامه یادې کړي، د تجربې له مخې نه دي پیداکړي.

همدا وجه ده چې مفکرانو داسې نظریې وړاندې کړي چې نوې پېژندنه یا نوی معرفت یې نه دي رامنځته کړي. دا فلسفي نظریات شاید په زړه پورې ښکاره شي، خو دا یو ډول فقر او خیال پلو دی او بس. اوس ددې خبرې وخت او وار راسېدلی دی چې تېرو میراثونو ته ژوره کتنه وشي او ټول هغه شیان چې ذهني بنه لري او له تجربې څخه لرې دي، څنډې ته شي، یانې باید وویندځل شي او چاڼ شي. یانې دا چې سره زر له خاورو او شګو جلا شي.

څه شي چې انګلیسي تجربه پالو ته اهمیت درلود، هغه د انسان د ټولو تصوراتو څېړنه وه، هدف دا و چې په ډاګه شي کومه پېژندنه او کوم فکر د تجربې له لارې د تائید وړ دی. په کار ده چې دلته ددغو دریو تجربه پالو فلسفیانو په باب وغږېږو:

# تجربه پالي

# جان لاک (۱۶۳۲- ۱۷۰۴م) کلونه

جان لاک د انګلستان هېواد داسې يو فيلسوف و چې د پاچايـانو د



الهـي حـق، د مـذهب د تلپـاتېوالي (مطلـق حقيقـت) او د کليسـا د تعصـباتو او نـورو... پـر وړاندې يې اعتراض وکـړ. هغه به ويل: ((هېڅ انسان تر بل انسان زيات حقـوق نه لري، ځکـه چـې مـوږ برابر يو او موږ هـم هغـه ځانګړنې او شـرايط لـرو چې نور يې لري. ټول سره برابر يو او ټول د طبيعت له مېوو څخه د خوند اخيستلو مساويانه حق لرو.))

**ددې انګلیسي تجربه پالي فیلسوف ډېر مهم اثر (د انساني پوهاوي د ځواک په باب څېړنه) ده چې پر (۱۶۹۰م) کال خپور شوی دی. جان لاک په دې کتاب کې هڅه کړې چې دوو پوښتنو ته ځواب ورکړي: لومړی دا چې: انسان له کومو لارو چارو خپلو تصوراتو او تفکراتو ته رسېدی شي؟ او دویم دا چې: کوم څه چې د حواسو په واسطه درک کېږي، کولای شو پر هغو باور وکړو که نه؟**

**لاک په دې نظر و چې زموږ ټول تفکرات او ادراکات د هغـو تجربـو انعکاس دی چې د حواسو په واسطه ترلاسه شـوي دي. د تجربـې لـه ترلاسه کولو څخه وړاندې زموږ ذهن له یوې سپینې لوحې پرتـه چـې هېڅ شی پرې نه دي لیکل شوي، بل څه نه دی. هغه په دې باور و چې موږ د خپلې نړۍ یا خپل چاپېریال شاوخوا وینو، بویوو یې، لسموو یې او اورو یې، زموږ دا کار د ورکتوب پرمهال ډېر زیات دی. له دې لارې ساده حسي تصورات راڅرګندېږي، خو د انسان ذهـن دا بهرنـۍ تجربـې او اطلاعات په منفعل ډول نه زېرمه کوي او ډېرې ترې نه جوړوي، بلکې د فکر، اعتقاد او تردید په مرسته یوځل بیا د هغو څېړنه کوي او لـه دې لارې د تصوراتو یوه بله ټولګه ترلاسه کوي. جان لاک د تصوراتو دا ډله د انعکاسي تصوراتو په نامه سره یادوي. پـه دې ډول نـو لاک د ادراک او تفکر ترمنځ توپیر ته قایلېږي. هغه په دې نظر دی چې د انسان ذهن یو منفعلي میندونکی نه دی، بلکې د تجربو د جوړښت څېړنه کوي. لاک د دوو ډولونو حسي کیفیتونو ترمنځ توپیر ته قایل و. ده دا دوه کیفیتونه یو لومړنی کیفیت او بل یې دویمي کیفیت باله او په دې ډول یې خپـل**

لیدلورى تر ده دمخه د دکارت په شان د نورو فلسفیانو له لیدلوري سره نږدې کړ.

له لومړنیو کیفیتونو څخه د (لاک) هدف، اړخ، وزن، شکل، حرکت او شمېر دی. دا کیفیتونه د شیانو واقعي ځانګړنې دي. خو ددې ترڅنګ په شیانو کې نور کیفیتونه هم شته، د ساري په توګه کله چې موږ وایو، دا شی خوږ یا تریخ دی، شین یــا ســور دی، ګــرم یــا یــخ دی. لاک دا ځانګړي دویمني کیفیتونه ګڼي. دویمني کیفیتونه لکه، رنګ، بوی، مزه یا غږ داسې څه نه دي چې رښتیا هم په شیانو کې وي، بلکــې دا هغــه کیفیتونه دي چې د لومړنیو کیفیتونو په واسطه په موږ کــې احســاس راپیدا کوي.

د لومړنیو کیفیتونو په باب د نظر هېڅ ډول اختلاف نه شته، ځکــه چې دا کیفیتونه په خپله په شیانو کې موجود دي. خو د ثانوي کیفیتونو په باب لکه رنګ یا مزه، له یوه ځاروي څخه بل ځاروي تــه او لــه یــوه انسان څخه بل انسان ته د نظر اختلافات شته. دا کار ددې له امله دی چې دا کیفیتونه په خپله په دې شیانو کې نه شته او د فردي حواسو له لارې رامنځته کېږي، ځکه نو د افرادو د حسي تصوراتو له ډول سره تړاو لري.

(لاک) د جسم د حالت په باب له (دکارت) سره هم عقیده و، یــانې هغه په دې نظر و چې جسمونه داسې ځانګړنې لري چې د عقل له لارې د درک وړ دي. لاک د ذاتي یا خدایي ادراکاتو د ځینو برخو په باب هم له دکارت سره هم عقیده و. د ساري په ډول هغه په انســان کــې ځینــې

بنستیز اخلاقي قواعد فطري ګڼل او په دې برخه کې یې د (طبیعي حق) له اصطلاح څخه ګټه پورته کوله.

دې لیدلوري هغه د عقل پالنې خواته بیوه، د عقل پـالنې خواتــه د هغه د نظریاتو لېوالتیا دده په دې نظر کې نغښتې ده چې د خــدای پــر وجود باندې اعتقاد د انسان په عقل کې نغښتی دی.

خو د (جان لاک) لپاره د خدای پر وجود اعتقاد یو مذهبي باور نه و، هغه معتقد و چې د خدای پېژندنه د انسان له عقل سره سمون لري.

لاک د عقیدې پر ازادۍ او د نورو د نظریاتو پر زغملو اعتقاد درلود. سربېره پر دې هغه د ښځې او نر د حقوقو د تساوۍ لپاره تبلیغ کاوه او په دې نظر و چې د ښځو او نرو مساوي حق ته قایلېدل د انسان په لاس ترسره شوي، له همدې کبله کېدی شي بدلون ومومي.

جان لاک د نوې دورې له لومړنیو فلسفیانو څخه دی، چې د ښځې او نر د تساوۍ مسلې ته یې پام وکړ، کوم څه چې لاک په دې اړه مطرح کړل، د (جان ستورات) لپاره د مهمې سرچینې په توګه بدل شول. چې هغه هم د ښځې او نر د حقوقو د تساوۍ ملاتړ تــه راودانګــي. لاک پــه فرانسه کې د روښنفکرۍ تر زمانې وړاندې ازادي غوښــتونکې مســله څېړلې وه. د بېلګې په توګه هغه لومړنی سړی و چې په دولت کې یې د درې ګونو قواوو پر توپیر ټینګار وکړ.

د واک د وېش درې ګونې (مقننه، قضایي او اجرایې قوې) ډلبندي د لومړي ځل لپاره فرانسه یي (مونتسکیو) چې د روښــنفکرۍ د دورې د

**فلسفیانو له جملې څخه و، مطرح کړه. لاک تر ډېره بریده د دوو مجریه او اجرایه قواووو یا ځواکونو پر توپیر ټینګار کاوه، ځکه هغه په دې نظر و چې دا توپیر او خپلواکي کولای شي د استبداد د له منځه وړلو سـبب شي. لاک د فرانسې د مستبد پاچا (څوارلسم لویي) د واکمنۍ پرمهال ژوند کاوه. د تجربه پالي (امپریسیست) جان لاک د منطق ډېر پـه زړه پورې اړخ دا و چې له اټکلونو (احتمالاتو) یې ګټه پورته کوله، چـې پـه ورته وخت کې دده د فلسفي لیبرالیزم علت هم ګڼل کېږي.**

**سره له دې چې (لایبنتیس) په خپلو خپرو شویو اثارو کې ارسطویي منطق رد کړی دی، خو دی په خپلو اثارو کې یو بشپړ منطقي ثبات لري چې د ریاضي له منطق سره نږدې دی. په عوض کې د جان لاک لپاره د منطق اصل یوازې د احتمالاتو مفهوم و چې هغه مهال یوه پرمختللـې تیوري نه ګڼل کېدله او د (لاک) په فلسفه کې د تناقض سبب ګرځېدله. خو د (لاک) منطق په سیاست کې د هغه اګاهانه چلند و، هغه مـورثي سلطنتي رژیمونه او مطلقه رژیمونه رد کړل او له ولسواکۍ سره مینه یې وپالله او پایله دا شوه چې د خپلو افکارو په خاطر له انګلسـتانه پښې سپکې کړي.**

**جان لاک د پېژندنې په تیورۍ کې تجربه تر ټولو معتبره ګڼلـه او د افلاتون، دکارت او لایبنتیس له انتزاعي نظریاتو سره یې مخالفت کاوه. دا له پوهنپالو څخه د تجربه پالو لومړنی جلاوالی دی. (فرانسیس بیکن) په واقعیت کې د همدې پوهنپالنې له لارې (امپریسیزم) ته رسېدلی و.**

خو (جان لاک) بیا د تجربه پالنې د خوندیتابه لپاره پوهنپالنې تــه شــا کړه. دا کار د دودیز منطق د مطلق خصلت په خاطر تر سره شــوی و. د احتمالاتو د منطق نوې تیوریانې د خاپوړو په پړاو کې وې. نامونوتونیک منطق (Logic nonmonotonic) او د منطق نور سیستمونه لا تر دې دمه نه وو زېږېدلي. په پایله کې د هر ډول (انتزاعي افکارو) ردول د جان لاک له خوا د تجربه پالنې د پیاوړتیا لپاره ډېر کاري نه تمامېدل.

# جورج بارکلی
## (۱۶۸۵- ۱۷۵۳م) کلونه



(جورج بـــارکلي) یـــو ایرلنـــډی (دینپـــوه) او فیلسوف او د تجربه پالنې د مخکښـــانو لـــه جملـــې څخه دی، هغه په دې نظر دی چې فلسفې او علم د هغـــه پـــه زمانـــه کـــې د مسیحیت نړۍ ګواښـــله. هغه په خپلو سترګو لیدل چې ماده پالنه ورځ پر ورځ وده کوي او د مســـیحیت هغه اعتقاد یې چې خدای طبیعت پنځولی او هغه ته یې ژوند وربښلی دی، رداوه. دی په دې معتقد و هغه څه چې په دې نړۍ کې موجود دي،

همغه شکلونه دي چې موږ يې تجربه کوو، خو نه شو کولای هغه د کوم ځيز، یا (مادي) په نامه یاد کړو.

(بارکلي) د انسان له ذهن څخه د بهرنۍ نړۍ شتوالی نه مانه او په دې نظر و چې د خدای له لوري د مادي ځیزونو ظاهري وجود څرګندېږي. د هغه شهرت له دې امله و چې ((د ذهن د تصور اصالت)) په نامه يې يو کتاب ټولنې ته وړاندې کړ.

دا خبره مو هېره نه ده چې (لاک) ويلي وو: لومړني کيفيتونه، لکه وزن رښتيا هم زموږ د چاپېريال په واقعيتونو پورې اړه لري. نو کولای شو ووايو چې بهرني واقعيتونه يو ډول فزيکي (جوهر) لري. (لاک) د (دکارت) او (سپینوزا) په شان فزيکي نړۍ يو واقعيت ګڼه.

(بارکلي) پر همدې باب تردید وکړ او دا تردید يې د يو ډول تجربه پالنې خواته راکاږه. هغه معتقد و کوم څه چې موجود دي، هماغه څه دي چې درک کېږي، خو زموږ درک مادي درک نه دی کوم څه چې موږ يې له ځيزونو درک کوو، په خپله شی یا ځیز نه دی.

(بارکلي) په دې نظر و هغه څه چې زموږ پر حواسو اغېز کوي الهي ځواک یا روح دی، سربېره پر دې هغه معتقد و چې زموږ ټول تصورات زموږ له ذهنه دباندې د بهرني علت زېږنده دي او دا مادي علت نه دی، بلکې معنوي دی. له دې روح څخه د بارکلي موخه خدای دی. هغه معتقد و موږ کولای شو ادعا وکړو چې د بل هر انسان د وجود د درک په اندول د خدای په باب زموږ درک څو ځله روښانه او څرګند دی.

د بارکلي په باور هر څه چې موږ ګورو یا يې احساسوو د الهي ځواک معلول دی. ځکه چې زموږ د ذهن په داخل کې خدای حاضر دی او زموږ پر ټولو احساساتو او تصوراتو اغېز کوي.

هر څه چې په طبیعت کې شته له هغې جملې څخه زمـوږ ژونـد، د الهي ځواک معلول دی. خدای د ټولو شیانو د شتوالي علت دی. بارکلي یوازې د مادي واقعیتونو په باب تردید، ونه کړ. هغه ان د زمان او مکان د مطلق وجود په باب هم د رد نظر درلود. هغه په دې نظر و چې له زمان او مکان څخه زموږ تجربه تېرېږي. بل دلیل نه شته چې پر خدای به هـم همداشان تېرېږي.

# ډيوېډ هيوم
## (۱۷۱۱– ۱۷۷۶م) کلونه


David Hume

زموږ په ياد دي چې (جان لاک) په دې نظر و چې انسان ازاد دى چې په خپل ځانګړي ډول د خداى په باب فکر کوي، نه ددغه او يا هغه مذهب د سپارښتنې پر اساس. دا خبره د يو تندر په شان وه چې د مسيحي کشيشانو او د هغو د امام انګليسي (جورج بارکلي) پر سر راپرېوته. ده هڅه وکړه د (لاک) نظريات رد کړي، خو بريالى نه شو، د (لاک) د عقايدو د ملاتړ لپاره يو بل فيلسوف سر راپورته کړ، دا انګليسي فيلسوف (ډيوېډ هيوم) نومېده.

(ډيوېډ هيوم) هم د دوو نورو لويو فرانسه يي مفکرينو (ولتر) او (ژان ژاک روسو) په شان د روښنفکرۍ عصر په منځ کې ژوند کاوه. (هيوم)

خپل مهم اثر چې د انسان د طبیعت په باب دی، د خپل عمر پــه (۲۸) کلنۍ کې ولیکه او خپله مدعي دی چې ددې اثر مطالب یــې پــه (۱۵) کلنۍ په ذهن کې ګرځېدل راګرځېدل.

(هیوم) هڅه کوله د نړۍ په باب د انسان د پېژندنې ســرچینې تــه ځان ورسوي. هغه معتقد و چې شونې نه ده هېڅ داسې یوه تجربه یــې فلسفه مطرح کړي یا داسې قواعد رامنځته کړي چې له ژوند څخه زموږ له ورځنیو تجربو سره مغایرت ولري.

هیوم په لومړي ګام کې د تاثراتو او تصوراتو ترمنځ توپیر ته قایل شو. له تاثراتو څخه موخه هغه ادراکات دي چې له کومې واسطې پرتــه پــه مستقیم ډول د بهرنۍ نړۍ له واقعیتونو څخه ترلاسه کېږي. تصورات هم په خپل وار سره له هغو تجربو څخه سرچینه اخلــي چــې لــه تــاثراتو پیداکېږي. د ساري په توګه: که چېرې زموږ لاس له یوې ګرمې بخــارۍ سره ولګېږي او وسوزي، پر موږ له کومې واسطې پرته مســتقیم تــاثیر کوي. څه موده وروسته مو یاد ته راځي چې هغه ورځ مو لاس په بخارۍ ولګېد او وسوځېده. دغه دویم حالت د (هیوم) له نظــره تصــور دی. د تصوراتو او تاثراتو ترمنځ توپیر په دې کې دی چې تصورات له ذهن سره د ځواک او شدت د چلند له پلوه کمزوري دي. ځکــه نــو کــولای شــو تاثرات اصل او تصورات د هغو بدله نسخه وګڼو. ځکه چې تــاثرات پــه مستقیم ډول احساسېږي او تصورات د تاثراتو یوه خاطره ده چــې پــه ذهن کې پاتې کېږي.

هیوم تاثر او تصور پر دوو ډولونو: بسیط او ترکیبي باندې د وېش وړ بولي. هغه معتقد و چې انسان کولای شي کله کله پر داســې ترکیبــي

تصوراتو بريالی شي چې په واقعيت کې موجود نه وي. يـانې دا چـې د ترکيبي تاثراتو پر بنسټ نه وي رامنځته شوي. په دې ډول داسـې يـو تصور رامنځته کوي چې غلط دی او په طبيعت کې يې بېلګه نه شـته. هيوم هڅه کوله چې د انسان ټول ترکيبي تصـورات وڅېـړي او هغـه تصورات چې له بهرنۍ نړۍ سره سمون نه خوري، مشخص کړي. هغـه خپل کار له دې پوښتنې څخه پيلوه چې دا تصور له کوم تاثر يا تـاثراتو څخه راټوکېدلی دی؟ هيوم بايد په لومړي ګام کې مشخصه کـړې وای چې يو مفهوم له کومو بسيطو تصوراتو څخه رامنځته شوی دی. هيوم له دې لارې پر داسې يوې طريقې بريالی شو چې د انسان تصـورات پـرې تحليل کړي، سم او ناسم پرې يو له بله جلا کړي.

هيوم غوښتل ټول هغه افکار او تصورات چې حسـي بنـه يـې نـه درلودله، څنډې ته کړي. هغه ويلي وو چې غواړي ټولې نامفهومه بابيزه خبرې چې له ماورالطبيعي تفکر پرته بل بنسټ نه لـري، يـوې خواتـه وغورځوي. خو موږ په خپل ورځني ژوندانه کې له داسې ځانګړو ترکيبي تصوراتو څخه ګټه پورته کوو، چې پر ايمان باندې يې ټينګ باور نه شته.

هيوم په دې نظر و چې د انسان ذهن له ساده والي او بشپړ هويـت څخه برخمن نه دی، بلکې د داسې بېلابېلو او سره تړلو ځانګو يوه ټولګه ده چې ځي او راځي. د انسان د ذهن او د ځان ثابتې نفس ددې حالت د ډول په باب د هيوم دا شننه، تر هغه (۲۵۰۰) کاله وړاندې (بودا) مطرح کړې وه.

بودا د انسان ژوند له مادي او معنوي بهيرونو څخه راپيداشوې رشته ګڼله چې هره شېبه د انسان د بدلېدلو سبب ګرځي. يـو شـيدې روی

ماشوم له یو نوي ځوان سره یو شان نه دی او زه هم هغه څوک نه یم چې پرون وم. بودا به ویل چې نه شم ویلای ووایم څه شی په ما پورې اړه لري او نه شم کولای ووایم چې څه یم. ځکه نو نه (زه) موجود یم او نه د مذهب د نفس اصالت بدلون نه منونکی دی. (بودا) تر خپلې مړینې وروسته خپلو شاګردانو ته ویلي وو:

((هر مرکب شی په پای کې تجزیه کېږي.))

هیوم د تلپاتې روح او د خدای د وجود د اثبات لپاره هر ډول هڅه مردوده ګڼله. دا خبره ددې مانا نه لري چې هغه د روح او یا خدای وجود رداوه، بلکې معتقد و چې د عقل له لارې د مذهبي باورونو اثبات د پوهنپالو د لېونتوب یو ډول دی. هغه یوازې پر هغه واقعیت باور درلود چې د حواسو له خوا تائید شوی وي. د نورو امکاناتو په اړوند یې په تردید له هغه سره چلند کاوه.

هیوم په دې نظر و چې یو ماشوم نړۍ هغه شان ګوري لکه څنګه چې ده او څه شی پر هغې نه زیاتوي، ځکه چې مخکې تر مخکې د ټاکل شویو عقایدو تابع نه دی. دا اصل د فلسفې لومړنی فضیلت دی. هیوم په انسان کې د عادت د قوې په باب تر بحث وروسته د علیت قانون ته پاملرنه کوي، د (علیت قانون) وایي چې هره پېښه باید یو علت ولري.

(ډېوېډ هیوم) ان په اخلاقیاتو کې هم له پوهنپالنې سره خپل مخالفت وښود. پوهنپالانو ادعا کوله چې له ناحق څخه د حق او له ناسم څخه د سم تشخیص په انسان کې فطري بنه لري، د طبیعي حق مسله له (سقراطه) نیولې تر (لاکه) پورې ټولو فلسفیانو سره مطرح وه، خو هیوم بیا د انسان په وینا او عمل کې د عقل له لارښوونې منکر و.

د هیوم په نظر ټول انسانان د نورو د ښو او بدو پر وړاندې یو احساس لري. د خواخوږۍ احساس ددې ټولیز احساس له جملې څخه دی، خو دا احساس له عقل سره څه اړیکي نه لري. موږ د (هیوم) له دې بحث څخه دې نتیجې ته رسېږو چې زموږ عقل زموږ پر ټولو راشو درشو واکمن نه دی. د نورو پر وړاندې د خپل مسولیت منل د عقل تابع نه دي، بلکې د احساس پر بنسټ دي چې موږ د نورو پر وړاندې مسولیت احساسوو، هیوم معتقد و چې موږ نه شو کولای یو څوک د ګوتې د ګرولو په پلمه نړۍ ته اور واچوي او موږ یې ناعقلانه وګڼو.

# د روښانتیا عصر

تاریخپوهان اتلسمه پېړۍ د روښانتیا عصر ګڼي، په دې عصـــر کـــې عقل هڅه کوي خپل ځان له ټولو بندیزونو ازاد کړي. دا داسې یو عصر دی چې فلسفیانو په جدي ډول د معرفت پېژندنې مسله په پـام کـې ونیوله او له وجود څخه معرفت ته د فلسفې تګلـوري بـدلون وکـړ. د مطلق حقیقت کشف له منځه لاړ او نسبیت یـې پرځـای کېناسـت. د روښانتیا عصر په دې نظر دی چې د هر شي اصل باید له هغه څخه بهر ونه پلټو.

په ویښتیا یا روښانتیا عصر کې د عقلاني فعالیتونو نقش ډېر حساس او زیات څرګند و. د روښانتیا عصر لپاره د پیل او پای نېټې ټاکل اسانه کار نه دی، خو په احتیاط سره کېدی شي ووایو چې د (اوه لسمې) پېړۍ له وروستیو درې لسیزو رانیولې د (نولسمې) پېړۍ تر پیل پورې مهال په دې دورې پورې اړوند ګڼل کېږي. په دې عصر کې تر ټولو ښه مســله د (معرفت) مسله ده، چې له هر اړخه څېړل کېږي. ځینې پوهان د معرفت پر عقلي عنصر ټینګار کوي او ځینې نور بیا وایي کوم څه چې د حس له

لارې راټول شوي، هغه مهم دي. طبیعي علوم او ټولنیز علوم دواړه پــه یوه نوي لید او مدرنو مسایلو ته په پاملرنې سره څېړل کېږي او تاریخي تغیر، د انسان وده، د دولت بنه، د ښوونې او روزنې نظریه په تېــره بیــا اقتصاد او داسې نورې موضوعګانې په جدي ډول څېړل کېږي. پــه دې دوره کې دین له بېلابېلو خواوو تر ځیرنې لاندې نیول کېږي.

د روښانتیا عصر له لویدیځ څخه ختیځ ته یو ډول حرکت لري یانې دا چې انګلستان د اته لسمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې د اروپا فلسفي مرکز ګڼل کېده. دې مرکزیت د اته لسمې پېړۍ په نیمایي کې فرانسې پورې اړه پیدا کړه او د همدې پېړۍ په وروستیو کې المان پر دې بریالی شو چې دا مرکزیت له نورو راخپل کړي. د روښانتیا عصر فلسفیان پــه دې نظر وو چې هر سړی باید د ټولو شتو پوښتنو لپاره خپل ځــانګړي ځوابونه ترلاسه کړي. ځکه نو ګورو چې د فرانسې د هغه مهال فلسفیان د (دکارت) فلسفې د دود تر اغېزې لاندې وو. څرنګه چې دکارت هــم غوښتل هر څه له اوله جوړ کړي.

د روښنفکرانو لپاره لومړنۍ مسله د خپلسرۍ پر وړاندې پــاڅون و چې تر ټولو دمخه کلیسا، پاچا او دربار په کې شاملېدل. په فرانسه کې په اتلسمه پېړۍ کې کلیسا، پاچا او دربار د انګلستان په انډول څو ځله زیات ځواکمن وو او ډېر مستبدانه عمل یې کاوه. د فرانســې انقــلاب د همدې اندود او چلند زېږنده و.

د روښانتیا د عصر مخکښان په دې نظر وو چې د خلکو ذهن باید د مسایلو پر وړاندې ((روښانه)) شي. ځکه چې هغه مهال، د خلکو په منځ کې جهالت او خرافات اوج ته رسېدلي وو، نو په کار وه چې د ښوونې او روزنې پر پراختیا ټینګار وشي. که څه هم ښوونځي په منځنیو پېړیو کې جوړ شوي وو، خو په حقیقت کې ښوونه او روزنه په روښانتیايي عصـــر کې پیل شوه.

د روښانتیايي عصر فلسفیانو د لرغونې دورې د انسانپالو له هغــې جملې څخه د (سقراط) او (رواقیونو) په شان پــر عقــل او پــوهې ژوره عقیده درلوده. دا اعتقاد ددې سبب شو چې یو زیات شــمېر خلــک د فرانسې روښانتیايي پړاو د (پوهنپالنې) پړاو وبولي. د طبیعي علومو په برخه کې چې کومې نوې څېړنې ترسره شوې وې، دا یې ثابته کړه چې طبیعت په پوهنیزه بڼه اوډل شوی یا منظم شوی دی. په دې ترڅ کې د روښانتیا عصر فلسفیان هم په دې لټه کې وو چې د اخلاقیاتو او دیــن لپاره هم داسې بنسټونه په پام کې ونیسي چې وکولای شي د انسان له پوهې سره سمون ولري. دا ټکي مــوږ د روښــانتیايي دورې د تفکراتــو څېړنې ته راکاږي.

په ټولیز ډول روښانتیا د ښکارندو د اهمیت او مفــاهیمو پــه بــاب پوښتنه کوي، روښانتیا غواړي په دې پوه شي چې حقیقت څه شی دی؟ ازادي څه ده؟ او عدالت څه ته وایي؟ روښانتیا د شیانو د ماهیت په باب د پوښتنې په برخه کې هېڅ ډول بندیزونه نه مني، ځکه نو روښانتیايي

پوښتنې ټولې فلسفي پوښتنې دي چې په هممهالي ډول مسلم حقایق او ثابت اصول، نوښتونه او ان په خپله فلسفه ټـول لـه ننګونـو سـره مخامخوي. په کار ده چې نويو پوښتنو ته د سمو ځوابونـو د پیـداکولو لپاره هڅه او هاند وشي، نه دا چې د کینې او غوسې په بنه پر پوښتونکو ودانګل شي چې ولې فکر کوئ او ولې پوښتنه کوئ!

په اتلسمه پېړۍ کې الماني فیلسوف (امانویل کانت) چې تر (هیوم) وروسته د فلسفي نظام له لويو ځرګندويانو څخه ګڼل کېږي. د روښانتیا يو ډېر پراخ او هر اړخیز تعریف وړاندې کړی دی. ((روښـانتیا د فکـري بلوغ لپاره د ژوند له تیارو څخه د انسانانو را ایستل دي)).

کانت بیا نابالغي په دې ډول مانا کوله:

((نابالغي د بل چا له لارښوونې پرته د خپل فهم د کارونې په برخـه کې کمزورۍ ته وايي)). او له خپله لاسه د بشر خپله ګناه داسې توضیح کوله، ((په یوه کار کې د نورو له لارښوونې پرته، فکري نابالغي نه ده چې د پوهې له کمښت څخه رامنځته کېـږي، بلکـې د ازادۍ او زړورتـوب نشتوالی دی.))

د کانت په نظر ((ځاني تفکر)) د روښانتیا بنسټیز اصل دی. د کانت له تعریف څخه دا ځرګندېږي چې هغه خپلـواک او غوړېـدلی تفکـر د روښانتیا بنسټ ګڼه. ازاد او غوړېدلی تفکر د فکر په ازادۍ پورې تړلی دی، له دې کبله نو د روښانتیا په باب د کانت تعریف له ازادۍ سره مانا

**پیداکوي. انسان له روښانتیا څخه د کانت د تعریف پر بنسټ یو خپلواک او هوښیار موجود دی چې د تفکر پر ځمکه د مزل په وسیله کولای شي د نابالغۍ له کړلېچونو راووځي.**

**د روښانتیا پوهان ددې مفهوم پر وړاندې هېڅ ډول برید او پوله نه مني، هغوی په دې نظر دي چې ټول شیان باید د روښانتیا په لمن کې وګورو او ویې پېژنو.**

**د روښانتیا ډېر لوی نومیالي: (مونتسکیو، لاک، نیوتن، ولتر، روسو، دیدرو، دالامیر، هولباخ او کانت) چې په اتلسمه پېړۍ کې په تدریجي بڼه په ګټوره او موثره توګه راڅرګند شول او په غټه کچه یې له فرانسې، انګلستان او المان څخه سر راپورته کړ. د روښانتیا د زیاتو هڅوونکو په ډله کې هم ډېر مخور فلسفیان شامل وو، هم الهي او دیني پوهان، هم شاعران او هم طبیبان. د روښانتیا په بهیر کې د کتنې او تجربې پر بنسټ د انسان پر مقام او حقوقو، عقل، ځاني تفکر، نقد، تجربه یي پوهې او د دوو بنسټونو: (دین او سیاست) پر خپلواکۍ او یو له بله د هغو پر جلا والي ټینګار وشو. خو داسې فکر باید ونه شي، چې په فرانسه، انګلستان او المان کې د روښانتیا منځپانګه او د ودې بهیر یو شان و.**

**په فرانسه کې روښانتیا، ځواکمنه وه، له شور او ځوږ سره ملګرې وه او انقلابي بڼه یې درلوده. د واک څښتنانو د حکومت او کلیسا په جوړښت کې یو بل ته سره لاسونه ورکړي وو، دیني او سیاسي نوښتګر**

به يې ټکول. ځکه روښنفکران په دې نظر وو چې سیاست باید د عالمانه نقد په تله وتلل شي او سیاسي بنسټونه باید د پوهې پر ستنو ودرېږي. نویو دیني او سیاسي مفکرینو د دین او اخلاقو په برخــه کــې هــم پــر شکاکیت او پوښتنو ټینګار کاوه.

په انګلستان کې روښانتیا پر دوو بنسټونو: د (لاک) پر تجربــه یــي پوهې او د (نیوټن) پر فزیک ولاړه وه، له ژور پرمختګ، غوړېــدونکي او رغوونکي چلند څخه برخمنه شوه. (لاک) د معرفت پوهنې د پراختیا او د هغې د بریدونو د اندازه کولو په برخه کې ستر ګامونه پورته کړل چې تر هغه وروسته بیا (کانت) د معرفت د بریدونو په ټاکنه کې له هغو څخه ګټه پورته کړه. هغه د خلکو د رضایت پر بنســټ د مــدني حکومــت د جوړونې په باب څو کتابونه ولیکل، هغه د فلسفي مسایلو په بیانولو کې له نرمښت او اسانتیا څخه کار اخیست. په دې پړاو کې انګلســتان پــه نسبي ډول څه ناڅه له سیاسي او ټولنیزو ازادیو څخه برخمن و.

له شک پرته په انګلستان کې د مدني ازادیو تر ســیوري لانــدې د روښانتیا دورې د مفکرینو هڅې ددې سبب شوې چې د روښانتیا پړاو بډایه شي او لاپسې وغوړېږي، که څه هم (لاک) په هغه پسې د مذهبي تورونو یا هنګامې له امله اړ شو، انګلستان پرېږدي، هالنډ ته لاړ شي او هلته په یوه څه نرمښت او ګوزارې سره د خپلو نظرونو او فکرونــو پــر لیکلو پیل وکړي، خو کولای شو له (ولتر) سره هم نظره شو او ووایو چې: ((که چېرې لاک او نیوتن په فرانسه کې وای اعدام شوي به وای، که په

روم کې وای زندان کې به اچول شوي وای او که په لېږبن کـــې وای نـــو سوځول شوي به وای.))

په المان کې بیا روښانتیا بله څېره لرله، چې له فرانسې او انګلستان څخه یې توپیر کاوه. الماني متفکران پرته له دې چې د تجربه یي فلسفې بریاوو ته جدي پام وکړي، تر ډېره بریده پر انتزاعي او نظري افکـــارو او مسایلو بوخت وو.

د فکر، قلم او بیان ازادي په المان کې محدوده وه، الماني مفکرین د انګلستان په شان له ازادیو څخه برخمن نه وو. پر دې خـــاوره واکمـــن سیاسي نظام پر (۱۷۸۶م) کال د (لوی فریدریک) تر مړینې وروسته په ډېرې سپین سترګۍ سره د روښانتیا او د هغې د هڅوونکو پر وړانـــدې ودرېده.

د دویم (فریدریک ویلهام) حکومت روښانتیا یوه خطرناکه او د دین او دولت د مخالفې ښکارندې په توګه معرفي کړه او په سرتمبګۍ سره یې د پوهانو پر ټکولو، نیولو او د کتابونو د چاپ او خپرولو پـــر مصـــادره کولو لاس پورې کړ. د (پروس) د خاورې د سرزوري واکمن پـــه فرمـــان (کانت) دېته اړویستل شو چې د دین په باره کې هېڅ لیکنه خپره نـــه کړي او هېڅ خبره په خولې رانه وړي.

که څه هم المان د سیاسي، ټولنیزو او کلتوري شرایطو له مخې نـــه شو کولای د روښانتیا د یوې سیمې په توګه کوم ځانګړی نقش ترســـره

کړي، خو په فرانسه کې روښانتیایي بدلونونه په ځانګړي ډول د فرانسې له ستر انقلاب څخه اغېزمن شول.

په (۱۷۸۹- ۱۷۹۹م) کلونو کې د فرانسې انقلاب په الماني پوهانو کې د لېوالتیا، ځورږ او جرئت سبب شو او کانت یې د خپل فکري ژوند په وروستیو کلونو کې دېته اړویست چې په څرګنده توګه او له انقلاب څخه په ملاتړ په فلسفیانه ډول د هغه ښکارنده وڅېړي.

په نولسمه میلادي پېړۍ کې د روښانتیا د افکارو بیرغ، د (هیګل) (هانیه) (انګلس) او (مارکس) لاسو ته ورغی. په شلمه پېړۍ کې د (ادرنو) او (هواکهایمر) په شان پوهانو د روښانتیا پر نظریاتو بیا کتنه وکړه. (ګلوکاچ) او (مارکوزه) هم په شلمه پېړۍ کې د روښانتیایي نظریاتو د بیا کتونکو په ډله کې شمېرل کېږي. د روښانتیایي فلسفې موخه دا ده چې نړۍ د پوهې، خبرتیا او عقل په ګانه ښایسته وي، جهل او خرافات له منځه لاړ شي. روښانتیا پر پوهې، خبرتیا او عقل ټینګار کوي او هر شی چې له علم سره سمون نه لري، هغه په تخیل او خیال پورې مربوط ګڼي. روښانتیا پر (ګالیله) او (نیوتن) ویاړي، یانې دا چې علم تر اسطورې او عقل تر تخیله لوړ ګڼي. روښانتیا د روښنفکرۍ تاریخي حرکت ته نغوته کوي او د ښکلا پوهنې د یو معتبر بنسټ په توګه د عقل ملاتړ کوي، روښانتیا هغه اخلاق، حکومت او منطق چې فلسفیانو ته په نړۍ کې د حقیقت موندنې اجازه ورکوي، دا ټول مسایل رانغاړي. روښانتیا په حقیقت کې په فزیک کې له هغه انقلاب څخه، چې

د (نیوتن) د حرکت قانون سره پیل شو، الهام اخیستی دی. روښانتیایي مفکرین استدلال کوي چې یو منظم تفکر ته ورته طریقه کېدلای شي د بشر د ټولو فعالیتونو په بېلابېلو ډولونو کې وکارول شي. له همدې کبله خو د روښانتیا عصر له عملي انقلاب سره تړلی دی. د تجربــه پــالنې د دواړو حرکتونو لپاره پوهې، علم او عقلانیت اهمیت درلود.

د روښانتیا مخکښانو باور درلود دوی به نړۍ، چې له کلونــو کلونــو راهیسې، د شکوکو یا بې علمه دودونو، موهوم پالنې او د تیارې زمانې (منځنیو پېړیو) تر استبداد لاندې وه، د پرمختــګ پــر لــوري بــوځي. روښانتیایي حرکت د امریکا او فرانسې د انقلابونو د چوکاټ له رامنځته کولو سره مرسته وکړه، د لاتینــي امریکــا د هېوادونــو لــه خپلــواکۍ غوښتونکي حرکت او د (۱۷۹۱)میلادي کال په مې کې یــې د پولنــډ د درېیم مشروطه اساسي قانون له جوړولو سره مرسته وکړه او د کلاسیک لیبرالیزم، ولسواکۍ او پانګوالۍ د ودې سبب شو.

د روښانتیا عصر د باروک سبک، په موسیقۍ کې د کلاسیک عصر او په هنر کې د نوې کلاسیکې دورې له غوړېدنې سره هممهاله دی چې په مدرنه زمانه کې د غورځنګونو د یوه مشال په توګه نن ورځ هم پاملرنه ځان ته را اړوي.

روښانتیایي عصر په (بریتانیا، فرانسه، المان او اسپانیا) کې یوازې د یوه حرکت په توګه راڅرګند شو، خو په ډېرې چټکتیا سره نورو ځایونو

ته هم پراخ شو. د امریکا اکثره جوړونکي او رامنځته کوونکي د روښانتیا دورې په تېره بیا د مذهب، اقتصاد او د ولسواکۍ په برخو کې سخت د هغې د ارمانونو تر اغېز لاندې راغلي وو.

مدرنیزم یا نویوالی په نولسمه او شلمه پېړۍ کې په بېلابېلو محورونو کې د انساني تفکراتو یو ټولګه بیانوي.

دا خبره باید هېره نه کړو کله چې د یوه تاریخي پړاو د تفکر په باب خبرې کوو، ټول هغه میراثونه چې په دودیز ډول او د عامه کلتور په توګه مطرح کېږي، هم د مدرنیزم برخه ګڼل کېږي، ځکه نو مدرنیزم لکه څنګه چې تر علمي-صنعتي انقلاب وروسته یې کومه بڼه غوره کړې د ټولنیزې- اقتصادي ودې له بهیر سره خپل ټینګ اړیکي څرګندوي.

په اسانۍ سره لیدل کېږي چې روښانتیایي عصر داسې یو عصر و چې د متفکرانو یو لښکر یې راوټوکوه. دې شبکه یې تفکراتو د ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي پرمختګونو پر بنسټ خپله بڼه غوره کړې وه. ښه بېلګه په روښانتیایي عصر (۱۷۸۹م) کې د فرانسې لوی انقلاب دی او نور په لسګونو انقلابونه چې په اروپا کې رامنځته شول، ټول د مدرنیزم د پړاو د تفکر ښکارندویي کوي.

مدرنیزم داسې ښکارنده نه ده چې له روښانتیا سره په خپل ضدیت کې تعریف شي. څرنګه چې روښانتیا د افلاتون، مسیحیت او واکمنو پر وړاندې د تفکر داسې پاڅون و چې د روښانتیا د دایره المعارف د

رامنځته کېدو سبب شو، نو: په مدرنيزم کې هم مفکرينو پــه بېلابېلــو برخو کې د ميراثونو پر کره کتنې لاس پورې کړ. له روښانتيا څخــه پــر راپاتې شويو ميراثونو يې کره کتنه وکړه. د همدې نولسمې پېړۍ ســتر فلسفيان وو چې د مدرنيزم فکري بنسټونه يې رامنځته کړل.

(اګوست، کانت، فريدريشن هګل، کارل مارکس، هربــرت سپنســر، فريدريشن انګلس، ستورات ميل، فريدريش نېچه، زيګمونــد فرويــد، ډيمونډ هوسول) او نورو چې په نولسمه پېړۍ کې يې د نويو ژورتياوو او خبرتياوو پر بنسټ د نوي فلسفي تفکر بنسټ کېښود. هنر او ادبيــات لکه نوی شعر، نوی تياتر، نوی رومان، نوې انځورګري، نوې معمــارۍ او مجسمه جوړونه د مدرنيزم له ستنو څخه يوه اساسي ستن ګڼل کېږي.

تر نوي (مدرنيزم) هنر وړاندې په کلاسيزم پورې اړوند کلاسيک هنر موجود و. رومانتيکي مسايلو ته لېوالتيا چې چې د رومانيزم د ټوکېــدو سبب شو او وروسته يې د رياليزم او سمبوليزم په بڼه وده وکړه، د هنري بهيرونو يوه ټولګه جوړوي چې موږ يې نن ورځ د مدرنيزم په نامه يادوو.

د (داروين) له تيورۍ څخه نيولې د (سلول) تر کشــف پــورې لويــو علمي پلټنو، د بيولوژۍ، فزيک او کيميا په ټولو برخــو کــې انقلابونــه رامنځته کړل چې د کلاسيک ذهنيت دود يې له ماتېدو سره مخ کړ.

ځکه نو په علم کې رامنځته شوي بدلونونه د مدرنو علومو له ظهور څخه عبارت دي چې پر خپل ځای د نوي هنر په توګه د فلسفې ترڅنګ د مدرنیزم د لویې مانۍ له جوړونې سره یوځای کېږي.

فني یا ټکنالوژیک انقلابونه د مدرنیزم له سترو بریاوو څخــه ګڼــل کېږي. په نولسمه پېړۍ کې موږ د بخار ماشین (د ډېرو سکرو په واسطه د ماشین حرکت) او د (اورګاډي د چالانېدلو) شاهدان یو. دا ټکنالوژیکي بریاوې د مدرن تفکر زېږنده دي.

نېچه وایي: ((د روښانتیا عصر له کلیسا او دربار ســره د حســاب د تصفیه کولو وخــت دی. خــو مــدرنیزم د فکــري نظــامونو د نقــدولو (ایډیالوژۍ نقد) عصر دی.)) دده په نظر څرنګه چې اوس خدای له منځه تللی دی، نو دمدرنیزم په زمانه کې اړتیا نه شته چې خپلې روښانتیایي مبارزې ته دوام ورکړو د (مدرن) ویي، د کلمې پــه فلســفي مفهــوم د لومړي ځل لپاره په نولسمه پېړۍ کې (د حق فلسفې تاریخ) کتاب کې د هیګل له خوا وکارېده، خو تر هیګل وړاندې د مدرن (Modern) اصطلاح د لومړي ځل لپاره په پنځمه میلادي پېړۍ کې د (کاتولیکو مفکرینو) له خوا کارېدلې ده. دې کلمې هغه مهال د یوه تفکر د کوم پړاو څرګندونه نه کوله، بلکې د تفکر د یو پړاو د شلېدلو مانا یې ورکوله. یانې د روم د امپراتورۍ د مسیحیت پړاو شلېدنه. ځکه نو هغه وخت د مدرن انګازه د هغه په دیني مفهوم کارېدلې ده.

خو (مدرن) د کلمې په (هیګلي) مفهوم د تفکر د یوداسې نوي پړاو پیل دی چې خپل ځان په فلسفه کې څرګندوي.

مدرن او مدرنیزم تر هغه ډېره ژوره او پراخه مانا او مفهوم لري چې ځینې ناژورلیدي یې په خپلو لیکنو او ورځنیو خبرو اترو کې په ډېره سطحي او سرسري مانا کاروي. دا خبره سمه نه برېښي چې ووایو دا کمپیوټر تر هغه بل مدرن دی، کېدی شي ووایو چې دا کمپیوټر تر هغه بل ډېر نوی او ډېر مجهز دی. په دې مانا چې دواړه مدرن نه دي.

مدرنیزم (نویوالی) په واقعیت کې یو ټاکلی فکري او تاریخي بهیر دی، پر بېلابېلو او مختلفو برخو لکه فلسفه، علم، هنر، ادبیاتو او نورو برخو خپل مستقیم اغېز کوي. مدرنیزم یا نویوالی په ټولنه کې تر پوهنپالنې وروسته بهیرونو پراختیا ده.

پر (۱۸۰۴م) کال د (کانت) تر مړینې وروسته روښانتیا پایته رسي او د (هیګل) په مطرح کېدو سره (مدرنیزم) پیلېږي، هیګل د تاریخ فلسفې او د حقوقو فلسفې کې دا فکر مطرح کړ چې ژوند یا هستي د میتافزیک پر چورلیز نه راڅرخي. هستي یانې ډیالکتیک او نیستي یانې ډیالتکیک. په فلسفه کې د ډیالکتیکي تفکر حلول د مدرن فکر د پیلېدو سبب شو.

هیګل د تاریخ فلسفه د طبیعت د مارپېچې ودې پر لوري له فکري حرکت څخه پیل او له طبیعت څخه یې د فکر د حلقه یي حرکت پر

لوري وڅېړله او د تاريخ په فلسفه کې دې پايلې ته ورسېد چې هر واقعيت معقول دی او هر معقوليت واقعيت لري او يا په ساده ژبه هر عقلانيت مادي نه دی او هر مادي څيز عقلانيت نه لري، هېڅ ميتافزيک نه شي کولای له ډيالکتيکي تفکر پرته د فکر او مادې د حرکت بهير د هيګل د تاريخ د فلسفې په معيار وتلي.

د هيګل په تعقيب د هغه يو کيڼ لاسي شاګرد (کارل مارکس) د هيګل له افکارو ګټه پورته کړه. مدرن فکر يې د اقتصاد، فلسفې او سياست په حوزو کې داخل کړ. مارکس ډيالکتيک له هيګل څخه واخيست او پر ټولو فکري برخو يې تطبيق کړ. د انګلستان پر اقتصاد (ادم سميت او ريکاردو) باندې يې تنقيد وکړ. د فرانسې پر تخيلي سوسياليزم (سن سيمون او فوريه) باندې يې نيوکې وکړې. روښانتياييي او تر روښانتيا وروسته فلسفه يې تر انتقادي څېړنې لاندې ونيوله.

مارکس چې په مدرن عصر کې کوم نظر پر علومو تطبيق کړ، د مدرن عصر د جوړښت له ماتوونکو څخه و.

(نېچه) د مدرنو مفکرينو له ډلې څخه دی چې د نولسمې پېړۍ په پای کې د مدرنيزم پر ضد راپاڅېده، خپل ځان يې د مدرنيزم د کره کتونکو له جملې څخه ګڼه. هغه په دې باور و چې تفکر له هر جنسه چې وي (فلسفي، ادبي، هنري، علمي، سياسي، مذهبي او نور هر يو چې وي) د حقيقت د موندنې په لټه کې دی. اوس نو مونږ څه پوهېږو چې دا

خلک د څه شي په لټه کې دي، د دروغو که د حقیقتونو؟ ځکه چې ټول مفکرین وايي د دوی خبرې حقیقت دي او د نورو دروغ.

د حقیقت په باب د متفکرینو مطلق ټینګار دروغــو تــه د لېوالتیــا ښکارندویي کوي، له همدې کبله ده چې (نېچه) تر مدرنیزم وروســته عناصرو له جملې څخه یو عنصر ګڼل کېږي.

(سپنسر) هغه فیلسوف و چې لېبرالیزم ته یې تیوریکه بڼه ورکړه او خپل ټول قیمتي عمر یې د اثارو پر تدوین ولګــاوه، چــې پایلــه یــې د لیبرالې ولسواکۍ تیوري ده.

په تفکر کې لیبرالیزم د همغې فلسفې ملاتړ کوي چــې ریښــه یــې مدرن فرهنګ (پانګوالۍ) ته رسېږي. (سپنسر) په ډېرې ځیرتیــا ســره لیبرال ولسواکۍ ته فلسفي رنګ ورکړ او دا تزس تر ننه پورې په مختلفو بڼو په بشري ټولنه کې خپل ژوند ته دوام ورکوي، (سپنسري لیبرالیزم) له (سپنسري ولسواکۍ) سره همغږ دی. څرنګه چې د لیبرالیزم اصطلاح د ازادۍ او ازادۍ پالنې مانا څرګندوي؛ د سیالۍ له ازادۍ څخه اخیستل شوې ده او دا ازادي په خپله د بورژوازۍ ترمنځ سیالي ده چــې خپــل ځان د بازار په ازادۍ کې ښکاره کوي او دا بیا په خپله د بازار ازادي ده چې خپل ځان د کار و ځواک د خرڅلاو پــه ازادۍ کــې څرګنــدوي. د ازادۍ همدا کلمه ده چې هم د بورژوازۍ په منځ کې، هم د بازار او هم د

خلکو (پرولتاريا) په منځ کې، سرګردانه ګرځي. ليبراليزم په ښه ډول دا ټکي د (سپنسر) په عقيده کې منعکس کړي وو.

لکه څنګه چې د يوويشتمې پېړۍ فيلسوف (فوکوياما) ويلي دي د تاريخ پای لېبرال ولسواکي ده، نه کمونيزم.

(فرويد) هم د مدرن تفکر يوه اساسي ستن ده چې د ارواپوهنې نړۍ يې په خپلو نوښتونو پر بل مخ واړوله، د انسان د روان په باب د خپلو څېړنو له امله د باخبره ضمير او ناخبره ضمير کشف ته ورسېد او ټول انساني تفکرات او عملونه يې د خپلو فورمولونو په واسطه بحث ته راکاږل. لنډه دا چې دده بحث پر داسې يو چورليز راڅرخي چې زموږ ټول تفکرات د جنسي غرايزو پر بنسټ خپله بنه غوره کوي. دغه راز د انسان له خوا وړاندې شوي تفکرات د هغه د افکارو يوه برخه جوړوي او د افکارو بله برخه يې په ناخبره ضمير پورې اړه پيداکوي.

او ناخبره ضمير يانې هغه ټول شوي او ځپل شوي افکار، ازادۍ او غوښتنې دي چې په پټ يا خوندي ځای کې پاتې کېږي، چې وروسته بيا دنبوغ او اختراع او يا د جهالت او لېونتوب په بڼه سر راپورته کوي. دا دواړه ټکي په اروپا کې د هغو په لومړنۍ بڼه رامنځته شول خو په افغانستان، پاکستان او ايران کې په دويمه بڼه جريان لري.

(مدرنيزم) نه ټولنپوهنيز مفهوم دی، نه سياسي مفهوم او نه هم تاريخي مفهوم. مدرنيزم د تمدن ځانګړنه ده، د سنتو پر وړاندې د

مقابلې ځانګړنه ده. یانې د ټولو دودیزو او مخنیو فرهنګونو پر وړانـدې مقابلې ته وردانګي.

مدرنیزم په ټوله نـړۍ کـې د جغرافیـایي رنګـارنګیو او د سـنتي فرهنګونو د نښو نښانو پر وړاندې ودرېږي، د ټولیز یووالي په توګـه پـر نورو خپل ځان تحمیلوي. مدرنیزم د لویدیځ د پرمختګ ځلا لري خـو دې سره سره بیا هم مدرنیزم مفهوم څه ناڅه مغشوش دی. مدرنیزم په نړیواله کچه په فکري نړۍ کې په ضمني ډول د هر ډول ودې او بدلون ښکارندویي کوي.

مدرنیزم له موضوعي پلوه په ځانګړي ډول د فلسفې په برخـه او د ټولنپوهنې په حوزه کې د پېړیو فضا ته ټکان ورکړ. د (فروید) او (یونګ) تر کشف وروسته د ارواپـوهنې علومـو هـم ژور بدلونونـه وزغمـل. د مدرنیزم فضا وه چې په سیاسي تفکر کې یې سوسـیالیزم، سوسـیال دموکراسۍ او لیبرال ولسواکۍ او نورو... خپله بنه جوړه کړه او ادبي نړۍ کې یې له (هوګو) څخه نیولې تر (ارست همینګوی) پورې لـوی نابغـه شخصیتونه بشریت ته وړاندې کړل.

لنډه دا چې د مدرنیزم تفکر د نقد او مبـارزې لـه لارې او د سـترو ازمېښتونو تر تېرولو وروسته د کمال پوړیو ته ورسېد او ان تر هغه ځایه وړاندې لاړ چې خپل څرنګوالی یا موضوعیت یې تر پوښـتنې لانـدې راوست. همدلته ده چې تر مدرنیزم د وروسته فکر موضـوع رامنځتـه

شوه. تر مدرنیزم وروسته موضوع تر ډېره بریده د مولف له مرګ ســره پیل او له څو غرېزو جشنونو سره ادامه پیدا کوي.

په فکر کې مدرنیزم هغه حالت دی چې له نورو سره د افرادو اړیکي تینګ کړي، د اشخاصو د فکري کچې د لوړاوي لپاره ټولنپوهانو ته لــه سره منظمه او نوې بڼه ورکوي. په دې ډول مدرنیزم د صنعتي ټولنې او د افرادو (شعور) لوړې کچې بوترکیب او د ولســواکۍ د منلــو لپــاره د سیاسي او ټولنیز واک پوړۍ ګنل کېږي. دغه کیفي ځانګړنې کولای شو د مدرنې ټولنې نښې نښانې وګڼو.

لوستونکي ډېر ښه پوهېږي د مدرنیزم د تفکر سپړنه چې په ملیونو ټوکو کتابونو کې رالنډه شوې، په یوه لیکنه کې د هغې راوړنه او ځایونه شونې نه ده، بلکې د خبرو اترو پراخو شبکو ته اړتیا لري.